# مِشكوٰة المصابيح

عربي - پښتو

تالیف

امام ولي الدين محمد بن عبدالله
الخطيب التبريزي رحمه الله

صدای امت کتبخانه
کندهار افغانستان

# Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ و دعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

# مشکوة المصابيح

(لومړی جلد)

1

كتاب الايمان
كتاب العلم
كتاب الطهارت
كتاب الصلوة.

تاليف

امام ولي الدين محمد بن عبدالله
الخطيب العمري التبريزي رحمه الله

صداقت کتب خانه
ارک بازار، کندهار

د چاپ حقوق په خپرندوی اړه لري

**د کتاب پېژندنه :**

- ❖ د کتاب نوم :: مشکوة المصابیح
- ❖ مصنف :: امام ولی الدین محمد بن عبدالله الخطیب
- ❖ تصحیح کوونکي :: ملا محمد ابراهیم، محمد اسماعیل او مولوي احمدزي صاحب
- ❖ خپرندوی :: **صداقت کتب خانه ، کندهار**
- ❖ کمپوزر :: محمد رسول سعید
- ❖ ډیزاین :: محمد عمر
- ❖ جلد :: اول
- ❖ چاپکال :: ۱۳۹۰ ش – ۱۴۳۲ ق
- ❖ چاپشمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

---

**د ترلاسه کولو پته:**

**صداقت خپرندویه ټولنه**
ارګ بازار، کندهار –افغانستان،
اړیکي : ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷
ایمیل ادرس:

sadaqat.books@yahoo.com
Sadaqat.books@gmail.com

**په کوئټه کي د ترلاسه کولو پته:**

**مکتبه سلطانیه**، کاسي روډ، کوئټه -پاکستان ، مسؤل:
حاجي سلطان محمد–
**تلیفون:** ۰۳۳۳۷۸۸۳۰۰۰
امین الله امین: ۰۳۰۱۳۷۳۷۰۳۰

## مشكوة المصابيح جلد (۱)


| شميره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | مقدمة المؤلف | ۱ |
| ۲ | د اعمالو دار او مدار پر نیت دی | ۵ |
| | **كتاب الايمان** | |
| ۳ | د ایمان بیان | ۶ |
| ۴ | لوی ګناهونه او د نفاق نښي | ۲۷ |
| ۵ | د وسوسي بیان | ۳۳ |
| ۶ | پر تقدیر ایمان | ۳۸ |
| ۷ | د قبر د عذاب ثبوت | ۵۷ |
| ۸ | د الله ﷻ کتاب او سنت په ټینګه نیول | ۶۶ |
| | **كتاب العلم** | |
| ۹ | د علم بیان | ۸۶ |
| | **كتاب الطهارت** | |
| ۱۰ | د پاکۍ بیان | ۱۰۹ |
| ۱۱ | د اوداسه موجبات | ۱۱۶ |
| ۱۲ | د تشو او ډکو بولو کولو آداب | ۱۲۳ |
| ۱۳ | د مسواک وهلو بیان | ۱۳۳ |
| ۱۴ | د اوداسه د سنتو بیان | ۱۳۷ |
| ۱۵ | د غسل بیان | ۱۴۷ |
| ۱۶ | د جنب سره یوځای کېدل او هغه ته رواه کارونه | ۱۵۳ |
| ۱۷ | د اوبو بیان | ۱۵۹ |
| ۱۸ | د مردارېو پاکول | ۱۶۴ |
| ۱۹ | **پر موزو د مسح بیان** | ۱۷۰ |
| ۲۰ | د تیمم بیان | ۱۷۳ |
| ۲۱ | د سنت غسل بیان | ۱۷۶ |
| ۲۲ | د حیض بیان | ۱۷۹ |
| ۲۳ | د مستحاضې بیان | ۱۸۳ |
| | **كتاب الصلوة** | |
| ۲۴ | د لمانځه بیان | ۱۸۷ |
| ۲۵ | د لمانځه د وختو بیان | ۱۹۲ |
| ۲۶ | په لمانځه کي د تلوار کولو بیان | ۱۹۵ |
| ۲۷ | د لمانځه د فضائلو بیان | ۲۰۵ |
| ۲۸ | د اذان بیان | ۲۰۹ |
| ۲۹ | د اذان فضیلت او جواب | ۲۱۴ |

| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۳۰ | د آذان د ځینو احکامو بیان | ۲۲۱ |
| ۳۱ | د مسجدو او د لمانځه د ځایو بیان | ۲۲۵ |
| ۳۲ | د ستر بیان | ۲۴۴ |
| ۳۳ | د سترې بیان | ۲۴۹ |
| ۳۴ | د لمانځه د ترتیب بیان | ۲۵۴ |
| ۳۵ | د تکبیر تحریمې وروسته دعاء | ۲۶۴ |
| ۳۶ | په لمانځه کې د قرائت بیان | ۲۶۹ |
| ۳۷ | د رکوع بیان | ۲۸۳ |
| ۳۸ | د سجدې بیان | ۲۸۸ |
| ۳۹ | د التحیات بیان | ۲۹۴ |
| ۴۰ | د درود شریف د فضیلت بیان | ۲۹۸ |
| ۴۱ | د تشهد د دعاء بیان | ۳۰۴ |
| ۴۲ | د لمانځه وروسته د ذکر بیان | ۳۰۹ |
| ۴۳ | په لمانځه کې روا او ناروا کارونه | ۳۱۶ |
| ۴۴ | د سجده سهو بیان | ۳۲۷ |
| ۴۵ | سجده تلاوت بیان | ۳۳۱ |
| ۴۶ | د ممنوعه وختو بیان | ۳۳۵ |
| ۴۷ | د جماعت د فضیلت بیان | ۳۴۱ |
| ۴۸ | د صفو برابرولو بیان | ۳۵۰ |

| شمیره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۴۹ | د امام او مقتدي د درېدو د ځای بیان | ۳۵۶ |
| ۵۰ | د امامت بیان | ۳۶۰ |
| ۵۱ | د امامت واجبات | ۳۶۵ |
| ۵۲ | د مقتدي او د مسبوق د احکامو بیان | ۳۶۷ |
| ۵۳ | د دویم ځل لمونځ کولو بیان | ۳۷۴ |
| ۵۴ | سنت او د هغه د فضائلو بیان | ۳۷۷ |
| ۵۵ | د شپې دلمانځه بیان | ۳۸۶ |
| ۵۶ | د شپې د لمانځه د اذکارو بیان | ۳۹۵ |
| ۵۷ | د شپې د عبادت ترغیب | ۳۹۹ |
| ۵۸ | په اعمالو کې د میانه روۍ او استقامت بیان | ۴۰۵ |
| ۵۹ | د وترو بیان | ۴۰۹ |
| ۶۰ | د قنوت بیان | ۴۱۹ |
| ۶۱ | د تراویح بیان | ۴۲۱ |
| ۶۲ | د څاښت د لمانځه بیان | ۴۲۷ |
| ۶۳ | د نفلي لمنځو بیان | ۴۳۰ |
| ۶۴ | صلوة التسبیح | ۴۳۳ |
| ۶۵ | د سفر د لمانځه بیان | ۴۳۵ |
| ۶۶ | د جمعې د لمانځه بیان | ۴۴۱ |
| ۶۷ | د جمعې د واجب کېدو بیان | ۴۴۸ |

| شمیره | مضمون | مخ |
| --- | --- | --- |
| ٦٨ | پاکي تر لاسه کول او لمانځه ته پروخت تلل | ۴۵۱ |
| ٦٩ | د خطبې او لمانځه بیان | ۴۵۶ |
| ۷۰ | د بیري دلمانځه بیان | ۴۶۱ |
| ۷۱ | د اخترو د لمانځه بیان | ۴۶۵ |
| ۷۲ | د اختري بیان | ۴۷۳ |
| ۷۳ | د بُتانو پر نامه حلالول کول | ۴۸۰ |
| ۷۴ | د خسوف د لمانځه بیان | ۴۸۲ |
| ۷۵ | د شکر د سجدې بیان | ۴۸۸ |
| ۷۶ | د استسقاء دلمانځه بیان | ۴۹۰ |
| ۷۷ | د بادو بیان | ۴۹۵ |

# یادښت

الحمد الله رب العالمين والصلاة والسلام على خاتم الانبياء والمرسلين و على اله واصحابه والتابعين لهم باحسان الى يوم الدين.

امابعد!

مشکوة شريف د اسلامي نړۍ د سترعالم، محدث او علامه امام ولي الدين محمد بن عبدالله رحمة الله عليه مشهور تصنيف دئ، چي تقريباً د اوومي هجري پيړۍ په اولو کي ئې تصنيف کړی دئ.

ددې کتاب مقام، منزلت، ارزښت او ثوقه والي د هيچا څخه پټ نه دئ تردې پوري چي يو وخت مشکوة خلکو د قران کريم په څېر په ياداوه ، د هندوستان يو عالم چي پر فقه معاني ، تفسير ، حديث او نورو علومو زيات برلاسي وو د مشکوة شريف حافظ وو چي په دې وجه په مشکواتي سره ملقب سوي وو، چي بيا ئې مشکوتي لقب پر ځان کښېښود، او په هندوستان کي يو وخت داسي وو چي د حديثو دکتابونو څخه يوازي مشکوات شريف درسېده، بيا وروسته خلکو صحاحو ته مخه کړه لاکن د مشکوة ارزښت اوس هم پر ځاي پاته دئ او په ټولو مدارسو کي تر صحاحو مخکي لازمي تدرسېږي.

مشکوة شريف چي د ضخامت له پلوه خورا غټ کتاب دئ تقريبا ۵۹۹۵ احاديث لري چي زيات حديثونه ئې دصحاح سته څخه انتخاب سوي خو سربېره پر صحاح سته امام مالک، شافعي، احمد، دارمي، دارقطني،بيهقي او ابوالحسن رزين بن معاويه ته هم حواله کوي، د رواياتو اختلاف ته هم توجه پکښي سوې ده د اصولو په ټولو هغو کتابو کي ئې د رواياتو اختلاف مقابله کړي او بيا ئې نقل کړي دئ، او کومو حديثونو ته چي غريب،ضعيف يا منکر ويل سوي د هغو سبب ئې هم ياد کړي دئ.

مشکوة شريف تقريبا ١٦ شرحي لري چي ديو څو مشهورو شرحو يادونه دلته ضروري بولم:

## مرقاة شرح مشکوة:

مرقاة چي ۱۲ جلده لري د مشهور عالم شيخ نور الدين علي بن سلطان محمد هروي چي مشهور په ملا علي قاري سره دئ تصنيف دئ، دی رحمه الله په ۱۰۱۴هجري کي وفات سوي دئ.

## منهاج مشکوة:

د شيخ عبد العزيز ابهري تصنيف دئ چي تقريبا د ۸۹۵ هجري په حدودو کي يې تصنيف کړي دئ.

## هداية الروايه الي تخريج المصابيح والمشکوة:

دا دشيخ ابو الفضل، احمد، بن علي، چي مشهور په ابن حجر عسقلاني سره دئ تصنيف دئ دی رحمه الله په ۷۵۳ هجري کي وفات سوي دئ.

## اشعة اللمعات :

دا کتاب په فارسي ژبه ليکل سوي دئ، مصنف ئې ابو المجدد عبد الحق بن سيف الدين بخاري دهلوي دي چي په۱۰۵۲هجري کي وفات سوي دئ.

## مظاهر الحق:

مظاهر الحق په اردو ژبه د نواب قطب خان بهادر تصنيف دئ، نواب قطب خان بهادر ۱۲۹۸ هجري کي وفات سوي دئ.

## رينه النکاة في شرح المشکوة:

د سيد محمد ابو المجد محبوب عالم بن سيد جعفر احمد ابادي تصنيف دئ، دی رحمة الله په ۱۱۱۱ هجري سنه کي وفات سوي دئ.

## حاشيه المشکوة:

دا دشيخ محمد سعيد بن المجدد الف ثاني تصنيف دئ، شيخ محمد سعيد په ۱۰۷۰ هجري سنه کي وفات سوي دئ.

د رسول الله ﷺ حديث چي الهي وحي او د اسلامي شريعت دوهم اصل دئ، دغه حديث چي د قران د مطالبو او احکامو بيانوونکي دئ اوهم پوهه او عمل په کول د انسان د دنيا او اخرت د نېکمرغيو سبب ګرځي نو لازمه ده هر مسلمان په دغه حديثو ځان وپوهوي او عمل په وکړي او د قران په رڼا کي ئې د خپلو عقايدو، عملونو، اخلاقو، معاشرت او تعامل

اساس وګرځوي او کوښښ وکړي چې له تطبيق او مراعاتولو څخه ئې يو لوښت بلې خوا ته نه سي.

لکه څرنګه چې وايو: موږ د خپل پيغمبر حضرت رسول اکرم ﷺ سره مينه لرو، نو بيا خو دا څرګند حقيقت دئ چې دوست د خپل دوست ښه احترام او اطاعت کوي: کوم څه چې ئې دوست خوښوي دي ئې هم خوښوي، د کوم څه څخه چې ئې دوست منعه کوي دی منعه کېږي او کوم څه چې ئې دوست ورته فرمايي دی عمل په کوي.

نو پر دې اساس پر موږ لازمه ده چې د رسول اکرم ﷺ هر امر او نهې په نظر کې ونيسو او په لاربښوونو ئې عمل وکړو.

دا کتاب چې ستاسي په لاسونو کې دئ د ستر عالم امام ولي الدين محمد بن عبدالله تصنف دئ که څه هم د يو داسې عالم پر ستر کتاب دومره ږغېده کفايت نه کوي خو دا چې د لويو خلکو پر ژوند او علميت بايد لوی خلک وږغېږي نو دا کار به هغوی ته پرېږدو.

رابه سو د مشکوة شريف د ترجمې وشروع ته، که څه هم په پښتو ژبه د مشکٰوة ترجمه مخکې هم وه، خو متاسفانه چې په پېښوري لهجه وه او زموږ زيات پښتانه په مشکل ورسره اخته وه، نو دا ضرورت ته په کتو مو ئې په ژباړه لاس پوري کړ او بالاخر په دې وتوانيدو چې د دوو کالو په اوږدو کې ئې ترجمه بشپړه او چاپ ته ئې اماده کړو، د ترجمې په اړخ کې ئې د ښاغلي محمد رسول سعيد ډېر مننه دوی يم چې هم ئې په ژباړه کې مرسته راسره وکړه او هم ئې په خپلو هنرمندو ګوتو راته کمپوز کړ، د تصحيح او مقابلې په چارو کې ئې د مولوي محمد ابراهيم او مولوي احمدزي صاحب ډېر پوروړي يم چې شپه او ورځ ئې پر ځان يوه کړه هم ئې تصحيح کړ او هم ئې عربي متن د مخکنيو نسخو سره پرتله کړ الله ﷻ دي اجر عظيم ورکړي، د ګران دوست عبدالناصر څخه د زړه له کومې مننه کوم چې پر خپلو زياتو مصروفيتونو برسېره ئې د کتاب يو ټوک په زيات دقت تصحيح کړ، ددې تر څنګ ډېر نور داسې دوستان سته چې په دې اړخ کې ئې مرسته راسره کړې، د هغو ټولو څخه مننه.

اللهُم صَل وسلم علٰي خير خلقِکَ مُحمدٍ و اله و اصحابه اجمعين.

اللهُم اغفر لکاتِبه ولمَن سَعي فِيه وَ لِوَالِديهِم اجمعين

ستاسي د يوې دعا په هيله!

# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَ نَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلاَ هَادِيَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لاَّاِلٰهَ اِلاَّاللهُ شَهَادَةً تَكُوْنُ لِلنَّجَاةِ وَسِيْلَةً وَلِرَفْعِ الدَّرَجَاتِ كَفِيْلَةً وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهُ الَّذِيْ بَعَثَهٗ وَطُرُقُ الْاِيْمَانِ قَدْ عَفَتْ آثَارُهَا وَخَبَتْ اَنْوَارُهَا وَ وَهَنَتْ اَرْكَانُهَا وَجُهِلَ مَكَانُهَا فَشَيَّدَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ وَسَلاَمُهٗ مِنْ مَعَالِمِهَا مَا عَفٰى وَشَفٰى مِنَ الْعَلِيْلِ فِيْ تَاْيِيْدِ كَلِمَةِ التَّوْحِيْدِ مَنْ كَانَ عَلٰى شَفَا وَ اَوْضَحَ سُبُلَ الْهِدَايَةِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يَّسْلُكَهَا وَاَظْهَرَ كُنُوْزَ السَّعَادَةِ لِمَنْ قَصَدَ اَنْ يَّمْلِكَهَا.

اَمَّا بَعْدُ فَاِنَّ التَّمَسُّكَ بِهَدْيِهٖ لاَ يَسْتَتِبُّ اِلاَّ بِالْاِقْتِفَاءِ لِمَا صَدَرَ مِنْ مِشْكٰوتِهٖ وَالْاِعْتِصَامَ بِحَبْلِ اللهِ لاَ يَتِمُّ اِلاَّ بِبَيَانِ كَشْفِهٖ وَكَانَ كِتَابُ الْمَصَابِيْحِ الَّذِيْ صَنَّفَهُ الْاِمَامُ مُحْيِ السُّنَّةِ قَامِعُ الْبِدْعَةِ اَبُوْمُحَمَّدٍ الْحُسَيْنُ بْنُ مَسْعُوْدٍ الْفَرَّاءُ الْبَغَوِيُّ رَفَعَ اللهُ دَرَجَتَهٗ اَجْمَعَ كِتَابٍ صُنِّفَ فِيْ بَابِهٖ وَاَضْبَطَ لِشَوَارِدِ الْاَحَادِيْثِ وَ اَوَابِدِهَا، وَلَمَّا سَلَكَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ طَرِيْقَ الْاِخْتِصَارِ وَحَذَفَ الْاَسَانِيْدَ تَكَلَّمَ فِيْهِ بَعْضُ النُّقَّادِ . وَاِنْ كَانَ نَقْلُهٗ وَاِنَّهٗ مِنَ الثِّقَاتِ كَالْاَسْنَادِ لٰكِنْ لَيْسَ مَا فِيْهِ اِعْلاَمٌ

تول تعریفونه الله تعالی ته ښائي موږ د هغه تعریف کوو او د هغه څخه مرسته او بخښنه غواړو، او موږ د خپل نفس د بدیو څخه او د خپلو بدو اعمالو څخه د الله تعالی پناه غواړو. چا ته چي الله تعالی سیده لار وښیي نو هغه بیا څوك گمراه کولای نه سي او الله تعالی چي یو څوك گمراه کېدو ته پرېږدي نو هغه ته هیڅوك څوك سیده لار ښودونکی نسته او زه شاهدي ادا کوم چي د الله ﷻ څخه پرته بل معبود نسته هغه شاهدي چي د نجات لپاره وسیله او د درجو د لوړتیا لپاره ضامن ده او زه شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او د هغه رسول دی چي الله تعالی هغه وخت په خپل رسول جوړولو سره راولیږی چي د ایمان د لارو نښې خرابي سوي وې د هغې رڼاوي مړې سوي وې د هغه آثار کمزوری سوي وه او د هغه ښودل سوی منزل د نظرونو څخه غائب سوی وو، نو نبي کریم ﷺ هغه نړېدلي نښې د نوي سره جوړې کړې او دکلمه توحید سره یې هغه ناروغو ته شفاء ورسول کوم چي د هلاکت غاړې ته رسیدلي وه، او د هغه سړي لپاره یې د هدایت لار څلانده کړه چي پر هغه د تلو اراده وکړي او د هغه لپاره د نیك بختۍ خزانې څرګندې کړې چي د هغه د مالك کېدو قصد وکړي، ددې څخه وروسته ، په تحقیق سره د نبي کریم ﷺ هدایت اختیارول هغه وخت معتبر کیدلای سي چي د

كَالْاَغْفَالِ فَاسْتَخَرْتُ اللّٰهَ تَعَالٰى وَاسْتَوْفَقْتُ مِنْهُ فَاَعْلَمْتُ مَا اَغْفَلَهُ وَاَوْدَعْتُ كُلَّ حَدِيْثٍ مِنْهُ مَقَرَّهٗ كَمَا رَوَاهُ الْاَئِمَّةُ الْمُتْقِنُوْنَ وَالثِّقَاتُ الرَّاسِخُوْنَ مِثْلُ اَبِيْ عَبْدِاللّٰهِ مُحَمَّدِ بْنِ اِسْمَاعِيْلَ الْبُخَارِيِّ وَاَبِي الْحُسَيْنِ مُسْلِمِ بْنِ الْحَجَّاجِ الْقُشَيْرِيِّ وَاَبِيْ عَبْدِاللّٰهِ مَالِكِ بْنِ اَنَسٍ الْاَصبحي وَاَبِيْ عَبْدِاللّٰهِ مُحَمَّدِ بْنِ اِدْرِيْسَ الشَّافِعِيِّ وَاَبِيْ عَبْدِاللّٰهِ اَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلِ الشَّيْبَانِيِّ وَاَبِيْ عِيْسٰى مُحَمَّدِ بْنِ عِيْسٰى التِّرْمِذِيِّ وَاَبِيْ دَاوٗدَ سُلَيْمَانَ ابْنِ الْاَشْعَثِ السِّجِسْتَانِيِّ وَاَبِيْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ اَحْمَدَ بْنِ شُعَيْبِ النَّسَائِيِّ وَاَبِيْ عَبْدِاللّٰهِ مُحَمَّدِ بْنِ يَزِيْدَ ابْنِ مَاجَةَ الْقَزْوِيْنِيْ وَاَبِيْ مُحَمَّدٍ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَبْدِالرَّحْمٰنِ الدَّارِمِيِّ وَاَبِي الْحَسَنِ عَلِيِّ ابْنِ عُمَرَ الدَّارَ قُطْنِيِّ وَاَبِيْ بَكْرٍ اَحْمَدَ بْنِ الْحُسَيْنِ الْبَيْهَقِيِّ وَ اَبِي الْحَسَنِ رَزِيْنَ ابْنِ مُعَاوِيَةَ الْعَبْدَرِيِّ وَغَيْرِهِمْ وَقَلِيْلٌ مَّا هُوَ، وَ اِنِّيْ اِذَا نَسَبْتُ الْحَدِيْثَ اِلَيْهِمْ كَاَنِّيْ اَسْنَدْتُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَنَّهُمْ قَدْ فَرَغُوْا مِنْهُ وَاَغْنَوْنَا عَنْهُ وَ سَرَدْتُ الْكُتُبَ وَالْاَبْوَابَ كَمَا سَرَدَهَا وَاقْتَفَيْتُ اَثَرَهٗ فِيْهَا وَقَسَّمْتُ كُلَّ بَابٍ غَالِبًا عَلٰى فُصُوْلٍ ثَلَاثَةٍ اَوَّلُهَا مَا اَخْرَجَهُ الشَّيْخَانِ اَوْ اَحَدُهُمَا وَاكْتَفَيْتُ بِهِمَا وَاِنْ اشْتَرَكَ فِيْهِ الْغَيْرُ لِعُلُوِّ دَرَجَتِهِمَا فِي الرِّوَايَةِ وَثَانِيْهَا مَا اَوْرَدَهٗ غَيْرُ هُمَا مِنَ الْاَئِمَّةِ الْمَذْكُوْرِيْنَ

هغه شي پوره اتباع وکړل سي کوم چي د رسول الله ﷺ د سيني مبارکي څخه څرګند سوي وه، يعني د رسول الله ﷺ ارشادات او احکام، همداسي د الله ﷻ رسی يعني پر قرآن کريم باندي اعتماد او پر هغه عمل هلته ممکن کيدلای سي چي د هغه شرح او وضاحت د احاديث نبوي څخه وي، او کتاب المصابيح هغه چي امام محي السنة (سنت ژوندی کونکی) قامع البدعة (د بدعت ليري کونکی) ابو محمد حسين الفراء بغوي الله ﷻ دي دده درجات لوړي کړي، تاليف فرمايلي دی هغه د خپل فن يو جامع کتاب وو چي په هغه کي نوموړي ډير ښه او غوره طريقه سره پاشلي او متفرق حديثونه راجمع کړي وه، او کله چي مصنف ( حديث د نقلولو په وخت کي) د اختصار طريقه غوره کړه او اسناد يې حذف کړل نو پر دې باندي ځينو محدثينو او فاقدينو اعتراض وکړ که څه هم د مصنف د حديثونو بغير سند نقل داسي دي لکه په سند سره چي يې نقل کړي وي ځکه چي هغه د حديث د نقل کولو په معامله کي د ثقه او معتمدو محدثينو څخه شميرل کيږي مګر بيا هم کوم شی چي بې نښي وي هغه د نښي والا شی په درجه کي نه سي کيدلای ځکه نو ما د الله تعالی څخه مرسته وغوښتل او د هغه د توفيق غوښتونکی سوم ، ما هر حديث چي د کوم باب سره د هغه تعلق وو په هغه باب کي نقل کړ او علماء او محدثين چي څرنګه هغه

، وَثَالِثُهُمَا مَا اشْتَمَلَ عَلَى مَعْنَى الْبَابَ مُلْحَقَاتٌ مُنَاسِبَةٌ مَعَ مُحَافَظَةٍ عَلَى الشَّرِيْطَةِ وَاِنْ كَانَ مَاْثُوْرًا عَنِ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ ثُمَّ اِنَّكَ اِنْ فَقَدْتَ حَدِيْثًا فِيْ بَابٍ فَذَالِكَ عَنْ تَكْرِيْرٍ اُسْقِطُهُ وَاِنْ وَجَدْتَ آخَرَ بَعْضَهُ مَتْرُوْكًا عَلَى اخْتِصَارِهٖ اَوْ مَضْمُوْمًا اِلَيْهِ تَمَامُهُ فَعَنْ دَاعِيْ اهْتِمَامٍ اَتْرُكُهُ وَ اَلْحِقُهُ وَاِنْ عَثَرْتَ عَلَى اخْتِلَافٍ فِي الْفَصْلَيْنِ مِنْ ذِكْرِ غَيْرِ الشَّيْخَيْنِ فِي الْاَوَّلِ وَ ذِكْرِهِمَا فِي الثَّانِيْ فَاعْلَمْ اَنِّيْ بَعْدَ تَتَبُّعِيْ كِتَابَيِ الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّحِيْحَيْنِ لِلْحُمَيْدِيِّ وَجَامِعِ الْاُصُوْلِ اعْتَمَدْتُ عَلَى صَحِيْحَيِ الشَّيْخَيْنِ وَ مَتْنَيْهِمَا وَاِنْ رَاَيْتَ اخْتِلَافًا فِيْ نَفْسِ الْحَدِيْثِ فَذَالِكَ مِنْ تَشَعُّبِ طُرُقِ الْاَحَادِيْثِ وَلَعَلِّيْ مَا اطَّلَعْتُ عَلَى تِلْكَ الرِّوَايَةِ الَّتِيْ سَلَكَهَا الشَّيْخُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَقَلِيْلًا مَا تَجِدُ اَقُوْلُ مَا وَجَدْتُ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ فِيْ كُتُبِ الْاُصُوْلِ وَ وَجَدْتُ خِلَافَهَا فَاِذَا وَقَفْتَ عَلَيْهِ فَانْسُبِ الْقُصُوْرَ اِلَيَّ لِقِلَّةِ الدِّرَايَةِ لَا اِلَى جَنَابِ الشَّيْخِ رَفَعَ اللّٰهُ قَدْرَهُ فِي الدَّارَيْنِ حَاشَا لِلّٰهِ مِنْ ذَالِكَ رَحِمَ اللّٰهُ مَنْ اِذَا وَقَفَ عَلَى ذَالِكَ نَبَّهَنَا عَلَيْهِ وَ اَرْشَدَنَا طَرِيْقَ الصَّوَابِ وَلَمْ آلُ جُهْدًا فِي التَّنْقِيْرِ وَ التَّفْتِيْشِ بِقَدْرِ الْوُسْعِ وَالطَّاقَةِ وَ نَقَلْتُ ذَالِكَ الْاِخْتِلَافَ كَمَا وَجَدْتُ وَمَا اَشَارَ اِلَيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مِنْ غَرِيْبٍ اَوْ ضَعِيْفٍ اَوْ غَيْرِهِمَا

روایت کړي ما هم هغسي د سند او د کتاب د حوالې ذکر وکړ مثلا امام بخاري، امام مسلم، امام مالك، امام شافعي، امام احمد بن حنبل، امام ترمذي، امام ابوداؤد، امام نسائي، امام ابن ماجه ، امام دارمي، امام دارقطني، امام بيهقي، امام رزين بن معاويه عبدري، دغه امامانو او محدثينو چي څرنگه په خپلو کتابونو کي حديث نقل کړی دی همداسي ما د هغه کتابونو څخه په اخيستلو سره په دغه کتاب کي جمع کړل ، ددغه امامانو او محدثينو څخه پرته نور محدثين هم سته چي د هغوئ د کتابونو څخه حديثونه نقل کړل سوي دي مگر د هغوئ شمير ډير کم دی . او حقيقت دادی چي هر کله ما ددغه حديثونو نسبت د هغه امامانو او محدثينو په لور وکړ نو گويا د هغه سند مي تر رسول الله ﷺ پوري رسولی دی څکه چي دغه امامانو په خپلو کتابونو کي د سند ذکر کولو سره موږ ددې څخه مستغني کړي يو او ما دغه کتاب ته هغه ترتيب ورکړ کوم چي صاحب د مصابيح اېښی وو او په دې اړه مي د هغه پيروي کړې ده . او ما هر باب پر درو فصلونو باندي ويشلی دی ، په لومړي فصل کي مي هغه حديثونه جمع کړي دي چي د شيخينو يعني امام بخاري او امام مسلم روايت کړي دي يا په دوئ دوارو کي يو چا روايت کړی دی که څه هم په هغه حديثونو کي ځيني داسي هم دي چي نورو محدثينو هم روايت کړي دي مگر په دغه فصل

بَيَّنْتُ وَجْهَهٗ غَالِبًا وَمَا لَمْ يُشِرْ اِلَيْهِ مِمَّا فِي الْاُصُوْلِ فَقَدْ قَفَّيْتُهٗ فِيْ تَرْكِهٖ اِلاَّ فِيْ مَوَاضِعِ لِغَرْضٍ وَ رُبَّمَا تَجِدُ مَوَاضِعَ مُهْمَلَةً وَذَالِكَ حَيْثُ لَمْ اَطَّلِعْ عَلٰى رِوَايَةٍ فَتَرَكْتُ الْبَيَاضَ فَاِنْ عَثَرْتَ عَلَيْهِ فَاَلْحِقْهُ بِهٖ اَحْسَنَ اللّٰهُ جَزَاءَكَ، وَ سَمَّيْتُ الْكِتَابَ بِمِشْكٰوةِ الْمَصَابِيْحِ وَاَسْاَلُ اللّٰهَ التَّوْفِيْقَ وَالْاِعَانَةَ وَالْهِدَايَةَ وَالصِّيَانَةَ وَتَيْسِيْرَ مَا اَقْصُدُهٗ وَاَنْ يَّنْفَعَنِيْ فِي الْحَيٰوةِ وَبَعْدَ الْمَمَاتِ وَجَمِيْعِ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلاَّ بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ .

کي ما یوازي د شیخینو پر ذکر باندي اکتفاء کړې ده ځکه چي د شیخینو درجه پر ټولو محدثینو باندي لوړه ده، او په دویم فصل کي مي هغه حدیثونه جمع کړي دي چي د شیخینو یعني د امام بخاري او امام مسلم څخه پرته په نورو ذکر سوو امامانو کي یو چا روایت کړی وي ، او په دریم فصل کي د حدیثو څخه پرته د صحابه کرامو او تابعینو هغه اقوال او آثار مي هم جمع کړي دي چي د باب مناسب او وړ وه، مګر د آثار او خبر شاملولو سره د حدیث شرائط مد نظر ساتل سوي دي، بیا که چیري په یو باب کي ته یو حدیث نه سې تر لاسه کولای نو داسي

وګڼه چي هغه ما د تکرار په وجه نه دی نقل کړی . او که ته یو حدیث ووینې چي د هغه ځیني برخه د اختصار په وجه حذف کړل سوې ده یا په هغه کي د بل حدیث یو برخه یو ځای کړل سوې ده نو دغه حذف کول او یو ځای کول د یو خاص مقصد لپاره دي . او که په دواړو فصلونو کي اختلاف ووینې یعني د شیخینو د حدیثو څخه پرته نور حدیثونه په اول فصل کي ذکر سوي وي او د شیخینو حدیثونه په دویم فصل کي نقل سوي وي نو پوهېدل پکار دي چي دغه اختلاف د غلطۍ یا غفلت په وجه نه دی سوی بلکه دغه ما د حمیدي په کتاب جمع بین الصحیحین او په کتاب جامع الاصول کي د ډیري پلټني او تحقیق وروسته کړي دي او په دې لړۍ کي ما د امام بخاري او امام مسلم پر نسخو او د هغو پر متن اعتماد کړی دی . او که په اصل حدیث کي اختلاف ووینې نو دا به د حدیثونو په اسناد کي د اختلاف په وجه وي، او کیدای سي چي کوم روایت شیخ رحمة الله علیه نقل کړی وي هغه ما ته نه وي تر لاسه سوی مګر داسي کم پېښېږي چي روایت دي ما ته نه وي تر لاسه سوی یا ما ته د اصولو په کتابونو کي د شیخ د نقل سوي روایت خلاف هغه رعایت حاصل سوی وي مګر دغه اختلاف که معلوم وي نو د خطا او قصور نسبت دی زما طرف ته د کوتاهۍ په وجه وکړل سي او شیخ رحمة الله علیه دي ددغه غلطۍ څخه پاك وګڼل سي ، الله تعالی دي د شیخ صاحب قدر په دواړو جهانو کي لوړ کړي او الله تعالی لره پاکي ده . پر هغه سړي دي د الله ﷻ رحمت وي چي هغه ته روایت معلوم وي او زموږ په خبرولو سره موږ ته حقه لار وښيي . ما

په خپل تحقیق، پلټني او هڅي کي هیڅ کمي نه ده پرې ایښي او د خپل وس او توان سره سم پوره پلټنه مي وکړه او دغه اختلاف چي مي څرنګه تر لاسه کړ هم هغسي مي نقل کړ . او پر کوم حدیث باندي چي شیخ رحمة الله تعالی علیه د ضعیف یا غریب وغیره حکم کړي وي نو ما د هغه سبب بیان کړی دی او د کوم حدیث او اصول امور جانب ته چي شیخ یو اشاره نه ده کړې نو ما هم د شیخ پیروي کولو سره هغه پرې ایښی دی.مګر پر څینو ځایونو باندي د مجبورۍ په وجه ما د هغه وضاحت کړی دی او یو څو داسي ځایونه به هم وي چي هلته د حدیث څخه وروسته ما د کتاب حواله نه ده ورکړې ځکه چي د پلټني او تحقیق سربېره زه د راوي دنوم څخه خبر نه سوم نو ځکه هغه ځای ما پرېښودی که تاسو ته د راوي نوم معلوم وي نو په هغه ځای کي هغه حواله ورکړئ پر دې به الله تعالی تاسو ته د خیر جزا درکړي، او ما ددغه کتاب نوم مشکوة المصابیح ایښی دی او ددغه کتاب د تصنیف لپاره زه د الله تعالی څخه نیك توفیق، د هغه مرسته او د هدایت غوښتونکی یم او د خپل مقصد د تکمیل لپاره د خطا او سهو ساتنه او د مشکلاتو د آسانۍ لپاره دعاء کوم او دعاء کوم چي الله تعالی دي په ژوند کي او د مرګ څخه وروسته ما ته هم او هر مسلمان نارینه او ښځینه ته ګټه ورسوي او الله تعالی زما لپاره کافي او غوره کار ساز دی او د بدۍ څخه د ژغورني طاقت او د نیك کار کولو قدرت د الله تعالی د لوري دی چي پر ټولو کارونو باندي غالب او د حکمت خاوند دی.

## د اعمالو دار او مدار پر نیت دی

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوْ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ. متفق علیه.

د حضرت عمر بن خطاب ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ټولو کارونو دار او مدار په نیت پوري دی (یعني د عمل ثمره پر نیت باندي ورکول کیږي) نو چا چي د الله ﷻ او د هغه د رسول لپاره هجرت وکړ نو د هغه هجرت به د الله ﷻ او د رسول ﷺ لپاره وي او که د چا هجرت د دنیا تر لاسه کولو لپاره وي نو هغه به تر لاسه کړي او که د چا هجرت د ښځي سره دنکاح کولو لپاره وي نو ښځه به په نکاح کړي نو د هغه هجرت د هغه شي لپاره وي د کوم لپاره چي هغه اراده کړې وي . بخاري او مسلم.

# كِتَابُ الْاِيْمَانِ (د ایمان بیان)

## لومړی فصل

### حدیث جبرئیل علیه السلام

(۱): عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّاب رضي الله عنه قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعَرِ لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَخْبِرْنِي عَنِ الْإِسْلَامِ قَالَ الْإِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ وَيُصَدِّقُهُ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ قَالَ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ قَالَ صَدَقْتَ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِحْسَانِ قَالَ أَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ قَالَ مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ قَالَ فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَاتِهَا قَالَ أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ قَالَ ثُمَّ انْطَلَقَ فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُمَّ قَالَ لِي يَا

د حضرت عمر بن خطاب ﷺ څخه روایت دی چي یوه ورځ موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کي وو چي ناڅاپه یو کس را ښکاره سو چي ورېښتان يې تک تور وه اوتکي سپيني جامې يې اغوستي وې د سفر څه نښې پر نه وې او نه په موږ کي هغه چا پيژندی هغه د رسول الله ﷺ د زنګنو مبارکو سره خپل زنګنونه جخت کړه او کښيې يې ښودل خپل دواړه لاسونه پر خپلو ورنو او کښېناست او وه يې ويل اې محمد ﷺ! ما د اسلام د حقيقت څخه خبر کړه، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل اسلام دادی چي ته ددې خبري اقرار او شاهدي وکړې چي د خدای ﷻ څخه پرته بل معبود نسته او محمد ﷺ د خدای رسول دی، او بيا ته لمونځ ادا کړې زکوة ورکړې د رمضان د مياشتي روژې ونيسې او که ستا سره د لاري توښه وي نو د خانه کعبې حج وکړې ، هغه سړي ددې په اورېدو سره وويل تاسو رښتيا وفرمايل ، ددې په ليدو سره موږ حيران سو چي دا سړی پوښتنه هم کوي او تصديق هم کوي بيا هغه سړي پوښتنه وکړه د ايمان حقيقت را ته بيان کړه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ايمان دادی چي ته پر الله ﷻ، د هغه پر ملائکو، د هغه پر کتابو،

عُمَرُ أَتَدْرِي مَنَ السَّائِلُ قُلْتُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ (رواه مسلم) وَرَوَاهُ أَبُوْهُرَيْرَةَ مَعَ اخْتِلَافٍ وَفِيهِ وَ اذَا رَأَيْتَ الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الصُّمَّ الْبُكْمَ مُلُوْكَ الْاَرْضِ، فِيْ خَمْسٍ لَايَعْلَمُهُنَّ الَّااللّٰه ثُمَّ قَرَأَ : انَّ اللّٰهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ... الاية (متفق عليه)

د هغه پر رسولانو، د قیامت پر ورځي او د تقدیر په خیر او شر ایمان ولرې چي دا دالله ﷻ د لوري دي ، ددې په اورېدو سره هغه سړي وویل تاسو رښتیا وفرمایل. بیا یې پوښتنه وکړه د احسان په اړه را ته څه وفرمایاست، نبي کریم ﷺ وفرمایل احسان دادی چي ته د خدای ﷻ داسي عبادت وکړې لکه ته چي هغه وینې او که ته هغه نه وینې نو هغه خدای ﷻ بیشکه تا وینې ، بیا هغه سړي پوښتنه وکړه د قیامت په اړه مي خبر کړه، رسول الله ﷺ وفرمایل د قیامت په اړه زما علم د پوښتني کونکی د علم څخه زیات نه دی (یعني څومره چي ته په خبر یې هغومره زه هم خبر یم) بیا یې پوښتنه وکړه د قیامت څه نښي راته وښیه، رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت د نښو څخه یوه داده چي وینځه خپل مالك زېږوي او دویمه نښه داده چي لوڅ پښې او لوڅ بدني مفلس او فقیر رمه څروونکي خلك به ته په لوړو او ښو ماڼیو کي د فخر او غرور ژوند تیرونکي ووینې ، حضرت عمر ﷺ فرمایي چي ددې وروسته هغه سړی ولاړی او تر یو وخته پوري زه پټه خوله ناست وم بیا نبي کریم ﷺ ما ته وفرمایل اې عمره ! ته پوه سوې چي دا سړی څوك وو، ما وویل: الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهیږي نو نبي کریم ﷺ وفرمایل دا جبرائیل ﷺ وو تاسو ته ستاسو ددین ښودلو لپاره راغلی وو.(مسلم) د ابوهریرة ﷺ څخه چي کوم حدیث نقل سوی دی په هغه کي د څو الفاظو اختلاف دی یعني په هغه کي دا الفاظ دي چي هر کله ته لوڅي پښې لوڅ بدني کاڼه او ګونګیان د مځکي پاچاهان ووینې (او دا الفاظ هم دي چي ) د پنځو خبرو علم یوازي خدای لره دی بیا نبي کریم ﷺ دا ایت تلاوت کړ : ان الله عنده الخ . یعني د قیامت حال خدای ته معلوم دی (چي کله به وي) او دا هم خدای پاك ته معلومه ده چي باران به کله کیږي دا آیت تر آخري پوري ولوستی بخاري او مسلم

## د اسلام بنیاد پر پنځو شیانو دی

﴿ ٢ ﴾ :عَنْ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ : رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل د اسلام بنسټ پر پنځو شیانو دی : ١- ددې شاهدي ورکول چي د الله څخه پرته بل معبود نسته او محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او رسول دی، ٢- لمونځ کول ٣- زکوة ورکول ۴- حج کول ۵- د رمضان د میاشتي روژې نیول . مسلم او بخاري .

## د ایمان څانګې

﴿ ۳ ﴾ : وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّم اَلْاِيْمَانُ بِضْعٌ وَ سَبْعُوْنَ شُعْبَةً فَاَفْضَلُهَا قَوْلُ لَااِلٰهَ اِلَّااللهُ وَ اَدْنٰهَا اِمَاطَةُ الْاَذٰى عَنِ الطَّرِيْقِ وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِّنَ الْاِيْمَانِ (متفق علیه).

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د ایمان د اویا څخه زیاتي څانګې دي په هغو کې د ټولو څخه غوره ددې خبرې اقرار کول دي چې د خدای څخه پرته بل معبود نسته او د ټولو څخه کمې درجې ایمان د یو ضررې شي د لارې څخه لیرې کول دي او حیا د ایمان یوه څانګه ده (بخاري او مسلم).

## د مؤمن او مسلم مفهوم

﴿ ۴ ﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّم: اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَ يَدِهٖ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَمَا نَهَى اللهُ عَنْهُ هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِي وَمُسْلِم قَالَ اِنَّ رَجُلًا سَاَلَ النَّبِي صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّم اَيُّ الْمُسْلِمِيْنَ خَيْرٌ ؟ قَالَ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل (پوره) مسلمان هغه دی چې د هغه د ژبې او لاسونو څخه مسلمان ساتلی او په امان وي او مهاجر هغه دی چې هغه ټول شیان یې پرې ایښې وي د کومو څخه چې خدای پاک منع فرمایلې وي (دا الفاظ د بخاري دي او په مسلم کې دا الفاظ دي) چې یو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه په مسلمانانو کې تر ټولو غوره سړی کوم دی رسول الله ﷺ وفرمایل هغه سړی چې د ژبې او لاسونو څخه یې مسلمان په امان وي. بخاري او مسلم.

## د محبت درجې

﴿۵﴾: وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ : لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى اَكُوْنَ اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهٖ وَ وَلَدِهٖ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ (متفق علیه).

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : تر هغه وخته پورې څوك پوره مؤمن نه سي کیدلای تر څو چې د هغه په نزد زه د هغه د پلار، زوی او ټولو خلګو څخه زیات محبوب نه سم. بخاري ومسلم.

## د ایمان خوند

﴿ ۶ ﴾ : وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ثَلٰثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل درې شیان داسې دي چې په یو چا کې پیدا سي نو هغه به د ایمان خوند تر لاسه

بِهِنَّ حَلَاوَةَ الْإِيْمَانِ مَنْ كَانَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَمَنْ أَحَبَّ عَبْدًا لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلّٰهِ وَمَنْ يَكْرَهُ أَنْ يَعُوْدَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ أَنْ أَنْقَذَهُ اللّٰهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُلْقٰى فِي النَّارِ.(متفق عليه).

کړي ۱- هغه سړی چي خدای او رسول د ټولو څخه زيات عزيز او محبوب ګڼي ۲- هغه سړی چي د يو بنده سره يوازي د الله د رضا لپاره محبت لري ۳- هغه سړی چي د کفر د تيارو وروسته خدای پاك ورته د اسلام نورانيت په برخه کړی وي او هغه بيا کفر ته ستنېدل داسي بد ګڼي لکه څرنګه چي دا خبره بده ګڼي چي هغه په اور کي وغورزول سي . مسلم اوبخاري.

## د ایمان لطف

﴿ ٧ ﴾ : وَعَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ذَاقَ طَعْمَ الْإِيْمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ رَّسُوْلًا.رواه مسلم

د حضرت عباس ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل کوم سړی چي په دې خبره راضي سو چي خدای د هغه رب، اسلام د هغه دين او محمدﷺ د هغه دپاره رسول دی نو هغه به د ايمان خوند و څکی .

## اسلام د نجات لار ده

﴿ ٨ ﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَا يَسْمَعُ بِيْ أَحَدٌ مِّنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ يَهُوْدِيٌّ وَلَا نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ يَمُوْتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِيْ أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په واك کي د محمد(ﷺ) روح ده چي په دې امت کي کوم څوك که يهودي وي او يا نصراني چي زما د رسالت خبر واوري او دخدای کوم پيغام چي ما راوړی دی پر هغه ايمان را نه وړي او مړ سي نو هغه يقينا دوزخي دی . مسلم .

## دوه چنده اجر ګټونکي

﴿ ٩ ﴾ :وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ رَجُلٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهٖ وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ وَّالْعَبْدُ الْمَمْلُوْكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللّٰهِ وَحَقَّ مَوَالِيْهِ وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهُ أَمَةٌ يَطَؤُهَا فَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ تَأْدِيْبَهَا وَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيْمَهَا ثُمَّ أَعْتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا فَلَهُ

د حضرت ابوموسی الاشعري ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : درې کسانو ته به دوچنده ثواب ورکول کيږي : ۱- هغه اهل کتاب ته چي اول يې پر خپل نبي ايمان راوړی او اوس پر محمد ﷺ باندي ۲- هغه غلام چي د چا په ملکيت کي وي او د خدای ﷻ حق هم ادا کوي او د خپلو مالکانو حق هم ادا کوي ۳- هغه سړي ته

أَجْرَانِ . ( متفق عليه )

چي دهغه سره يوه وينزه وي دی د هغې سره مباشرت هم کوي او هغې ته ادب هم ښيي بيا چي هغې ته ښه ادب وښيي او ښه تعليم ورکړي آزاده يې کړي او دهغې سره نکاح وکړي نو هغه ته به دوچنده اجر ور کول کيږي . بخاري اومسلم.

## د کفارو سره د جنګ حکم

﴿ ١٠ ﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ : رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتّٰى يَشْهَدُوْا أَنْ لاَّ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ وَيُقِيْمُوْا الصَّلاَةَ وَيُؤْتُوْا الزَّكَاةَ فَإِذَا فَعَلُوْا ذٰلِكَ عَصَمُوْا مِنِّيْ دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلاَّ بِحَقِّ الإِسْلاَمِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللّٰهِ، متفق عليه. إِلاَّ أَنَّ مُسْلِمًا لَمْ يَذْكُرْ إِلاَّ بِحَقِّ الإِسْلاَمِ .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :ما ته (د خدای د لوري) داحکم راکول سوی دی چي زه تر هغه وخته پوري د خلګو سره و جنګيږم ترڅو چي هغوئ ددې خبري په ژبه او زړه سره اقرار نه وي کړی چي د الله څخه پرته بل معبود نسته او محمد ﷺ دخدای رسول دی او بيا هغوئ لمونځ کوي او زکوة ورکوي بيا چي هغوئ داسي کوي نو زما څخه به خپل ځانونه او مالونه خلاص کړي او بيا به پر هغوئ يوازي د اسلام حقوق وي او دهغوئ حساب د خدای پر ذمه دی هغه به يې اخلي (بخاري او مسلم) او په مسلم کي ددې الفاظو (الا بحق الاسلام) يعني په هغوئ کي به د اسلام حق وي، ذکر نسته .

## مسلمان څوک دی؟

﴿ ١١ ﴾: وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلّٰى صَلاَتَنَا وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا وَاَكَلَ ذَبِيْحَتَنَا فَذٰلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِيْ لَهُ ذِمَّةُ اللّٰهِ وَذِمَّةُ رَسُوْلِهِ فَلاَ تُخْفِرُوا اللّٰهَ فِيْ ذِمَّتِه .

رواه البخاري

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي زموږ په شان لمونځ کوي زموږ په شان قبلې ته مخ کوي او زموږ حلال سوی (حيوان) وخوري هغه مسلمان دی او هغه د خدای او د خدای د رسول په عهد او امان کي دی نو (خدای ﷻ) چي څوک په خپل امان کي اخيستی دی تاسو د هغه عهد مه ماتوئ .بخاري.

## جنت ته بيونکي اعمال

﴿ ١٢ ﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ أَتٰى اعرابي النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ دُلَّنِي عَلٰى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ قَالَ تَعْبُدُ اللّٰهَ وَ لَا

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي يو صحرايي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ : تاسو ما ته يو داسي عمل راو ښياست چي زه يې وکړم او جنت ته داخل سم نبي

تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ وَتَصُومُ رَمَضَانَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا شَيْئًا وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ فَلَمَّا وَلَّى قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا.(متفق علیه) .

ﷺ ورته وفرمایل : د الله عبادت کوه څوك هغه لره شریك مه نیسه ، فرض لمونځ ادا کړه، فرض زکوة ورکړه او د رمضان د میاشتي روژې نیسه ، صحرایي چي دا واوریدل نو وه یې ویل قسم دی په هغه ذات چي د هغه په واك کي زما روح ده زه به ددې څخه نه څه زیات کوم او نه به څه کم کوم، کوم وخت چي هغه سړی ولاړی نو رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د یو جنتي سړي د لیدو خوشحالي تر لاسه کول غواړي نو هغه دي دا صحرایي سړی ووینی . بخاري اومسلم

## کامل ایمان

﴿ ۱۳ ﴾: وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ الثَّقَفِيْ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قُلْ لِيْ فِي الْإِسْلَامِ قَوْلاً لاَ أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا بَعْدَكَ وَفِيْ رِوَايَةٍ غَيْرُكَ قَالَ قُلْ آمَنْتُ بِاللّٰهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ . رواه مسلم .

د حضرت سفیان بن عبدالله الثقفي ؓ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي د اسلام په اړه ما ته یو داسي خبره وښیه چي ستاسو څخه وروسته زه د هغې په اړه د هیچا څخه پوښتنه ونه کړم په یو بل روایت کي دي دا الفاظ دي چي بیا ستاسو څخه ماسوا د بل هیچا څخه پوښتنه ونه کړم ، رسول الله ﷺ وفرمایل په ژبه او زړه سره ددې خبري اقرار وکړه چي ما پر خدای ﷻ ایمان راوړی دی او بیا پر دې اقرار ټینګ اوسه. مسلم

## د اسلام فرائض

﴿ ۱۴ ﴾: وَعَنْ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرُ الرَّأْسِ نَسْمَعُ دَوِيَّ صَوْتِهِ وَلَا نَفْقَهُ مَا يَقُولُ حَتَّى دَنَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنْ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ فَقَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِيَامُ شَهْرِ

د حضرت طلحة بن عبید الله ؓ څخه روایت دی چي د نجد یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو د هغه د سر ورښتان ګډ وډ وه د هغه آواز خو زموږ غوږو ته راتلی خو د هغه په خبره نه پوهیدو ، کله چي هغه رسول الله ﷺ ته نژدې سو نو موږ واورېدل چي هغه د اسلام د فرائضو پوښتنه کوي ، رسول الله ﷺ (په جواب کي) وفرمایل : په شپه او ورځ کي پنځه لمنځونه فرض دي ،هغه عرض وکړ ددې څخه پرته ایا نور

رَمَضَانَ فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ فَقَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ قَالَ وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الزَّكَاةَ فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا فَقَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ قَالَ فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ وَاللّٰهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَحَ الرجل إِنْ صَدَقَ .متفق عليه .

لمنځونه هم فرض دي ؟ رسول ﷺ ورته وفرمايل : نه، خو د نفل کولو تاته اختيار دی ، بيا رسول الله ﷺ ورته وفرمايل او د رمضان د مياشتي روژې (فرض دي). هغه وويل ايا ددې څخه پرته نوري روژې هم پر ما فرض دي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : نه ، خو د نفلي روژو تاته اختيار دی، طلحه بن عبيدالله وايي ددې وروسته رسول الله ﷺ د هغه سړي په وړاندي د زکوة يادونه وکړه هغه پوښتنه وکړه ايا ددې پرته نور زکوة هم پر ما فرض دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : نه، خو د نفل خيرات کولو تاته اختيار دی ، د طلحه بيان دی چي ددې وروسته هغه (نجدي) سړی ولاړی او داسي يې وويل: قسم په خدای نه به ددې څخه زيات کوم او نه کم ، ددې په اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل: که دې سړي دا وينا رښتيا کړې وي نو کامياب سو. بخاري ومسلم.

**په اسلام کي د مبلغ مقام**

﴿ ١٥ ﴾: وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ اِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ لَمَّا اَتَوا النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ الْقَوْمُ ؟ اَوْ مَنِ الْوَفْدُ؟ قَالُوا رَبِيعَةَ قَالَ مَرْحَبًابِالْقَوْمِ اَوْ بِالْوَفْدِ غَيْرَ خَزَايَا وَلَانَدَامٰى قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّا لَانَسْتَطِيْعُ اَنْ نَّاتِيْكَ اِلَّا فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ وَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هٰذَا الْحَيُّ مِنْ كُفَّارِ مُضَرَ فَمُرْنَا بِاَمْرٍ فَصْلٍ نُخْبِرُ بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا وَنَدْخُلْ بِهِ الْجَنَّةَ وَسَاَلُوْهُ عَنِ الْاَشْرِبَةِ، فَاَمَرَهُمْ بِاَرْبَعٍ وَنَهٰهُمْ عَنْ اَرْبَعٍ اَمَرَهُمْ بِالْاِيْمَانِ بِاللهِ وَحْدَهُ قَالَ اَتَدْرُوْنَ ماالايمان بالله وحده ؟ قَالُوْا اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ اَعْلَمُ، قَالَ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰه وَإِقَامِ الصَّلَاةِ. وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَصِيَامِ رَمَضَانَ وَأَنْ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي د عبدالقيس د قبيلې يو ډله د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضره سول ، نو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا ډله يا وفد د کومي قبيلې دی؟ هغو وويل مونږ د ربيعه د قبيلې څخه يو ، رسول ﷺ وفرمايل :ستا ډلي يا وفد ته دي ښه راغلاست وي نه به تاسو کله رسوا سئ او نه به پښيمانه، هغو خلکو وويل: اې د الله رسوله ! زمونږ او ستاسو په منځ کي د مضر قبيلې کفار حائل دي په دې چي مونږ ژر ژر نه سو حاضريدلای يوازي د الشهر الحرم (ذيقعده، ذالحجة، محرم او رجب) په مياشتو کي مونږ ته د حاضريدو موقع په لاس راځي په دې وجه تاسو مونږ ته (د حق او باطل په منځ کي ) پريکړه کونکي احکام او هدايات وښياست چي هغه

تُعطُوْا مِنَ الْمَغْنَمِ الْخُمُسَ وَنَهٰهُمْ عَنْ اَرْبَعٍ عَنِ الْحَنْتَمِ وَالدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ وَقَالَ احْفَظُوْهُنَّ وَاخْبِرُوْابِهِنَّ مَنْ وَّرَآءَكُمْ .متفق عليه ولفظه للبخاري .

خلك هم موږ اګاه کړو کوم چي موږ په کورونو کي پرې ايښي دي او په هغې عمل کولو سره موږ په جنت کي داخل سو ، ددې وروسته هغه خلګو د څښلو پـه اړه هم لارښووني و غوښتلې ، نبي کريم ﷺ هغو خلګو ته د څلورو خبرو حکم ورکړ: او د څلورو خبرو څخه يې منع کړل، حکم يې ورکړ هغوئ ته پر يوه خداى ﷻ دايمان راوړلو حضرت ورته وفرمايل تاسو پوهيږئ چي پر يو خداى د ايمان راوړلو څه مطلب دى ؟ هغو وويل : الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي ، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل : ددې خبري شاهدي ورکول چي د خداى ﷻ څخه پرته بل دعبادت وړ نسته او محمد ﷺ د الله رسول دى او لمونځ کول ، زکوة ورکول د رمضان د مياشتي روژې نيول او د غنيمت د مال څخه پنځمه برخه ورکول ، بيا نبي کريم ﷺ هغوئ : څلور ډوله لوښو د استعمال څخه منع کړل يعني : لاك سوې مرتبانه يا منګى، د کدو لوښي، د ونو د بيخو څخه جوړ سوي لوښي او په تيلو وهل سوي لوښو څخه ، ددې څخه وروسته نبي کريم ﷺ هغوئ ته وفرمايل : دا خبري په ياد لرئ او هغه خلك خبر کړئ کوم چي تاسو وروسته پرې ايښي دي . بخاري او مسلم . (ددغه څلور ډوله لوښو څخه په هغه وخت کي د شرابو جوړولو او ساتلو کار اخيستل کيدى نو په دغه سبب يې منع څيني فرمايلي وه ) .

## د اسلام احکامات

﴿ ١٦ ﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِّنْ أَصْحَابِهِ بَايِعُوْنِيْ عَلٰى أَنْ لاَّ تُشْرِكُوْا بِاللهِ شَيْئًا وَّلاَ تَسْرِقُوْا وَلاَ تَزْنُوْا وَلاَ تَقْتُلُوْا أَوْلاَدَكُمْ وَلاَ تَأْتُوْا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُوْنَهٗ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ وَلاَ تَعْصُوْا فِيْ مَعْرُوْفٍ فَمَنْ وَفٰى مِنْكُمْ فَأَجْرُهٗ عَلَى اللهِ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا فَعُوْقِبَ بِهٖ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذٰلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَتَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ فَهُوَ إِلَى اللهِ إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَإِنْ شَاءَ عَاقَبَهٗ فَبَايَعْنَاهُ عَلٰى ذٰلِكَ . متفق عليه.

د حضرت عباده ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د صحابه کرامو هغه ډلي ته کوم چي شاوخوا ناست وه وفرمايل : په دې خبره زما سره بيعت وکړئ چي تاسو به د خداى سره هيڅوك نه شريکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولاد به نه وژنئ ( د مفلسى د بيري)، پر چا به د خانه تهمت نه واياست چي درواغ جوړوئ مخامخ (يعني خاى پر خاى )او په نيکو کارونو کي به نافرماني نه کوئ. نو کوم سړى چي په تاسو کي دا عهد پوره کړي د هغه ثواب د الله پر ذمه دى او چا چي ددې خلاف وکړل او په دنيا کي هغه ته ددې سزا ورکړل سول نو دا سزا د هغه کفاره ده او چا چي په دې کي د يو خبري خلاف عمل وکړ او خداى

ﷺ پر هغه پرده واچول نو هغه د خدای خوښه ده که يې معاف کوي يا د هغې سزا ورکوي ، عباده ﷺ وايي موږ ټولو په دې بيعت وکړ . بخاري اومسلم.

## ښځو ته د رسول الله ﷺ فرمان

﴿ ۱۷ ﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْد الْخُدْرِيْ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ فِيْ اُضْحٰى اَوْ فطرٍ اِلَى الْمُصَلّٰى فَمَرَّ عَلَى النِّسَاء فَقَالَ يَا مَعْشَرَ النِّسَاء تَصَدَّقْنَ فَاِنِّي رَاَيْتُكُنَّ اَكْثَرَ اَهْلِ النَّار فَقُلْنَ وَبِمِ يَا رَسُوْلَ اللّٰه؟ قَالَ تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ مَا رَاَيْتُ مِنْ نَاقِصَات عَقْلٍ وَدِيْنٍ اَذهب لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ احْدٰكُنَّ قُلْنَ وَمَا نُقْصَانُ دِيْنِنَا وَعَقْلِنَا يَارَسُوْلَ اللّٰه ؟ قَالَ اَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْاَة مِثْلُ نصْف شَهَادَةُ الرَّجُلِ؟ قُلْنَ بَلٰى قَالَ فَذَالِكَ مِنْ نُقْصَان عَقْلِهَا ، قَالَ اَلَيْسَ اِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ قُلْنَ بَلٰى، قَالَ فَذَالِكَ مِنْ نُقْصَان دِيْنِهَا (متفق عليه) .

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي د لوی اختر او يا کوچني اختر په ورځ رسول الله ﷺ عيدګاه ته تشريف راوړ او د ښځو د يو ډلي سره نژدې تيريدو سره يې هغوئ ته وفرمايل: اې د ښځو ډلي! تاسو صدقه او خيرات کوئ ځکه چي ما ته ښودل سوي دي چي په تاسو کي زياتي دوږخياني دي، ښځو عرض وکړ اې دالله رسوله ! ددې سبب څه دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو لعنت ډير واياست د خاوند ناشکري کوئ او په تاسو کي يوه هم داسي نسته چي سربيره د کم عقلۍ او کم ديني يو هوښيار سړی بې عقل نه کړئ ، ښځو عرض وکړ اې د الله رسوله ! زموږ په دين او عقل کي څه کموالی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا د يوې ښځي شاهدي د سړي په پرته نيمه شاهدي نه ده ، ښځو عرض وکړ اې دالله رسوله ! دا صحيح ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا خو ستاسو د عقل کموالی دی او هر کله چي تاسو د حيض په حالت کي ياست نو نه لمونځ کوئ اونه روژه نيسئ، ښځو عرض وکړ هو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: دا ستاسو د دين کموالی دی . بخاري اومسلم.

## انسان ته سرکښي پکار نه ده.

﴿۱۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ: قَالَ اللّٰهُ كَذَّبَنِيْ ابْنُ آدَمَ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذٰلِكَ وَشَتَمَنِيْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذٰلك فَاَمَّا تَكْذِيْبُهُ اِيَّايَ فَقَوْلُهُ لَنْ يُعِيْدَنِيْ كَمَابَدَانِيْ وَلَيْسَ اَوَّلُ الْخَلْقِ بِاَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ اِعَادَتِه وَاَمَّا شَتْمُهُ اِيَّايَ فَقَوْلُهُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ فرمايلي دي د آدم زوی ما د روغجن کوي او دا کار د هغه سره مناسب نه دی او ما ته بد وايي او دا د هغه سره نه ښايي ، او انسان لره زما دروغجن کول دادي چي هغه دا وايي چي خدای زه څنګه پيدا کړی يم د مرګ

اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا وَاَنَا الاَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِيْ لَمْ اَلِدُ وَلَمْ اُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لِّيْ كُفُوًا اَحَدٌ وفي رواية ابن عباس وأما شتمه إِيَّايَ فَقَوْلُهُ لِيْ وَلَدٌ وَسُبْحَانِيْ اَنْ اَتَّخِذَ صَاحِبَةً اَوْ وَلَدًا . (رواه البخاري)

څخه وروسته مي دغسي هيڅکله نه سي ژوندی کولای حالنکه د هغه په لومړي وار پيداکول ما ته د هغه د دوهم وار پيداکولو په نسبت زيات آسان دي او د هغه بد ويل دادي چي هغه دا وايي چي خدای ﷻ خپل ځان لره زوی غوره کړی دی حال دا چي زه يوازي يم نه زه د چا پيدا يم او نه زما څخه څوك پيدا دی او نه څوك زما سيال سته او د حضرت عباس ﷺ څخه چي كوم روايت نقل دی په هغه كي دا الفاظ دي د انسان ما ته بد ويل داسي دي چي هغه زما په باره كي دا وايي چي د خدای زوی سته حالنكه زه د ښځي يا زوی درلودلو څخه پاك يم . بخاري.

## زماني ته بد مه واياست

﴿ ۱۹ ﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى يُؤْذِيْنِيْ اِبْنُ آدَمَ يَسُبُّ الدَّهْرَ وَاَنَا الدَّهْرُ بِيَدِيْ الْاَمْرُ اُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ .( متفق عليه )

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى فرمايي : د آدم زوی (انسان) زماني ته بد وايي نو ما ته تكليف راكوي حال دا چي زمانه زه يم هر څه زما په واك كي دي زه شپه او ورځ بدلوم را بدلوم . بخاري اومسلم.

## د الله تعالى صبر او تحمل

﴿ ۲۰ ﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى الْاَشْعَرِي قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا اَحَدٌ اَصْبَرَ عَلٰى اَذًى يَسْمَعُهُ مِنَ اللّٰهِ يَدْعُوْنَ لَهُ الْوَلَدَ ثُمَّ يُعَافِيْهِمْ وَيَرْزُقُهُمْ . ( متفق عليه )

د حضرت ابو موسى ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د تكليف رسونكو خبرو په اوريدو د خدای ﷻ څخه زيات صبرناك بل څوك نسته خلك الله لره زوی ګڼي مګر الله هغوئ روغ جوړ لري او هغوئ ته رزق وركوي . بخاري او مسلم.

## د توحيد ارزښت

﴿ ۲۱ ﴾: وَعَنْ مُعَاذ قَالَ كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى حِمَارٍ لَيْسَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ اِلَّا مُؤْخِرَةُ الرَّحْلِ فَقَالَ يَا مُعَاذ: هَلْ تَدْرِيْ مَا حَقُّ اللّٰهِ عَلَى الْعِبَادِ وَ مَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ؟ قُلْتُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ اَعْلَمُ قَالَ

د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دی چي يو ځل زه د رسول الله ﷺ سره پر خره شاته سپور وم او زما او د رسول الله ﷺ په منځ كي د زين لرګی وو ، نبي ﷺ وفرمايل : اې معاذ! ايا تاته څرګند ده چي د الله حق پر بندګانو او د بندګانو حق پر الله څه دی ؟ ما وويل الله او د هغه رسول ښه پوهيږي ،

فَإِنَّ حَقَّ اللّٰهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ اَنْ لَايُعَذِّبَ مَنْ لاَ يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا ، فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَ فَلاَ اُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ؟ قَالَ لَاَ تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوْ (متفق عليه)

نبي كريمﷺ وفرمايل : پر بندګانو دالله حق دادى چي هغوئ يوازي د هغه عبادت وكړي او هيڅوك د هغه سره شريك ونه نيسي او پر الله د بندګانو حق دادى چي، هغه چا ته سزا ورنه كړي كوم چا چي د هغه سره شريك نه دى نيولى، معاذ وايي ددې په اوريدو سره ما وويل : اې دالله رسوله !ايا زه خلګو ته ددې خبر وركړم چي په اوريدو سره يې خوشحاله سي ، نبي ﷺ وفرمايل : نه په داسي كولو سره به خلك سست سي په دې به تكيه كړي او عمل كول به پريږدي (حضرت معاذ له دې كبله چي ګناه كار نه سم ) د وفات پر وخت دا حديث بيان كړ . بخاري ومسلم.

## د دوږخ څخه خلاصون

﴿ ٢٢ ﴾: وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمُعَاذُ رَدِيفُهُ عَلَى الرَّحْلِ قَالَ يَا مُعَاذُ قَالَ لَبَّيْكَ يا رَسُولَ اللّٰهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ يَا مُعَاذُ قَالَ لَبَّيْكَ يا رَسُولَ اللّٰهِ وَسَعْدَيْكَ قَالَ يَا مُعَاذُ قَالَ لَبَّيْكَ يا رَسُولَ اللّٰهِ وَسَعْدَيْكَ ثلاثا قَالَ مَا مِنْ اَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللّٰهِ صِدْقًا مِّنْ قَلْبِه إِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَفَلَا أُخبِرُ بِهِ النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوا؟ قَالَ إِذًا يَتَّكِلُوا، فَأَخبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهِ تَأَثُّمًا (متفق عليه).

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي يو ځل رسول الله ﷺ پر سپرلي سپور وو او حضرت معاذ وروسته ورسره ناست وو ، نبي كريم ﷺ معاذ ته مخاطب سو او ورته وه يې فرمايل: اې معاذ! نو معاذ عرض وكړ زه حاضر يم اې دالله رسوله ! ستاسو په خدمت مبارك كي حاضر يم، نبي ﷺ بيا وفرمايل اې معاذ! نو معاذ عرض وكړ زه حاضر يم اې دالله رسوله ! ستاسو په خدمت مبارك كي حاضر يم، نبي كريم ﷺ بيا وفرمايل اې معاذ! نو معاذ عرض وكړ زه حاضر يم اې دالله رسوله ! ستاسو په خدمت مبارك كي حاضر يم نبي ﷺ درې ځله دغسي وفرمايل : كوم سړى چي په رښتوني زړه سره ددې امر شاهدي وركړي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او محمد د الله رسول دى نو الله پاك پر هغه باندي د دوږخ اور حرام كړى دى ، معاذ وايي چي ددې په اورېدو سره ما عرض وكړ اې دالله رسوله ! ايا په دې خبره خلك خبر كړم چي هغوئ په دې زيري اورېدو سره خوښ سي ، نبي كريم ﷺ وفرمايل : نه، ځكه چي هغوئ دا واوري نو په دې به تكيه وكړي ، د وفات په وخت كي معاذ ﷺ د ګناه كار كېدو په خيال سره دا حديث بيان كړ. بخاري ومسلم.

## پر ایمان خاتمه د جنت ضمانت دی

﴿ ۲۳ ﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ عَلَيْهِ ثَوْبٌ أَبْيَضُ وَهُوَ نَائِمٌ ثُمَّ أَتَيْتُهُ وَقَدْ اسْتَيْقَظَ فَقَالَ مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ثُمَّ مَاتَ عَلَى ذٰلِكَ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ قُلْتُ وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ قُلْتُ وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ قَالَ وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ عَلَى رَغْمِ أَنْفِ أَبِي ذَرٍّ وَكَانَ اَبُوْ ذَرٍ اذَا حَدَّثَ بِهٰذَا قَالَ وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي ذَرٍّ (متفق علیه).

د حضرت ابو ذر ﷛ څخه روایت دی چي يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم ، نبي کريم ﷺ په دغه وخت کي په سپينه جامه کي بيده وو او زه بيرته ولاړم کله چي دوهم وار راغلم نو رسول ﷺ ويښ سوی وو ، نبي کريم ﷺ چي زه وليدم نو راته وه يې فرمايل : کوم سړی چي (په رښتوني زړه) لااله الاالله ، ووايي او پر همدې باندي وفات سي نو هغه به جنت ته داخليږي ، ابوذر وايي ددې په اورېدو سره ما نبي کريم ﷺ ته وويل: که هغه سړی زنا او غلا وکړي نو هم ، ما وويل که چيري هغه زنا او غلا وکړي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل که څه هم هغه زنا او غلا وکړي ، ما بيا (دريم وار) عرض وکړ که څه هم هغه زنا او غلا وکړي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هو، که څه هم هغه زنا او غلا وکړي د ابوذر پزه دي په خاورو لړلې وي، کله چي به ابوذر ﷛ دا حديث بيانوی نو د رسول الله ﷺ دا جمله چي (د ابوذر پزه دي په خاورو وي) هم بيانوله . بخاري ومسلم.

## د نجات مدار پر څه شي دی؟

﴿ ۲۴ ﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُ اللّٰهِ و رسوله وَابْنُ أَمَتِه وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ وَ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ حَقٌّ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ عَلَى مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ . (متفق علیه).

د حضرت عباده ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چي ددې خبري شاهدي وکړي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او محمد ﷺ د الله بنده او رسول دی، او دا چي عيسى عليه السلام د الله بنده د هغه رسول د هغه د مينزي زوی او د خدای کلمه ده (عيسى عليه السلام ته ځکه کلمه د خدای وايي چي دی په کلمه د کُنْ سره پيداسو)، چي خدای د بي بي مريم د لوري پيداکړ او د خدای را ليږل سوی روح دی (عيسى عليه السلام ته ځکه روح د خدای وايي چي ده به مړي ژوندي کول په ايمان سره ) او دا چي جنت او دوزخ حق دي، نو خدای ﷻ به داسي کس جنت ته داخل کړي که څه هم د هغه عمل هر ډول وي. بخاري او مسلم .

## د اسلام څخه مخکي ګناهونه محوه کیږي

﴿ ۲۵ ﴾: وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ ابْسُطْ يَمِينَكَ فَلْأُبَايِعْكَ فَبَسَطَ يَمِينَهُ فَقَبَضْتُ يَدِي قَالَ مَا لَكَ يَا عَمْرُو قُلْتُ أَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِطَ قَالَ تَشْتَرِطُ مَاذَا؟ قُلْتُ أَنْ يُغْفَرَ لِي قَالَ أَمَا عَلِمْتَ يَا عَمْرُو أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ (رواه مسلم) وَالْحَدِيْثَانِ الْمَرْوِيَّانِ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى اَنَا اَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ وَالأٰخَرُ الْكِبْرِيَآءُ رِدَائِيْ سَنَذْكُرُ هُمَا فِيْ (بابي الريآء والكبر) ان شاء الله

د حضرت عمرو ﷺ څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او عرض مي وکړ چي: تاسو خپل لاس راوړاندي کړی چي زه ستاسو په لاس د اسلام بیعت وکړم (یعني اسلام راوړم) رسول الله ﷺ خپل راسته لاس را وړاندي کړ نو ما هغه دم خپل لاس را ایسته کړ، رسول الله ﷺ وفرمایل: عمروا څه وسول (یعني خپل لاس دي ولي ایسته کړ) ما عرض وکړ زه دا غواړم چي زما (هغه) ګناهونه (چي د اسلام وړاندي ما کړي دي) و بخښل سي، نبي کریم ﷺ وفرمایل: عمروا ایا تاته څرګنده نه ده چي اسلام هغه ټولي خبري (ګناهونه) لیري کوي چي د اسلام څخه وړاندي یې کړي وي، او هجرت هغه ټول شیان لیري کوي چي د هغه څخه وړاندي یې کړي وي او حج هغه ټول ګناهونه رژوي چي د حج څخه وړاندي یې کړي وي. (مسلم) په مصابیح کي په دې اړه دوه نور حدیثونه د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه نقل سوي دي: ویلي دي الله ﷻ چي زه بې پروا یم د شریکانو څخه او د شرك څخه، او بل دادی چي لویي زما څادر دی چي ژر دی موږ به یې د ریا او کبر په بابونو کي ذکر کړو.

# دویم فصل

## د دین ارکان

﴿ ۲۶ ﴾: وَعَنْ مُعَاذٍ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِيْ عَنِ النَّارِ قَالَ لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ اَمْرٍعَظِيْمٍ وَإِنَّهُ لَيَسِيْرٌ عَلٰى مَنْ يَّسَّرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ تَعْبُدُ اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا وَتُقِيْمُ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَتَصُوْمُ رَمَضَانَ وَتَحُجُّ الْبَيْتَ ثُمَّ قَالَ اَلَا اَدُلُّكَ عَلٰى

د حضرت معاذ ﷺ څخه روایت دی چي یو ځل ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي تاسو ما ته یو داسي عمل را وښیاست کوم چي ما جنت ته بوزي او د دوږخ د اور څخه مي خلاص کړي، رسول الله ﷺ وفرمایل: تا یوه لویه خبره وپوښتل مګر دا پر هغه چا اسانه وي کوم چا ته چي الله ﷻ توفیق ورکړي او دا پر اسانه کړي، نو یوازي د الله ﷻ عبادت کوه د

أَبْوَابِ الْخَيْرِ ؟ اَلصَّوْمُ جُنَّةٌ وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيْئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ وَصَلاَةُ الرَّجُلِ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ قَالَ ثُمَّ تَلاَ ( تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ ) حَتّٰى بَلَغَ ( يَعْمَلُوْنَ) ثُمَّ قَالَ أَلاَ أَدُلُّكَ بِرَأْسِ الأَمْرِ وَعَمُوْدِه وَذِرْوَةِ سَنَامِه؟ قُلْتُ بَلىٰ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ رَأْسُ الأَمْرِ الإِسْلاَمُ وَعَمُوْدُه الصَّلاَةُ وَذِرْوَةُ سَنَامِه الْجِهَادُ ثُمَّ قَالَ أَلاَ أُخْبِرُكَ بِمِلاَكِ ذٰلِكَ كُلِّه قُلْتُ بَلىٰ يَا نَبِيَّ اللهِ؟ فَأَخَذَ بِلِسَانِه فَقَالَ كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ وَإِنَّا لَمُؤَاخَذُوْنَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِه قَالَ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ! وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ أَوْ عَلٰى مَنَاخِرِهِمْ إِلاَّ حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ . رواه أحمد والترمذي وابن ماجه

هغه سره څوك شريك مه نيسه، لمونځ کوه، زكوة وركوه. د رمضان د مياشتي روژې نيسه، او د بيت الله شريفي حج وكړه، معاذ وايي ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : أيا زه تا ته د نيکۍ طريقې ونه ښيم (واوره) روژه ډال دی (چي سړی د دوږخ د اور د حملو څخه ساتي) او صدقه گناهونه داسي رژوي لکه اوبه چي اور وژني او په شپه کي د انسان لمونځ کول گناهونه روژي ، معاذ وايي ددې وروسته رسول الله ﷺ دا آيت (تتجافى جنوبهم عن المضاجع تر يعملون پوري تلاوت کړ، او ددې وروسته يې وفرمايل : ايا زه تا ته ددې مهمي خبري بنياد . ستن او لوړوالی ونه ښيم، ما عرض وکړ چي اې د الله رسوله ! هرومرو، نبي كريم ﷺ وفرمايل : ددې امر بنياد اسلام دی، ستن يې لمونځ ده او لوړوالی يې جهاد دی، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تـــا ته ددې ټولو خبرو بنسټ ونه ښيم؟ ما عرض وکړ: هو، نو رسول الله ﷺ خپله مبارکه ژبه ونيول او وه يې فرمايل: ته دا په واك كي ساته، ما عرض وکړ اې د الله نبي ! ايا موږ به (د هغو الفاظو لپاره هم ) جواب وركونكي يو کوم چي په خپله ژبه سره وايو؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل : اې معاذ! مور دي در باندي بوره سي خلك په اور کي پړموخي او د پزي پر تير چي لوېږي هم دغه د ژبي په وجه به وي . احمد ، ترمذي او ابن ماجه .

## كامل ايمان څه ته وايي ؟

﴿ ۲۷ ﴾ : وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحَبَّ لِلّٰهِ وَأَبْغَضَ لِلّٰهِ وَأَعْطٰى لِلّٰهِ وَمَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الإِيْمَانَ . رواه أبو داود و رواه الترمذي عَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ مَعَ تَقْدِيْمٍ وَتَأْخِيْرٍ وَفِيْهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ إِيْمَانَهُ .متفق عليه

د حضرت ابي امامه ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چاچي د اللهﷻ لپاره مينه وکړل او د اللهﷻ لپاره يې بغض وکړ او د اللهﷻ لپاره يې ورکړه وکړه او د اللهﷻ لپاره يې بنديز وکړ نو هغه خپل ايمان پوره کړ (ابوداؤد) او په ترمذي شريف کي په الفاظو کي تقديم او تاخير دی او د هغه آخري الفاظ دادي : نو هغه يقينا خپل ايمان پوره کړ .

## تر ټولو غوره عمل څه شي دی؟

(۲۸) : وَعَنْ أَبِي ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الأَعْمَالِ اَلْحُبُّ فِيْ اللهِ وَالْبُغْضُ فِي اللهِ.رواه ابو داود.

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : غوره عمل دادی چي د الله لپاره مینه وسي او دالله لپاره د یو چا سره بغض وسي .

## ربښتوني مؤمن څوک دی؟

(۲۹):وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِه وَيَدِهِ وَالْمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى دِمَائِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ.رواه الترمذي و النسائي. وَزَادَ الْبَيْهَقِيُ فِيْ شُعَبِ الإِيْمَان. بِرِوَايَةِ فَضَالَةَ وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِيْ طَاعَةِ اللهِ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوْبَ .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کامل مسلمان هغه دی چي د هغه د ژبي او لاس څخه مسلمان ساتلی وي او کامل مؤمن هغه دی چي خلګ دی امین وګني په وینو او په مالونو خپلو کي . ترمذي او نسائي او بیهقي په کتاب (شعب ایمان) کي د فضاله څخه چي کوم حدیث نقل کړی دی په هغه کي دا الفاظ هم دي (او کامل مجاهد هغه دی چي هغه د خدای په عبادت کي د خپل نفس سره جهاد وکړي او کامل مهاجر هغه دی چي هغه کوچني او لوی ګناهونه پرېږدي)

## د امانت او وفا اهمیت

(۳۰) : وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَلَّمَا خَطَبَنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلاَّ قَالَ لاَ إِيْمَانَ لِمَنْ لاَ أَمَانَةَ لَهُ وَلاَ دِيْنَ لِمَنْ لاَ عَهْدَ لَهُ .رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي ډیر کم داسي پېښ سوي دي چي رسول الله ﷺ زموږ په وړاندي خطبه ویلې وي او په هغې کي یې دا نه یې فرمایلي چي کوم سړی امانت دار نه وي د هغه ایمان پوره نه دی او کوم سړی چي د وعدې پابند نه وي د هغه دین پوره نه دی .

# دریم فصل

## د همېشني نجات ضمانت

(۳۱): وَ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ صَامِت قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ

د حضرت عباده ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي فرمایل یې : کوم سړی چي

شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ النَّارَ .رواه مسلم.

(په ژبه او زړه سره ) ددې امر شاهدي ورکړي چې د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او محمد ﷺ د الله ﷺ رسول دی نو پر هغه د دوږخ اور حرام ذی . مسلم.

## د توحید اهمیت

(۳۲) : وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ (رواه مسلم) .

د حضرت عثمان ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چې مړ سي او په دې یقین لري چې د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هغه به جنت ته داخلیږي .

## د جنت او دوږخ واجبونکي خبري

(۳۳) : وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثِنْتَانِ مُوجِبَتَانِ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا الْمُوجِبَتَانِ؟ قَالَ مَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ وَمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ . مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : دوې خبري دي چې جنت او دوږخ واجب کوي، یو سړي پوښتنه وکړه کومي خبري دي چې جنت او دوږخ واجبوي، نبي ﷺ وفرمایل : څوك چې د شرك په حالت کي مړ سي نو هغه به دوږخ ته داخلیږي او څوك چې په داسي حال کي مړ سي چې د خدای ﷺ سره څوك شریك نه ګڼي نو هغه به جنت ته ځي . مسلم؛

## پر توحید باندي د قائم پاته کېدونکو لپاره د جنت زیری

(۳۴) : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كُنَّا قُعُودًا حَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ مَعَنَا أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فِي نَفَرٍ فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ أَظْهُرِنَا فَأَبْطَأَ عَلَيْنَا وَخَشِينَا أَنْ يُقْتَطَعَ دُونَنَا وَفَزِعْنَا فَقُمْنَا فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ فَخَرَجْتُ أَبْتَغِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَيْتُ حَائِطًا لِلْأَنْصَارِ لِبَنِي النَّجَّارِ فَدُرْتُ بِهِ هَلْ أَجِدُ لَهُ بَابًا فَلَمْ أَجِدْ فَإِذَا رَبِيعٌ يَدْخُلُ فِي جَوْفِ حَائِطٍ مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ (وَالرَّبِيعُ الْجَدْوَلُ)

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې موږ د رسول الله ﷺ شاوخوا ناست وو او زموږ سره ابوبکر او عمر هم وه چې رسول الله ﷺ زموږ د مینځ څخه ولاړ سو او دباندي ولاړی او هر کله چې یې په راتلو کي ځنډ وکړ نو زموږ سره دا بیره سوه چې خدای مه کړه رسول الله ﷺ ته کوم تکلیف نه وي رسېدلی موږ و بیریدو او د ټولو څخه لومړی سړی زه وم چې په دې بیره کي ولاړ سوم او د رسول الله ﷺ په لټون کي ووتم زه د مبارك ﷺ په لټون کي د بني نجار انصارو باغ ته

فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ مَا شَأْنُكَ قُلْتُ كُنْتَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا فَقُمْتَ فَأَبْطَأْتَ عَلَيْنَا فَخَشِينَا أَنْ تُقْتَطَعَ دُونَنَا فَفَزِعْنَا فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ فَأَتَيْتُ هَذَا الْحَائِطَ فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ وَهَؤُلَاءِ النَّاسُ وَرَائِي فَقَالَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ وَأَعْطَانِي نَعْلَيْهِ فَقَالَ اذْهَبْ بِنَعْلَيَّ هَاتَيْنِ فَمَنْ لَقِيكَ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْحَائِطِ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ لَقِيتُ عُمَرُ فَقَالَ مَا هَاتَانِ النَّعْلَانِ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ هَاتَانِ نَعْلَا رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَنِي بِهِمَا مَنْ لَقِيتُ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ فَضَرَبَ عُمَرُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ فَخَرَرْتُ لِاسْتِي فَقَالَ ارْجِعْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَجْهَشْتُ بُكَاءً وَرَكِبَنِي عُمَرُ فَإِذَا هُوَ عَلَى أَثَرِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ قُلْتُ لَقِيتُ عُمَرَ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي بَعَثْتَنِي بِهِ فَضَرَبَ بَيْنَ ثَدْيَيَّ ضَرْبَةً خَرَرْتُ لِاسْتِي قَالَ ارْجِعْ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ يَا عُمَرُ مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا فَعَلْتَ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي أَبَعَثْتَ أَبَا هُرَيْرَةَ بِنَعْلَيْكَ مَنْ لَقِيَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرَهُ بِالْجَنَّةِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَلَا تَفْعَلْ فَإِنِّي أَخْشَى أَنْ يَتَّكِلَ النَّاسُ عَلَيْهَا فَخَلِّهِمْ يَعْمَلُونَ قَالَ

ورسیدم زه د باغ په څلورو طرفو په دروازې پسي وګرزېدم مګر هیڅ دروازه مي پیدا نه کړه ناڅاپه زما نظر په یو لښتي ولوېدی چي د دباندي څاه څخه دننه باغ ته تللی وو ما خان را ټول کړ او د لښتي په موري باغ ته ننوتلم رسول الله ﷺ هلته تشریف فرما وو ، رسول الله ﷺ چي زه ولیدم نو وه یې فرمایل : ابوهریرة (ته یې)؟ ما عرض وکړ هو، نبي کریم ﷺ وفرمایل څه حال دی ستا ، یعني ته ولي راغلې ؟ ما وویل : تاسو زموږ سره ناست واست او بیا ولاړ سواست او په ستنېدو کي مو ځنډ وکړ نو زموږ سره اندېښنه سوه چي کوم تکلیف نه وي رسیدلی په دې خیال سره موږ و بیرېدو او د ټولو لومړی سړی زه وم چي په بیړه را ولاړ سم او دې باغ ته راغلم زه د ګېدړې په شان دې باغ ته ننوتلم او هغه پاته خلك په ما پسي را روان دي، نبي کریم ﷺ (د دې په اورېدو سره) ما ته خپل مبارکي څپلۍ راکړې او بیا یې وفرمایل: زما دا څپلۍ یوسه او کوم سړی چي ددې باغ څخه د باندي وینې او هغه ددې خبري (په ژبه او زړه سره) شهادت وکړي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او په زړه سره یې په دې یقین هم وي نو هغه ته د جنت زیری ورکړه (د باغ د باندي) د ټولو لومړی زما سره حضرت عمر ؓ یو خای سو او زما څخه یې پوښتنه وکړه دا څپلۍ در سره څنګه دي ؟ ما ورته وویل : دا څپلۍ د رسول الله ﷺ دي د دې په را کولو سره رسول الله ﷺ دا فرمایلي دي

رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَلِّهِمْ. رواه مسلم.

چي کوم سړی ستا سره يو ځای سي او هغه ددې خبري شاهدي وکړي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او په زړه سره يې ددې يقين هم وي نو زه دي هغه ته د جنت زيری ورکړم (د دې په اورېدو سره) عمر ﷺ زه په سينه (په لاس سره) ووهلم چي زه پر کوناټو پرېوتم (يعني پر شا غوزار سوم) او بيا يې را ته وويل ابوهريرة بيرته ولاړ سه ، زه بيرته راغلم د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او په زوره زوره په ژړا سوم، عمر ﷺ هم په ما پسې وو، (کله چي يې زه په ژړا وليدم) رسول الله ﷺ وفرمايل : ابوهريرة ! ستا څه حال دی ؟ ما عرض وکړ (په لاره کي) زما سره عمر ﷺيو ځای سو ما هغه د دې خبري څخه خبر کړ چي تاسو زه په امر کړی وم (زما د خبرې په اورېدو سره) هغه زه په سينه کي ووهلم چي پر شا ولوېدم بيا يې ما ته وويل بيرته ولاړ سه ، رسول الله ﷺ (د دې په اورېدو سره) وفرمايل : عمر ! تا داسي ولي وکړل ؟ عمر ﷺ عرض وکړ : اې د الله رسوله ! الله دې زما مور او پلار تر تا قربان کړي ايا تاسو ابوهريرة ته څپلۍ د دې لپاره ورکړي وې چي کوم سړی درسره يو ځای سي او د دې خبري شاهدي وکړي چي د خدای څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او په زړه سره يې په دې يقين هم وي نو هغه ته د جنت زيری ورکړه ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : هو، عمر ﷺ عرض وکړ : اې د الله رسوله ! داسي مه کوئ زما سره بيره ده چي دا خلك به (د دې په اورېدو سره) په دې تکيه وکړي (او سست به سي) دوئ پرېږدئ چي عمل وکړي ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ښه ده، دوئ پرېږدئ چي عمل کوي .مسلم

## د جنت کيلي

(۳۵) : وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَفَاتِيْحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ . رواه أحمد .

د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دی چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل: د جنت کيلياني د دې خبري شاهدي ورکول دي چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته .

## کلمهٔ توحيد د نجات ذريعه ده

(۳۶) : وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ إِنَّ رِجَالًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ تُوُفِّيَ حَزِنُوْا عَلَيْهِ حَتّٰى كَادَ بَعْضُهُمْ يُوَسْوِسُ قَالَ عُثْمَانُ وَكُنْتُ مِنْهُمْ فَبَيْنَا أَنَا جَالِسٌ مَرَّ عَلَيَّ عُمَرُ وَسَلَّمَ فَلَمْ أَشْعُرْ بِهِ فَاشْتَكٰى عُمَرُ إِلٰى أَبِيْ بَكْرٍ ثُمَّ أَقْبَلَا حَتّٰى سَلَّمَا عَلَيَّ جَمِيْعًا فَقَالَ أَبُوْبَكْرٍ مَا

د حضرت عثمان بن عفان ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په وفات سره ځيني صحابه کرام ډېر غمجن وه، او د ځيني په زړو کي (ډول ډول) وسوسې پيدا کېدې او زه هم په دغه خلکو کي وم (په دې حال کي) ناست وم چي عمر زما په خوا کي تير سو او ما ته يې سلام ادا کړ مگر زه خبر نه سوم ، عمر ﷺ زما ددې بې پروايي ابوبکر

حَمَلَكَ عَلٰى اَنْ لاَّ تَرُدُّ عَلٰى اَخِيْكَ عُمَرَ سَلاَمَهُ؟ قُلْتُ مَا فَعَلْتُ ،فَقَالَ عُمَرُ بَلٰى وَاللهِ لَقَدْ فَعَلْتَ، قَالَ قُلْتُ وَاللهِ مَا شَعَرْتُ اَنَّكَ مَرَرْتَ وَ لاَ سَلَّمْتَ، قَالَ اَبُوْبَكْرٍ:صَدَقَ عُثْمَانُ قَدْ شَغَلَكَ عَنْ ذَالِكَ اَمْرٌ، فَقُلْتُ اَجَلْ قَالَ مَاهُوَ؟ قُلْتُ تُوَفَّى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ اَنْ نَّسْاَلَهُ عَنْ نَّجَاةِ هٰذَا الأَمْرِ، قَالَ اَبُوْبَكْرٍ قَدْ سَاَلْتُهُ عَنْ ذٰلِكَ فَقُمْتُ اِلَيْهِ وَقُلْتُ لَهُ بِاَبِيْ اَنْتَ وَاُمِّيْ اَنْتَ اَحَقُّ بِهَا قَالَ اَبُوْبَكْرٍ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا نَجَاةُ هٰذَا الأَمْرِ فَقَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قبل مِنِّيْ الْكَلِمَةَ الَّتِيْ عَرَضْتُ عَلٰى عَمِّيْ فَرَدَّهَا فَهِيَ لَهُ نَجَاةٌ . رواه أحمد .

ﷺ ته شكايت وكړ ، بيا دواړه ما ته راغلل او دواړو ما ته سلام ادا كړ د دې وروسته ابوبكر ﷺ وويل : عثمان ! څه خبره ده تا د خپل ورور عمر د سلام جواب ولي ور نه كړ ؟ ما ورته وويل : ما خو داسي نه دي كړي ، عمر وويل : قسم په خداى تا داسي كړي دي ، ما ورته وويل : په خداى دي مي قسم وي نه خو زما ستا په دې لور تلل ياد دي او نه مي ستا سلام كولو ته خيال سوى دى ، ابوبكر وويل : (اې عمر!) عثمان رښتيا وايي ته يو شغل د سلام د جواب وركولو څخه منع كړى وې ، ما ورته وويل : هو، ابوبكر ﷺ پوښتنه وكړه ته په كوم خيال كي وې ؟ ما ورته وويل : الله ﷻ خپل نبي وفات كړ د دې څخه وړاندي چي موږ د هغه څخه د دې خبري (يعني د خطرو او وسوسو) څخه د خلاصون لار معلومه كړو ، ابوبكر ﷺ وويل : ما په دې اره د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه كړې ده (د دې په اورېدو سره ) زه ولاړ سوم او ورته وه مي ويل : زما مور اوپلار دي تر تاسو قربان وي تاسو د دې خبري د پوښتني كولو په هر ډول حقداره واست ، ابوبكر ﷺ وويل : ما (يوه ورځ) رسول الله ﷺ ته عرض وكړ اې دالله رسوله ! د دې خبري څخه د خلاصون څه ذريعه ده ؟ نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل : كوم سړى چي زموږ څخه دا كلمه قبوله كړي كومه چي ما د خپل اكا ابوطالب په مخكي وړاندي كړې وه او هغه د دې د قبلولو څخه منعه كړې وه نو دا كلمه د هغه دپاره د خلاصون ذريعه ده . (احمد)

## ټولي نړۍ ته د كلمه توحيد د رسېدو پيشګوئي

( ٣٧ ): وَعَنِ الْمِقْدَادِ انه سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لاَ يَبْقٰى عَلٰى ظَهْرِ الأَرْضِ بَيْتُ مَدَرٍ وَّلاَ وَبَرٍ اِلاَّ اَدْخَلَهُ اللهُ كَلِمَةَ الإِسْلاَمِ بِعِزِّ عَزِيْزٍ وَ ذُلِّ ذَلِيْلٍ اِمَّا يُعِزُّهُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فَيَجْعَلُهُمْ مِنْ اَهْلِهَا اَوْ يُذِلُّهُمْ فَيَدِيْنُوْنَ لَهَا، قُلْتُ

د حضرت مقداد ﷺ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي فرمايل يې : د مځكي پر مخ به هيڅ يو خام كور، يا دخيمو كور پاته نه سي چي په هغه كي به د اسلام كلمه داخله نه سي ، الله ﷻ به دا كلمه (په هر كور كي) عزتمند لره په عزت وركولو سره او ذليل لره په

فَيَكُوْنُ الدِّيْنُ كُلُّهُ لِلّٰهِ. رواه أحمد .

ذلت ورکولو سره داخله کړي يعني الله چي څوك عزت مند کړي هغوئ به د دې کلمې اهل وي او چا ته چي ذلت ورکړي نوهغوئ به د دې کلمې ماتحت وي ، ما وويل نو سي به دين خاص خداى ﷻ لره . احمد

## د جنت کيلي

﴿ ۳۸ ﴾ : وَعَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ قِيْلَ لَهُ أَلَيْسَ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ لَيْسَ مِفْتَاحٌ إِلاَّ لَهُ أَسْنَانٌ فَإِنْ جِئْتَ بِمِفْتَاحٍ لَهُ أَسْنَانٌ فُتِحَ لَكَ وَإِلاَّ لَمْ يُفْتَحْ لَكَ . رواه البخاري في ترجمة باب .( متفق عليه )

حضرت وهب بن منبه ﷺ ته وويل سول : ايا لااله الاالله د جنت کيلي نه ده ؟ (يعني جنت ته د تلو لپاره يوازي دا اقرار بس نه دی) هغه ورته وويل : هو ، مگر هيڅ کيلي داسي نه وي چي په هغې کي غاښونه نه وي ، که ته غاښو والا کيلي راوړې نو د جنت دروازه به ستا لپاره خلاصه سي او که د غاښو والا کيلي را نه وړې نو دروازه به خلاصه نه سي . بخاري او مسلم .

## د نيکۍ اجر

﴿ ۳۹ ﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أَحْسَنَ أَحَدُكُمْ إِسْلَامَهُ فَكُلُّ حَسَنَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلٰى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ وَكُلُّ سَيِّئَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ بِمِثْلِهَا حَتّٰى يَلْقَى اللّٰهَ (متفق عليه)

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چي خپل اسلام راوړل ښه جوړ کړي (يعني د اسلام کارونه په صدق او اخلاص سره ادا کوي) نو د هغه د هري نيکۍ اجر به لس چنده وليکل سي تر دې چي د هغه يوه نيکي به د اوو سوو نيکيو برابره وي او هره بدي به په خپل مثل (يوچند) وليکل سي تر دې چي هغه د خداى ﷻ سره يو ځاى سي . بخاري ومسلم.

## د ايمان علامت

﴿۴۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا الْإِيْمَانُ؟ قَالَ إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَمَا الْإِثْمُ؟ قَالَ إِذَا حَاكَ فِيْ نَفْسِكَ شَيْءٌ فَدَعْهُ . رواه احمد.

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ايمان څه ته وايي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هر کله چي ستا نيکي تا ته ښه ښکاري او ستا بدي تا ته بده محسوس سي نو بيا ته مؤمن يې ، بيا هغه پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! گناه څه شي ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هر کله چي يو شی ستا په زړه کي شك پيدا کړي او مشتبه در ته معلوم سي نو هغه پرېږده .

## د ایمان او اسلام خبري

﴿ ۴۱ ﴾ : وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ قَالَ أَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَنْ مَّعَكَ عَلَى هٰذَا الأَمْرِ؟ قَالَ حُرٌّ وَّعَبْدٌ، قُلْتُ مَا الإِسْلَامُ؟ قَالَ طِيْبُ الْكَلَامِ وَإِطْعَامُ الطَّعَامِ، قُلْتُ مَا الإِيْمَانُ؟ قَالَ الصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ، قَالَ قُلْتُ أَيُّ الإِسْلَامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِه وَيَدِه، قَالَ قُلْتُ أَيُّ الإِيْمَانِ أَفْضَلُ؟ قَالَ خُلُقٌ حَسَنٌ، قَالَ قُلْتُ أَيُّ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ طُوْلُ الْقُنُوْتِ، قَالَ قُلْتُ أَيُّ الْهِجْرَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ أَنْ تَهْجُرَ مَا كَرِهَ رَبُّكَ، قَالَ قُلْتُ فَأَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ؟ قَالَ مَنْ عُقِرَ جَوَادُهُ وَأُهْرِيْقَ دَمُهُ، قَالَ قُلْتُ أَيُّ السَّاعَاتِ أَفْضَلُ؟ قَالَ جَوْفُ اللَّيْلِ الآخِرِ .رواه احمد

د حضرت عمرو ﷛ څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او عرض مي وکړ اې د الله رسوله ! ستا سره (د اسلام په پيل کي) په دې (دين) کي څوك وو؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : يو آزاد (سړی) او يو غلام (يعني ابوبکر صديق ﷛ او حضرت بلال﷛) بيا ما پوښتنه وکړه اسلام څه ته وايي ؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : ښه خبري او په خلکو ډوډۍ خوړل، وروسته ما پوښتنه وکړه ايمان څه ته وايي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: صبر او سخاوت ، بيا ما پوښتنه وکړه چي د ټولو څخه غوره اسلام د چا دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه سړي چي د هغه د ژبي او لاس څخه مسلمان ساتلی وي، بيا ما پوښتنه وکړه چي په ايمان کي څه شي ښه دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ښه خوی ، بيا ما پوښتنه وکړه په لمانځه کي تر ټولو ښه کوم يو دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : اوږده ولاړه کول ، بيا ما پوښتنه وکړه د ټولو څخه غوره هجرت کوم يو دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه کارونو پرېښودل چي هغه ستا د رب خوښ نه وي. وروسته ما پوښتنه وکړه چي په جهاد کونکو کي تر ټولو غوره کوم يو دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه سړی چي د هغه آس په جهاد کي مړ سي او دی هم شهيد سي، بيا ما پوښتنه وکړه په ساعتونو کي تر ټولو غوره کوم ساعت دی؟ (يعني په شپه او ورځ کي تر ټولو غوره وخت کوم دی) رسول الله ﷺ وفرمايل : د شپې د آخري نيمي منځنی برخه .

## پر ايمان او اسلام مړ کېدونکی جنتي دی

﴿ ۴۲ ﴾ : وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ لَقِيَ اللهَ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا يُصَلِّي الْخَمْسَ وَيَصُوْمُ رَمَضَانَ غُفِرَ لَهُ قُلْتُ أَفَلَا أُبَشِّرُهُمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ دَعْهُمْ

د حضرت معاذ ﷛ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي فرمايل يې : کوم سړی چي د الله پاك سره يو ځای سي (وفات سي) او په خپل ژوند کي تر آخري وخته پوري يې د خدای سره څوك شريك نه وي نيولی پنځه وخته

يَعْمَلُوا . رواه أحمد

لمونځ یې کړی وي د رمضان د میاشتې روژې یې نیولې وي هغه بخښل کیږي ، د دې په اوریدو سره ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! ایا دا زیری خلګو ته واوروم ، نبي کریم ﷺ راته وفرمایل : نه، پریږده چې هغوئ عمل وکړي .

(۴۳) : وَعَنْ مُعَاذٍ أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَفْضَلِ الإِيْمَانِ قَالَ أَنْ تُحِبَّ لِلَّهِ وَتُبْغِضَ لِلَّهِ وَتُعْمِلَ لِسَانَكَ فِيْ ذِكْرِ اللهِ قَالَ وَمَاذَا يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ وَأَنْ تُحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ وَتَكْرَهُ لَهُمْ مَا تَكْرَهُ لِنَفْسِكَ . رواه أحمد

د حضرت معاذ ﷺ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه د ایمان د غوره خصلتونو په اړه پوښتنه وکړه، نبي کریم ﷺ وفرمایل: (غوره) ایمان دادی چې ته (یوازې) د الله لپاره د یو چا سره مینه وکړې او دالله لپاره (دښمني) او بغض وکړې او جاري کړې خپله ژبه په ذکر د خدای ﷺ سره ، معاذ ﷺ وویل نور څه دی، رسول الله ﷺ وفرمایل : او دا چې ته خوښوې د نورو خلګو لپاره کوم چې د ځان لپاره خوښوې او د خلګو لپاره بد ګڼې کوم چې د ځان لپاره بد ګڼې. احمد.

# بَابُ الْكَبَائِر وَ عَلاَمَات النِّفَاق

## (لوی ګناهونه او د نفاق نښې)

## لومړی فصل

**تر ټولو لویه ګناه**

(۴۴): عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ :قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيُّ الذَّنْبِ أَكْبَرُ عِنْدَ اللهِ قَالَ أَنْ تَدْعُوَ لِلَّهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ، ثُمَّ أَيٌّ قَالَ أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ خَشْيَةَ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ قَالَ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ أَنْ تُزَنِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ تَصْدِيقَهَا وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ..... الآية (متفق عليه)

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې یو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! د الله په نزد کومه ګناه ډیره لویه ده؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل: کوم خدای چې ته پیدا کړې یې د هغه سره شریك نیول، بیا یې پوښتنه وکړه ددې وروسته کومه لویه ګناه ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : دا چې ته خپل اولاد له دې کبله وژنې چې هغه به ستا سره خوراك کوي (یعني په روزي کې به مې کمتوب راولي) ، بیا هغه پوښتنه وکړه ددې وروسته ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : دا چې ته د خپل همسایه ښځې سره زنا وکړې ، او وروسته

د نبي کریم ﷺ په تصدیق کې الله تعالی دا ارشاد نازل کړ چې: کوم خلك د الله څخه پرته بل څوك د عبادت ور نه بولي او د کوم چا وژل چې الله حرام کړي دي هغه نه وژني مګر پر حق باندې (مثلا قصاص یا شرعي حد) او زنا نه کوي .... بخاري او مسلم.

**د مور او پلار نافرماني او د درواغو قسم**

﴿۴۵﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْكَبَائِرِ اَلْاِشْرَاكُ بِاللهِ وَعُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَالْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ (رواه البخاري) و في رواية انس وَشَهَادَةُ الزُّوْرِ بدل اليمين الغموس . (متفق عليه)

د حضرت عبدالله بن عمرو ﵁ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: لویې ګناوې دادي: د الله ﷻ سره څوك شریك نیول، د مور اوپلار نافرماني کول، څوك په ناحقه وژل، په درواغو قسم اخیستل، د بخاري او د حضرت انس په روایت کې د درواغو قسم پر ځای د درواغو شاهدي راغلې ده. بخاري او مسلم.

**د هلاکونکو خبرو څخه ځان وساتئ**

﴿۴۶﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوْبِقَاتِ قالوا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا هُنَّ قَالَ الشِّرْكُ بِاللهِ وَالسِّحْرُ وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَكْلُ الرِّبَا وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيْمِ وَالتَّوَلِّيْ يَوْمَ الزَّحْفِ وَقَذْفُ الْمُحْصِنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلَاتِ (متفق عليه)

د حضرت ابوهریرة ﵁ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د اوو هلاکونکو شیانو څخه ځان وژغورئ، خلګو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! هغه کوم شیان دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ سره شریك نیول، جادو کول، د هغه چا وژل چې د هغه وژل الله ﷻ حرام کړي دي مګر په حق سره، سود خوړل، د یتیم مال خوړل، د جګړې په ورځ پر شا تلل، پر پاك لمنو ښځو او ناخبره ښځو باندې د زنا تور لګول.

**هغه ګناوې چې کونکی یې د کولو په وخت کې پوره مؤمن نه پاته کیږي**

﴿۴۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَزْنِي الزَّانِيْ حِيْنَ يَزْنِيْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَا يَسْرِقُ السَّارِقُ حِيْنَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَا يَشْرَبُ الْخَمْرَ حِيْنَ يَشْرَبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَا يَنْتَهِبُ نُهْبَةً يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ فِيْهَا أَبْصَارَهُمْ حِيْنَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَا يَغُلُّ أَحَدُكُمْ حِيْنَ يَغُلُّ وَهُوَ

د حضرت ابوهریرة ﵁ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زنا کونکی د زنا پر وخت پوره مؤمن نه پاته کیږي، غلا کونکی د غلا پر وخت پوره مؤمن نه پاته کیږي، شراب څښونکی د شراب څښلو پر وخت پوره مؤمن نه پاته کیږي، د نورو مال لوټونکی د لوټولو پر وخت چې پورته کوي خلك ده ته په هغه کې سترګې خپلې

مُؤْمِنٌ فَإِيَّاكُمْ إِيَّاكُمْ (متفق عليه) وَفِيْ رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ لاَ يَقْتُلُ حِيْنَ يَقْتُلُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ . قَالَ عِكْرَمَةُ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ كَيْفَ يُنْزَعُ الإِيْمَانُ مِنْهُ ؟ قَالَ هٰكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِه ثُمَّ أَخْرَجَهَا قَالَ فَإِنْ تَابَ عَادَ إِلَيْهِ هٰكَذَا وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِه وَقَالَ أَبُوْ عَبْدِ اللهِ لاَ يَكُوْنَ هٰذَا مُؤْمِنًا تَامًّا وَلاَ يَكُوْنُ لَهُ نُوْرُ الإِيْمَانِ . هذا لفظ البخاري .

چي هغه لوټ كوي پوره مؤمن نه پاته كيږي، او په تاسو كي چي كوم سړى خيانت كوي هغه د خيانت په وخت كي پوره مؤمن نه پاته كيږي نو تاسو خلك د دې ټولو شيانو څخه ځان وژغورئ، (بخاري اومسلم) او د ابن عباس په روايت كي دا الفاظ هم دي او قاتل كوم وخت چي هغه څوك وژني مؤمنٌ نه پاته كيږي، د عكرمه راوي بيان دى چي د دې روايت پـــــه اوريدو سره ما د ابن عباس څخه پوښتنه وكړه چي ايمان څنګه (د خلكو د زړونو) څخه وځي ؟ ابن عباس په خپلو ګوتو كي ګوتي ننه ايستلې او بيا يې را وايستلې او وه يې فرمايل نو كه توبه يې وكښله بيا به راسي ايمان ده ته داسي او په يو بل كي يې ننه ايستلې ګوتي خپل ، د دې وروسته ابن عباس وفرمايل : او هر كله چي سړى د دې ټولو ګناهونو څخه توبه وكړي نو دا ډول ايمان په زړونو كي بيرته راسي او ابوعبدالله (يعني امام بخاري) وايي چي دا سړى پوره مؤمن نه پاته كيږي او د ايمان نور په هغه كي نه پاته كيږي د ا الفاظ د بخاري دي .

## د منافق علامې

**(٤٨)** : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ وَزَادَ مُسْلِمٌ وَإِنْ صَامَ وَ صَلَّى وَ زَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ ثُمَّ اتَّفَقَا إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د منافق علامې درې دي، او د مسلم په روايت كي دا الفاظ هم دي كه څه هم هغه سړى روژه نيسي، لمونځ كوي او د خپلي مسلمانۍ دعوا هم كوي، كه په هغه كي ددغه علامو څخه يو علامه پيدا سي نو هغه منافق دى ، د دې وروسته د بخاري او مسلم دواړو متفق الفاظ دادى چي : خبري كوي نو درواغ وايي، چي وعده وكړي نو ماته يې كړي او كه امانت ورسره كښېښودل سي نو خيانت پكښي كوي .

## منافق جوړونكي څلور خبري

**(٤٩)** : وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په كوم سړي كي چي څلور خبري پيدا سي نو هغه خالص منافق دى او

فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتّٰى يَدَعَهَا اِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ، وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ (متفق عليه)

په چا كي چي ددغه څلورو خبرو څخه يوه پيدا سي نو په هغه كي د منافقت خصلت پيدا سو، تر څو چي هغه دا پرې نه ږدي (هغه څلور خبري دادي) : كه امانت ورسره كښېښودل سي نو په هغه كي خيانت كوي، چي خبره كوي نو دروغ وايي، چي وعده وكړي نو ماته يې كړي، او كه د چا سره په جګړه سي نو ښكنځل ورته كوي .بخاري او مسلم .

### د منافق مثال

(۵۰) : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَالشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تُعِيْرُ إِلٰى هٰذِهِ مَرَّةً وَإِلٰى هٰذِهِ مَرَّةً . رواه مسلم .

حضرت ابن عمر ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د منافق مثال د هغه بزې په ډول دى چي په منځ د دوو رمو كي ځي د نر ليواله وي او د دې خواهش پوره كولو لپاره كله يوې رمې ته منډه كړي او كله بلي رمې ته . مسلم .

## دويم فصل

(۵۱) : عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ قَالَ قَالَ يَهُوْدِيٌّ لِصَاحِبِهِ اذْهَبْ بِنَا إِلٰى هٰذَا النَّبِيِّ فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ لَا تَقُلْ نَبِيٌّ إِنَّهُ لَوْ سَمِعَكَ كَانَ لَهُ أَرْبَعَةُ أَعْيُنٍ فَأَتَيَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَاهُ عَنْ تِسْعِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ شَيْئًا وَلَا تَسْرِقُوْا وَلَا تَزْنُوْا وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا تَمْشُوْا بِبَرِيْءٍ إِلٰى ذِيْ سُلْطَانٍ لِيَقْتُلَهُ وَلَا تَسْحَرُوْا وَلَا تَأْكُلُوا الرِّبٰا وَلَا تَقْذِفُوْا مُحْصَنَةً وَلَا تُوَلُّوْا لِلْفِرَارِ يَوْمَ الزَّحْفِ وَعَلَيْكُمْ خَاصَّةً الْيَهُوْدَ أَنْ لَا تَعْتَدُوْا فِي السَّبْتِ . قَالَ فَقَبَّلَا يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ وَقَالَ نَشْهَدُ أَنَّكَ نَبِيٌّ قَالَ فَمَا يَمْنَعُكُمْ

د حضرت صفوان بن عسال ﷺ څخه روايت دى چي يو يهودي خپل ملګري ته وويل چي موږ دې نبي ﷺ ته ورسو ، هغه ملګري ورته وويل ده ته نبي مه وايه كه هغه دا الفاظ واوري نو سترګي به يې څلور سي (يعني ډير به خوشحاله سي) نو هغه دواړه يهوديان د نبي كريم ﷺ په خدمت كي حاضر سول او د ده مبارك څخه يې د هغو نهو ځرګندو علامو پوښتنه وكړه (د كوم ذكر چي په قرآن مجيد كي راغلى دى ) ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : هيڅوك د الله سره شريك مه جوړوئ، غلا مه كوئ، زنا مه كوئ، په ناحقه څوك مه وژنئ مګر په حقه سره، يو بې ګناه په الزام لګولو سره حاكم ته مه بياياست چي هغه ته د قتل سزا وركړي، جادو مه كوئ،

أَنْ تَتَّبِعُوْنِيْ قَالُوْا إِنَّ دَاوُدَ دَعَا رَبَّهُ أَنْ لاَّ يَزَالَ مِنْ ذُرِّيَّتِهِ نَبِيٌّ وَإِنَّا نَخَافُ إِنْ تَبِعْنَاكَ أَنْ يَقْتُلَنَا الْيَهُوْدُ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي .

سود مه خورئ، پر هيڅ يو پاك لمني تهمت مه واياست، د كفارو سره د جنګ پر مهال مه تښتئ، د دې وروسته نبي كريم ﷺ وفرمايل او اې يهودو ! ستاسو دپاره دا خاص حكم دى چي د شنبې په ورځ قانون ماتونه مه كوئ (يعني د شنبې په ورځ ښكار وغيره مه كوئ) د راوي بيان دى كله چي د نبي كريم ﷺ خبري هغه يهوديانو واورېدې نو د نبي كريم ﷺ لاسونه او پښې يې مچ كړې او عرض يې وكړ موږ شاهدي وايو چي تاسو په حقه نبي ياست، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : نو تاسو زما اطاعت ولي نه كوئ؟ هغوي وويل : داؤد عليه السلام د الله ﷻ څخه دا دعاء غوښتې وه چي نبي دې هميشه د هغه په اولاد كي وي په دې وجه زموږ سره انديښنه ده كه موږ ستاسو اطاعت ومنو نو يهود به موږ قتل كړي .ترمذي،ابوداؤد او نسائي.

## د ايمان ريښې

﴿٥٢﴾ : وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاَثٌ مِنْ أَصْلِ الإِيْمَانِ اَلْكَفُّ عَمَّنْ قَالَ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ لاَ تُكَفِّرْهُ بِذَنْبٍ وَلاَ تُخْرِجْهُ مِنَ الإِسْلاَمِ بِعَمَلٍ وَالْجِهَادُ مَاضٍ مُنْذُ بَعَثَنِيَ اللهُ إِلىٰ أَنْ يُقَاتِلَ آخِرُ هٰذِهِ الأُمَّةِ اَلدَّجَّالَ لاَ يُبْطِلُهُ جَوْرُ جَائِرٍ وَلاَ عَدْلُ عَادِلٍ وَالإِيْمَانُ بِالأَقْدَارِ . رواه ابو داود

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :دري شيان د ايمان بنسټ دي: ١- چا چي په ژبه سره لااله الاالله ويلي وي نه خو د ګناه په وجه هغه كافر ګرځي او نه د يو عمل په وجه هغه د اسلام څخه وځي ، ٢- د كومي ورځي څخه چي زه الله پاك راليږلى يم جهاد به هميشه جاري وي تر دې چي ددې امت آخري (ډله يا سړى) به د جال و وژني ، نه به يو ظالم جهاد بند كړي او نه به يې د يو منصف انصاف ، ٣-او په تقدير باندي ايمان راوړل. ابوداؤد.

## د زنا په وخت كي ايمان وځي

﴿٥٣﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا زَنَى الْعَبْدُ خَرَجَ مِنْهُ الْإِيْمَانُ فَكَانَ فَوْقَ رَأْسِهِ كَالظُّلَّةِ فَإِذَا خَرَجَ مِنْ ذٰلِكَ الْعَمَلِ رَجَعَ إِلَيْهِ الْإِيْمَانُ . رواه الترمذي وأبو داود .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي بنده زنا كوي نو ايمان د هغه څخه وځي پر سر يې د سايې په ډول ولاړ وي او كوم وخت چي هغه د هغه بد عمل څخه فارغ سي نو ايمان بيرته راسي .

## دريم فصل

### حضرت معاذ ﷺ ته د لسو خبرو وصيت

(۵۴) : عَنْ مُعَاذٍ قَالَ أَوْصَانِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ قَالَ لاَ تُشْرِكْ بِاللهِ شَيْئًا وَإِنْ قُتِلْتَ وَحُرِّقْتَ وَلاَ تَعُقَّنَّ وَالِدَيْكَ وَإِنْ أَمَرَاكَ أَنْ تَخْرُجَ مِنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ وَلاَ تَتْرُكَنَّ صَلاَةً مَكْتُوْبَةً مُتَعَمِّدًا فَإِنَّ مَنْ تَرَكَ صَلاَةً مَكْتُوْبَةً مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ وَلاَ تَشْرَبَنَّ خَمْرًا فَإِنَّهُ رَأْسُ كُلِّ فَاحِشَةٍ وَإِيَّاكَ وَالْمَعْصِيَةَ فَإِنَّ بِالْمَعْصِيَةِ حَلَّ سَخَطُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَإِيَّاكَ وَالْفِرَارَ مِنَ الزَّحْفِ وَإِنْ هَلَكَ النَّاسُ وَإِذَا أَصَابَ النَّاسُ مَوْتٌ وَأَنْتَ فِيْهِمْ فَاثْبُتْ وَأَنْفِقْ عَلَى عِيَالِكَ مِنْ طَوْلِكَ وَلاَ تَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ أَدَبًا وَأَخِفْهُمْ فِي اللهِ .رواه أحمد .

د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ ما ته د لسو خبرو وصيت کړی دی يعني فرمايلي يې دي : (۱) هيڅ شی د الله سره شريك مه نيسه که څه هم ته په دې خبره ووژل سې يا وسوځل سې (۲) د مور اوپلار نافرماني مه کوه که څه هم هغوئ تا ته دا حکم درکړي چي ته ووځه د خپل اهل (يعني کور څخه) او مال و دولت پرېږده (۳) په قصد سره فرض لمونځ مه پرېږده ځکه چا چي په قصد سره فرض لمونځ پرېښودی نو دالله ذمه د هغه څخه ايسته ده، (۴) شراب مه څښه ځکه شراب څښل د ټولو ګناهونو رېښه ده (۵) د ګناهو څخه ځان ساته ځکه په ګناه سره د الله غضب نازلېږي (۶) په جهاد کي ځان د تېښتي څخه ژغوره که څه هم خلك پکښي مري (۷) هر کله چي په خلګو کي ناروغي (وباء) خپره سي او ته په هغو خلګو کي موجود يې نو دمرګ د بيري مه تښته او هلته پاته سه (۸) په خپله کورنۍ د خپل وس سره سم خرڅ کوه (۹) خپل کورنۍ ته ادب وښيه که څه هم د دې لپاره د وهلو ضرورت سي (۱۰) خپله کورنۍ د الله څخه وبيروه . احمد

### اوس کفر دی که ايمان

(۵۵) :وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ إِنَّمَا كَانَ النِّفَاقُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّا الْيَوْمَ فَإِنَّمَا هُوَ الْكُفْرُ أَوِ الْإِيْمَانُ . رواه البخاري .

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دی چي منافقت د نبي کريم ﷺ په زمانه کي وو، او اوس خو يا کفر دی يا ايمان . بخاري

## بَاب فِيْ الْوَسْوَسَةِ (دوسوسې بیان)

## لومړی فصل

### د وسوسې معافي

﴿۵۶﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا وَسْوَسَتْ بِهِ صُدُوْرُهَا مَا لَمْ تَعْمَلْ بِهِ أَوْ تَتَكَلَّمْ .(متفق علیه)

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : زما د امت په زړه کې چې کومې وسوسې پیداکیږي الله ﷻ هغه معاف کړي دي تر څو چې د هغې مطابق عمل ونه کړي یا په ژبه سره څه ونه وايي .

### وسوسه بدګڼل د ایمان نښه ده

﴿۵۷﴾ : وَعَنْهُ قَالَ جَاءَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلُوهُ إِنَّا نَجِدُ فِي أَنْفُسِنَا مَا يَتَعَاظَمُ أَحَدُنَا أَنْ يَتَكَلَّمَ بِهِ قَالَ وَقَدْ وَجَدْتُمُوهُ قَالُوا نَعَمْ قَالَ ذَاكَ صَرِيحُ الْإِيمَانِ (روه مسلم)

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې د اصحابو څخه ځیني د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سول او عرض یې وکړ اې داالله رسوله ! زموږ په زړونو کي (کله ناکله) داسي خبري وي چي هغه موږ په ژبه نه سو راوړلای ، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : ایا تاسو ربښتیا هم هغه خبري په ژبه ویل بد ګڼي؟ هغوئ وویل : هو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : هم دغه ښکاره ایمان دی. مسلم.

### کله چې شیطان وسوسه پیدا کړي نو په الله ﷻ سره پناه غواړئ

﴿۵۸﴾ :وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُولَ مَنْ خَلَقَ كَذَا وَكَذَا حَتَّى يَقُولَ مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ؟ فَإِذَا بَلَغَهُ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ وَلْيَنْتَهِ (متفق علیه)

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي چا ته شیطان راځي او ورته وایي چې دا (مثلا آسمان) چا پیدا کړ او دا (مثلا ځمکه) چا پیدا کړه ؟ تر دې چې هغه دا وایي چې ستا رب چا پیدا کړ؟ هر کله چې د چا په زړه کي دا ډول وسوسې پیدا سي نو د الله څخه پناه غواړئ او دا خیال د زړه څخه لیري کړئ .بخاري او مسلم.

﴿۵۹﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُونَ حَتَّى يُقَالَ هَذَا

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: همیشه به خلك پوښتني کوي تر

خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللّٰهَ؟ فَمَنْ وَجَدَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرُسُلِه (متفق عليه)

دي چي هغوئ ته دا وويل سي چي دا ټول مخلوقات خدای پيدا کړي دي نو خدای چا پيدا کړی دی ؟ د چا په زړه کي چي دا ډول وسوسې پيدا سي نو هغه دي سمدستي دا ووايي چي ما په خدای او دهغه په رسولانو ايمان راوړی دی .بخاري او مسلم .

## د هر انسان سره يوه ملائکه او يو شيطان وي

﴿۶۰﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَقَدْ وُكِّلَ بِه قَرِيْنُهُ مِنَ الْجِنِّ وَقَرِيْنُهُ مِنَ الْمَلَائِكَةِ . قَالُوْا وَإِيَّاكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ؟ قَالَ وَإِيَّايَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ أَعَانَنِيْ عَلَيْهِ فَأَسْلَمَ فَلاَ يَأْمُرُنِيْ إِلاَّ بِخَيْرٍ . رواه مسلم .

د حضرت ابن مسعود ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله وفرمايل : په تاسو کي هيڅوك داسي نسته چي د هغه فلگری پيريان او ملائکه نه وي ټاکل سوي ، صحابه کرامو د دې په اوريدو سره پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! ايا ستا لپاره هم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هو، مگر الله ﷻ (په خپل مرسته سره) پر هغو باندي ما ته غلبه راکړې ده هغه زما تابع سوي دي او هغه ما نه امر کوي مگر په خير سره . مسلم .

## شيطان د انسان په رګو کي وي

﴿۶۱﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِيْ مِنَ الإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ .( متفق عليه )

د حضرت انس ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شيطان د انسان په رګونو کي داسي ګرځي لکه وينه چي ګرځي. بخاري اومسلم.

## د ولادت پر وخت د کوچني ژړل د شيطان عمل دی

﴿۶۲﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ بَنِيْ آدَمَ مَوْلُوْدٌ إِلاَّ يَمَسُّهُ الشَّيْطَانُ حِيْنَ يُوْلَدُ فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ غَيْرَ مَرْيَمَ وَابْنِهَا .( متفق عليه )

د حضرت ابوهريرة ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله وفرمايل : هيڅ يو انسان داسي نه دی پيداسوی چي د پيداکېدو په وخت شيطام مس کړی نه وي کوم وخت چي يې شيطان مس کوي نو هغه د (تکليف څخه) چغه کړي، مگر بي بي مريم او د هغې زوی حضرت عيسی عليه السلام شيطان نه دي مس کړي .بخاري او مسلم .

﴿۶۳﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صِيَاحُ الْمَوْلُوْدِ حِيْنَ تَقَعُ

د حضرت ابوهريرة ﷜ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د پيداکېدو پر وخت د کوچني

نَزْغَةٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ . (متفق عليه)

چغي او ژړا له دې کبله وي چي شيطان هغه په گوته په تشي کي وهي . بخاري او مسلم .

**د ښځي او مېړه په مينځ کي د شيطان غوره کار**

(۶۴) : وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ يَفْتِنُوْنَ النَّاسَ فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً يَجِيْءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُوْلُ فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا فَيَقُوْلُ مَا صَنَعْتَ شَيْئًا قَالَ ثُمَّ يَجِيْءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُوْلُ مَا تَرَكْتُهُ حَتّٰى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ قَالَ فَيُدْنِيْهِ مِنْهُ وَيَقُوْلُ نِعْمَ أَنْتَ قَالَ الْأَعْمَشُ أُرَاهُ قَالَ فَيَلْتَزِمُهُ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شيطان خپل تخت د اوبو سربيره ايښی دی چي په هغه کي کښيني او خپلو څواکونو ته حکم ورکوي چي ولاړ سئ خلك گمراه کړئ او په فتنه کي يې واچوئ، د شيطان د دې ډلي ادنا شيطان هغه دی چي د لوړي درجې فتنه خپره کړي، په دوئ کي يو شيطان خپل سردار ته راسي او ورته وايي ما دا دا (د فتنې کارونه) وکړل، سردار يې ورته وايي تا خو هيڅ ونه کړل ، د دې وروسته نبي کريم ﷺ وفرمايل : بيا يو بل شيطان راسي او وايي ما انسان تر هغه وخته نه پرېښودی تر څو چي د هغه او د هغه د ښځي په منځ کي مي بيلتون را نه وستی ، نبي کريم ﷺ وفرمايل : مشر شيطان چي دا واوري نو د خپل ځان سره نژدې ځای ورکړي او ورته ووايي تا ډير ښه کار وکړی ، اعمش ﷺ وايي زما دا خيال دی چي جابر دا الفاظ ويلي دي چي د دې په اورېدو سره شيطان هغه سره په غاړه سي . مسلم

**په جزيره عرب کي د توحيد د ټينگ بنياد په وجه د شيطان مايوسي**

(۶۵) : وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ أَنْ يَّعْبُدَهُ الْمُصَلُّوْنَ فِي جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ وَلٰكِنْ فِي التَّحْرِيْشِ بَيْنَهُمْ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي ما د نبي کريم ﷺ څخه واورېدل چي فرمايل يې : شيطان د دې امر څخه نا اميده سو چي د جزيره عرب عبادت کونکي (مؤمن) د هغه عبادت وکړي (يعني په بت پرستي کي اخته سي) مگر د هغوئ په منځ کي د جنگ جگړې پيدا کولو څخه نا اميده نه سو (دا کار هغه جاري ساتي) . مسلم .

## دويم فصل

### د وسوسې ښخه پر خوندي كېدو د الله ﷻ شكر ادا كړئ

(۶۶) : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ إِنِّيْ أُحَدِّثُ نَفْسِيْ بِالشَّيْءِ لِأَنْ أَكُوْنَ حُمَمَةً أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَتَكَلَّمَ بِهِ . قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ رَدَّ أَمْرَهُ إِلَى الْوَسْوَسَةِ . رواه ابو داود

حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي چي يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ : زما په زړه كي داسي خبري (وسوسې) پيدا كيږي چي د هغو د ادا كولو پر ځاى زه دا غوره گڼم چي زه (وسوځم او) سكاره سم، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه الله ﷻ لره شكر دى چي هغه د ده خبره د وسوسې طرف ته منتقل كړه .ابوداؤد.

### د وسوسې پر وخت د الله ﷻ پناه غواړئ

(۶۷) : وَعَنِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلشَّيْطَانِ لَمَّةً بِابْنِ آدَمَ وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً فَأَمَّا لَمَّةُ الشَّيْطَانِ فَإِيْعَادٌ بِالشَّرِّ وَتَكْذِيْبٌ بِالْحَقِّ وَأَمَّا لَمَّةُ الْمَلَكِ فَإِيْعَادٌ بِالْخَيْرِ وَتَصْدِيْقٌ بِالْحَقِّ فَمَنْ وَجَدَ ذٰلِكَ فليعلم انه من الله فَلْيَحْمَدِ اللّٰهَ وَمَنْ وَجَدَ الْأُخْرٰى فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ ثُمَّ قَرَأَ (اَلشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ .الآية) أخرجه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابن مسعود ﷺ ښخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : شيطان هم پر انسان باندي تصرف كوي او ملائكي هم، د شيطان تصرف خو دادى چي هغه د انسان سره د بدۍ وعده كوي او د حق په درواغو كولو يې آماده كوي ، او د ملائكو تصرف دادى چي هغه د نيكۍ وعده وركوي او د حق تصديق پر كوي نو د چا په زړه كي چي د نيكۍ خيال پيدا سي هغه د الله ﷻ د لوري گڼل پكا ردي، او پر هغه د الله ﷻ شكر ادا كول پكار دي او د چا په زړه كي چي د بدۍ وسوسه پيدا سي نو هغه د رټل سوي شيطان د لوري گڼل پكار دي او د خداى ﷻ پناه غوښتل پكار دي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ : شيطان تاسو ته د مفلسۍ او فقر وعده او خرابو خبرو حكم دركوي.

### كه وسوسه پيدا سي نو په الله تعالى سره پناه غواړئ

(۶۸) : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا يَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُوْنَ حَتّٰى يُقَالُ هٰذَا خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللّٰهَ ؟

د حضرت ابوهريرة ﷺ ښخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خلك به هميشه د يو بل ښخه پوښتني كوي تر دې چي يوه ورځ به داسي وويل

فَإِذَا قَالُوْا ذٰلِكَ فَقُوْلُوْا اللّٰهُ أَحَدٌ اَللّٰهُ الصَّمَدُ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ثُمَّ لْيَتْفُلْ عَنْ يَسَارِهٖ ثَلَاثًا وَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ . رواه أبو داود . و سنذكر حديث عمرو بن الاحوص في باب خطبة يوم النحر انشاء الله تعالى .

سي چي دا ټول مخلوق الله ﷻ پيدا کړی دی نو الله چا پيدا کړی دی ، هر کله چي خلك داسي ووايي نو بيا تاسي داسي واياست چي الله ﷻيوازي دی الله ﷻ بې نيازه دی نه چا پيدا کړی دی او نه څوك ځيني پيدا دی او نه څوك د هغه سيال سته، بيا په داسي ويلو سره چپه اړخ ته درې واره تُو کړي او د رټل سوي شيطان د چم څخه د الله ﷻ پناه وغواړي، (ابوداؤد) د عمرو بن احوص روايت به مونږ د يوم النحر د خطبې په باب کي ذکر کړو . انشاء الله .

## دريم فصل

### د شيطاني وسوسو سره بيداره سئ

﴿٦٩﴾ : عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَّبْرَحَ النَّاسُ يَتَسَاءَلُوْنَ حَتّٰى يَقُوْلُوْا هٰذَا اللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَمَنْ خَلَقَ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ . رواه البخاري . وَلِمُسْلِمٍ قَالَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ أُمَّتَكَ لَا يَزَالُوْنَ يَقُوْلُوْنَ مَا كَذَا ؟ مَا كَذَا ؟ حَتّٰى يَقُوْلُوْا هٰذَا اللّٰهُ خَلَقَ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ ؟

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خلك به هميشه د يو بل څخه (دول دول) پوښتني کوي تر دې چي خلك به وايي الله هر شی پيدا کړی دی نو بزرگي او عزت والا خدای چا پيدا کړی دی؟ دا د بخاري روايت دی او په مسلم شريف کي دا روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاك ارشاد فرمايي ستا امت به هميشه داسي وايي چي دا څه دی ؟ دا څه دی؟ تر دې چي خلك به داسي ووايي چي الله دا ټول مخلوقات پيداکړي دي نو الله تعالی چا پيدا کړی دی ؟

### په لمانځه کي د شيطان دخل

﴿٧٠﴾ : وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِيْ الْعَاصِ قَالَ : قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِيْ وَبَيْنَ صَلَاتِيْ وَبَيْنَ قِرَاءَتِيْ يُلْبِسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهٗ خِنْزَبٌ فَإِذَا أَحْسَسْتَهٗ فَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْهُ وَاتْفُلْ عَلٰى يَسَارِكَ ثَلَاثًا فَفَعَلْتُ ذٰلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللّٰهُ عَنِّيْ .مسلم

حضرت عثمان بن ابوالعاص ﷺ وايي ما (يو ځل) رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! شيطان زما او زما په لمانځه کي حائل کيږي او کوم وخت چي زه قرائت وايم نو ما په شك کي اچوي ، د دې په اورېدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : دا هغه شيطان دی چي خنزب ورته

ویل کیږي هر کله چي ته د دې ډول وسوسو څخه یو شی حس کړې نو دالله څخه پناه غواړه او درې واره چپه لوري ته تُو کړه ، عثمان ﷺ وایي ما همدغسي وکړل او الله پاك دا ډول وسوسې راڅخه لیري کړې .مسلم .

**وسوسه پربږدئ او خپل لمونځ جاري وساتئ**

| | |
|---|---|
| ﴿۷۱﴾ : وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَهُ فَقَالَ إِنِّيْ أَهِمُ فِيْ صَلاَتِيْ فَيَكْثُرُ ذٰلِكَ عَلَيَّ فَقَالَ لَهُ امْضِ فِيْ صَلاَتِكَ فَإِنَّهُ لَنْ يَّذْهَبُ عَنْكَ حَتّٰى تَنْصَرِفُ وَأَنْتَ تَقُوْلُ مَا أَتْمَمْتُ صَلاَتِيْ . رواه مالك | حضرت قاسم بن محمد ﷺ وایي یو سړی د هغه څخه پوښتنه وکړه چي ما ته په خپل لمانځه کي وهم پیدا کیږي او دا خبره پر ما ډیره سخته سي ، ما هغه ته وویل : ته خپل لمونځ برابر کوه او دا |

وهم ستا څخه هیڅکله نه سي لیري کیدای تر څو پوري ته په دې ویلو سره د لمونځ څخه فارغ نه سي چي ما خپل لمونځ پوره نه کړو . مالك .

# بَابُ الْاِيْمَانِ بِالْقَدْرِ (پر تقدیر ایمان)

## لومړی فصل

| | |
|---|---|
| ﴿۷۲﴾ : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ اللّٰهُ مَقَادِيْرَ الْخَلاَئِقِ قَبْلَ أَنْ يَّخْلُقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِيْنَ أَلْفَ سَنَةٍ قَالَ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ . رواه مسلم . | د عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د آسمانو او مځکو پیدا کولو څخه پنځوس زره کاله تر مخه الله تعالی د مخلوقاتو تقدیرونه لیکلي دي کوم وخت چي د هغه تخت (عرش) پر اوبو وو. |
| ﴿۷۳﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ شَيْءٍ بِقَدَرٍ حَتّٰى الْعَجْزُ وَالْكَيْسُ . رواه مسلم . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر شی پر تقدیر موقوف دی تر دې چي ناداني او دانایي . مسلم . |
| ﴿۷۴﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: احْتَجَّ آدَمُ وَمُوْسٰى عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ عِنْدَ رَبِّهِمَا فَحَجَّ آدَمُ مُوْسٰى قَالَ مُوْسٰى | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : حضرت آدم ﷺ او حضرت موسی ﷺ (په عالم ارواح کي) د خپل رب په |

أَنْتَ آدَمُ الَّذِيْ خَلَقَكَ اللهُ بِيَدِه وَنَفَخَ فِيْكَ مِنْ رُوْحِه وَأَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهُ وَأَسْكَنَكَ فِيْ جَنَّته ثُمَّ اَهْبَطْتَ النَّاسَ بِخَطِيْئَتِكَ إِلَى الأَرْضِ فَقَالَ آدَمُ أَنْتَ مُوْسٰى الَّذِيْ اصْطَفَاكَ اللهُ بِرِسَالَتِه وَبِكَلَامِه وَأَعْطَاكَ الأَلْوَاحَ فِيْهَا تِبْيَانُ كُلِّ شَيْءٍ وَقَرَّبَكَ نَجِيًّا فَبِكَمْ وَجَدْتَ اللهَ كَتَبَ التَّوْرَاةَ قَبْلَ أَنْ اُخْلَقَ؟ قَالَ مُوْسٰى بِأَرْبَعِيْنَ عَامًا قَالَ آدَمُ فَهَلْ وَجَدْتَ فِيْهَا ( وَعَصٰى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوٰى ) قَالَ نَعَم قَالَ أَفَتَلُوْمُنِيْ عَلٰى أَنْ عَمِلْتُ عَمَلاً كَتَبَهُ اللهُ عَلَيَّ أَنْ أَعْمَلَهُ قَبْلَ أَنْ يَّخْلُقَنِيْ بِأَرْبَعِيْنَ سَنَةً قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَجَّ آدَمُ مُوْسٰى . رواه مسلم .

وړاندې بحث وسو، او حضرت آدم ﷺ پر حضرت موسی ﷺ غلبه تر لاسه کړل ، موسی ﷺ وفرمایل : ته هغه آدم یې چې خدای ﷻ ته په خپل لاس سره جوړ کړی یې خپل روح یې په تا کې پوه کړې وه او په ملائکو یې تاته سجده کړې وه او په جنت کې یې ته ساتلی وې بیا تا د گناهو په سبب خلك مځکې ته راکښته کړل، آدم ﷺ ورته وویل : او ته هغه موسې یې چې الله په خپل رسالت سره مشرف کړی وې په خپل کلام سره یې ته نازولی وې او تا ته یې هغه صحیفې درکړې وې چې په هغو کې د هر شي بیان وو، او بیا الله ﷻ تا ته په غوږ کې د خبرو کولو عزت درکړی وو نو تا تورات زما د پیداکېدو څخه څومره عمر وړاندې لیکلی موندلی وو، موسی ﷺ ورته وویل تورات ستا د زېږېدنې څخه څلوېښت کاله وړاندې لیکل سوی وو، نو آدم ﷺ پوښتنه وکړه ایا تا په تورات کې دا الفاظ هم لیدلي وه، (عصی آدم ....) او آدم ﷺ د خپل رب نافرماني وکړه او هغه و غولیدی، موسی ﷺ ورته وویل : هو، (دا الفاظ په تورات کې موجود وه) آدم ﷺ ورته وویل : نو بیا ته ما ولې په داسې خبرو ملامت کوې کوم چې د هغو په کولو زه د خدای په لیکلو سره مجبور وم او خدای ﷻ زما د پیداکېدو څخه څلوېښت کاله وړاندې دغه لیکلي وه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: همدارنگه حضرت آدم ﷺ پر حضرت موسی ﷺ غلبه تر لاسه کړل.مسلم.

(۷۵) : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوْقُ اَنَّ خَلْقَ أَحَدِكُمْ يُجْمَعُ فِيْ بَطْنِ اُمِّه اَرْبَعِيْنَ يَوْمًا نُطْفَةً ثُمَّ يَكُوْنُ عَلَقَةً مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ يَكُوْنُ مُضْغَةً مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ اِلَيْه مَلَكًا بِاَرْبَعِ كَلِمَاتٍ فَيَكْتُبُ عَمَلَهُ وَاَجَلَهُ وَ رِزْقَهُ وَشَقِيٌّ اَوْ سَعِيْدٌ ثُمَّ يُنْفَخُ فِيْهِ الرُّوْحُ فَوَالَّذِيْ لَا اِلٰهَ غَيْرُهُ اِنَّ اَحَدَكُمْ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ چې رښتونی او رښتون کړل سوی دی موږ ته دا بیان وفرمایه : په تاسو کې د هر یوه د زېږېدنې صورت دادی چې څلوېښت ورځې نطفه په نس کې دننه وساتل سي بیا (دا نطفه) د یخې وینو په شکل کې بدله سي تر څلوېښتو ورځو پوري (همدغسې وي) بیا څلوېښت ورځې د غوښې یوه ټوټه وي . د دې وروسته الله ﷻ هغه

لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا. متفق عليه

د غوښو ټوټې ته یوه ملائکه را ولیږي چي د هغه اعمال، د مرگ نېټه، د رزق ذریعه او د هغه نیك بخت او بخت کېدل ولیکي، بیا په هغه ټوټه کي روح پوه کړي ، په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه څخه پرته بل د عبادت وړ نسته په تاسو کي یو څوك د جنتیانو په شان کارونه کـوي تر دې چي د هغه او جنت په مینځ کي یوازي د یوه لاس اندازه فاصله پاته سي چي د هغه د تقدیر لیکلي پر هغه غالب سي او هغه د دوږخیانو په شان کارونه پیل کړي او په تحقیق سره په تاسو کي یو سړی د دوږخیانو په شان کارونه کوي تر دې چي د هغه او دوږخ په منځ کي یوازي د یوه لاس اندازه فاصله پاته سي چي د هغه تقدیر لیکي پر هغه غالب سي او هغه د جنیاتو په شان کارونه پیل کړي او په جنت کي داخل سي . بخاري او مسلم .

(۷۶) : وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَإِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ .(متفق عليه)

د حضرت سهل بن سعید ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : یو بنده د دوږخیانو په ډول کارونه کوي او (په حقیقت کي ) هغه جنتي وي او همدا شان هغه د جنتیانو په شان کارونه کوي او هغه دوږخي وي نو د اعمالو اعتبار په آخره خاتمه سره دی . بخاري ومسلم

(۷۷) : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ دُعِيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جَنَازَةِ صَبِيٍّ مِنَ الأَنْصَارِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ طُوْبَى لِهٰذَا عُصْفُوْرٌ مِنْ عَصَافِيْرِ الْجَنَّةِ لَمْ يَعْمَلِ السُّوْءَ وَلَمْ يُدْرِكْهُ قَالَ أَوْ غَيْرَ ذٰلِكَ يَا عَائِشَةَ إِنَّ اللهَ خَلَقَ لِلْجَنَّةِ أَهْلاً خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِيْ أَصْلاَبِ آبَائِهِمْ وَخَلَقَ لِلنَّارِ أَهْلاً خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِيْ أَصْلاَبِ آبَائِهِمْ . رواه مسلم .

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چي : رسول الله ﷺ د یو انصاري کوچنی جنازې ته و غوښتل سو، ما نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ: اې د الله رسوله ! د دې کوچنی لپاره خوشخبري ده چي د جنت د مرغانو څخه یوه مرغه دی چي نه یې څه بد کار کړی او نه د بدۍ حد ته رسیدلی دی، (د دې په اوربدو سره ) رسول الله ﷺ وفرمایل : اې عائشې ! ایا ستا دا خیال دی (یعني ستا دا خیال درست نه دی) د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : د جنت او دوږخ لپاره الله تعالی ډلي پیدا کړي دي کوم وخت چي هغوئ د خپلو پلرو په ملاوو کي وي . مسلم

(٧٨) : وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلاَّ وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ وَمَقْعَدُهُ مِنَ الْجَنَّةِ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ أَفَلاَ نَتَّكِلُ عَلَى كِتَابِنَا وَنَدَعُ الْعَمَلَ ؟ قَالَ اعْمَلُوْا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ أَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ السَّعَادَةِ وَأَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ فَسَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ الشَّقَاوَةِ ، ثُمَّ قَرَءَ: ( فأما من أعطى واتقى وصدق بالحسنى ) (متفق عليه)

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي هيڅوك داسي نسته چي د هغه ځاى جنت يا دوږخ نه وي ليکل سوي ، خلکو عرض وکړ: اې د الله رسوله ! نو بيا موږ د خپل تقدير په دې نوشته باور وکړو او اعمال ولي نه پرېږدو؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : عمل کوئ څکه چي کوم سړی د کوم کار لپاره پيدا سوی دی هغه شی د هغه لپاره آسان کړل سوی دی يعني کوم سړی چي نيك بخت دی د هغه دپاره د نيك بختۍ کارونه آسان کيږي او څوك چي بد بخت وي د هغه لپاره د بد بختۍ کارونه آسانه کيږي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ دا آيت ووايه : (فاما من اعطى ..) کوم سړي ته چي بخشش ورکړل سو نو پرهيزګاري يې اختيار کړل او د خير عمل يې ښه وګڼی بخاري او مسلم

(٧٩) :وَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا أَدْرَكَ ذٰلِكَ لاَ مَحَالَةَ فَزِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ وَزِنَا اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ وَالنَّفْسُ تَمَنّٰى وَتَشْتَهِيْ وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذٰلِكَ وَيُكَذِّبُهُ (متفق عليه) وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ كُتِبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَصِيْبُهُ مِنَ الزِّنَا مُدْرِكٌ ذٰلِكَ لاَ مَحَالَةَ الْعَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ وَالْأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الاِسْتِمَاعُ وَاللِّسَانُ زِنَاهُ الْكَلاَمُ وَالْيَدُ زِنَاهَا الْبَطْشُ وَالرِّجْلُ زِنَاهَا الْخُطَا وَالْقَلْبُ يَهْوٰى وَيَتَمَنّٰى وَيُصَدِّقُ ذٰلِكَ الْفَرْجُ وَيُكَذِّبُهُ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاك چي د انسان په تقدير کي د زنا کومه برخه ليکلي ده هغه به ضرور د هغه څخه کيږي ، نو د سترګو زنا داده چي نامحرم چا ته وګوري، د ژبي زنا د نامحرم ښځو سره خبري کول (يعني د شهوت خبري کول) او نفس خواهش کوي او شرم ګاه دغه خواهش رښتيا کوي يا يې دروغ کوي، بخاري اومسلم، او د مسلم په يوه روايت کي د ا الفاظ دي: رسول الله ﷺ وفرمايل : پر انسان د هغه د زنا برخه په تقدير کي ليکل کي سوې ده چي هغه به هرومرو په عمل کي راولي د دواړو سترګو زنا پرديو ښځو ته (په بد نظر) کتل دي او د غوږو زنا (د پرديو ښځو خبري په شهوت سره) اورېدل دي، او د ژبي زنا د هغې سره (په شهوت) خبري کول دي او د لاس زنا ښځي ته (په بد نيت ) لاس ور وړل دي او د پښو زنا د هغې په لور ورتلل دي او زړه خواهش کوي او شرمګاه د هغې تصديق يا تکذيب کوي.

(۸۰) : وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ اَنَّ رَجُلَيْنِ مِنْ مُزَيْنَةَ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! اَرَأَيْتَ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ الْيَوْمَ؟ وَيَكْدَحُوْنَ فِيْهِ أَشَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضٰى فِيْهِمْ مِنْ قَدَرٍ سَبَقَ أَوْ فِيْمَا يَسْتَقْبِلُوْنَ بِهِ مِمَّا أَتَاهُمْ بِهِ نَبِيُّهُمْ وَثَبَتَتِ الْحُجَّةُ عَلَيْهِمْ فَقَالَ لاَ بَلْ شَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ وَمَضٰى فِيْهِمْ وَتَصْدِيْقُ ذٰلِكَ فِيْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ( وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰاهَا فَأَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰاهَا) .رواه مسلم

د حضرت عمران ﷺ څخه روایت دی چي د مزینې د قبیلې دوه خلك د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او عرض یې وکړ : اې دالله رسوله ! مونږ د دې امر څخه خبردار کړئ څه چي خلك نن سبا کوي او محنت برداشت کوي، ایا دا هغه شی دی چي د دوئ په تقدیر کي لیکل سوی دی او د هغوئ د تقدیر څخه تیر سوی دی ، یا دا هغه شی دی چي آئنده راتلونکی دی او هغه د هغوئ نبي راوړي دي او په دلیل سره پر هغوئ دا ثابت سوی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : نه، بلکه دا هغه شی دی کوم چي ټاکل سوی دی او پر هغوئ تیر سوی دی او ددې تصدیق د کلام الله د دې آیت څخه کیږي : (ونفس وماسواها...) یعني قسم دی د نفس او د هغه ذات چي هغه نفس برابر او یو ډول پیدا کړو او بیا یې په زړه کي ورته بدي او نیکي واچول. مسلم.

(۸۱) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ رَجُلٌ شَابٌّ وَأَنَا أَخَافُ عَلٰى نَفْسِيْ الْعَنَتَ وَلاَ أَجِدُ مَا أَتَزَوَّجُ بِهِ النِّسَاءَ، كَأَنَّهُ يَسْتَأْذِنُهُ فِيْ الاختصاء قَالَ فَسَكَتَ عَنِّيْ ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَسَكَتَ عَنِّيْ ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَسَكَتَ عَنِّيْ ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذٰلِكَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا أَنْتَ لاَقٍ فَاخْتَصِ عَلٰى ذٰلِكَ أَوْ ذَرْ . رواه البخاري .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي : یو ځل ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه ځلمی سړی یم او زما سره بیره ده چي په زنا اخته نه سم او نه زما سره څه شتمني سته چي یوه ښځه په نکاح کړم ،لکه چي ابوهریرة د خپل عذر په بیانولو سره د دې اجازه غوښتل چي خپل ځان خصي کړي، ابوهریرة وایي رسول الله ﷺ چي زما دا عذر واورېدی نو چپ سو او هیڅ جواب یې رانه کړ ما دویم وار عرض وکړ خو رسول الله ﷺ چپ وو په دریم وار ما بیا عرض وکړ مگر نبي ﷺ چپ وو په څلورم وار چي ما خپل الفاظ وویل نو رسول الله ﷺ وفرمایل : څه چي تا ته پېښېدونکي دي قلم (د هغه په لیکلو) وچ سوی دی اوس که څه هم ته نا مرد سي یا نه . بخاري.

(۸۲) : وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ قُلُوْبَ بَنِيْ آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمٰنِ كَقَلْبٍ وَاحِدٍ يُصَرِّفُهُ كَيْفَ يَشَاءُ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ . رواه مسلم

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی رسول الله ﷺ وفرمايل : د ټولو انسانانو زړونه د تعالی د دوو ګوتو په منځ کې دي هغه په خپلو ګوتو سره څنګه چې و غواړي زړونه اړوي را اړوي ، وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : اې د زړونو ګرځونکې خدايه زموږ زړونه خپل د طاعت او بندګۍ په لور وګرځوې . مسلم

(۸۳) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مَوْلُوْدٍ إِلاَّ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيْمَةُ بَهِيْمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّوْنَ فِيْهَا مِنْ جَدْعَاءَ ثُمَّ يَقُوْلُ ( فِطْرَةَ اللهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لاَ تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللهِ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ) (متفق عليه).

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم يو کوچنی چې زيږي هغه پر فطرت پيداکيږي (يعني په هغه کې د حق دين قبلولو صلاحيت وي) خو د هغه مور اوپلار د هغه څخه يهودي جوړ کړي يا نصراني يا مجوسي، څرنګه چې يو حيوان پوره حيوان بچی راوړي ايا تاسو په هغه کې څه نقصان موندلای سي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : فطرة الله .... (د الله فطرت دادی چې په هغه يې خلک پيدا کړي دي د خدای په پېدائښت کې هيڅ بدلون نه سي کيدلای او دا حق دين دی ) مسلم وبخاري .

(۸۴) : وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَامَ فِيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ فَقَالَ :إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لاَ يَنَامُ وَلاَ يَنْبَغِيْ لَهُ أَنْ يَنَامَ يَخْفِضُ الْقِسْطَ وَيَرْفَعُهُ يُرْفَعُ إِلَيْهِ عَمَلُ اللَّيْلِ قَبْلَ عَمَلِ النَّهَارِ وَعَمَلُ النَّهَارِ قَبْلَ عَمَلِ اللَّيْلِ حِجَابُهُ النُّوْرُ، لَوْ كَشَفَهُ لَاَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهِ مَا انْتَهٰى اِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ .رواه مسلم .

حضرت ابوموسی ﷺ وايي موږ ته رسول الله ﷺ خطبه راکړه او د پنځو خبرو يادونه يې وفرمايل ، رسول الله ﷺ وفرمايل : الله خوب نه کوي او خوب ورته مناسب هم نه دی هغه تله (رزق) کښته کوي او هم يې پورته کوي ، هغه ته د شپې عمل د ورځې د کار څخه وړاندي او د ورځې عمل د شپې د عمل څخه وړاندي ورل کيږي، د هغه حجاب (پرده) نور دی که هغه خپل حجاب پورته کړي نو د هغه د ذات نور که مخلوقاتو ته را ورسيږي نو ټول به وسوځي .

﴿۸۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَدُ اللهِ مَلْئٰ لاَ تَغِيْضُهَا نَفَقَةٌ سَحَّاءُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْفَقَ مُذْ خَلَقَ السَّمَاءَ وَالأَرْضَ ؟ فَإِنَّهُ لَمْ يُغِضْ مَا فِيْ يَدِهِ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ وَبِيَدِهِ الْمِيْزَانُ يَخْفِضُ وَيَرْفَعُ (متفق عليه) وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ يَمِيْنُ اللهِ مَلْئٰ قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ مَلْآنُ سَحَّاءُ لاَ يَغِيْضُهَا شَيْءٌ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله ﷻ لاس (خزانه) ډکه ده په خرڅ کولو سره په هغې کي کمي نه راځي په نفقه کولو سره، شپه او ورځ هغه همدارنګه کوي او ورکړه کوي ايا تاسو وينئ د څه وخت څخه چي هغه مځکه او آسمان پيداکړي دي هغه څومره نفقه کړي ده، مګر د هغه په خزانې کي څه کمي نه ده راغلې، د هغه تخت (عرش) پر اوبو وو او د هغه په لاس کي د رزق تله ده هغه پورته او کښته کوي . بخاري او مسلم، د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي : د خدای پاك راسته لاس ډك دی او ابن نمير چي د امام مسلم استاذ دی دا الفاظ نقل کړي دي چي د خدای لاس (خزانه) ډکه ده هغه هميشه ورکړه کونکی دی ، په شپه او ورځ خرڅ کولو سره په هغې کي څه کمي نه راځي .

﴿۸۶﴾ : وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذِرَارِيِّ الْمُشْرِكِيْنَ قَالَ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ (متفق عليه) .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د مشرکانو د ماشومانو په اړه پوښتنه وسول ، نبي کريم ﷺ وفرمايل :الله ﷻ ښه پوهيږي چي هغوئ به څه کول . بخاري ومسلم.

## دويم فصل

﴿۸۷﴾ : وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللهُ الْقَلَمَ فَقَالَ لَهُ اكْتُبْ فَقَالَ مَا أَكْتُبُ: قَالَ اكْتُبِ الْقَدَرَ فَكَتَبَ مَا كَانَ وَمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى الْأَبَدِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب إسنادا .

د حضرت عباده ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ فرمايل : تر ټولو اول چي الله ﷻ کوم شی پيداکړی دی هغه قلم دی، نو الله ﷻ ورته وويل وليکه ، قلم عرض وکړ څه وليکم ؟ الله ﷻ ورته وفرمايل : تقدير وليکه نو قلم وليکل څه چي(د رسو ل الله تر زمانې پوري) سوي وه او څه چي به آئنده کيدونکي وي . ترمذي وايي دا حديث د سند په اعتبار غريب دی .

(۸۸) : وَعَنْ مُسْلِمِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ سُئِلَ عُمَرُ بْنَ الْخَطَّابِ عَنْ هٰذِهِ الآيَةِ ( وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْ آدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ ..الاية) قَالَ عُمَرُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُ عَنْهَا فَقَالَ : انَّ اللهَ خَلَقَ آدَمَ ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ بِيَمِيْنِهِ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ ذُرِّيَّةً فَقَالَ خَلَقْتُ هٰؤُلاَءِ لِلْجَنَّةِ وَبِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَعْمَلُوْنَ ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ ذُرِّيَّةً فَقَالَ خَلَقْتُ هٰؤُلاَءِ لِلنَّارِ وَبِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ يَعْمَلُوْنَ ،فَقَالَ رَجُلٌ فَفِيْمَ الْعَمَلُ يَارَسُوْلَ اللهِ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ إِذَا خَلَقَ الْعَبْدَ لِلْجَنَّةِ اسْتَعْمَلَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَمُوْتَ عَلٰى عَمَلٍ مِّنْ أَعْمَالِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُدْخِلَهُ بِهِ الْجَنَّةَ وَإِذَا خَلَقَ الْعَبْدَ لِلنَّارِ اسْتَعْمَلَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتّٰى يَمُوْتَ عَلٰى عَمَلٍ مِّنْ اَهْلِ النَّارِ فَيُدْخِلَهُ بِهِ النَّارَ . رواه مالك والترمذي وأبو داود .

د حضرت مسلم بن یسار ﷺ څخه روایت دی چي عمر بن خطاب ﷺ څخه د دې آیت مطلب و پوښتل سو (و اذ اخذ ربك من بني ادم من ظهور هم.....) ما د رسول الله ﷺ څخه د دې آیت مطلب اورېدلی دی حضور ﷺ وفرمایل : الله پاك چي آدم ﷺ پیدا کړ بیا یې د هغه پر شا خپل راسته لاس را تیر کړ بیا یې د هغه څخه د هغه اولاد وایستل او وه یې فرمایل : ما دا د جنت لپاره پیداکړل دوئ به د جنتیانو کارونه کوي ، بیا یې د آدم ﷺ پر شا لاس را تیر کړ او د هغه څخه یې نور اولادونه راویستل او وه یې فرمایل : ما دوئ د دوږخ لپاره پیداکړل داخلك به د دوږخیانو کارونه کوي ، د رسول الله ﷺ د دې ارشاد په اورېدو سره یو سړي عرض وکړ اې ذالله رسوله ! نو بیا د عمل کولو څه ګټه سوه ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي الله تعالی یو سړی د جنت لپاره پیداکوي نو په هغه د جنتیانو کارونه کوي تر دې چي تر مرګه پوري هغه د جنتیانو په شان کارونه کوي او الله پاك د هغه اعمالو په سبب هغه په جنت کي داخل کوي همدارنګه کله چي یو بنده د دوږخ لپاره پیداکوي نو په هغه د دوږخیانو په شان کارونه کوي تر دې چي تر مرګه پوري هغه د دوږخیانو په شان کارونه کوي ، او الله پاك د هغه کارونو په سبب هغه په دوږخ کي داخل کړي .

(۸۹): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْ يَدَيْهِ كِتَابَانِ فَقَالَ أَتَدْرُوْنَ مَا هٰذَانِ الْكِتَابَانِ؟ قُلْنَا لاَ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ إِلاَّ أَنْ تُخْبِرَنَا فَقَالَ لِلَّذِيْ فِيْ يَدِهِ الْيُمْنٰى هٰذَا كِتَابٌ مِّنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ فِيْهِ أَسْمَاءُ أَهْلِ

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ بیان دی چي (یوځل) رسول الله ﷺ دباندي تشریف راوړ او دهغه په لاس کي دوه کتابونه وه، رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو ته څرګنده ده چي دا دوه کتابونه څنګه دي ؟ موږ عرض وکړ اې ذالله رسوله ! موږ ته نه ده څرګنده تاسو وفرمایي چي راته څرګنده سي ، رسول الله ﷺ

الْجَنَّةِ وَأَسْمَاءُ آبَائِهِمْ وَقَبَائِلِهِمْ ثُمَّ أُجْمِلَ عَلٰى آخِرِهِمْ فَلاَ يُزَادُ فِيهِمْ وَلاَ يُنْقَصُ مِنْهُمْ أَبَدًا ، ثُمَّ قَالَ لِلَّذِيْ فِيْ شِمَالِهِ هٰذَا كِتَابٌ مِّنْ رَّبِّ الْعَالَمِيْنَ فِيْهِ أَسْمَاءُ أَهْلِ النَّارِ وَأَسْمَاءُ آبَائِهِمْ وَقَبَائِلِهِمْ ثُمَّ أُجْمِلَ عَلٰى آخِرِهِمْ فَلاَ يُزَادُ فِيهِمْ وَلاَ يُنْقَصُ مِنْهُمْ أَبَدًا، فَقَالَ أَصْحَابُهُ فَفِيْمَ الْعَمَلُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ إِنْ كَانَ أَمْرٌ قَدْ فُرِغَ مِنْهُ فَقَالَ سَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا فَإِنَّ صَاحِبَ الْجَنَّةِ يُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنْ عَمِلَ أَيَّ عَمَلٍ وَإِنَّ صَاحِبَ النَّارِ يُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ وَإِنْ عَمِلَ أَيَّ عَمَلٍ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْهِ فَنَبَذَهُمَا ثُمَّ قَالَ: فَرَغَ رَبُّكُمْ مِنَ الْعِبَادِ فَرِيْقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيْقٌ فِي السَّعِيْرِ . رواه الترمذي.

د راسته لاس کتاب ته اشاره وکړه او وه یې فرمایل : دا کتاب د پروردگار له لوري دی په دې کي د جنتیانو نومونه د هغوئ د پلرو نومونه او د هغوئ د قبیلو نومونه درج دي او په آخر کي د هغوئ جمع بندي سوې ده اوس نه په هغه کي څه زیاتوب کیږي او نه کمي کیدلای سي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ د چپه لاس کتاب ته اشاره وکړه او وه یې فرمایل : دا کتاب د پروردگار د لوري دی او په دې کي د د دوږخیانو نومونه د هغوئ د پلرو نومونه او د هغوئ د قبیلو نومونه درج دي او په پای کي جمع بندي سوې ده اوس په دې کي نه څه زیاتوب کیږي او نه کمي ، صحابه کرامو عرض وکړ : اې دالله رسوله ! هر کله چي هر څه تر مخه څخه لیکل سوي دي نو بیا د عمل کولو څه گټه ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : عمل درست کړئ او حقه لاره ټینگه ونیسئ د خدای قربت لټوئ ځکه چي د جنتیانو د آخري عهد (وخت) کارونه به د جنتیانو په شان وي اگر که (تول عمر) هر څنگه بنه یا بد کارونه کړي وي د دوږخي د آخري وخت کارونه به د دوږخیانو په شان وي اگر که هغه ټول عمر هر څنگه عمل کړی وي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ دواړو لاسو ته حرکت ورکړ او کتابونه یې کښېښودل او وه یې فرمایل : ستاسو رب د بندگانو د کار څخه فارغ سو (یعني حکم یې وکړ) چي یوه ټولۍ به جنت ته ځي او بله ټولۍ به دوږخ ته . ترمذي.

(۹۰): وَعَنْ أَبِيْ خِزَامَةَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتَ رُقًى نَسْتَرْقِيْهَا وَدَوَاءً نَتَدَاوٰى بِهِ وَتُقَاةً نَتَّقِيْهَا هَلْ تَرُدُّ مِنْ قَدَرِ اللهِ شَيْئًا ؟ قَالَ هِيَ مِنْ قَدَرِ اللهِ . رواه احمد والترمذي وابن ماجه

د حضرت ابن خزامه ﷺ د خپل پلار څخه روایت کوي چي هغه رسول الله ﷺ ته عرض وکړ: اې د الله رسوله ! دا راته وښیه چي کوم دم او منتر چي موږ کوو او کوم دارو یا درمل چي موږ کوو او خپل د خلاصون تدبیرونه (مثلا په غزا کي سپر وغیره) موږ کوو ایا دا شیان د الله ﷻ تقدیر بدلوي، رسول الله ﷺ وفرمایل : دا شیان هم په تقدیر کي گډ دي. احمد ، ترمذي او ابن ماجه .

(۹۱):و عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نَتَنَازَعُ فِي الْقَدَرِ فَغَضِبَ حَتّٰى احْمَرَّ وَجْهُهُ حَتّٰى كَاَنَّمَا فُقِئَ فِي وَجْنَتَيْهِ حَبُّ الرُّمَّانُ فَقَالَ اَبِهٰذَا اُمِرْتُمْ اَمْ بِهٰذَا اُرْسِلْتُ اِلَيْكُمْ؟ اِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حِيْنَ تَنَازَعُوْا فِي هٰذَا الْاَمْرِ عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ اَلَّا تَتَنَازَعُوْا فِيْهِ (رواه الترمذي) و روى ابن ماجة نحوه عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده .

د حضرت ابوهريرة ﷜ څخه روايت دی چي موږ موږ ناست وو او د تقدير پر مسئله مو خبري کولې چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ او د غصې څخه د رسول الله ﷺ مبارك مخ داسي سور سو لکه چي د انار دانې يې دده مبارك په مخ کي نښتيږلي دي بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا تاسو ته حکم سوی دی چي زه تاسو ته د دې لپاره راليږل سوی يم ، ستاسو څخه وړاندي چي کوم قومونه تير سوي دي هر کله چي هغوئ په دې مسئله مناقشه (جګړه) وکړه نو هغوئ هلاك کړل سوه. زه تاسو ته قسم درکوم او دوهم ځل قسم درکوم چي آئنده په دې مسئله کي جګړه مه کوئ ، ترمذي، ابن ماجه هم دا ډول روايت د عمرو بن شعيب څخه روايت کړی دی چي هغه د خپل پلار او پلار يې د نيکه څخه نقل کړی دی .

(۹۲): وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ آدَمَ مِنْ قَبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيْعِ الْاَرْضِ فَجَاءَ بَنُوْ آدَمَ عَلٰى قَدْرِ الْاَرْضِ مِنْهُمُ الْاَحْمَرُ وَالْاَبْيَضُ وَالْاَسْوَدُ وَبَيْنَ ذٰلِكَ وَالسَّهْلُ وَالْحَزْنُ وَالْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ . رواه احمد والترمذي وأبو داود .

د حضرت ابوموسی ﷜ څخه روايت دی چي ما درسول الله ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل يې : الله ﷻ آدم ؑ د يو موټ (خاورو) څخه پيدا کړ چي هغه د ټولي مځکي څخه اخيستل سوې وه نو د آدم ؑ اولاد يې د هغې مځکي موافق يعني کوم ډول چي خاوره وه په هغه ډول پيدا کړ ، ځيني په هغوئ کي سور رنګه، ځيني سپين رنګه او ځيني نور او ځيني درميانه او ځيني په دوئ کي نرم مزاجه او ځيني سخت مزاجه او ځيني په دوئ کي ناپاك او ځيني پاك دي . احمد ، ترمذي او ابوداؤد.

(۹۳): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ اللّٰهَ خَلَقَ خَلْقَهُ فِيْ ظُلْمَةٍ فَاَلْقٰى عَلَيْهِمْ مِنْ نُوْرِهِ فَمَنْ اَصَابَهُ مِنْ ذٰلِكَ النُّوْرِ اهْتَدٰى وَمَنْ اَخْطَاَهُ ضَلَّ فَلِذٰلِكَ اَقُوْلُ جَفَّ الْقَلَمُ عَلٰى عِلْمِ اللّٰهِ . رواه احمد والترمذي

حضرت عبدالله بن عمرو ﷜ فرمايي چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي الله تعالی خپل مخلوق په تياره کي پيدا کړ او بيا يې خپل نور ور باندي و غورځوی، پر چا چي هغه نور پريوت نو د هغه د هدايت لار په برخه سوه او چا ته چي نور نه ورسيد هغه ګمراه سو ، په دې اړه زه وايم چي قلم د خدای ﷻ په حکم وچ سو .احمد او ترمذي.

(۹۴): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَّقُوْلَ يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ آمَنَّا بِكَ وَبِمَا جِئْتَ بِهِ فَهَلْ تَخَافُ عَلَيْنَا ؟ قَالَ نَعَمْ إِنَّ الْقُلُوْبَ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ اللهِ يُقَلِّبُهَا كَيْفَ يَشَاءُ . رواه الترمذي وابن ماجه .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به زيات وخت دا دعاء كول : اې د زړونو ګرځونکې خدايه! زما زړه پر خپل دين قائم ولرې ، ما (يو ځل) عرض وكړ اې د الله رسوله ! موږ پر تا ايمان راوړی دی او كوم احكام چي تا سو راوړی دي په هغه مو هم ايمان دی نو ايا په داسي حالت كي هم زموږ په معامله كي بيريږئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :(د بندګانو) زړونه د الله د دوو ګوتو په قبضه كي دي څنګه چي هغه غواړي حركت كي يې راولي. ترمذي او ابن ماجه .

(۹۵): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ الْقَلْبِ كَرِيْشَةٍ بِأَرْضٍ فَلَاةٍ يُقَلِّبُهَا الرِّيْحُ ظَهْرًا لِبَطْنٍ . رواه أحمد .

د حضرت ابوموسى ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زړه د بڼكي په شان دی چي په آوار ميدان كي پرته ده او هواګاني يې آخوا دېخوا اړوي را اړوي . احمد

(۹۶): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى يُؤْمِنَ بِأَرْبَعٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ بَعَثَنِيْ بِالْحَقِّ وَيُؤْمِنُ بِالْمَوْتِ وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ وَيُؤْمِنُ بِالْقَدْرِ . رواه الترمذي وابن ماجه .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بنده تر هغه وخته مؤمن كيدلای نه سي ترڅو چي په دې څلورو خبرو يقين ونه لري : ۱- د دې شاهدي وركول چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او زه (محمد ﷺ) د الله رسول يم زه الله په حقه راليږلی يم ۲- مرګ حق وګڼي ۳- د مرګ څخه وروسته بيرته ژوندي كيدل حق وګڼي ۴- او په تقدير باندي ايمان ولري .ترمذي، ابن ماجه.

(۹۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صِنْفَانِ مِنْ أُمَّتِيْ لَيْسَ لَهُمَا فِيْ الْإِسْلَامِ نَصِيْبٌ الْمُرْجِئَةُ وَالْقَدَرِيَّةُ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت كي دوې ډلي داسي دي چي د هغوئ به په اسلام كي هيڅ برخه نه وي : مرجيه او قدريه ، ترمذي ليكلي دي چي دا حديث غريب دی .

(۹۸): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَكُوْنُ فِيْ أُمَّتِيْ خَسْفٌ وَمَسْخٌ وَذٰلِكَ فِي الْمُكَذِّبِيْنَ بِالْقَدَرِ . رواه أبو داود وروى الترمذي نحوه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي ما درسول الله ﷺ څخه واوریدل : زما په امت کي به خسف (په مځکه کي ژوندي ښخېدل) او مسخ (شکل بدليدل) دواړه وي او په دې کي به هغه خلك اخته وي چي د تقدير څخه انکار کوي ، ابوداؤد او ترمذي هم دا ډول روايت بيان کړی دی .

(۹۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْقَدَرِيَّةُ مَجُوْسُ هٰذِهِ الأُمَّةَ إِنْ مَرِضُوْا فَلَا تَعُوْدُوْهُمْ وَإِنْ مَاتُوْا فَلَا تَشْهَدُوْهُمْ . رواه أحمد وأبو داود .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : قدریه ډله د امت مجوس دي که هغوئ ناروغ وي نو پوښتني ته مه ورځئ او که مړه سي نو جنازه يې مه کوئ.

(۱۰۰) : وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُجَالِسُوْا أَهْلَ الْقَدَرِ وَلَا تُفَاتِحُوْهُمْ رواه أبو داود .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل :د قدریه ډلي خلگو سره مه کښېنئ او مه د هغوئ څخه محاکمه غواړي

(۱۰۱) : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةٌ لَعَنْتُهُمْ وَلَعَنَهُمُ اللهُ وَكُلُّ نَبِيٍّ يُجَابُ الزَّائِدُ فِيْ كِتَابِ اللهِ وَالْمُكَذِّبُ بِقَدَرِ اللهِ وَالْمُتَسَلِّطُ بِالْجَبَرُوْتِ لِيُعِزَّ مَنْ أَذَلَّهُ اللهُ وَيُذِلَّ مَنْ أَعَزَّهُ اللهُ وَالْمُسْتَحِلُّ لِحَرَمِ اللهِ وَالْمُسْتَحِلُّ مِنْ عِتْرَتِيْ مَا حَرَّمَ اللهُ وَالتَّارِكُ لِسُنَّتِيْ . رواه البيهقي في المدخل وَرَزِيْنٌ في كتابه .

د حضرت عائشي رض څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : شپږ ډوله خلك دي چي زه پر هغوئ لعنت وايم او خدای هم لعنت پر کوي او د هر نبي دعاء قبليږي : ۱- هغه خلك چي د خدای په کتاب کي زياتوالی کوي ۲- د خدای تقدير دروغجن گڼي ۳- په زور غلبه حاصلونکی چي هغه سړي ته عزت ورکړي کوم چي خدای ذليل کړی وي او هغه چا ته ذلت ورکړی کوم چي خدای عزت مند کړی وي ۴- د الله حرام حلالونکی (یعني حرم مکه کي چي کومي خبري خدای منع کړي دي هغه حلال وگڼي) ۵- زما د اولاد په اړه هغه شی حلال گڼونکی کوم چي الله حرام کړی دی ۶- او چا چي زما سنت پرې ايښي وي .

(۱۰۲) : وَعَنْ مَطَرِ بْنِ عُكَامِسٍ قَالَ

د حضرت مطر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ

قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَضَى اللهُ لِعَبْدٍ أَنْ يَمُوْتَ بِأَرْضٍ جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً . رواه أحمد والترمذي .

وفرمایل : هر کله چي الله د یو چا مرگ په یو هیواد کي تاکلی وي نو د هغه هیواد په لوري د هغه حاجت هم پیدا کړي او هلته د مرگ ښکار سي .احمد او ترمذي،

﴿۱۰۳﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ذَرَارِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ ؟ قَالَ مِنْ آبَائِهِمْ . فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ بِلاَ عَمَلٍ ؟ قَالَ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ . قُلْتُ فَذَرَارِيُّ الْمُشْرِكِيْنَ ؟ قَالَ مِنْ آبَائِهِمْ . قُلْتُ بِلاَ عَمَلٍ ؟ قَالَ اللهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا عَامِلِيْنَ . رواه أبو داود

د حضرت عائشي رض څخه روایت دی چي (یوځل) ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اې دالله رسوله ! د مؤمنانو د ماشومانو څه حکم دی ، نبي کریم ﷺ وفرمایل : هغوئ د خپلو پلرو تابع دي ، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! د عمل څخه پرته ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : الله ډیر ښه پوهیږي چي دغه ماشومانو به څه کول ، بیا ما عرض وکړ : دمشرکانو د ماشومانو څه حکم دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : هغوئ هم د خپلو پلرو تابع دي ما عرض وکړ : د عمل څخه پرته ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : الله ښه پوهیږي چي هغوئ به څه کول . ابوداؤد.

﴿۱۰۴﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْوَائِدَةُ وَالْمَوْؤُدَةُ فِي النَّارِ . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ژوندي (بچي) ښخونکې (ښځه) او هغه چي ښخ کړل سوی وي دواړه به په دوزخ کي وي .

## دریم فصل

﴿۱۰۵﴾ : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ فَرَغَ إِلَىٰ كُلِّ عَبْدٍ مِّنْ خَلْقِهِ مِنْ خَمْسٍ مِنْ أَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَمَضْجَعِهِ وَأَثَرِهِ وَرِزْقِهِ . رواه أحمد .

د حضرت ابوالدرداء ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی د هر بنده په اړه د پنځو خبرو څخه فراغت حاصل کړی دی (یعني دا پنځه خبري د هغه په تقدیر کي لیکل سوي دي) ۱- د هغه مرگ ۲- د هغه (نیک او بد)عمل ۳- د هغه د هستوگني ځای ۴- د هغه د ستنېدو ځای ۵- د هغه رزق.

(۱۰۶) : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ تَكَلَّمَ فِيْ شَيْءٍ مِّنَ الْقَدَرِ سُئِلَ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَّمْ يَتَكَلَّمْ فِيْهِ لَمْ يُسْأَلْ عَنْهُ . رواه ابن ماجه .

د حضرت عائشې رض څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدل څوك چي د تقدير په مسئله کي بحث کوي د هغه څخه به د قيامت په ورځ د هغه پوښتنه کيږي او کوم سړی چي پټه خوله سي د هغه څخه به هيڅ پوښتنه نه کيږي .

(۱۰۷) : وَعَنِ ابْنِ الدَّيْلَمِيِّ قَالَ اَتَيْتُ اُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ فَقُلْتُ لَهُ قَدْ وَقَعَ فِيْ نَفْسِيْ شَيْءٌ مِّنَ الْقَدَرِ فَحَدِّثْنِيْ لَعَلَّ اللهَ اَنْ يُّذْهِبَهُ مِنْ قَلْبِيْ فَقَالَ لَوْ اَنَّ اللهَ عَذَّبَ اَهْلَ سَمَاوَاتِه وَاَهْلَ اَرْضِه عَذَّبَهُمْ وَهُوَ غَيْرُ ظَالِمٍ لَّهُمْ وَلَوْ رَحِمَهُمْ كَانَتْ رَحْمَتُهٗ خَيْرًا لَّهُمْ مِنْ اَعْمَالِهِمْ فَلَوْ اَنْفَقْتَ مِثْلَ اُحُدٍ ذَهَبًا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ مَا قَبِلَهُ مِنْكَ حَتّٰى تُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ فَتَعْلَمَ اَنَّ مَا اَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِّيُخْطِئَكَ وَاَنَّ مَا اَخْطَاَكَ لَمْ يَكُنْ لِّيُصِيْبَكَ وَ لَوْ مُتَّ عَلٰى غَيْرِ هٰذَا لَدَخَلْتَ النَّارَ ، قَالَ ثُمَّ اَتَيْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ مَسْعُوْدٍ فَقَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ قَالَ ثُمَّ اَتَيْتُ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ فَقَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ اَتَيْتُ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ فَحَدَّثَنِيْ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ. (رواه احمد وابوداؤد وابن ماجة)

حضرت ابن ديلمي رض وايي زه ابی بن کعب ته راغلم او ورته وه مي ويل د تقدير په اړه زما په زړه کي څه شبهات پيدا سوي دي ما ته داسي يو حديث بيان کړه چي د هغه په اوريدو سره که الله وغواړي نو شايد زما شبهات ليري سي ، هغه وويل که الله پاك آسمانو او مځکو والا په عذاب کړي نو هغه به پر هغوئ هيڅ ظلم کونکی نه وي او که پر هغوئ رحم وکړي نو د هغه رحمت به د هغوئ د اعمالو څخه غوره وي ، که ته د اُحد برابر هم د خدای په لاره کي زر مصرف کړي نو ستا دا عمل تر هغو نه قبليږي تر څو چي ته پر تقدير پوره عقيده او ايمان ونه لرې او په دې خبره ښه پوه سه چي څه تا ته رسيدلي دي هغه بندېدونکي او خطاکېدونکي نه وو او کوم شی چي تاته رسيدونکی نه وو هغه هيڅ کله تاته نه سو رسيدلای يعني څه چي تاته حاصل سي هغه ستا د کوښښ نتيجه نه ده بلکه په تقدير کي داسي وه او کوم شی چي تاته حاصل نه سو هغه ستا په کوښښ سره هم تاته نه سو تر لاسه کېدلای ځکه چي تقدير الهي دغسي وو ، که ته د دې اعتقاد خلاف عقيده ولرې او په دې حالت کي مړ سې نو يقينا دوږخ ته به ځې ، ابن ديلمي وايي د ابی بن کعب د دې بيان اورېدو وروسته زه عبدالله بن مسعود ته ورغلم هغه هم داسي بيان وکړ بيا حذيفه بن اليمان ته ورغلم هغه هم داسي بيان وکړ بيا زيد بن ثابت ته ورغلم هغه هم دا ډول حديث د رسول الله ﷺ څخه روايت کړ . احمد ، ابوداؤد او ابن ماجه .

(۱۰۸) : وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ رَجُلاً أَتَى ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ إِنَّ فُلاَنًا يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلاَمَ فَقَالَ إِنَّهُ بَلَغَنِيْ أَنَّهُ قَدْ أَحْدَثَ فَإِنْ كَانَ قَدْ أَحْدَثَ فَلاَ تُقْرِئْهُ مِنِّي السَّلاَمَ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ يَكُوْنُ فِيْ هٰذِهِ الأُمَّةِ أَوْ فِيْ أُمَّتِيْ خَسْفٌ أَوْ مَسْخٌ أَوْ قَذْفٌ فِيْ أَهْلِ الْقَدَرِ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح غريب .

د حضرت نافع ﷛ بيان دی چي يو سړی ابن عمر ﷛ ته راغلی او ورته وه يې ويل چي فلاني سړي پر تا سلام وايه ، ابن عمر ورته وويل ما ته دا خبر را رسيدلی دی چي دې سړي په دين کي نوې خبره پيدا کړې ده که واقعي هغه داسي کړي وي نو زما د طرفه څخه ورته د سلام جواب مه رسوه ځکه چي ما درسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي زما د امت څخه خسف او مسخ يا قذب به د هغه خلګو وي چي د تقدير څخه منکر وي ، (خسف په مځکه کي ښخېدلو ، مسخ د شکل بدلېدلو او قذف ډبري اورېدلو ته وايي) ، او ترمذي ويلي دي چي دا حديث حسن صحيح او غريب دی .

(۱۰۹) :وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَأَلَتْ خَدِيْجَةُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَّلَدَيْنَ مَاتَا لَهَا فِيْ الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُمَا فِي النَّارِ قَالَ فَلَمَّا رَأَى الْكَرَاهَةَ فِيْ وَجْهِهَا قَالَ لَوْ رَأَيْتِ مَكَانَهُمَا لَأَبْغَضْتِهِمَا قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَوَلَدِيْ مِنْكَ قَالَ فِي الْجَنَّةِ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُؤْمِنِيْنَ وَأَوْلاَدَهُمْ فِي الْجَنَّةِ وَإِنَّ الْمُشْرِكِيْنَ وَأَوْلاَدَهُمْ فِي النَّارِ ثُمَّ قَرَأَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (وَالَّذِيْنَ آمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ ....) رواه احمد

د حضرت علي ﷛ څخه روايت دی چي بي بي خديجې رض د رسول الله ﷺ څخه د خپلو هغه دوو زامنو په اړه پوښتنه وکړه چي د جاهليت په زمانه کي مړه سوي وه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه دواړه په دوزخ کي دي، حضرت علي ﷛ فرمايي هر کله چي رسول الله ﷺ وليدل چي د دې په اورېدو سره د بي بي خديجې رنګ بدل سو او هغه خفه سول نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که ته د هغوئ ټيکانه او حال ووينې نو دهغوئ څخه به نفرت وکړې ، د دې په اورېدو سره بي بي خديجې رض، وويل اې دالله رسوله ! او زما اولاد کوم چي ستاسو څخه پيدا دي (يعني قاسم او عبدالله) رسول الله ﷺ وفرمايل هغوئ په جنت کي دي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل چي : مؤمنان اود هغوئ اولاد په جنت کي دي او مشرکين او د هغوئ اولاد په دوزخ کي دي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ دغه آيت تلاوت کړ : (والذين آمنو واتبعتهم ذريتهم) (کومو خلګو چي ايمان راوړ او د هغوئ اولاد چي د هغوئ اطاعت يې وکړ موږ به يې د هغو سره ساتو) .احمد .

(۱۱۰) : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لَمَّا خَلَقَ اللهُ آدَمَ مَسَحَ ظَهْرِهِ فَسَقَطَ مِنْ ظَهْرِهِ كُلُّ نَسَمَةٍ هُوَ خَالِقُهَا مِنْ ذُرِّيَّتِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَجَعَلَ بَيْنَ عَيْنَيْ كُلِّ إِنْسَانٍ مِّنْهُمْ وَبِيْصًا مِّنْ نُوْرٍ ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى آدَمَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ مَنْ هٰؤُلَاءِ قَالَ ذُرِّيَّتُكَ فَرَاَى رَجُلاً مِّنْهُمْ فَأَعْجَبَهُ وَبِيْصُ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ قَالَ أَيْ رَبِّ مَنْ هٰذَا ؟ قَالَ دَاوُدُ، فَقَالَ اَيْ رَبِّ كَمْ جَعَلْتَ عُمْرَهُ؟ قَالَ سِتِّيْنَ سَنَةً قَال رَبِّ زِدْهُ مِنْ عُمْرِيْ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً، قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا انْقَضٰى عُمْرُ آدَمَ اِلَّا اَرْبَعِيْنَ جَاءَهُ مَلَكُ الْمَوْتِ فَقَالَ آدَمُ أَوَلَمْ يَبْقَ مِنْ عُمْرِيْ أَرْبَعُوْنَ سَنَةً؟ قَالَ أَوَلَمْ تُعْطِهَا ابْنَكَ دَاوُدَ؟ قَالَ فَجَحَدَ آدَمُ فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ وَنَسِيَ آدَمُ فَاَكَلَ مِنَ الشَّجَرَةِ فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ وَخَطِئَ آدَمُ وَخَطِئَتْ ذُرِّيَّتُهُ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي الله ﷻ آدم ﷺ پيداكړ نو دهغه پر شا يې لاس راتير كړ نو د هغه د شا څخه ټول ارواح راووتل كوم چي د آدم ﷺ په اولاد كي الله پاك تر قيامته پوري پيداكونكى وو، بيا الله تعالى د هغوئ څخه د هر يوه د دوو سترگو په منځ كي نور كښېښود او بيا يې هغه ټول د آدم ﷺ په وړاندي ودرول ، آدم ﷺ پوښتنه وكړه پاكه ربه دا څوك دي ؟ الله ﷻ ورته وفرمايل دا ټول ستا اولاد دي، آدم ﷺ چي د هغو څخه د يوه د سترگو په منځ كي څه ډير نور وليدى نو حيران پاته سو او د الله ﷻ څخه يې پوښتنه وكړه پاكه ربه دا څوك دى ؟ الله ﷻ ورته وفرمايل : دا داؤد ﷺ دى ، آدم ﷺ پوښتنه وكړه اې زما ربه دده عمر تا څومره ټاكلى دى ؟ الله ﷻ ورته وفرمايل شپېته كاله ، آدم ﷺ وويل : اې زما ربه دده په عمر كي زما د عمر څخه څلوېښت كاله زيات كړه ، راوي وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل كله چي د آدم ﷺ څلوېښت كاله پاته سوه نو دمرگ ملائكه راغله نو آدم ﷺ ورته وويل ايا زما په عمر كي څلوېښت كاله پاته نه دي ؟ د مرگ ملائكي ورته وويل : ايا تا د اخپل عمر څلوېښت كاله خپل زوى داؤد ته نه وه وركړي ؟آدم ﷺ د هغه څخه انكار وكړ او د هغه اولاد هم انكار كوي ، او آدم ﷺ خپل قول هير كړ او هغه د ممنوعه وني ميوه يې وخوړل او د هغه اولاد هم هيره كوي او آدم ﷺ خطا كړې ده او د هغه اولاد هم خطا كوي . ترمذي.

(۱۱۱) : وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَلَقَ اللهُ آدَمَ حِيْنَ خَلَقَهُ فَضَرَبَ كَتِفَهُ الْيُمْنٰى فَأَخْرَجَ ذُرِّيَّةً بَيْضَاءَ كَأَنَّهُمُ الذَّرُّ وَضَرَبَ كَتِفَهُ الْيُسْرٰى فَأَخْرَجَ ذُرِّيَّةً سَوْدَاءَ

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاك چي كله آدم ﷺ پيدا كړ نو د هغه په راسته اوږه يې لاس ووهلو او د هغې څخه يې سپين اولاد پيداكړ لكه چي هغه ميږي وي بيا

كَأَنَّهُمُ الْحُمَمُ فَقَالَ لِلَّذِيْ فِيْ يَمِيْنِه إِلَى الْجَنَّة وَلاَ أُبَالِيْ وَقَالَ لِلَّذِيْ فِيْ كَتِفِهِ الْيُسْرٰى إِلَى النَّارِ وَلاَ أُبَالِيْ . رواه أحمد .

په چپه اوږه يې (لاس) ووهلو او د هغې څخه تور اولاد پيداسوه لکه هغه چي سکاره وي او د هغه وروسته الله پاك وفرمايل : د راسته طرف اولاد به جنت ته ځي او زما په دې څه پروا نسته او دچپ طرف اولاد به دوږخ ته ځي او زما په دې څه پروا نسته . رواه احمد.

﴿١١٢﴾ : وَعَنْ أَبِيْ نَضْرَةَ أَنَّ رَجُلاً مِّنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَالُ لَهُ أَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ دَخَلَ عَلَيْهِ أَصْحَابُهُ يَعُوْدُوْنَهُ وَهُوَ يَبْكِيْ فَقَالُوْا لَهُ مَا يُبْكِيْكَ ؟ أَلَمْ يَقُلْ لَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذْ مِنْ شَارِبِكَ ثُمَّ أَقِرَّهُ حَتّٰى تَلْقَانِيْ قَالَ بَلٰى وَلٰكِنْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ قَبَضَ بِيَمِيْنِه قَبْضَةً وَأُخْرٰى بِالْيَدِ الْأُخْرٰى وَقَالَ هٰذِه لِهٰذِه وَهٰذِه لِهٰذِه وَلاَ أُبَالِيْ وَلاَ أَدْرِيْ فِيْ أَيِّ الْقَبْضَتَيْنِ أَنَا . رواه احمد .

د حضرت ابو نضره ؓ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ يو صحابي چي نوم يې ابوعبدالله و د هغه دوستان چي د هغه پوښتني ته ورغلل نو هغه ژړل، دوستانو ورته وويل ولي ژاړې ايا تاته رسول الله ﷺ نه وو فرمايلي چي د خپلو شونډو وربښتان غچي کوه يا خريه، او پر دې قائم اوسه تر څو چي زما سره (په جنت ) کي يوځای سې ، ابوعبدالله ورته وويل مگر ما د رسول الله ﷺ څخه دا هم اوريدلي دي چي الله تعالى د خپل راسته لاس موټ تك وهو او دويم موټ يې د چپه لاس (ډك كړلو) او وه يې فرمايل : دا (يعني د راسته موټ) د جنت دپاره او زما په دوئ هيڅ پروا نسته ، د دې وروسته ابوعبدالله وويل زه نه سم ويلای چي په دې دواړو موټانو کي په کوم يوه کي زه يم .احمد.

﴿١١٣﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَخَذَ اللّٰهُ الْمِيْثَاقَ مِنْ ظَهْرِ آدَمَ بِنَعْمَانَ يَعْنِيْ عَرَفَةَ فَأَخْرَجَ مِنْ صُلْبِه كُلَّ ذُرِّيَّةٍ ذَرَأَهَا فَنَثَرَهُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ كَالذَّرِّ ثُمَّ كَلَّمَهُمْ قُبُلاً قَالَ ( أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى شَهِدْنَا أَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غَافِلِيْنَ أَوْ تَقُوْلُوْا إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنْ بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ ) رواه احمد

حضرت ابن عباس ؓ د رسول الله ﷺ څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د عرفات ميدان ته نژدې په نعمان نامي ځای کي الله تعالى د آدم ؑ د هغه اولاد څخه چي د هغه په ملا کي وو عهد واخيست نو د آدم ؑ د شا څخه يې ټول اولاد راوکښی او هغه يې د آدم ؑ په وړاندي د ميږيانو په شان خپاره کړه بيا د هغوئ سره الله تعالى دا خبري وکړې ايا زه ستاسو رب نه يم؟ د آدم ؑ اولاد ورته وويل بې شکه ته زموږ رب يې، بيا الله

پاك ورته وفرمايل دا شهادت ما ستاسو څخه څکه واخيست چي د قيامت په ورځ چيري دا ونه وايي چي موږ د دې څخه غافله وو يا داسي ونه وایاست چي زموږ پلرو او نيکو زموږ څخه وړاندي شرك کړی وو او موږ د هغوئ اولاد وو نو ايا ته د باطل پرستو د اعمالو په وجه موږ هلاك کوې . احمد .

﴿۱۱۴﴾ : عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ فِيْ قَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ( وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْ آدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ) قَالَ جَمَعَهُمْ فَجَعَلَهُمْ أَزْوَاجًا ثُمَّ صَوَّرَهُمْ فَاسْتَنْطَقَهُمْ فَتَكَلَّمُوْا، ثُمَّ أَخَذَ عَلَيْهِمُ الْعَهْدَ وَالْمِيْثَاقَ وَأَشْهَدَهُمْ عَلٰى أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوْا بَلٰى قَالَ فَإِنِّيْ أُشْهِدُ عَلَيْكُمُ السَّمٰوَاتِ السَّبْعَ وَالْأَرَضِيْنَ السَّبْعَ وَأُشْهِدُ عَلَيْكُمْ أَبَاكُمْ آدَمَ أَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَمْ نَعْلَمْ بِهٰذَا اعْلَمُوْا أَنَّهُ لاَ إِلٰهَ غَيْرِيْ وَلاَ رَبَّ غَيْرِيْ وَلاَ تُشْرِكُوْا بِيْ شَيْئًا إِنِّيْ سَأُرْسِلُ إِلَيْكُمْ رُسُلِيْ يُذَكِّرُوْنَكُمْ عَهْدِيْ وَمِيْثَاقِيْ وَأُنْزِلُ عَلَيْكُمْ كُتُبِيْ، قَالُوْا شَهِدْنَا بِأَنَّكَ رَبُّنَا وَإِلٰهُنَا لاَ رَبَّ لَنَا غَيْرُكَ وَلاَ اِلٰهَ لَنَا غَيْرُكَ فَأَقَرُّوْا بِذٰلِكَ وَرُفِعَ عَلَيْهِمْ آدَمُ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ فَرَأَى الْغَنِيَّ وَالْفَقِيْرَ وَحَسَنَ الصُّوْرَةِ وَدُوْنَ ذٰلِكَ فَقَالَ رَبِّ لَوْلاَ سَوَّيْتَ بَيْنَ عِبَادِكَ قَالَ إِنِّيْ أَحْبَبْتُ أَنْ أُشْكَرَ وَرَأَى الْأَنْبِيَاءَ فِيْهِمْ مِثْلَ السُّرُجِ عَلَيْهِمُ النُّوْرُ خُصُّوْا بِمِيْثَاقٍ آخَرَ فِي الرِّسَالَةِ وَالنُّبُوَّةِ وَهُوَ قَوْلُهُ تَعَالٰى ( وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّيْنَ مِيْثَاقَهُمْ ... إِلٰى قَوْلِهِ عِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ) كَانَ فِيْ تِلْكَ الْأَرْوَاحِ فَأَرْسَلَهُ إِلٰى مَرْيَمَ فَحُدِّثَ عَنْ أُبَيٍّ أَنَّهُ دَخَلَ مِنْ فِيْهَا . رواه أحمد .

د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه د دې آيت په تفسير کي نقل دي ( وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْ آدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ) چي الله پاك هغوئ (د آدم اولاد) راجمع کړل او هغوئ يې ډول ډول وګرځول (يعني ځوك يې شتمن او ځوك يې غريب کړل) بيا يې هغوئ ته شکل او صورت ورکړ بيا يې د اوريدلو قوت ورکړل او هغوئ خبري وکړې بيا يې د هغوئ څخه عهد او اقرار واخيست بيا يې شاهدان کړل پر خپلو ځانو او پوښتنه يې ځيني وکړه ايا زه ستا رب نه يم؟ هغوئ ورته وويل :هو، بيا الله تعالى هغوئ ته وفرمايل : زه اووه آسمانونه او اووه مځکي او ستاسو پلار ادم (عليه السلام) پر تاسو شاهد کوم څکه چي د قيامت په ورځ تاسو دا ونه وایاست چي موږ ددې څخه ناخبره وو تاسو ښه پوه سئ چي زما څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او نه بل رب سته ، تاسو زما سره ځوك مه شريك کوئ، زه به پر تاسو ژر خپل رسولان راوليږم چي تاسو ته به زما عهد او اقرار در يادوي او پر تاسو به خپل کتابونه هم نازل کړم ، د دې په اوريدو سره د آدم ﷺ ټول اولاد وويل موږ شاهدي ورکوو چي ته زموږ رب يې او زموږ خدای يې ستا څخه پرته نه زموږ بل رب سته او نه بل خدای ، د آدم ﷺ ټول اولاد د دې اقرار وکړ آدم ﷺ لوړ کړل سو او

هغه دا منظر ولیدی چي د هغه په اولاد کي شتمن هم سته غریب هم سته ، ښکلی هم سته او بد رنگه هم سته ، د دې په لیدو سره آدم ﷺ الله تعالی ته عرض وکړ چي اې پرودرگاره ! تا خپل بندگان یو شان ولي پیدا نه کړل ؟ الله ورته وفرمایل : زه غواړم چي زما بندگان زما شکر ادا کړي بیا آدم ﷺ (په دې ډله کي) انبیاء ولیدل چي د څراغ په شان ځلانده وه او نور (روښنائي) هم باندي وو د هغوئ څخه په خاصه توگه د رسالت او نبوت عهد واخیستل سو لکه چي د الله تعالی په قول کي ذکر دي : (و اذ اخذنا من النبیین میثاقهم..... عیسی ابن مریم ) په دې ډله کي عیسی بن مریم وو ، الله پاك د هغه روح بي بي مریم ته ولیږل ، حضرت أبی وایي چي روح د بي بي مریم د خولې د لوري د هغې په بدن کي داخل سو . احمد

(۱۱۵) : عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَتَذَاكَرُ مَا يَكُوْنُ إِذْ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعْتُمْ بِجَبَلٍ زَالَ عَنْ مَكَانِه فَصَدِّقُوْهُ وَإِذَا سَمِعْتُمْ بِرَجُلٍ تَغَيَّرَ عَنْ خُلُقِه فَلاَ تُصَدِّقُوْا بِه فَإِنَّهُ يَصِيْرُ إِلى مَا جُبِلَ عَلَيْهِ . رواه أحمد .

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو د راتلونکو واقعاتو په اړه مو خبري اتري کولې چي رسول الله ﷺ (زموږ د خبرو په اوریدو سره) وفرمایل : هر کله چي تاسو واورئ چي یو غر د خپل ځای څخه آخوا سوی دی نو هغه رښتیا وگڼئ مگر هر کله چي تاسو واورئ چي د یو سړي عادت بدل سوی دی نو په دې هیڅکله یقین مه کوئ ځکه چي انسان د هغه شي په لور گرځي پر کوم چي پیدا کړل سوی دی . احمد

(۱۱۶) : وَعَنْ أُمِّ سَلْمَةَ قَالَتْ يَارَسُوْلَ اللهِ! لاَ يَزَالُ يُصِيْبُكَ فِيْ كُلِّ عَامٍ وَجَعٌ مِنَ الشَّاةِ الْمَسْمُوْمَةِ الَّتِيْ أَكَلْتَ قَالَ مَا أَصَابَنِيْ شَيْءٌ مِّنْهَا إِلاَّ وَهُوَ مَكْتُوْبٌ عَلَيَّ وَآدَمُ فِيْ طِيْنَتِه . رواه ابن ماجه

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي : اې دالله رسوله ! تاسو چي زهرجن پسه خوړلی وو (چي په خیبر کي یو یهودي ښځي په خوړلی وه) هر کال تاسو ته د هغه څخه تکلیف وي ، نبي کریم ﷺ وفرمایل : کوم شی (یعني تکلیف ، ناروغي چي ما ته راسي) هغه زما لپاره هغه وخت لیکل سوې ده کله چي آدم ﷺ په خاورو کي دننه وو .

# بَابُ اثْبَاتِ عَذَابِ الْقَبْرِ

## (د قبر د عذاب ثبوت)

## لومړی فصل

﴿۱۱۷﴾ : عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْمُسْلِمُ إِذَا سُئِلَ فِي الْقَبْرِ يَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلَ اللّٰهِ فَذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى: ( يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الحيٰوة الدنيا وفي الاخرة وفي رواية عن النبي صلى الله عليه وسلم قال يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت، نَزَلَتْ فِيْ عَذَابِ الْقَبْرِ يُقَالُ لَهُ مَنْ رَّبُّكَ ؟ فَيَقُوْلُ رَبِّيَ اللّٰهُ وَنَبِيِّيْ مُحَمَّدٌ . (متفق عليه)

حضرت براء ﷛ د نبي كريم ﷺ څخه روايت دى چي ده مبارك وفرمايل : كوم وخت چي په قبر كي د مسلمان څخه پوښتنه وسي نو هغه شاهدي وركوي چي د الله څخه ماسوا بل معبود نسته او محمد ﷺ د الله رسول دى او دا مطلب د الله د دې ارشاد هم دى (يثبت الله .....) (الله د دنيا په ژوند كي او په آخرت كي هغه خلك ثابت قدم لري چي پر پخه خبره يې ايمان راوړى دى) او د رسول الله ﷺ څخه په يو روايت كي نقل دي چي ده مبارك وفرمايل : چي دا آيت (يثبت الله ....) د قبر په بيان كي نازل سوى دى نو (په قبر كي مړي ته ) وويل سي چي ستا رب څوك دى ؟ نو هغه ورته وايي زما رب الله دى او زما نبي محمد ﷺ دى.

﴿۱۱۸﴾ :وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِيْ قَبْرِه وَتَوَلّٰى عَنْهُ أَصْحَابُهُ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ أَتَاهُ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِه فَيَقُوْلاَنِ مَا كُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ هٰذَا الرَّجُلِ لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيَقُوْلُ أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُوْلُهُ فَيُقَالُ لَهُ انْظُرْ إِلٰى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ قَدْ أَبْدَلَكَ اللّٰهُ بِه مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ فَيَرَاهُمَا جَمِيْعًا، وَأَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ فَيُقَالُ لَهُ مَا كُنْتَ تَقُوْلُ فِيْ

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي بنده په قبر كي دننه كښېښودل سي او خلك څيني ولاړ سي نو هغه مړى د تلونكو د څپليو آواز اوري او هغه لره دوې ملائكي راسي هغه كښينوي او پوښتنه څيني كوي چي تا به د هغه سړي (محمد ﷺ ) په اړه څه ويل ؟ مؤمن بنده په جواب كي ورته وايي زه د دې شاهدي وركوم چي هغه د الله بنده او د هغه رسول دى ، بيا هغه ته وويل سي چي ته

هٰذَا الرَّجُلِ فَيَقُوْلُ لاَ أَدْرِيْ كُنْتُ أَقُوْلُ مَا يَقُوْلُ النَّاسُ فَيُقَالُ لَهُ لاَدَرَيْتَ وَلاَ تَلَيْتَ وَيُضْرَبُ بِمَطَارِقَ عَنْ حَدِيْدٍ ضَرْبَةً فَيَصِيْحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيْهِ غَيْرُ الثَّقَلَيْنِ (متفق عليه) ولفظه للبخاري .

خپل ځای په دوږخ کي وګوره چي الله پاك بدل کړی دی او د هغې په بدله کي يې تا ته په جنت کي ځای در کړی دی ، نو مړی دواړه ځایونه (جنت او دوږخ) ويني . کوم مړی چي منافق يا کافر وي نو دهغه څخه هم دغه پوښتنه کيږي چي ستا د هغه سړي په اړه څه خيال دی ؟ هغه په جواب کي ورته وايي زه په هيڅ نه پوهيږم څه چي به نورو خلګو ويل ما هم هغه ويل ، بيا هغه ته وويل سي ايا تا په عقل سره ونه پيژندی او نه دي (قرآن مجيد) وايه ، د دې په ويلو سره به هغه د اوسپني په ګرز ووهل سي او د هغه د چغو آوازونه به د پيريانو او انسانانو ماسوا نور ټول نژدې شيان اوري .

(۱۱۹):وَ عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ فَيُقَالُ هٰذَا مَقْعَدُكَ حَتّٰى يَبْعَثَكَ اللهُ اِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (متفق عليه)

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي ستاسو څخه يو څوك مړ سي نو (په قبر کي) سهار او مابنام هغه ته خپل ځای ښودل کيږي، يعني جنتي ته جنت او دوږخي ته دوږخ ښودل کيږي او هغه ته ويل کيږي چي دا ستا ځای دی ته تر هغه وخته پوري انتظار کوه چي الله پاك دي د قيامت په ورځ راپورته کړي او هلته دي واستوي . بخاري او مسلم .

(۱۲۰):وَعَنْ عَائِشَةَ رض أَنَّ يَهُوْدِيَّةً دَخَلَتْ عَلَيْهَا فَذَكَرَتْ عَذَابَ الْقَبْرِ فَقَالَتْ لَهَا أَعَاذَكِ اللهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَسَأَلَتْ عَائِشَةُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَذَابِ الْقَبْرِ فَقَالَ نَعَمْ عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ قَالَتْ عَائِشَةُ فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدُ صَلّٰى صَلاَةً إِلاَّ تَعَوَّذَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ .(متفق عليه )

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي يوه يهودي ښځه دې ته راغله هغې د قبر د عذاب يادونه وکړه بيا يې وويل (عائشي !) الله دي تا د قبر د عذاب څخه وساتي ، نو عائشې (رض)د رسول الله ﷺ څخه د قبر د عذاب په اړه پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : هو، د قبر عذاب حق دی. بي بي عائشة (رض) فرمايي د دې پېښې وروسته ما هيڅکله رسول الله ﷺ نه دی ليدلی چي ده مبارك دي يو لمونځ کړی وي او په هغه کي دي يې د قبر د عذاب څخه پناه نه وي غوښتې . بخاري اومسلم.

(۱۲۱) :وَ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ بَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَائِطٍ لِبَنِيْ النَّجَّارِ عَلَى بَغْلَةٍ لَهُ وَنَحْنُ مَعَهُ إِذْ حَادَتْ بِهِ فَكَادَتْ تُلْقِيْهِ وَإِذَا أَقْبُرٌ سِتَّةٌ أَوْ خَمْسَةٌ فَقَالَ مَنْ يَعْرِفُ أَصْحَابَ هٰذِهِ الأَقْبُرِ؟ قَالَ رَجُلٌ أَنَا، قَالَ فَمَتٰى مَاتُوْا ؟ قَالَ فِي الشِّرْكِ فَقَالَ إِنَّ هٰذِهِ الأُمَّةَ تُبْتَلٰى فِيْ قُبُوْرِهَا فَلَوْلاَ أَنْ لاَّ تَدَافَنُوْا لَدَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُسْمِعَكُمْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِيْ أَسْمَعُ مِنْهُ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ فَقَالَ تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ قَالُوْا نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ قَالَ تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ قَالُوْا نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ قَالَ تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ قَالُوْا نَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ قَالَ تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ قَالُوْا نَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ . رواه مسلم .

د حضرت زيد بن ثابت ﷺ څخه روايت دی چي (يوځل) رسول الله ﷺ د بني نجار په باغ کي پر غاتري سپور وو او موږ هم ورسره وو، ناڅاپه د رسول الله ﷺ غاتره بې واکه سوه او نژدې وو چي رسول الله ﷺ يې غورزولی وای، ناڅاپه پنځه شپږ قبرونه څرګند سول ، رسول الله ﷺ وفرمايل : په دې قبرو کي چي کوم خلك دي په تاسو کي دوئ څوك پيژني؟ يوه سړي وويل : زه يې پيژنم ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دوئ په کوم حال کي مړه سوي دي ؟ هغه سړي وويل د شرك په حالت کي، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا امت په خپلو قبرو کي په آزمائش کي دی ، که زما سره دا بيره نه وای چي تاسو به (مړي) ښخول پريږدئ نو ما به خامخا د الله ﷻ څخه دا دعاء غوښتې وای چي تاسو ته هم د قبر عذاب واوري لکه څرنګه چي زه يې اورم (وينم) د دې وروسته رسول الله ﷺ زموږ په لوري متوجه سو او وه يې فرمايل : د الله څخه پناه غواړئ چي د اور د عذاب څخه مــــو وژغوري ، صحابه کرامو عرض وکړئ موږ د الله څخه د اور د عذاب پناه غواړو ، رسول الله ﷺ بيا وفرمايل : د قبر د عذاب څخه د الله پناه وغواړئ ، صحابه کرامو عرض وکړ موږ د الله څخه د قبر د عذاب پناه غواړو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د الله څخه د ظاهري او باطني فتنو پناه وغواړئ ، صحابه کرامو وويل : موږ د الله څخه د ظاهري او باطني فتنو پناه غواړو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د دجال د فتنې څخه پناه وغواړئ . صحابه کرامو وويل : موږ د الله څخه د دجال د فتنې څخه پناه غواړو . مسلم.

## دويم فصل

(۱۲۲) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قُبِرَ الْمَيِّتُ أَتَاهُ مَلَكَانِ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله وفرمايل : کله چي مړی په قبر کي کښېښودل

أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا الْمُنْكَرُ وَالْآخَرُ النَّكِيرُ فَيَقُولَانِ مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هٰذَا الرَّجُلِ؟ فَيَقُولُ هُوَ عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُولُهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ فَيَقُولَانِ قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ هٰذَا ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِينَ ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيهِ ثُمَّ يُقَالُ لَهُ نَمْ فَيَقُولُ أَرْجِعُ إِلَى أَهْلِي فَأُخْبِرُهُمْ فَيَقُولَانِ نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ الَّذِي لَا يُوقِظُهُ إِلَّا أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ حَتَّى يَبْعَثَهُ اللّٰهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذٰلِكَ وَإِنْ كَانَ مُنَافِقًا قَالَ سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ قَوْلًا فَقُلْتُ مِثْلَهُ لَا أَدْرِي فَيَقُولَانِ قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ ذٰلِكَ فَيُقَالُ لِلْأَرْضِ الْتَئِمِي عَلَيْهِ فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ فَتَخْتَلِفُ فِيهَا أَضْلَاعُهُ فَلَا يَزَالُ فِيهَا مُعَذَّبًا حَتَّى يَبْعَثَهُ اللّٰهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذٰلِكَ (رواه الترمذي)

سي نو هغه ته دوې ملائکي تور رنګي او شنو سترګو والا راسي ، په هغوئ کي د يوې نوم منکر او د بلي نکير دی، هغوئ دواړي د مړي څخه پوښتنه کوي چي تا به د هغه سړي (محمد ﷺ) په اړه څه ويل ؟ هغه مړی به په جواب کي وايي هغه د الله بنده او د هغه رسول دی او زه شاهدي ادا کوم چي نسته بل معبود پر حق مګر يو الله ﷻ او محمد ﷺ د الله رسول دی، د دې په اورېدو سره هغه دواړي ملائکي وايي : موږ ته څرګنده وه چي ته به دا جواب راکوې د دې وروسته د هغه قبر اويا اويا ګزه په اوږدوالي او بروالي پراخ کړل سي ، بيا په قبر کي رڼا سي او هغه ته وويل سي بيده سه ، مړی هغوئ ته وايي زه خپل کورنۍ ته بيرته تلل غواړم چي هغوئ زما د حال څخه خبردار کړم ، ملائکي بيا ورته وايي چي اوس ته بيده سه لکه څرنګه چي ناوې بيده کيږي چي هغه ناوې يوازي خپل ميړه وېښولای سي کوم چي د هغې په آند تر ټولو زيات محبوب وي تر هغو چي الله ﷻ تا د دې ځای څخه راپورته کوي (دا کيفيت خو د مؤمن مړي دی) او کوم مړی چي منافق وي هغه د ملائکو په جواب کي وايي چي ما د خلګو څخه څه اورېدل هغه به مي ويل مګر زه د دې حقيقت څخه ناخبر وم ، دواړي ملائکي چي د هغه جواب واوري نو وايي چي موږ خبر وو چي ته به دغسي جواب وايي مځکي ته به حکم ورکړل سي چي پر ده راټوله سي نو مځکه به داسي راټوله سي چي د هغه پښتۍ به د يوې خوا څخه بلي خوا ته تير وېيري سي او هغه به هميشه په دغه عذاب کي وي تر څو چي الله ﷻ يې د هغه ځايه څخه را پورته کړي . ترمذي .

﴿١٢٣﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ فَيَقُولَانِ لَهُ مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ رَبِّيَ اللّٰهُ فَيَقُولَانِ لَهُ مَا

د حضرت براء بن عازب ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مړي ته دوې ملائکي راځي هغوئ دی راکېښېنوي او پوښتنه څيني کوي چي ستا رب څوک دی ؟ هغه په جواب کي

دِيْنُكَ؟ فَيَقُوْلُ دِيْنِيَ الإِسْلَامُ، فَيَقُوْلَانِ لَهُ مَا هٰذَا
الرَّجُلُ الَّذِيْ بُعِثَ فِيْكُمْ؟ فَيَقُوْلُ هُوَ رَسُوْلُ اللهِ،
فَيَقُوْلُ قَرَأْتُ كِتَابَ اللهِ فَآمَنْتُ بِهٖ وَصَدَّقْتُ فَذَالِكَ
قَوْلُهٗ (يُثَبِّتُ اللهُ الَّذِيْنَ آمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ ) الآيَة
قَالَ فَيُنَادِيْ مُنَادٍ مِّنَ السَّمَاءِ أَنْ صَدَقَ عَبْدِيْ
فَأَفْرِشُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَأَلْبِسُوْهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَافْتَحُوْا لَهٗ
بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ فَيُفْتَحُ قَالَ فَيَأْتِيْهِ مِنْ رُوْحِهَا وَطِيْبِهَا
وَيُفْسَحُ لَهٗ فِيْهَا مُدَّ بَصَرِهٖ وَأَمَّاالْكَافِرُ فَذَكَرَ مَوْتَهٗ
قَالَ وَيُعَادُ رُوْحُهٗ فِيْ جَسَدِهٖ وَيَأْتِيْهِ مَلَكَانِ
فَيُجْلِسَانِهٖ فَيَقُوْلَانِ مَنْ رَّبُّكَ فَيَقُوْلُ هَاهْ هَاهْ لَا
أَدْرِيْ فَيَقُوْلَانِ لَهٗ مَا دِيْنُكَ فَيَقُوْلُ هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِيْ
فَيَقُوْلَانِ مَا هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِيْ بُعِثَ فِيْكُمْ فَيَقُوْلُ هَاهْ
هَاهْ لَا أَدْرِيْ فَيُنَادِيْ مُنَادٍ مِّنَ السَّمَاءِ أَنْ كَذَبَ
فَأَفْرِشُوْهُ مِنَ النَّارِ وَأَلْبِسُوْهُ مِنَ النَّارِ وَافْتَحُوْا لَهٗ بَابًا
إِلَى النَّارِ قَالَ فَيَأْتِيْهِ مِنْ حَرِّهَا وَسَمُوْمِهَا قَالَ
وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ قَبْرُهٗ حَتّٰى تَخْتَلِفَ فِيْهِ أَضْلَاعُهٗ ثُمَّ
يُقَيَّضُ لَهٗ أَعْمٰى أَصَمُّ مَعَهٗ مِرْزَبَّةٌ مِنْ حَدِيْدٍ لَوْ
ضُرِبَ بِهَا جَبَلٌ لَصَارَ تُرَابًا فَيَضْرِبُهٗ بِهَا ضَرْبَةً
يَسْمَعُهَا مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ إِلَّاالثَّقَلَيْنِ فَيَصِيْرُ
تُرَابًا ثُمَّ يُعَادُ فِيْهِ الرُّوْحُ . رواه احمد وابو داود .

وايي زما رب الله دی، بيا ملائكي پوښتنه كوي
ستا دين كوم دی؟ هغه وايي زما دين اسلام دی
، بيا پوښتنه كوي كوم سړی چي تاسو ته راليږل
سوی وو هغه څوك وو؟ هغه ورته وايي چي هغه
د الله رسول دی ، بيا ملائكي پوښتنه كوي دا
خبره تا ته څنګه معلومه سوه؟ هغه ورته وايي ما
د الله كتاب وايه پر هغه مي ايمان راوړی دی او
دهغه مي تصديق كړی وو، رسول الله ﷺ فرمايي
دا معنی د الله پاك ددغه قول ده (يثبت الله
الذين ...) رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا به يو څوك
د آسمان څخه آواز وكړي چي زما بنده رښتيا
وويل دده لپاره د جنت فرش آوار كړی د جنت
جامې ور واغوندی او دده لپاره د جنت د لوري
څخه يوه دروازه خلاصه كړئ ، نو د جنت لوري
ته به دروازه خلاصه كړل سي چي د هغه هوا او
خوشبويي به ورته راځي او دنظر تر حده پوري به
ورته قبر پراخ كړل سي ، مګر كافر نو رسول الله
ﷺ د هغه د مرګ يادونه وكړه او وه يې فرمايل :
بيا د هغه روح د هغه په بدن كي واچول سي او
هغه ته دوه ملائكي راځي هغه راكښېنوي او
پوښتنه ځيني كوي چي څوك دی رب ستا ؟ هغه
ورته وايي هاه هاه ما ته نه دی معلوم، بيا ورته
وايي ستا دين څه شي دی؟ دی به ورته وايي هاه هاه زه نه يم خبر ، بيا پوښتنه كوي هغه سړی
څوك دی چي تاسو ته راليږل سوی وو؟ هغه به وايي هاه هاه زه په دې نه پوهيږم بيا به يو آواز
كونكی د آسمان څخه آواز وكړي چي دی دروغجن دی د ده لپاره د اور فرش و غوړوئ د اور
جامې ور واغوندئ او د دوږخ لوري ته يوه دروازه ورته را خلاصه كړئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د
دوږخ څخه به هغه ته ګرمي او تودې هواوي راځي او د هغه قبر به پر هغه تنګ كړل سي تر دې چي د

هغه ښښتی. به یوې خوا څخه بلې خوا ته ووزي ، بیا به پر هغه یوه ړنده او کڼه ملائکه و ټاکل سي او دهغې سره به د اوسپنې گرز وي داسي گرز که غر په ووهل سي نو هغه به ریزه ریزه سي ، هغه ملائکه به یې په گرز سره وهي چې د هغه آواز به د لوېدیځ څخه تر ختیځ پوري ټول مخلوقات اوري خو پیریانان او انسانان یې نه اوري، (او د گرز په وهلو سره به) هغه ریزه ریزه سي او بیرته به روح پکښي واچول سي . احمد او ابوداؤد .

﴿۱۲۴﴾ : وَعَنْ عُثْمَانَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا وَقَفَ عَلَى قَبْرٍ بَكَىٰ حَتّٰى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ فَقِيْلَ لَهُ تَذْكُرُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ فَلاَ تَبْكِيْ وَتَبْكِيْ مِنْ هٰذَا فَقَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِّنْ مَنَازِلِ الآخِرَةِ فَإِنْ نَّجَا فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ قَالَ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلاَّ الْقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ . رواه الترمذي وابن ماجه . وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت عثمان ﷛ څخه روایت دی چې کله به هغه د یو قبر سره ودرېدی نو (بې اختیاره) به یې ژړل تر دې چې د هغه ږیره به په اوښکو لنده سول ، د هغه څخه پوښتنه وسول چې تاسو د جنت او دوږخ یادونه کوئ نو دهغو په یادونه سره نه ژاړئ او په دې ځای کې ژاړئ ، حضرت عثمان ﷛ ورته وویل : رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې قبر د آخرت د منزلو څخه لومړنی منزل دی چا چې د دې منزل څخه خلاصون تر لاسه کړی نو د دې وروسته آساني ده او چا چې د دې منزل څخه خلاصون تر لاسه نه کړی نو د دې وروسته تر دې سختي ده ، حضرت عثمان ﷛ وویل چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې ما هیڅ یو منظر تر قبر زیات سخت نه دی لیدی ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی .

﴿۱۲۵﴾ : وَعَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ وَقَفَ عَلَيْهِ فَقَالَ اسْتَغْفِرُوْا لِأَخِيْكُمْ ثُمَّ سَلُوْا لَهُ بِالتَّثْبِيْتِ فَإِنَّهُ الآنَ يُسْأَلُ . رواه أبو داود .

د حضرت عثمان ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به کله د مړي د ښخېدو څخه فارغ سو نو د قبر سره به ودرېدی او فرمایل به یې (خلکو ته) د خپل ورور لپاره استغفار کوئ (بخښنه غواړئ) او د هغه د ثابت قدمی. لپاره دعاء غواړئ ځکه چې په دې وخت کې دده څخه پوښتني کیږي . ابوداؤد .

﴿۱۲۶﴾: وَ عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُسَلَّطُ عَلَى الْكَافِرِ فِيْ قَبْرِهِ تِسْعَةٌ وَّتِسْعُوْنَ تِنِّيْنًا تَنْهَسُهُ وَتَلْدَغُهُ حَتّٰى تَقُوْمَ

د حضرت ابوسعید ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : پر کافر باندي په قبر کې نهه نیوي ماران و ټاکل سي چې تر قیامته پوري هغه

السَّاعَةَ لَوْ أَنَّ تِنِّيْنًا مِّنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ مَا أَنْبَتَتْ خَضِرًا . رواه الدارمي وروى الترمذي نحوه وقال سبعون بدل تسعة وتسعون .

چيچي ، او هغه داسي ماران دي كه د هغو څخه يو هم پر مځكه پوه كړي نو مځكه به د كرلو څخه محرومه سي (دارمي) او ترمذي هم دا ډول روايت كړى دى مگر په هغه كي د نهه نيوي پر ځاى د اويا شمير دى .

## دريم فصل

﴿١٢٧﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ حِيْنَ تُوُفِّيَ فَلَمَّا صَلَّى عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوُضِعَ فِيْ قَبْرِهِ وَسُوِّيَ عَلَيْهِ سَبَّحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَبَّحْنَا طَوِيْلاً ثُمَّ كَبَّرَ فَكَبَّرْنَا فَقِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ لِمَ سَبَّحْتَ ثُمَّ كَبَّرْتَ قَالَ لَقَدْ تَضَايَقَ عَلَى هٰذَا الْعَبْدِ الصَّالِحِ قَبْرُهُ حَتّٰى فَرَّجَهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَنْهُ . رواه أحمد .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي كله سعد بن معاذ ﷺ وفات سو نو موږ د رسول الله ﷺ سره د هغه جنازې ته ورغلو كله چي رسول الله ﷺ د هغه د جنازې لمونځ ادا كړ او هغه يې قبر ته كښته كړى او خاوري پر برابري كړل سوې نو رسول الله ﷺ تسبيح (سبحان الله) وويل او موږ هم ډير خله سبحان الله وويل بيا رسول الله ﷺ تكبير (الله اكبر) وويل او موږ هم تكبير ووايه ، بيا د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي تاسو تسبيح او تكبير ولي وويل ؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل : د دې نيك بنده قبر پر ده تنگ كړل سو بيا الله ﷻ زموږ په تسبيح او تكبير سره هغه پراخ كړ . احمد

﴿١٢٨﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا الَّذِيْ تَحَرَّكَ لَهُ الْعَرْشُ وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَشَهِدَهُ سَبْعُوْنَ أَلْفًا مِّنَ الْمَلَائِكَةِ لَقَدْ ضُمَّ ضَمَّةً ثُمَّ فُرِجَ عَنْهُ . رواه النسائي

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دى (يعني سعد) هغه سړى دى چي دده لپاره عرش په حركت كي راغلى دى او دده لپاره د آسمان دروازې خلاصي سوي دي او دده په جنازه كي اويا زره ملائكي حاضري سوې او دده قبر تنگ كړل سو بيا دا تنگي ليري كړل سوه (قبر پراخ كړل سو ).

﴿١٢٩﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَتْ قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطِيْبًا فَذَكَرَ

د بي بي اسماء بنت ابي بكر (رض) څخه روايت دى : يوه ورځ رسول الله ﷺ ودرېدى او خطبه يې

فِتْنَةَ الْقَبْرِ الَّتِيْ يُفْتَنُ فِيْهَا الْمَرْءُ فَلَمَّا ذَكَرَ ذٰلِكَ ضَجَّ الْمُسْلِمُوْنَ ضَجَّةً . رواه البخاري هكذا وَزَادَ النَّسَائِيُّ حَالَتْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ أَنْ أَفْهَمَ كَلَامَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَكَنَتْ ضَجَّتُهُمْ قُلْتُ لِرَجُلٍ قَرِيْبٍ مِّنِّيْ أَيْ بَارَكَ اللهُ فِيْكَ مَاذَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ آخِرِ قَوْلِه ؟ قَالَ قَدْ أُوْحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُوْنَ فِي الْقُبُوْرِ قَرِيْبًا مِّنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ .

وویل رسول الله ﷺ د قبر د فتنې یادونه یې وکړه چي په دې کي د انسان ازموینه اخیستل کیږي، د دې یادوني سره مسلمانانو (د بیري له کبله) تر ډیره وخته پوري ژړل ، دا روایت د بخاري دی او نسائي دا الفاظ زیات بیان کړي دي چي د خلکو د ژړا له کبله (بي بي اسماء وايي) ما د رسول الله ﷺ الفاظ نه واورېدل کوم وخت چي دا شور کم سو نو ما د هغه سړي څخه کوم چي ما ته نژدې ناست وو پوښتنه وکړه الله دي برکت درکړي په پای کي رسول الله ﷺ څه وفرمایل ؟ هغه وویل رسول الله ﷺ وفرمایل چي ما ته دا وحي سوي دي چي تاسو به د قبرونو په اړه په فتنه کي واچول سئ یعني تاسو به امتحان کړل سئ او دا فتنه به د دجال د فتنې نژدې نژدې وي .

(۱۳۰): وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُدْخِلَ الْمَيِّتُ الْقَبْرَ مُثِّلَتْ لَهُ الشَّمْسُ عِنْدَ غُرُوْبِهَا فَيَجْلِسُ يَمْسَحُ عَيْنَيْهِ وَيَقُوْلُ دَعُوْنِيْ أُصَلِّيْ . رواه ابن ماجه .

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم وخت چي مړی په قبر کي ښخ کړل سي نو دهغه په وړاندي د لمر لوېدو وخت وړاندي کړل سي (که هغه مؤمن وي) نو هغه په لاسو سره سترګي موږي او کښیني او وايي ما پرېږدئ چي لمونځ وکړم.

(۱۳۱): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْمَيِّتَ يَصِيْرُ إِلَى الْقَبْرِ فَيَجْلِسُ الرَّجُلُ فِيْ قَبْرِه غَيْرَ فَزِعٍ وَلَا مَشْغُوْفٍ ثُمَّ يُقَالُ لَهُ فِيْمَ كُنْتَ فَيَقُوْلُ كُنْتُ فِي الْإِسْلَامِ فَيُقَالُ لَهُ مَا هٰذَا الرَّجُلُ فَيَقُوْلُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَنَا بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ عِنْدِ اللهِ فَصَدَّقْنَاهُ فَيُقَالُ لَهُ هَلْ رَأَيْتَ اللهَ فَيَقُوْلُ مَا يَنْبَغِيْ لِأَحَدٍ أَنْ يَّرَى اللهَ فَيُفْرَجُ لَهُ فُرْجَةٌ قِبَلَ النَّارِ فَيَنْظُرُ إِلَيْهَا يَحْطِمُ بَعْضُهَا

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي مړی قبر ته ورسي نو (نیک بنده) په قبر کي کښیني نه هغه خوفزده وي او نه بیري اخیستی وي د هغه څخه پوښتنه کیږي چي ته په کوم دین وې ؟ هغه به وايي زه د اسلام پر دین وم، د هغه څخه بیا پوښتنه کیږي دا سړی (حضرت محمد ﷺ) څوك دی ؟ هغه به وايي د الله رسول دی چي د الله د لوري یې موږ ته څرګند دلیلونه راوړي دي او موږ یې تصدیق

بَعْضًا فَيُقَالُ لَهُ انْظُرْ إِلَى مَا وَقَاكَ اللّٰهُ ثُمَّ يُفَرَّجُ لَهُ قِبَلَ الْجَنَّةِ فَيَنْظُرُ إِلَى زَهْرَتِهَا وَمَا فِيْهَا فَيُقَالُ لَهُ هٰذَا مَقْعَدُكَ عَلَى الْيَقِيْنِ كُنْتَ وَعَلَيْهِ مُتَّ وَعَلَيْهِ تُبْعَثُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ وَيَجْلِسُ الرَّجُلُ السُّوْءُ فِيْ قَبْرِهٖ فَزِعًا مَشْعُوْبًا فَيُقَالُ لَهُ فِيْمَ كُنْتَ فَيَقُوْلُ لَا أَدْرِيْ فَيُقَالُ لَهُ مَا هٰذَا الرَّجُلُ فَيَقُوْلُ سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُوْلُوْنَ قَوْلًا فَقُلْتُهُ فَيُفَرَّجُ لَهُ فُرْجَةٌ قِبَلَ الْجَنَّةِ فَيَنْظُرُ إِلَى زَهْرَتِهَا وَمَا فِيْهَا فَيُقَالُ لَهُ انْظُرْ إِلَى مَا صَرَفَ اللّٰهُ عَنْكَ ثُمَّ يُفَرَّجُ لَهُ فُرْجَةً إِلَى النَّارِ فَيَنْظُرُ إِلَيْهَا يَحْطِمُ بَعْضُهَا بَعْضًا فَيُقَالُ لَهُ هٰذَا مَقْعَدُكَ عَلَى الشَّكِّ كُنْتَ وَعَلَيْهِ مُتَّ وَعَلَيْهِ تُبْعَثُ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى . رواه ابن ماجه .

وکړ بیا دهغه څخه پوښتنه وسي ایا تا خدای لیدلی دی ؟ هغه به وایي خدای خو هیڅوك نه سي لیدلای ، د دې وروسته یو کلکین د دوږخ په لور خلاص کړل سي هغه چي وګوري نو داسي اور به ویني چي یوه لمبه به یې بله لمبه رانغاړي او هغه ته به وویل سي چي دې ته وګوره چي الله ته ځیني خلاص کړی یې ، بیا یوه کلکین د جنت په لور خلاص کړل سي او هغه به د جنت تازګي او دهغه شیان ویني او هغه ته به وویل سي دا ستا ځای دی له دې کبله چي ستا عقیده ټینګه وه او پر دې ستا پوره یقین وو او ته په دې (یقین) کي مړ سوې او که الله و غواړي نو په دې حالت کي به تا د قبر څخه راپورته کړي ، او هر کله چي خراب بنده په قبر کي کښیني نو هغه خوفزده او بیریدلی وي د هغه څخه پوښتنه کیږي چي ته په کوم دین وې ؟هغه ورته وایي چي زه نه پوهیږم (چي په کوم دین وم) بیا د هغه څخه پوښتنه وسي دا کوم سړی وو ؟ هغه به وایي ما چي به د خلګو څخه څه اوریدل هغه به مي ویل ، بیا د جنت په لور یو کلکین را خلاص کړل سي او هغه د جنت تازګي او شیان ویني او هغه ته وویل سي ددغه شیانو په لور وګوره چي الله ﷻ ستا څخه اړولي دي بیا د دوږخ د لوري یو کلکین خلاص کړل سي او هغه به ویني چي د اور تیزي لمبې یوه بله خوري او هغه ته به وویل سي چي د هغه شك له کبله چي ته پکښې اخته وې او پر هغه مړ سوې دا ستا ځای دی او پر دې به ته د قبر څخه را پورته کړل سي .ابن ماجه .

# بَابُ الْاِعْتِصَامِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ

## (د الله ﷻ كتاب او سنت په ټينګه نيول)

## لومړی فصل

(۱۳۲): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَحْدَثَ فِيْ أَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ . (متفق عليه) .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي زموږ په دين کي يو نوې خبره پيدا کړه کوم چي په دين کي نه وي نو هغه خبره مردوده ده .

(۱۳۳): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللهِ وَخَيْرُ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ وَشَرَّ الْأُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله د حمد څخه وروسته دي معلومه وي چي د ټولو څخه غوره خبره د الله کتاب دی او غوره لار د محمد ﷺ لار ده او بد ترين په شيانو کي هغه شی چي هغه په دين کي نه وي او پيدا کړل سي او هر بدعت ګمراهي ده .

(۱۳۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْغَضُ النَّاسِ إِلَى اللهِ ثَلَاثَةٌ مُلْحِدٌ فِي الْحَرَمِ وَمُبْتَغٍ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَمُطَّلِبُ دَمِ امْرِءٍ بِغَيْرِ حَقٍّ لِيُهْرِيْقَ دَمَهُ رواه البخاري .

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله په نزد تر ټولو زيات غضب وهلي درې کسان دي ۱: په حرم کي الحاد کونکی ۲: اسلام د جاهليت د زمانې پر طريقه طلب کونکی ۳: په ناحقه د يو مسلمان دويني غوښتونکی چي د هغه وينه توی کړي .

(۱۳۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبٰى . قِيْلَ وَمَنْ أَبٰى ؟ قَالَ مَنْ أَطَاعَنِيْ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ أَبٰى .رواه البخاري .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت هر کس به جنت ته ځي خو نه هغه کس چي هغه ز ما څخه انکار کړی وي ، پوښتنه وسول چي هغه کوم کس دئ چي انکار يې وکړ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم سړي چي زما

پیروي وکړل هغه به په جنت کي داخل سي او چا چي زما نافرماني وکړه هغه زما څخه انکار وکړ.

(١٣٦) : وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ جَاءَتْ مَلَائِكَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ نَائِمٌ فَقَالُوْا إِنَّ لِصَاحِبِكُمْ هٰذَا مَثَلاً فَاضْرِبُوْا لَهُ مَثَلاً قَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّهُ نَائِمٌ وَقَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّ الْعَيْنَ نَائِمَةٌ وَالْقَلْبَ يَقْظَانٌ فَقَالُوْا مَثَلُهُ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنٰى دَارًا وَجَعَلَ فِيْهَا مَأْدُبَةً وَبَعَثَ دَاعِيًا فَمَنْ أَجَابَ الدَّاعِيَ دَخَلَ الدَّارَ وَأَكَلَ مِنَ الْمَأْدُبَةِ وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّاعِيَ لَمْ يَدْخُلِ الدَّارَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنَ الْمَأْدُبَةِ فَقَالُوْا أَوِّلُوْهَا لَهُ يَفْقَهْهَا فَقَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّهُ نَائِمٌ قَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّ الْعَيْنَ نَائِمَةٌ وَالْقَلْبَ يَقْظَانٌ فَقَالُوْا اَلدَّارُ الْجَنَّةُ وَالدَّاعِيْ مُحَمَّدٌ فَمَنْ أَطَاعَ مُحَمَّدًا فَقَدْ أَطَاعَ اللّٰهَ وَمَنْ عَصٰى مُحَمَّدًا فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَمُحَمَّدٌ فَرْقٌ بَيْنَ النَّاسِ . رواه البخاري

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي د ملائکو یو ډله د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سول کوم وخت چي رسول الله ﷺ بیده وو، او هغو په خپلو کي خبري کولې په هغوئ کي یوې ملائکي وویل ستا د دې دوست په اړه یو مثال دی هغه دده په وړاندي بیان کړئ نورو ملائکو وویل هغه خو بیده دی ، په هغو کي ځیني وویل چي سترګي خو یې ببشکه بیدې دي مګر زړه یې بیدار دی بیا هغه ملائکي وویل د دې سړي مثال د هغه سړي په ډول دی چي کور یې جوړ کړ او خلګو ته یې دسترخوان وغوړاوه بیا یې د خلګو را بللو لپاره یو سړی ولیږی نو کوم سړي چي د دې بلونکي خبره ومنل هغه په کور کي داخل سو او هغه د دسترخوان څخه ډوډۍ وخوړل او چا چي انکار وکړ هغه نه په کور کي داخل سو او نه یې د دسترخوان څخه ډوډۍ و خوړل ، ملائکو د دې مثال په اورېدو سره وویل ددې تاویل بیان کړه چي دا سړی په پوه سي «د دې په اورېدو سره ځیني ملائکو وویل» هغه خو بیده دی ، نورو ملائکو وویل ببشکه سترګي خو یې بیدې دي مګر زړه یې بیدار دی بیا هغوئ د دې مثال تاویل بیان کړ او وه یې ویل : د کور څخه مراد جنت دی او د بلونکي څخه مراد حضرت محمد ﷺ دی کوم چا چي د محمد ﷺ اطاعت وکړ هغه د الله اطاعت وکړ چا چي د محمد ﷺ نافرماني وکړه هغه د الله نافرماني وکړه او محمد ﷺ د خلګو په منځ کي فرق کونکی دی «یعني څوک په هغوئ کي کافر دی او څوک مؤمن او دا فرق د رسول الله ﷺ په اطاعت او نافرماني سره معلومیږي» بخاري

(١٣٧) : وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُوْنَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أُخْبِرُوْا بِهَا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوْهَا فَقَالُوْا أَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي درې خلک د رسول الله ﷺ په خدمت کي د دې لپاره حاضر سول چي هغوئ د رسول الله ﷺ د عبادت د حال پوښتنه وکړي، کوم وخت چي هغوئ ته د رسول الله ﷺ د

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ فَقَالَ أَحَدُهُمْ أَمَّا أَنَا فَأُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا وَقَالَ الاخَرُ أَنَا أَصُوْمُ النَّهَارَ أَبَدًا وَلاَ أُفْطِرُ وَقَالَ الْاٰخَرُ أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلاَ أَتَزَوَّجُ أَبَدًا فَجَاءَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ أَنْتُمُ الَّذِيْنَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا أَمَا وَاللّٰهِ إِنِّيْ لَأَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ لٰكِنِّيْ أَصُوْمُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّيْ وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ . (متفق عليه)

عبادت حال بيان كړل سو نو هغوئ د رسول الله ﷺ عبادت كم وګڼی او په خپلو كي يې وويل د رسول الله ﷺ په مقابله كي موږ څه يو، الله پاك خو د هغه مخكي او وروسته ګناهونه معاف كړي دي (د دې په اوريدو سره په هغوئ كي) يوه وويل اوس به زه هميشه ټوله شپه لمونځ كوم ، دويم كس وويل او زه به هميشه د ورځي روژه نيسم او هيڅكله به يې نه ماتوم، دريم كس وويل زه به د ښځو څخه بيل اوسم او هيڅ كله به نكاح نه كوم ، (په خپلو كي يې دا خبري كولې چي ) رسول الله ﷺ تشريف راوړ او هغوئ ته يې وفرمايل : ايا تاسو داسي داسي ويلي دي تاسو ته دي معلومه وي چي ستاسو څخه زيات زه د الله څخه بيريږم او ستاسو څخه زياته تقوا كوم سره د دې روژه هم نيسم او ماتوم يې هم ، د شپې لمونځ هم كوم او بيده كيږم هم او د ښځو سره نكاح هم كوم. نو كوم سړى چي زما د طريقې څخه مخ اړوي هغه زما څخه نه دى . بخاري او مسلم .

(١٣٨) : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ صَنَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَرَخَّصَ فِيْهِ فَتَنَزَّهَ عَنْهُ قَوْمٌ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَطَبَ فَحَمِدَ اللّٰهَ ثُمَّ قَالَ مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَتَنَزَّهُوْنَ عَنِ الشَّيْءِ أَصْنَعُهُ فَوَاللّٰهِ إِنِّيْ لَأَعْلَمُهُمْ بِاللّٰهِ وَأَشَدُّهُمْ لَهُ خَشْيَةً . (متفق عليه)

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ (د روژې په حالت كي) يو كار وكړ او د هغه اجازه يې وركړل مګر يو څو خلكو د هغه څخه پرهيز وكړ ، كوم وخت چي رسول الله ﷺ ته د دې حال معلوم سو نو رسول الله ﷺ خطبه وفرمايل : د الله د حمد څخه وروسته يې وفرمايل : (او ځان خيني وساتئ) كوم څه چي زه كوم نو قسم په خداى چي زه د الله تعالى رضا د هغوئ څخه زياته پيژنم او دهغوئ څخه زيات د الله تعالى څخه بيريږم .بخاري او مسلم .

(١٣٩): وَعَنْ رَّافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ قَدِمَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ يُؤَبِّرُوْنَ النَّخْلَ فَقَالَ مَا تَصْنَعُوْنَ قَالُوْا كُنَّا نَصْنَعُهُ قَالَ لَعَلَّكُمْ لَوْ لاَ تَفْعَلُوْا

د حضرت رافع بن خديج رضى الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ مديني ته تشريف راوړ هغه وخت د مديني خلكو د خرماوو د درختو تابير (پيوند)كاوه، رسول الله ﷺ (چي خلك په دې كولو

كَانَ خَيْرًا فَتَرَكُوْهُ فَنَقَصَتْ قَالَ فَذَكَرُوْا ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ إِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِّنْ دِيْنِكُمْ فَخُذُوْا بِهِ وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِّنْ رَّأْيِي فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ . رواه مسلم .

وليدل) نو پوښتنه يې وکړه دا تاسو څه کوئ ؟ خلکو عرض وکړ موږ هم داسي طريقه کوو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که تاسو داسي ونه کړئ نو شايد چي غوره به وي (د رسول الله ﷺ د ارشاد اورېدو سره ) خلکو دا عمل پرېښود نو (په هغه کال) ميوه کمه وسول ، رسول الله ﷺ ته د دې ذکر وکړل سو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : زه هم يو بشر (انسان) يم هر کله چي زه تاسو ته يو ديني حکم در کړم نو قبول يې کړئ او که د خپل عقل څخه تاسو ته څه خبره وښيم نو تاسو پوه سئ چي زه هم يو انسان يم .مسلم .

﴿۱۴۰﴾ : وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا مَثَلِيْ وَمَثَلُ مَا بَعَثَنِيَ اللّٰهُ بِهِ كَمَثَلِ رَجُلٍ أَتٰى قَوْمًا فَقَالَ يَا قَوْمِ إِنِّيْ رَأَيْتُ الْجَيْشَ بِعَيْنَيَّ وَإِنِّيْ أَنَا النَّذِيْرُ الْعُرْيَانُ فَالنَّجَاءَ النَّجَاءَ فَأَطَاعَهُ طَائِفَةٌ مِّنْ قَوْمِهِ فَأَدْلَجُوْا فَانْطَلَقُوْا عَلٰى مَهَلِهِمْ فَنَجَوْا وَكَذَّبَتْ طَائِفَةٌ مِّنْهُمْ فَأَصْبَحُوْا مَكَانَهُمْ فَصَبَّحَهُمُ الْجَيْشُ فَأَهْلَكَهُمْ وَاجْتَاحَهُمْ فَذٰلِكَ مَثَلُ مَنْ أَطَاعَنِيْ فَاتَّبَعَ مَا جِئْتُ بِهِ وَمَثَلُ مَنْ عَصَانِيْ وَكَذَّبَ مَا جِئْتُ بِهِ مِنَ الْحَقِّ .متفق عليه

د حضرت ابوموسی ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله وفرمايل : بيشکه زما مثال او د هغه مثال چي د هغه ورکولو سره زه الله راليږلی يم د هغه سړي په ډول دی چي يو قوم ته راغلی وي او هغه قوم ته وايي اې قوم ! ما په خپلو سترګو سره يو لښکر ليدلی دی او زه بې غرضه بيرونکی يم، تاسو ته پکار ده چي د خلاصون په لټه سئ او خپل خلاصون تر لاسه کړئ ، نو يوې ډلي خو د هغه اطاعت وکړ او شپه په شپه کرار کرار ووتل او خلاصون يې تر لاسه کړ ، او يوې ډلي د هغه خبره ونه منل او په خپلو کورونو کي پاته سول په سهار کي لښکر راغلی او هغوئ يې و نيول او د هغوئ نسل يې ختم کړ نو هم دا کيفيت د هغه کس دی چي زما اطاعت يې ومنی او کوم احکام چي ما راوړي دي د هغو پيروي يې وکړه او هم دا مثال د هغه چا دی چي زما نافرماني يې وکړل او کومه حقه خبره چي ما راوړې ده د هغې څخه يې انکار وکړ .

﴿۱۴۱﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلِيْ كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهَا جَعَلَ الْفَرَاشُ وَهٰذِهِ الدَّوَابُّ الَّتِيْ تَقَعُ فِي النَّارِ يَقَعْنَ فِيْهَا وَجَعَلَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما مثال د هغه سړي په شان دی چي هغه اور بل کړ هر کله چي څلورو خواوو ته د اور رڼا خپره سول نو پتنګان اور نور شيان چي په

يَحْجُزُهُنَّ وَيَغْلِبْنَهُ فَيَتَقَحَّمْنَ فِيْهَا فَأَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ وَأَنْتُمْ تَقَحَّمُوْنَ فِيْهَا . هٰذِهِ رِوَايَةُ الْبُخَارِيْ وَلِمُسْلِمٍ نَحْوُهَا وَقَالَ فِيْ آخِرِهَا قَالَ فَذٰلِكَ مَثَلِيْ وَمَثَلُكُمْ أَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ هَلُمَّ عَنِ النَّارِ هَلُمَّ عَنِ النَّارِ فَتَغْلِبُوْنِيْ تَقَحَّمُوْنَ فِيْهَا .(متفق عليه)

اور كي لويږي راتلل شروع سول او په اور كي لوېدل او روښانه كونكي سړي هغوئ منع كول پيل كړه خو هغوئ نه منع كيږي او د هغه په هڅه غالب كيږي او په اور كي لويږيْ ، همدارنگه زه هم تاسو په اور كي د لوېدو څخه ژغورم او تاسو په اور كي د لوېدو هڅه كوئ ، دا روايت د بخاري دی، په مسلم شريف كي هم دغسي روايت دی البته د مسلم په روايت كي آخري الفاظ دادي : رسول الله ﷺ وفرمايل : بيخي همدا زما او ستاسو مثال دی ما تاسو د ملا څخه نيولی ياست چي تاسو د اور څخه و ژغورم او درته وايم چي د دوزخ څخه خان وساتئ او زما پر پله راځئ ، مگر تاسو پر ما غالب كيږي او په اور كي لويږي .بخاري او مسلم.

﴿۱۴۲﴾ : وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ مَا بَعَثَنِيَ اللّٰهُ بِهِ مِنَ الْهُدٰى وَالْعِلْمِ كَمَثَلِ الْغَيْثِ الْكَثِيْرِ أَصَابَ أَرْضًا فَكَانَتْ مِنْهَا طَائِفَةٌ طَيِّبَةٌ قَبِلَتِ الْمَاءَ فَأَنْبَتَتِ الْكَلَاءَ وَالْعُشْبَ الْكَثِيْرَ وَكَانَتْ مِنْهَا أَجَادِبُ أَمْسَكَتِ الْمَاءَ فَنَفَعَ اللّٰهُ بِهَا النَّاسَ فَشَرِبُوْا وَسَقَوْا وَزَرَعُوْا وَأَصَابَ مِنْهَا طَائِفَةً أُخْرٰى إِنَّمَا هِيَ قِيْعَانٌ لَا تُمْسِكُ مَاءً وَلَا تُنْبِتُ كَلَاءً فَذٰلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقُهَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ وَنَفَعَهُ مَا بَعَثَنِيَ اللّٰهُ بِهِ فَعَلِمَ وَعَلَّمَ وَمَثَلُ مَنْ لَمْ يَرْفَعْ بِذٰلِكَ رَأْسًا وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللّٰهِ الَّذِيْ أُرْسِلْتُ بِهِ . (متفق عليه)

د حضرت ابوموسى ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه شي مثال چي د هغه سره زه الله رالیږلی يم ، يعني علم او هدايت د ډير باران په ډول دی چي پر مځکه سوی وي د مځکي يوه ښه برخي اوبه قبولي كړې (يعني جذب يې كړې) او وچ واښه په هغه سره شنه سول او په هغه سره ډير نوي واښه پيداسول ، او د مځكي يوه ټوټه داسي سخته وه چي اوبه پر هغه ځاى جمع سوې او الله ﷻ د هغه څخه خلكو ته گټه ورسول خلكو هغه و څښلې او په هغه يې فصلونه اوبه كړل او د باران دا اوبه د مځكي يو بلي داسي ټوټې ته ورسيدې چي وچ ميدان وو نه يې اوبه راگرزولې او نه يې واښه زرغونه كړل نو دا هر څه د هغه چا مثال دی چي هغه په علم دين كي پوه سو او كوم شی چي زما په ذريعه الله ﷻ راليږلی وو د هغه څخه يې گټه تر لاسه كړل نو خپله يې هم زده كړه او خلكو ته يې هم وښودل . او دا د هغه سړي مثال دی چي هغه خپل سر د علم دين لپاره پورته نه كړ او نه يې هغه هدايت قبول كړ چي زما په ذريعه ررته رسيدلی وو.

(۱۴۳) :وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ تَلاَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( هُوَ الَّذِيْ أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ ) وَقَرَأَ إِلَى ( وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُو الْأَلْبَابِ ) . قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا رَأَيْتَ وَعِنْدَ مُسْلِمٍ رَأَيْتُمُ الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ فَأُوْلٰئِكَ الَّذِيْنَ سَمَّاهُمُ اللهُ فَاحْذَرُوْهُمْ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت كړ (هوالذي انزل...) (دا هغه الله دی چې پر تا يې كتاب نازل كړ په دې كې محكم (ټينگ) آياتونه دي .....) بې بي عائشة فرمايي (د دې آيت په ويلو سره ) رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي ته ووينې (او د مسلم په يوه روايت كې دي) هر كله چي تاسو ووينئ چي خلك په متشابه آياتونو پسې دي (متشابه هغه آياتونه دي چې د هغه معنا يوازې الله تعالى ته معلومه وي ) نو ته پوه سه چي دا هغه خلك دي چي د هغوئ نوم الله ﷻ (گمراه) ايښى دى او د دوئ څخه ځان ساته . بخاري ومسلم

(۱۴۴) : وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ هَجَّرْتُ إِلىٰ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا قَالَ فَسَمِعَ أَصْوَاتَ رَجُلَيْنِ اخْتَلَفَا فِيْ آيَةٍ فَخَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْرَفُ فِيْ وَجْهِهِ الْغَضَبُ فَقَالَ إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِاخْتِلاَفِهِمْ فِي الْكِتَابِ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چې يوه ورځ زه د عرفات په وخت كې د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر سوم نو رسول الله ﷺ د دوو كسو آوازونه واورېدل چي په يو (متشابه) آيت كې يې بحث كاوه، رسول الله ﷺ زموږ لوري ته تشريف راوړ او دغه وخت د رسول الله ﷺ پر مبارك مخ د غصې نښې څرگندې وې ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسو څخه وړاندې چي كوم خلك وه هغوئ د الله په كتاب كې اختلاف كاوه له دې كبله هغوئ هلاك سول .

(۱۴۵) : وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَعْظَمَ الْمُسْلِمِيْنَ فِي الْمُسْلِمِيْنَ جُرْمًا مَنْ سَأَلَ عَنْ شَيْءٍ لَمْ يُحَرَّمْ عَلَى النَّاسِ فَحُرِّمَ مِنْ أَجْلِ مَسْأَلَتِهِ .(متفق عليه)

د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په مسلمانانو كې تر ټولو لوی گناهكار هغه څوك دی چي د يو شي په اړه پوښتنه وكړي كوم چي پر خلكو حرام نه وي مگر د هغه د پوښتني كولو له كبله هغه حرام كړل سي . بخاري او مسلم .

(۱۴۶) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه ږوايت دی چي رسول

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُوْنُ فِيْ آخِرِ الزَّمَانِ دَجَّالُوْنَ كَذَّابُوْنَ يَأْتُوْنَكُمْ مِنَ الْأَحَادِيْثِ بِمَا لَمْ تَسْمَعُوْا أَنْتُمْ وَلاَ آبَاؤُكُمْ فَإِيَّاكُمْ وَإِيَّاهُمْ لاَ يُضِلُّوْنَكُمْ وَلاَ يَفْتِنُوْنَكُمْ .رواه مسلم .

الله ﷺ وفرمايل :په آخره زمانه کي به داسي ټګان او درواغجن خلك وي چي تاسو ته به داسي حديثونه راوړي کوم چي نه به تاسو اوريدلي وي او نه به ستاسو پلرونو او نيکه ګانو، نو د داسي خلکو څخه ځان وژغورئ او ځان ته يې نژدې مه پرېږدئ چي نه تاسو ګمراه کړي او نه مو په فتنه کي واچوي. مسلم.

﴿١٤٧﴾ : وَعَنْهُ قَالَ كَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَقْرَؤُوْنَ التَّوْرَاةَ بِالْعِبْرَانِيَّةِ وَيُفَسِّرُوْنَهَا بِالْعَرَبِيَّةِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُصَدِّقُوْا أَهْلَ الْكِتَابِ وَلاَ تُكَذِّبُوْهُم وَ( قُوْلُوْا آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا الآية . رواه البخاري .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي اهل کتابو به تورات په عبراني ژبه لوستی او د مسلمانانو په مخکي به يې د هغه ژباړه او تفسير په عربي ژبه کول، رسول الله ﷺ ته چي دا څرګنده سوه نو وه يې فرمايل : تاسو اهل کتاب رښتني مه ګڼئ او مه يې درواغجن ګڼئ او دا واياست چي موږ پر الله او پر هغه شی چي الله پر موږ نازل کړی دی ايمان را وړی دی . بخاري

﴿١٤٨﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَفٰى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انسان د درواغو ويلو لپاره دا خبره بس ده چي کومه خبره واوري هغه نقل کړي . (يعني تحقيق يې ونه کړي)

﴿١٤٩﴾ : وَعَنِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللهُ فِيْ أُمَّتِهِ قَبْلِيْ إِلاَّ كَانَ لَهُ مِنْ أُمَّتِهِ حَوَارِيُّوْنَ وَأَصْحَابٌ يَأْخُذُوْنَ بِسُنَّتِهِ وَيَقْتَدُوْنَ بِأَمْرِهِ ثُمَّ إِنَّهَا تَخْلُفُ مِنْ بَعْدِهِمْ خُلُوْفٌ يَقُوْلُوْنَ مَا لاَ يَفْعَلُوْنَ وَيَفْعَلُوْنَ مَا لاَ يُؤْمَرُوْنَ فَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِيَدِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِلِسَانِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِقَلْبِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ وَلَيْسَ وَرَاءَ ذٰلِكَ مِنَ الْإِيْمَانِ حَبَّةُ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما څخه وړاندي په هيڅ يو قوم کي الله يو نبي داسي نه دی راليږلی چي د هغه قوم څخه د هغه مرستيالان او دوستان نه وي (داسي مرستيالان او دوستان) چي د هغه د طريقو پيروي او د هغه د احکامو پوره اطاعت کوي ، بيا د هغو وروسته داسي نالائقه خلك پيدا سول هغو خلکو به داسي خبره کوله چي خپله به يې عمل نه په کاوه ، او هغه کار به يې کاوه چي د هغه حکم به

خَرْدَلٍ . رواه مسلم .

نه وو ورکړل سوی ، نو چا چي (ستاسو څخه) د دې خلکو سره د لاس جهاد وکړ هغه مؤمن دی او چا چي په ژبه ورسره جهاد وکړ هغه مؤمن دی او چا چي په زړه ورسره جهاد وکړ هغه مؤمن دی او ددې وروسته (يعني څوك چي د هغوئ پر خلاف دومره هم ونه کړي چي په زړه جهاد ورسره وکړي) په هغه کي د اوري د داني په اندازه هم ايمان نسته .مسلم

(۱۵۰) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :مَنْ دَعَا إِلى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُوْرِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْئًا وَمَنْ دَعَا إِلىٰ ضَلاَلَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لاَ يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د هدايت دعوت ورکړي هغه ته به دومره ثواب ورکول کيږي څومره چي په هغه عمل کونکي ته ورکول کيږي او د هغه (اطاعت کونکي) د اجر څخه به هيڅ هم نه کميږي، او څوك چي د گمراهۍ دعوت ورکړي د هغه به هغومره گناه وي څومره چي په هغه د عمل کونکي وي او د هغه د گناه څخه به هيڅ نه کميږي . مسلم.

(۱۵۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَأَ الْإِسْلاَمُ غَرِيْبًا وَسَيَعُوْدُ كَمَا بَدَأَ فَطُوْبٰى لِلْغُرَبَاءِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :اسلام په غريبانو کي پيل سو او په پای کي به هم (يعني په پای کي هم اسلام په غريبانو کي پاته سي) نو د غريبانو لپاره خوشخبري ده . مسلم .

(۱۵۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْإِيْمَانَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْمَدِيْنَةِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا (متفق عليه ) وَ سَنَذْكُرُ حَدِيْثَ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ذَرُوْنِيْ مَا تَرَكْتُمْ فِيْ كِتَابِ الْمَنَاسِكِ وَحَدِيْثَيْ مُعَاوِيَةَ وَجَابِرٍ لاَ يَزَالُ مِنْ أُمَّتِيْ وَلاَيَزَالُ طَائِفَةٌ مِّنْ أُمَّتِيْ، فِيْ بَابِ ثَوَابِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ اِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايمان به د مديني په لور داسي را ټول سي لکه څرنگه چي مار خپل سوري ته را ټوليږي (بخاري اومسلم) موږ به د حضرت ابوهريرة حديث (ذروني ماترکتم) په کتاب المناسك کي راوړو او دوه حديثونه د حضرت معاويه او جابر چي ( لايزال من امتي ...) څخه شروع کيږي په باب ثواب هذه الامة کي انشاء الله ذکر کړو.

## دوهم فصل

(۱۵۳): عَنْ رَبِيْعَةَ الْجُرَشِيِّ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيْلَ لَهُ لِتَنَمْ عَيْنُكَ وَلْتَسْمَعْ أُذُنُكَ وَلْيَعْقِلْ قَلْبُكَ قَالَ فَنَامَتْ عَيْنَايَ وَسَمِعَتْ أُذُنَايَ وَعَقَلَ قَلْبِيْ قَالَ فَقِيْلَ لِيْ سَيِّدٌ بَنٰى دَارًا فَصَنَعَ فِيْهَا مَأْدُبَةً وَأَرْسَلَ دَاعِيًا فَمَنْ أَجَابَ الدَّاعِيَ دَخَلَ الدَّارَ وَأَكَلَ مِنَ الْمَأْدُبَةِ وَ رَضِيَ عَنْهُ السَّيِّدُ وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّاعِيَ لَمْ يَدْخُلِ الدَّارَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنَ الْمَأْدُبَةِ وَ سَخِطَ عَلَيْهِ السَّيِّدُ قَالَ فَاللّٰهُ السَّيِّدُ وَمُحَمَّدٌ الدَّاعِيُّ وَالدَّارُ الْإِسْلَامُ وَالْمَأْدُبَةُ الْجَنَّةُ . رواه الدارمي .

د حضرت ربیعة الجرشي ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ته په خوب کي ملائکي ونبودل سوې هغه ملائکو ده مبارك ته وویل پکار دي چي ستاسو سترګي بیدې وي او ستاسو غوږونه اوري او ستاسو زړه پوهیږي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : نو زما سترګي بیدې وي او زما غوږونو واورېدل او زما زړه په پوه سو بیا رسول الله ﷺ وفرمایل د مثال په ډول ملائکو زما په وړاندي بیان وکړ چي یو سردار کور جوړ کړ او میلمستیا یې تیاره کړه او یو بلونکی یې ولیږی نو چا چي د هغه بلونکي بلنه ومنل نو هغه کور ته داخل سو او پر دسترخوان یې خوراك وخوړی او سردار : هغه څخه خوشحاله سو او چا چي د بلونکي خبره ونه منل هغه نه دغه کور ته داخل سو او نه یې د دسترخوان څخه خوراك وکړ او سردار هم د هغه څخه ناخوښ سو ، رسول الله ﷺ وفرمایل په دې مثال کي د سردار څخه مراد الله تعالی دی او د بلونکي څخه مراد محمد ﷺ دی د کور څخه مراد اسلام دی او د دسترخوان څخه مراد جنت دی . (دارمي)

(۱۵۴): وَعَنْ أَبِيْ رَافِعٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ مُتَّكِئًا عَلٰى أَرِيْكَتِهِ يَأْتِيْهِ الْأَمْرُ مِنْ أَمْرِيْ مِمَّا أَمَرْتُ بِهِ أَوْ نَهَيْتُ عَنْهُ فَيَقُوْلُ لَا أَدْرِيْ مَا وَجَدْنَا فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ اتَّبَعْنَاهُ . رواه أحمد وأبو داود والترمذي وابن ماجه والبيهقي في دلائل النبوة .

د حضرت ابورافع ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه دي هیڅوك په تاسو کي په دې حال ونه وینم چي هغه په چپرکټ کي تکیه وهلې وي او زما د هغه احکامو چي د هغو ما حکم ورکړی وي یا د کوم څخه چي مي منع کړی وي یو حکم هغه ته راسي ا و هغه دا وايي چي زه په هیڅ نه پوهیږم څه چي مو د الله په کتاب کي پیدا کړل د هغه اطاعت وکړه . احمد ، ابوداؤد ،ترمذي او بیهقي.

(۱۵۵): وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيْ كَرِبَ قَالَ

د حضرت مقدام بن معدیکرب څخه روایت دی چي

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلاَ إِنِّي أُوْتِيْتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ أَلاَ يُوْشِكُ رَجُلٌ شَبْعَانُ عَلَى أَرِيْكَتِهِ يَقُوْلُ عَلَيْكُمْ بِهٰذَا الْقُرْآنِ فَمَا وَجَدْتُمْ فِيْهِ مِنْ حَلاَلٍ فَأَحِلُّوْهُ وَمَا وَجَدْتُمْ فِيْهِ مِنْ حَرَامٍ فَحَرِّمُوْهُ وَإِنَّ مَا حَرَّمَ رَسُوْلُ اللهِ كَمَا حَرَّمَ اللهُ أَلاَ لاَ يَحِلُّ لَكُمُ الْحِمَارُ الْأَهْلِيُّ وَلاَ كُلُّ ذِيْ نَابٍ مِّنَ السِّبَاعِ وَلاَ لُقَطَةُ مُعَاهِدٍ إِلاَّ أَنْ يَّسْتَغْنِيَ عَنْهَا صَاحِبُهَا وَمَنْ نَزَلَ بِقَوْمٍ فَعَلَيْهِمْ أَنْ يَّقْرُوْهُ فَإِنْ لَّمْ يَقْرُوْهُ فَلَهُ أَنْ يُّعْقِبَهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُ. رواه أبو داود، وروى الدارمي نحوه وكذا ابن ماجه إلى قوله كَمَا حَرَّمَ اللهُ.

رسول الله ﷺ وفرمایل: خبردار! ما ته قرآن او ددي په مثل راکړل سوي دي خبردار اوسئ چي ډير ژر به یو ډك نسی پر خپل چپرکټ پروت وي او وايي به چي بس هم دا قرآن لازم وګڼئ کوم شی چي تاسو په قرآن کي حلال پیداکړي هغه حلال وګڼئ او کوم چي حرام پیداکړئ هغه حرام وګڼئ ، حالنکه واقعیت دادی چي رسول الله ﷺ څه حرام کړي دي هغه په دا ډول دي لکه الله تعالی چي حرام کړي دي ، خبردار اوسئ! چي ستاسو لپاره کورنی خر حرام دی او همداسي هر خیروونکی حیوان (زمری، لیوه، سپی ...) حرام دي، او ستاسو لپاره د معاهد شی (یعني د هغه قوم شی چي د هغوئ سره معاهده سوې وي) حرام دی خو هغه شی چي دمالك څه پروا پر نه وي او څوك چي د نو قوم میلمه سي نو پر هغه قوم لازم دي چي د هغه میلمستیا وکړي او که هغوئ یې میلمستیا ونه کړي نو هغه لره جائز ده چي د میلمستیا مطابق (خوراك او څیښاك) د هغه څخه تر لاسه کړي ، ابوداؤد او دارمي هم داسي روایت کړی دی او همدا ډول ابن ماجه تر (څنګه چي الله حرام کړي دي) پوري روایت کړی دی.

(۱۵۶): وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ قَالَ قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيَحْسَبُ أَحَدُكُمْ مُتَّكِأً عَلَى أَرِيْكَتِهِ يَظُنُّ أَنَّ اللهَ لَمْ يُحَرِّمْ شَيْئًا إِلاَّ مَا فِيْ هٰذَا الْقُرْآنِ أَلاَ وَإِنِّيْ وَاللهِ قَدْ أَمَرْتُ وَوَعَظْتُ وَنَهَيْتُ عَنْ أَشْيَاءَ إِنَّهَا لَمِثْلُ الْقُرْآنِ أَوْ أَكْثَرُ وَإِنَّ اللهَ لَمْ يُحِلَّ لَكُمْ أَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلاَّ بِإِذْنٍ وَلاَ ضَرْبَ نِسَائِهِمْ وَلاَ أَكْلَ ثِمَارِهِمْ إِذَا أَعْطَوْكُمْ

د حضرت عرباض بن ساریه ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ (د خطبې لپاره) ودرېدی او وه یې فرمایل: ایا په تاسو کي یو څوك پر خپل چپرکټ تکیه لګولی دا خیال کوي چي الله تعالی کوم شیان حرام کړي دي هغه دي په قرآن کي موجود وي ، خبردار اوسئ! په الله دي مي قسم وي چي ما حکم ورکړ، نصیحت مي وکړ او د څو شیانو څخه مي منع وکړل او هغه د قرآن په ډول دي بلکه زیات او البته الله تعالی دا نه دي حلال کړي چي تاسو د هغوئ کورو ته بې اجازې ور سئ او نه ستاسو لپاره د هغوئ ښځي وهل جائز دي او نه د هغوئ میوې خوړل جائز دي

الَّذِيْ عَلَيْهِمْ . رواه أبو داود، وفي إسناده أشعث بن شعبة المصيصي قَدْ تُكلِّمُ فِيْه .

هر كله چي اهل كتاب خپله هغه مطالبه ادا كړي چي د هغوئ پر ذمه وه . ابوداؤد .

﴿۱۵۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ فَوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيْغَةً ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُوْنُ وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوْبُ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَأَنَّ هٰذِهٖ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَأَوْصِنَا فَقَالَ أُوْصِيْكُمْ بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا فَإِنَّهٗ مَنْ يَّعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِيْ فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيْرًا فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ تَمَسَّكُوْا بِهَا وَعَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُوْرِ فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ . رواه أحمد وأبو داود والترمذي وابن ماجه إِلَّا أَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا الصَّلَاةَ .

د حضرت عرباض بن ساريه ﷺ څخه روايت دی يوه ورځ رسول الله ﷺ زموږ سره لمونځ وکړ بيا رسول الله ﷺ زموږ لوري ته مخ کړ کښېناست او موږ ته يې په ډيرو اثرناکو الفاظو کي نصيحت وکړ چي زموږ د سترګو څخه اوښکي رواني سوې او په زړونو کي مو بيره پيداسول ، نو په موږ کي يو سړي عرض وکړ اې داالله رسوله ! (شايد) دا آخري وصيت دی تاسو موږ ته څه نور وصيت وفرماياست، رسول الله ﷺ وفرمايل : زه تاسو ته وصيت کوم چي د الله څخه و بيرېږئ او تاسو ته د اورېدو او اطاعت کولو وصيت کوم اگر که تاسو ته د يو حبشي غلام اطاعت کول سي په تاسو کي چي څوك زما وروسته ژوندی پاته سي هغه به لوی اختلاف ويني په داسي حالت کي پرتاسو لازمه ده چي زما د نورو هدايت يافته خلفاء راشدينو طريقه په ټينګه ونيسئ پر هغه (طريقه) يقين ولرئ او هغه د زامي په غاښونو سره ټينګه ونيسئ او تاسو په دين کي د نوي شي پيداکولو څخه ځان وژغورئ ځکه چي هره نوې خبره بدعت دی او هر بدعت گمراهي ده .

﴿۱۵۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ خَطَّ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطًّا ثُمَّ قَالَ هٰذَا سَبِيْلُ اللهِ ثُمَّ خَطَّ خُطُوْطًا عَنْ يَمِيْنِهٖ وَعَنْ شِمَالِهٖ وَقَالَ هٰذِهٖ سُبُلٌ عَلٰى كُلِّ سَبِيْلٍ مِّنْهَا شَيْطَانٌ يَّدْعُوْ إِلَيْهِ وَ قَرَأَ ( اَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ) الآية . رواه أحمد والنسائي والدارمي .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (يو ځل زموږ د پوهولو لپاره) يو خط (سيده ليکه) وکښل او بيا يې وفرمايل : دا خو د الله تعالی لار ده بيا رسول الله ﷺ د هغه خط سره راسته او چپه طرف ته څو نور خطونه وکښل او وه يې فرمايل : دا هم لاري دي چي په دې لارو کي پر هر يوه باندي شيطان ناست دی چي و خپل لوري

ته دعوت کوي، بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ: (ان هذا صراطي مستقيما فاتبعوه) يعني دا زما سيده لاره ده د دې پيروي کوئ. احمد، نسائي او دارمي.

﴿۱۵۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ هَوَاهُ تَبَعًا لِّمَا جِئْتُ بِهِ. رواه في شرح السنة وَقَالَ النووي في أربعينه هذا حديث صحيح رويناه في كتاب الحجة بإسناد صحيح.

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې هيڅوک تر هغه وخته پورې پوره مؤمن نه سي کيدلای تر څو چې د هغه غوښتنې د هغه شي تابع نه سي کوم چې ما راوړی دی (يعني دين او شريعت) دا روايت په (شرح السنة) کې دی او امام نووي په خپل کتاب (اربعين) کې ليکلي دي چې دا حديث صحيح دی چې موږ په کتاب (الحجة) کې په صحيح سند سره روايت کړی دی.

﴿۱۶۰﴾: وَعَنْ بِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ الْمُزَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَحْيَا سُنَّةً مِّنْ سُنَّتِيْ قَدْ أُمِيْتَتْ بَعْدِيْ فَإِنَّ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلَ أُجُوْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَّنْقُصَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْئًا وَّمَنِ ابْتَدَعَ بِدْعَةً ضَلَالَةً لَا يَرْضَاهَا اللهُ وَرَسُوْلُهُ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ عَمِلَ بِهَا لَا يَنْقُصُ ذَالِكَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْئًا. رواه الترمذي. و رواه ابن ماجة عن كثير ابن عمرو وعن ابيه عن جده.

د حضرت بلال بن الحارث المزني ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې زما يو داسې سنت ژوندی (رواج) کړ کوم چې ز ما وروسته پرېښودل سوی وي نو هغه ته به په هغه ډول ثواب رسيږي څومره چې به هغه خلکو ته رسيږي کومو چې عمل په کړی وي، او د هغه عمل کونکو په ثواب کې به هيڅ کمي نه راځي، او چا چې د ګمراهۍ يو شی رواج کړ کوم چې د الله او د هغه د رسول ناخوښ وي نو پر هغه به هغومره ګناه ورکول کيږي څومره چې پر دغه بدعت کونکې باندې وي خو د دغه عمل کونکې د ګناه څخه به هيڅ هم نه کميږي، ترمذي او دا روايت ابن ماجه د کثير بن عبدالله بن عمرو څخه او عمرو د خپل پلار څخه او هغه د خپل نيکه څخه روايت کړی دی.

﴿۱۶۱﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ الدِّيْنَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْحِجَازِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلٰى جُحْرِهَا وَلَيَعْقِلَنَّ الدِّيْنُ مِنَ الْحِجَازِ مَعْقِلَ الْأَرْوِيَّةِ مِنْ

د حضرت عمرو بن عوف ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: دين (اسلام) به د حجاز په لور داسې را يوځای سي لکه څرنګه چې مار خپل سوري ته را يوځای کيږي او دين به په حجاز کې داسې ځای ونيسي لکه څرنګه بزه چې د غره په

رَأْسِ الْجَبَلِ إِنَّ الدِّيْنَ بَدَأَ غَرِيْبًا وَسَيَعُوْدُ كَمَا بَدَأَ فَطُوْبٰى لِلْغُرَبَاءِ وَهُمُ الَّذِيْنَ يُصْلِحُوْنَ مَا أَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِيْ مِنْ سُنَّتِيْ . رواه الترمذي

څوکه کي ځاى نيسي ، او دين په پيل کي د غريبانوڅخه پيل سوى دى او په پاى کي به هم داسي سي ، نو خوشخبري دي وي غريبانو ته هغوئ زما ددين هغه شيان سم کړي کوم چي به زما څخه وروسته خلکو خراب کړى وي .ترمذي.

(۱۶۲): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَيَأْتِيَنَّ عَلٰى أُمَّتِيْ كَمَا أَتٰى عَلٰى بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ حَتّٰى إِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ أَتٰى أُمَّهُ عَلَانِيَةً لَكَانَ فِيْ أُمَّتِيْ مَنْ يَصْنَعُ ذٰلِكَ وَإِنَّ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ تَفَرَّقَتْ عَلٰى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ مِلَّةً وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِيْ عَلٰى ثَلَاثٍ وَسَبْعِيْنَ مِلَّةً كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً قَالُوْا وَمَنْ هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِيْ . رواه الترمذي . وفي رواية أحمد وأبي داود عن مُعَاوِيَةَ ثِنْتَانِ وَسَبْعُوْنَ فِي النَّارِ وَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَهِيَ الْجَمَاعَةُ وَإِنَّهُ سَيَخْرُجُ فِيْ أُمَّتِيْ أَقْوَامٌ تَتَجَارٰى بِهِمْ تِلْكَ الْأَهْوَاءُ كَمَا يَتَجَارَى الْكَلْبُ بِصَاحِبِهِ لَا يَبْقٰى مِنْهُ عِرْقٌ وَلَا مَفْصِلٌ إِلَّا دَخَلَهُ .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﵁ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت کي به داسي زمانه راسي لکه څرنگه چي په بني اسرائيلو کي راغلې وه بالکل داسي درست او سم لکه څرنگه چي څپلې په دواړو پښو برابري وي تر دې چي په بني اسرائيلو کي که يو چا په څرگنده د خپلي مور سره بدفعلي کړې وي نو زما په امت کي به هم داسي خلک وي چي داسي به کوي او د بني اسرائيلو قوم به په دو اويا ډلو کي ويشلى وي او زما قوم به پر درو اويا ډلو ويشلى وي چي په هغو کي به يوه ډله جنتي او پاته ټولي ډلي به دوږخي وي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! جنتي ډله به کومه يوه وي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغه ډله پر کوم چي زه او زما اصحاب دي (ترمذي) احمد او ابودرداء چي د معاوية څخه کوم روايت کړى دى په هغه کي دا الفاظ دي چي دو اويا ډلي به دوږخ ته ځي او يوه ډله به جنت ته ځي، او جنتي ډله جماعت دى او البته زما د امت څخه به څو قومونه جوړ سي چي په هغوئ کي به خواهشات داسي رواج وي لکه څرنگه چي ليونى سپى په ناروغي کي چي جاري وي چي هيڅ رگ او بند د هغه څخه نه ساتل کيږي .

(۱۶۳) : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ لَا يَجْمَعُ أُمَّتِيْ أَوْ

د حضرت ابن عمر ﵁ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى به زما (يا داسي يې وفرمايل

قَالَ أُمَّةَ مُحَمَّدٍ عَلٰى ضَلَالَةٍ وَيَدُ اللهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ وَمَنْ شَذَّ شُذَّ فِي النَّارِ . رواه الترمذي .

چي دمحمد امت) پر گمراهۍ نه جمع كوي او دالله لاس پر جماعت دى او څوك چي د جماعت څخه بيل سو هغه په دوزخ كي ولويدى . ترمذي

(١٦٤) : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّبِعُوْا السَّوَادَ الْأَعْظَمَ فَإِنَّهُ مَنْ شَذَّ شُذَّ فِي النَّارِ . رواه ابن ماجه من حديث أنس .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل :د گڼي ډلي پيروي كوئ نو څوك چي د جماعت څخه بيل سو هغه په اور كي ولويدى . ابن ماجه .

(١٦٥) : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بُنَيَّ إِنْ قَدَرْتَ أَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِيَ وَلَيْسَ فِيْ قَلْبِكَ غِشٌّ لِأَحَدٍ فَافْعَلْ ثُمَّ قَالَ يَا بُنَيَّ وَذٰلِكَ مِنْ سُنَّتِيْ وَمَنْ أَحَبَّ سُنَّتِيْ فَقَدْ أَحَبَّنِيْ وَمَنْ أَحَبَّنِيْ كَانَ مَعِيْ فِي الْجَنَّةِ . رواه الترمذي .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې زما بچيه! كه ستا په وس كي وي نو د سهار څخه تر ماښام پوري په داسي حالت كي اوسه چي ستا په زړه كي د هيچا كينه او خيري نه وي نو ته دغسي كوه ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : اې زما بچيه ! دا زما طريقه او سنت دي نو چا چي زما طريقه خوښه كړل هغه زه دوست كړم او څوك چي محبت كوي زما سره هغه به په جنت كي زما سره وي .ترمذي.

(١٦٦) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِيْ عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِيْ فَلَهُ أَجْرُ مِائَةِ شَهِيْدٍ .رواه البيهقي في كتب الزهد له من حديث ابن عباس .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي زما د امت د خرابېدو په وخت كي زما سنت خپل كړل نو هغه ته به د سلو شهيدانو ثواب وركول كيږي .

(١٦٧): وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ أَتَاهُ عُمَرُ فَقَالَ إِنَّا نَسْمَعُ أَحَادِيْثَ مِنْ يَهُوْدَ تُعْجِبُنَا أَفَتَرٰى أَنْ نَكْتُبَ بَعْضَهَا ؟ فَقَالَ أَمُتَهَوِّكُوْنَ أَنْتُمْ كَمَا تَهَوَّكَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى، لَقَدْ جِئْتُكُمْ بِهَا بَيْضَاءَ نَقِيَّةً وَلَوْ

حضرت جابر ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت كوي چي حضرت عمر ﷺ رسول الله ﷺ ته راغلى او وه يې ويل : موږ د يهوديانو خبري اورو او هغه موږ ته ښه معلوميږي ايا تاسو موږ ته اجازه راكوئ چي موږ د هغوئ (خبري) ځيني وليكو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا ته هم داسي حيران يې (په خپل دين كي) څرنگه

كَانَ مُوْسٰى حَيًّا مَّا وَسِعَهُ إِلاَّ اتِّبَاعِيْ . رواه أحمد والبيهقي في كتاب شُعَب الإيمان .

چي يهود او نصارا حيران دي ، ما تاسو ته صفا او خلانده شريعت راوړی دی که حضرت موسی ﷺ ژوندی وای نو هغه به هم زما په پيروي مجبور وای . احمد او بيهقي.

﴿١٦٨﴾ : وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَكَلَ طَيِّبًا وَعَمِلَ فِيْ سُنَّةٍ وَّأَمِنَ النَّاسُ بَوَائِقَهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ هٰذَا الْيَوْمَ لَكَثِيْرٌ فِي النَّاسِ قَالَ وَسَيَكُوْنُ فِيْ قُرُوْنٍ بَعْدِيْ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي پاك خواړه وخوړل، پر سنت طريقه يې عمل وکړ او د هغه د ژبې څخه خلك په امان کي سول هغه به جنت ته ځي ، يوه سړي پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! داسي خلك خو نن سبا ډير دي ، رسول الله ﷺ وفرمايل او زما وروسته به هم داسي خلك وي . ترمذي .

﴿١٦٩﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّكُمْ فِيْ زَمَانٍ مَّنْ تَرَكَ مِنْكُمْ عُشْرَ مَا أُمِرَ بِهِ هَلَكَ، ثُمَّ يَأْتِيْ زَمَانٌ مَنْ عَمِلَ مِنْهُمْ بِعُشْرِ مَا أُمِرَ بِهِ نَجَا . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو په داسي زمانه کي ياست که په تاسو کي څوك د الله د احکامو لسمه برخه هم پريږدي نو هلاك به سي مگر يوه زمانه به داسي راسي که څوك د احکامو لسمه برخه هم پر ځای کړي نو خلاصون به تر لاسه کړي . ترمذي

﴿١٧٠﴾ : وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًى كَانُوْا عَلَيْهِ إِلاَّ أُوْتُوا الْجَدَلَ . ثُمَّ قَرَأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذِهِ الآيَةَ ( مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ إِلاَّ جَدَلاً بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُوْنَ ) .

رواه احمد والترمذي وابن ماجة .

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :د هدايت تر لاسه کولو او پر هدايت باندي قائم پاته کېدو وروسته هيڅ يو قوم گمراه سوی نه دی ، ددې وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : (ما ضربوه لك الا جدلا....) هغوئ ستا لپاره مثال نه بيانوي خو دجگړې لپاره بلکه هغه جگړه کونکی قوم دی. احمد ،ترمذي، او ابن ماجه

﴿١٧١﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ لاَ تُشَدِّدُوْا عَلَى أَنْفُسِكُمْ فَيُشَدِّدَ اللهُ عَلَيْكُمْ فَإِنَّ قَوْمًا شَدَّدُوْا عَلَى أَنْفُسِهِمْ فَشَدَّدَ اللهُ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به فرمايل : تاسو پر خپلو ځانونو سختي مه کوئ بيا به الله پاك هم سختي در باندي وکړي ،

عَلَيْهِمْ فَتِلْكَ بَقَايَاهُمْ فِيْ الصَّوَامِعِ وَالدِّيَارِ (رَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ) . رواه ابوداؤد.

په تحقیق سره یو قوم (بني اسرائیلو) پر خپلو خانونو سختي کړې وه نو الله هم پر هغوئ سختي وکړه او نن چي کوم خلك په صوامعو او دیارونو (د نصارا او یهودو عبادت خانو) کي دي دا د هغه خلکو یادګارونه دي رهبانیت (دنیا پرېښودل) دغه خلکو منځته راوړی وو موږ پر فرض کړی نه وو .ابوداؤد

(۱۷۲) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ الْقُرْآنُ عَلٰى خَمْسَةِ أَوْجُهٍ حَلَالٌ وَحَرَامٌ وَمُحْكَمٌ وَمُتَشَابِهٌ وَأَمْثَالٌ .فَأَحِلُّوا الْحَلَالَ وَحَرِّمُوا الْحَرَامَ وَاعْمَلُوْا بِالْمُحْكَمِ وَآمِنُوْا بِالْمُتَشَابِهِ وَاعْتَبِرُوْا بِالْأَمْثَالِ .هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيْحِ . وَرَوَى الْبَيْهَقِي فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ وَلَفْظُهُ فَاعْمَلُوا بِالْحَلَالِ وَاجْتَنِبُوا الْحَرَامَ وَاتَّبِعُوا الْمُحْكَمَ .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : قرآن کریم په پنځو څانګو (یا پنځه ډوله حکمو سره ) نازل سوی دی ۱: حلال ۲: حرام ۳: حکم ۴: متشابه ۵: امثال ، نو تاسو حلال ، حلال وګنئ حرام حرام وګنئ په محکم عمل وکړئ په متشابه ایمان راوړئ او د امثالو څخه عبرت تر لاسه کړئ ، د حدیث الفاظ په مصابیح کي دي او بیهقي په (شعب الایمان) کي چي کوم روایت لیکلي دی د هغه الفاظ دادی نو په حلال عمل وکړئ د حرام څخه ځان وساتئ او د محکم پیروي وکړئ .

(۱۷۳) : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْأَمْرُ ثَلَاثَةٌ أَمْرٌ بَيِّنٌ رُشْدُهُ فَاتَّبِعْهُ وَأَمْرٌ بَيِّنٌ غَيُّهُ فَاجْتَنِبْهُ وَأَمْرٌ اُخْتُلِفَ فِيْهِ فَكِلْهُ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ ) (رواه احمد)

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د شریعت احکام پر درې ډوله دي ۱: یو حکم چي د هغه هدایت ظاهر دی د هغه پیروي کوئ ۲: دوهم حکم چي د هغه ګمراهي څرګنده ده د هغه څخه ځان وساتئ ۳: دریم حکم مختلف فیه دی او دا الله ته وسپارئ.

## دریم فصل

(۱۷۴) : عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ ذِئْبُ الْإِنْسَانِ كَذِئْبِ الْغَنَمِ يَأْخُذُ الشَّاذَّةَ وَالْقَاصِيَةَ وَالنَّاحِيَةَ وَإِيَّاكُمْ

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : شیطان د انسان شرمښ دی لکه د پسو چي شرمښ وي چي هغه پسونه

وَالشِّعَابَ وَعَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَالْعَامَّةِ . رواه أحمد

تښتوي كوم چي د رمې څخه تښتېدلي وي يا د رمې څخه ليري تللي وي يا د رمې پر غاړه وي او تاسو د غره د كنډوونو (گمراهيو) څخه ځان وساتئ او د جماعت او عوامو سره اوسئ .احمد.

(١٧٥): وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ . رواه أحمد وأبو داود .

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د جماعت څخه يوه لوېشت بيل سو نو هغه د اسلام پړی د خپلي غاړي څخه ايسته كړ .احمد او ابوداؤد.

(١٧٦) : وَعَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوْا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابُ اللهِ وَسُنَّةُ رَسُوْلِهِ . رواه في الموطأ .

حضرت مالك بن انس ﷺ په مرسل طريقه بيان كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما په تاسو كي دوه شيان پرې ايښي دي تر څو پوري چي هغه مو په ټينگه نيولي وي نو گمراه به نه سئ ١: د الله كتاب ٢: او دويم د رسول الله ﷺ سنت .

(١٧٧) : وَعَنْ غُضَيْفِ بْنِ الْحَارِثِ الثُّمَالِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا أَحْدَثَ قَوْمٌ بِدْعَةً إِلاَّ رُفِعَ مِثْلُهَا مِنَ السُّنَّةِ فَتَمَسُّكٌ بِسُنَّةٍ خَيْرٌ مِّنْ إِحْدَاثِ بِدْعَةٍ. رواه احمد

د حضرت غضيف بن حارث الشمالي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم قوم چي (په دين كي) يو نوې خبره پيداكړي د هغه په مثل يو سنت ځيني پورته كړل سي نو سنت ټينگ نيول تر نوي خبري پيداكولو غوره دي .

(١٧٨) : وَ عَنْ حَسَّانَ قَالَ مَا ابْتَدَعَ قَوْمٌ بِدْعَةً فِي دِيْنِهِمْ إِلاَّ نَزَعَ اللهُ مِنْ سُنَّتِهِمْ مِثْلَهَا ثُمَّ لاَ يُعِيْدُهَا إِلَيْهِمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ . رواه الدارمي .

د حضرت حسان بن ثابت ﷺ څخه روايت دی كوم قوم چي په خپل دين كي يوه نوې خبره پيداكړل نو الله تعالی د هغوئ څخه په هغه دول سنت پورته كوي او بيا هغه سنت تر قيامته پوري نه راگرځي . دارمي.

(١٧٩): وَعَنْ إِبْرَاهِيْمَ بْنِ مَيْسَرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَقَدْ أَعَانَ عَلَى هَدْمِ الْإِسْلَامِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان مُرْسَلاً .

د حضرت ابراهيم بن ميسرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي د بدعتي عزت وكړ هغه د دين په نړولو كي مرسته وكړه ، بيهقي په شعب الايمان كي مرسلا روايت كړی دی .

(۱۸۰) : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَنْ تَعَلَّمَ كِتَابَ اللهِ ثُمَّ اتَّبَعَ مَا فِيْهِ هَدَاهُ اللهُ مِنَ الضَّلاَلَةِ فِي الدُّنْيَا وَ وَقَاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ سُوْءَ الْحِسَابِ . وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ مَنِ اقْتَدٰى بِكِتَابِ اللهِ لاَ يَضِلُّ فِي الدُّنْيَا وَلاَ يَشْقٰى فِي الآخِرَةِ ثُمَّ تَلاَ هٰذِهِ الآيَةَ ( فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلاَ يَضِلُّ وَلاَ يَشْقٰى ) . رواه رزين.

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چا چي د الله د کتاب علم تر لاسه کړ او بیا څه چي په کتاب الله کي دي د هغه پیروي یې وکړل نو الله پاك به یې په دنیا کي د گمراهۍ څخه وساتي او دهدایت پر لاره به یې لري، او د قیامت په ورځ به یې د خراب حساب څخه وساتي ، پــــه یوه روایت کي دا الفاظ دي چا چي د الله ﷻ د کتاب پیروي وکړه هغه به په دنیا کي نه گمراه کیږي او نه به په آخرت کي بدنصیب وي ، د دې وروسته ابن عباس دا آیت تلاوت کړ : فمن اتبع هدای ......

(۱۸۱) :وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ضَرَبَ اللهُ مَثَلاً صِرَاطًا مُسْتَقِيْمًا وَعَنْ جَنْبَتَيِ الصِّرَاطِ سُوْرَانِ فِيْهِمَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ وَعَلَى الْأَبْوَابِ سُتُوْرٌ مُرْخَاةٌ وَعِنْدَ رَأْسِ الصِّرَاطِ دَاعٍ يَقُوْلُ اسْتَقِيْمُوْا عَلَى الصِّرَاطِ وَلاَ تَعْوَجُّوْا وَفَوْقَ ذٰلِكَ دَاعٍ يَدْعُوْ كُلَّمَا هَمَّ عَبْدٌ أَنْ يُفْتَحَ شَيْئًا مِّنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ قَالَ وَيْحَكَ لاَ تَفْتَحْهُ فَإِنَّكَ إِنْ تَفْتَحْهُ تَلِجْهُ . ثُمَّ فَسَّرَهُ فَأَخْبَرَ أَنَّ الصِّرَاطَ هُوَ الْإِسْلاَمُ وَأَنَّ الْأَبْوَابَ الْمُفَتَّحَةَ مَحَارِمُ اللهِ وَأَنَّ السُّتُوْرَ الْمُرْخَاةَ حُدُوْدُ اللهِ وَأَنَّ الدَّاعِيَ عَلٰى رَأْسِ الصِّرَاطِ هُوَ الْقُرْآنُ وَأَنَّ الدَّاعِيَ مِنْ فَوْقِهِ وَاعِظُ اللهِ فِيْ قَلْبِ كُلِّ مُؤْمِنٍ . رواه رزين وأحمد . والبيهقي في شعب الإيمان عن النواس بن سمعان وكذا الترمذي عنه إلا أنه ذكر أخصر منه .

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله ﷻ یو مثال بیان کړی دی یوه سیده لاره ده او د هغې دواړو خواوو ته دوه دیوالونه دي په دې دیوالو کي خلاصي دروازې دي او پر دروازو پردې پرتې دي او د لارې په سر کي دعوت ورکونکی ولاړ دی چي په لوړ آواز سره وایي پر سیده لار راځئ آخوا دېخوا مه ځئ او دهغه بلونکي لوړ یو بل بلونکی ولاړ دی هر کله چي یو بنده په دې دروازو کي یوه دروازه خلاصول غواړي نوهغه دویم بلونکی ورته په لوړ آواز وایي پر تا افسوس دی دا مه خلاصوه که ته دا خلاصه کړې نو په دې کي به دننه داخل سې ، د دې مثال په بیانولو سره رسول الله ﷺ د دې تفسیر داسي وفرمایه : چي سیده لار اسلام دی او په دیوالو کي چي کومي دروازې خلاصي دي د هغه څخه مراد هغه شیان دي چي الله تعالی حرام کړي دی او کومي پردې چي پر دروازو دي هغه دالله تعالی حدود دي او هغه بلونکی چي دسیده لارې پر سر ولاړ دی هغه قرآن دی او هغه بلونکی چي

دده څخه پورته ولاړ دی هغه د الله واعظ (نصیحت کونکی) دی چي د هر مؤمن په زړه کي موجود دی (رزین او احمد) بیهقي دا روایت د نواس بن سمعان څخه نقل کړی دی او ترمذي هم د هغه څخه روایت کړی دی خو ترمذي په لنډو الفاظو بیان کړی دی .

(۱۸۲) :وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ مَنْ كَانَ مُسْتَنًّا فَلْيَسْتَنَّ بِمَنْ قَدْ مَاتَ فَإِنَّ الْحَيَّ لاَ تُؤْمَنُ عَلَيْهِ الْفِتْنَةُ . أُولٰئِكَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوْا أَفْضَلَ هٰذِهِ الْأُمَّةِ أَبَرَّهَا قُلُوْبًا وَأَعْمَقَهَا عِلْمًا وَأَقَلَّهَا تَكَلُّفًا .اخْتَارَهُمُ اللّٰهُ لِصُحْبَةِ نَبِيِّهٖ وَلِإِقَامَةِ دِيْنِهٖ فَاعْرِفُوْا لَهُمْ فَضْلَهُمْ وَاتَّبِعُوْهُمْ عَلٰى آثَرِهِمْ وَتَمَسَّكُوْا بِمَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ أَخْلاَقِهِمْ وَسِيَرِهِمْ فَإِنَّهُمْ كَانُوْا عَلَى الْهُدَى الْمُسْتَقِيْمِ . (رواه رزین)

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی : څوك چي د یوې طریقې پیروي کوي نو هغه ته پکار دي چي د هغو خلکو پیروي وکړي کوم چي مړه سوي دي ځکه چي ژوندي د فتنې څخه خوندي نه وي او هغه (وفات سوي) د محمد ﷺ صحابه کرام دي چي ددې امت غوره خلك وه د زړونو په اعتبار د علم په اعتبار پوره او ډیر کم تکلیف کونکی خدای د خپل نبي د صحبت لپاره او دخپل دین د قائم ساتلو لپاره خوښ کړي وه نو تاسو د هغوئ بزرگي و پیژنئ او تر څو پوري چي ممکن وي د هغو عادات او اخلاق غوره کړئ متابعت یې وکړئ د دوئ پر قدمونو منګولي ښخي کړئ په هغو چي په وس کي مو وي له خویونو د هغوئ او له طریقو د هغوئ او همدغه خلك پر صراط مستقیم باندي وه . رزین .

(۱۸۳): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ أَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنُسْخَةٍ مِّنَ التَّوْرَاةِ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هٰذِهٖ نُسْخَةٌ مِّنَ التَّوْرَاةِ فَسَكَتَ فَجَعَلَ يَقْرَأُ وَوَجْهُ رَسُوْلِ اللّٰهِ يَتَغَيَّرُ فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ أَمَا تَرٰى مَا بِوَجْهِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرَ عُمَرُ إِلٰى وَجْهِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ غَضَبِ اللّٰهِ وَغَضَبِ رَسُوْلِهٖ رَضِيْنَا بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلاَمِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَوْ بَدَا لَكُمْ مُوْسٰى فَاتَّبَعْتُمُوْهُ وَتَرَكْتُمُوْنِيْ لَضَلَلْتُمْ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيْلِ وَلَوْ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي : (یوځل) حضرت عمر ﷺ رسول الله ﷺ ته د تورات نسخه راوړل او عرض یې وکړ اې دالله رسوله ! دا د تورات نسخه ده، رسول الله ﷺ پټه خوله سو ، بیا حضرت عمر تورات ویل پیل کړل او درسول الله ﷺ مخ مبارك متغیر کیدی ، د دې په لیدو سره ابوبکر صدیق ﷺ وویل اې عمر ! پر تا دي ویر کونکي ښځي ویر وکړي (مور دي در باندي بوره سي) ایا ته د رسول الله ﷺ مخ مبارك نه وینې ، حضرت عمر ﷺ چي رسول الله ﷺ ته وکتل نو وه یې ویل : زه د الله او د هغه د رسول د ناراضګی څخه په الله تعالی پناه غوارم مور د الله په رب کېدو پر

كَانَ مُوْسٰى حَيًّا وَأَدْرَكَ نُبُوَّتِيْ لَاتَّبَعَنِيْ. (رواه الدارمي)

دین اسلام او د محمد ﷺ پر نبوت راضي یو ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په واك کي چي د محمد ﷺ روح ده که تاسو ته موسی ﷺ ښکاره سي نو تاسو به د هغه اطاعت قبول کړی وای او زه به مو پرېږ ایښی وای (او ددې نتیجه به دا وای چي ) تاسو به د سیده لاري څخه گمراه سوي وای خال دا چي که موسی ﷺ ژوندی وای او زما د نبوت زمانه یې تر لاسه کړې وای نو یقینا به یې زما پیروي کولای .دارمي

(۱۸۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلَامِيْ لَا يَنْسَخُ كَلَامَ اللهِ وَكَلَامُ اللهِ يَنْسَخُ كَلَامِيْ وَكَلَامُ اللهِ يَنْسَخُ بَعْضُهُ بَعْضًا .

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زما کلام (خبري) کلام الله نه سي منسوخ کولای او کلام الله زما کلام منسوخ کوي او د کلام الله ځیني برخه ځیني نوري برخي هم منسوخ کولای سي .

(۱۸۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَادِيْثَنَا يَنْسَخُ بَعْضُهَا بَعْضًا كَنَسْخِ الْقُرْآنِ .

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زموږ ځیني حدیثونه ځیني منسوخ کوي لکه څرنگه چي قرآن (د قرآن ځیني برخي) منسوخ کوي

(۱۸۶): وَعَنْ أَبِيْ ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ فَرَضَ فَرَائِضَ فَلَا تُضَيِّعُوْهَا وَحَرَّمَ حُرُمَاتٍ فَلَا تَنْتَهِكُوْهَا وَحَدَّ حُدُوْدًا فَلَا تَعْتَدُوْهَا وَسَكَتَ عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ غَيْرِ نِسْيَانٍ فَلَا تَبْحَثُوْا عَنْهَا .رَوَى الْأَحَادِيْثَ الثَّلَاثَةَ الدَّارَقُطْنِيُّ .

د حضرت ابو ثعلبة الخشني ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی څو خبري فرض کړي دي تاسو هغه مه ضائع کوئ او څو شیان الله پاك حرام کړي دي هغه ته مه نژدې کیږئ او څو حدونه یې ټاکلي دي د هغو څخه تجاوز مه کوئ او د څو شیانو په بیانولو کي یې سکوت اختیار کړی دی بې له هیروالي نو تاسو په دغه شیانو کي بحث مه کوئ .(ذکر سوي) درې سره احادیث دار قطني روایت کړي دي ) .

# كِتَابُ الْعِلْمِ

## (د علم بيان)

### لومړی فصل

﴿۱۸۷﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلِّغُوْا عَنِّيْ وَلَوْ آيَةً وَحَدِّثُوْا عَنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَلَا حَرَجَ وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ . رواه البخاري

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د لوري ورسوئ که څه هم يو آيت وي او د بني اسرائيلو څخه چي کومي قصې واورئ هغه د خلکو په وړاندي بيان کړئ په دې کي څه گناه نسته او څوك چي په قصد سره ما ته د درواغو خبره منسوبه کړي نو هغه دي خپل ځای په دوزخ کي ولټوي . بخاري .

﴿۱۸۸﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ وَالْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَدَّثَ عَنِّيْ بِحَدِيْثٍ يُرٰى أَنَّهُ كَذِبٌ فَهُوَ أَحَدُ الْكَاذِبِيْنَ . رواه مسلم .

د حضرت سمرة بن جندب او مغيرة بن شعبة څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي زما يو داسي حديث بيان کړئ چي د هغه په اړه دهغه دا خيال وي چي هغه درواغ دی نو هغه د درواغ څخه يو درواغجن دی . مسلم

﴿۱۸۹﴾: وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يُرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَاللّٰهُ يُعْطِيْ . (متفق عليه)

د حضرت معاوية ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا سره چي الله پاك د نيکۍ اراده کوي نو هغه ته د دين پوهه په برخه کړي او زه خو ويشونکی يم ورکونکی الله تعالی دی .

﴿۱۹۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسُ مَعَادِنُ كَمَعَادِنِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقِهُوْا . رواه مسلم .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خلك کانونه دي لکه څرنگه چي د سرو او سپينو (زرو) کانونه وي کوم خلك چي د جاهليت په زمانه کي غوره وه نو هغوئ په اسلام کي هم غوره دي که هغوئ دين و پيژني .

(١٩١): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ حَسَدَ إِلاَّ فِي اِثْنَتَيْنِ رَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ مَالاً فَسَلَّطَهُ عَلٰى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ وَرَجُلٌ آتَاهُ اللّٰهُ الْحِكْمَةَ فَهُوَ يَقْضِيْ بِهَا وَيُعَلِّمُهَا. (متفق عليه)

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د دوو کسانو سره حسد کول صحیح دي یو هغه کس چي هغه ته الله پاك شتمني ورکړې وي او بیا یې هغه ته د الله په لاره کي د خرڅولو توفیق هم ورکړی وي او دوهم هغه کس چي هغه ته الله پاك حکمت ورکړی وي او هغه د حکمت سره سم پریکړي کوي او د هغه تدریس هم کوي . بخاري او مسلم .

(١٩٢): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاَثَةٍ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ أَوْعِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوْ لَهُ ) . رواه مسلم .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي انسان مړ سي نو د هغه د عمل (د ثواب) لړۍ پرې سي مګر د درو شیانو ثواب یې بیا هم جاري وي ١: صدقه جاریه ٢: علم چي د هغه څخه ګټه تر لاسه سي ٣: نیك اولاد چي د مرګ وروسته هغه ته دعاء کوي . مسلم

(١٩٣) : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِّنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ يَسَّرَ عَلٰى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ .وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللّٰهُ فِيْ عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِيْ عَوْنِ أَخِيْهِ وَمَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَلْتَمِسُ فِيْهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللّٰهُ لَهُ بِهِ طَرِيْقًا إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِيْ بَيْتٍ مِّنْ بُيُوْتِ اللّٰهِ يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللّٰهِ وَيَتَدَارَسُوْنَهُ بَيْنَهُمْ إِلاَّ نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِيْنَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلاَئِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللّٰهُ فِيْمَنْ عِنْدَهُ وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي یو مسلمان د دنیا د سختیو او ستونزو څخه خلاص کړي نو الله تعالی به هغه د قیامت په ورځ د قیامت د سختیو څخه خلاص کړي او چا چي د یو تنګدست مشکل آسان کړ نو الله به په دنیا او آخرت کي پر هغه آساني راولي او چا چي د یو مسلمان عیب پټ کړ نو الله تعالی به په دنیا او آخرت کي د هغه پرده پوشي وکړي او الله پاك تر هغه وخته پوري د بنده مرسته کوي تر څو چي هغه د خپل مسلمان ورور مرسته کوي ، څوك چي د علم په لټه کي وي الله پاك به پر هغه د جنت لار آسانه کړي او کوم خلك چي د الله کور (مسجد یا مدرسه) کي را ټول سي د الله کتاب وایي او نورو ته یې ښیي نو پر

يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ . رواه مسلم .

هغوئ دالله پاك تسكين نازليږي د الله رحمت پر هغوئ خپور سي او ملائكي شاوخوا پر را تولي سي او الله پاك د هغو خلكو يادونه د هغه ملائكو په وړاندي كوي كوم چي د هغه سره وي او چا چي په عمل كي كوتاهي وكړه نو د هغه نسب به د هغه پكار ور نه سي. مسلم.

(۱۹۴) : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضٰى عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا فَقَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ قَاتَلْتُ فِيكَ حَتّٰى اسْتُشْهِدْتُ قَالَ كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ جَرِيءٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ حَتّٰى أُلْقِيَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ قَالَ تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ قَالَ كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ عَالِمٌ وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ هُوَ قَارِئٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ حَتّٰى أُلْقِيَ فِي النَّارِ وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا قَالَ فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا ؟ قَالَ مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ قَالَ كَذَبْتَ وَلٰكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ هُوَ جَوَادٌ فَقَدْ قِيلَ ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلٰى وَجْهِهِ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :تر ټولو لومړی کس چي پر هغه به د قيامت په ورځ (د خلوص نيت د پرېښودلو) حکم ولګول سي هغه وي چي شهيد سوی وي ، هغه به د قيامت ميدان ته راوستل سي او الله به هغه ته خپل نعمتونه ور ياد کړي او هغه به ټول هغه ته ور ياد سي بيا به الله پاك وفرمايي تا د هغه نعمتو په شکر کي څه وکړل هغه به وايي ما ستا په لار کي غزا وکړل تر دې چي شهيد سوم الله تعالی به ورته وفرمايي ته درواغجن يې ته خو د دې لپاره جنګېدلی وې چي خلك تا ته زړه ور ووايي نو تا ته زړه ور وويل سول بيا به حکم ورکړل سي چي دی دي پرمخی په اور کي وغورزول سي ، بيا به هغه کس وي چي هغه علم تر لاسه کړی وي او بل ته يې ښودلی وي او قرآن يې ويلی وي هغه به د الله تعالی په حضور کي راوستل سي او الله تعالی به هغه ته خپل نعمتونه ور ياد کړي هغه ته به ور ياد سي بيا به الله تعالی د هغه څخه پوښتنه وکړي تا ددې نعمتو شکر څنګه ادا کړ يعني څه کار دي وکړ هغه به و ايي ما علم زده کړ او نورو ته مي هم ونبودی او ستا لپاره مي قرآن کريم ووايه ، الله تعالی به ورته وفرمايي ته درواغجن يې تا خو علم د دې لپاره زده کړی وو چي خلك تا ته قاري او عالم ووايي نو تاته عالم او قاري وويل سول بيا به دي وکړل سي چي دی دي پرمخی و غورزول سي او په اور کي دي واچول سي ، بيا به هغه کس

راسي چي هغه ته الله پاك پراخي ورکړي وه د هغه روزي يې زياته کړې وه او ډول ډول مال او دولت يې ورکړی وو هغه به د الله تعالی په حضور کي حاضر کړل سي او الله به هغه ته خپل نعمتونه ور ياد کړي هغه به دغه نعمتونه ياد کړي بيا به الله تعالی پوښتنه وکړي ددې نعمتو په شکر کي تا څه کار وکړ هغه به وايي ما په هيڅ يو داسي لاره کي خرڅ کول نه دي پرې ايښي په کوم کي چي خرڅ کول پکار وه او ستا د رضا لپاره مي په هغه کي خرڅ کاوه ، الله تعالی به ورته وفرمايي ته درواغجن يې تا خو ددې لپاره خرڅ کړی وو چي تا ته سخيوويل سي نو تاته سخي وويل سول حکم به ورکړل سي او هغه به پرمخې وغورزول سي او په اور کي به واچول سي . مسلم .

(۱۹۵):وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ لاَ يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ الْعِبَادِ وَلٰكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ حَتّٰى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوْسًا جُهَّالاً فَسُئِلُوْا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ فَضَلُّوْا وَأَضَلُّوْا . ( متفق عليه )

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله پاك به علم (په آخري زمانه کي) داسي نه پورته کوي چي هغه علم به د خلکو د زړو او دماغ څخه وکاږي بلکه علم به داسي پورته کړل سي چي علماء به واخيستل سي (يعني عالمان به وفات سي) تر دې چي هيڅ يو عالم به پاته نه سي نو خلك به جاهلان خپل پېشوا جوړ کړي د هغوئ څخه به ددين خبري پوښتي او هغوئ به بېله علمه فتوا ورکوي هغوئ به په خپله هم گمراه وي او نور به هم گمراه کوي . بخاري او مسلم .

(۱۹۶) : وَعَنْ شَقِيْقٍ قَالَ كَانَ عَبْدُاللهِ يُذَكِّرُ النَّاسَ فِيْ كُلِّ خَمِيْسٍ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا أَبَا عَبْدِالرَّحْمٰنِ لَوَدِدْتُ أَنَّكَ ذَكَّرْتَنَا فِيْ كُلِّ يَوْمٍ قَالَ أَمَا إِنَّهُ يَمْنَعُنِيْ مِنْ ذٰلِكَ أَنِّيْ أَكْرَهُ أَنْ أُمِلَّكُمْ وَإِنِّيْ أَتَخَوَّلُكُمْ بِالْمَوْعِظَةِ كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُنَا بِهَا مَخَافَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا .(متفق عليه)

د حضرت شقيق ﷺ څخه روايت دی چي حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ به هره پنجشنبه خلکو ته نصيحت کاوه (يوه ورځ) يو سړی هغه ته وويل اې ابوعبدالرحمن زه غواړم چي تاسو هره ورځ موږ ته نصيحت وکړئ ، عبدالله بن مسعود ﷺ ورته وفرمايل زه داسي ځکه نه کوم چي ستاسو به زړه موړ سي ، زه د نصيحت په اړه تاسو ته دا پاملرنه درکوم لکه څرنگه چي رسول الله ﷺ زموږ پاملرنه کول او زموږ د تنگيو خيال به يې ساته . بخاري او مسلم.

(۱۹۷) : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا حَتّٰى تُفْهَمَ عَنْهُ وَإِذَا أَتٰى عَلٰى قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلَاثًا . رواه البخاري .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به یو خبره کول نو دري واره به یې هغه تکرارول تر څو چي خلك به ښه په پوه سول او کله چي به رسول الله ﷺ یو ډلي ته نژدې تیریدی او هغوئ ته به یې د سلام کولو اراده کول نو دري واره به یې ورته سلام کاوه . بخاري

(۱۹۸) : وَ عَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ أُبْدِعَ بِيْ فَاحْمِلْنِيْ فَقَالَ مَا عِنْدِيْ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَنَا أَدُلُّهُ عَلٰى مَنْ يَحْمِلُهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ دَلَّ عَلٰى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ . رواه مسلم .

د حضرت ابومسعود الانصاري ﷺ څخه روایت دی چي یو سړی د نبي کریم ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ چي زه د سپرلۍ څخه عاجزه سوی یم تاسو یو سپرلۍ راته راکړئ ، رسول الله ﷺ وفرمایل : زما سره سپرلۍ نسته یو بل سړي وویل اې دالله رسوله ؛ زه داسي سړی درته وښیم چي سپرلۍ ورکړي ، رسول الله ﷺ وفرمایل څوك چي د یو نیکۍ په لور لارښوونه وکړي نو هغه ته هم دومره ثواب رسیږي څومره چي نیکي کونکي ته رسیږي

(۱۹۹) :وَعَنْ جَرِيْرٍ قَالَ كُنَّا فِيْ صَدْرِ النَّهَارِ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَهُ قَوْمٌ عُرَاةٌ مُجْتَابِي النِّمَارِ أَوِ الْعَبَاءِ مُتَقَلِّدِي السُّيُوْفِ عَامَّتُهُمْ مِنْ مُضَرَ بَلْ كُلُّهُمْ مِنْ مُضَرَ فَتَمَعَّرَ وَجْهُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَا رَأٰى بِهِمْ مِنَ الْفَاقَةِ فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ فَأَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ وَأَقَامَ فَصَلّٰى ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ (يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ إِلٰى آخِرِ الْآيَةِ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ) وَالْآيَةَ الَّتِيْ فِي الْحَشْرِ ( اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ) تَصَدَّقَ رَجُلٌ مِنْ دِيْنَارِهِ مِنْ دِرْهَمِهِ مِنْ ثَوْبِهِ مِنْ صَاعِ بُرِّهِ مِنْ صَاعِ

د حضرت جریر ﷺ څخه روایت دی چي موږ د ورځي په پیل کي د رسول الله ﷺ په خدمت کي ناست وو ، د رسول الله ﷺ په خدمت کي څو خلك حاضر سول چي لوڅ وه او پر بدن یې کمبلي وغیره اچولي وې او په غاړو کي یې توري زړېدلې په هغو کي زیات بلکه ټول د مضر د قبیلي خلك وه هغوئ یې وړې ولیدل نو د رسول الله ﷺ د مخ رنګ بدل سو ، رسول الله ﷺ چي دوئ په لوږه کي ولیدل نو کور ته یې تشریف یوړ کله چي راووتی نو بلال ته یې د آذان کولو حکم ورکړ نو تکبیر وسو لمونځ ادا سو او په وعظ کي یې دا آیت تلاوت کړ : یاایها الناس اتقوا ربکم الذین ....... الخ (اې خلکو د خپل پروردګار څخه و بیریږئ چي تاسو یې د یوه

تَمْرِهِ حَتَّى قَالَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ بِصُرَّةٍ كَادَتْ كَفُّهُ تَعْجِزُ عَنْهَا بَلْ قَدْ عَجَزَتْ قَالَ ثُمَّ تَتَابَعَ النَّاسُ حَتَّى رَأَيْتُ كَوْمَيْنِ مِنْ طَعَامٍ وَثِيَابٍ حَتَّى رَأَيْتُ وَجْهَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَهَلَّلُ كَأَنَّهُ مُذْهَبَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ وَمَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ (رواه مسلم)

نفس (آدم ﷺ) څخه پيدا کړي ياست) د آيت تر پايه پوري . چي د هغه آخري برخه داده البته الله ستاسو ساتونکی دی بيا يې هغه آيت تلاوت کړ کوم چي په سورة حشر کي دی يعني د الله څخه و بيرېږئ او هر چا ته پکار ده چي هغه پر هغه شي نظر وساتي کوم چي يې د سبا (قيامت) لپاره ترمخه استولی دی ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : سړی دي د خپل دينار څخه د خپل درهم څخه د خپلو جامو څخه د خپلو غنمو د پيمانو څخه د خپلو خرماوو څخه تر دې چي رسول الله ﷺ وفرمايل خيرات دي کړي که څه هم د خرما يوه ټوټه وي ، د راوي (جرير) بيان دی چي (د دې په اورېدو سره) يو انصاري سړي يوه هميانۍ راوړل چي د هغې د دروندوالي له کبله نژدې وه چي لاس يې ستړی سي بلکه د هغه لاس ستړی سوی وو بيا خلکو شيان راوړل پيل کړل تر څو چي ما وليدل چي د غلو او جامو دوې کوټنۍ جوړې سوې بيا مي وليدل چي د رسول الله ﷺ مخ مبارك ځلانده سو ،بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په اسلام کي د يو نيکي طريقه رواج کړي هغه ته به د هغې ثواب رسيږي او د هغه ثواب هم د هغه وروسته به پر هغه عمل کيږي مگر د عمل کونکو په ثواب کي به هيڅ کمي نه راځي او چا چي په اسلام کي يوه خرابه طريقه رواج کړل نو پر هغه به د هغه گناه هم وي او د هغه کس گناه به هم وي چي د هغه وروسته عمل په کوي مگر د عمل کونکي په گناه کي به هيڅ کمي نه راځي .مسلم شريف .

**(۲۰۰)** : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا إِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الْأَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا لِأَنَّهُ أَوَّلُ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ . وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ مُعَاوِيَةَ لَا يَزَالُ مِنْ أُمَّتِي فِي بَابِ ثَوَابِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالَى .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي يو څوك په ظلم سره ووژل سي نو د آدم ﷺ پر لومړني زوی (قابيل) باندي د هغه يوه برخه راځي ځکه چي هغه لومړنی سړی دی چي د قتل طريقه يې رواج کړل (بخاري او مسلم) او د معاويه هغه حديث چي د هغه پيل دادی : لايزال من امتي .... هغه به موږ انشاء الله په باب د (ثواب هذه الامة) کي ذکر کړو .

## دوهم فصل

(۲۰۱): عَنْ كَثِيْرِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا مَعَ أَبِي الدَّرْدَاءِ فِيْ مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَجَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا أَبَا الدَّرْدَاءَ إِنِّيْ جِئْتُكَ مِنْ مَدِيْنَةِ الرَّسُوْلِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَدِيْثٍ بَلَغَنِيْ أَنَّكَ تُحَدِّثُهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا جِئْتُ لِحَاجَةٍ قَالَ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَطْلُبُ فِيْهِ عِلْمًا سَلَكَ اللّٰهُ بِهِ طَرِيْقًا مِنْ طُرُقِ الْجَنَّةِ وَأَنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ وَإِنَّ الْعَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمٰوٰاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالْحِيْتَانُ فِيْ جَوْفِ الْمَاءِ وَإِنَّ فَضْلَ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلٰى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوْا دِيْنَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَإِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ.

رواه أحمد والترمذي وأبو داود وابن ماجه والدارمي وسماه الترمذي قيس بن كثير.

د حضرت کثیر بن قیس ﷺ څخه روایت دی چي زه په دمشق کي د ابودرداء ﷺ سره ناست وم یو سړی هغه ته راغلی او ورته وه یې ویل ای ابودرداء! زه د رسول الله ﷺ د مدینې د ښار څخه ددې لپاره راغلی یم چي ستاسره یو حدیث دی چي ته یې د رسول الله ﷺ څخه روایت کوې او ددې پرته بل څه غرض نه لرم، ابودرداء ﷺ ورته وویل ما درسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي څوک چي د علم د تر لاسه کولو لپاره سفر غوره کړي نو الله تعالی هغه د جنت پر لار روانوي او ملائکي د هغه د رضامندۍ لپاره په خپلو وزرونو سره پر هغه سایه کوي او د عالم لپاره هر هغه شی چي په آسمانونو کي وي لکه (ملائکي) او څه چي په مځکه کي وي (لکه انسان، پیریانان، حیوانان وغیره) ټول مخلوقات د هغه لپاره بخښنه غواړي تر دې چي ماهیان په اوبو کي دننه د هغه لپاره د بخښني دعاء کوي او عالم ښبگڼه پر عابد داسي ده لکه د څورلسمي شپې د سپوږمۍ ښبگڼه چي پر ستورو ده، اوعالمان د پیغمبرانو وارثان دي او د انبیاؤ میراث درهم او دینار نه دي بلکه د هغوئ میراث علم دی چي د هغه وارث (هغوئ) عالم جوړ کړی دی نو چا چي علم تر لاسه کړ هغه پوره برخه تر لاسه کړل. احمد، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه او دارمي.

(۲۰۲): وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ قَالَ ذُكِرَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا عَابِدٌ وَالْآخَرُ عَالِمٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوامامه الباهلي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ته د دوو خلکو ذکر وسو چي په هغوئ کي یو عابد وو او دویم عالم (یعني دا

فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِيْ عَلٰى أَدْنَاكُمْ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ وَأَهْلَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ حَتَّى النَّمْلَةَ فِيْ جُحْرِهَا وَحَتَّى الْحُوْتَ لَيُصَلُّوْنَ عَلٰى مُعَلِّمِ النَّاسِ الْخَيْرَ . رواه الترمذي وَرَوَاهُ الدَّارِمِي عَنْ مَكْحُوْلٍ مُرْسَلاً وَلَمْ يَذْكُرْ رَجُلاَنِ وَقَالَ فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِيْ عَلٰى أَدْنَاكُمْ ثُمَّ تَلاَ هٰذِهِ الْآيَةَ ( إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ) . وَسَرَدَ الْحَدِيْثَ إِلٰى آخِرِهِ .

پوښتنه وسوه چي په دوئ کي کوم يو غوره دی، رسول الله ﷺ وفرمايل : عالم پر عابد داسي فضيلت لري لکه څرنگه چي زه په تاسو کي پر يو ادنا صحابي فضيلت لرم د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : يقينا الله او د هغه ملائکي او په آسمانو او ځمکو کي ټول مخلوقات تر دې چي ميږيان په خپلو سوريانو کي او ماهيان د هغه لپاره د خير دعاء کوي چي خلکو ته نيکي ښيي . (ترمذي) او دارمي په مرسل طريقې سره د مکحول څخه روايت نقل کړی دی چي په هغه کي د دوو خلکو ذکر نسته او ويلي يې دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل عالم پر عابد دومره فضيلت لري لکه څرنگه چي زه په تاسو کي پر يو ادنا صحابي فضيلت لرم بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : انما يخشى الله ...... (د الله په بندگانو کي عالمان د الله څخه زيات بيريږي ) بيا يې تر پايه پوري حديث بيان کړ .

(۲۰۳) : وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ النَّاسَ لَكُمْ تَبَعٌ وَإِنَّ رِجَالاً يَأْتُوْنَكُمْ مِنْ أَقْطَارِ الْأَرْضِ يَتَفَقَّهُوْنَ فِي الدِّيْنِ فَإِذَا أَتَوْكُمْ فَاسْتَوْصُوْا بِهِمْ خَيْرًا . رواه الترمذي .

د حضرت ابوسعيد الخدري ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خلك ستاسو تابع دي او البته ډير خلك به تاسو ته د ځمکي د لوري څخه په علم دين د پوهېدلو لپاره راځي هر کله چي هغوئ تاسو ته راسي نو تاسو د هغوئ په اړه د نيکۍ وصيت قبلوئ .

(۲۰۴): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْكَلِمَةُ الْحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْحَكِيْمِ فَحَيْثُ وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا . رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث غريب وإبراهيم بن الفضل الراوي يضعف في الحديث .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : گټه ورکونکي خبره د عقلمند سړي ورك سوی شی دی کوم ځای چي يې تر لاسه کړي د هغه حقدار دی (ترمذي او ابن ماجه) ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی او ددې حديث راوي ابراهيم بن فضل د حديث په روايت کي ضعيف گڼل کيږي .

(٢٠٥) : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيْهٌ وَاحِدٌ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ أَلْفِ عَابِدٍ . رواه الترمذي وابن ماجه )

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : يو فقيه (د دين عالم) پر شيطان تر زرو عابدانو زيات سخت دی .

(٢٠٦) : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلَىٰ كُلِّ مُسْلِمٍ وَوَاضِعُ الْعِلْمِ عِنْدَ غَيْرِ أَهْلِهِ كَمُقَلِّدِ الْخَنَازِيْرِ الْجَوْهَرَ وَاللُّؤْلُؤَ وَالذَّهَبَ . رواه ابن ماجه وروى البيهقي في شعب الإيمان إلى قوله مسلم . وقال هذا حديث متنه مشهور وإسناده ضعيف وقد روي من أوجه كلها ضعيف

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د علم تر لاسه کول پر هر مسلمان فرض دی او نا اهل ته علم ښودل داسي دي لکه څوک چي د خنزير په غاړه کي د جواهراتو ، ملغلرو او سروزرو پټي واچوي (ابن ماجه) دا حديث بيهقي په شعب الايمان تر (کل مسلم) پوري ليکلي دی او ويلي يې دي چي ددې حديث متن مشهور دی او اسناد يې ضعيف دي او دا حديث په ډول ډول طريقو سره بيان سوی دی او دا ټولي طريقې ضعيفي دي .

(٢٠٧) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِيْ مُنَافِقٍ حُسْنُ سَمْتٍ وَلَا فِقْهٌ فِي الدِّيْنِ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوه عادتونه داسي دي چي په يو منافق کي نه سي يو ځای کېدلای يو نيک خصلت (اخلاق) او دويم ديني پوهه .

(٢٠٨) : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَرَجَ فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ حَتّٰى يَرْجِعَ . رواه الترمذي والدارمي .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د علم د تر لاسه کولو لپاره د کور څخه ووزي نو هغه تر هغه وخته پوري تر څو چي کور ته راستنيږي د الله په لار کي دی .

(٢٠٩) : وَعَنْ سَخْبَرَةَ الْأَزْدِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ كَانَ كَفَّارَةً لِّمَا مَضٰى . رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث ضعيف الإسناد وأبو داود

د حضرت سخبرة الازدي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي علم تر لاسه کوي (نو د هغه دا طلب) د هغه د ګناهو کفاره کيږي کوم چي تر دې وړاندي يې کړي وي (ترمذي او دارمي) ترمذي ويلي دي چي د دې حديث اسناد ضعيف

الراوي يضعف

دي او ددې راوي ابوداوُد ضعيف ګڼلی دی.

(۲۱۰) : وَعَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِي قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَشْبَعَ الْمُؤْمِنُ مِنْ خَيْرٍ يَسْمَعُهُ حَتَّى يَكُوْنَ مُنْتَهَاهُ الْجَنَّةَ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مؤمن نس د نيکۍ (يعني علم) څخه نه ډکيږي هغه دا اوري تر څو چي جنت ته ورسيږي.

(۲۱۱) : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ أُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِّنْ نَّارٍ . رواه أحمد وأبو داود والترمذي . ورواه ابن ماجه عن أنس .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د يو چا څخه چي د علم يو داسي پوښتنه وسي چي هغه ته معلومه وي او هغه يې پټه کړي نو د قيامت په ورځ به د اور قيزې (په خوله کي) ور واچول سي

(۲۱۲) : وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ أَوْ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ أَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوْهَ النَّاسِ إِلَيْهِ أَدْخَلَهُ اللهُ النَّارَ . رواه الترمذي . ورواه ابن ماجه عن ابن عمر .

د حضرت کعب بن مالك ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي علم د دې لپاره تر لاسه کوي چي په دې سره په علماؤ فخر وکړي يا د جاهلانو سره جګړه وکړي يا خلك د ځان په لوري متوجه کړي نو الله به هغه په اور کي داخل کړي ترمذي او ابن ماجه.

(۲۱۳) : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللهِ لَا يَتَعَلَّمُهُ إِلَّا لِيُصِيْبَ بِهِ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . يَعْنِي رِيْحَهَا . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي هغه علم تر لاسه کړ چي په هغه سره د الله رضا طلب کيږي مګر که د دې لپاره يې تر لاسه کړ چي په هغه سره د دنيا متاع تر لاسه کړي نو د قيامت په ورځ به پر ده د جنت خوشبويي هم ونه لګيږي.

(۲۱۴) : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَضَّرَ اللهُ عَبْدًا سَمِعَ مَقَالَتِيْ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله دي هغه بنده تازه

فَحَفِظَهَا وَ وَعَاهَا وَأَدَّاهَا فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ غَيْرُ فَقِيْهٍ وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلَى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ . ثَلاَثٌ لاَ يُغِلُّ عَلَيْهِنَّ قَلْبُ مُسْلِمٍ إِخْلاَصُ الْعَمَلِ لله وَالنَّصِيحَةُ لِلْمُسْلِمِيْنَ وَلُزُوْمُ جَمَاعَتِهِمْ فَإِنَّ دَعْوَتَهُمْ تُحِيْطُ مِنْ وَّرَائِهِمْ . رواه الشافعي والبيهقي في المدخل . ورواه أحمد والترمذي وأبو داود وابن ماجه والدارمي عن زيد بن ثابت . إلا أن الترمذي وأبا دواد لم يذكرا ثلاث لا يغل عليهن . إلى آخره .

(خوشحاله او با عزته) ولري چي هغه زما يو خبره اورېدلې وي هغه يې ياد ساتلې وي او د همېشه لپاره يې ياد ساتلې وي او هغه يې خلكو ته ورسول ځيني حامل فقه (يعني د علم دين عامل يا ددينې خبرې محافظ) پوهه لرونكي نه وي او ځيني د پوهې خاوندان يې هغو خلكو ته ورسوي چي د هغوئ څخه زيات د پوهې خاوندان وي ، درې خبرې داسي دي چي په هغه كي د مسلمان زړه خيانت نه كوي ١: يو عمل خاص د الله لپاره كول . ٢: دويم د مسلمانانو خير خواهي كول ٣: او دريم د مسلمانانو جماعت لازم نيول (يعني د مسلمانانو په ډله كي شامېلېدل) د هغوئ دعاء د څلور طرفه څخه راچاپيرېږي .

(٢١٥) : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ نَضَّرَ اللهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا شَيْئًا فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَهُ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعٰى لَهُ مِنْ سَامِعٍ . رواه الترمذي وابن ماجه . ورواه الدارمي عن أبي الدرداء .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي : الله د هغه بنده تازه (خوشحاله او باعزته) لري چي هغه زموږ څخه يو خبره واوري او څرنگه چي يې اوريدلې وي هغسي يې وړاندي ورسوي نو اكثر هغه خلك چي هغوئ ته (خبره ورسول سي ) د اوريدونكي څخه زيات ياد لرونكي وي . ترمذي، ابن ماجه او دارمي د ابودرداء څخه روايت كړی دی .

(٢١٦) : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّقُوْا الْحَدِيْثَ عَنِّيْ إِلاَّ مَا عَلِمْتُمْ فَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ . رواه الترمذي . ورواه ابن ماجه عن ابن مسعود وجابر وَلَمْ يَذْكُرْ اتَّقُوْا الْحَدِيْثَ عَنِّيْ إِلاَّ مَا عَلِمْتُمْ .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د لوري د حديث بيانولو څخه ځان وساتئ خو (يوازي هغه حديثونه بيانوئ) كوم چي تاسو ته معلوم وي (يعني چي رېښتوني وي) چا چي په قصد سره پر ما دروغ وويل هغو ته پكار دي چي خپل ځای په دوږخ كي و لټوي ، (ترمذي) او ابن ماجه د حضرت ابن مسعود ﷺ او حضرت جابر ﷺ څخه روايت كړی دی چي په هغه كي د (اتقو الحديث عني الا ماعلمتم ) الفاظ نه دي بيان سوي .

﴿۲۱۷﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِه فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ . وفي رواية مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِغَيْرِ عِلْمٍ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ. رواه الترمذي

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي په قرآن کریم کي د خپلي رایې څخه څه وویل نو هغه ته پکار دي چي خپل ځای په دوږخ کي و لټوي او په روایت کي دا الفاظ دي : چا چي ببله علمه په قرآن کریم کي څه وویل نو هغه ته پکار دي چي خپل ځای په اور کي و لټوي .

﴿۲۱۸﴾ : وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِه فَأَصَابَ فَقَدْ أَخْطَأَ . رواه الترمذي وأبو داود .

د حضرت جندب ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي په قرآن کریم کي د خپلي رایې څخه څه وویل او د هغه رایه د حقیقت مطابق سوه نو بیا یې هم غلطي وکړه . ترمذي او ابوداؤد.

﴿۲۱۹﴾ : : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمِرَاءُ فِي الْقُرْآنِ كُفْرٌ . رواه أحمد وأبو داود .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په قرآن کریم کي جګړه کول کفر دی . احمد او ابوداؤد.

﴿۲۲۰﴾ : وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْه عَنْ جَدِّه قَالَ سَمِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْمًا يَتَدَارَؤُوْنَ فِي الْقُرْآنِ فَقَالَ إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِهٰذَا ضَرَبُوْا كِتَابَ اللهِ بَعْضَهُ بِبَعْضٍ وَإِنَّمَا نَزَلَ كِتَابُ اللهِ يُصَدِّقُ بَعْضُهُ بَعْضًا فَلَا تُكَذِّبُوْا بَعْضَهُ بِبَعْضٍ فَمَا عَلِمْتُمْ مِنْهُ فَقُوْلُوْا وَمَا جَهِلْتُمْ فَكِلُوْهُ إِلٰى عَالِمِه . رواه أحمد وابن ماجه .

حضرت عمرو بن شعیب د خپل پلار څخه روایت کوي او هغه د هغه د نیکه څخه هغه وویل : رسول الله ﷺ د ځیني خلکو په اړه واوریدل چي هغوئ په قرآن کریم کي یو د بل سره جګړه کوي ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : ستاسو څخه وړاندي خلك په دې سبب هلاك سول چي هغوئ د الله د کتاب ځیني برخي د ځیني خلاف و ګرځولې او حال دا چي د الله ﷺ کتاب یوه برخه د بلي برخي تصدیق کوي ، تاسو د قرآن کریم یوه برخه په بله برخي مه درواغ کوئ او په قرآن کریم کي چي څومره تاسو پوهیږئ هغه بیانوئ او په کومه برخه چي نه پوهیږئ هغه پوهېدونکو ته پریږدئ . احمد او ابن ماجه .

(٢٢١) : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلٰى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ لِكُلِّ آيَةٍ مِّنْهَا ظَهْرٌ وَّبَطْنٌ وَلِكُلِّ حَدٍّ مُطَّلَعٌ. رواه في شرح السنة .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : قرآن کریم په اوو طرزو (یعني د عربو په اوو لغتو) نازل سوی دی په دې کي د هر یوه آیت یوه ظاهري معنا ده او یوه باطني معنا او د هر حد لپاره یو ځای د خبرداری دی .

(٢٢٢) : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْعِلْمُ ثَلَاثَةٌ آيَةٌ مُّحْكَمَةٌ أَوْ سُنَّةٌ قَائِمَةٌ أَوْ فَرِيْضَةٌ عَادِلَةٌ وَمَا كَانَ سِوٰى ذٰلِكَ فَهُوَ فَضْلٌ . رواه أبو داود وابن ماجه .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د دین علم درې ډوله دی : ١: یو آیت محکمه (ټینګ او غیر منسوخ) ٢: دویم سنت قائمه (یعني مستند حدیثونه) ٣: او دریم فریضه عادله (یعني اجماع امت او قیاس) او ددې څخه پرته څه چي دي هغه زیات دی . ابوداؤد او ابن ماجه .

(٢٢٣) : وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقُصُّ إِلَّا أَمِيْرٌ أَوْ مَأْمُوْرٌ أَوْ مُخْتَالٌ . رواه أبو داود . ورواه الدارمي عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده وفي روايته أَوْ مُرَاءٍ بَدَلَ أَوْ مُخْتَالٌ .

د حضرت عوف بن مالك الاشجعي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : قصه نه بیانوي (یعني نصیحت نه کوي) مګر حاکم یا محکوم او یا مغرور او متکبر (په دې درو کي دوو لومړنیو کسانو لره خو نصیحت کول جائز او مغرور او متکبر لپاره ناجائز او ممنوع دي) . ابوداؤد او دارمي .

(٢٢٤) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ إِثْمُهُ عَلٰى مَنْ أَفْتَاهُ وَمَنْ أَشَارَ عَلٰى أَخِيْهِ بِأَمْرٍ يَعْلَمُ أَنَّ الرُّشْدَ فِيْ غَيْرِهِ فَقَدْ خَانَهُ . رواه أبو داود .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کومه فتوا چي ببله علمه ورکړل سي د هغه ګناه به پر فتوا ورکونکي وي او چا چي یو ورور ته غلطه مشوره ورکړه نو هغه خیانت وکړ . ابوداؤد .

(٢٢٥) : وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْأُغْلُوْطَاتِ . رواه أبو داود .

د حضرت معاوية ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د هغه مسئلې د پوښتني څخه منع کړې ده چي عالمان په شك او شبه کي اچوي . ابوداؤد .

﴿۲۲۶﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَالْقُرْآنَ وَعَلِّمُوْا النَّاسَ فَإِنِّي مَقْبُوْضٌ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو فرضونه او قرآن کریم زده کړئ او خلکو ته یې و ښیاست ځکه چي زه به پورته کړل سم

﴿۲۲۷﴾ : وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَخَصَ بِبَصَرِهِ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ قَالَ هٰذَا أَوَانٌ يُخْتَلَسُ فِيْهِ الْعِلْمُ مِنَ النَّاسِ حَتّٰى لاَ يَقْدِرُوْا مِنْهُ عَلَى شَيْءٍ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوالدرداء ﷺ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره ملګري وو چي رسول الله ﷺ د آسمان په لور وکتل بیا یې وفرمایل : دا وخت دی چي علم به د خلکو څخه پورته کړل سي تر دې چي هغوئ به د علم په ذریعه په هیڅ شي قدرت نه لري (د علم څخه مراد وحي ده او د خپل وفات په لور د مبارك اشاره وه) . ترمذي .

﴿۲۲۸﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رِوَايَةً يُوْشِكُ أَنْ يُضْرِبَ النَّاسُ أَكْبَادَ الْإِبِلِ يَطْلُبُوْنَ الْعِلْمَ فَلاَ يَجِدُوْنَ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْ عَالِمِ الْمَدِيْنَةِ . رواه الترمذي في جامعه . قال ابن عيينه إنه مالك بن أنس ومثله عن عبد الرزاق قال إسحق بن موسى وسمعت ابن عيينه أنه قال هو العمري الزاهد واسمه عبد العزيز بن عبد الله

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي هغه زمانه نژدې ده چي خلك به د علم د تر لاسه کولو لپاره د اوښانو ځیګر خیري کړي (یعني د لیري لیري ځایو سفرونه به کوي) مګر په هیڅ یو ځای کي به د مدینې د عالم څخه زیات عالم پیدا نه کړي (ترمذي او جامع ترمذي کي د ابن عیینه څخه منقول دی چي د مدینې هغه عالم ، مالك بن انس دی او عبدالرزاق هم داسي لیکلي دي او د اسحاق بن موسی بیان دی چي ما د ابن عیینه څخه دا اوریدلي دي چي د مدینې هغه عالم عمري (یعني د حضرت عمر ﷺ کورنۍ څخه) زاهد دي او د هغه نوم عبدالعزیز بن عبدالله دی).

﴿۲۲۹﴾ : وَعَنْهُ فِيْمَا أَعْلَمُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْعَثُ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِيْنَهَا . رواه أبو داود .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه چي څه ما ته معلوم سوي دي هغه دادي چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي چي الله پاك د دې امت لپاره په هره صدۍ (پیړۍ) کي یو سړی رالیږي چي د هغه دین به تازه کوي . ابوداؤد .

﴿۲۳۰﴾:وَعَنْ إِبْرَاهِيْمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْعُذْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْمِلُ هٰذَا الْعِلْمَ مِنْ كُلِّ خَلَفٍ عُدُوْلُهُ يَنْفُوْنَ عَنْهُ تَحْرِيْفَ الْغَالِيْنَ وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِيْنَ وَتَأْوِيْلَ الْجَاهِلِيْنَ . رواه البيهقي في كتاب المدخل من حديث بقية بن الوليد عن معان بن رفاعة عن ابراهيم بن عبدالرحمن العذري و سنذكر حديث جابرفانما شفاء العي السوال في باب التيمم ان شاء الله تعالى .

د حضرت ابراهیم بن عبدالرحمن العذري ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دا علم «د کتاب او سنت» به هر راتلونکي تولی څخه د هغه نیك خلك تر لاسه کوي چي ددې څخه به د حد څخه د تیرېدونکو خلکو تحریف د باطلو خلکو درواغ تړل او د جاهلانو تاویلات لري کوي ، بیقهي په مدخل کي دا حدیث د بقیه بن ولید ، معان بن رفاعه او هغوئ د ابراهیم بن عبدالرحمان عذري چي د هغه پیل دادی : فانما شفاء ا لعي السوال . به مورد د تیمم په باب کي ذکر کړو

## دریم فصل

﴿۲۳۱﴾:عَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَاءَهُ الْمَوْتَ وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ لِيُحْيِيَ بِهِ الْإِسْلَامَ فَبَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّيْنَ دَرَجَةٌ وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ . رواه ا لدارمي .

د حضرت حسن (بصري) ﷺ څخه مرسلا روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي په داسي حال کي مړ سي چي هغه په دې غرض علم تر لاسه کاوه چي په هغه سره اسلام ته تازه ژوند ورکړي نو په جنت کي به د هغه او د انبیاؤ په منځ کي یوازي د یوې درجي فرق وي . دارمي .

﴿۲۳۲﴾ : وَعَنْهُ مُرْسَلًا قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَجُلَيْنِ كَانَا فِيْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ أَحَدُهُمَا كَانَ عَالِمًا يُصَلِّيْ الْمَكْتُوْبَةَ ثُمَّ يَجْلِسُ فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ وَالْآخَرُ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ أَيُّهُمَا أَفْضَلُ؟ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضْلُ هٰذَا الْعَالِمِ الَّذِيْ يُصَلِّيْ الْمَكْتُوْبَةَ ثُمَّ يَجْلِسُ فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ عَلَى الْعَابِدِ الَّذِيْ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ كَفَضْلِيْ عَلٰى أَدْنَاكُمْ . رواه الدارمي .

د حضرت حسن بصري ﷺ څخه مرسلاً روایت دي چي رسول الله ﷺ ته د بني اسرائیلو د ددو خلکو حال بیان کړل سو چي په هغوئ کي یو عالم وو چي فرض لمونځ به یې کاوه بیا به کښېناست خلکو ته به یې علم ښودی او دویم سړی به د ورځي روژه نیول او توله شپه به یې عبادت کاوه ،د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي په دوئ کي کوم یو غوره دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل د هغه عالم چي فرض لمونځ به یې کاوه او خلکو

ته به یې علم ښودی پر دغه عابد چې د ورځې به یې روژه نیول او توله شپه به یې عبادت کاوه داسې فضیلت لرې لکه زما فضیلت چې ستاسو پر یو ادنا صحابي دی. دارمي.

(۲۳۳) : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الرَّجُلُ الْفَقِيْهُ فِي الدِّيْنِ إِنِ احْتِيْجَ إِلَيْهِ نَفَعَ وَإِنِ اسْتُغْنِيَ عَنْهُ أَغْنَى نَفْسَهُ . رواه رزين .

د حضرت علي ﷜ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د دین هغه عالم ښه دی چې هغه ته که یو حاجت راوړل سي نو هغه گټه رسوي او که د هغه څخه بې پرواهي وکړل سي نو هغه هم خپل ځان بې پروا ساتي.

(۲۳۴) : وَعَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ حَدِّثِ النَّاسَ كُلَّ جُمُعَةٍ مَرَّةً فَإِنْ أَبَيْتَ فَمَرَّتَيْنِ فَإِنْ أَكْثَرْتَ فَثَلاَثَ مَرَّاتٍ وَلاَ تُمِلَّ النَّاسَ هٰذَا الْقُرْآنَ وَلاَ أُلْفِيَنَّكَ تَأْتِي الْقَوْمَ وَهُمْ فِيْ حَدِيْثٍ مِّنْ حَدِيْثِهِمْ فَتَقُصُّ عَلَيْهِمْ فَتَقْطَعُ عَلَيْهِمْ حَدِيْثَهُمْ فَتُمِلُّهُمْ وَلٰكِنْ أَنْصِتْ فَإِذَا أَمَرُوْكَ فَحَدِّثْهُمْ وَهُمْ يَشْتَهُوْنَهُ وَانْظُرِ السَّجْعَ مِنَ الدُّعَاءِ فَاجْتَنِبْهُ فَإِنِّيْ عَهِدْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ لاَ يَفْعَلُوْنَ ذٰلِكَ .رواه البخاري

د حضرت عکرمه ﷜ څخه روایت دی چې ابن عباس ﷜ (یوه ورځ) عکرمه ته وویل چې ته هره جمعه خلکو ته حدیث بیانوه، که چیرې دا لږ وي نو بیا په اونۍ کې دوې ورځې او که تر دې زیات ضرورت سي نو په اونۍ کې درې ځله د قرآن (نصیحت ورته کاوه) او تر دې یې زیات مه تنگوه ، د دې وروسته ابن عباس وویل او داسې هم مه کوه چې خلك په خپلو خبرو کې بوخت وي او ته د هغو په خبرو کې ور ولوېږې او نصیحت پیل کړې او هغوئ تنگ کړې په داسې حال کې تا ته پکار ده چې پټه خوله پاته سې البته که چیرې هغوئ ستاڅخه د نصیحت غوښتنه وکړي نو د هغوئ په وړاندې تر څو پورې چې هغوئ د دې خواهشمند وي حدیث بیانوه او په دعاء کې قافیه دار عبارت مه استعمالوه ، ځرگنده سوې ده چې رسول الله ﷺ او د هغوئ صحابه کرامو به داسې نه کول. بخاري

(۲۳۵) :وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ فَأَدْرَكَهُ كَانَ لَهُ كِفْلاَنِ مِنَ الْأَجْرِ فَإِنْ لَّمْ يُدْرِكْهُ كَانَ لَهُ كِفْلٌ مِّنَ الْأَجْرِ . رواه الدرامي .

د حضرت واثلة بن الاسقع ﷜ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چې علم طلب کړ او تر لاسه یې کړ نو هغه ته به دوچنده ثواب ورکول کیږي او که یې علم تر لاسه نه کړ نو یو ثواب به ورته ورکول کیږي. دارمي

(۲۳۶) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ

د حضرت ابوهریرة ﷜ څخه روایت دی چې رسول

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عَمَلِهِ وَحَسَنَاتِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ عِلْمًا عَلَّمَهُ وَنَشَرَهُ وَوَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهُ أَوْمُصْحَفًا وَرَّثَهُ أَوْ مَسْجِدًا بَنَاهُ أَوْ بَيْتًا لِابْنِ السَّبِيْلِ بَنَاهُ أَوْ نَهْرًا أَجْرَاهُ أَوْ صَدَقَةً أَخْرَجَهَا مِنْ مَّالِهِ فِيْ صِحَّتِهِ وَحَيَاتِهِ تَلْحَقُهُ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ .

رواه بن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان .

الله ﷺ وفرمایل : مؤمن ته د هغه عمل یا نیکیو چي د مرگ وروسته ثواب رسیږي په هغو کي یو علم دی چي هغه زده کړ او خپور یې کړ او دویم نیك اولاد دی چي پاته سي او دریم قرآن کریم دی چي د وارثانو لپاره یې پرېښود څلورم مسجد چي په خپل ژوند کي یې جوړ کړی وي پنځم سرای یا مسافرخانه چي هغه یې جوړه کړې وي شپږم ویاله ده چي هغه یې جاري کړې وي اووم هغه خیرات دی چي هغه په خپل روغتیا او ژوند کي د خپل مال څخه کړی وي ، د دې ټولو ثواب د هغه د مرگ وروسته هم هغه ته رسیږي . ابن ماجه او بیهقي .

﴿۲۳۷﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ أَوْحٰى إِلَيَّ أَنَّهُ مَنْ سَلَكَ مَسْلَكًا فِيْ طَلَبِ الْعِلْمِ سَهَّلْتُ لَهُ طَرِيْقَ الْجَنَّةِ وَمَنْ سَلَبْتُ كَرِيْمَتَيْهِ أَثَبْتُهُ عَلَيْهِمَا الْجَنَّةَ . وَفَضْلٌ فِيْ عِلْمٍ خَيْرٌ مِّنْ فَضْلٍ فِيْ عِبَادَةٍ وَمِلَاكُ الدِّيْنِ الْوَرَعُ .

رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت بي بي عائشې (رض) څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي فرمایل یې : الله تعالی ما ته دا وحي رالیږلې ده چي څوك د علم د تر لاسه کولو لپاره لار پرې کړي نو پر هغه به د جنت لار آسانه کړم او د چا څخه چي ما دواړې سترگې اخیستي دي زه به د هغه په بدل کي جنت ورکړم او په علم کي زیاتوالی په عبادت کي تر زیاتوالي غوره دی او ددین ربښه پرهیزگاري ده . بیهقي .

﴿۲۳۸﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَدَارُسُ الْعِلْمِ سَاعَةً مِّنَ اللَّيْلِ خَيْرٌ مِّنْ إِحْيَائِهَا . رواه الدارمي

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي لږ وخت درس ورکول تر ټوله شپه عبادت غوره دی دارمي

﴿۲۳۹﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِمَجْلِسَيْنِ فِيْ مَسْجِدِهِ فَقَالَ كِلَاهُمَا عَلٰى خَيْرٍ وَأَحَدُهُمَا أَفْضَلُ مِنْ صَاحِبِهِ أَمَّا هٰؤُلَاءِ فَيَدْعُوْنَ اللّٰهَ وَيَرْغَبُوْنَ إِلَيْهِ فَإِنْ شَاءَ أَعْطَاهُمْ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُمْ . وَأَمَّا هٰؤُلَاءِ فَيَتَعَلَّمُوْنَ الْفِقْهَ أَوِ الْعِلْمَ وَيُعَلِّمُوْنَ الْجَاهِلَ فَهُمْ

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ پر دوو مجلسو تیر سو چي په مسجد کي راجمع سوي وه رسول الله ﷺ وفرمایل دواړې ډلې د نیکۍ دي مگر په دې کي یوه ډله تر بلې غوره ده ، په دې دواړو ډلو کي یوه په عبادت کي مصروف ده او د الله څخه دعاء غواړي او هغه ته د خپل رغبت او خواهش اظهار

أَفْضَلُ وَإِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا ثُمَّ جَلَسَ فِيهِمْ . رواه الدارمي

کوي که خوښه يې سي ور به يې کړي او که خوښه يې سي منع به وکړي او دويمه ډله فقه يا علم تر لاسه کوي او جاهلانو ته علم ښيي نو دا خلك غوره دي او زه هم معلم رالیږل سوی یم او بیا په دا دويمه ډله کي کښيناست. دارمي.

(۲۴۰): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا حَدُّ الْعِلْمِ الَّذِيْ إِذَا بَلَغَهُ الرَّجُلُ كَانَ فَقِيْهًا ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَفِظَ عَلَى أُمَّتِيْ أَرْبَعِيْنَ حَدِيْثًا فِيْ أَمْرِ دِيْنِهَا بَعَثَهُ اللهُ فَقِيْهًا وَكُنْتُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَافِعًا وَشَهِيْدًا . (بيهقي)

د حضرت ابودرداء ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي د علم اندازه څه ده چي هغومره علم تر لاسه کولو سره څوك فقيه جوړ سي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي زما امت ته د ګټي رسولو لپاره د دين دکار څلوېښت حديثونه ياد کړي (وښيي) نو الله ﷻ به د قيامت په ورځ هغه فقيه را پورته کړي او د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکی او شاهد يم. بيهقي

(۲۴۱) : وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تَدْرُوْنَ مَنْ أَجْوَدُ جُوْدًا ؟ قَالُوْا اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . قَالَ اللهُ تَعَالَى أَجْوَدُ جُوْدًا ثُمَّ أَنَا أَجْوَدُ بَنِيْ آدَمَ وَأَجْوَدُهُمْ مِنْ بَعْدِيْ رَجُلٌ عَلِمَ عِلْمًا فَنَشَرَهُ يَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمِيْرًا وَحْدَهُ أَوْ قَالَ أُمَّةً وَّاحِدَةً .(بيهقي)

د حضرت انس بن مالك ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا تاسو پوهيږئ چي تر ټولو زيات سخي څوك دی ؟ صحابه کرامو عرض وکړ الله او د هغه رسول ښه پوهيږي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : په سخاوت کي الله تر ټولو زيات دی بيا د آدم ﷺ په اولاد کي تر ټولو زيات زه سخي يم او زما وروسته زيات سخي هغه څوك دی چي هغه علم زده کړ او خپور يې کړ دا کس به د قيامت په ورځ يوازي د يو امير يا يو ډلي (د شان او شوکت) په شان راځي . بيهقي.

(۲۴۲) :وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْهُوْمَانِ لَا يَشْبَعَانِ مَنْهُوْمٌ فِي الْعِلْمِ لَا يَشْبَعُ مِنْهُ مَنْهُوْمٌ فِي الدُّنْيَا لَا يَشْبَعُ مِنْهَا . روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في شعب الإيمان وقال قال الإمام أحمد في حديث أبي الدرداء هذا متن مشهور فيما بين الناس وليس له إسناد صحيح .

د حضرت انس بن مالك ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ وفرمايل : دوه حريصان داسي وي چي د هغوئ نس هيڅکله نه ډکيږي ۱: يو د علم حريص چي په علم حاصلولو هغه هيڅکله نه مړيږي او دويم د دنيا غوښتونکی چي په دنيا هغه هيڅکله نه مړيږي، ذکر سوي دري سره حديثونه بيهقي په شعب الايمان کي روايت کړي دي او ددې حديث اسناد صحيح نه دی.

(۲۴۳): وَعَنْ عَوْنٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ مَنْهُوْمَانِ لَا يَشْبَعَانِ صَاحِبُ الْعِلْمِ وَصَاحِبُ الدُّنْيَا وَلَا يَسْتَوِيَانِ أَمَّا صَاحِبُ الْعِلْمِ فَيَزْدَادُ رِضًى لِلرَّحْمٰنِ وَأَمَّا صَاحِبُ الدُّنْيَا فَيَتَمَادٰى فِي الطُّغْيَانِ. ثُمَّ قَرَأَ عَبْدُ اللهِ (كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغٰى أَنْ رَآهُ اسْتَغْنٰى) قَالَ وَقَالَ الْآخَرُ (إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ. رواه الدارمي.

حضرت عون ﷺ د عبدالله بن مسعود ﷺ څخه بيان کوي چي دوه حريصان دي چي هيڅکله نه مړيږي ۱: اهل دنيا، ۲: اهل علم، او دا دواړه برابر نه دي علم خو د الله رضامندي زياتوي او دنيادار په سرکښئ کي زياتيږي، بيا عبدالله بن مسعود ﷺ دا آيت تلاوت کړ: ان الانسان ليطغى ان راه استغنى، (البته انسان سرکښي کوي څکه چي ځان بې پروا گڼي) حضرت عون وايي چي عبدالله بن مسعود د عالم په حق کي دا آيت تلاوت کړ: انما يخشى الله من عباده العلماء (د الله په بندگانو کي عالمان د الله څخه زيات بيريږي) دارمي

(۲۴۴): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أُنَاسًا مَنْ أُمَّتِيْ سَيَتَفَقَّهُوْنَ فِي الدِّيْنِ وَيَقْرَءُوْنَ الْقُرْآنَ يَقُوْلُوْنَ نَأْتِي الْأُمَرَاءَ فَنُصِيبُ مِنْ دُنْيَاهُمْ وَنَعْتَزِلُهُمْ بِدِيْنِنَا وَلَا يَكُوْنُ ذٰلِكَ كَمَا لَا يُجْتَنٰى مِنَ الْقَتَادِ إِلَّا الشَّوْكُ كَذٰلِكَ لَا يُجْتَنٰى مِنْ قُرْبِهِمْ إِلَّا قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ كَأَنَّهُ يَعْنِي الْخَطَايَا. رواه ابن ماجه.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :زما په امت کي به ډير خلك علم تر لاسه کړي او قرآن به وايي او وايي به چي موږ اميرانو ته ورځو چي د هغوئ د د نيا څخه خپله برخه تر لاسه کړو او خپل دين به د هغو څخه بيل ساتو مگر داسي نه ده څرنگه چي د ازغني درختي څخه يوازي ازغي تر لاسه کيږي همدغسي د اميرانو د صحبت څخه گناه تر لاسه کيږي ، په دې موقع باندي محمد بن صباح ويلي دي چي هغه د دې څخه مراد گناهونه اخيستل دي

(۲۴۵): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَوْ أَنَّ أَهْلَ الْعِلْمِ صَانُوْا الْعِلْمَ وَوَضَعُوْهُ عِنْدَ أَهْلِهِ لَسَادُوْا بِهِ أَهْلَ زَمَانِهِمْ وَلٰكِنَّهُمْ بَذَلُوْهُ لِأَهْلِ الدُّنْيَا لِيَنَالُوْا بِهِ مِنْ دُنْيَاهُمْ فَهَانُوْا عَلَيْهِمْ سَمِعْتُ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ جَعَلَ الْهُمُوْمَ هَمًّا وَاحِدًا هَمَّ آخِرَتِهِ كَفَاهُ اللهُ هَمَّ دُنْيَاهُ وَمَنْ تَشَعَّبَتْ بِهِ الْهُمُوْمُ

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايلي دي چي اهل علم د علم ساتنه وکړي او ددې اهل ته يې د ښيي نو هغوئ به د خپلي زمانې سرداران جوړ سي مگر که اهل علمو داسي ونه کړل بلکه هغوئ علم پر شتمنو خرڅ کړ چي د هغې په ذريعه د هغوئ څخه دنيا تر لاسه کړي نو هغوئ د دنيادارو په نظر کي ذليل سول ، ما د رسول

أَحْوَالُ الدُّنْيَا لَمْ يُبَالِ اللهُ فِيْ أَيِّ أَوْدِيَتِهَا هَلَكَ . رواه ابن ماجه . ورواه البيهقي في شعب الإيمان عن ابن عمر من قوله من جعل الهموم إلى آخره .

الله ﷺ څخه اوريدلي چا چي په خپلو مقصدو كي يوازي يو مقصد يعني د آخرت اختيار وكړ نو الله به د هغه دنياوي مقصدونه خپله پوره كړي او د چا مقصد چي متفرق وي څنگه چي د دنيا حالات دي نو بيا دالله په دې هيڅ پروا نسته كه په شيله د دنيا كي هلاك سي او يا په شيله د غمو كي هلاك سي . ابن ماجه او بيهقي.

(٢٤٦) : وَعَنِ الْأَعْمَشِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آفَةُ الْعِلْمِ النِّسْيَانُ وَإِضَاعَتُهُ أَنْ تُحَدِّثَ بِهِ غَيْرَ أَهْلِهِ . رواه الدارمي مرسلا .

د حضرت اعمش ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د علم آفت هيرېدل دي او علم ضائع كول دادي چي ته هغه د ناأهل په وړاندي بيان كړي .دارمي مرسلا .

(٢٤٧) : وَعَنْ سُفْيَانَ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالَ لِكَعْبٍ مَنْ أَرْبَابُ الْعِلْمِ ؟ قَالَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ بِمَا يَعْلَمُوْنَ . قَالَ فَمَا أَخْرَجَ الْعِلْمَ مِنْ قُلُوْبِ الْعُلَمَاءِ ؟ قَالَ الطَّمَعُ . رواه الدارمي .

حضرت سفيان وايي چي عمر بن الخطاب ﷺ د كعب ﷺ څخه پوښتنه وكړه (ستا په نزد) د علم خاوندان څوك دي ؟ كعب ﷺ جواب وركړ هغه چي د خپل علم موافق عمل وكړي بيا حضرت عمر ﷺ پوښتنه وكړه د عالمانو د زړونو څخه كوم شی علم كاږي ؟ كعب ﷺ جواب وركړ : حرص . دارمي

(٢٤٨):وَعَنِ الْأَحْوَصِ بْنِ حَكِيْمٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ سَأَلَ رَجُلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الشَّرِّ فَقَالَ لَا تَسْأَلُوْنِيْ عَنِ الشَّرِّ وَسَلُوْنِيْ عَنِ الْخَيْرِ يَقُوْلُهَا ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ أَلَا إِنَّ شَرَّ الشَّرِّ شِرَارُ الْعُلَمَاءِ وَإِنَّ خَيْرَ الْخَيْرِ خِيَارُ الْعُلَمَاءِ . رواه الدارمي .

حضرت احوص بن حكيم د خپل پلار څخه روايت كوي چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه د شر په اړه پوښتنه وكړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د شر په اړه زما څخه پوښتنه مه كوه ، بلكه د خير په اړه زما څخه پوښتنه كوه رسول الله ﷺ د دې ورورسته درې واره وفرمايل : خبردار اوسئ ! چي د شر بد ترين شكل بد علماء دي او د خير بهترين شكل ښه علماء دي . دارمي .

(٢٤٩) : وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَالِمٌ لَا يَنْتَفِعُ بِعِلْمِهِ. رواه الدارمي .

حضرت ابودرداء ﷺ وايي چي د الله ﷺ په نزد د قيامت په ورځ د مرتبې په اعتبار تر ټولو بدتر بنده هغه عالم دی چي هغه د خپل علم څخه گټه تر لاسه نه كړي

(۲۵۰) : وَعَنْ زِيَادِ بْنِ حُدَيْرٍ قَالَ قَالَ لِيْ عُمَرُ هَلْ تَعْرِفُ مَا يَهْدِمُ الْإِسْلَامَ ؟ قَالَ قُلْتُ لَا . قَالَ يَهْدِمُهُ زَلَّةُ الْعَالِمِ وَجِدَالُ الْمُنَافِقِ بِالْكِتَابِ وَحُكْمُ الْأَئِمَّةِ الْمُضِلِّيْنَ . رواه الدرامي .

حضرت زياد بن حدير ؓ وايي زما څخه حضرت عمر ؓ پوښتنه وکړه ايا تا ته معلومه ده چي د اسلام تباه کونکی کوم شی دی ؟ ما ورته وويل ما ته نه ده معلومه، نو حضرت عمر ؓ وويل د عالم ښوييدل يعني د هغه غلطي يا گناه او د منافق د کتاب الله په اړه جگړه کول او د گمراه سردارانو حکم جاري کول اسلام تباه کوي.

(۲۵۱) : وَعَنِ الْحَسَنِ قَالَ الْعِلْمُ عِلْمَانِ فَعِلْمٌ فِي الْقَلْبِ فَذَاكَ الْعِلْمُ النَّافِعُ وَعِلْمٌ عَلَى اللِّسَانِ فَذَاكَ حُجَّةُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى ابْنِ آدَمَ . رواه الدارمي .

حضرت حسن بصري ؓ وايي علم پر دوه ډوله دي يو هغه علم چي په زړه کي وي او دا علم گټه ورکوي او دويم هغه چي په ژبه کي وي او دا پر بني آدم باندي د الله تعالی حجت او دليل دی .دارمي

(۲۵۲) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وِعَاءَيْنِ فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَبَثَثْتُهُ فِيكُمْ وَأَمَّا الْآخَرُ فَلَوْ بَثَثْتُهُ قُطِعَ هٰذَا الْبُلْعُوْمُ يَعْنِي مَجْرَى الطَّعَامِ رواه البخاري .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دوې خبري (يعني دوه ډوله علم ) ياد کړی دی چي په هغو کي خو يو (علم ظاهر) ما ستاسو په منځ کي خپور کړی دی او دويم (علم باطني) که هغه زه بيان کړم نو زما دا غاړه به پرې کړل سي . بخاري.

(۲۵۳) : وَعَنْ عَبْدِاللهِ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ عَلِمَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ بِهِ وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلِ اللهُ أَعْلَمُ فَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ تَقُوْلَ لِمَا لَا تَعْلَمُ اللهُ أَعْلَمُ . قَالَ اللهُ تَعَالَى لِنَبِيِّهِ ( قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ ) (متفق عليه)

د حضرت عبدالله بن مسعود ؓ څخه روايت دی چي هغه خلکو ته وويل : اې خلکو ! په تاسو کي چي څوك په يو خبره پوهيږي هغه دي د هغې په اړه ووايي چي الله ښه پوهيږي ځکه چي د کوم شی هغه ته علم نسته په هغه الله ښه پوهيږي او داسي ويل هم د علم يو ډول دی الله پاك د خپل نبي لپاره فرمايلي دي : قل ما اسئلكم عليه من اجر وما انا من المتكلفين ( زه په دې قرآن ستاسو څخه څه مزدوري او يا بدل نه غواړم او زه د تکليف ورکونکو څخه نه يم ) بخاري او مسلم .

(۲۵۴) : وَعَنِ ابْنِ سِيْرِيْنَ قَالَ إِنَّ هٰذَا الْعِلْمَ دِيْنٌ

حضرت ابن سيرين ؓ فرمايلي دي چي دا علم

فَانْظُرُوْا عَمَّنْ تَأْخُذُوْنَ دِيْنَكُمْ . رواه مسلم .

(يعني د كتاب او سنت علم) دين دی هر کله چي دا تر لاسه کوئ نو وګورئ چي د چا څخه خپل دين تر لاسه کوئ. مسلم .

﴿٢٥٥﴾ : وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ يَا مَعْشَرَ الْقُرَّاءِ اسْتَقِيْمُوْا فَقَدْ سَبَقْتُمْ سَبْقًا بَعِيْدًا وَإِنْ أَخَذْتُمْ يَمِيْنًا وَشِمَالاً لَقَدْ ضَلَلْتُمْ ضَلاَلاً بَعِيْدًا . رواه البخاري .

حضرت حذيفة ﷺ قاريانو ته وويل اې قاريانو ! سيده اوسئ يقينا تاسو مخته والى وړى دى او که تاسو د صراط مستقيم څخه آخوا دېخوا سواست نو په لوى ګمراهي کي به ولوېږئ .

﴿٢٥٦﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ جُبِّ الْحُزْنِ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَا جُبُّ الْحُزْنِ ؟ قَالَ وَادٍ فِيْ جَهَنَّمَ يَتَعَوَّذُ مِنْهُ جَهَنَّمُ كُلَّ يَوْمٍ أَرْبَعَمِائَةِ مَرَّةٍ . قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَنْ يَدْخُلُهَا قَالَ الْقُرَّاءُوْنَ الْمُرَاؤُوْنَ بِأَعْمَالِهِمْ . رواه الترمذي وكذا ابن ماجه وزاد فيه وإن من أبغض القراء إلى الله تعالى الذين يزورون الأمراء . قال المحاربي يعني الجورة .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د الله په مرسته د غم د څاه څخه پناه غواړئ ، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! د غم څاه څه شي دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د دوږخ يوه شېله ده چي د هغې څخه دوږخ په ورځ کي څلور سوه ځله پناه غواړي، صحابه کرامو عرض وکړ چي په دې کي به څوك وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د قرآن هغه ويونکی چي خپل اعمال د ښودلو (ريا) لپاره کوي (ترمذي) ابن ماجه او د ابن ماجه په يوه روايت کي دا الفاظ زيات دي چي د الله په نزد مبغوض ترين هغه قاريان دي چي د اميرانو سره ملاقات کوي ، د دې حديث راوي محاربي ويلي دي چي د اميرانو څخه مراد ظالم اميران دي .

﴿٢٥٧﴾ :وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْشِكُ أَنْ يَأْتِيَ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لاَ يَبْقَى مِنَ الْإِسْلاَمِ إِلاَّ اسْمُهُ وَلاَ يَبْقَى مِنَ الْقُرْآنِ إِلاَّ رَسْمُهُ مَسَاجِدُهُمْ عَامِرَةٌ وَهِيَ خَرَابٌ مِّنَ الْهُدٰى عُلَمَاؤُهُمْ شَرُّ مَنْ تَحْتَ أَدِيْمِ السَّمَاءِ مِنْ عِنْدِهِمْ تَخْرُجُ الْفِتْنَةُ وَفِيْهِمْ تَعُوْدُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : نژدې ده چي پر خلکو به داسي وخت راسي چي په اسلام کي به يوازي د هغه نوم پاته سي او په قرآن کي به يوازي د هغه نقوش پاته سي د هغوئ مسجدونه به په ښکاره آباد وي مګر په حقيقت کي به د هدايت څخه خالي وي ، د هغوئ علماء به د آسمان لاندي مخلوق کي تر ټولو بد تر وي د هغوئ څخه به په دين کي فتنه را پورته کيږي او هم هغوئ ته به دا راګرځي . بيهقي

(۲۵۸) : وَعَنْ زِيَادِ بْنِ لَبِيْدٍ قَالَ ذَكَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَقَالَ ذَاكَ عِنْدَ أَوَانِ ذَهَابِ الْعِلْمِ . قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ وَكَيْفَ يَذْهَبُ الْعِلْمُ وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَنُقْرِئُهُ أَبْنَاءَنَا وَيُقْرِؤُهُ أَبْنَاؤُنَا أَبْنَاءَهُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَقَالَ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ زِيَادُ إِنْ كُنْتُ لَأَرَاكَ مِنْ أَفْقَهِ رَجُلٍ بِالْمَدِيْنَةِ أَوَلَيْسَ هٰذِهِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى يَقْرَءُوْنَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيْلَ لَا يَعْمَلُوْنَ بِشَيْءٍ مِمَّا فِيْهِمَا . رواه احمد وابن ماجه وروى الترمذي عنه نحوه . وكذا الدارمي عن أبي أمامة .

د حضرت زیاد بن لبید ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د یو شی ذکر وکړ (یعني د ابتلاء او فتنې) بیا یې وفرمایل دا به هغه وخت وي هر کله چي علم ولاړ سي ، د دې په اوریدو سره ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! علم به څنګه ولاړ سي حال دا چي موږ قران وایو او خپلو اولادو ته یې ښیو او هغوئ به یې خپلو اولادو ته ښیي دغسي دا لړۍ به تر قیامته پوري جاري وي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : زیاد ! مور دي در باندي بوره سي ما خو ته په مدینه کي پوه سړی ګڼلې ایا دا یهود او نصارا تورات او انجیل نه وایي ؟ مګر څه چي په دې کتابو کي دي په هغه کي په هیڅ شي باندي عمل نه کیږي: احمد ، ابن ماجه او ترمذي .

(۲۵۹) : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَعَلِّمُوْهُ النَّاسَ تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَعَلِّمُوْهُ النَّاسَ تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَعَلِّمُوْهُ النَّاسَ فَإِنِّيْ امْرُؤٌ مَقْبُوْضٌ وَالْعِلْمُ سَيُقْبَضُ وَيَظْهَرُ الْفِتَنُ حَتّٰى يَخْتَلِفُ اثْنَانِ فِيْ فَرِيْضَةٍ .لَا يَجِدَانِ أَحَدًا يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا . رواه الدارمي والدارقطني .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل : علم زده کړه او وښیه او د فرضو علم هم زده کړه او خلکو ته یې و ښیه، زده کوئ قرآن او خلګو ته یې وښیاست نو زه خو یو سړی یم چي پورته به سم (یعني وفات به سم) او علم به هم پورته کړل سي او فتنې به څرګندي سي تر دې چي دوه کسه به په یوه فرض خبره کي اختلاف کوي او داسي هیڅ به بیا تر لاسه نه کړي چي د هغوي په منځ کي پریکړه وکړي .دارمي او دار قطني .

(۲۶۰) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ عِلْمٍ لَا يُنْتَفَعُ بِهِ كَمَثَلِ كَنْزٍ لَا يُنْفَقُ مِنْهُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ . رواه احمد والدارمي .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د هغه علم مثال چي ګټه څیني وا نه خیستل سي د هغه خزانې په مثل دی چي د هغې څخه د الله په لار کي هیڅ خرڅ نه کړل سي. احمد او دارمي .

# كِتَابُ الطَّهَارَةِ

## (د پاکی بیان)

### لومړی فصل

﴿۲۶۱﴾: عَنْ اَبِيْ مَالِكِ الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الطُّهُوْرُ شَطْرُ الْإِيْمَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ تَمْلَآنِ أَوْ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالصَّلَاةُ نُورٌ وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو فَبَايِعٌ نَفْسَهُ فَمُعْتِقُهَا أَوْ مُوبِقُهَا (رواه مسلم) وَ فِيْ رِوَايَةٍ لَاإِلٰهَ إِلَّااللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ تَمْلَآنِ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لَمْ أَجِدْ هٰذِهِ الرِّوَايَةَ فِي الصَّحِيْحَيْنِ و لَا فِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَ لَا فِي الْجَامِعِ وَلٰكِنْ ذَكَرَهَا الدَّارِمِيُّ بَدَلَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ

د حضرت ابومالك اشعري ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پاك اوسيدل نيم ايمان دى او الحمدلله ويل (د اعمالو) تله ډکوي او سبحان الله او الحمدلله ويل د آسمانو او مځکي منځ ډکوي او لمونځ نور دى او صدقه دليل دى او صبر رڼا ده او قرآن ستا لپاره يا پر تا دليل دى هر سړى چي سهار راکښيني نو خپل ځان په خپلو کارو کي بوخت کړي بيا خپل ځان آزاد کړي يا يې هلاك کړي (مسلم) او په يوه روايت کي دي چي لااله الاالله او الله اكبر ويل مځکه او آسمان ډکوي او ما دا روايت په صحيحين حميدي او جامع الاصول کي پيدا نه کړ مگر دارمي دا د سبحان الله او الحمدلله پر ځای ذکر کړی دی.

﴿۲۶۲﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللّٰهُ بِهِ الْخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ قَالُوا بَلَى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ إِسْبَاغُ الْوُضُوءِ عَلَى الْمَكَارِهِ وَكَثْرَةُ الْخُطَا إِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَذٰلِكُمْ الرِّبَاطُ . وَفِيْ حَدِيْثِ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ فَذَالِكُمُ الرِّبَاطُ فَذَالِكُمُ الرِّبَاطُ مَرَّتَيْنِ. رواه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاسو ته هغه شی و نه ښيم چي ستاسو څخه گناهونه ليري کړي او ستاسو درجي لوړي کړي ، صحابه کرامو عرض وکړ چي هو اې د الله رسوله ! نو رسول الله ﷺ وفرمايل د ناروغۍ يا تکليف په وخت کي اودس پوره کول د مسجد په لور ډير قدمونه اېښودل او د يوه لمانځه څخه وروسته تر بل لمانځه پوري انتظار

مسلم و في رواية الترمذي ثلثا .

کول دا رباط دی ، د مالك بن انس په حدیث کي د رباط لفظ دوه ځله راغلی دی او په ترمذي کي درې ځله .

(۲۶۳) : وَ عَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ خَرَجَتْ خَطَايَاهُ مِنْ جَسَدِهِ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِهِ (متفق علیه)

د حضرت عثمان ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي اودس وکړي او په ښه ډول اودس وکړي نو د هغه (ټول) گناهونه د هغه د بدن څخه وزي تر دې چي د نوکانو د لاندي څخه هم . بخاري او مسلم .

(۲۶۴) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُسْلِمُ أَوْ الْمُؤْمِنُ فَغَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَ مِنْ وَجْهِهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ نَظَرَ إِلَيْهَا بِعَيْنَيْهِ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خَرَجَ مِنْ يَدَيْهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ كَانَ بَطَشَتْهَا يَدَاهُ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَ كُلُّ خَطِيئَةٍ مَشَتْهَا رِجْلَاهُ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ حَتَّى يَخْرُجَ نَقِيًّا مِنَ الذُّنُوبِ (رواه مسلم)

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي یو مسلمان یا مؤمن بنده د اودس کولو اراده وکړي او خپل مخ پریولي نو په اوبو سره د هغه ټول گناهونه چي د هغه سترگو کړي وي توئیږي یا د هغه اوبو د آخري څاڅکي سره وزي بیا چي هغه خپل دواړه لاسونه پریولي نو د لاسو هغه ټول گناهونه چي هغو کړي وي په اوبو یا د اوبو په آخري څاڅکي سره توئیږي بیا چي کله هغه خپل دواړي پښې پریولي نو د هغه د پښو هغه ټول گناهونه چي د هغه په لور تللي وي په اوبو یا د اوبو په آخري څاڅکي سره توئیږي تر دې چي هغه د گناهونو څخه پاك سي .مسلم

(۲۶۵) : وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ امْرِئٍ مُسْلِمٍ تَحْضُرُهُ صَلَاةٌ مَكْتُوبَةٌ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهَا وَخُشُوعَهَا وَرُكُوعَهَا إِلَّا كَانَتْ كَفَّارَةً لِمَا قَبْلَهَا مِنَ الذُّنُوبِ مَا لَمْ يُؤْتِ كَبِيرَةً وَذٰلِكَ الدَّهْرَ كُلَّهُ (رواه مسلم)

د حضرت عثمان ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي یو مسلمان د لمانځه د وخت په راتلو سره په ښه اوداسه او خشوع او په رکوع سره لمونځ وکړي نو د هغه دا عمل د هغه د مخه گناهونو کفاره کیږي تر څو پوري چي هغه لویه گناه ونه کړي نو داسي به ټول وخت کیږي .مسلم .

﴿۲۶۶﴾ :وَ عَنْهُ اَنَّهُ تَوَضَّأَ فَاَفْرَغَ عَلٰى يَدَيْهِ ثَلاَثًا ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلاَثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنٰى إِلَى الْمِرْفَقِ ثَلاَثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُسْرٰى إِلَى الْمِرْفَقِ ثَلاَثًا ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى ثَلاَثًا ثُمَّ الْيُسْرٰى ثَلاَثًا ثُمَّ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هٰذَا ثُمَّ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ وُضُوئِي هٰذَا ثُمَّ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ لاَ يُحَدِّثُ نَفْسَهُ فِيْهِمَا بِشَيْءٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ. متفق عليه و لفظه للبخاري.

حضرت عثمان ﷛ وايي چي ده اودس وکړ (داسي چي) درې ځله يې پر خپلو لاسونو اوبه واچولې بيا يې خوله پريولل او پزه يې په اوبو پاکه کړه بيا يې درې ځله مخ پريولی بيا يې درې ځله راسته لاس تر ځنګلي پوري پريولی او بيا يې چپه لاس درې ځله تر ځنګلو پوري پريولی بيا يې د سر مسح وکړل بيا يې درې ځله راسته پښه پريوله او بيا يې درې ځله چپه پښه پريوله ، بيا حضرت عثمان ﷛ وويل ما رسول الله ﷺ دغسي په اودس کولو ليدلی دی بيا يې وفرمايل :څوك چي زما د اوداسه په ډول اودس وکړي بيا دوه رکعته نفل لمونځ وکړي او په لمانځه کي د خپل زړه سره خبري ونه کړي (يعني دنياوي خيالات په زړه کي را نه ولي) نو د هغه مخکښني تول ګناهونه بخښل کيږي . بخاري او مسلم .

﴿۲۶۷﴾ : وَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوْءَهُ ثُمَّ يَقُوْمُ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ إِلاَّ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. (رواه مسلم)

د حضرت عقبه بن عامر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم مسلمان چي اودس وکړي او په ښه ډول اودس وکړي بيا ودريږي دوه رکعته لمونځ وکړي زړه او مخ (يعني ظاهر او باطن) سره متوجه سي نو د هغه لپاره جنت واجب سي . مسلم .

﴿۲۶۸﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ اَوْ فَيُسْبِغُ الْوَضُوْءَ ثُمَّ يَقُوْلُ أَشْهَدُ اَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ وَ فِيْ رِوَايَةٍ أَشْهَدُ اَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ

د حضرت عمر بن الخطاب ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي چي څوك اودس وکړي (يا يې دا وفرمايل چي پوره اودس وکړي) او بيا ووايي چي زه ددې خبري شاهدي ورکوم چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هغه يوازي دی شريك نه لري او شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دی او په يوه

وَرَسُوْلُهُ إِلاَّ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ. هكذا رواه مسلم في صحيحه والحميدي في افراد مسلم و كذا ابن الاثير في جامع الاصول و ذكر الشيخ محي الدين النووي في آخر حديث مسلم على ما رويناه و زاد الترمذي اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين والحديث الذي رواه محي السنة رحمه الله في الصحاح من توضا فاحسن الوضوء الى آخره رواه الترمذي في جامعه بعينه الا كلمة اشهد قبل ان محمدا .

روايت كي داسي دي چي زه ددې خبرې شاهدي ورکوم چي د يوه الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هيڅوك د هغه شريك نسته او ددې خبرې شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دی نو د هغه لپاره د جنت اته دروازې خلاصي سي پر کومه دروازه چي يې خوښه وي په جنت کي به داخل سي. (مسلم، حميدي، جامع الاصول، نووي، او ترمذي دا الفاظ زيات ليکلي دي : اللهم اجعلني الخ) اې الله ما د توبو کونکو څخه وشميرې او په پاکي کوونکو کي مي داخل کړې او هغه حديث چي محي السنة په صحاح کي بيان کړی دی هغه دادی چي اودس يې وکړ او په ښه ډول يې اودس وکړ ... تر پايه پوري ، ترمذي په خپل جامع کي بعينه ذکر کړی دی خو د ان محمدا څخه مخکي يې اشهد لفظ نه دی ذکر کړی .

﴿٢٦٩﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ غُرًّا مُحَجَّلِيْنَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ اَنْ يُطِيْلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ (منفق عليه)

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما امت به د قيامت په ورځ د ځلانده تنديو او سپين اندامو والا په صفت و بلل سي او دا رڼا والی او سپين والی به د اوداسه له کبله وي نو په تاسو کي چي د چا لپاره دا ممکنه وي چي د خپل تندي رڼا زياته کړي نو هغه ته پکار دي چي هغه همداسي وکړي .بخاري او مسلم .

﴿٢٧٠﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنِ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوَضُوءُ . (رواه مسلم)

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (په جنت کي) به د مؤمن ښکلا يا جامې (تر هغه ځايه) رسيږي تر کوم ځايه پوري چي د هغه د اوداسه اوبه رسيږي . مسلم .

## دوهم فصل

(٢٧١) : عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِسْتَقِيْمُوْا وَلَنْ تُحْصُوْا وَاعْلَمُوْا اَنَّ خَيْرَ اَعْمَالِكُمْ الصَّلَاةُ وَلَا يُحَافِظُ عَلَى الْوُضُوْءِ اِلَّا مُؤْمِنٌ . رواه مالك واحمد وابن ماجه والدارمي .

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر سمه لار اوسئ او هيڅکله به پر سمه لار د اوسيدو توان ونه لرلای سئ او پوه سئ چي ستاسو په اعمالو کي غوره عمل لمونځ دی او د اوداسه ساتنه نه کوي مگر مؤمن . مالك، احمد ، ابن ماجه او دارمي.

(٢٧٢) : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ عَلَى طُهْرٍ كُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ . رواه الترمذي .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:څوك چي داوداسه سربيره اودس وکړي نو د هغه لپاره لس نيکۍ وليکل سي . ترمذي.

## دريم فصل

(٢٧٣) : عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ . رواه أحمد .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جنت کيلي لمونځ دی او د لمانځه کيلي اودس دی . احمد

(٢٧٤) : وَعَنْ شَبِيْبِ بْنِ أَبِيْ رَوْحٍ عَنْ رَجُلٍ مِّنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَقَرَأَ الرُّوْمَ فَالْتَبَسَ عَلَيْهِ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ مَا بَالُ أَقْوَامٍ يُصَلُّوْنَ مَعَنَا لَا يُحْسِنُوْنَ الطُّهُوْرَ وَإِنَّمَا يُلَبِّسُ عَلَيْنَا الْقُرْآنَ أُولٰئِكَ . رواه النسائي .

حضرت شبيب بن ابو روح د رسول الله ﷺ د اصحابو څخه د يو صحابي څخه روايت کوي چي هغه وايي (يوځل) رسول الله ﷺ د سهار لمونځ ادا کړ او په هغه کي يې سورة روم و وايه ، رسول الله ﷺ لمونځ ادا کړ او وه يې فرمايل : د خلکو عجيبه حال دی زموږ سره لمونځ کوي او په ښه ډول اودس نه کوي او په دې وجه دا خلك موږ ته په قرآن کي شك پيدا کوي .

(٢٧٥) : وَعَنْ رَجُلٍ مِّنْ بَنِيْ سُلَيْمٍ قَالَ عَدَّهُنَّ

د بني سليم د قبيلې يو سړي روايت وکړ چي

رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ يَدِيْ أَوْ فِيْ يَدِهِ قَالَ اَلتَّسْبِيْحُ نِصْفُ الْمِيْزَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ يَمْلَؤُهُ وَالتَّكْبِيْرُ يَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ وَالصَّوْمُ نِصْفُ الصَّبْرِ وَالطُّهُوْرُ نِصْفُ الْاِيْمَانِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن .

رسول الله ﷺ هغه خبري چي مخکي ذکر دي زما په لاس يا په خپل لاس شمير کړې نو وه يې فرمايل : تسبيح (سبحان الله ويل) نيمه تله ډکوي او الحمدلله پوره تله ډکوي او تکبير د آسمان او مځکي منځ ډکوي او روژه نيم صبر دی او پاکي نيم ايمان دی . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن دی.

(٢٧٦) :وَعَنْ عَبْدِ اللهِ الصُّنَابِحِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ فَمَضْمَضَ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ فِيْهِ وَإِذَا اسْتَنْثَرَ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ أَنْفِهِ فَإِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ وَجْهِهِ حَتّٰى تَخْرُجُ مِنْ تَحْتِ أَشْفَارِ عَيْنَيْهِ فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ يَدَيْهِ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِ يَدَيْهِ فَإِذَا مَسَحَ بِرَأْسِهِ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ رَأْسِهِ حَتّٰى تَخْرُجُ مِنْ أُذُنَيْهِ فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَتِ الْخَطَايَا مِنْ رِجْلَيْهِ حَتّٰى تَخْرُجَ مِنْ تَحْتِ أَظْفَارِ رِجْلَيْهِ ثُمَّ كَانَ مَشْيُهُ إِلَى الْمَسْجِدِ وَصَلَاتُهُ نَافِلَةً لَهُ . رواه مالك والنسائي .

د حضرت عبدالله الصنابحي رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي مؤمن بنده د اوداسه اراده وکړي نو هغه چي خوله پريولي نو د هغه د خولې څخه گناه وزي او هر کله چي په پزه کي اوبه واچوي نو ووزي گناهونه د پزي دده څخه او کله چي مخ پريولي نو د مخ او سترگو څخه گناه وزي تر دې چي د ورځو لاندي گناه يې هم ووزي او کله چي لاسونه پريولي نو د دواړو لاسونو گناه يې پريولل سي تر دې چي د لاسو د نوکانو د لاندي گناه يې هم پريولل سي او کله چي د سرمسح وکړي نو د سر گناه يې ووزي تر دې چي د غوږونو گناه يې توی سي او کله چي پښې پريولي نو د پښو گناه يې وزي تر دې چي د پښو د نوکانو گناه يې توی سي ، بيا مسجد ته د هغه تلل او د هغه لمونځ کول (د هغه په اعمالو کي) زياتوالی دی . مالك او نسائي .

(٢٧٧) : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَى الْمَقْبَرَةَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِيْنَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ وَدِدْتُ أَنَّا قَدْ رَأَيْنَا إِخْوَانَنَا قَالُوا أَوَلَسْنَا إِخْوَانَكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ أَنْتُمْ أَصْحَابِيْ وَإِخْوَانُنَا الَّذِيْنَ لَمْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (جنت البقيع) هديرې ته تشريف راوړئ او وه يې فرمايل : اې د هديرې د مؤمنانو ډلې پر تاسو دي سلامتي وي او موږ هم انشاء الله تاسو ته راتلونکي يو او زما دا ارمان دی چي موږ خپل ورونه ووينو (د دې په اوريدو سره ) صحابه

يَأْتُوا فَقَالُوا كَيْفَ تَعْرِفُ مَنْ لَمْ يَأْتِ بَعْدُ مِنْ أُمَّتِكَ يَا رَسُولَ اللّٰه فَقَالَ أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ رَجُلاً لَهُ خَيْلٌ غُرٌّ مُحَجَّلَةٌ بَيْنَ ظَهْرَيْ خَيْلٍ دُهْمٍ بُهْمٍ أَلاَ يَعْرِفُ خَيْلَهُ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰه قَالَ فَإِنَّهُمْ يَأْتُونَ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنَ الْوُضُوءِ وَأَنَا فَرَطُهُمْ عَلَى الْحَوْضِ (رواه مسلم)

کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا موږ ستاسو ورونه نه يو ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل تاسو زما اصحاب (ملگري) ياست او زما ورونه هغه دي چي اوس لا (دنيا ته) نه دي راغلي ، صحابه کرامو عرض وکړ تاسو به په قيامت کي دغه خلك څنگه پيژنئ چي تر اوسه ستاسو په امت کي نه دي راغلي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ما ته دا ووايا ست چي که د يو سړي سره سپين تندي والا او سپين لاس او پښو والا آسان وي او هغه په ډيرو تورو آسانو کي گډ سوي وي نو ايا هغه به خپل آسونه پيژني؟ صحابه کرامو عرض وکړ هو ، اې دالله رسوله ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل هغوئ به (د قيامت په ورځ) د اوداسه د اثر په وجه سپين تندي او سپين لاس او پښو والا راځي او زه به پر حوض کوثر د هغوئ سردار يم .

(۲۷۸) : وَ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( أَنَا أَوَّلُ مَنْ يُؤْذَنُ لَهُ بِالسُّجُوْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يُؤْذَنُ لَهُ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ فَأَنْظُرُ إِلَى مَا بَيْنَ يَدَيَّ فَأَعْرِفُ أُمَّتِيْ مِنْ بَيْنِ الْأُمَمِ وَمِنْ خَلْفِيْ مِثْلَ ذٰلِكَ وَعَنْ يَمِيْنِيْ مِثْلَ ذٰلِكَ وَعَنْ شِمَالِيْ مِثْلَ ذٰلِكَ . فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰه كَيْفَ تَعْرِفُ أُمَّتَكَ مِنْ بَيْنِ الْأُمَمِ فِيمَا بَيْنَ نُوحٍ إِلَى أُمَّتِكَ ؟ قَالَ هُمْ غُرٌّ مُحَجَّلُوْنَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوْءِ لَيْسَ أَحَدٌ كَذٰلِكَ غَيْرُهُمْ وَأَعْرِفُهُمْ أَنَّهُمْ يُؤْتَوْنَ كُتُبَهُمْ بِأَيْمَانِهِمْ وَأَعْرِفُهُمْ تَسْعٰى بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ذُرِّيَّتُهُمْ .رواه احمد

د حضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به تر ټولو لومړی سړی زه يم چي د سجدې اجازه به راکړل سي او بيا به په هغه خلکو کي لومړی سړی يم چي د سجدې څخه د سر پورته کولو حکم راکړل سي زه به خپل په وړاندي د خلکو گڼه گوڼه وينم او په هغوئ کي به خپل امت و پيژنم بيا به د خپل څان څخه وروسته دا ډول گڼه گوڼه وينم په نورو امتونو کي به خپل امت و پيژنم بيا به خپل راسته او چپه لوري ته گڼه گوڼه وينم او خپل امت به پکښي و پيژنم ،يوه سړي وويل اې دالله رسوله ! د هغه امتونو په منځ کي به تاسو خپل امت څنگه پيژنئ په مابين د حضرت نوح عليه السلام د امت څخه بيا ستا تر امت پوري ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زما د امت خلك به د اوداسه د اثر په وجه ځلانده مخان او سپين لاسونه او پښې وي او ددې پرته به بل هيڅ يو نښه نه وي او زه به هغوئ داسي پيژنم چي د هغوئ عمل نامه به يې په راسته لاسونو کي وي او داسي به يې پيژنم چي د هغوئ (کم عمره) ماشومان به د هغو څخه وړاندي منډي وهي . احمد .

# بَابُ مَا يُوْجِبُ الْوُضُوْءَ

## (د اوداسه موجبات)

## لومړی فصل

(۲۷۹) : وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لاَ تُقْبَلُ صَلاَةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ (متفق عليه) .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د بې اودسه لمونځ نه قبليږي تر څو پوري چي هغه اودس ونه کړي .بخاري او مسلم

(۲۸۰) : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : لاَ تُقْبَلُ صَلاَةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ وَلاَ صَدَقَةٌ مِنْ غُلُولٍ (رواه مسلم)

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بېله اوداسه لمونځ نه قبليږي او نه د حرام مال خيرات کيږي .مسلم .

(۲۸۱) : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنْتُ رَجُلاً مَذَّاءً وَكُنْتُ اَسْتَحْيِي اَنْ اَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَانِ ابْنَتِهِ فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ فَسَأَلَهُ فَقَالَ يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ (متفق عليه)

حضرت علي ﷺ فرمايي چي ما ته مذي زيات راتلل او زه په دې وجه چي د رسول الله ﷺ زوم وم د دې حکم پوښتلو څخه شرمېدم نو ما مقداد ته د پوښتني کولو لپاره وويل ، مقداد د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د مذي په وتلو سره دي يوازي د تشو بولو ځای پريولي او اودس دي وکړي . بخاري او مسلم .

(۲۸۲) :وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ اَلْوُضُوْءُ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ (رواه مسلم) قَالَ اَلشَّيْخُ الامام الاجل محي السنة هذا منسوخ بحديث ابن عباس قال ان رسول الله صلى الله عليه وسلم اكل كتف شاة ثم صلى و لم يتوضا .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ اوريدلي دي چي فرمايل يې : کوم شی چي پر اور پخ سوی وي د هغه د خوړلو وروسته اودس کوئ ، شيخ امام محي السنة فرمايي دا حديث د ابن عباس په هغه حديث سره منسوخ دی چي رسول الله ﷺ د پسه اوږه (ولې)وخوړل بيا يې لمونځ وکړ او اودس يې ونه کړ.

(۲۸۳) :وَعَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْغَنَمِ قَالَ إِنْ شِئْتَ فَتَوَضَّأْ وَإِنْ شِئْتَ فَلاَ تَتَوَضَّأْ قَالَ أَنَتَوَضَّأُ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ قَالَ نَعَمْ فَتَوَضَّأْ مِنْ لُحُومِ الْإِبِلِ قَالَ أُصَلِّي فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ قَالَ نَعَمْ قَالَ أُصَلِّي فِي مَبَارِكِ الْإِبِلِ قَالَ لاَ . (رواه مسلم)

حضرت جابر بن سمرة ﷺ وايي چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ايا موږ د پسه د غوښو خوړلو وروسته اودس کوو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل که دي زړه غواړي نو وه يې کړه او کنې مه يې کوه ، بيا هغه پوښتنه وکړه ايا د اوښ د غوښو خوړلو وروسته اودس کوو؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هو، د اوښ د غوښو خوړلو وروسته اودس کوه بيا هغه.پوښتنه وکړه ايا زه د پسو د اوسيدو په ځای کي لمونځ کوم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :هو، بيا هغه پوښتنه وکړه ايا د اوښانو د تړلو په ځای کي لمونځ کوم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :يا . مسلم.

(۲۸۴) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِه شَيْئًا فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لاَ فَلاَ يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا (رواه مسلم) .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي څوك په تاسو کي په خپل نس کي دننه څه (آواز) واوري او ورسره شك سي چي يو شی خارج سوی دی يا نه نو تر هغه وخته د اوداسه لپاره د مسجد څخه مه وځئ تر څو پوري چي د هغه آواز وا نه ورئ يا بوئ پيدا نه کړئ. مسلم.

(۲۸۵) : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرِبَ لَبَنًا فَمَضْمَضَ وَقَالَ إِنَّ لَهُ دَسَمًا .(متفق عليه)

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ شيدې وڅښلې او خوله يې پرېوله او وه يې فرمايل په شيدو کي غوړوالی وي.

(۲۸۶) :وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الصَّلَوَاتِ يَوْمَ الْفَتْحِ بِوُضُوءٍ وَاحِدٍ وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ لَقَدْ صَنَعْتَ الْيَوْمَ شَيْئًا لَمْ تَكُنْ تَصْنَعُهُ قَالَ عَمْدًا صَنَعْتُهُ يَا عُمَرُ (رواه مسلم)

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د فتح په ورځ په يوه اوداسه سره ټو لمنځونه وکړل (پنځه لمنځونه) او پر موزو يې مسح وکړه نو حضرت عمر ﷺ رسول الله ﷺ ته وويل نن تاسو هغه خبره وکړه چي تاسو هيڅکله نه وه کړې ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : (اې) عمره! ما په قصد سره داسي کړي دي (چي خلکو ته د دې جواز څرګند سي) مسلم

(۲۸۷) : وَعَنْ سُوَيْدِ ابْنِ النُّعْمَانِ أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ خَيْبَرَ حَتَّى إِذَا كَانُوْا بِالصَّهْبَاءِ وَهِيَ أَدْنَى خَيْبَرَ صَلَّى الْعَصْرَ ثُمَّ دَعَا بِالْأَزْوَادِ فَلَمْ يُؤْتَ إِلاَّ بِالسَّوِيْقِ فَأَمَرَ بِهِ فَثُرِّيَ فَأَكَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلْنَا ثُمَّ قَامَ إِلَى الْمَغْرِبِ فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ . رواه البخاري .

د حضرت سوید بن النعمان ﷺ څخه روایت دی چي هغه د رسول الله ﷺ سره د خیبر د فتح په کال په سفر ولاړی، کوم وخت چي صهبا نامي خای ته ورسیدل چي د خیبر سره نژدې دی نو د مازدیگر لمونځ یې وکړ بیا یې توښه را وغوښتل، ستوان راوړل سول او د رسول الله ﷺ په حکم سره میده کړل سول بیا رسول الله ﷺ او موږ هغه وخوړل بیا د ماښام د لمانځه لپاره و درېدو ، رسول الله ﷺ خوله پریولل او موږ هم خوله پریولل او لمونځ مو ادا کړ او اودس مو ونه کړ .

## دوهم فصل

(۲۸۸) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ وَضُوْءَ إِلاَّ مِنْ صَوْتٍ أَوْ رِيْحٍ . رواه أحمد والترمذي .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : اودس یوازي په آواز یا بوی سره واجب کیږي . احمد او ترمذي.

(۲۸۹) : وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَذِيِّ فَقَالَ مِنَ الْمَذِيِّ الْوُضُوْءُ وَمِنَ الْمَنِيِّ الْغُسْلُ . رواه الترمذي .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي ما د مذي په اړه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : د مذي په وتلو سره اودس لازمیږي او په مني وتلو سره غسل واجب کیږي .

### اودس د لمانځه کیلي ده

(۲۹۰) : وَعَنْهُ قال قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُوْرُ وَتَحْرِيْمُهَا التَّكْبِيْرُ وَتَحْلِيْلُهَا التَّسْلِيْمُ . رواه أبو داود والترمذي والدارمي . ورواه ابن ماجه عنه وعن أبي سعيد .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل د لمانځه کیلي اودس دی او د لمانځه تحریم تکبیر دی او د لمانځه تحلیل سلام گرځول دي . ابوداؤد، ترمذي، دارمي او ابن ماجه.

(۲۹۱) : وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ طَلْقٍ قال قَالَ

د حضرت علي بن طلق ﷺ څخه روایت دی چي رسول

| | |
|---|---|
| رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ وَلَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِيْ أَعْجَازِهِنَّ . رواه الترمذي وأبو داود . | الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي په تاسو كي د يو چا هوا پرته د آواز څخه ووزي نو هغه ته اودس كول پكار دي او تاسو د ښځو سره د ډكو بولو په ځاى كي كوروالي مه كوئ . ترمذي او ابوداؤد. |
| ﴿۲۹۲﴾ : وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِيْ سُفْيَانَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا الْعَيْنَانِ وِكَاءُ السَّهِ فَإِذَا نَامَتِ الْعَيْنُ اسْتَطْلَقَ الْوِكَاءُ . رواه الدرامي . | د حضرت معاوية بن ابو سفيان ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سترګي د لوى اودس ماتي د ځاى الغي دي هر كله چي سترګي بېدې سي نو دالغې خلاصي سي . دارمي. |
| ﴿۲۹۳﴾ : وَعَنْ عَلِيٍّ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وِكَاءُ السَّهِ الْعَيْنَانِ فَمَنْ نَامَ فَلْيَتَوَضَّأْ . رواه أبو داود ، وَقَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِ السُّنَّةِ هٰذَا فِيْ غَيْرِ الْقَاعِدِ لِمَا صَحَّ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْتَظِرُوْنَ الْعِشَاءَ حَتّٰى تَخْفِقَ رُؤُوْسُهُمْ ثُمَّ يُصَلُّوْنَ وَلَا يَتَوَضَّؤُوْنَ . رواه أبو داود والترمذي إلا أنه ذكرفيه ينامون بدل ينتظرون العشاء حتى تخفق رؤوسهم | د حضرت علي ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د لوى اودس ماتي د ځاى الغې سترګي دي څوك چي بېده سي هغه ته پكار دي چي اودس وكړي (ابوداؤد) امام محي السنة وايي دا حكم د هغه چا لپاره دى چي ناست نه وي بلكه په پروتي بېده وي ، د حضرت انس ﷺ څخه نقل دي چي د رسول الله ﷺ صحابه كرامو ماخستن لمانځه ته په ناسته انتظار كاوه تر دې چي د خوب له كبله به د هغو سرونو كښته تالى. |

وهلې هغوئ په دغه حالت كي پورته كېدل لمونځ به يې كاوه او اودس به يې نه كاوه .ابوداؤد او ترمذي

| | |
|---|---|
| ﴿۲۹۴﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْوُضُوْءَ عَلٰى مَنْ نَامَ مُضْطَجِعًا فَإِنَّهُ إِذَا اضْطَجَعَ اسْتَرْخَتْ مَفَاصِلُهُ . رواه الترمذي وأبو داود . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اودس پر هغه چا لازم دى چي په پروتي بېده سي ځكه چي څه وخت يو څوك بېده سي نو دهغه بندونه سست سي |
| ﴿۲۹۵﴾ : وَعَنْ بُسْرَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَسَّ أَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ . رواه مالك وأحمد وأبو داود والترمذي | د حضرت بسرة (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي چي څوك خپل خاص اندام ته لاس ور وړي نو هغه ته پكار ده چي اودس |

والنسائي وابن ماجه والدارمي .

وکړي . مالك، احمد، ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه او دارمي.

(۲۹۶) : وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ مَسِّ الرَّجُلِ ذَكَرَهُ بَعْدَمَا يَتَوَضَّأُ . قَالَ وَهَلْ هُوَ إِلاَّ بَضْعَةٌ مِّنْهُ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وروى ابن ماجه نحوه . وَ قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللهُ هٰذَا مَنْسُوْخٌ لِأَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ أَسْلَمَ بَعْدَ قُدُوْمِ طَلْقٍ . وَقَدْ رُوِيَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَفْضٰى أَحَدُكُمْ بِيَدِهِ إِلَى ذَكَرِهِ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا شَيْءٌ فَلْيَتَوَضَّأْ . رواه الشافعي والدراقطني . وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ بُسْرَةَ إِلاَّ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا شَيْءٌ .

د حضرت طلق بن علي ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول که یو څوك د اودس کولو څخه وروسته خپل خاص اندام ته لاس ور وړي (نو د دې څه حکم دی) رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه خو هم د سړي د غوښو یوه ټوټه ده .(ابوداؤد، ترمذي، نسائي) ابن ماجه هم دا ډول روایت کړی دی ، امام محي السنة وایي چي دا حکم منسوخ دی ځکه چي ابوهریرة د طلق د راتلو څخه وروسته اسلام راوړی دی او د ابوهریرة څخه روایت نقل دی (او هر کله چي په تاسو کي د یو چا لاس خپل خاص اندام ته ورسیږي او د لاس او دهغه په منځ کي یو شی نه وي نو اودس کول پکار دي )، شافعي، دارقطني او نسائي د بي بي بسرة څخه روایت کړی دی خو په هغه کي لیس بینه و بینها الفاظ نسته.

(۲۹۷) : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ بَعْضَ أَزْوَاجِهِ ثُمَّ يُصَلِّيْ وَلاَ يَتَوَضَّأُ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه . وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ لاَ يَصِحُّ عِنْدَ أَصْحَابِنَا بِحَالٍ إِسْنَادُ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ وَأَيْضًا إِسْنَادُ إِبْرَاهِيْمَ التَّيْمِيِّ عَنْهَا . وقال أبو داود هذا مرسل وإبراهيم التيمي لم يسمع من عائشة .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د خپلو ځینو بیبیانو څخه مچه اخیستل او پرته د اودس کولو سره به یې لمونځ کاوه (ابوداؤد ، ترمذي، نسائي، ابن ماجه) تر مذي ویلي دي چي زموږ د اصحابو په نزد د عروه یا د ابراهیم تیمي د بي بي عائشې څخه روایت کول په هیڅ حال کي صحیح نه دي ، ابوداؤد ویلي دي چي دا مرسل دی او ابراهیم تیمي د بي بي عائشې څخه نه دي اوریدلي .

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتِفًا ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ بِمِسْحٍ كَانَ تَحْتَهُ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى . رواه ابو داود وابن ماجه

رسول الله ﷺ د پسه د ولي غوښه وخوړل بيا يې خپل لاس مبارك په ټاټ سره وچ كړ او بيا د لمانځه لپاره ودرېدى او لمونځ يې وكړ .

(۲۹۹) : وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّهَا قَالَتْ قَرَّبْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَنْبًا مَشْوِيًّا فَأَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ . رواه أحمد .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دى چي زه د دې خبري شاهدي وركوم چي ما رسول الله ﷺ ته بريان سوې پوښتنۍ وركړه نو وه يې خوړل او بيا د لمانځه لپاره و درېدى او اودس يې ونه كړ . احمد .

## دريم فصل

(۳۰۰) : عَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ أَشْهَدُ لَقَدْ كُنْتُ أَشْوِي لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَطْنَ الشَّاةِ ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ (رواه مسلم)

د حضرت ابو رافع رضی الله عنه څخه روايت دى چي زه د دې خبري شاهدي وركوم چي ما به د رسول الله ﷺ لپاره د پسه د نس شيان (زړه، اينه يا بل شى) بريان كول (رسول الله ﷺ به هغه خوړل) او بيا به د لمانځه لپاره و درېدى او اودس به يې نه كاوه. مسلم

(۳۰۱) : وَعَنْهُ قَالَ أُهْدِيَتْ لَهُ شَاةٌ فَجَعَلَهَا فِي الْقِدْرِ فَدَخَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا هٰذَا يَا أَبَا رَافِعٍ فَقَالَ شَاةٌ أُهْدِيَتْ لَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَطَبَخْتُهَا فِي الْقِدْرِ قَالَ نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ يَا أَبَا رَافِعٍ فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ ثُمَّ قَالَ نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ الْآخَرَ فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ الْآخَرَ ثُمَّ قَالَ نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ الْآخَرَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّمَا لِلشَّاةِ ذِرَاعَانِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا إِنَّكَ لَوْ سَكَتَّ لَنَاوَلْتَنِي ذِرَاعًا فَذِرَاعًا مَا سَكَتَّ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَتَمَضْمَضَ فَاهُ وَغَسَلَ أَطْرَافَ أَصَابِعِهِ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى ثُمَّ عَادَ إِلَيْهِمْ فَوَجَدَ

د حضرت ابورافع رضی الله عنه څخه روايت دى چي ما ته د تحفې لپاره د پسه غوښه راليږل سوې وه ، د پخولو لپاره ما هغه په دېګ كي واچول ، رسول الله ﷺ تشريف راوړ او وه يې فرمايل دا څه شي دي ؟ ابورافع وايي ما عرض وكړ اې د الله رسوله ! د پسه غوښه ده چي موږ ته د تحفې لپاره راوړل سوې ده ما په دېګ كي پخه كړل ، رسول الله ﷺ وفرمايل اې ابورافع! يو لاس (د پسه ورون) ما ته هم راكړه نو ما هغه رسول الله ﷺ ته وركړ بيا رسول الله ﷺ وفرمايل يو بل ورون هم راكړه نو ما دوهم ورون هم وركړ بيا رسول الله ﷺ وفرمايل يو بل ورون هم راكړه ما عرض وكړ اې دالله رسوله ! د

عِنْدَهُمْ لَحْمًا بَارِدًا فَأَكَلَ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلّٰى وَلَمْ يَمَسَّ مَاءً . رواه أحمد : ورواه الدارمي عَنْ أَبِيْ عُبَيْد إِلاَّ أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ إِلَى أٰخِرِهِ .

پسه خو دوه ورنونه وي نو رسول الله ﷺ وفرمايل اې ابورافع ! كه ته پته خوله پاته سوی وای نو ما ته به دي د ورون پسې ورون راكولای تر څو چي پته خوله وای ، بيا رسول الله ﷺ اوبه و غوښتلې او د گوتو سرونه يې پريولل بيا ودرېدی او لمونځ يې وكړ ، بيا رسول الله ﷺ ابورافع ته راغلی او د هغه سره يې پخه غوښه وليدل نو رسول الله ﷺ د هغه څخه هم څه وخوړل بيا مسجد ته ولاړی او لمونځ يې وكړاو اوبو ته يې لاس هم نه ور وړ . (احمد ، دارمي د ابوعبيد څخه روايت كړی دی خو ثم دعاء بماء تر پايه پوري يې نه دی ذكر كړی ).

﴿۳۰۲﴾ : وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنْتُ أَنَا وَأُبَيٌّ وَأَبُوْ طَلْحَةَ جُلُوْسًا فَأَكَلْنَا لَحْمًا وَخُبْزًا ثُمَّ دَعَوْتُ بِوَضُوْءٍ فَقَالاَ لِمَ تَتَوَضَّأُ فَقُلْتُ لِهٰذَا الطَّعَامِ الَّذِيْ أَكَلْنَا فَقَالاَ أَتَتَوَضَّأُ مِنَ الطَّيِّبَاتِ لَمْ يَتَوَضَّأْ مِنْهُ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِّنْكَ . رواه أحمد .

د حضرت انس بن مالك ﷺ څخه روايت دی چي زه، ابی بن كعب او ابوطلحه ټول ناست وو موږ غوښه او ډوډۍ وخوړل بيا مو د اوداسه لپاره اوبه را وغوښتلې ، ابی او ابوطلحه وويل اودس د څه لپاره كوئ ؟ ما وويل د دې خوراك په وجه چي اوس موږ كړی دی ، هغوئ وويل ايا د پاكو شيانو خوړلو په وجه اودس كوئ ؟ د دې شيانو په خوړلو سره هغه چا اودس نه دی كړی چي ستاسو څخه غوره وو (يعني نبي كريم ﷺ) . احمد

﴿۳۰۳﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ كَانَ يَقُوْلُ قُبْلَةُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَجَسُّهَا بِيَدِهِ مِنَ الْمُلاَمَسَةِ . وَمَنْ قَبَّلَ امْرَأَتَهُ أَوْ جَسَّهَا بِيَدِهِ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ . رواه مالك والشافعي .

حضرت ابن عمر ﷺ به ويل د سړي د خپلې ښځي څخه مچه اخيستل او دهغې سره لاس مښلول دا هم ملامسه ده (چي د هغې ذكر په دې آيت : أَوْ لٰمَسْتُمُ .....) كې راغلی دی او كوم سړی چي د خپلې ښځي څخه مچه واخيستل او هغه يې په خپل لاس سره مس كړل نو پر هغه اودس لازم دی . مالك او شافعي.

﴿۳۰۴﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ يَقُوْلُ مِنْ قُبْلَةِ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ الْوُضُوْءُ . رواه مالك .

حضرت ابن مسعود ﷺ څخه به ويل چي د سړي د خپلې ښځي څخه مچه اخيستلو سره اودس لازميږي . مالك

﴿۳۰۵﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي عمر بن الخطاب ﷺ

بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ إِنَّ الْقُبْلَةَ مِنَ اللَّمْسِ فَتَوَضَّؤُوْا مِنْهَا .

فرمايلي دي چي : مچه اخيستل ، خپلي ښځي ته لاس وروړلو كي داخله ده نو د مچي اخيستو وروسته اودس كوئ .

(۳۰۶) : وَعَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ عَنْ تَمِيْمِ الدَّارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْوُضُوْءُ مِنْ كُلِّ دَمٍ سَائِلٍ . رَوَاهُمَا الدَّارَقُطْنِيُّ وَقَالَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيْزِ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ تَمِيْمِ الدَّارِيِّ وَلاَ رَآهُ وَيَزِيْدُ بْنُ خَالِدٍ وَّيَزِيْدُ بْنُ مُحَمَّدٍ مَّجْهُوْلاَنِ .

حضرت عمر بن عبدالعزيز د تميم داري څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په هره بهېدونكې وينه سره اودس ماتيږي ، دا دار قطني روايت كړى دى او ويلي يې دي چي عمر بن عبدالعزيز د تميم داري څخه نه دى اوريدلى او نه يې هغه ليدلى دى او يزيد بن خالد ويلي دي چي زيد بن محمد مجهول راويان دي .

# بَابُ اٰدَابِ الْخَلاَءِ

## (د تشو او ډكو بولو كولو آداب)

## لومړى فصل

(۳۰۷) : وَعَنْ اَبِي أَيُّوْبَ الْاَنْصَارِي قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلاَ تَسْتَدْبِرُوهَا وَلٰكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا (متفق عليه) قَالَ الشَّيْخُ الامام مُحْيِ السُّنَّةِ هٰذَا الْحَدِيْثُ فِي الصَّحْرَاءِ وَأَمَّا فِي الْبُنْيَانِ فَلاَ بَأْسَ لِمَا رُوِيَ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ اِرْتَقَيْتُ فَوْقَ بَيْتِ حَفْصَةَ لِبَعْضِ حَاجَتِيْ فَرَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِيْ حَاجَتَهُ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ مُسْتَقْبِلَ الشَّامِ . (متفق عليه)

د حضرت ابوايوب الانصاري ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو ډكو بولو ته ځئ نو مه د قبلې په لور مخ كوئ او مه شا كوئ بلكه لوېديځ يا ختيځ لوري ته مخ يا شا كوئ . (بخاري او مسلم) امام محي السنة فرمايي دا حكم د ځنګله دى او په ابادي كي ددې څه پروا نسته ځكه چي حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دى چي زه د يو ضرورت له كبله د بي بي حفصې د سراى بام ته ختلى وم ما رسول الله ﷺ پر قضاء حاجت وليدى چي قبلې ته يې شا كړې وه او د شام په لوري يې مخ كړى وو . بخاري او مسلم .

(۳۰۸) : وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ نَهَانَا يَعْنِيْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ لِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِالْيَمِينِ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِأَقَلَّ مِنْ ثَلاَثَةِ أَحْجَارٍ أَوْ أَنْ نَسْتَنْجِيَ بِرَجِيعٍ أَوْ بِعَظْمٍ (رواه مسلم)

د حضرت سلمان ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ منع فرمایلې ده چې موږ د تشو یا ډکو بولو کولو پ وخت مخ قبلې ته کړو او ددې څخه یې منع فرمایلې ده چې موږ په راسته لاس استنجاء وکړو او د دې څخه یې منع فرمایلې ده چې بېدرو لږ تږ کم استنجاء وکړو او ددې څخه یې منع فرمایلې ده چې موږ په خوشایو او هډوکو سره استنجاء وکړو. مسلم

(۳۰۹) : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلاَءَ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ. (متفق علیه)

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د ډکو (یا تشو) بولو ځای ته داخلېدی نو دا دعاء به یې کوله (اللهم اني اعوذبك من الخبث والخبائث) اې الله زه د ناپاکه نر او ښځو پېریانو څخه ستا پناه غواړم. بخاري او مسلم

(۳۱۰) : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَرَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَبْرَيْنِ فَقَالَ إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ لاَ يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ لاَ يَسْتَنْزِهُ مِنَ الْبَوْلِ وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ ثُمَّ أَخَذَ جَرِيْدَةً رَطْبَةً فَشَقَّهَا بِنِصْفَيْنِ ثُمَّ غَرَزَ فِيْ كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ لِمَ صَنَعْتَ هٰذَا فَقَالَ لَعَلَّهُ أَنْ يُخَفِّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا. (متفق علیه)

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د دوو قبرونو په خوا کې تیرېدی نو رسول الله ﷺ وفرمایل دغه دواړو قبرو والا ته عذاب ورکول کیږي او په یو لویه ګناه نه بلکه په دوی کې به یوه د تشو بولو څخه احتیاط نه کاوه او دوهم چغل خور وو، بیا رسول الله ﷺ د (خرما) یوه لنډه لښته راواخیستل او په منځ کې یې پرې کړه او دوې برخې یې کړل او یوه یوه یې پر دواړو قبرونو ښخه کړل، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! دا مو د څه لپاره وکړل ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : کېدای شي چې په دې عمل سره تر څو چې دا لښتې وچې نه سي د هغوئ په عذاب کې کمي راسي . بخاري او مسلم

(۳۱۱) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّقُوا اللَّعَّانَيْنِ قَالُوا وَمَا

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو د دوو شیانو څخه ځانو

اللَّعَّانَيْنِ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ الَّذِي يَتَخَلَّى فِي طَرِيقِ النَّاسِ أَوْ فِي ظِلِّهِمْ (رواه مسلم)

ژغورئ چي د لعنت سبب دی ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! هغه څه شي دي ؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ۱: يو خو دا چي هيڅوك دي د خلکو په لاره کي د حاجت لپاره نه کښيني ۲: او دوهم دا چي د خلکو د سايې په ځاى کي . مسلم .

(۳۱۲) : وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذَا شَرِبَ اَحَدُكُمْ فَلَا يَتَنَفَّسَ فِي الْاِنَاءِ وَاِذَا اَتَى الْخَلَاءَ فَلَا يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ وَ لَا يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ (متفق عليه)

د حضرت ابوقتادة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي يو څوك اوبه چښښي نو په هغه لوښي کي دي ساه نه کاږي ، او هر کله چي د حاجت ځاى ته ورزي نو خپل په راسته لاس سره دي خپل خاص اندام ته لاس نه ور وړي او نه دي په راسته لاس سره استنجاء کوي . بخاري او مسلم .

(۳۱۳) : وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ وَمَنْ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ . (متفق عليه) .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي اودس کوي نو پزه دي هم سوڼ کړي او څوك چي د حاجت څخه وروسته په لوټه سره استنجاء کوي نو هغه ته پکار ده چي په طاقو لوټو سره يې وکړي . بخاري او مسلم

(۳۱۴) : وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَاَحْمِلُ اَنَا وَغُلَامٌ اِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً فَيَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ (متفق عليه)

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به کله بيت الخلاء ته تلی نو ما او يوهلك به د اوبو لوښي او يوه برچه ورسره وړل ، رسول الله ﷺ به په اوبو سره استنجاء کول (او برچه به د لوټو ماتولو لپاره وه) . بخاري او مسلم .

## دوهم فصل

(۳۱۵) : عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ نَزَعَ خَاتَمَهُ . رواه أبو داود والنسائي والترمذي وقال هذا حديث حسن

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به کله بيت الخلاء ته د تلو اراده وکړه نو خپله گوتمۍ به يې وکښله (ځکه چي پر هغې د

صحيح غريب . وقال أبو داود هذا حديث منكر . وفي روايته وَضَعَ بَدَلَ نَزَعَ .

محمدرسول الله ﷺ نقش وو). (ابوداؤد، نسائي، ترمذي) او ترمذي ويلي دي چي دا حديث حسن صحيح غريب دى . ابوداؤد ويلي دي دا حديث منكر دى په دې روايت كي د (نزع) پر ځاى (وضع) دى .

﴿٣١٦﴾ : وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ الْبَرَازَ انْطَلَقَ حَتّٰى لاَ يَرَاهُ أَحَدٌ . رواه أبو داود .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ بيت الخلاء ته د تللو اراده وكړه نو داسي ځاى ته به يې تشريف يووړ چي دى مبارك به چا نه ليدى . ابوداؤد.

﴿٣١٧﴾ :وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَأَرَادَ أَنْ يَّبُوْلَ فَأَتٰى دَمِثًا فِيْ أَصْلِ جِدَارٍ فَبَالَ ثُمَّ قَالَ إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَّبُوْلَ فَلْيَرْتَدْ لِبَوْلِهِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابوموسى ﷺ څخه روايت دى چي زه يوه ورځ د نبي كريم ﷺ سره ملگرى وم نو رسول الله ﷺ د تشو بولو كولو اراده وكړل ، رسول الله ﷺ نرمي مځكي ته ورغلى او دديوال سره كښېنستى تشي بولي يې وكړې بيا يې وفرمايل هر كله چي په تاسو كي يو څوك د تشو بولو كولو اراده وكړي نو نرمه مځكه و لټوئ چي څاڅكي راپورته نه سي . ابوداؤد.

﴿٣١٨﴾ :وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ الْحَاجَةَ لَمْ يَرْفَعْ ثَوْبَهُ حَتّٰى يَدْنُوَ مِنَ الْأَرْضِ . (رواه الترمذي و ابوداؤد)

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ د تشو يا ډكو بولو كولو اراده وكړه نو تر څو پوري چي به مځكي ته نژدې نه وو رسيدلى نو جامې به يې نه پورته كولې. ترمذي او ابوداؤد.

﴿٣١٩﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ لِوَلَدِهِ أُعَلِّمُكُمْ إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلاَ تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلاَ تَسْتَدْبِرُوْهَا وَأَمَرَ بِثَلاَثَةِ أَحْجَارٍ وَنَهٰى عَنِ الرَّوْثِ وَالرِّمَّةِ وَنَهٰى أَنْ يَّسْتَطِيْبَ الرَّجُلُ بِيَمِيْنِهِ . رواه ابن ماجه والدارمي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه ستا سو لپاره داسي يم لكه پلار چي د زوى لپاره وي نو زه تاسو ته ښيم هر كله چي تاسو ډكو بولو ته ولاړ سئ نو د قبلې په لور مخ مه كوئ او مه شا كوئ او رسول الله ﷺ حكم وكړ چي د ډكو بولو وروسته په درو لوټو سره پاكوئ او په خوشايو او هډوكو سره استنجاء كولو څخه يې منع فرمايلې ده او په راسته لاس استنجاء كولو څخه يې هم منع فرمايلې ده . ابن ماجه او دارمي .

(٣٢٠) : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَتْ يَدُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيُمْنٰى لِطُهُوْرِهِ وَطَعَامِهِ وَكَانَتْ يَدُهُ الْيُسْرٰى لِخَلَائِهِ وَمَا كَانَ مِنْ أَذًى . رواه أبو داود .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به په راسته لاس اودس کاوه او د دوډۍ په خوړلو کې به يې استعمالوی او په چپه لاس به يې استنجاء کول او د مکروه شيانو د کار لپاره يې استعمالوی. ابوداؤد،

(٣٢١) :وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ذَهَبَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْغَائِطِ فَلْيَذْهَبْ مَعَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ يَّسْتَطِيْبُ بِهِنَّ فَإِنَّهَا تُجْزِئُ عَنْهُ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي والدارمي .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي : هر کله چې په تاسو کې يو څوک بيت الخلاء ته ځي نو د ځان سره دې درې ډبرې يوسي چې په دې سره استنجاء وکړي دا بس دي (يعني د اوبو ضرورت نه پاته کيږي) احمد.ابوداؤد،نسائي او دارمي

(٣٢٢) :وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسْتَنْجُوا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعِظَامِ فَإِنَّهُ زَادُ إِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ. رواه الترمذي والنسائي الا انه لم يذكر زاد اخوانكم من الجن.

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په خوشايو او هډوکو سره استنجاء مه کوئ ځکه چې دا شيان ستاسو د پيريانو ورونو خوراك دی. ترمذي.

(٣٢٣) : وَعَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا رُوَيْفِعُ لَعَلَّ الْحَيَاةَ سَتَطُوْلُ بِكَ بَعْدِيْ فَأَخْبِرِ النَّاسَ أَنَّ مَنْ عَقَدَ لِحْيَتَهُ أَوْ تَقَلَّدَ وَتَرًا أَوِ اسْتَنْجٰى بِرَجِيْعِ دَابَّةٍ أَوْ عَظْمٍ فَإِنَّ مُحَمَّدًا بَرِيْءٌ مِّنْهُ . رواه أبو داود .

د حضرت رويفع بن ثابت ﷺ څخه روايت دی چې ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل : اې رويفع ! کيدای سي ستا ژوند زما وروسته اوږد وي نوخلکو ته ووايه کوم څوك چې ږيرې ته غوټه ورکړي يا يې په غاړه کې پړی واچوی يا يې د حيوان په نجاست يا هډوکو سره استنجاء وکړل نو محمد ﷺ د هغه څخه بيزاره دی. ابوداؤد.

(٣٢٤) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اكْتَحَلَ فَلْيُوْتِرْ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَّا فَلَا حَرَجَ وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوْتِرْ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لَّا

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چې سترگې توروي نو په طاقو سلايانو دې يې توروي چا چې دا عمل وکړ نو ښه يې وکړه او که يې نه وکړل نو څه گناه نسته او څوك چې

فَلاَ حَرَجَ وَمَنْ أَكَلَ فَمَا تَخَلَّلَ فَلْيَلْفِظْ وَمَا لاَكَ بِلِسَانِهِ فَلْيَبْتَلِعْ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لاَ فَلاَ حَرَجَ وَمَنْ أَتَى الْغَائِطَ فَلْيَسْتَتِرْ وَمَنْ لَمْ يَجِدْ إِلاَّ أَنْ يَّجْمَعَ كَثِيْبًا مِّنْ رَّمْلٍ فَلْيَسْتَدْبِرْهُ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَلْعَبُ بِمَقَاعِدِ بَنِيْ آدَمَ مَنْ فَعَلَ فَقَدْ أَحْسَنَ وَمَنْ لاَّ فَلاَ حَرَجَ . رواه أبو داود وابن ماجه والدارمي .

د استنجاء لپاره لوټي استعمالوي نو طاقي لوټي دي واخلي چا چي دا عمل وکړ نو ښه يې وکړه او که يې نه وکړه نو څه ګناه نسته او څوك چي يو شی وخوري نو خلال دي وكړي او كوم شی چي په خلال كي راووزي هغه دي وغورزوي او كوم شی چي په ژبه سره راوكاږي نو هغه دي تير كړي چا چي دا عمل وكړ نو ښه يې وكړه او چا چي ونه كړل نو څه ګناه نسته . او هر څوك چي راسي خای د ضرورت د اودس ماتي ته نو ځان دي پټ كړي كه شی يې پيدا نكړی نو راټولي دي كړي كوټه د شګو نو شا دي كړي هغه ته ځكه چي شيطان لوبي كوي د شرمګاه د بني آدم سره هر چا چي وكړ دا كار نو ښه يې وكړه او هر چا چي ونه كړ نو ګناه نسته . ابوداؤد ، ابن ماجه او دارمي .

﴿٣٢٥﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَبُوْلَنَّ أَحَدُكُمْ فِيْ مُسْتَحَمِّهِ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ أَوْ يَتَوَضَّأُ فِيْهِ فَإِنَّ عَامَّةَ الْوَسْوَاسِ مِنْهُ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي إِلاَّ أَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ أَوْيَتَوَضَّأُ فِيْهِ .

د حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوك دي په خپل غسل خانه كي تشي بولي نه كوي (ځكه د بولو كولو وروسته په هغه كي) لمبېدل او اودس كول اكثر وسوسې پيدا كوي . ابوداؤد ، ترمذي او نسائي .

﴿٣٢٦﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجَسَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَبُوْلَنَّ أَحَدُكُمْ فِيْ جُحْرٍ . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت عبدالله بن سرجس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي دي هيڅوك په غار كي بولي نه كوي . ابوداؤد او نسائي

﴿٣٢٧﴾ : وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّقُوا الْمَلاَعِنَ الثَّلاَثَةَ الْبَرَازَ فِيْ الْمَوَارِدِ وَقَارِعَةِ الطَّرِيْقِ وَالظِّلِ . رواه أبو داود وابن ماجه .

د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د دغه درو شيانو څخه ځان وژغورئ چي د لعنت سبب دي ١: تشي يا د كي بولي كول د د خلكو دناستي په ځای كي ٢: د لاري په منځ كي ٣: په سايه كي . ابوداؤد او ابن ماجه .

﴿٣٢٨﴾ : وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَخْرُجُ الرَّجُلاَنِ يَضْرِبَانِ الْغَائِطَ كَاشِفَيْنِ عَنْ عَوْرَتِهِمَا يَتَحَدَّثَانِ فَإِنَّ اللّٰهَ يَمْقُتُ عَلَى ذٰلِكَ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه .

درسول الله ﷺ وفرمايل : دوه کسان دي د ډکو بولو لپاره يو ځاى نه ځي چي خپل شرمګاوي لوڅي کړي او خبري کوي ځکه په دې سره الله پاك په غضب کيږي . احمد ، ابوداؤد او ابن ماجه .

(٣٢٩) : وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ هٰذِهِ الْحُشُوْشَ مُحْتَضَرَةٌ فَإِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْخَلاَءَ فَلْيَقُلْ أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ . رواه أبو داود وابن ماجه .

د حضرت زيد بن ارقم ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بيت الخلاوي د شيطانانو او پيريانانو د حاضرېدو ځايونه دي نو څوك چي په تاسو کي بيت الخلاء ته ځي هغه دي دا دعاء وايي (أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الْخُبْثِ وَالْخَبَائِثِ) ژباړه : د ناپاکو پيريانو نر او ښځو څخه د الله پناه غواړم . ابوداؤد او ابن ماجه .

(٣٣٠) :وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتْرُ مَا بَيْنَ أَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِيْ آدَمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْخَلاَءَ أَنْ يَقُوْلَ بِسْمِ اللّٰهِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب وإسناده ليس بقوي .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي په تاسو کي يو څوك بيت الخلاء ته داخل سي پرده په منځ د سترګو د پيريانو او د عورتونو د بني آدمو کي داده چي ووايي بسم الله . ترمذي ويلي دي چي دا حديث غريب دی او اسناد يې قوي نه دي .

(٣٣١) : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْخَلاَءِ قَالَ غُفْرَانَكَ (رواه الترمذي وابن ماجة والدارمي)

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د بيت الخلاء څخه راوتی نو فرمايل به يې : غُفْرَانَكَ، اې الله ستا د بخښني غوښتونکی يم . ترمذي، ابن ماجه او دارمي.

(٣٣٢) :وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى الْخَلاَءَ أَتَيْتُهُ بِمَاءٍ فِيْ تَوْرٍ أَوْ رَكْوَةٍ فَاسْتَنْجٰى ثُمَّ مَسَحَ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ ثُمَّ أَتَيْتُهُ بِإِنَاءٍ آخَرَ فَتَوَضَّأَ . رواه أبو داود وروى الدارمي والنسائي معناه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ بيت الخلاء ته تلی نو ما به د رسول الله ﷺ لپاره په پياله (د خړمني) يا پتك کي اوبه راوړې ، رسول الله ﷺ به په هغه سره استنجاء کول بيا به يې لاسونه په مځکه پوري و موښل ، ما بيا نوري اوبه راوړې او رسول الله ﷺ به په هغو سره اودس کاوه . ابوداؤد ، دارمي او نسائي .

(٣٣٣) : وَعَنِ الْحَكَمِ بْنِ سُفْيَانَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا بَالَ تَوَضَّأَ وَنَضَحَ فَرْجَهُ . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت حکم بن سفیان ﷺ ځخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ تشي بولي وکړې نو بیا به یې اودس کاوه او پر خپل شرمگاه به یې اوبه و پاشلې (یعنې لنگ به یې اغوستی وو) . ابوداؤد او نسائي .

(٣٣٤) : وَعَنْ أُمَيْمَةَ بِنْتِ رُقَيْقَةَ قَالَتْ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدَحٌ عَنْ عِيْدَانٍ تَحْتَ سَرِيْرِهِ يَبُوْلُ فِيْهِ بِاللَّيْلِ . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت امیمة بنت رقیقه (رض) ځخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ سره د لرگي یوه پیاله وه چي د رسول الله ﷺ تر کټ لاندي به پرته وه ، د شپې به رسول الله ﷺ په هغه کي تشي بولي کولې . ابوداؤد او نسائي .

(٣٣٥) :وَعَنْ عُمَرَ قَالَ رَآنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبُوْلُ قَائِمًا فَقَالَ يَا عُمَرُ لَا تَبُلْ قَائِمًا فَمَا بُلْتُ قَائِمًا بَعْدُ . رواه الترمذي وابن ماجه . قَالَ الشَّيْخُ الْإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ رَحِمَهُ اللّٰهُ قَدْ صَحَّ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ قَائِمًا . (متفق عليه) ، قِيْلَ كَانَ ذٰلِكَ لِعُذْرٍ .

د حضرت عمر ﷺ ځخه روایت دی چي زه ودرېدم او تشي بولي مي کولې چي رسول الله ﷺ زه ولیدم نو راته وه یې فرمایل : اې عمر ! په ولاړې بولي مه کوه او ددې وروسته بیا ما هیڅکله په ولاړه بولي نه دي کړې، ترمذي او ابن ماجه، امام محي السنة وایي چي د حذیفه ځخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د یو قوم کنډوالي ته ورغلی او هلته یې په ولاړه بولي وکړې، (ویل سوي دي چي دا د یو عذر له کبله وو ) .بخاري او مسلم

## دریم فصل

(٣٣٦) : عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَنْ حَدَّثَكُمْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَبُوْلُ قَائِمًا فَلَا تُصَدِّقُوْهُ مَا كَانَ يَبُوْلُ إِلَّا قَاعِدًا. رواه احمد والترمذي والنسائي .

د حضرت عائشي (رض) ځخه روایت دی چي ځوك دا حدیث بیان کړي چي رسول الله ﷺ به په ولاړه بولي کولې نو هغه رېښتونی مه گڼئ ځکه رسول الله ﷺ به همیشه په ناسته تشي بولي کولې . احمد ،ترمذي او نسائي .

(٣٣٧) :وَعَنْ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ جِبْرَئِيْلَ أَتَاهُ فِيْ أَوَّلِ مَا أُوْحِيَ إِلَيْهِ

حضرت زید بن حارثه د نبي کریم ﷺ ځخه روایت کوي چي جبرائیل ﷺ تر ټولو وړاندي په وحي

فَعَلَّمَهُ الْوُضُوْءَ وَالصَّلَاةَ فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الْوُضُوْءِ أَخَذَ غُرْفَةً مِّنَ الْمَاءِ فَنَضَحَ بِهَا فَرْجَهُ . رواه أحمد والدارقطني .

كي رسول الله ﷺ ته راغلی رسول الله ﷺ ته لمونځ او اودس كول و ښودل كوم وخت چي رسول الله ﷺ د اوداسه څخه فارغ سو نو يوه لپه اوبه يې راواخيستې او هغه يې پر خپل شرمگاه باندي وپاشلې . احمد او دار قطني .

﴿٣٣٨﴾ : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَنِي جِبْرِيْلُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِذَا تَوَضَّأْتَ فَانْتَضِحْ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب و سمعت محمدا يعني البخاري يقول الحسن ابن علي الهاشمي الراوي منكر الحديث .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته جبرائيل ﷺ راغلی او ويل يې اې محمد ! هر كله چي ته اودس وكړې نو لږ اوبه پر خپل شرمگاه وپاشه .(ترمذي ويلي دي د احديث غريب دی او ما د بخاري څخه اوريدلي دي چي حسن بن علي هاشمي راوي منكر د حديث دی )

﴿٣٣٩﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ بَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ عُمَرُ خَلْفَهُ بِكُوْزٍ مِّنْ مَّاءٍ فَقَالَ مَا هٰذَا يَا عُمَرُ ؟ قَالَ مَاءٌ تَتَوَضَّأُ بِه . قَالَ مَا أُمِرْتُ كُلَّمَا بُلْتُ أَنْ أَتَوَضَّأَ وَلَوْ فَعَلْتُ لَكَانَ سُنَّةً . رواه أبو داود وابن ماجه .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ تشي بولي وكړې نو حضرت عمر ﷺ كوزه په لاس كي د رسول الله ﷺ شاته و دربدی نو رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه اې عمره ! دا څه دي ؟ عمر وويل ستاسو داوداسه لپاره اوبه دي ، رسول الله ﷺ وفرمايل ما ته دا حكم نه دی راكړل سوی چي كله زه تشي بولي وكړم نو اودس دي هم وكړم كه ما داسي كړي وای نو زما دا كار به سنت سوی وای . ابوداؤد او ابن ماجه .

﴿٣٤٠﴾ : وَعَنْ أَبِيْ أَيُّوْبَ وَجَابِرَ وَأَنَسٍ أَنَّ هٰذِهِ الْآيَةَ لَمَّا نَزَلَتْ ( فِيْهِ رِجَالٌ يُحِبُّوْنَ أَنْ يَتَطَهَّرُوْا وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ إِنَّ اللّٰهَ قَدْ أَثْنٰى عَلَيْكُمْ فِي الطُّهُوْرِ فَمَا طُهُوْرُكُمْ قَالُوْا نَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ وَنَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ وَنَسْتَنْجِيْ بِالْمَاءِ قَالَ فَهُوَ ذَاكَ

د حضرت ابوايوب، جابر او انس څخه روايت دی چي كوم وخت دا آياتونه نازل سوه (فيه رجال ....) (يعني په مسجد قباء كي ) داسي (انصاري) خلك دي چي پاكي خوښوي او الله پاك ښه پاكي كونكي خلك خوښوي ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل اې د انصارو ډلې ببشكه الله تعالى د پاكي په اړه ستاسو تعريف كړی دی تاسو څنگه

فَعَلْتُمُوْهُ . رواه ابن ماجه .

پاکي کوئ ؟ هغوئ عرض وکړ موږ د لمانځه لپاره اودس کوو او د جنابت لپاره غسل کوو او په اوبو سره استنجاء کوو، رسول الله ﷺ وفرمایل او دا خبره ده همدا جاري و ساتئ . ابن ماجه .

﴿۳۴۱﴾ : وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ بَعْضُ الْمُشْرِكِيْنَ وَهُوَ يَسْتَهْزِئُ إِنِّيْ لَأَرٰى صَاحِبَكُمْ يُعَلِّمُكُمْ حَتّٰى الْخِرَاءَةَ قُلْتُ أَجَلْ أَمَرَنَا أَنْ لَا نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ وَلَا نَسْتَنْجِيَ بِأَيْمَانِنَا وَلَا نَكْتَفِيَ بِدُوْنَ ثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ لَيْسَ فِيْهَا رَجِيْعٌ وَلَا عَظْمٌ . رواه مسلم وأحمد واللفظ له .

د حضرت سلمان ﷺ څخه روایت دی چي په مشرکانو کي یوه سړي د مسخرو په ډول وویل زه ستاسو نبي وینم چي تاسو ته هر شی ښيي تر دې چي په بیت الخلاء کي د کښېنستلو چم هم درته ښيي ما ورته وویل هو، رسول الله ﷺ حکم کړی دی چي په بیت الخلاء کي مخ پر قبله مه کښینئ او په راسته لاس استنجاء مه کوئ او په درو ډبرو (یالوټو) څخه کم استنجاء مه کوئ او په لوټو کي خوشائي او هډوکي نه وي . مسلم او احمد .

﴿۳۴۲﴾ :وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ حَسَنَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْ يَدِهِ الدَّرَقَةُ فَوَضَعَهَا ثُمَّ جَلَسَ فَبَالَ إِلَيْهَا فَقَالَ بَعْضُهُمْ انْظُرُوْا إِلَيْهِ يَبُوْلُ كَمَا تَبُوْلُ الْمَرْأَةُ فَسَمِعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَيْحَكَ أَمَا عَلِمْتَ مَا أَصَابَ صَاحِبَ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ كَانُوْا إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَوْلُ قَرَضُوْهُ بِالْمَقَارِيْضِ فَنَهَاهُمْ فَعُذِّبَ فِيْ قَبْرِهِ . رواه أبو داود وابن ماجه . ورواه النسائي عنه عن أبي موسى

د حضرت عبدالرحمن بن حسنة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زموږ په لور تشریف راوړ او (په دغه وخت کي) دده مبارک په لاس کي سپر وو رسول الله ﷺ هغه سپر پر مخکه کښېښود او بیا يې د هغه مخته تشي بولي وکړې نو د مشرکینو څخه یو کس وویل ده ته وګورئ داسي تشي بولي کوي لکه څرنګه چي ښځي يې کوي ، دا خبره رسول الله ﷺ واورېدل او وه يې فرمایل : پر تاسو دي افسوس وي ایا تا ته دا نه ده معلومه چي د بني اسرائیلو یو سړي ته (عذاب) ورسیدی نو بني اسرائیلو چي به بولي وکړې او د هغوئ پر بدن یا جامو به بولي و لګېدلې نو هغه به يې په غچي سره پرې کوی، په بني اسرائیلو کي یوه سړي ددې حکم منلو څخه ډډه وکړه نو هغه د قبر په عذاب اخته سو .(ابوداوٗد، ابن ماجه، نسائي د هغه څخه هغه د ابو موسی څخه روایت کړ ی دی .

﴿۳۴۳﴾ : وَعَنْ مَرْوَانَ الْأَصْفَرِ قَالَ رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ ثُمَّ

د حضرت مروان اصفر ﷺ څخه روایت دی چي ما حضرت ابن عمر ﷺ ولیدی چي هغه خپل اوښ د قبلې

جَلَسَ يَبُوْلُ إِلَيْهَا فَقُلْتُ يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمٰنِ أَلَيْسَ قَدْ نُهِيَ عَنْ هٰذَا قَالَ بَلْ إِنَّمَا نُهِيَ عَنْ ذٰلِكَ فِي الْفَضَاءِ فَإِذَا كَانَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ شَيْءٌ يَسْتُرُكَ فَلاَ بَأْسَ . رواه أبو داود .

په لور کښېنوی بیا کښېناست او د اوښ په لور یې تشي بولي وکړې ما ورته وویل اې ابوعبدالرحمن ؛ ایا رسول الله ﷺ ته ددې څخه نه یې منع کړی هغه وویل په دې (حکم کي ) ځنګل منع راغلی دی مګر هر کله چي ستا او د قبلې په منځ کي یو شی وي نو بیا پروا نسته .

(۳۴۴) : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ مِنَ الْخَلاَءِ قَالَ الْحَمْدُ للهِ الَّذِيْ أَذْهَبَ عَنِّيَ الْأَذٰى وَعَافَانِيْ . رواه ابن ماجه

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به کله د بیت الخلاء څخه راوتی نو فرمایل به یې : اَلْحَمْدُ للهِ الَّذِيْ أَذْهَبَ عَنِّيَ الْأَذٰى وَعَافَانِيْ، (ټول تعریفونه الله لره دي چي زما څخه یې د تکلیف شی لیري کړ او ما ته یې عافیت راکړ ) ابن ماجه

(۳۴۵) : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ وَفْدُ الْجِنِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ انْهَ أُمَّتَكَ أَنْ يَسْتَنْجُوْا بِعَظْمٍ أَوْ رَوْثَةٍ أَوْ حُمَمَةٍ فَإِنَّ اللهَ جَعَلَ لَنَا فِيْهَا رِزْقًا فَنَهَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي کله د پیریانو (یو ډله) د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول نو رسول الله ﷺ ته یې عرض وکړ اې دالله رسوله ! خپل امت منع کړه چي هغوئ په خوشایو ، هډوکو او سکارو سره استنجاء نه کوي ځکه په دې شیانو کي الله تعالی زموږ رزق ایښی دی نو رسول الله ﷺ د دغه شیانو د استعمال څخه منعه وفرمایل . ابوداؤد .

# بَابُ السِّوَاكِ (د مسواک وهلو بیان)

## لومړی فصل

(۳۴۶) : وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِيْ لَأَمَرْتُهُمْ بِتَأْخِيْرِ الْعِشَاءِ وَ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلاَةٍ (متفق عليه)

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : که ما پر خپل امت دا خبره ګرانه نه ګڼلای نو حکم به مي کړی وای چي د ماخستن لمونځ ناوخته کوي او د هر لمانځه لپاره دي مسواک وهي . بخاري او مسلم .

(۳۴۷) : وَعَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِي قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ قُلْتُ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ قَالَتْ بِالسِّوَاكِ (رواه مسلم)

د حضرت شریح بن هاني ﷺ څخه روایت دی چي ما د بي بي عائشې (رض) څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ کور ته د راتللو په وخت تر ټولو لومړی څه کار کاوه؟ هغې وویل د ټولو مخکي به یې مسواك واهه. مسلم

(۳۴۸) :وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ لِلتَّهَجُّدِ مِنَ اللَّيْلِ يَشُوصُ فَاهُ بِالسِّوَاكِ (متفق علیه)

د حضرت حذیفة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله به د شپې د تهجد دلمانځه لپاره راکښېنستی نو خوله مبارکه به یې په مسواك وهل او پرېولل به یې .بخاري اومسلم

(۳۴۹) : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرٌ مِنَ الْفِطْرَةِ قَصُّ الشَّارِبِ وَإِعْفَاءُ اللِّحْيَةِ وَالسِّوَاكُ وَاسْتِنْشَاقُ الْمَاءِ وَقَصُّ الْأَظْفَارِ وَغَسْلُ الْبَرَاجِمِ وَنَتْفُ الْإِبِطِ وَحَلْقُ الْعَانَةِ وَانْتِقَاصُ الْمَاءِ يَعْنِي الْاِسْتِنْجَاءَ قَالَ الرَّاوِيْ وَنَسِيتُ الْعَاشِرَةَ إِلاَّ أَنْ تَكُونَ الْمَضْمَضَةَ .

(رواه مسلم) وفي رواية الختان بدل اعفاء اللحية لم اجد هذه الرواية في الصحيحين ولا في كتاب الحميدي ولكن ذكرها صاحب الجامع وكذا الخطابي في معالم السنن عن ابي داؤد برواية عمار بن یاسر.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : لس شیان د فطرت دی (یعني د دین لس خبري دي) ۱: د بریتو کوچني کول ۲: ږیره لویول ۳: مسواك وهل ۴: په پزه کي اوبه اچول ۵: نوکان پرې کول ۶: د ګوتو بندونه پرېولل ۷: د بغلو وربښتان کښل ۸: تر نامه لاندي وربښتان خریل ۹: په استنجاء کي لږ اوبه تویول، ۱۰: راوي وایي لسمه خبره زما څخه هیره سوه کیدای سي هغه خوله پرېولل وي. (مسلم) او په یوه روایت کي د ږیري لویولو پر ځای ختنه (سنتول) الفاظ دي ما دا روایت نه خو په صحیحین کي او نه د حمیدي په کتاب کي لیدلی دی مګر دې لره صاحب د جامع او دا ډول خطابي په معالم السنن کي د ابوداؤد څخه په روایت د عمار بن یاسر ذکر کړی دی.

## دوهم فصل

(۳۵۰) : عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلسِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِّلْفَمِ مَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ . رواه الشافعي وأحمد والدارمي والنسائي ورواه البخاري في صحيحه بلا إسناد .

الله ﷺ وفرمایل : مسواك د خولې د پاكولو سبب او د پروردگار د رضا باعث دى (شافعي، احمد، دارمي، نسائي) بخاري پرته د سند څخه په خپل صحيح كي روايت كړى دى .

(۳۵۱) : وَعَنْ أَيُّوْبَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعٌ مِنْ سُنَنِ الْمُرْسَلِيْنَ الْحَيَاءُ وَ يُرْوَي الْخِتَانُ وَالتَّعَطُّرُ وَالسِّوَاكُ وَالنِّكَاحُ. رواه الترمذي .

د حضرت ايوب ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څلور شيان د پيغمبرانو په طريقه كي دي : ۱: حياء كول ( د حياء پر ځاى په يو بل روايت كي د ختني (سنتېدو) الفاظ دي ). ۲:خوشبويي لگول ۳: مسواك وهل ۴: نكاح كول . ترمذي .

(۳۵۲) : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَرْقُدُ مِنْ لَيْلٍ وَلاَ نَهَارٍ فَيَسْتَيْقِظُ إِلاَّ يَتَسَوَّكُ قَبْلَ أَنْ يَتَوَضَّأَ . رواه احمد وأبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به نه بيديدئ په شپه او ورځ كي مگر چي د خوب څخه به كښېنستى نو د اودس كولو څخه مخكي به يې مسواك واهه . احمد ، ابوداؤد

(۳۵۳):وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَاكُ فَيُعْطِيْنِيْ السِّوَاكَ لِأَغْسِلَهُ فَأَبْدَأُ بِهِ فَأَسْتَاكُ ثُمَّ أَغْسِلُهُ وَأَدْفَعُهُ إِلَيْهِ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به مسواك ووهه نو بيا به يې ماته راكړ چي زه هغه پرېولم نو اول به ما په هغه خپله مسواك وواهه او بيا به مي پرېولى رسول الله ﷺ ته به مي وركړ . ابوداؤد .

## دريم فصل

(۳۵۴) : عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرَانِي فِي الْمَنَامِ أَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ فَجَاءَنِيْ رَجُلاَنِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الْأَصْغَرَ مِنْهُمَا فَقِيلَ لِي كَبِّرْ فَدَفَعْتُهُ إِلَى الْأَكْبَرِ مِنْهُمَا . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما په خوب كي وليدل چي زه مسواك وهم ما لره دوه خلك راغلل په هغو كي يو د بل څخه لوى وو ما په هغوئ كي كوچني ته د مسواك وركولو اراده وكړه چي ما ته وويل سول چي لوى ته يې وركړه نو ما په هغوئ كي لوى ته مسواك وركړ . بخاري او مسلم .

(۳۵۵) : وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا جَاءَنِيْ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامِ قَطُّ إِلاَّ أَمَرَنِيْ بِالسِّوَاكِ لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ أُحْفِيَ مُقَدَّمَ فِيَّ . رواه أحمد .

د حضرت ابوامامة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي ما ته جبرائيل ﷺ راتلی نو ما ته يې د مسواك حكم راكاوه او زه بيرېدم چي (د ډير مسواك كولو له كبله) د خپلي خولې د مخ برخه وا نه ړوم. احمد

(۳۵۶) : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم لَقَدْ أَكْثَرْتُ عَلَيْكُمْ فِي السِّوَاكِ رواه البخاري .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما تاسو ته د مسواك په اړه ډير څه بيان كړل. بخاري

(۳۵۷) : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَنُّ وَعِنْدَهُ رَجُلَانِ أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الْآخَرِ فَأُوْحِيَ إِلَيْهِ فِيْ فَضْلِ السِّوَاكِ أَنْ كَبِّرْ أَعْطِ السِّوَاكَ أَكْبَرَهُمَا . رواه أبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ مسواك واهه او دوه كسان ورسره وه په هغوئ كي يو د بل څخه لوی وو نو رسول الله ﷺ ته د مسواك په فضيلت كي وحي وسوې چي مسواك مشر ته وركړه. ابوداؤد.

(۳۵۸) :وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَفضُلُ الصَّلَاةُ الَّتِيْ يُسْتَاكُ لَهَا عَلَى الصَّلَاةِ الَّتِيْ لاَ يُسْتَاكُ لَهَا سَبْعِيْنَ ضِعْفًا . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه لمونځ چي د هغه لپاره مسواك وهل سوی وي پر هغه لمانځه چي د هغه لپاره مسواك نه وي وهل سوی اويا (۷۰) درجې فضيلت لري. بيهقي شعب الايمان كي.

(۳۵۹) :وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ زَيْدُ بْنُ خَالِد الْجُهَنِيْ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاة وَلَأَخَرْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ قَالَ فَكَانَ زَيْدُ ابْنُ خَالِد يَشْهَدُ الصَّلَوَاتِ فِي الْمَسْجِدِ وَسِوَاكُهُ عَلَى أُذُنِهِ مَوْضِعَ

حضرت ابو سلمة د حضرت زيد بن خالد ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چي فرمايل يې : كه ما پر خپل امت ستونزه نه ګڼلای نو هغوئ ته به مي حكم وركړی وای چي د هر لمانځه لپاره مسواك ووهي او د ماخستن لمونځ د شپې د دريمي برخي پوري و ځنډوي ، راوي وايي د دې وروسته كله چي به زيد بن

الْقَلَمِ مِنْ أُذُنِ الْكَاتِبِ لَا يَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ إِلَّا أُسْتَنَّ ثُمَّ رَدَّهُ إِلَى مَوْضِعِهِ. رواه الترمذي وابوداؤد الا انه لم يذكر ولاخرت صلوة العشاء الى ثلث الليل وقال الترمذي هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ .

خالد لمانځه ته راتلی نو مسواك به د هغه په غوږ کي وو لکه څرنګه چي قلم اښودل کيږي ، هغه چي به د لمانځه لپاره دریدی نو سمدستي به يې مسواك واهه او بیا به یې په غوږ کي کښېښود ، دا ترمذي او ابوداؤد روایت کړی دی خو دا چي ابوداؤد : ولاخرت صلوة العشاء الى ثلث الليل ، نه دی ذکر کړی او ترمذي ویلي دي چي دا حدیث صحیح دی .

❁❁❁❁

# بَابُ سُنَنِ الْوُضُوْءَ (د اوداسه د سنتو بیان)

## لومړی فصل

﴿۳۶۰﴾ : عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ . متفق عليه

د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي په تاسو کي یو څوك د خوب څخه کښېني نو خپل لاس دي د اوبو په لوښي کي نه ډننه کوي تر څو پوري چي دري څله یې پريولی نه وي ځکه چي هغه ته نه ده څرګنده چي د شپې د هغه لاس پر کوم ځای پروت وو . بخاري او مسلم .

﴿۳۶۱﴾ : وَعَنْهُ قال قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَتَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلَاثَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيتُ عَلَى خَيْشُومِهِ (متفق عليه).

د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي په تاسو کي یو څوك د خوب څخه کښېني او د اوداسه کولو اراده وکړي نو دري څله دي په پزه کي اوبه واچوي او سوڼ دي یې کړي ځکه چي ډده د پزي په هډوکي کي شیطان شپه تیروي . بخاري اومسلم.

﴿۳۶۲﴾ :وَ قِيلَ لِعَبْدِاللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ فَدَعَا بِوَضُوْءٍ فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ

د حضرت عبدالله بن زید بن عاصم ﷛ څخه پوښتنه وسول چي رسول الله ﷺ به څنګه اودس کاوه، (د دې په اوریدو سره) عبدالله د اوداسه لپاره اوبه را وغوښتلې او دواړه لاسونه یې

مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ ثَلْثًا ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلاَثًا ثُمَّ غَسَلَ
يَدَيْهِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ اِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثُمَّ مَسَحَ رَاْسَهُ بِيَدَيْهِ
فَاَقْبَلَ بِهِمَا وَاَدْبَرَ بَدَاَءَ بِمُقَدَّمِ رَاْسِهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِهِمَا اِلَى
قَفَاهُ ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتّٰى رَجَعَ اِلَى الْمَكَانِ الَّذِيْ بَدَاَءَ مِنْهُ
ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ (رواه مالك والنسائي) وَلِاَبِيْ دَاوُدَ
نَحْوَهُ ذَكَرَهُ صَاحِبُ الْجَامِعِ وَفِيْ الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ قِيْلَ
لِعَبْدِاللّٰهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ تَوَضَّأْ لَنَا وُضُوْءَ رَسُوْلِ اللّٰهِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا بِاِنَاءٍ فَاَكْفَأَ مِنْهَا عَلَى
يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثَلاَثًا ثُمَّ اَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا
فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ فَفَعَلَ ذٰلِكَ ثَلاَثًا
ثُمَّ اَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلاَثًا ثُمَّ
اَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَغَسَلَ يَدَيْهِ اِلَى الْمِرْفَقَيْنِ
مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ ثُمَّ اَدْخَلَ يَدَهُ فَاسْتَخْرَجَهَا فَمَسَحَ بِرَاْسِهِ
فَاَقْبَلَ بِيَدَيْهِ وَاَدْبَرَ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ اِلَى الْكَعْبَيْنِ ثُمَّ قَالَ
هٰكَذَا كَانَ وُضُوْءُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،
وَفِيْ رِوَايَةٍ فَاَقْبَلَ بِهِمَا وَاَدْبَرَ بَدَاَ بِمُقَدَّمِ رَاْسِهِ ثُمَّ
ذَهَبَ بِهِمَا اِلَى قَفَاهُ ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتّٰى رَجَعَ اِلَى
الْمَكَانِ الَّذِيْ بَدَاَ مِنْهُ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ، وَ فِيْ رِوَايَةٍ
فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلاَثًا بِثَلاَثِ غُرُفَاتٍ مِّنْ
مَّاءٍ، وَفِيْ رِوَايَةٍ اُخْرٰى فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفَّةٍ
وَّاحِدَةٍ فَفَعَلَ ذٰلِكَ ثَلاَثًا، وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيْ فَمَسَحَ
رَاْسَهُ فَاَقْبَلَ بِهِمَا وَاَدْبَرَ مَرَّةً وَّاحِدَةً ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ
اِلَى الْكَعْبَيْنِ، وَفِيْ اُخْرٰى لَهُ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلاَثَ
مَرَّاتٍ مِنْ غُرْفَةٍ وَّاحِدَةٍ .

پريولل او هغه يې دوه دوه ځله پريولل، بيا يې
په خوله اوبه و لغړولې او په پزه کې يې اوبه
درې درې ځله واچولې ، پزه يې سوڼ کړه بيا
يې درې ځله مخ پريولى او دواړه لاسونه تر
څنګلو پورې دوه دوه ځله پريولل ، بيا يې
دواړه لاسونو سره د سر مسح وکړل، دا ډول
چې دواړه لاسونه يې د تندي څخه د څټ طرف
ته يووړل او بيا د څټ څخه د تندي طرف ته
راوړل ، بيا يې دواړې پښې پريوللې ، مالك ،
نسائي او ابوداؤد هم داسي روايت کړى دى او
د جامع الاصول د مصنف ذکر يې وکړ ، او
بخاري او مسلم کې دا روايت داسي دى چې
عبدالله بن زيد بن عاصم ته وويل سول چې ته
زموږ په وړاندې د رسول الله ﷺ په ډول اودس
وکړه ، نو هغه د اوبو لوښى را وغوښتى او د
هغه لوښي څخه يې اوبه پر خپلو دواړو
لاسونو واچولې او هغه يې درې ځله پريولل
بيا يې د لوښي څخه د خولې پريوللو لپاره
اوبه را واخيستې او په هغه اوبو سره يې خوله
پريولل او په پزه کې يې اوبه واچولې او سوڼ
يې کړه او درې ځله يې داسي وکړل بيا يې د
لوښي څخه اوبه واخيستې درې ځله يې مخ
پريولى او بيا يې اوبه واخيستې دواړه لاسونه
يې دوه دوه ځله تر څنګلو پورې پريولل بيا يې
اوبه را واخيستلې د سر مسح يې داسي وکړه
چې دواړه لاسونه يې د تندي څخه د شا طرف
ته بوتلل او بيا يې د شا د طرف څخه د مخ

طرف ته راويستل بيا يې دواړي پښې تر بجلكو پوري پريولې او ددې وروسته يې وويل د رسول الله ﷺ اودس همدا ډول وو، په يو بل روايت كي د اسي دي چي د مسح لپاره يې دواړه لاسونه د تندي څخه شاته بوتلل او بيا يې د شا څخه مخ ته راويستل يعني د سر د مخكي حصې څخه يې مسح پيل كړه او د څټ طرف ته يې لاسونه بوتلل، بيا يې د څټ طرف څخه هلته راويستل د كوم خای څخه چي يې مسح پيل كړې وه بيا يې دواړي پښې پريوللې او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي خوله يې پريولل او په پزه كي يې اوبه واچولې او سونږ يې كړه يعني درې خله په درې خله اوبه پاشلو سره ، او په يوه بل روايت كي دا الفاظ دی چي خوله يې پريولل او په پزه كي يې اوبه واچولې او په يوه وار اوبه پاشلو سره يې درې خله داسي وكړل، او د بخاري په يوه روايت كي دا الفاظ دی چي هغه د سر مسح وكړه او دواړه لاسونه يې د مخ څخه شا طرف ته بوتلل او د شا طرف څخه يې مخ ته راويستل يوازي يو ځل بيا يې دواړې پښې تر ځنگلو پوري پريولې ، او په يوه بل روايت كي دا الفاظ دی چي هغه ځوله پريولل او په پزه كي يې اوبه واچولې يوازي په يو وار اوبه پاشلو سره درې خله .

| | |
|---|---|
| ﴿۳۶۳﴾ :وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَوَضَّأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً مَرَّةً لَمْ يَزِدْ عَلَى هٰذَا. رواه البخاري . | د حضرت عبدالله بن عباس ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو ځل يعني ټول اندامونه يې يو يو ځل پريولل او ددې څخه يې زيات ونه كړل. بخاري |
| ﴿۳۶۴﴾ :وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ . رواه البخاري . | د حضرت عبدالله بن زيد ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دوه دوه خله اودس وكړ (يعني ټول اندامونه يې دوه دوه خله پريولل). بخاري |
| ﴿۳۶۵﴾ : وَعَنْ عُثْمَانَ اَنَّهُ تَوَضَّأَ بِالْمَقَاعِدِ فَقَالَ اَلاَ أُرِيكُمْ وُضُوْءَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ تَوَضَّأَ ثَلاَثًا ثَلاَثًا . رواه مسلم . | د حضرت عثمان ؓ څخه روايت دی چي هغوئ د مقاعد په خای كي اودس وكړ او خلكو ته يې وويل ايا زه تاسو ته د رسول الله ﷺ اودس ونه ښيم |

نو هغه درې درې خله اودس وكړي (يعني هر اندام يې درې درې خله پريولل .) مسلم .

| | |
|---|---|
| ﴿۳۶۶﴾ : وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرٍو قال رَجَعْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِمَاءٍ بِالطَّرِيْقِ تَعَجَّلَ قَوْمٌ عِنْدَ | د حضرت عبدالله بن عمرو ؓ څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره د مكې څخه مدينې ته ستانه سو تر دې چي موږ اوبو ته ورسيدلو |

الْعَصْرِ فَتَوَضَّئُوا وَهُمْ عِجَالٌ فَانْتَهَيْنَا إِلَيْهِمْ وَأَعْقَابُهُمْ تَلُوحُ لَمْ يَمَسَّهَا الْمَاءُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ. رواه مسلم.

چي په لاره كي وې خلكو د مازديگر د لمانځه لپاره په اوداسه كي تلوار وكړ كوم وخت چي موږ خلكو ته را ورسيدو نو گورو چي د هغوئ پوندي وچي وې چي اوبه ورته نه وې رسيدلي نو رسول الله ﷺ وفرمايل: د پوندو لپاره د اور (ويل) دى اودس پوره كوئ (ويل د دوږخ يوه كنده ده). مسلم.

(۳۶۷): وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ فَمَسَحَ بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ وَعَلَى الْخُفَّيْنِ. رواه مسلم

د حضرت مغيرة بن شعبة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ اودس وكړ د خپل مخ مسح يې وكړل او لنگوټه او موزو باندي يې مسح وكړه.

(۳۶۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي شَأْنِهِ كُلِّهِ فِيْ طُهُوْرِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَتَنَعُّلِهِ. متفق عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دى چي تر څو به ممكنه وه رسول الله ﷺ به خپل ټول كارونه د راسته لوري څخه پيل كول په پاكى كي په ږمنځ كولو كي او څپلى په پښو كولو كي. بخاري او مسلم.

## دوهم فصل

(۳۶۹): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا لَبِسْتُمْ وَإِذَا تَوَضَّأْتُمْ فَابْدَؤُوْا بِأَيَامِنِكُمْ. رواه أحمد وأبو داود.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي تاسو جامې اغوندئ يا اودس كوئ نو د راسته لوري څخه پيل كوئ.

(۳۷۰): وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْد قال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا وُضُوْءَ لِمَنْ لَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ. رواه الترمذي وابن ماجه، ورواه أحمد وأبو داود عن أبي هريرة، والدارمي عن أبي سعيد الخدري عن أبيه وزادوا في أوله لا صلوة لمن لا وضوء له.

د حضرت سعيد بن زيد ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چي د الله نوم ونه ياد نكړ نو د هغه اودس نه كيږي (ترمذي، ابن ماجه، احمد او ابوداؤد چي د ابوهريرة څخه او دارمي د ابوسعيد خدري څخه كوم روايت كړى دى د هغه په پيل كي دا الفاظ دى چي د هغه چا لمونځ نه كيږي چي اودس يې ونه كړ.

| | |
|---|---|
| (٣٧١) : وَعَنْ لَقِيطِ بْنِ صَبْرَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَخْبِرْنِيْ عَنِ الْوُضُوْءِ . قَالَ أَسْبِغِ الْوُضُوْءَ وَخَلِّلْ بَيْنَ الْأَصَابِعِ وَبَالِغْ فِي الْاِسْتِنْشَاقِ إِلاَّ أَنْ تَكُوْنَ صَائِمًا . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وروى ابن ماجه والدارمي إلى قوله بين الأصابع . | د حضرت لقيط بن صبرة ﷺ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! ما ته د اوداسه په اړه څه وښيه، رسول الله ﷺ وفرمايل : ته پوره اودس کوه او په ګوتو کي خلال کوه او په ښه ډول په پزه کي اوبه اچوه مګر نه که ته روژه دار يې . |
| (٣٧٢) : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأْتَ فَخَلِّلْ بَيْنَ أَصَابِعَ يَدَيْكَ وَرِجْلَيْكَ . رواه الترمذي . وروى ابن ماجه نحوه وقال الترمذي هذا حديث غريب | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي ته اودس وکړې نو د خپل لاس او پښو ګوتي خلال کړه (ترمذي) ابن ماجه هم دا ډول روايت کړی دی او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی. |
| (٣٧٣) :وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ يَدْلُكُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ بِخِنْصَرِهِ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه.. | د حضرت مستورد بن شداد ﷺ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ وليدی چي کوم وخت به يې اودس کاوه نو د خپلو پښو ګوتي به يې د خپل |

لاس په ګچې ګوته سره موښلې (يعني په هغې سره به يې خلالولې) .ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه.

| | |
|---|---|
| (٣٧٤) :وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ أَخَذَ كَفًّا مِّنْ مَّاءٍ فَأَدْخَلَهُ تَحْتَ حَنَكِهِ فَخَلَّلَ بِهِ لِحْيَتَهُ وَقَالَ هٰكَذَا أَمَرَنِيْ رَبِّيْ . رواه أبو داود . | د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ اودس کاوه نو يوه لپه اوبه به يې رااخيستلې او د زني لاندي به يې ورسولې او په هغه سره به يې خپله ږيره مبارکه خلال کړل بيا به يې فرمايل : ما ته داسي د خپل رب حکم سوی دی . ابوداؤد ، |
| (٣٧٥) :وَعَنْ عُثْمَانَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُخَلِّلُ لِحْيَتَهُ . رواه الترمذي والدارمي . | د حضرت عثمان ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به خپل ږيره مبارکه خلالول . ترمذي او دارمي. |
| (٣٧٦) :وَعَنْ أَبِيْ حَيَّةَ قَالَ رَأَيْتُ عَلِيًّا تَوَضَّأَ | د حضرت ابو حية ﷺ څخه روايت دی چي ما |

فَغَسَلَ كَفَّيْهِ حَتّٰى أَنْقَاهُمَا ثُمَّ مَضْمَضَ ثَلَاثًا وَاسْتَنْشَقَ ثَلَاثًا وَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا وَذِرَاعَيْهِ ثَلَاثًا وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ مَرَّةً ثُمَّ غَسَلَ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ثُمَّ قَامَ فَأَخَذَ فَضْلَ طَهُوْرِهِ فَشَرِبَهُ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ قَالَ أَحْبَبْتُ أَنْ أُرِيَكُمْ كَيْفَ كَانَ طُهُوْرُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه الترمذي والنسائي .

حضرت علي ﷺ په اودس كولو وليدى هغه خپل لاسونه پريولل تر دې چې هغه يې پاك كړل بيا يې درې څله خوله پريولل او درې څله يې په پزه كي اوبه واچولې او درې څله يې مخ پريولى او درې څله يې تر څنګلو پورې (لاسونه) پرېولل او يو ځل يې د سر مسح وكړل او بيا يې دواړې پښې تر بجلكو پورې پريولې او بيا و درېدى د اوداسه څخه پاته اوبه يې په ولاړه وچښلې ، بيا يې وفرمايل : ما غوښتل چي تا ته وښيم چي د رسول الله ﷺ اودس څنګه وو . ترمذي او نسائي .

---

﴿۳۷۷﴾ :وَعَنْ عَبْدِ خَيْرٍ قَالَ نَحْنُ جُلُوْسٌ نَنْظُرُ إِلَى عَلِيٍّ حِيْنَ تَوَضَّأَ فَأَدْخَلَ يَدَهُ الْيُمْنٰى فَمَلَأَ فَمَهُ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَنَثَرَ بِيَدِهِ الْيُسْرٰى فَعَلَ هٰذَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قَالَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى طُهُوْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهٰذَا طُهُوْرُهُ . رواه الدارمي

د حضرت عبد خير څخه روايت دى چي موږ ناست وو حضرت علي ﷺ ته مو كتل ، كوم وخت چي هغه اودس كاوه ، هغه په راسته لاس سره د لوښي څخه اوبه واخيستې خوله يې پرېولل په پزه كي يې اوبه واچولې او په چپه لاس يې پزه سوڼ كړه درې څله يې داسي وكړل بيا يې وويل څوك چي د رسول الله ﷺ په اودس لېدلو خوشحاله كېدل غواړي نو د رسول الله ﷺ اودس داسي وو . دارمي .

---

﴿۳۷۸﴾ :وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِنْ كَفٍّ وَاحِدَةٍ فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثًا . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت عبدالله بن زيد ﷺ څخه روايت دى چي ما رسول الله ﷺ وليدى چي خوله يې پرېولل او په پزه كي يې اوبه واچولې په يوه لپه سره او درې څله يې داسي وكړل. ابوداؤد او ترمذي.

---

﴿۳۷۹﴾ :وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسَحَ بِرَأْسِهِ وَأُذُنَيْهِ بَاطِنِهِمَا بِالسَّبَّابَتَيْنِ وَظَاهِرِهِمَا بِإِبْهَامَيْهِ . رواه النسائي

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د خپل سر مبارك او غوږو مسح وكړل د ننه د شهادت په ګوتو او سربيره په بټو ګوتو سره يې مسح وكړه. نسائي

(۳۸۰) :وَعَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ أَنَّهَا رَأَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ قَالَتْ: فَمَسَحَ رَأْسَهُ مَا أَقْبَلَ مِنْهُ وَمَا أَدْبَرَ وَصُدْغَيْهِ وَأُذُنَيْهِ مَرَّةً وَّاحِدَةً . وَفِيْ رِوَايَةٍ أَنَّهُ تَوَضَّأَ فَأَدْخَلَ إِصْبَعَيْهِ فِيْ جُحْرَيْ أُذُنَيْهِ . رواه أبو داود . وروى الترمذي الرواية الأولى وأحمد وابن ماجه الثانية .

د بي بي ربيع (رض) بنت معوذ ځخه روايت دی چي هغې نبي كريم ﷺ پر اودس كولو وليدی چي ده مبارك د خپل سر مبارك پر مخكي برخي او وروستی برخي او په مينځ د سنړو او غوږونو او پر دواړو غوږونو يې يو ځل مسح وكړل او په يوه روايت كي دي چي رسول الله ﷺ اودس وكړ او خپلي گوتي يې د غوږو په سريو كي دننه كړې (ابوداؤد) ترمذي اول روايت او احمد ابن ماجه دوهم روايت بيان كړی دی .

(۳۸۱) :وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ وَأَنَّهُ مَسَحَ رَأْسَهُ بِمَاءٍ غَيْرِ فَضْلِ يَدَيْهِ . رواه الترمذي ورواه مسلم مع زوائد .

د حضرت عبدالله بن زيد ؓ ځخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ پر اودس كولو وليدی چي رسول الله ﷺ د سر مسح په تازه اوبو وكړل (ترمذي) مسلم په يو څه زياتو الفاظ سره دا روايت كړی دی .

(۳۸۲) : وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ ذَكَرَ وُضُوْءَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَكَانَ يَمْسَحُ الْمَاقَيْنِ وَقَالَ الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ . رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَأَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَذَكَرَا قَالَ حَمَّاد لَا أَدْرِيْ الْأُذُنَانِ مِنَ الرَّأْسِ مِنْ قَوْلِ أَبِيْ أُمَامَةَ أَمْ مِنْ قَوْلِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

حضرت ابو امامة ؓ د رسول الله ﷺ د اوداسه يادونه وكړه چي هغه مبارك به د سترگو كونجان هم موږل او ويل يې چي دواړه غوږونه په سر كي داخل دي (ابن ماجه ، ابوداؤد ، ترمذي) درو سرو بيان كړي دي خو دا آخرني دواړه وايي چي حماد ويلي دي ما ته ددې علم نسته چي دواړه غوږونه په سر كي داخل دي دا وينا د ابوامامه ده كه د رسول الله ﷺ ده .

(۳۸۳) :وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُهُ عَنِ الْوُضُوْءِ فَأَرَاهُ ثَلَاثًا ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا الْوُضُوْءُ فَمَنْ زَادَ عَلَى هٰذَا فَقَدْ أَسَاءَ وَتَعَدّٰى وَظَلَمَ . رواه النسائي وابن ماجه وروى أبو داود معناه .

حضرت عمروبن شعيب د خپل پلار ځخه او هغه د خپل پلار ځخه روايت كړی دی چي يو صحرائي د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او د اوداسه پوښتنه يې وكړه ، رسول الله ﷺ هغه ته هر اندام درې درې ځله پرېولل وښودل او ورته وه يې فرمايل : اودس داسي دی چا چي په دې كي زياتوب وكړ نو بد يې وكړل ، د حد ځخه تېرېدل او ظلم يې وكړ . نسائي او ابن ماجه.

﴿۳۸۴﴾ :وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُغَفَّلِ أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَهُ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْقَصْرَ الْأَبْيَضَ عَنْ يَّمِيْنِ الْجَنَّةِ قَالَ أَيْ بُنَيَّ سَلِ اللهَ الْجَنَّةَ وَتَعَوَّذْ بِهِ مِنَ النَّارِ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّهُ سَيَكُوْنُ فِيْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ يَّعْتَدُوْنَ فِي الطُّهُوْرِ وَالدُّعَاءِ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه .

حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ وايي چي هغه د خپل زوی څخه دا دعاء واوريدل : اې الله زه ستا څخه د جنت راسته لوري ته سپين محل غواړم، حضرت عبدالله ورته وويل :ا ې زويه ! د الله ﷺ څخه جنت غواړه او دوږخ څخه پناه هم غواړه ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي چي ډير ژر به په دې امت کي داسي خلك وي چي په پاکی کي به مبالغه کوي او په دعاء کي به هم د مبالغې څخه کار اخلي .احمد، ابوداؤد او ابن ماجه .

﴿۳۸۵﴾ :وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ لِلْوُضُوْءِ شَيْطَانًا يُقَالُ لَهُ الْوَلَهَانُ فَاتَّقُوْا وَسْوَاسَ الْمَاءِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيْثِ لِأَنَّا لَا نَعْلَمُ أَحَدًا أَسْنَدَهُ غَيْرَ خَارِجَةَ وَهُوَ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَصْحَابِنَا .

حضرت ابي بن کعب ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه روايت کوی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د اوداسه يو شيطان دی هغه ته (ولهان) ويل کيږي نو د اوبو د وسوسې څخه ځان وژغورئ (ترمذي، ابن ماجه) ترمذي ويلي دي چي دا حديث غريب دی ، د دې اسناد د محدثينو په نزد قوي نه دي ځکه چي موږ ته نه دی معلوم چي د خارجه څخه پرته چا ددې سند بيان کړی وي او هغه د اصحاب حديث په نزد قوي نه دی .

﴿۳۸۶﴾ :وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ مَسَحَ وَجْهَهُ بِطَرَفِ ثَوْبِهِ . رواه الترمذي .

حضرت معاذ بن جبل ﷺ وايي ما وليدل چي رسول الله ﷺ به کله اودس وکړ نو د خپل جامې په پلو به يې خپل مخ وچ وکړ .ترمذي .

﴿۳۸۷﴾ : وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَتْ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِرْقَةٌ يُنَشِّفُ بِهَا أَعْضَاءَهُ بَعْدَ الْوُضُوْءِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ لَيْسَ بِالْقَائِمِ وَأَبُوْ مُعَاذٍ الرَّاوِيْ ضَعِيْفٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيْثِ .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ سره يوه جامه وه چي د اوداسه وروسته به يې په هغې سره خپل اندامونه وچول (ترمذي) امام ترمذي ويلي دي دا حديث ضعيف دی او ابو معاذ راوي د محدثينو په نزد ضعيف دی .

## دریم فصل

| | |
|---|---|
| ﴿۳۸۸﴾ :عَنْ ثَابِتِ ابْنِ اَبِيْ صَفِيَّةَ قَالَتْ قُلْتُ لِاَبِيْ جَعْفَرٍ هُوَ مُحَمَّدُ الْبَاقِرُ حَدَّثَكَ جَابِرٌ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّةً مَرَّةً وَمَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ وَثَلَاثًا ثَلَاثًا قَالَ نَعَمْ. رواه الترمذي وابن ماجة. | د حضرت ثابت بن ابوصفية ﷛ څخه روايت دی چي ما ابو جعفر ته چي نوم يې محمد باقر دی وويل : ايا تا ته جابر دا حديث بيان کړی دی چي رسول الله ﷺ يو يو ځل دوه دوه ځله او دري دري ځله اودس کړی دی ؟ هغه وويل هو، ترمذي او ابن ماجه |
| ﴿۳۸۹﴾ :وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ وَقَالَ هُوَ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ . | د حضرت عبدالله بن زيد څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دوه ځله اودس وکړ او وه يې فرمايل د نور سربيره نور دی |
| ﴿۳۹۰﴾ :وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ ثَلَاثًا ثَلَاثًا وَقَالَ هٰذَا وَضُوْئِيْ وَوُضُوْءُ الْاَنْبِيَاءِ قَبْلِيْ وَوَضُوْءُ إِبْرَاهِيْمَ . رواهما رزين والنووي ضعف الثاني في شرح مسلم . | د حضرت عثمان ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دري دري ځله اودس وکړ او وه يې فرمايل : دا زما او زما څخه مخکي د انبياؤ اودس دی، او د حضرت ابراهيم ﷺ اودس دی . دواړه حديثونه رزين نقل کړي دي . |
| ﴿۳۹۱﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ لِكُلِّ صَلَاةٍ وَكَانَ أَحَدُنَا يَكْفِيْهِ الْوُضُوْءُ مَا لَمْ يُحْدِثْ . رواه الدرامي . | د حضرت انس ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د هر لمانځه لپاره اودس کاوه او زموږ لپاره يو اودس تر هغه وخته بس وو تر څو چي به مات سوی نه وو . دارمي . |
| ﴿۳۹۲﴾ : وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ قَالَ قُلْتُ لِعبدالله بن عبدالله بن عمر أَرَأَيْتَ وُضُوْءَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا كَانَ أَوْ غَيْرَ طَاهِرٍ عَمَّنْ أَخَذَهُ ؟ فَقَالَ حَدَّثَتْهُ أَسْمَاءُ بِنْتُ زَيْدِ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ حَنْظَلَةَ بْنِ أَبِيْ عَامِرٍ | د حضرت محمد بن يحيی بن حيان ﷛ څخه روايت دی چي ما حضرت عبيدالله بن عبدالله بن عمر ﷛ ته وويل : ما ته وښيه چي عبدالله بن عمر به د هر لمانځه لپاره اودس کاوه که به يې (اودس) وو که به نه وو، او دا عمل يې د چا څخه تر لاسه کړی |

الْغَسِيلِ حَدَّثَهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أُمِرَ بِالْوُضُوْءِ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا كَانَ أَوْ غَيْرَ طَاهِرٍ فَلَمَّا شَقَّ ذٰلِكَ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرَ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَوُضِعَ عَنْهُ الْوُضُوْءُ إِلَّا مِنْ حَدَثٍ قَالَ فَكَانَ عَبْدُ اللهِ يَرٰى أَنَّ بِهِ قُوَّةً عَلَى ذٰلِكَ فَفَعَلَهُ حَتّٰى مَاتَ. رواه أحمد.

وو، عبيدالله وويل چي عبدالله بن عمر ته بي بي اسماء بنت زيد بن خطاب حديث بيان کړی وو عبدالله بن حنظله بن عامر الغسيل بي بي اسماء ته دا حديث بيان کړی وو چي رسول الله ﷺ ته د هر لمانځه لپاره د اوداسه حکم ورکړل سوی وو که څه هم دده مبارك اودس وو يا نه وو، دا عمل چي رسول الله ﷺ ته ستونزمن سو نو د هر لمانځه پر وخت ورته د مسواك وهلو حکم ورکړل سو او (د هر لمانځه لپاره) اودس موقوف کړل سو پر ته د هغه څخه چي اودس مات سي ، عبيدالله وويل د عبدالله بن عمر دا خيال وو چي په ما کي د هر لمانځه لپاره د تازه اودس کولو توان سته له دې کبله هغه تر مرګه پوري په دې عمل وکړ. احمد.

(۳۹۳) : وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِسَعْدٍ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ فَقَالَ مَا هٰذَا السَّرَفُ يَا سَعْدُ. قَالَ أَفِي الْوُضُوْءِ سَرَفٌ؟ قَالَ نَعَمْ وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهْرٍ جَارٍ. رواه أحمد وابن ماجه.

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د سعد سره تيرېدی کوم وخت چي هغه اودس کاوه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اي سعده! دا څه اسراف دی ؛ سعد عرض وکړ ايا په اوداسه کي هم اسرف وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل هو، که څه هم ته په روانه وياله اودس کوې. احمد او ابن ماجه.

(۳۹۴) : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَابْنِ مَسْعُوْدٍ وَابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ وَذَكَرَ اسْمَ اللهِ فَإِنَّهُ يُطَهِّرُ جَسَدَهُ كُلَّهُ وَمَنْ تَوَضَّأَ وَلَمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللهِ لَمْ يُطَهِّرْ إِلَّا مَوْضِعَ الْوُضُوْءِ.

د حضرت ابوهريرة ، ابن مسعود او ابن عمر رضي الله عنهم څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي د اوداسه کولو په وخت کي د الله نوم واخيست نو هغه خپل تول بدن پاك کړ او چا چي په اوداسه کي د الله نوم ونه خيست نو هغه يوازي د اوداسه اندامونه پاك کړل.

(۳۹۵) : وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ وُضُوْءَ الصَّلَاةِ حَرَّكَ خَاتَمَهُ فِي أُصْبُعِهِ. رواهما الدارقطني. وروى ابن ماجه الأخير.

د حضرت ابو رافع رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د لمانځه لپاره اودس کاوه نو خپله گوتمی به يې په گوتو کي و ښورول. دغه دواړه حديثونه دار قطني روايت کړي دي.

# بَـــابُ الْغُسْـــلِ (د غسل بيان)

## لومړی فصل

(۳۹۶): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ اَحَدُكُمْ بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ ثُمَّ جَهَدَهَا فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ وَاِنْ لَّمْ يُنْزِلْ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي په تاسو كي يو څوك (د ښځي) د څلورو ښاخونو په منځ كي (يعني دواړو لاسو او پښو په منځ كي) كښيني بيا هڅه وكړي (يعني كوروالي وكړي) نو پر هغه غسل واجب سو كه څه هم مني ووزي يا نه ووزي . بخاري او مسلم .

(۳۹۷) : وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ . رواه مسلم . قال الشيخ الإمام محيي السنة رحمه الله هذا منسوخ .وقال ابن عباس إنما الماء من الماء في الاحتلام . رواه الترمذي و لم أجده في الصحيحين .

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اوبه د اوبو څخه دي (يعني په مني وتلو سره غسل واجبيږي ) .(مسلم) امام محي السنة وايي چي دا حكم منسوخ دی او ابن عباس ويلي دي چي اوبه د اوبو څخه دي ددې حكم د احتلام لپاره دی . (ترمذي) په بخاري او مسلم كي دا حديث نه ستنه .

(۳۹۸) : وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ لاَ يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ فَهَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ مِنْ غُسْلٍ إِذَا احْتَلَمَتْ فَقَالَ نَعَمْ إِذَا رَأَتِ الْمَاءَ فَغَطَّتْ أُمُّ سَلَمَةَ وَجْهَهَا وَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَوَتَحْتَلِمُ الْمَرْأَةُ قَالَ تَرِبَتْ عَيْنُك فَبِمَ يُشْبِهُهَا وَلَدُهَا . متفق عليه و زاد مسلم برواية ام سليم ان ماء الرجل غليظ ابيض و ماء المراة رقيق اصفر فمن ايهما علا او سبق يكون منه الشبة .

د حضرت بي بي آم سلمه (رض) څخه روايت دی چي بي بي ام سليم رسول الله ﷺ ته عرض وكړ اې دالله رسوله ! الله تعالى په حقه خبره بيانولو شرم نه كوي (نو زه هم د يوې خبري پوښتنه كوم) ايا پر ښځه غسل واجب دی هر كله چي غسل پر واوري ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل او هر كله چي هغه (مني) ووينې ، د دې په اورېدو سره بي بي ام سليم د شرم څخه مخ پټ كړ او عرض يې وكړ اې دالله رسوله ! ايا پر ښځه هم غسل اوري ؟ رسول الله ﷺ

وفرمایل : هو، ستا راسته لاس دي په خاورو ولړل سي د هغې ماشومان څنګه دهغې سره همشکل وي (بخاري او مسلم) په دې حدیث کي چي د بي بي ام سلیم څخه روایت دی مسلم دا الفاظ زیات لیکلي دي چي رسول الله ﷺ دا هم وفرمایل : د سړي مني ټینګ او سپین وي او د ښځي مني ژړ او نرم وي نو په دې کي چي د هر یوه مني غالب سي یا مخکي ووزي نو کوچنی هغه ته ورته وي.

(۳۹۹) :وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ بَدَأَ فَغَسَلَ يَدَيْهِ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ كَمَا يَتَوَضَّأُ لِصَلَاةِ ثُمَّ يُدْخِلُ أَصَابِعَهُ فِي الْمَاءِ فَيُخَلِّلُ بِهَا أُصُولَ شَعْرِهِ ثُمَّ يَصُبُّ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ غُرُفَاتٍ بِيَدِهِ ثُمَّ يُفِيضُ الْمَاءَ عَلَى جِلْدِهِ كُلِّهِ. متفق عليه، و في رواية لمسلم يبدا فيغسل يديه قبل ان يدخلهما الاناء ثم يفرغ بيمينه على شماله فيغسل فرجه ثم يتوضا .

د بي بي عائشې (رض) څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ د ناپاکۍ (جنابت) څخه د غسل اراده کول نو داسي به یې پیل کاوه چي لومړی به یې دواړه لاسونه پرېولل بیا به یې اودس کاوه لکه څرنګه چي د لمانځه لپاره اودس کول کیږي بیا به یې خپلي ګوتي په اوبو کي لندې کړې او په ورېښتانو کي به یې خلال وکړ یعني د ورېښتانو بیخو ته به یې اوبه ورسولې بیا به یې په دواړو لاسو په لپه کي اوبه راواخستې پر سر به یې واچولې او داسي به یې دري ځله کول بیا به یې پر ټول بدن اوبه توی کړې (بخاري) د مسلم په روایت کي دا الفاظ هم دي کوم وخت چي به رسول الله ﷺ غسل پیل کاوه نو په لوښي کي د لاس د ننه کولو څخه وړاندي به یې خپل دواړه لاسونه پرېولل بیا به یې د راسته څخه پر چپه لاس اوبه اچولې بیا به یې خپل شرمګاه پرېوله او ددې وروسته به یې اودس کاوه.

(۴۰۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَتْ مَيْمُونَةُ وَضَعْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُسْلاً فَسَتَرْتُهُ بِثَوْبٍ وَصَبَّ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ صَبَّ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ صَبَّ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ فَغَسَلَ فَرْجَهُ فَضَرَبَ بِيَدِهِ الْأَرْضَ فَمَسَحَهَا ثُمَّ غَسَلَهَا فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ ثُمَّ صَبَّ عَلَى رَأْسِهِ وَأَفَاضَ عَلَى جَسَدِهِ ثُمَّ تَنَحَّى فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ فَنَاوَلْتُهُ ثَوْبًا فَلَمْ يَأْخُذْهُ فَانْطَلَقَ وَهُوَ يَنْفُضُ يَدَيْهِ .متفق عليه ولفظه للبخاري.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي بي بي میمونة (رض) وفرمایل ما د رسول الله ﷺ د غسل لپاره اوبه کښېښودلې او په جامې سره مي پرده وکړل ، رسول الله ﷺ په خپلو دواړو لاسونو اوبه واچولې او هغه یې دوهم ځل داسي په خپلو لاسونو سره پرېولل بیا یې د راسته لاس څخه پر چپه لاس اوبه واچولې بیا یې شرمګاه پرېولل بیا یې چپه لاس چي په هغه سره یې شرمګاه پرېولې وه پر مځکه وموږی، بیا یې هغه پرېولی بیا یې خوله پرېولل او په پزه کي یې اوبه واچولې مخ یې

پریولی او تر څنګلو پوري یې لاسونه پریولل بیا یې پر سر او ټول بدن باندي اوبه واچولې او پښې یې پریولې ، د دري وروسته یې د بدن پاکولو لپاره ما جامه ورکړه مګر جامه یې وانه خیستل بیا یې لاسونه و څنډل او د هغه ځای څخه ولاړی . بخاري او مسلم .

(۴۰۱) :وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ انَّ امْرَأَةً مِّنَ الْاَنْصَارِ سَأَلَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ غُسْلِهَا مِنَ الْمَحِيْضِ فَاَمَرَهَا كَيْفَ تَغْتَسِلُ ثُمَّ قَالَ خُذِيْ فِرْصَةً مِنْ مِسْكٍ فَتَطَهَّرِيْ بِهَا قَالَتْ كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا فَقَالَ تَطَهَّرِي بِهَا قَالَتْ كَيْفَ أَتَطَهَّرُ بِهَا قَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ تَطَهَّرِي بِهَا فَاجْتَذَبْتُهَا إِلَيَّ فَقُلْتُ تَتَبَّعِي بِهَا أَثَرَ الدَّمِ . متفق علیه

د حضرت بي بي عائشة (رض) څخه روایت دی چي یوې انصاري ښځي د نبي کریم ﷺ څخه د خپل حیض د غسل په اړه پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ ورته د غسل کیفیت بیان کړ او د غسل حکم یې ورکړ او وه یې فرمایل : د مشکو یوه ټوټه واخله په هغه سره پاکي وکړه ، انصاري ښځي وویل په دې سره څنګه پاکي وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل په دغه جامې سره پاکي وکړه، انصاري ښځي بیا پوښتنه وکړه څنګه پاکي وکړم ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : سبحان الله ته په هغه سره پاکي تر لاسه کړه ، بي بي عائشة وایي د رسول الله ﷺ د وار وار ویلو سره ما هغه انصاري ښځه خان ته راویستل بیا مي ورته وویل دا جامه د وینې پر ځای کښیږده (او په دې سره وینه پاکه کړه) بخاري اومسلم

(۴۰۲) :وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أَشُدُّ ضَفْرَ رَأْسِي فَأَنْقُضُهُ لِغُسْلِ الْجَنَابَةِ قَالَ لاَ إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَنْ تَحْثِيَ عَلَى رَأْسِكِ ثَلاَثَ حَثَيَاتٍ ثُمَّ تُفِيضِينَ عَلَيْكِ الْمَاءَ فَتَطْهُرِينَ. رواه مسلم .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه یوه داسي ښځه یم چي د خپل سر وربښتان ټینګ تړم ایا د ناپاکی په حالت کي دا خلاص کړم ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : نه، ستا لپاره دا بس ده چي ته پر خپل سر دري لپي اوبه واچوې او پر خپل بدن یې و بیوې نو پاکه به سې. مسلم

(۴۰۳) :وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ بِالْمُدِّ وَيَغْتَسِلُ بِالصَّاعِ إِلَى خَمْسَةِ أَمْدَادٍ . متفق علیه.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به په یوه مد (تقریبا یو سیر) اوبو سره اودس کاوه او په یوه صاع (څلور سیره) اوبو سره او غسل به یې کوی په یوه صاع تر پنځو مدو پوري. بخاري او مسلم.

(۴۰۴) :وَعَنْ مُعَاذَةَ قَالَتْ قَالَتْ عَائِشَةُ رضي الله عنها كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ بَيْنِي وَبَيْنَهُ فَيُبَادِرُنِي حَتَّى أَقُولَ دَعْ لِي دَعْ لِي قَالَتْ وَهُمَا جُنُبَانِ . متفق عليه.

د بي بي معاذة (رض) څخه روایت دی چي بي بي عائشي (رض) وفرمایل: ما او رسول الله ﷺ به د یوه لوښي څخه غسل کاوه چي زموږ د واړو په منځ کي به پروت وو، رسول الله ﷺ به په اوبو اخیستو کي د تادي (تلوار) څخه کار اخیست تر دې چي ما به ویل زما لپاره هم اوبه پرېږده زما لپاره هم اوبه پرېږده ، بي بي معاذه وايي دا غسل به د دواړو د جنابت غسل وو. بخاري او مسلم

## دوهم فصل

(۴۰۵) :عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الرَّجُلِ يَجِدُ الْبَلَلَ وَلَا يَذْكُرُ احْتِلَامًا قَالَ يَغْتَسِلُ وَعَنِ الرَّجُلِ يَرَى أَنَّهُ قَدِ احْتَلَمَ وَلَا يَجِدُ بَلَلًا قَالَ لَا غُسْلَ عَلَيْهِ قَالَتْ أُمُّ سليم هَلْ عَلَى الْمَرْأَةِ تَرَى ذَلِكَ غُسْلٌ قَالَ نَعَمْ إِنَّ النِّسَاءَ شَقَائِقُ الرِّجَالِ. رواه الترمذي وابوداؤد و روى الدارمي وابن ماجه الى قوله لا غسل عليه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د هغه سړي په اړه پوښتنه وسول چي پر جامو لوندوالی ویني او احتلام يې یاد نه وي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هغه ته غسل کول پکار دي ، بیا پوښتنه وسول که احتلام يې یاد وي مگر لوندوالی نه ویني، رسول الله ﷺ وفرمایل: پر هغه غسل واجب نه دی، بي بي ام سلیم چي دا واورېدل نو پوښتنه يې وکړل که ښځه هم لوندوالی ویني نو ایا پر هغې هم غسل واجب دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، ښځي هم د سړو په شان دي . ترمذي ، ابوداؤد ، دارمي او ابن ماجه

(۴۰۶) :وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاوَزَ الْخِتَانُ الْخِتَانَ وَجَبَ الْغُسْلُ فَعَلْتُهُ أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاغْتَسَلْنَا . رواه الترمذي وابن ماجة.

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي د نارینه د سنت ځای د ښځي په سنت ځای کي غائب سي نو غسل واجب سي ، بي بي عائشة فرمایي ما او رسول الله ﷺ دا عمل وکړ نو موږ دواړو غسل وکړ . ترمذي او ابن ماجه.

﴿٤٠٧﴾ : وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قال قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحْتَ كُلِّ شَعْرَةٍ جَنَابَةٌ فَاغْسِلُوا الشَّعْرَ وَأَنْقُوا الْبَشَرَةَ. رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجة وقال الترمذي وابن ماجة هذا حديث غريب والحارث ابن وجيه الراوي وهو شيخ ليس بذالك .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هر ويښته لاندي ناپاکي ده له دې کبله ويښتان پريولئ او بدن پاکوئ ، ابوداؤد ، ترمذي، ابن ماجه، ترمذي ليکلي دي دا حديث غريب دی او يو راوي حارث بن وجية معتبر نه سي ګڼل کيدلای په سبب د زوروالي .

﴿٤٠٨﴾ :وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ مَوْضِعَ شَعْرَةٍ مِّنْ جَنَابَةٍ لَّمْ يَغْسِلْهَا فُعِلَ بِهَا كَذَا وَكَذَا مِنَ النَّارِ . قَالَ عَلِيٌّ فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِيْ فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِيْ فَمِنْ ثَمَّ عَادَيْتُ رَأْسِيْ ثَلَاثًا . ( رواه أبو داود وأحمد والدارمي إلا أنهما لم يكررا فمن ثم عاديت رأسي )

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :چا چي د جنابت په غسل کي د يو ويښته په اندازه ځای هم پريښودی او هغه يې نه پريولی نو د هغه له کبله به د هغه سره په اور کي داسي او داسي وکړل سي،. علی ﷺ وايي چي د رسول الله ﷺ (د دې حکم په اوريدو سره) ما د خپل سر سره دښمني وکړه درې ځله يې دا جمله وويل يعني د دې وروسته ما د خپل سر ويښتان وخريل . ابوداؤد، احمد او دارمي .

﴿٤٠٩﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَوَضَّأُ بَعْدَ الْغُسْلِ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د غسل څخه وروسته اودس نه کاوه . ابوداؤد، ترمذي، نسائي او ابن ماجه.

﴿٤١٠﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْسِلُ رَأْسَهُ بِالْخِطْمِيِّ وَهُوَ جُنُبٌ يَجْتَزِئُ بِذٰلِكَ وَلَا يَصُبُّ عَلَيْهِ الْمَاءَ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د ناپاکۍ په حالت کي يوازي په خطمي سره سره پريولی او پر دې به يې بس والی کاوه او دوهم وار به يې پر سر اوبه نه اچولې . ابوداؤد.

﴿٤١١﴾: وَعَنْ يَعْلَى قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَغْتَسِلُ بِالْبَرَازِ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ

د حضرت يعلي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو سړی وليدی چي په ميدان کي يې لوڅ

فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ حَيِيٌّ سِتِّيْرٌ يُحِبُّ الْحَيَاءَ وَالتَّسَتُّرَ فَإِذَا اغْتَسَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَتِرْ . رواه أبو داود والنسائي وفي روايته قال إن الله ستير فإذا أراد أحدكم أن يغتسل فليتوار بشيء .

غسل کاوه، رسول الله ﷺ منبر ته وختی د الله حمد او ثناء یې بیان کړه بیا یې وفرمایل : په تحقیق سره الله حیاداره دی پرده پوش دی او حیا او پرده کول خوښوي په تاسو کې چې څوك (په میدان کې) غسل کوي نو هغه ته پکار ده چې پرده وکړي . ابوداوٗد ، نسائي، په یوه روایت کې دي چې وه یې فرمایل : بېشکه الله پرده پوش دی کله چې په تاسو کې یو څوك د غسل اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چې په یو شي سره پرده وکړي.

## دریم فصل

(۴۱۲): عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ إِنَّمَا كَانَ الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ رُخْصَةً فِيْ أَوَّلِ الْإِسْلَامِ ثُمَّ نُهِيَ عَنْهَا .رواه الترمذي وابوداوٗد والدارمي .

د حضرت ابي بن کعب ﷺ څخه روایت دی چې د اسلام په پیل کې د مني په وتلو سره د غسل واجب کېدو اجازت وو بیا ددې څخه منع وکړل سوه (یعني د اسلام په پیل کې یوازې په مني وتلو سره غسل واجب کېدی که یې جماع کړې وای او مني نه وای وتلې نو بیا غسل واجب نه وو، بیا دا منسوخ سو) . ترمذي، ابوداوٗد او دارمي.

(۴۱۳): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي اغْتَسَلْتُ مِنَ الْجَنَابَةِ وَصَلَّيْتُ الْفَجْرَ فَرَأَيْتُ قَدْرَ مَوْضِعِ الظُّفْرِ لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كُنْتَ مَسَحْتَ عَلَيْهِ بِيَدِكَ أَجْزَأَكَ . رواه ابن ماجه .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چې یو سړی د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او عرض یې وکړ چې ما د جنابت څخه غسل وکړ بیا مې د سهار لمونځ وکړ او وروسته راته څرګنده سوه چې د نوك په اندازه ځای په غسل کې وچ پاته سوی دی ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : که تا پر هغه باندې په لاس سره مسح کړې وای نو بس وه . ابن ماجه.

(۴۱۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَتِ الصَّلَاةُ خَمْسِيْنَ وَالْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ سَبْعَ مَرَّاتٍ وَغَسْلُ الْبَوْلِ مِنَ الثَّوْبِ سَبْعَ مَرَّاتٍ فَلَمْ يَزَلْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُ حَتّٰى جُعِلَتِ الصَّلَاةُ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې (په پیل کې) پنځوس لمنځونه (فرض) وه او د جنابت وروسته اووه واره غسل وو، او که بولې پر جامه لګېدلې وای نو هغه به اووه خله پرېولل کېده ، رسول الله ﷺ به تل د الله څخه د کمي خواست

خَمْسًا وَالْغُسْلُ مِنَ الْجَنَابَةِ مَرَّةً وَغَسْلُ الثَّوْبِ مِنَ الْبَوْلِ مَرَّةً . رواه أبو داود .

كاوه تر دې چې پنځه لمنځونه فرض سوه او د ناپاکۍ څخه يو ځل غسل او د بولو څخه جامه يو ځل پريولل پاته سول . ابوداؤد.

# بَابُ مُخَالَطَةِ الْجُنُبِ وَمَا يُبَاحُ لَهُ

## (د جنب سره يو ځاى كېدل او هغه ته رواه كارونه)

## لومړى فصل

(٤١٥): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَقِيَنِيْ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ أَنَا جُنُبٌ فَأَخَذَ بِيَدِيْ فَمَشَيْتُ مَعَهُ حَتّٰى قَعَدَ فَانْسَلَلْتُ فَأَتَيْتُ الرَّحْلَ فَاغْتَسَلْتُ ثُمَّ جِئْتُ وَهُوَ قَاعِدٌ فَقَالَ أَيْنَ كُنْتَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ لَهُ فَقَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَا يَنْجُسُ . هذا لفظ البخاري و لمسلم معناه و زاد بعد قوله فقلت له لقد لقيتني و انا جنب فكرهت ان اجالسك حتى اغتسل وكذا البخاري في رواية اخرى .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چې زما سره د رسول الله ﷺ ملاقات سو او زه ناپاكه وم رسول الله ﷺ زما لاس و نيوى او زه د رسول الله ﷺ سره روان سوم تر دې چې رسول الله ﷺ كښېنستى نو زه په كراره څيني ولاړ سوم د باندې راووتم او خپل ځاى ته راغلم او غسل مې وكړ بيا ورغلم نو وينم چې رسول الله ﷺ هملته تشريف فرما دى رسول الله ﷺ چې زه وليدم نو راته يې وفرمايل: اې ابوهريرة! ته چيرې وې ما ورته ټول حال عرض كړ نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: سبحان الله مسلمان ناپاكه نه دى ، دا الفاظ د بخاري دي او په مسلم كې دا الفاظ داسې دي چې رسول الله ﷺ زما سره ملاقات وكړ او زه ناپاك وم ما ته بده ځرګنده سوه چې تر څو پورې غسل ونه كړم او ستاسو سره كښېنم همداسې د بخاري په يو روايت كې هم دي .

(٤١٦): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ ذَكَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ تُصِيْبُهُ جَنَابَةٌ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ ثُمَّ نَمْ . متفق عليه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چې حضرت عمر بن الخطاب ﷺ يو ځل رسول الله ﷺ ته ذكر وكړ چې كه هغه د شپې ناپاكه سي نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اودس كوه او خپل خاص اندام پريولله بيا بيده كيږه . بخاري او مسلم

(۴۱۷): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ جُنُبًا فَأَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ أَوْ يَنَامَ تَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ جنب وو او د يو شي د خوړلو يا خوب اراده به يې کول نو اودس به يې کاوه لکه څرنګه چي د لمانځه لپاره اودس کول کيږي . بخاري او مسلم.

(۴۱۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ أَهْلَهُ ثُمَّ أَرَادَ أَنْ يَعُودَ فَلْيَتَوَضَّأْ بَيْنَهُمَا وُضُوءً . رواه مسلم .

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي يو څوک خپل کوروالا ته ورسي او فارغ سي او بيا دوهم ځل د ورتلو اراده وکړي نو د دواړو په منځ کي دي اودس وکړي . مسلم

(۴۱۹): وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ بِغُسْلٍ وَاحِدٍ. رواه مسلم .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په يوه شپه کي ټو ازواجو ته ورتلی (يعني د هغوئ سره به يې کوروالي کول) او يوازي يو ځل به يې غسل کاوه . مسلم

(۴۲۰): وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُ اللّٰهَ عَلَى كُلِّ أَحْيَانِهِ. رواه مسلم . و حديث ابن عباس سنذكره في كتاب الاطعمة ان شاء الله تعالى .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به هر وخت د الله ذکر کاوه (يعني د ناپاکۍ په حالت کي هم)، مسلم، او د ابن عباس حديث به موږ انشاء الله په کتاب الاطعمة کي بيان کړو .

## دوهم فصل

(۴۲۱): عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ اغْتَسَلَ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَفْنَةٍ فَأَرَادَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَوَضَّأَ مِنْهُ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي كُنْتُ جُنُبًا فَقَالَ إِنَّ الْمَاءَ لَا يُجْنِبُ . (رواه الترمذي) و ابوداؤد وابن

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ ځيني بيبيانو به په تالۍ (لګن) کي غسل وکړ (يعني د تالۍ څخه يې اوبه را اخيستلې او غسل يې کاوه) رسول الله ﷺ په تالۍ په پاته سوو اوبو سره د اودس کولو اراده

ماجة و روي الدارمي نحوه وفي شرح السنة عنه عن ميمونة بلفظ المصابيح .

وکړه نو يوې بي بي ورته وويل اې د الله رسوله ! زه ناپاکه وم (او په دې اوبو سره ما غسل کړی دی) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اوبه نه ناپاکه کيږي (ترمذي، ابوداؤد ، ابن ماجه) دارمي هم داسي روايت کړی دی په شرح السنة کي د ابن عباس څخه هغه د بي بي ميمونې څخه د مصابيح په الفاظو سره ذکر کړی دی .

(۴۲۲): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ يَسْتَدْفِئُ بِيْ قَبْلَ أَنْ أَغْتَسِلَ . رواه ابن ماجه وروى الترمذي نحوه . و في شرح السنة بلفظ المصابيح.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د ناپاکی څخه غسل کاوه بيا د هغه څخه وړاندي چي زه غسل وکړم ما ته به راغلی يعني ځان به يې راسره جوخت کړ چي گرمي تر لاسه کړئ. ابن ماجه .او ترمذي.

(۴۲۳): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنَ الْخَلَاءِ فَيُقْرِئُنَا الْقُرْآنَ وَيَأْكُلُ مَعَنَا اللَّحْمَ وَلَمْ يَكُنْ يَحْجُبُهُ أَوْ يَحْجُزُهُ عَنِ الْقُرْآنِ شَيْءٌ لَيْسَ الْجَنَابَةَ . رواه أبو داود والنسائي وروى ابن ماجه نحوه .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د بيت الخلاء څخه تشريف راوړ نو موږ ته به يې قرآن وايه او زموږ سره به يې غوښې خوړلې او د دې خبرو څخه يې رسول الله ﷺ نه منع کاوه او نه به يې د قرآن کريم د ويلو څخه د جنابت څخه پرته . ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه.

(۴۲۴): وَ عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقْرَأُ الْحَائِضُ وَلَا الْجُنُبُ شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ . رواه الترمذي

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : حائضه ښځه او جنب سړی دي قرآن کريم نه وايي. ترمذي،

(۴۲۵): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجِّهُوْا هٰذِهِ الْبُيُوْتَ عَنِ الْمَسْجِدِ فَإِنِّيْ لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا جُنُبٍ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو د خپلو کورونو دروازې د مسجد د لوري څخه واړوئ (يعني په مسجد کي دننه خپل لار مه جوړوئ) ځکه چي زه د حيض والا ښځو او د جنبو کسانو مسجد ته دننه تلل جائز نه گڼم . ابوداؤد .

(۴۲۶): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَدْخُلُ الْمَلاَئِكَةُ بَيْتًا فِيْهِ صُوْرَةٌ وَلاَ كَلْبٌ وَلاَ جُنُبٌ . رواه ابو داود والنسائي .

وفرمایل: ملائکي هغه کور ته نه ځي په کوم کور کي چي عکس وي او نه هغه کور ته ځي چي په هغه کي سپی او یا یو څوك جُنب وي. ابوداؤد او نسائي.

﴿۴۲۷﴾: وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاَثَةٌ لاَ تَقْرَبُهُمُ الْمَلاَئِكَةُ جِيْفَةُ الْكَافِرِ وَالْمُتَضَمِّخُ بِالْخَلُوْقِ وَالْجُنُبُ إِلاَّ أَنْ يَّتَوَضَّأَ . رواه أبو داود .

د حضرت عمار بن یاسر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: درې کسه دي چي هغو ته ملائکي نه راځي ۱: د کافر بدن ته (که ژوندی وي یا مړ) ۲: د خلوق خوشبويي لګولو والا ته (د خلوق بوی او رنګ د زعفران څخه دي او سوروالي پر غالب وو د ښځو د مشابهت له وجي ملائکي نه ورځي د ښځو لپاره صحیح ده) ۳: جنب کس ته تر څو پوري چي هغه اودس ونه کړي. ابوداؤد.

﴿۴۲۸﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِيْ بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ أَنَّ فِي الْكِتَابِ الَّذِيْ كَتَبَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَمْرِو بْنِ حَزْمٍ أَنْ لاَّ يَمَسَّ الْقُرْآنَ إِلاَّ طَاهِرٌ . رواه مالك والدارقطني .

د حضرت عبدالله بن ابي بکر بن محمد بن عمرو بن حزم څخه روایت دی کوم لیك چي رسول الله ﷺ ابن حزم ته لیکلی وو په هغه کي دا الفاظ هم وه چي قرآن کریم ته دي یوازي پاك کسان لاس ور وړي. مالك او دار قطني.

﴿۴۲۹﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ انْطَلَقْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِيْ حَاجَةٍ فَقَضٰى ابْنُ عُمَرَ حَاجَتَهُ وَكَانَ مِنْ حَدِيْثِهِ يَوْمَئِذٍ أَنْ قَالَ مَرَّ رَجُلٌ فِيْ سِكَّةٍ مِّنَ السِّكَكِ فَلَقِيَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ خَرَجَ مِنْ غَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتّٰى كَادَ الرَّجُلُ أَنْ يَّتَوَارٰى فِي السِّكَّةِ ضَرَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدَيْهِ عَلَى الْحَائِطِ وَمَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ ثُمَّ ضَرَبَ ضَرْبَةً أُخْرٰى فَمَسَحَ ذِرَاعَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَى الرَّجُلِ السَّلاَمَ وَقَالَ إِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِيْ أَنْ أَرُدَّ عَلَيْكَ السَّلاَمَ إِلاَّ أَنِّيْ لَمْ أَكُنْ عَلٰى طُهْرٍ . رواه أبو داود .

د حضرت نافع ﷺ څخه روایت دی چي زه د ابن عمر سره د قضاء حاجت لپاره ولاړم، ابن عمر چي فراغت تر لاسه کړ په هغه ورځ چي هغه کوم حدیث بیان کړ په هغه کي دا وه چي یو سړی په یوه کوڅه کي تیریدی نو د رسول الله ﷺ سره د هغه ملاقات وسو او رسول الله ﷺ د تشو یا ډکو بولو څخه راستنېدی هغه سړي رسول الله ﷺ ته سلام وکړ مګر رسول الله ﷺ هغه ته جواب ور نه کړ کوم وخت چي هغه کوڅي ته ورسیدی (د سترګو څخه) پناه کېدی، نو رسول الله ﷺ سمدستي پر دیوال خپل

دواړه لاسونه ووهل او هغه يې پر مخ تیر کړل بیا یې دوهم ځل لاسونه ووهل او پر دواړو لاسو یې و موږل (یعني تیمم یې وکړ) بیا یې د هغه سړي د سلام جواب ورکړ او وه یې فرمایل نه وم منعه کړی زه چي رد کړی مي وای پر تا باندي سلام مگر دا چي زه نه وم په اوداسه کي . ابوداؤد .

| | |
|---|---|
| (۴۳۰): وَعَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ قُنْفُذٍ اَنَّهُ اَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُوْلُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ حَتّٰى تَوَضَّأَ ثُمَّ اعْتَذَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ إِنِّيْ كَرِهْتُ أَنْ أَذْكُرَ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلاَّ عَلٰى طُهْرٍ. رواه ابوداؤد و روي النسائي الى قوله حتى توضا و قال فلما توضا رد عليه . | د حضرت مهاجر بن قنفذ ﷺ څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او رسول الله ﷺ په دغه وخت کي تشي بولي کولې . ما رسول الله ﷺ ته سلام ادا کړ، رسول الله ﷺ تر څو پوري چي اودس نه وو کړی تر هغه وخته پوري يې د سلام جواب رانه کړ ، بیا رسول الله ﷺعذر وکړ |

او وه يې فرمایل ما ته بده ځرګنده سوه چي په ناپاکۍ سره د الله نوم واخلم . (ابوداؤد) نسائي تر حتي توضا پوري روایت کړی دی چي اودس یې وکړ او د سلام جواب یې ورکړ .

## دریم فصل

| | |
|---|---|
| (۴۳۱):عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْنِبُ ثُمَّ يَنَامُ ثُمَّ يَنْتَبِهُ ثُمَّ يَنَامُ . رواه أحمد . | د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د ناپاکۍ (جنابت) په حالت کي وو او بیده به سو بیا به راویښ سو او بیا به بیده سو .احمد |

| | |
|---|---|
| (۴۳۲): وَعَنْ شُعْبَةَ قَالَ إِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ كَانَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ يُفْرِغُ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى عَلٰى يَدِهِ الْيُسْرٰى سَبْعَ مِرَارٍ ثُمَّ يَغْسِلُ فَرْجَهُ فَنَسِيَ مَرَّةً كَمْ أَفْرَغَ فَسَأَلَنِيْ فَقُلْتُ لاَ أَدْرِيْ فَقَالَ لاَ أُمَّ لَكَ وَمَا يَمْنَعُكَ أَنْ تَدْرِيْ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوْءَهُ لِلصَّلاَةِ ثُمَّ يُفِيْضُ عَلٰى جِلْدِهِ الْمَاءَ ثُمَّ يَقُوْلُ هٰكَذَا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَطَهَّرُ . رواه أبو داود . | د حضرت شعبة څخه روایت دی چي ابن عباس ﷺ به د ناپاکۍ څخه غسل کاوه نو لومړی به يې د راسته لاس څخه پر چپه لاس اووه ځله اوبه واچولې بیا به یې اووه ځله شرمگاه پریولل بیا ځیني هیر سو یو ځل یې څو ځله اوبه واچولې او زما څخه یې پوښتنه وکړه نو ما ورته وویل ما ته نه ده معلومه هغه وویل ستا مور دي نه وي څه شي ته منع کړې ولي در |

ته نه ده معلومه بیا به ابن عباس اودس کاوه په شان د اوداسه دلمانځه او پر بدن به یې اوبه

وبيولې بيا به يې ويل همداسي به رسول الله ﷺ پاكي كول . ابوداؤد .

(۴۳۳): وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ قَالَ اِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلٰى نِسَائِه يَغْتَسِلُ عِنْدَ هٰذِه وَعِنْدَ هٰذِه قَالَ فَقُلْتُ لَهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلاَ تَجْعَلُهُ غُسْلاً وَاحِدًا آخِرًا قَالَ هٰذَا اَزْكٰى وَاَطْيَبُ وَاَطْهَرُ . رواه أحمد وأبو داود .

د حضرت ابورافع ؓ څخه روايت دی چي يوه ورځ رسول الله ﷺ خپلو ټولو بيبيانو ته ورغلی (يعني د ټولو سره يې كوروالي وكړل) د دې بي بي سره يې غسل وكړ او د هغه بي بي سره يې غسل وكړ غسل يې وكړ د هري يوې وروسته (يعني د هري بي بي سره يې د جماع وروسته غسل وكړ) ما وويل اې د الله رسوله ! تاسو د ټولو په پای كي يو غسل ولي ونه كړ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : (د هر ځل جماع كولو وروسته غسل كول) ښه پاكي راولي او ډير ښه دی او د بدن پاكي راولي . احمد او ابوداؤد .

(۴۳۴): وَعَنِ الْحَكَمِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يَّتَوَضَّأَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ طَهُوْرِ الْمَرْأَةِ . رواه أبو داود وابن ماجه والترمذي وزاد أو قال بسؤرها . وقال هذا حديث حسن صحيح

د حضرت حكم بن عمرو ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د دې څخه منع فرمايلې ده چي سړی دي د ښځي د اوداسه يا غسل څخه په پاته سوو اوبو سره اودس وكړي . (ابوداؤد، ابن ماجه، ترمذي) ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی .

(۴۳۵): وَعَنْ حُمَيْدٍ الْحِمْيَرِيِّ قَالَ لَقِيْتُ رَجُلاً صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرْبَعَ سِنِيْنَ كَمَا صَحِبَهُ اَبُوْهُرَيْرَةَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ تَغْتَسِلَ الْمَرْأَةُ بِفَضْلِ الرَّجُلِ اَوْ يَغْتَسِلُ الرَّجُلُ بِفَضْلِ الْمَرْأَةِ . زَادَ مُسَدَّدٌ وَلْيَغْتَرِفَا جَمِيْعًا رواه أبو داود والنسائي وزاد أحمد فِيْ اَوَّلِه نَهٰى اَنْ يَّمْتَشِطَ اَحَدُنَا كُلَّ يَوْمٍ اَوْ يَبُوْلَ فِيْ مُغْتَسَلِ . ورواه ابن ماجه عن عبد الله بْنِ سَرْجَسٍ .

د حضرت حميد الحميري څخه روايت دی چي ما يو سړی وليدی چي هغه د ابوهريرة په ډول څلور كاله د رسول الله ﷺ په صحبت كي تير كړی وه ، هغه سړي وويل رسول الله ﷺ د دې څخه منع فرمايلې ده چي ښځه دي په پاته سوو اوبو سره غسل وكړي او يا سړی دي د ښځو په پاته سوو اوبو سره غسل وكړي ، او ددې حديث په آخر كي مسدد دا الفاظ بيان كړي دي چي سړي او ښځي ته پكار دي چي دواړه د يوه لوښي څخه لپه په يو ځل اخلي او غسل سره وكړي، ابوداؤد ، نسائي او احمد ددې خبري څخه منع كړې ده چي په موږ كي دي يو څوك هره ورځ ږمنځ كوي يا په غسل خانه كي تشي بولي كوي . ابن ماجه دا د عبدالله بن سرجس څخه روايت كړی دی .

# بَابُ اَحْكَامِ الْمِيَاهِ (د اوبو بیان)

(۴۳۶): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاَيَبُوْلَنَّ اَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِيْ لَايَجْرِيْ ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ. متفق علیه وَ فِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ لَا يَغْتَسِلُ اَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ وَهُوَ جُنُبٌ قَالُوْا كَيْفَ يَفْعَلُ يَا اَبَاهُرَيْرَةَ قَالَ يَتَنَاوَلُهُ تَنَاوُلاً.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي دي هیڅوك په هغه ولاړو اوبو کي چي جاري نه وي تشي بولي نه کوي چي بیا غسل هم په کوي. (بخاري او مسلم) او په مسلم کي دا الفاظ دي چي په تاسو کي دي هیڅوك د ناپاکۍ په حالت کي په ولاړو اوبو کي غسل نه کوي ، خلکو د ابوهریرة څخه پوښتنه وکړه چي نو څنګه وکړو؟ ابوهریرة ورته وویل د هغه څخه دي اوبه را واخلي یعني په لپه یا یو لوښي سره دي غسل وکړي.

(۴۳۷): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُبَالَ فِي الْمَاءِ الرَّاكِدِ. (رواه مسلم)

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ په ولاړو اوبو کي د تشو بولو کولو څخه منع فرمایلي ده. مسلم.

(۴۳۸): وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ ذَهَبَتْ بِيْ خَالَتِيْ اِلَى رَسُوْلِ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰه اِنَّ ابْنَ اُخْتِيْ وَجِعٌ فَمَسَحَ رَأْسِيْ وَدَعَا لِيْ بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ تَوَضَّأَ فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوْئِهِ ثُمَّ قُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ فَنَظَرْتُ اِلَى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِثْلَ زِرِّ الْحَجَلَةِ . (متفق علیه)

د حضرت سائب بن یزید څخه روایت دی چي زما خاله زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر کړم او هغې وویل اې دالله رسوله! زما دا خوریی ناروغ دی نو رسول الله ﷺ زما پر سر لاس را تیر کړ او زما لپاره یې د برکت دعاء وکړل ، بیا رسول الله ﷺ اودس وکړ او ما د رسول الله ﷺ د اودس څخه پاته سوي اوبه و څښلې بیا زه د رسول الله ﷺ شا ته و دریدم او ما مهرنبوت ولیدی چي د رسول الله ﷺ د اوږو په منځ کي وو او د چپرکټ د غوټۍ په شان ځلیدی. بخاري او مسلم.

## دوهم فصل

(۴۳۹): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَاءِ يَكُونُ فِي الْفَلَاةِ مِنَ الْأَرْضِ وَمَا يَنُوبُهُ مِنَ الدَّوَابِّ وَالسِّبَاعِ فَقَالَ إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ. رواه احمد و ابوداؤد والترمذي والنسائي والدارمي وابن ماجة وفي اخرى لابي داؤد فانه لاينجس.

د حضرت ابن عمر ﷜ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د هغه اوبو د حکم پوښتنه وسول چي په ځنګل کي دننه په مځکه کي يو ځای وي او حيوانان او نور ځنګلي چارپايه پر هغه راځي او د هغه څخه اوبه چښي او هلته بولي هم کوي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که هغه اوبه د دووغټو منګيانو په اندازه وي نو هغه ناپاکي نه قبلوي .(احمد ، ابوداؤد ، ترمذي، نسائي ،دارمي ابن ماجه) خو د ابوداؤد په دوهم حديث کي دا منقول دي چي هغه اوبه ناپاکي نه دي .

(۴۴۰): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَنَتَوَضَّأُ مِنْ بِئْرِ بُضَاعَةَ وَهِيَ بِئْرٌ يُلْقَى فِيهَا الْحِيَضُ وَلُحُومُ الْكِلَابِ وَالنَّتْنُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَاءَ طَهُورٌ لَا يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ . رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي .

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷜ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول اې دالله رسوله! موږ د بضاعه د څاه څخه اودس کوو دا په مدينه کي يو څاه وو چيٍ په هغه کي به د حيض جامې د سپو غوښه او مرداري غورزول کېدل ، رسول الله ﷺ وفرمايل اوبه پاکي دي هغه هيڅ يو شی ناپاکه کولای نه سي . احمد ، ترمذي، ابوداؤد او نسائي .

(۴۴۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّا نَرْكَبُ الْبَحْرَ وَنَحْمِلُ مَعَنَا الْقَلِيلَ مِنَ الْمَاءِ فَإِنْ تَوَضَّأْنَا بِهِ عَطِشْنَا أَفَنَتَوَضَّأُ مِنْ مَاءِ الْبَحْرِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ الْحِلُّ مَيْتَتُهُ. رواه مالك والترمذي و ابوداؤد

د حضرت ابوهريرة ﷜ څخه روايت دی چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه اې دالله رسوله! موږ په درياب کي ځو (يعني په کښتيو کي يو) او د ځان سره لږ اوبه ورو که موږ په دې اوبو اودس وکړو نو تږي به پاته سو ايا موږ د درياب په اوبو اودس وکړو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د درياب اوبه پاکونکي دي د دې

والنسائي وابن ماجة والدارمي .

مردار (یعني مړ ماهی) حلال دی . مالك، ترمذي، ابوداؤد ، نسائي ، ابن ماجه او دارمي .

(۴۴۲): وَعَنْ اَبِيْ زَيْدٍ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ لَيْلَةَ الْجِنِّ مَا فِيْ إِدَاوَتِكَ قَالَ قُلْتُ نَبِيذٌ قَالَ تَمْرَةٌ طَيِّبَةٌ وَمَاءٌ طَهُورٌ. رواه ابوداؤد و زاد احمد والترمذي فَتَوَضَّأَ مِنْهُ، و قال الترمذي ابو زيد مجهول و صح عن علقمة عن عبدالله بن مسعود قال لم اكن ليلة الجن مع رسول الله صلى الله عليه وسلم . رواه مسلم .

حضرت ابو زید د عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ ده ته د پیریانو په شپه (په کومه شپه چي رسول الله ﷺ ته د پیریانو ډله راغلې وه) وفرمایل : ستا په پتك کي څه شي دي ؟ ما عرض وکړ د (خرما) شیره ده ، رسول الله ﷺ وفرمایل خرماوي پاکي دي او اوبه یې پاکونکي دي (ابوداؤد) احمد او ترمذي دا الفاظ هم لیکلي دي چي رسول الله ﷺ په نبیذ (د خرما شیره) باندي اودس وکړ ، ترمذي ویلي دي چي ابو زید مجهول دی او د عقلمه څخه ثابته ده چي هغه د عبدالله بن مسعود څخه نقل کړي دي چي زه د پیریانو په شپه د رسول الله ﷺ سره نه وم .مسلم

(۴۴۳): وَ عَنْ كَبْشَةَ بِنْتِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَتْ عِنْدَ ابْنِ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ دَخَلَ عَلَيْهَا فَسَكَبَتْ لَهُ وَضُوءًا فَجَاءَتْ هِرَّةٌ تَشْرَبُ مِنْهُ فَأَصْغَى لَهَا الْإِنَاءَ حَتَّى شَرِبَتْ قَالَتْ كَبْشَةُ فَرَآنِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ أَتَعْجَبِينَ يَا بِنْتَ أَخِي فَقُلْتُ نَعَمْ قَالَتْ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ إِنَّمَا هِيَ مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ أَوِ الطَّوَّافَاتِ . رواه مالك و احمد و الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة والدارمي .

د بي بي کبشة بنت کعب بن مالك څخه روایت دی او وه دا د ابوقتاده د زوی لاندي چي ابوقتاده هغې ته راغلی ما د هغه د اوداسه لپاره د اوبو لوښي ډك کړ پشي راغلل او د هغه لوښي څخه یې اوبه چښنل پیل کړل او ابو قتاده هغه لوښي کوږ کړ چي پشي په ښه ډول اوبه و چښنلې ، بي بي کبشة وایي ابو قتاده زه وليدم چي زه هغه ته گورم نو وه یې ویل زما وریرې ا ایا ته په دي تعجب کوې ؟ ما ورته وویل هو، نو هغه وویل : رسول الله ﷺ وفرمایل چي دا ناپاکه نه ده هغه ستاسو په منځ کي گرځېدونکې ده

(۴۴۴): وَعَنْ دَاوُدَ بْنِ صَالِحِ بْنِ دِينَارٍ عَنْ أُمِّهِ أَنَّ مَوْلَاتَهَا أَرْسَلَتْهَا بِهَرِيسَةٍ إِلَى عَائِشَةَ قَالَتْ فَوَجَدْتُهَا تُصَلِّيْ فَأَشَارَتْ إِلَيَّ أَنْ ضَعِيهَا فَجَاءَتْ

حضرت داؤد بن صالح بن دینار د خپل مور څخه روایت کوي چي د هغې آزادونکي د هغې په لاس بي بي عائشې ته تحفه ولیږل نو هغې بي بي

هِرَّةٌ فَأَكَلَتْ مِنْهَا فَلَمَّا انْصَرَفَتْ عَائِشَةُ مِنْ صَلَاتِهَا أَكَلَتْ مِنْ حَيْثُ أَكَلَتِ الْهِرَّةُ فَقَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجِسٍ إِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِيْنَ عَلَيْكُمْ وَانِّيْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ بِفَضْلِهَا . رواه أبو داود .

عائشة پر لمانځه ولیدل ، بي بي عائشې زما په لور اشاره وکړه چي ته دا کښېږده نو تحفه کښېښودل سول چي پیشي راغله او د تحفې څخه يې وخوړل، کوم وخت چي بي بي عائشة د لمانځه څخه فارغه سوه نو د تحفې د هغه ځای څخه يې خوراك پیل کړ د کوم ځای څخه چي پیشي خوراك کړی وو ، بیا يې وفرمایل : رسول الله ﷺ فرمایلي دي د پیشي خوړلی شی ناپاك نه دی ، پیشي په تاسو کي ګرځېدونکې ده بیا يې وويل ما رسول الله ﷺ د پیشي په پسخورده سره اودس کونکی لیدلی دی . ابوداؤد .

﴿۴۴۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَتَوَضَّأُ بِمَا أَفْضَلَتِ الْحُمُرُ ؟ قَالَ نَعَمْ وَبِمَا أَفْضَلَتِ السِّبَاعُ كُلُّهَا . رواه في شرح السنة .

د حضرت جابر ﷛ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول : ایا موږ په هغه اوبو اودس وکړو چي د خرو پسخورده وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل :هو، او د ټولو حیوانانو په پسخورده هم . شرح السنة.

﴿۴۴۶﴾: وَعَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ اغْتَسَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ وَمَيْمُوْنَةُ فِيْ قَصْعَةٍ فِيْهَا أَثَرُ الْعَجِيْنِ . رواه النسائي وابن ماجه .

د حضرت ام هانئ (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ او بي بي میمونې د لرګي د لوښي څخه غسل وکړ چي په هغه کي د اوړو اثر وو. نسائي او ابن ماجه

## دریم فصل

﴿۴۴۷﴾: عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ إِنَّ عُمَرَ خَرَجَ فِيْ رَكْبٍ فِيْهِمْ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ حَتّٰى وَرَدُوْا حَوْضًا فَقَالَ عَمْرٌو يَا صَاحِبَ الْحَوْضِ هَلْ تَرِدُ حَوْضَكَ السِّبَاعُ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ يَا صَاحِبَ الْحَوْضِ لَا تُخْبِرْنَا فَإِنَّا نَرِدُ عَلَى السِّبَاعِ وَتَرِدُ عَلَيْنَا . رواه مالك . وزاد رزين قَالَ زَادَ

د حضرت یحیی بن عبدالرحمن څخه روایت دی چي حضرت عمر ﷛ د یوې قافلې سره ولاړی چي په هغې کي عمرو بن العاص هم وو، تر دې چي یو حوض ته ورسېدل ، عمروبن العاص د حوض د خاوند څخه پوښتنه وکړل ایا ستا دا حوض ته درندګان هم راځي ، د دې په اورېدو سره حضرت

بَعْضُ الرُّوَاةِ فِيْ قَوْلِ عُمَرَ وَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَهَا مَا أَخَذَتْ فِيْ بُطُوْنِهَا وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَنَا طَهُوْرٌ وَشَرَابٌ .

عمر وفرمايل : اې د حوض خاونده د دې ښودلو ضرورت نسته ځکه چې کله موږ پر درندګانو راځو (يعني کله چې اوبو ته راځو) او کله درندګان پر موږ راځي (يعني درندګان زموږ ځخه وړاندې راځي) مالك او رزين ويلي دي ځيني راويانو په دې حديث کې د حضرت عمر په قول کې دا زياتوب کړى دى چې ما د رسول الله ﷺ ځخه داسي اوريدلي دي چې درندګان د يو شي ځخه خپل نس ډك کړي نو هغه د هغوئ دي او څه چې پاته سي هغه زموږ دي پاکونکي او د څښلو وړ دي .

(۴۴۸): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْحِيَاضِ الَّتِيْ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِيْنَةِ تَرِدُهَا السِّبَاعُ وَالْكِلَابُ وَالْحُمُرُ عَنِ الطُّهْرِ مِنْهَا فَقَالَ لَهَا مَا حَمَلَتْ فِيْ بُطُوْنِهَا وَلَنَا مَا غَبَرَ طَهُوْرٌ . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابوسعيد الخدري ؓ ځخه روايت دى چې د رسول الله ﷺ ځخه د هغو حوضو ځخه د پاکي حاصلولو په اړه پوښتنه وسول چې د مکې او مدينې په منځ کي دي او هغو ته درندګان، خرونه او سپي تول راځي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د کوم شي ځخه چې درندګان خپل نسونه ډك کړي هغه د هغوئ دي او زموږ لپاره هغه څه دي چې د هغوئ ځخه پاته سي او هغه پاکونکي دي . ابن ماجه .

(۴۴۹): وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ لَا تَغْتَسِلُوْا بِالْمَاءِ الْمُشَمَّسِ فَإِنَّهُ يُوْرِثُ الْبَرَصَ . رواه الدارقطني .

د حضرت عمر بن الخطاب ؓ ځخه روايت دى چې په لمر تودو سوو اوبو سره غسل مه کوئ ځکه چې دا برص (د پيس ناروغي) پيدا کوي . دار قطني.

# بَابُ تَطْهِيْرِ النَّجَاسَاتِ

## (د مردارېو پاکول)

### لومړی فصل

﴿۴۵۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْسِلْهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ . متفق عليه و في رواية لمسلم قال طهور اناء احدكم اذا ولغ فيه الكلب ان يغسله سبع مرات اولهن بالتراب .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي ستاسو په لوښي کي سپی اوبه و چېښي نو هغه دي اووه ځله پرېولي . بخاري او مسلم ، او د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي ستاسو د کوم لوښي څخه چي سپی اوبه و چېښي د هغه د پاکولو صورت دادی چي هغه اووه ځله پرېولئ او لومړی ځل يې په خاورو سره پرېولئ .

﴿۴۵۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَبَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَتَنَاوَلَهُ النَّاسُ فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعُوْهُ وَهَرِيْقُوْا عَلَى بَوْلِهِ سَجْلاً مِّنْ مَّاءٍ أَوْ ذَنُوْبًا مِّنْ مَّاءٍ فَإِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِيْنَ وَلَمْ تُبْعَثُوْا مُعَسِّرِيْنَ . رواه البخاري .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي صحرائي سړي په مسجد کي په ولاړي تشي بولي وکړې خلکو هغه ونیوی ، رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمایل : دی پرېږدئ او یو ستل اوبه پر بولو و بیوی تاسو پر خلکو د آسانۍ کولو لپاره رالیږل سوی یاست د سختۍ لپاره يې نه یاست رالیږل سوي . بخاري

﴿۴۵۲﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَامَ يَبُوْلُ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَهْ مَهْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُزْرِمُوْهُ دَعُوْهُ فَتَرَكُوْهُ حَتّٰى بَالَ ثُمَّ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره په مسجد کي ناست وو چي یو صحرائی سړی راغلی او ودرېدی په مسجد کي يې تشي بولي کول پیل کړل ، د رسول الله ﷺ صحابو هغه ته وویل مه کوه (مه کوه) رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : دی د تشو بولو کولو څخه مه منع کوئ پر خپل حال يې پرېږدئ چي بولي

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَاهُ فَقَالَ لَهُ إِنَّ هٰذِهِ الْمَسَاجِدَ لاَ تَصْلُحُ لِشَيْءٍ مِنْ هٰذَا الْبَوْلِ وَلاَ الْقَذَرِ إِنَّمَا هِيَ لِذِكْرِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالصَّلاَةِ وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَأَمَرَ رَجُلاً مِنَ الْقَوْمِ فَجَاءَ بِدَلْوٍ مِنْ مَاءٍ فَسَنَّهُ عَلَيْهِ . متفق عليه .

وکړي نو هغه پر خپل حال پرېښودل سو تر دې چي هغه تشي بولي وکړې، رسول الله ﷺ هغه را وغوښتی او هغه ته يې وويل : دا مسجدونه د بولو او مردارېو لپاره نه دي بلکه دا د ذکر الهي، لمونځ او قرآن کريم ويلو لپاره دي او يا لکه چي فرمايلي دي رسول الله ﷺ، حضرت انس وايي د دې وروسته رسول الله ﷺ د مسجد څخه يو سړي ته د اوبو راوړلو حکم وکړ نو هغه يو ستل اوبه راوړې او هغه يې پر هغه بولو و بيولې . بخاري اومسلم.

﴿٤٥٣﴾: وَ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَتْ سَأَلَتِ امْرَأَةٌ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِحْدَانَا إِذَا أَصَابَ ثَوْبَهَا الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ كَيْفَ تَصْنَعُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَصَابَ ثَوْبَ إِحْدَاكُنَّ الدَّمُ مِنَ الْحَيْضَةِ فَلْتَقْرُصْهُ ثُمَّ لِتَنْضَحْهُ بِمَاءٍ ثُمَّ لِتُصَلِّ فِيْهِ. متفق عليه

د حضرت اسماء بنت ابوبکر (رض) څخه روايت دی چي يوې ښځي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! هر کله چي په موږ کي د يو چا پر جامو د حيض وينه توی سي نو هغه څه وکړي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي د يو چا پر جامو د حيض وينه توی سي نو د هغه په وچېدو اول هغه په ګوتو و موږئ او بيا يې په اوبو پريولی بيا لمونځ ورسره وکړي . بخاري او مسلم .

﴿٤٥٤﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنِ الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ فَقَالَتْ كُنْتُ أَغْسِلُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَخْرُجُ إِلَى الصَّلاَةِ وَأَثَرُ الْغَسْلِ فِيْ ثَوْبِهِ . متفق عليه

د حضرت سليمان بن يسار ؓ څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشې څخه د مني په اړه پوښتنه وکړه چي پر جامو و لګيږي ، بي بي عائشې وويل : (د رسول الله ﷺ پر جامه به چي مني ولګېدل) نو ما به هغه پريولل او هغه به لانده وه چي رسول الله ﷺ به د لمانځه لپاره تشريف يووړ . بخاري او مسلم .

﴿٤٥٥﴾:وَعَنِ الْأَسْوَدِ وَهَمَّامٍ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَفْرُكُ الْمَنِيَّ مِنْ ثَوْبِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

حضرت اسود او همام د حضرت عائشې (رض) څخه روايت کوي چي ما به د رسول الله ﷺ د جامو څخه وچ مني ګرول (مسلم) او د عقلمه او اسود د

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم.وَبِرِوَايَةِ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ عَنْ عَائِشَةَ نَحْوَهُ وَفِيْهِ ثُمَّ يُصَلِّيْ فِيْهِ .

بي بي عائشې په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي چي رسول الله ﷺ به په هغه جامو سره لمونځ کاوه .

(۴۵۶): وَعَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيْرٍ لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَجْلَسَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجْرِهِ فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهِ فَدَعَا بِمَاءٍ فَنَضَحَهُ وَلَمْ يَغْسِلْهُ . متفق عليه

د حضرت ام قيس بنت محصن څخه روايت دی چي هغې خپل زوی چي دودی يې لا نه وه خوړلي (يعني تی يې رودی) رسول الله ﷺ ته بوتی. رسول الله ﷺ هغه په غيږ کي کښينوی نو هغه رسول الله ﷺ پر جامو تشي بولي وکړې رسول الله ﷺ اوبه را وغوښتلې او پر جامو يې و پاشلې او جامه يې نه پرېولل . بخاري او مسلم .

(۴۵۷):وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا دُبِغَ الْإِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ . رواه مسلم .

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل يې : هر کله چي پوست (څرمن) پوخ کړل سي يا په لمر کي وچ کړل سي نو هغه پاك سي . مسلم .

(۴۵۸): وَعَنْهُ قَالَ تُصُدِّقَ عَلَى مَوْلَاةٍ لِمَيْمُوْنَةَ بِشَاةٍ فَمَاتَتْ فَمَرَّ بِهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَلَّا أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا فَدَبَغْتُمُوْهُ فَانْتَفَعْتُمْ بِهِ فَقَالُوا إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ إِنَّمَا حَرُمَ أَكْلُهَا. متفق عليه

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روايت دی چي د بي بي ميمونې يوې آزادي سوي مينځي ته يو پسه په صدقه کي ورکړل سو هغه پسه مړ سو ، رسول الله ﷺ پر هغه خوا تيريدی نو وه يې فرمايل : تاسو به ددغه څخه پوست کښلی وای او هغه به مو رنگ کړی وای او گټه به مو ځيني اخيستي وای ، خلکو عرض وکړ دا خو مردار دی ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د دې خوراك حرام دی. بخاري او مسلم .

(۴۵۹): وَعَنْ سَوْدَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ مَاتَتْ لَنَا شَاةٌ فَدَبَغْنَا مَسْكَهَا ثُمَّ مَا زِلْنَا نَنْبِذُ فِيْهِ حَتّٰى صَارَ شَنًّا . رواه البخاري

د رسول الله ﷺ د زوجي حضرت سودة (رض) څخه روايت دی چي زموږ يو پسه مړ سو موږ د هغه پوست رنگ کړ بيا به مو تل په هغه کي نبيذ (د خرما شيره) جوړول تر دې چي هغه پوست زوړ سو .

## دوهم فصل

(۴۶۰): عَنْ لُبَابَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَتْ كَانَ الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ فِيْ حَجْرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهٖ فَقُلْتُ اَلْبَسْ ثَوْبًا وَأَعْطِنِيْ إِزَارَكَ حَتّٰى أَغْسِلَهُ قَالَ إِنَّمَا يُغْسَلُ مِنْ بَوْلِ الْأُنْثٰى وَيُنْضَحُ مِنْ بَوْلِ الذَّكَرِ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه . وفي رواية لأبي داود والنسائي عن أبي السمح قال يغسل من بول الجارية ويرش من بول الغلام .

د حضرت بي بي لبابة بنت حارث څخه روايت دی چي حضرت حسين بن علي د رسول الله ﷺ په غيږ کي وو چي هغه د رسول الله ﷺ پر جامه تشي بولي وکړې ، ما عرض وکړ تاسو بله جامه واغوندئ او لنگ ما ته راکړئ چي زه يې پريولم، رسول الله ﷺ وفرمايل : د انجلۍ د تشو بولو څخه جامه پريولئ او د هلك په تشو بولو يوازي اوبه پاشئ ، احمد، ابوداؤد، ابن ماجه، او د ابوداؤد او نسائي په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د انجلۍ تشي بولي پريولل کيږي او د هلك پر تشو بولو اوبه پاشئ .

(۴۶۱): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَطِئَ أَحَدُكُمْ بِنَعْلِهِ الْأَذٰى فَإِنَّ التُّرَابَ لَهٗ طُهُوْرٌ . رواه أبو داود : ولابن ماجه معناه .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي د يو چا څپلۍ په مردارۍ ولړل سي نو بيا به پر مځکه ولاړ سي او خاوره هغه مرداري پاکوي . ابوداؤد او ابن ماجه

(۴۶۲): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ لَهَا امْرَأَةٌ إِنِّيْ أُطِيْلُ ذَيْلِيْ وَأَمْشِيْ فِي الْمَكَانِ الْقَذِرِ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطَهِّرُهٗ مَا بَعْدَهٗ . رواه مالك وأحمد والترمذي وأبو داود والدارمي وقالا المرأة أم ولد لابراهيم ابن عبد الرحمن بن عوف .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دی چي هغې ته يوې ښځي وويل زما لمن اوږده ده او زه پر ناپاك ځاى تيريږم، بي بي ام سلمه ورته وويل رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي ددې پسي شی هغه پاکوئ (يعني خاوره يا مځکه)

(۴۶۳): وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيْ كَرِبَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لُبْسِ جُلُوْدِ السِّبَاعِ وَالرُّكُوْبِ عَلَيْهَا . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت مقدام بن معدي کرب څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ منع فرمايلې د درندگانو د پوست اغوستلو څخه او پر هغو د سپرېدو څخه يې هم منع فرمايلې ده . ابوداؤد او نسائي .

(۴۶۴): وَعَنْ أَبِي الْمَلِيْحِ بْنِ أُسَامَةَ عَنْ أَبِيْه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ جُلُوْدِ السِّبَاعِ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي وزاد الترمذي والدارمي أن تفترش .

حضرت ابو مليح بن اسامه د خپل پلار څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د پوست د استعمال څخه منع فرمايلې ده . احمد ، ابوداؤد ، نسائي ، ترمذي ، دارمي ، دارمي او ترمذي دا هم ليکلي دي چي رسول الله ﷺ د درندګانو د پوست آوارولو څخه هم منع فرمايلې ده.

(۴۶۵): وَعَنْ أَبِي الْمَلِيْحِ أَنَّهُ كَرِهَ ثَمَنَ جُلُوْدِ السِّبَاعِ . رواه الترمذي في اللباس من جامعه وسنده جيد.

د حضرت ابومليح څخه روايت دی چي هغه به د درندګانو د پوست قيمت بد ګڼی . ترمذي

(۴۶۶): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُكَيْمٍ قَالَ أَتَانَا كِتَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لاَّ تَنْتَفِعُوْا مِنَ الْمَيْتَةِ بِإِهَابٍ وَلاَ عَصَبٍ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي وابن ماجه .

د حضرت عبدالله بن عکيم ؓ څخه روايت دی چي موږ ته د رسول الله ﷺ ليک راغلی (په هغه کي ليکلي وه) تاسو د مردار د پوست څخه ګټه مه اخلئ او نه د هغه د پلو څخه . ترمذي ، ابوداؤد ، نسائي او ابن ماجه.

(۴۶۷): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ أَنْ يُسْتَمْتَعَ بِجُلُوْدِ الْمَيْتَةِ إِذَا دُبِغَتْ . رواه مالك وأبو داود .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مردار حيوان د پوست څخه هغه وخت ګټه اخيستل کيدای سي چي هغه پوخ کړل سي

(۴۶۸): وَعَنْ مَيْمُوْنَةَ قَالَتْ مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِجَالٌ مِّنْ قُرَيْشٍ يَجُرُّوْنَ شَاةً لَهُمْ مِثْلَ الْحِمَارِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا قَالُوْا إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطَهِّرُهَا الْمَاءُ وَالْقَرَظُ . رواه أحمد وأبو داود .

د حضرت ميمونه څخه روايت دی چي د قريشو يو ډلي خپل يو (مړ) پسه دا ډول را کشوئ لکه خر چي را کشول کيږي ، رسول الله ﷺ هغو ته وفرمايل : کاش تاسو ددې څخه پوست وکاږئ ، خلکو ورته وويل : دا خو مردار دی، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اوبه او د کيکر(بانك) پاڼي دا پاکوي . (يعني په ايشولو سره د مردار شي پوست پاکيږي) . احمد او ابوداؤد .

(۴۶۹): وَعَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْمُحَبَّقِ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ عَلٰى بَيْتٍ فَإِذَا قِرْبَةٌ مُعَلَّقَةٌ فَسَأَلَ الْمَاءَ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ دِبَاغُهَا طُهُوْرُهَا . رواه أحمد وأبو داود .

د حضرت سلمه بن محبق څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د تبوك په غزا کي یو کور ته تشریف یوړ ناڅاپه رسول الله ﷺ هلته یو زړېدلی ژی ولیدی رسول الله ﷺ هغه وغوښتی ، خلکو عرض وکړ اې د الله رسوله ! دا خو د مړه حیوان پوست دی، رسول الله ﷺ وفرمایل : ایشول ددې پاکونکی دی.احمد او ابوداؤد .

## دریم فصل

(۴۷۰): وَعَنِ امْرَأَةٍ مِّنْ بَنِيْ عَبْدِ الْأَشْهَلِ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ لَنَا طَرِيْقًا إِلَى الْمَسْجِدِ مُنْتِنَةً فَكَيْفَ نَفْعَلُ إِذَا مُطِرْنَا قَالَتْ فَقَالَ أَلَيْسَ بَعْدَهَا طَرِيْقٌ هِيَ أَطْيَبُ مِنْهَا قُلْتُ بَلٰى قَالَ فَهٰذِهِ بِهٰذِهِ . رواه أبو داود

د بنو عبدالاشهل د یوې ښځي څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! د مسجد په لور چي کومه لار ده هغه مرداره ده هر کله چي پر موږ باران اوریږي نو موږ څه وکړو ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا ددې څخه پرته بله پاکه لار نسته ؟ ما عرض وکړ چي هو، سته، رسول الله ﷺ وفرمایل نو دا پاکه لار د مرداري لاري په بدل کي ده . ابوداؤد .

(۴۷۱): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّيْ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نَتَوَضَّأُ مِنَ الْمَوْطِئِ . رواه الترمذي .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره لمونځ کاوه او د لوڅو پښو ګرځېدو وروسته به مو اودس نه کاوه.ترمذي.

(۴۷۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَتِ الْكِلَابُ تُقْبِلُ وَتُدْبِرُ فِي الْمَسْجِدِ فِيْ زَمَانِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرُشُّوْنَ شَيْئًا مِّنْ ذٰلِكَ .
رواه البخاري

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي به سپیان مسجد ته دننه تلل او راتلل، او د هغوئ د تګ راتګ له کبله صحابه کرامو مسجد نه پرېولی. بخاري.

(۴۷۳): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا بَأْسَ بِبَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ .

د حضرت براء ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د کوم حیوان غوښه چي خوړل

وفي رواية جابر قَالَ مَا أُكِلَ لَحْمُهُ فَلاَ بَأْسَ بِبَوْلِهِ . رواه أحمد والدارقطني .

کیږي د هغه د بولو هیڅ پروا نسته او د جابر په یوه روایت کې دا الفاظ دي هغه حیوان چې د هغه غوښه خوړل کیږي د هغه د بولو څخه هیڅ پروا نسته . احمد او دار قطني .

# بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

## (پر موزو د مسح بیان)

## لومړی فصل

(٤٧٤): عَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ قَالَ سَأَلْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِب عَنِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقَالَ جَعَلَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيمِ . رواه مسلم

د حضرت شریح بن هانئ ﷺ څخه روایت دی چې ما د حضرت علي ﷺ څخه پر موزو د مسح په اړه پوښتنه وکړه ، حضرت علي ﷺ وویل رسول الله ﷺ (پر موزو د مسح) وخت ټاکلی دی ، د مسافر لپاره درې ورځې او درې شپې او د مقیم لپاره یوه ورځ او شپه . مسلم

(٤٧٥): وَعَنِ الْمُغِيرَةَ ابْنِ شُعْبَةَ أَنَّهُ غَزَا مَعَ رَسُولِ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزوَةَ تَبُوكَ قَالَ الْمُغِيرَةُ فَتَبَرَّزَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ الْغَائِط فَحَمَلْتُ مَعَهُ إِدَاوَةً قَبْلَ الْفَجْرِ فَلَمَّا رَجَعَ اَخَذْتُ أُهَرِيقُ عَلَى يَدَيْهِ مِنَ الْإِدَاوَةِ فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَ وَجْهَهُ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ مِّنْ صُوْف ذَهَبَ يَحْسِرُ عَنْ ذِرَاعَيْهِ فَضَاقَ كُمُّ الْجُبَّةِ فَاَخرَجَ يَدَيْهِ مِنْ تَحْتِ الْجُبَّةِ وَاَلْقَىٰ الْجُبَّةَ عَلَى مَنْكِبَيْهِ وَغَسَلَ ذِرَاعَيْهِ ثُمَّ مَسَحَ بِنَاصِيَتِهِ وَعَلَى الْعِمَامَةِ ثُمَّ اَهْوَيْتُ لِاَنْزِعَ خُفَّيْهِ فَقَالَ دَعْهُمَا فَإِنِّي اَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا ثُمَّ رَكِبَ وَرَكِبْتُ فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَوْمِ وَقَدْ قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ وَ يُصَلِّي بِهِمْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ

د حضرت مغیرة بن شعبة ﷺ څخه روایت دی چې دی د رسول الله ﷺ سره د تبوك په غزا کې ملګری وو، د سهار څخه مخکې رسول الله ﷺ د حاجت لپاره ولاړی ما د رسول الله ﷺ لپاره د اوبو پتك یووړ کوم وخت چې رسول الله ﷺ راستون سو نو ما د رسول الله ﷺ په لاسو کې د پتك څخه اوبه اچول پیل کړل، رسول الله ﷺ دواړه لاسونه او مخ پریولل دا وخت رسول الله ﷺ د وړی چپنه اغوستې وه رسول الله ﷺ د چپنې لستوني را ونغښتل او لاسونه یې را ایستل غوښتل مګر لستوني تنګ وه پورته نه سول، رسول الله ﷺ د چپنې څخه لاسونه را وایستل ا و چپنه یې پر اوږو واچول او لاسونه یې تر څنګلو پوري

عَوْف وَقَدْ رَكَعَ بِهِمْ رَكْعَةً فَلَمَّا أَحَسَّ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ فَأَدْرَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ مَعَهُ فَلَمَّا سَلَّمَ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقُمْتُ مَعَهُ فَرَكَعْنَا الرَّكْعَةَ الَّتِي سَبَقَتْنَا. رواه مسلم

پريولل بيا رسول الله ﷺ پر تندي او لنگوټې مسح وکړل ما و غوښتل چي د رسول الله ﷺ د پښو مبارکو موزې وکاږم چي رسول الله ﷺ پښې پريولي، رسول الله ﷺ وفرمايل : موزې پرېږده ځکه چي ما د اودس کولو ځخه وروسته دا په پښو کړي دي ، رسول الله ﷺ پر دواړو موزو مسح وکړه بيا سپور سو او زه هم سپور سوم او موږ يو مسجد ته ورسيدلو هغه خلکو دا وخت لمانځ کاوه او عبدالرحمن بن عوف هغو ته لمونځ ورکاوه هغو يو رکعت کړی وو هر کله چي هغه ته محسوسه سوه چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ نو اراده يې وکړه چي را شا ته سي مگر رسول الله ﷺ پر خای د قائم پاته کېدو اشاره ورته وکړه او رسول الله ﷺ په هغه پسي يو رکعت لمونځ وکړ بيا چي هغه سلام وگرزوی نو نبي کريم ﷺ ودرېدی او زه هم د رسول الله ﷺ سره ولاړ سوم او کوم رکعتونه چي تير سوي وه هغه مو پوره کړل . مسلم .

## دوهم فصل

(۴۷۶): عَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ رَخَّصَ لِلْمُسَافِرِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ وَلِلْمُقِيْمِ يَوْمًا وَلَيْلَةً إِذَا تَطَهَّرَ فَلَبِسَ خُفَّيْهِ أَنْ يَّمْسَحَ عَلَيْهِمَا . رواه الأثرم في سننه وابن خزيمة والدارقطني وقال الخطابي هو صحيح الإسناد هكذا في المنتقى .

حضرت ابوبکرة د رسول الله ﷺ ځخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ درې ورځې او درې شپې مسافر او يوه ورځ او شپه مقيم ته اجازه ورکړې ده چي اودس وکړي او موزې يې په پښه کړي وي نو پر دواړو موزو دي مسح وکړل‌سي .

(۴۷۷): وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا اِذَا كُنَّا سَفْرًا اَنْ لَّا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ اِلَّا مِنْ جَنَابَةٍ وَلٰكِنْ مِّنْ غَائِطٍ وَّ بَوْلٍ وَّ نَوْمٍ . رواه الترمذي والنسائي .

د حضرت صفوان بن عسال ﷺ ځخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په سفر کي موږ ته حکم کاوه چي تردرو ورځو او درو شپو پوري خپلې موزې د پښو ځخه مه کاږئ پرته د دې ځخه چي ناپاکه سئ او غسل در باندي واجب سي مگر د تشو بولو ، ډکو بولو او خوب ځخه وروسته د موزو کښلو ضرورت نسته . ترمذي او نسائي .

| | |
|---|---|
| ﴿۴۷۸﴾: وَعَنِ الْمُغِيْرَةَ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ وَضَّأْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ فَمَسَحَ أَعْلَى الْخُفِّ وَأَسْفَلَهُ . رواه أبو داود والترمذی وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث معلول وسألت أبا زرعة ومحمدا يعني البخاري عن هذا الحديث فقالا ليس بصحيح . وكذا ضعفه أبو داود. | د حضرت مغيرة بن شعبة ښځه روايت دی چې د تبوك د غزا په ورځ ما رسول الله ﷺ ته د اوداسه لپاره اوبه وراچولې رسول الله ﷺ د موزو سربيره او لاندې مسح وکړل، ابوداؤد ،ترمذي، ابن ماجه، ترمذي ويلي دي دا حديث معلول دی او ما د ابوذرعه او محمد يعني بخاري ښځه ددې |

حديث حال معلوم کړ نو هغه وويل صحيح نه دی او داسې ابوداؤد هم دې ته ضعيف ويلي دي.

| | |
|---|---|
| ﴿۴۷۹﴾: وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ عَلَى ظَاهِرِهِمَا . رواه الترمذي وأبو داود . | د حضرت مغيره بن شعبه ښځه روايت دی چې ما رسول الله ﷺ وليدی چې د موزو سربيره يې مسح وکړل. ترمذي او ابوداؤد. |
| ﴿۴۸۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَسَحَ عَلَى الْجَوْرَبَيْنِ وَالنَّعْلَيْنِ . رواه أحمد والترمذي وأبو داود وابن ماجه . | د حضرت مغيره بن شعبه ښځه روايت دی چې رسول الله ﷺ اودس وکړ او پر جورابو او څپليو باندې يې مسح وکړه . احمد، ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه. |

## دريم فصل

| | |
|---|---|
| ﴿۴۸۱﴾: عَنِ الْمُغِيْرَةَ قَالَ مَسَحَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ نَسِيْتَ ؟ قَالَ بَلْ أَنْتَ نَسِيْتَ بِهٰذَا أَمَرَنِيْ رَبِّيْ عَزَّ وَجَلَّ . رواه احمد وأبو داود . | د حضرت مغيرة ښځه روايت دی چې رسول الله ﷺ پر موزو مسح وکړل ، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا ستاسو هير سول! رسول الله ﷺ وفرمايل : نه، بلکه ستا ښځه هير سول زما رب ما ته ددې حکم راکړی دی. احمد او ابوداؤد. |
| ﴿۴۸۲﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ قَالَ لَوْ كَانَ الدِّيْنُ بِالرَّأْيِ لَكَانَ أَسْفَلُ الْخُفِّ أَوْلَى بِالْمَسْحِ مِنْ أَعْلَاهُ وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ عَلَى ظَاهِرِ خُفَّيْهِ. رواه أبو داود للدارمي معناه . | د حضرت علي ښځه روايت دی که چيري دين پر رايه باندې وای نو د موزو د سربيره مسح کولو ښځه به د موزو لاندې مسح کول غوره وای، حال دا چې ما خپله وليدل چې رسول الله ﷺ به د موزو سربيره مسح کول. ابوداؤد. |

# بَابُ التَّيَمُّمِ (د تيمم بيان)

## لومړی فصل

(۴۸۳): عَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُضِّلْنَا عَلَى النَّاسِ بِثَلَاثٍ جُعِلَتْ صُفُوفُنَا كَصُفُوفِ الْمَلَائِكَةِ وَجُعِلَتْ لَنَا الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدًا وَجُعِلَتْ تُرْبَتُهَا لَنَا طَهُورًا إِذَا لَمْ نَجِدِ الْمَاءَ. رواه مسلم.

د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: موږ ته تر نورو امتونو په درو شيانو کي فضيلت راکړل سوی دی ۱: يو خو دا چي ز موږ صفونه د ملائکو د صفو په ډول جوړ سوي دي ۲: دوهم ټوله مځکه زموږ لپاره مسجد گرزول سوې ده ۳: دريم د مځکي خاوره زموږ لپاره پاکونکې گرزول سوې ده کوم وخت چي اوبه پيدا نه کړو. مسلم.

(۴۸۴): وَعَنْ عِمْرَانَ قَالَ كُنَّا فِيْ سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ فَلَمَّا انْفَتَلَ مِنْ صَلٰوتِهِ اِذَا هُوَ بِرَجُلٍ مُعْتَزِلٍ لَمْ يُصَلِّ مَعَ الْقَوْمِ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ يَا فُلَانُ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَ الْقَوْمِ قَالَ اَصَابَتْنِيْ جَنَابَةٌ وَ لَامَاءَ قَالَ عَلَيْكَ بِالصَّعِيْدِ فَإِنَّهُ يَكْفِيْكَ. متفق عليه

د حضرت عمران ﷺ څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو رسول الله ﷺ خلکو ته لمونځ ورکړ کله چي د لمانځه څخه فارغ سو نو نا څاپه يې يو سړی وليدی چي يوازي ناست وو او هغه د خلکو سره لمونځ نه وو کړی رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل: اي فلانه! تا د خلکو سره لمونځ ولي نه وکړ؟ هغه وويل زه ناپاك وم او د غسل لپاره اوبه نه وې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: نو ستا لپاره خاوره بس وه (يعني تيمم پکار وو). بخاري او مسلم.

(۴۸۵): وَعَنْ عَمَّارٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلٰى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَقَالَ إِنِّيْ أَجْنَبْتُ فَلَمْ أُصِبِ الْمَاءَ فَقَالَ عَمَّارٌ لِعُمَرَ أَمَا تَذْكُرُ أَنَّا كُنَّا فِيْ سَفَرٍ أَنَا وَأَنْتَ فَأَمَّا أَنْتَ فَلَمْ تُصَلِّ وَأَمَّا أَنَا فَتَمَعَّكْتُ فَصَلَّيْتُ فَذَكَرْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيْكَ هٰكَذَا فَضَرَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَفَّيْهِ

د حضرت عمار ﷺ څخه روايت دی چي يو سړی حضرت عمر ﷺ ته راغلی او عرض يې وکړ چي زه ناپاکه سوی يم او اوبه نسته، عمار وايي ما حضرت عمر ته وويل ايا ستاسو هغه پېښه په ياد ده کوم وخت چي موږ په سفر کي وو يعني زه او ته دواړه جنب سوي وو تاسو خو لمونځ نه وکړ خو زه پر خاوره و لغړېدم او لمونځ مي وکړ بيا ما

الْأَرْضَ وَنَفَخَ فِيهِمَا ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ وَكَفَّيْهِ . رواه البخاري ولمسلم نحوه وفيه قال إنما يكفيك أن تضرب بيديك الأرض ثم تنفخ ثم تمسح بهما وجهك وكفيك .

رسول الله ﷺ ته د دې یادونه وکړه رسول الله ﷺ وفرمایل تا ته دا بس وه او نبي کریم ﷺ پر مځکه دواړه لاسونه ووهل او لاسونه یې پوه کړل بیا یې دواړه لاسونه پر مخ او لاسونو را تیر کړل . (بخاري) او د مسلم په یوه روایت کې آخري الفاظ دادي چې رسول الله ﷺ وفرمایل : ستا لپاره دا بس وه چې دواړه لاسونه دې پر مځکه وهلي وای بیا دې پوه کړي وای او بیا دې هغه پر خپل مخ او لاسو را تیر کړي وای .

(۴۸۶): وَعَنْ أَبِي الْجُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ قَالَ مَرَرْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَبُولُ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ حَتَّى قَامَ إِلَى جِدَارٍ فَحَتَّهُ بِعَصًى كَانَتْ مَعَهُ ثُمَّ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى الْجِدَارِ فَمَسَحَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَيَّ . ولم أجد هذه الرواية في الصحيحين ولا في كتاب الحميدي ولكن ذكره في شرح السنة وقال هذا حديث حسن .

د حضرت ابو الجهیم بن الحارث بن الصمة ؓ څخه روایت دی چې زه د رسول الله ﷺ سره نژدې تیر سوم چې هغه تشي بولي کولې ما ورته سلام ادا کړ خو هغه جواب رانه کړ تر دې چې رسول الله ﷺ ودرېدی او په لکړه سره یې دیوال و ګروه او خپل دواړه لاسونه یې پر دیوال کښېښودل او پر مخ او لاسونو یې دواړه لاسونه تیر کړل بیا یې زما د سلام جواب راکړ ، (په بخاري او مسلم کې دا روایت ما پیدا نه کړ او نه مې په کتاب حمیدي کې ولیدی البته په شرح السنة کې ذکر دی او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن دی).

## دوهم فصل

(۴۸۷): عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الصَّعِيْدَ الطَّيِّبَ وَضُوْءُ الْمُسْلِمِ وَإِنْ لَّمْ يَجِدِ الْمَاءَ عَشْرَ سِنِيْنَ فَإِذَا وَجَدَ الْمَاءَ فَلْيَمَسَّهُ بَشَرَهُ فَإِنَّ ذٰلِكَ خَيْرٌ . رواه أحمد والترمذي وأبو داود . وروى النسائي نحوه إلى قوله عشر سنين .

دحضرت ابو ذر ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : که مسلمان لس کاله اوبه تر لاسه نه کړي نو خاوره دده لپاره پاکونکې ده هر کله چې اوبه پیدا کړي نو په هغه سره دې بدن پریولي او دا غوره ده .

(۴۸۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجْنَا فِيْ سَفَرٍ فَأَصَابَ رَجُلاً مِّنَّا حَجَرٌ فَشَجَّهُ فِيْ رَأْسِهِ فَاحْتَلَمَ فَسَأَلَ

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چې موږ په سفر ووتلو او په موږ کې یو سړی پر ډبري

أَصْحَابَهُ هَلْ تَجِدُوْنَ لِيْ رُخْصَةً فِي التَّيَمُّمِ قَالُوْا مَا نَجِدُ لَكَ رُخْصَةً وَأَنْتَ تَقْدِرُ عَلَى الْمَاءِ فَاغْتَسَلَ فَمَاتَ فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُخْبِرَ بِذٰلِكَ فَقَالَ قَتَلُوْهُ قَتَلَهُمُ اللهُ أَلاَ سَأَلُوْا إِذْ لَمْ يَعْلَمُوْا فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعَيِّ السُّوَالُ إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيْهِ أَنْ يَّتَيَمَّمَ وَيَعْصِبَ عَلَى جُرْحِهِ خِرْقَةً ثُمَّ يَمْسَحُ عَلَيْهَا وَيَغْسِلُ سَائِرَ جَسَدِهِ . رواه أبو داود . ورواه ابن ماجه عن عطاء بن أبي رباح عن ابن عباس .

ولګېدی او د هغه سر زخمي سو بيا احتلام ورته پېښ سو هغه د خپلو ملګرو څخه پوښتنه وکړه چي په داسي حالت کي تيمم جائز دی؟ هغوئ ورته وويل په داسي حالت کي چي ته اوبه استعمالولای سې موږ ستا لپاره د تيمم کوم جواز نه وينو، هغه غسل وکړ او مړ سو ، کله چي موږ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او ددې پېښي خبر مو ورکړی نو رسول الله ﷺ وفرمايل :خلکو هغه مړ کړی الله دي هغوئ ووژني کومه خبره چي هغوئ ته څرګنده نه وه نوهغوئ ولي معلومه نه کړه د ناپوهۍ د ناروغۍ علاج پوښتنه کول دي ، يقينا د هغه لپاره تيمم جائز وو او د غسل کولو په صورت کي هغه ته پکار وه چي هغه د خپل زخم پر پټۍ مسح کړې وای او تول بدن يې پرېولی وای .

(۴۸۹): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ رَجُلَانِ فِيْ سَفَرٍ فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ وَلَيْسَ مَعَهُمَا مَاءٌ فَتَيَمَّمَا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَصَلَّيَا ثُمَّ وَجَدَا الْمَاءَ فِي الْوَقْتِ فَأَعَادَ أَحَدُهُمَا الصَّلَاةَ بِوُضُوْءٍ وَلَمْ يُعِدِ الْآخَرُ ثُمَّ أَتَيَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ فَقَالَ لِلَّذِيْ لَمْ يُعِدْ أَصَبْتَ السُّنَّةَ وَأَجْزَأَتْكَ صَلَاتُكَ وَقَالَ لِلَّذِيْ تَوَضَّأَ وَأَعَادَ لَكَ الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ . رواه أبو داود والدارمي وروى النسائي نحوه . وقد روى هو وأبو داود أيضا عن عطاء بن يسار مرسلا .

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت دی چي دوه کسان په سفر روان سول د لمانځه وخت سو او د هغوئ سره اوبه نه وې دواړو په پاکه خاوره تيمم وکړ او لمونځ يې ادا کړ بيا يې په همدغه وخت کي دننه اوبه پيداکړې په هغوئ کي يوه اودس وکړ او لمونځ يې دوهم ځل وکړ او دوهم کس ونه کړ ، بيا هغوئ دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او پېښه يې بيان کړل ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : چا چي لمونځ دوهم ځل نه وو کړی هغه ته يې وفرمايل تاپه سنت عمل وکړ او ستا لمونځ صحيح سو او چا چي اودس او لمونځ دوهم ځل وکړ هغه ته يې وفرمايل : تا ته به دوچنده ثواب درکړل سي .(ابوداؤد)

## دریم فصل

| | |
|---|---|
| (۴۹۰): عَنْ اَبِي الْجُهَيْمِ ابْنِ الْحَارِثِ بْنِ الصِّمَّةِ قَالَ أَقْبَلَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نَحْوِ بِئْرِ جَمَلٍ فَلَقِيَهُ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ حَتَّى أَقْبَلَ عَلَى الْجِدَارِ فَمَسَحَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ ثُمَّ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ . متفق عليه . | د حضرت ابوالجهیم بن الحارث بن الصمة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د جمل د څاه په لور تشریف راوړ او دده مبارك سره یو سړی مخامخ سو او سلام یې وکړ مگر رسول الله ﷺ د هغه د سلام جواب ور نه کړ تر دې چي رسول الله ﷺ یو دیوال ته ورغلی او پر خپل مخ او لاسو یې مسح (تیمم) وکړل او بیا یې د سلام جواب ورکړ. |

| | |
|---|---|
| (۴۹۱): وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّهُمْ تَمَسَّحُوْا وَهُمْ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالصَّعِيْدِ لِصَلَاةِ الْفَجْرِ فَضَرَبُوْا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيْدَ ثُمَّ مَسَحُوْا بِوُجُوْهِهِمْ مَسْحَةً وَاحِدَةً ثُمَّ عَادُوْا فَضَرَبُوْا بِأَكُفِّهِمُ الصَّعِيْدَ مَرَّةً أُخْرٰى فَمَسَحُوْا بِأَيْدِيْهِمْ كُلِّهَا إِلَى الْمَنَاكِبِ وَالْآبَاطِ مِنْ بُطُوْنِ أَيْدِيْهِمْ . رواه أبو داود . | د حضرت عمار بن یاسر ﷺ څخه روایت دی چي صحابه کرام سره یو ځای وه هغوئ د سهار د لمانځه لپاره پر پاکه خاوره تیمم وکړ هغوئ خپل دواړه لاسونه په خاوره ووهل او پر خپل مخو یې یو ځل مسح وکړه بیا یې دوهم ځل پر خاوره لاس ووهی او د لاسونو مسح یې وکړه یعني د دواړو لاسونو تر اوږو پوري او په بغلو کي یې خپل لاسونه ور دننه کړل. ابوداؤد. |

## بَابُ الْغُسْلِ الْمَسْنُوْنِ . (د سنت غسل بیان)

## لومړی فصل

| | |
|---|---|
| (۴۹۲): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ. متفق عليه . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي په تاسو کي یو څوك د جمعې د لمانځه لپاره راځي نو هغه ته پکار دي چي اول غسل وکړي. بخاري او مسلم. |

| | |
|---|---|
| (۴۹۳): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ | د حضرت ابوسعید الخدري ﷺ څخه روایت دی |

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغُسْلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُحْتَلِمٍ . متفق عليه.

چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د جمعې په ورځ غسل پر هر بالغ سړي واجب دی . بخاري او مسلم

(۴۹۴): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقٌّ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ أَنْ يَغْتَسِلَ فِي كُلِّ سَبْعَةِ أَيَّامٍ يَغْسِلُ فِيْهِ رَأْسَهُ وَجَسَدَهُ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د هر مسلمان لپاره ضروري ده چي هغه په هره اوومه ورځ غسل وکړي چي په هغه کي سر او بدن پریولي .

## دوهم فصل

(۴۹۵): عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعْمَتْ وَمَنِ اغْتَسَلَ فَالْغُسْلُ أَفْضَلُ . رواه أحمد وأبو داود والترمذي والنسائي والدارمي .

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم چا چي د جمعې په ورځ اودس وکړ هغه فرض ادا کړل او دا ډیر ښه فرض دی او چا چي غسل وکړ نو غسل غوره دی . احمد ،ابوداؤد ،ترمذي،نسائي او دارمي.

(۴۹۶): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَسَّلَ مَيِّتًا فَلْيَغْتَسِلْ . رواه ابن ماجه، وزاد أحمد والترمذي وأبو داود وَمَنْ حَمَلَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي مړي ته غسل ورکړ نو هغه ته پکار دي چي هغه خپله هم غسل وکړي .(ابن ماجه) احمد ، ترمذي او ابوداؤد دا الفاظ زيات ليکلي دي او څوك چي مړی پورته کړي هغه دي اودس وکړي. ابن ماجه .

(۴۹۷): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنْ أَرْبَعٍ مِنَ الْجَنَابَةِ وَ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَمِنَ الْحِجَامَةِ وَمِنْ غُسْلِ الْمَيِّتِ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د څلورو وجو څخه غسل فرمايه ۱: د جنابت څخه ۲:د جمعې په ورځ ۳: د ښکر لګولو په وجه ۴: مړي ته د غسل ورکولو له کبله . ابوداؤد.

(۴۹۸): وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عَاصِمٍ أَنَّهُ أَسْلَمَ فَأَمَرَهُ

د حضرت قيس بن عاصم ﷺ څخه روايت دی چي

النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَّغْتَسِلَ بِمَاءٍ وَّسِدْرٍ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي .

هغه مسلمان سو نو رسول الله ﷺ هغه ته دا حکم ورکړ چي هغه دي د بيرو په پاڼو او اوبو سره غسل وکړي . ترمذي ، ابوداؤد او نسائي

## دريم فصل

(٤٩٩): عَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّ نَاسًا مِّنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ جَاءُوْا فَقَالُوْا يَا ابْنَ عَبَّاسٍ أَتَرَى الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبًا قَالَ لاَ وَلٰكِنَّهُ أَطْهَرُ وَخَيْرٌ لِّمَنِ اغْتَسَلَ وَمَنْ لَّمْ يَغْتَسِلْ فَلَيْسَ عَلَيْهِ بِوَاجِبٍ . وَسَأُخْبِرُكُمْ كَيْفَ بَدْءُ الْغُسْلِ كَانَ النَّاسُ مَجْهُوْدِيْنَ يَلْبَسُوْنَ الصُّوْفَ وَيَعْمَلُوْنَ عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ وَكَانَ مَسْجِدُهُمْ ضَيِّقًا مُقَارِبَ السَّقْفِ إِنَّمَا هُوَ عَرِيْشٌ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ يَوْمٍ حَارٍ وَعَرِقَ النَّاسُ فِيْ ذٰلِكَ الصُّوْفِ حَتّٰى ثَارَتْ مِنْهُمْ رِيَاحٌ اٰذٰى بِذٰلِكَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا . فَلَمَّا وَجَدَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الرِّيْحَ قَالَ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِذَا كَانَ هٰذَا الْيَوْمُ فَاغْتَسِلُوْا وَلْيَمَسَّ أَحَدُكُمْ أَفْضَلَ مَا يَجِدُ مِنْ دُهْنِهِ وَطِيْبِهِ . قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ ثُمَّ جَاءَ اللّٰهُ بِالْخَيْرِ وَلَبِسُوْا غَيْرَ الصُّوْفِ وَكُفُوا الْعَمَلَ وَوُسِّعَ مَسْجِدُهُمْ وَذَهَبَ بَعْضُ الَّذِيْ كَانَ يُؤْذِيْ بَعْضُهُمْ بَعْضًا مِنَ الْعَرَقِ . رواه أبو داود .

د حضرت عکرمه ؓ څخه روايت دی چي د عراق خلك راغلل او ابن عباس ته يې وويل چي ستاسو په نزد د جمعې په ورځ غسل کول واجب دي؟ ابن عباس ورته وويل :يا، مګر ډير پاکونکی دی اوکوم څوك چي غسل وکړي د هغه لپاره غوره ده او څوك چي غسل ونه کړي نو پر هغه واجب نه دی او زه دا درته ښيم چي د(جمعې) د غسل پيل څنګه وسو خيني غريبو خلکو به په هغه زمانه کي د وړی جامې اغوستلې او پر شا به يې شيان وړل د هغوئ مسجد تنګ وو او د مسجد بامونه کښته وه يعني ديوالونه يې جګ نه وه بامونه يې د خرماوو د څانګو وو ، يوه ورځ د جمعې په ورځ چي سخته ګرمي وه نبي کريم ﷺ تشريف راوړ خلك د هغه وړی له کبله په خولو کي لانده وه د هغو څخه بوی خپور سو چي خيني خلکو ته تکليف ورسيدی هر کله چي رسول الله ﷺ ته بوی راغلی نو رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل : هر کله چي د جمعې ورځ سي نو تاسو غسل کوئ او پکار ده چي په تاسو کي هر يو د غسل کولو څخه وروسته ښه تيل او خوشبويي استعمال کړي ، ابن عباس وايي د دې وروسته الله تعالی خلکو ته شتمني ورکړه او دخلکو د وړی پر ځای ښه جامې واغوستلې د سختو کارونو څخه خلاص سول او مسجدونه پراخ سول او د خولو له کبله چي کوم تکليف خلکو ته رسيدی د هغو څخه ډير امن تر لاسه سو . ابوداؤد .

# بَابُ الْحَيْضِ (د حيض بيان)

## لومړی فصل

(۵۰۰): وَعَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ أَنَّ الْيَهُودَ كَانُوا إِذَا حَاضَتِ الْمَرْأَةُ فِيهِمْ لَمْ يُؤَاكِلُوهَا وَلَمْ يُجَامِعُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ فَسَأَلَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّبِيَّ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى : وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُوا النِّسَاءَ فِي الْمَحِيضِ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصْنَعُوا كُلَّ شَيْءٍ إِلاَّ النِّكَاحَ فَبَلَغَ ذَلِكَ الْيَهُودَ فَقَالُوا مَا يُرِيدُ هَذَا الرَّجُلُ أَنْ يَدَعَ مِنْ أَمْرِنَا شَيْئًا إِلاَّ خَالَفَنَا فِيهِ فَجَاءَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ فَقَالاَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ الْيَهُودَ يَقُولُ كَذَا وَكَذَا أَفَلاَ نُجَامِعُهُنَّ فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنْ قَدْ وَجَدَ عَلَيْهِمَا فَخَرَجَا فَاسْتَقْبَلَهُمَا هَدِيَّةٌ مِنْ لَبَنٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَرْسَلَ فِي آثَارِهِمَا فَسَقَاهُمَا فَعَرَفَا أَنْ لَمْ يَجِدْ عَلَيْهِمَا . رواه مسلم .

د حضرت انس ابن مالك ﷺ څخه روايت دی چي په يهودو كي به كله يوه ښځه حائضه سوه نو هغو خلكو به خوراك او څښاك نه ورسره كاوه او نه به يې په خپلو كورو كي يوځای كولې ، د رسول الله ﷺ صحابه كرامو د رسول الله ﷺ څخه د حائضې ښځي حكم و پوښتی نو الله تعالى دا آيت نازل كړ : وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ الخ . (اې پيغمبره خلك ستاسو څخه د حيض د حكم پوښتنه كوي ....) (د دې آيت په نازلېدو سره ) رسول الله ﷺ وفرمايل : د حائضې ښځي سره تاسو هر څه كوئ خو جماع (كوروالي) مه ورسره كوئ، تولو يهودو ته دا خرگنده سوه نو هغوئ وويل دا سړی چي زموږ كوم ديني امر ته متوجه سي نو په هغه كي ضرور زموږ مخالفت كوي، نو اسيد بن حضير او عباد بن بشر دواړه راغلل او عرض يې وكړ اې د الله رسوله ! يهود داسي داسي وايي ايا اوس موږ د هغوئ سره نه كېنينو ، د دې په اورېدو سره د رسول الله ﷺ د مخ مبارك رنگ بدل سو تر دې چي موږ دا خيال وكړ چي رسول الله ﷺ ددغه دوو كسانو څخه خفه سو نو هغه دواړه كسان د باندي ووتل نو هغوئ دواړو وليدل چي نبي كريم ﷺ ته په يوه لوښي كي د شېدو تحفه راوړل سوې ده رسول الله ﷺ هغوئ د راغوښتلو لپاره يو بل سړی ولېږه كوم وخت چي هغوئ راغلل نو د واړو ته يې شېدې وركړې بيا هغه خلك پوه سول چي رسول الله ﷺ نا راض نه وو . مسلم .

(۵۰۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَّاحِدٍ وَكِلَانَا جُنُبٌ وَكَانَ يَأْمُرُنِيْ فَأَتَّزِرُ فَيُبَاشِرُنِيْ وَأَنَا حَائِضٌ وَكَانَ يُخْرِجُ رَأْسَهُ إِلَيَّ وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فَأَغْسِلُهُ وَأَنَا حَائِضٌ .متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې ما او رسول الله ﷺ به د یوه لوښي څخه غسل کاوه او مونږ دواړه به جنب وو او رسول الله ﷺ به ما ته حکم راکاوه ما به د ده مبارك لنګ تړی رسول الله ﷺ به خپل بدن زما د بدن سره لګوی (یعني د لنګ سربیره) او زه به د حیض په حالت کي وم او رسول الله ﷺ به د اعتکاف په حالت کي خپل سر مبارك د مسجد څخه د باندي را وایستی او ما به د حیض په حالت کي ددهٔ مبارك سر پرېولی . بخاري او مسلم .

(۵۰۲): وَعَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أَشْرَبُ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيَّ فَيَشْرَبُ وَأَتَعَرَّقُ الْعَرْقَ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ أُنَاوِلُهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَضَعُ فَاهُ عَلَى مَوْضِعِ فِيَّ . رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې ما به د حیض په حالت کي اوبه چښلې بیا به مي رسول الله ﷺ ته (په هغه لوښي کي) پاته اوبه یا تازه اوبه ورکړې او رسول الله ﷺ به پر هغه ځای خوله اېښودل پر کوم ځای چي به ما اوبه چښلې وې او د حیض په حالت کي به ما د غوښو هډوکي چورله بیا به مي هغه هډوکي رسول الله ﷺ ته ورکړل او رسول الله ﷺ به د هم هغه ځای څخه چورل د کوم ځای څخه چي به ما چورلي وه .مسلم .

(۵۰۳): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَّكِئُ فِيْ حَجْرِيْ وَأَنَا حَائِضٌ ثُمَّ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ. متفق عليه.

د حضرت عایشې (رض) څخه روایت دی چې کله به زه د حیض په حالت کي وم نو رسول الله ﷺ به زما په غېږ کي تکیه لګول او کښېنستی به او بیا به یې قرآن کریم وایه. بخاري او مسلم.

(۵۰۴): وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاوِلِينِي الْخُمْرَةَ مِنَ الْمَسْجِدِ قَالَتْ فَقُلْتُ إِنِّي حَائِضٌ فَقَالَ إِنَّ حَيْضَتَكِ لَيْسَتْ فِي يَدِكِ. رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې ما ته رسول الله ﷺ د مسجد څخه حکم راکړ : چې مصله پورته کړه او ما ته یې راکړه ما عرض وکړ چي زه په حیض کي یم رسول الله ﷺ وفرمایل ستا حیض ستا په لاس کي نه دی . مسلم .

(۵۰۵): وَعَنْ مَيْمُوْنَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ فِيْ مِرْطٍ بَعْضُهُ عَلَيَّ وَبَعْضُهُ عَلَيْهِ وَأَنَا حَائِضٌ . متفق عليه

د حضرت میموني (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به پر څادر لمونځ کاوه چي د هغه څیني برخه به پر ما او څیني به پر رسول الله ﷺ پرته وه او زه به د حیض په حالت کي وم. بخاري او مسلم

## دوهم فصل

(۵۰۶): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتٰى حَائِضًا أَوِ امْرَأَةً فِيْ دُبُرِهَا أَوْ كَاهِنًا فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلٰى مُحَمَّدٍ . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي وفي روايتهما فصدقه بما يقول فقد كفر . وقال الترمذي لا نعرف هذا الحديث إلا من حديث حكيم الأثرم عن أبي تيمية عن أبي هريرة

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم څوک چي د حائضه ښځي سره جماع وکړي یا د ښځي د ډکو بولو په ځای کي جماع وکړي یا جادوګر ته ولاړ سي نو هغه د هغه شي څخه انکار کوي کوم چي پر محمد ﷺ نازل سوی دی (ترمذي، ابن ماجه، دارمي) د ابن ماجه او دارمي په روایت کي دا الفاظ هم دي چي کوډګر څه ووایي او دی د هغه تصدیق وکړي نو هغه کافر سو.

(۵۰۷): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا يَحِلُّ لِيْ مِنِ امْرَأَتِيْ وَهِيَ حَائِضٌ ؟ قَالَ مَا فَوْقَ الْإِزَارِ وَالتَّعَفُّفُ عَنْ ذٰلِكَ أَفْضَلُ . رواه رزين وقال محيي السنة إسناده ليس بقوي .

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې د الله رسوله! زما د ښځي څخه هر کله چي هغه حائضه وي ما ته څه شي حلال دی؟ رسول الله ﷺ راته وفرمایل: د لنګ (جامو) سربیره چي هر شی وي هغه درته حلال دی او ددې څخه ځان ساتل هم غوره دي. رزین.

(۵۰۸): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَقَعَ الرَّجُلُ بِأَهْلِهِ وَهِيَ حَائِضٌ فَلْيَتَصَدَّقْ بِنِصْفِ دِيْنَارٍ . رواه الترمذي وأبو داود النسائي والدارمي وابن ماجه ،

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي یو سړی د خپلي حائضي ښځي سره جماع وکړي نو هغه ته پکار دي چي هغه نیم دینار خیرات کړي. ترمذي، ابوداؤد، نسائي، دارمي او ابن ماجه.

(۵۰۹): وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ دَمًا أَحْمَرَ فَدِيْنَارٌ وَإِذَا كَانَ دَمًا أَصْفَرَ فَنِصْفُ دِيْنَارٍ . رواه الترمذي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د حيض په حالت کي د جماع کولو له کبله چي کومه کفاره ورکول کيږي د هغې صورت دادی که چيري وينه سره وي نو يو دينار او که وينه ژړه وي نو نيم دينار (صدقه به ورکوي) ترمذي.

## دريم فصل

(۵۱۰): عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ إِنَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا يَحِلُّ لِيْ مِنِ امْرَأَتِيْ وَهِيَ حَائِضٌ ؟ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَشُدُّ عَلَيْهَا إِزَارَهَا ثُمَّ شَأْنَكَ بِأَعْلاَهَا . رواه مالك والدارمي مرسلا .

د حضرت زيد بن اسلم ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي زما لپاره زما د ښځي څخه هر کله چي هغه په حيض کي وي څه شي حلال دی ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته د هغې لونګ د هغې د بدن سره ښه وتړه او بيا د لونګ سربيره ستا کار دی (يعني د نامه سربيره اختلاط مباح دی) مالك او دارمي.

(۵۱۱): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ إِذَا حِضْتُ نَزَلْتُ عَنِ الْمِثَالِ عَلَى الْحَصِيْرِ فَلَمْ تَقْرُبْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ تَدْنُ مِنْهُ حَتَّى تَطْهُرَ . رواه أبو داود

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي کله به زه په حيض کي وم نو د بستري څخه به بوريا ته راتلم نه به رسول الله ﷺ هغه ته نژدې ورتلی او نه به نژدې کېدل دا رسول الله ﷺ ته تر څو پوري چي به پاکه نه وه. ابوداؤد.

## بَابُ الْمُسْتَحَاضَةِ (د مستحاضې بيان)

### لومړی فصل

(۵۱۲): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ فَلاَ أَطْهُرُ أَفَأَدَعُ الصَّلاَةَ فَقَالَ لاَ إِنَّمَا ذٰلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَ بِالْحَيْضَةِ فَإِذَا أَقْبَلَتْ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلاَةَ وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ ثُمَّ صَلِّي. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې فاطمة بنت ابو جبیش د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سول او عرض يې وکړ اې دالله رسوله! زه يوه داسې ښځه يم چې وينه مې راځي او نه پاکيږم ، نو ايا په داسې حالت کې لمونځ پرېږدم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: نه، دا وينه خو د يو رگ وينه ده د حيض وينه نه ده. کله چې ستا حيض راسي نو لمونځ پرېږده او کله چې ولاړ سي نو خپل وينه پرېوله (يعني غسل وکړه او لمونځ کوه) . بخاري او مسلم .

### دوهم فصل

(۵۱۳): عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ أَبِي حُبَيْشٍ أَنَّهَا كَانَتْ تُسْتَحَاضُ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ دَمُ الْحَيْضِ فَإِنَّهُ دَمٌ أَسْوَدُ يُعْرَفُ فَإِذَا كَانَ ذٰلِكَ فَأَمْسِكِي عَنِ الصَّلاَةِ فَإِذَا كَانَ الْآخَرُ فَتَوَضَّئِي وَصَلِّي فَإِنَّمَا هُوَ عِرْقٌ . رواه أبو داود والنسائي .

حضرت عروة بن زبير د بي بي فاطمې بنت ابي حبيش څخه روايت کوي چې فاطمې وويل هغه به مستحاضه کيدل نو نبي کريم ﷺ هغې ته وفرمايل : هر کله چې د حيض وينه وي نو هغه توره وينه وي چې پيژندل کيږي که دا وي نو لمونځ مه کوه او که دا بله وي يعني (د تور رنگ نه وي) نو اودس وکړه او لمونځ کوه ځکه چې هغه د رگ وينه ده . ابوداؤد او نسائي.

(۵۱۴): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ اِنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تُهَرَاقُ الدَّمَ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَفْتَتْ لَهَا أُمُّ سَلَمَةَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِتَنْظُرْ عَدَدَ اللَّيَالِيْ وَالْأَيَّامِ الَّتِيْ

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې يوې ښځې ته تل وينه ورتلل نو بي بي ام سلمې د هغې ښځې لپاره د رسول الله ﷺ څخه د فتوا پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هغې ته پکار دي چې د دې

كَانَتْ تُحِيْضُهُنَّ مِنَ الشَّهْرِ قَبْلَ أَنْ يُصِيْبَهَا الَّذِيْ أَصَابَهَا فَلْتَتْرُكِ الصَّلَاةَ قَدْرَ ذٰلِكَ مِنَ الشَّهْرِ فَإِذَا خَلَّفَتْ ذٰلِكَ فَلْتَغْتَسِلْ ثُمَّ لْتَسْتَثْفِرْ بِثَوْبٍ ثُمَّ لْتُصَلِّ. رواه مالك وأبو داود والدارمي وروى النسائي معناه.

ناروغي ښځه وراندي (دخپل حيض) ورځي او شپې شمير کړي په کومو کي چي د هغې د هري مياشتي وينه راتله ، هغه دي د هري مياشتي د هغو ورځو برابر لمونځ پريږدي او هر کله چي هغه ورځي تيري سي نو هغې ته پکار دي چي غسل وکړي او د جامو لنگ دي ووهي په منځ کي د دوو ورنو او بيا دي لمونځ کوي .مالك، ابوداؤد، دارمي او نسائي.

(٥١٥): وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ يَحْيَى ابْنُ مَعِيْنٍ جَدُّ عَدِيٍّ اسْمُهُ دِيْنَارٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ فِي الْمُسْتَحَاضَةِ تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا الَّتِي كَانَتْ تَحِيضُ فِيهَا ثُمَّ تَغْتَسِلُ وَتَتَوَضَّأُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَتَصُومُ وَتُصَلِّي. رواه الترمذي و ابوداؤد .

حضرت عدي بن ثابت د خپل پلار ځخه او هغه د عدي د نيکه ځخه روايت کوي چي يحيى بن معين چي د عدي نيکه دی د هغه نوم دينار دی وويل چي رسول الله ﷺ د مستحاضې په اړه فرمايل : چي هغه دي د حيض په هغو ورځو کي چي د هغې عادت دی لمونځ پرېږدي بيا دي غسل وکړي او د لمانځه لپاره دي نوی اودس وکړي او روژې دي هم نيسي او لمونځ دي هم کوي. ترمذي او ابوداؤد.

(٥١٦): وَعَنْ حَمْنَةَ بِنْتِ جَحْشٍ قَالَتْ كُنْتُ أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْتَفْتِيهِ وَأُخْبِرُهُ فَوَجَدْتُهُ فِي بَيْتِ أُخْتِي زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُسْتَحَاضُ حَيْضَةً كَثِيرَةً شَدِيدَةً فَمَا تَأْمُرُنِي فِيهَا قَدْ مَنَعَتْنِي الصَّلَاةَ وَ الصِّيَامَ قَالَ أَنْعَتُ لَكِ الْكُرْسُفَ فَإِنَّهُ يُذْهِبُ الدَّمَ قَالَتْ هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ فَتَلَجَّمِي قَالَتْ هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ فَاتَّخِذِي ثَوْبًا قَالَتْ هُوَ أَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ إِنَّمَا أَثُجُّ ثَجًّا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَآمُرُكِ بِأَمْرَيْنِ أَيَّهُمَا صَنَعْتِ أَجْزَأَ عَنْكِ من الاخر وَإِنْ

د حضرت حمنة بنت جحش (رض) ځخه روايت دی چي زه په ډير سخت او زيات حيض کي اخته سوم نو د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوم چي دی مبارك په خبر کړم او ددې حکم ځيني و غواړم نو ما رسول الله ﷺ د خپل خور زينب بنت جحش په کور کي پيدا کړ ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه په سخت حيض کي اخته يم په دې باره کي تاسو ما ته څه حکم راکړئ ؟ دې خو زه د روژې او لمانځه ځخه محرومه کړې يم، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : زه ستا لپاره د پمبو استعمال تجويز کوم چي هغه وينه ليري کوي ، ما عرض وکړ هغه ددې ځخه هم زياته ده رسول

قَوِيتِ عَلَيْهِمَا فَأَنْتِ أَعْلَمُ قَالَ لها إِنَّمَا هذه رَكْضَةٌ مِنْ ركضات الشَّيْطَان فَتَحَيَّضِي سِتَّةَ أَيَّام أَوْ سَبْعَةَ أَيَّامٍ فِي عِلْمِ اللّٰه ثُمَّ اغْتَسِلِي حتى إِذَا رَأَيْتِ أَنَّكِ قَدْ طَهُرْتِ وَاسْتَنْقَأْتِ فَصَلِّي ثَلٰثًا وَّعِشْرِيْنَ لَيْلَةً أَوْ أَرْبَعًا وَعِشْرِينَ لَيْلَةً وَصُومِي فَإِنَّ ذٰلِك يُجزِئُكِ وَكَذٰلِك فَافْعَلِي كلَّ شهر كَمَا تَحِيضُ النِّسَاءُ وَكَمَا يَطْهُرْنَ مِيقَات حَيْضِهِنَّ وَطُهْرِهِنَّ وَإِنْ قَوِيتِ عَلَى أَنْ تُؤَخِّرِينَ الظُّهْرَ وَتُعَجِّلِينَ الْعَصْرَ فَتَغْتَسِلِينَ وَتَجْمَعِينَ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَ تُؤَخِّرِينَ الْمَغْرِبَ وَتُعَجِّلِينَ الْعِشَاءَ تَغْتَسِلِينَ وَتَجْمَعِينَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فَافْعَلِي وَتَغْتَسِلِينَ مَعَ الْفَجْرِ فَافْعَلِي وَصُومِي إِنْ قَدَرْت عَلَى ذٰلِكَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهٰذَا أَعْجَبُ الْأَمْرَيْنِ إِلَيَّ. رواه احمد و ابوداؤد والترمذي

الله ﷺ وفرمایل د واګي په ډول زړوکی ونغاره هغې وویل ددې څخه هم زیاته ده، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل (په لونګ کي دننه) زړوکی ورته کنښېږده هغې وویل هغه ددې څخه هم زیاته ده ، یعني د باران په ډول وینه را څخه څي، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : زه تا ته د دوو خبرو حکم درکوم په کوم چي ته عمل وکړې ستا لپاره بس ده که چیري توان لرې نو په دواړو عمل وکړه د خپل حال څخه ته زیاته خبرداره یې د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل چي دا (ستا حیض) د شیطان لته ده په دې وینه کي شپږ یا اووه ورځي خو د الله په علم کي (یعني د راوي څخه هیره ده چي شپږ ورځي دي که اووه ورځي دي) حیض شمیر کړه او بیا غسل وکړه تر دې چي ته ووینې چي پاکه سوې نو تر درویشتو یا څلیرویشتو ورځو او شپو پوري لمونځ کوه او روژه نیسه دا ستا لپاره بس دي او داسي په هره میاشت کي کوه څنګه چي د نورو ښځو حیض کیږي او بیا د حیض څخه پاکیږي او که ستا دا په وس کي وي چي د ماپښین په لمانځه کي ځنډ کوې او د مازدیګر په لمانځه کي تلوار کوه نو په یوه غسل یې کوه او د ماپښین او مازدیګر لمنځونه یوځای کوه همداسي د ماښام په لمانځه کي ځنډ کوه او د ماخستن په لمانځه کي تلوار کوه او په یوه غسل دا دواړه لمنځونه یو ځای کوه او د سهار د لمانځه لپاره هم غسل کوه که دي په توان کي وي داسي ته کوه او روژې نیسه که طاقت دي وي پر دغه کار، د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل او دا حکم (یعني آخري حکم) ما ته د دواړو حکمونو څخه غوره معلومیږي . احمد، ابوداؤد او ترمذي .

## دریم فصل

(۵۱۷): عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ أَبِيْ حُبَيْشٍ أُسْتُحِيْضَتْ مُنْذُ كَذَا وَكَذَا فَلَمْ تُصَلِّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَانَ اللهِ إِنَّ هٰذَا مِنَ الشَّيْطَانِ لِتَجْلِسْ فِيْ مِرْكَنٍ فَإِذَا رَأَتْ صُفَارَةً فَوْقَ الْمَاءِ فَلْتَغْتَسِلْ لِلظُّهْرِ وَالْعَصْرِ غُسْلاً وَّاحِدًا وَتَغْتَسِلْ لِلْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ غُسْلاً وَّاحِدًا وَتَغْتَسِلْ لِلْفَجْرِ غُسْلاً وَّاحِدًا وَتَوَضَّأُ فِيْمَا بَيْنَ ذٰلِكَ . رواه أبو داود وقال رَوٰى مُجَاهِدٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ لَمَّا اشْتَدَّ عَلَيْهَا الْغُسْلُ أَمَرَهَا أَنْ تَجْمَعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ .

د حضرت اسماء بنت عمیس (رض) څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي فاطمة بنت حبیش د دومره دومره وخت څخه په حیض کي سوې ده هغه لمونځ نه کوي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : سبحان الله په تحقیق سره دا (لمونځ پرېښودل ددې بې له پوښتني د مسئلې) د شیطان له لوري دی هغه ته پکار دي چي په هغه ټپ کي کښیني هر کله چي د ټپ د اوبو سربیره ژړوالی ووینې نو د ماپښین او مازدیگر لپاره دي یو غسل وکړي او د ماښام او ماخستن لپاره دي یو غسل وکړي او بیا د سهار لپاره دي یو غسل وکړي او ددې په منځ کي دي اودس وکړي (یعني د دوارو لمنځو په منځ کي) ابوداؤد، مجاهد د ابن عباس څخه روایت وکړ هر کله چي هغې ته د هر لمانځه لپاره غسل کول ستونزمن سول نو هغې ته یې دوه لمنځونه په یوه غسل کولو حکم ورکړ .

# كِتَابُ الصَّلٰوةِ (د لمانځه بيان)

## لومړی فصل

(٥١٨): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمْعَةُ إِلَى الْجُمْعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: پنځه لمنځونه او د يوې جمعې څخه تر بلې جمعې پورې او د رمضان څخه تر بل رمضان پورې هغه ګناهونه رژوي چې د دې په منځ کې وي په دې شرط چې د لويو ګناهو څخه ځان وساتي. مسلم.

(٥١٩): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ قَالُوا لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ قَالَ فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ يَمْحُو اللّٰهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تاسو ليدلی دی چې د يو چا په دروازه کې وياله وي او هغه هره ورځ پنځه ځله په هغه کې غسل کوي نو ايا د هغه پر بدن به خيري پاته سي ، صحابه کرامو عرض وکړ د هغه پربدن به په داسي حالت کې هيڅ خيره پاته نه سي نو رسول الله ﷺ وفرمايل: د پنځو لمنځوهم دا کيفيت دی الله تعالی ددې له کبله (کوچني) ګناهونه معاف کوي. بخاري او مسلم.

(٥٢٠): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ إِنَّ رَجُلًا أَصَابَ مِنِ امْرَأَةٍ قُبْلَةً فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالَى ( وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ) فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَلِيْ هٰذَا ؟ قَالَ لِجَمِيعِ أُمَّتِي كُلِّهِمْ . وَفِي رِوَايَةٍ لِمَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِيْ . متفق عليه

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې يو سړي د يوې ښځي څخه مچه واخيستل ، هغه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر سو او رسول الله ﷺ يې د پيښي څخه خبر کړ ، رسول الله ﷺ د پېښي په اوريدو سره پټه خوله سو (يعني د وحي انتظار يې کاوه) نو الله تعالی دا آيت نازل کړ: واقم الصلوة..... يعني ته د ورځي په دواړو طرفونو کې سهار او مابنام او څو ساعته د شپې لمونځ قائم

ساته ببشکه نیکی بدی لیري کوي ، هغه سړي وویل اې د الله رسوله ! ایا دا حکم زما لپاره دی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : زما د ټول امت لپاره دی ، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي کوم سړي چي زما په امت کي په دې عمل وکړ د هغه لپاره دا حکم دی . بخاري او مسلم .

(۵۲۱): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ قَالَ وَلَمْ يَسْئَلْهُ عَنْهُ وَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ فصلى مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلٰوةَ قَامَ الرَّجُلُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْ فِيَّ كِتٰبَ اللّٰهِ قَالَ اَلَيْسَ قَدْ صَلَّيْتَ مَعَنَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَإِنَّ اللّٰهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ ذَنْبَكَ أَوْ حَدَّكَ . متفق علیه

د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چي یو سړی حاضر سو او عرض یې وکړ اې د الله رسوله ! ما یو داسي کار وکړ چي پر هغه حد واجب دی نو تاسو پر ما حد جاري کړئ ، د راوي بیان دی چي رسول الله ﷺ د هغه څخه هیڅ پوښتنه ونه کړل او د لمانځه وخت راغلی هغه سړي د رسول الله ﷺ سره لمونځ ادا کړ کوم وخت چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو هغه سړی ودرېدی او عرض یې وکړ اې د الله رسوله ! ما د حد وړ جرم کړی دی تاسو د کلام الهي سره سم پر ما حکم و کړئ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ایا تا زموږ سره لمونځ نه وکړ ؟ هغه عرض وکړ هو ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : الله ﷻ ستا ګناه یا ستا حد و بخښي .بخاري او مسلم

(۵۲۲): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ قَالَ الصَّلَاةُ عَلَى وَقْتِهَا قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ ثُمَّ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ قَالَ حَدَّثَنِي بِهِنَّ وَلَوِ اسْتَزَدْتُهُ لَزَادَنِي. متفق علیه

د حضرت ابن مسعود ؓ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه د الله ﷻ په نزد تر ټولو غوره کوم عمل دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل پر خپل وخت لمونځ کول ، ما بیا پوښتنه وکړه د دې وروسته کوم عمل، رسول الله ﷺ وفرمایل : د مور او پلار سره نیکي کول، ما بیا پوښتنه وکړه د دې وروسته کوم عمل، رسول الله ﷺ وفرمایل د الله په لاره کي جهاد کول، ابن مسعود وایي دا خبري ما ته رسول الله ﷺ وفرمایلې او که ما نوري پوښتلي وای نو ده مبارك به نوري هم را ته ښودلي وای . بخاري او مسلم .

(۵۲۳): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ . رواه مسلم .

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ و فرمایل : د (مسلمان) بنده او کفر تر منځ پرېښودل دلمانځه دي . (یعني لمونځ یې پرده ده) . مسلم .

## دويم فصل

﴿٥٢٤﴾: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسَ صَلَوَاتٍ افْتَرَضَهُنَّ اللّٰهُ تَعَالٰى مَنْ أَحْسَنَ وُضُوْءَهُنَّ وَصَلَّاهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَأَتَمَّ رُكُوْعَهُنَّ وَخُشُوْعَهُنَّ كَانَ لَهُ عَلَى اللّٰهِ عَهْدٌ أَنْ يَّغْفِرَ لَهُ وَمَنْ لَّمْ يَفْعَلْ فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللّٰهِ عَهْدٌ إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ . رواه أحمد وأبو داود وروى مالك والنسائي نحوه .

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پنځه لمنځونه دي چي الله ﷻ فرض کړي دي کوم سړی چي د دې لمنځو لپاره ښه اودس وکړي پر خپل وخت يې ادا کړي او رکوع يې په ښه ډول ادا کړي او د زړه په حضور سره يې ادا کړي د هغه لپاره د الله وعده ده چي هغه به بخښي او څوك چي داسي ونه کړي د هغه لپاره د الله هيڅ وعده نسته که هغه بخښي او که عذاب ورکوي . احمد ، ابوداؤد ، مالك او نسائي .

﴿٥٢٥﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلُّوْا خَمْسَكُمْ وَصُوْمُوْا شَهْرَكُمْ وَأَدُّوْا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ وَأَطِيْعُوْا ذَا أَمْرِكُمْ تَدْخُلُوْا جَنَّةَ رَبِّكُمْ . رواه أحمد والترمذي .

د حضرت ابوامامة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خپل پنځه لمنځونه کوئ او د (رمضان) د مياشتي روژې نيسئ د خپل مال زکوة ادا کوئ او د خپل حاکم اطاعت کوئ او تاسو د خپل رب په جنت کي داخل سئ . احمد او ترمذي .

﴿٥٢٦﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرُوْا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِيْنَ وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِيْنَ وَفَرِّقُوْا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ . رواه أبو داود وكذا رواه في شرح السنة عنه، وفي المصابيح عن سبرة بن معبد .

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي ستاسو ماشومان د اوو کالو سي نو هغوئ ته د لمانځه کولو حکم ورکوئ او هر کله چي د لسو کالو سي (او لمونځ نه کوي) نو هغوئ وهئ چي لمونځ کوي او د هغوئ د خوب ځايونه سره جلا کړئ . ابوداؤد او شرح السنة

﴿٥٢٧﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَهْدُ الَّذِيْ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زموږ او د منافقانو په منځ کي چي کوم

الصَّلَاةُ فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ . رواه أحمد والترمذي والنسائي وابن ماجه .

عهد دی هغه لمونځ دی چا چي لمونځ پرېښودی هغه کافر سو . احمد ،ترمذي،نسائي او ابن ماجه .

## دریم فصل

(٥٢٨): عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي عَالَجْتُ امْرَأَةً فِي أَقْصَى الْمَدِينَةِ وَإِنِّي أَصَبْتُ مِنْهَا مَا دُونَ أَنْ أَمَسَّهَا فَأَنَا هَذَا فَاقْضِ فِيَّ مَا شِئْتَ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ لَقَدْ سَتَرَكَ اللَّهُ لَوْ سَتَرْتَ على نَفْسَكَ قَالَ وَلَمْ يَرُدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا وَقَامَ الرَّجُلُ فَانْطَلَقَ فَأَتْبَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلاً فَدَعَاهُ وَتَلاَ عَلَيْهِ هَذِهِ الْآيَةَ: وَ أَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَى لِلذَّاكِرِينَ . فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ يَا نَبِيَّ اللَّهِ هَذَا لَهُ خَاصَّةً قَالَ بَلْ لِلنَّاسِ كَافَّةً. رواه مسلم

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ اې دالله رسوله ! ما د مدینې پر غاړه د یوې ښځي سره ملاعبت (تر غاړه کېدل) وکړل او د صحبت تر حده ونه رسیدم زه حاضر یم کوم حد (شرعي سزا) چي تاسو پر ما جاري کول غواړئ ، عمر ﷺ ورته وویل الله ستا پرده پټه کړې وه (غوره وه ) چي تا هم خپل عیب پټ کړی وای ، عبدالله بن مسعود وایي رسول الله ﷺ د دې هیڅ جواب ورنه کړ هغه سړی و دریدی او ولاړی رسول الله ﷺ د هغه رابللو لپاره یو سړی واستوی هغه راغلی نو رسول الله ﷺ د هغه په مخ کي دا آیت تلاوت کړ: و اقم الصلوة... (سهار او ماښام او د شپې څه برخه کي لمونځ کوه په تحقیق سره نیکي بدی رژوي دا د نصیحت منونکي لپاره نصیحت دی) په ناستو خلکو کي یوه سړي وویل اې دالله رسوله ! دا حکم د دغه سړي لپاره دی که د ټولو لپاره ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل د ټولو خلکو لپاره دی .مسلم .

(٥٢٩): وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ وَالْوَرَقُ يَتَهَافَتُ فَأَخَذَ بِغُصْنَيْنِ مِنْ شَجَرَةٍ قَالَ فَجَعَلَ ذَلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ قَالَ فَقَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ قُلْتُ لَبَّيْكَ يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ فَتَهَافَتُ عَنْهُ ذُنُوبُهُ كَمَا يَتَهَافَتُ هَذَا الْوَرَقُ عَنْ

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روایت دی چي د یخ په فصل (ژمي) کي چي د ونو پاڼي رژېدلې رسول الله ﷺ د باندي تشریف راوړ ، رسول الله ﷺ یوې وني ښاخ ونیوی او دهغه څخه پاڼي راتوی سوې ، رسول الله ﷺ وفرمایل : اې ابوذره ! ابوذر عرض وکړ لبیک اې دالله رسوله ! نو رسول الله ﷺ

هٰذِهِ الشَّجَرَةِ . رواه أحمد

ورته وفرمايل : هر كله چي مسلمان خاص د الله لپاره لمونځ كوي نو د هغه گناه داسي رژيږي لكه څرنگه چي دا پاڼي د ونو څخه رژيږي . احمد.

﴿۵۳۰﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدِ الْجُهَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى سَجْدَتَيْنِ لاَ يَسْهُوْ فِيْهِمَا غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ . رواه أحمد .

د حضرت زيد بن خالد الجهني ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي دوه ركعته لمونځ وكړ او خطا نه سو نو الله به د هغه ټول مخكني گناهونه معاف كړي. احمد.

﴿۵۳۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ الصَّلاَةَ يَوْمًا فَقَالَ مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُوْرًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ تَكُنْ لَهُ نُوْرٌ وَلاَ بُرْهَانًا وَلاَ نَجَاةً وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ .رواه أحمد والدارمي والبيهقي في شعب الإيمان

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ يوه ورځ د لمانځه يادونه وكړه او وه يې فرمايل : څوك چې د لمانځه ساتنه كوي دا لمونځ به د هغه لپاره د نور سبب وي د پوره ايمان دليل به وي او د قيامت په ورځ به د بخښني ذريعه وي او څوك چي د لمانځه ساتنه نه كوي نو دهغه لپاره به نه د نور سبب وي نه د پوره ايمان او نه د بخښني ذريعه او هغه به د قيامت په ورځ د قارون، فرعون، هامان او ابی بن خلف سره وي . احمد ، دارمي او بيهقي.

﴿۵۳۲﴾:وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيْقٍ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَرَوْنَ شَيْئًا مِّنَ الْأَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلاَةِ . رواه الترمذي .

د حضرت عبدالله بن شقيق ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ صحابه كرامو به د يوه عمل پرېښودل كفر نه باله پرته د لمانځه څخه (چي د لمانځه پرېښودل د هغوئ په نزد كفر وو) ترمذي.

﴿۵۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ أَوْصَانِيْ خَلِيْلِيْ أَنْ لاَّ تُشْرِكْ بِاللهِ شَيْئًا وَّإِنْ قُطِعْتَ وَحُرِّقْتَ وَلاَ تَتْرُكْ صَلاَةً مَّكْتُوْبَةً مُتَعَمِّدًا فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ وَلاَ تَشْرَبِ الْخَمْرَ فَإِنَّهَا مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابودرداء ﷺ څخه روايت دی چي ما ته زما ملگري (رسول الله ﷺ) دا وصيت كړی دی چي ته هيڅوك د الله سره شريك مه نيسه كه څه هم ستا بدن ټوټې ټوټې سي او ته په اور كي و سوزول سي او فرض لمونځ په قصد سره مه پرېږده ځكه چي چا فرض لمونځ پرېښودی په قصد سره د هغه څخه د اسلام ذمه خلاصه ده او ته شراب مه چښه ځكه چي دا د ټولو خرابيو كيلي ده. ابن ماجه.

# بَابُ الْمَوَاقِيْتِ (دلمانځه دوختو بیان)

## لومړی فصل

(۵۳۴): عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقْتُ الظُّهْرِ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَكَانَ ظِلُّ الرَّجُلِ كَطُولِهِ مَا لَمْ يَحْضُرِ الْعَصْرُ وَوَقْتُ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ مَا لَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ الْأَوْسَطِ وَوَقْتُ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَأَمْسِكْ عَنِ الصَّلَاةِ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ. رواه مسلم

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د ماپښین وخت هغه دی چي زوال وسي او د سړي سایه د هغه د قد برابر سي تر څو پوري چي د مازدیگر وخته را نه سي او د مازدیگر وخت هغه دی چي ددې څخه وروسته وي بیا تر هغ؛ وخته پوري چي لمر زړ سي او د ماښام وخت تر هغه وخته پوري دی چي تر څو پوري شفق غائب نه سي او د ماخستن لمونځ تر نیمي شپې پوري دی او د سهار د لمانځه وخت د ختلو د صبح صادق څخه تر هغه وخته پوري چي لمر نه وي راختلی نو هر کله چي لمر را وخیږي نو دلمانځه څخه منع سئ ځکه چي لمر د شیطان د دوو ښکرو په منځ کي راوزي .مسلم.

(۵۳۵): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ انَّ رَجُلاً سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ فَقَالَ لَهُ صَلِّ مَعَنَا هٰذَيْنِ يَعْنِي الْيَوْمَيْنِ فَلَمَّا زَالَتِ الشَّمْسُ أَمَرَ بِلَالاً فَأَذَّنَ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الظُّهْرَ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْمَغْرِبَ حِينَ غَابَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ ثُمَّ أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْفَجْرَ حِينَ طَلَعَ الْفَجْرُ فَلَمَّا أَنْ كَانَ الْيَوْمُ الثَّانِي أَمَرَهُ فَأَبْرَدَ بِالظُّهْرِ فَأَبْرَدَ بِهَا فَأَنْعَمَ أَنْ يُبْرِدَ بِهَا وَصَلَّى الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ أَخَّرَهَا فَوْقَ الَّذِي

د حضرت بریدة ﷺ څخه روایت دی چي یو سړي د رسول الله ﷺ څخه د لمنځو د وختونو په اړه پوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: دا دوې ورځي زموږ سره لمونځ وکړه کوم وخت چي لمر پر زوال سو نو رسول الله ﷺ حضرت بلال ﷺ ته حکم ورکړ هغه آذان وکړ بیا یې هغه ته حکم ورکړ هغه تکبیر (اقامت) وکړ رسول الله ﷺ د ماپښین لمونځ ادا کړ، بیا رسول الله ﷺ د مازدیگر د تکبیر حکم وکړ نو رسول الله ﷺ د مازدیگر لمونځ ادا کړ کوم وخت چي لمر پورته او صاف وو، د هغه وروسته یې د ماښام حکم

كَانَ وَصَلَّى الْمَغْرِبَ قَبْلَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ وَصَلَّى الْعِشَاءَ بَعْدَمَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ وَصَلَّى الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ بِهَا ثُمَّ قَالَ أَيْنَ السَّائِلُ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ فَقَالَ الرَّجُلُ أَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ وَقْتُ صَلَاتِكُمْ بَيْنَ مَا رَأَيْتُمْ . رواه مسلم

وکړ کوم وخت چې لمر غائب سو بیا یې د ماخستن حکم ورکړ کوم وخت چې شفق غائب سو ، رسول الله ﷺ بیا د سهار د لمانځه حکم ورکړ کله چې سهار سو بیا دویمه ورځ سوه نو رسول الله ﷺ د ورځي تر پخېدو پوري د انتظار حکم وکړ چې ورځ ښه پخه سوه نو رسول الله ﷺ د ماپښین لمونځ هغه وخت وکړ او د مازدیگر لمونځ یې هغه وخت وکړ کله چې لمر پر آخري لوړوالی وو (یعني په آخر وخت کي یې لمونځ وکړ) او د ماښام لمونځ یې د شفق د غائب کېدو څخه مخکي وکړ او د ماخستن لمونځ یې د شپې د دریمي برخي تیریدو وروسته ادا کړ او د سهار لمونځ یې په ښه رڼا کي وکړ ، بیا یې وفرمایل : د لمانځه دوختو پوښتنه کونکی چیري دی؟ هغه سړي وویل اې دالله رسوله ! زه حاضر یم، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ستا د لمانځه وخت هغه دی چې د دې دواړو ورځو د وختونو په منځ کي دی. مسلم.

## دویم فصل

(٥٣٦): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّنِي جِبْرَئِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام عِنْدَ الْبَيْتِ مَرَّتَيْنِ فَصَلّٰى بِيَ الظُّهْرَ حِيْنَ زَالَتِ الشَّمْسُ وَكَانَتْ قَدْرُ الشِّرَاكِ وَ صَلّٰى بِيَ الْعَصْرَ حِيْنَ صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَ ظِلِّهِ وَ صَلّٰى بِيَ الْمَغْرِبَ حِيْنَ أَفْطَرَ الصَّائِمُ وَصَلّٰى بِيَ الْعِشَاءَ حِيْنَ غَابَ الشَّفَقُ وَ صَلّٰى بِيَ الْفَجْرَ حِيْنَ حَرُمَ الطَّعَامُ وَالشَّرَابُ عَلَى الصَّائِمِ فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ صَلّٰى بِيَ الظُّهْرَ حِيْنَ كَانَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ وَ صَلّٰى بِيَ الْعَصْرَ حِيْنَ كَانَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَيْهِ وَ صَلّٰى بِيَ الْمَغْرِبَ حِيْنَ أَفْطَرَ الصَّائِمُ وَ صَلّٰى بِيَ الْعِشَاءَ إِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ وَصَلّٰى بِيَ الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ، ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَيَّ جِبْرِيلُ فَقَالَ يَا

د حضرت ابن عباس ﷠ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : جبرائیل ﷤ کعبې ته نژدې دوه ځله ما ته امامت راکړ یعني ما ته یې دوې ورځې لمونځ راکړ ، ما ته یې د ماپښین لمونځ راکړ کوم وخت چې د لمر زوال سوی وو او اصلي سایه د تسمې د چپلکي په ډول وه ، او ما ته یې د مازدیگر لمونځ راکړ کله چې د هر شي سایه (د اصلي سایې څخه پرته) د هغه برابر سوه او ما ته یې د ماښام لمونځ راکړ کوم وخت چې روژه دار روژه ماتوي او ما ته یې د ماخستن لمونځ راکړ کوم وخت چې شفق غائب سو او ما ته یې د سهار لمونځ راکړ کوم وخت چې پر روژه دار خوراك او څښاك حرام سي ، کله چې دویمه

مُحَمَّدُ هَذَا وَقْتُ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِكَ وَالْوَقْتُ مَا بَيْنَ هَذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ. رواه ابوداؤد والترمذي

ورځ سوه نو ما ته يې د ماپښين لمونځ راکړ کوم وخت چي د هر شي سايه د هغه برابر سوه او د مازديگر لمونځ يې راکړ کوم وخت چي. سايه دوچنده سوه او د ماښام لمونځ يې راکړ کوم وخت چي روژه دار روژه ماتوي او د ماخستن لمونځ يې د شپې اولي دريمي برخي پوري راکړ او د سهار لمونځ يې راکړ کله چي سهار ښه څلانده سو، بيا جبرائيل ﷺ ما ته متوجه سو او وه يې فرمايل: اې محمده ! دا وخت ستا څخه مخکي د انبياؤ وو او ستا د لمانځه وخت د دې دوو وختو په منځ کي دی. ابوداؤد او ترمذي .

## دريم فصل

﴿٥٣٧﴾: عَنْ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ أَخَّرَ الْعَصْرَ شَيْئًا فَقَالَ لَهُ عُرْوَةُ أَمَا إِنَّ جِبْرِيلَ قَدْ نَزَلَ فَصَلَّى إِمَامَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ اعْلَمْ مَا تَقُولُ يَا عُرْوَةُ فَقَالَ سَمِعْتُ بَشِيرَ بْنَ أَبِي مَسْعُودٍ يَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا مَسْعُودٍ يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ نَزَلَ جِبْرِيلُ فَأَمَّنِي فَصَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ يَحْسُبُ بِأَصَابِعِهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ. متفق عليه

د حضرت ابن شهاب ﷺ څخه روايت دی چي عمر بن عبدالعزيز د مازديگر لمونځ لږ ناوخته وکړ نو عروة ورته وويل : جبرائيل ﷺ راغلی او هغه رسول الله ﷺ ته لمونځ ورکړ ، عمر بن عبدالعزيز ورته وويل څه چي ته وايي په هغه ځان پوه کړه اې عروه، عروه وويل ما د بشر بن مسعود څخه اوريدلي دي هغه وايي چي ما د ابو مسعود ﷺ څخه اوريدلي دي او هغه وويل ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي جبرائيل ﷺ راغلی او هغه زما امامت وکړ نو ما د هغه سره لمونځ وکړ بيا ما د هغه سره لمونځ وکړ بيا ما د هغه سره لمونځوکړ بيا ما د هغه سره لمونځ وکړ بيا ما دهغه سره لمونځ وکړ رسول الله ﷺ به داسي فرمايل او پر خپلو گوتو يې حساب کاوه يعني پنځه لمنځونه . بخاري او مسلم .

﴿٥٣٨﴾: وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى عُمَّالِهِ إِنَّ أَهَمَّ أُمُورِكُمْ عِنْدِي الصَّلَاةُ مَنْ حَفِظَهَا وَحَافَظَ عَلَيْهَا حَفِظَ دِينَهُ وَمَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ امَا سِوَاهَا أَضْيَعُ ثُمَّ كَتَبَ أَنْ صَلُّوا الظُّهْرَ إِذَا كَانَ

د حضرت عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دی چي هغه خپلو واليانو ته وليکل زما په نزد ستاسو په کارونو کي تر ټولو مهم کار لمونځ دی چا چي د لمانځه ساتنه وکړه او هغه يې محفوظ

الْفَيْءُ ذِرَاعًا إِلَى أَنْ يَكُوْنَ ظِلُّ أَحَدِكُمْ مِثْلَهُ وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ قَدْرَ مَا يَسِيْرُ الرَّاكِبُ فَرْسَخَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً قَبْلَ مَغِيْبِ الشَّمْسِ وَالْمَغْرِبَ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ وَالْعِشَاءَ إِذَا غَابَ الشَّفَقُ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ وَالصُّبْحُ وَالنُّجُوْمُ بَادِيَةٌ مُشْتَبِكَةٌ . رواه مالك .

وساتی نو هغه د خپل دين حفاظت وکړ او چاچي لمونځ ضائع کړ هغه هر څه ضائع کړل ، د دې وروسته عمر بن الخطاب ﷺ وليکل د ماپښين لمونځ کوئ هر کله چي سايه اصلي وي تر هغه وخته پوري چي ستاسو سايه ستاسو د قد برابر وي او د مازديګر لمونځ کوئ تر هغه وخته پوري چي لمر لوړ او سپين وي په اندازه د هغه چي مزل کوي سپور دوه فرسخه يا درې فرسخه مخکي تر ډوبيدو د لمر او دماښام لمونځ کوئ د لمر لوېدو څخه وروسته او دماخستن لمونځ کوئ هر کله چي شفق ولاړ سي بيا د دريمي برخي تر شپې پوري ، کوم سړی چي بيده سي (د ماخستن دلمانځه څخه مخکي) د هغه سترګي دې ببدې نه سي او څوک چي بيده سي د هغه سترګي دې بيده نه سي او څوک چي بيده سي د هغه سترګي دې بيده نه سي (دا ښيرا ده) او د سهار لمونځ کوئ هر کله چي ستوري ښکاره او ګڼ وي .مالك .

(۵۳۹): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ قَدْرُ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ فِي الصَّيْفِ ثَلَاثَةَ أَقْدَامٍ إِلَى خَمْسَةِ أَقْدَامٍ وَفِي الشِّتَاءِ خَمْسَةَ أَقْدَامٍ إِلَى سَبْعَةِ أَقْدَامٍ . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ د ماپښين دلمانځه اندازه په ګرمۍ کي د درو قدمو څخه تر پنځو قدمو پوري او په يخ (ژمي) کي د پنځو قدمو څخه تر اوو قدمو پوري وه .

## بَابُ تَعْجِيْلِ الصَّلٰوةِ (په لمانځه کي دتلوار کولو بيان)

### لومړی فصل

(۵۴۰): عَنْ سَيَّارِ بْنِ سَلَامَةَ قَالَ دَخَلْتُ أَنَا وَ أَبِيْ عَلَى أَبِيْ بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ فَقَالَ لَهُ أَبِيْ كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْمَكْتُوْبَةَ فَقَالَ كَانَ يُصَلِّيْ الْهَجِيْرَ الَّتِيْ تَدْعُوْنَهَا الْأُوْلٰى حِيْنَ تَدْحَضُ الشَّمْسُ وَيُصَلِّي الْعَصْرَ ثُمَّ يَرْجِعُ أَحَدُنَا

د حضرت سيار بن سلامة څخه روايت دی چي زه او زما پلار ابو ذر اسلمي ته ورغلو زما پلار د هغه څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ به فرض لمونځ څنګه کاوه ، هغه ووېل د ماپښين لمونځ چي هغه ته تاسو لومړی واياست د لمر د زوال

اِلَى رَحْلِه فِي اَقْصَى الْمَدِيْنَة وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ وَنَسِيْتُ مَا قَالَ فِي الْمَغْرِبِ وَكَانَ يَسْتَحِبُّ اَنْ يُؤَخِّرَ الْعِشَاءَ الَّتِيْ تَدْعُوْنَهَا الْعَتَمَةَ وَكَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيْثَ بَعْدَهَا وَكَانَ يَنْفَتِلُ مِنْ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ حِيْنَ يَعْرِفُ الرَّجُلُ جَلِيْسَهُ وَ يَقْرَءُ بِالسِّتِّيْنَ اِلَى الْمِائَةِ وَفِيْ رِوَايَةٍ وَ لَايُبَالِيْ بِتَاخِيْرِ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ وَلَايُحِبُّ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَالْحَدِيْثَ بَعْدَهَا. متفق عليه .

سره به يې کاوه او د مازديګر لمونځ به يې هغه وخت کاوه هر کله چي د لمونځ کو . څخه وروسته به په موږ کي يو څوك راستنې ى او د ښار آخري غاړي ته به رسيدی نو لمر به روښانه او صاف وو ، د سيار بيان دی چي د م ښام د لمانځه په اړه چي ابوهريرة څه ښودلي . ه هغه زما څخه هير سول او ابوهريرة وويل چي رسول الله ﷺ به د ماخستن لمونځ چي هغه ته تاسو عتمه واياست زنډ خوښوی او د ماخستن . څه مخکي ښېدېدل يې مکروه ګڼل او د ما خستن د لمانځه وروسته خبري کول يې مکروه ګڼل او د سهار لمونځ به رسول الله ﷺ هغه وخت کاوه چي سړی به خپل ملګري پيژندی او رسول الله : به د سهار په لمانځه کي د شپېتو آياتو څخه تر سلو آياتو پوري ويل او په يوه روايت کي دا الفا . دي چي رسول الله ﷺ به د ماخستن لمونځ په اولي دريمي برخي د شپې په زنډ کي هيڅ پروا نه کو او د ماخستن د لمانځه مخکي ښېدېدل به يې ښه نه ګڼل او همداسي د ماخستن دلمانځه وروسته بري کول يې هم نه خوښول . بخاري اومسلم

﴿۵۴۱﴾: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ سَأَلْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ صَلٰوةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كَانَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ وَالْمَغْرِبَ إِذَا وَجَبَتْ وَالْعِشَاءَ اِذَا كَثُرَ النَّاسُ عَجَّلَ وَإِذَا قَلُّوْا أَخَّرَ وَالصُّبْحَ بِغَلَسٍ . متفق عليه

د حضرت محمد بن عرو بن الحسين بن ؏ ﷺ څخه روايت دی چي موږ د جابر بن عبدا[illegible] نه پوښتنه وکړه چي د رسول الله ﷺ د لمانځه ، څنګه وو؟ هغه وويل چي رسول الله ﷺ به د کېدو سره د ماپښين لمونځ کاوه او د مازديګر لمونځ به يې هغه وخت کاوه چي لمر به څلانده وواو د ماښام لمونځ به يې هغه وخت کاوه چي لمر به ولوېدی او ماخستن لمونځ به يې هغه وخت کاوه کله چي به ډېر خلك يو ځای سول نو ژر به يې کاوه او کله چي به خلك لږ وه نو لږ په زنډ سره به يې کاوه او دسهار لمونځ به يې په تياره کي کاوه . بخاري او مسلم .

﴿۵۴۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالظَّهَائِرِ سَجَدْنَا عَلٰى

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي م ږ د رسول الله ﷺ سره دماپښين لمونځ کاوه نو

ثِيَابِنَا اتِّقَاءِ الْحَرِّ .متفق عليه و لفظه للبخاري

دگرمي څخه دخلاصون لپاره به مو پر خپلو جامو سجده کول. بخاري او مسلم.

(۵۲۳): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ فَاَبْرِدُوْا بِالصَّلٰوةِ وَ فِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيْ عَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ بِالظُّهْرِ فَاِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ وَ اشْتَكَتْ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا فَقَالَتْ يَا رَبِّ اَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ أَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الْحَرِّ وَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنْ الزَّمْهَرِيرِ. متفق عليه . و رواية للبخاري فاشد ما تجدون من الحر فمن سمومها واشد ما تجدون من البرد فمن زمهريرها.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي گرمي سخته وي نو لمونځ په يخ کي کوئ او د بخاري په يوه روايت کي د ابوسعيد څخه دا الفاظ نقل دي چي د ماپښين لمونځ د يخ په وخت کي کوئ ځکه چي د گرمۍ سختي د جنهم توبښ دی او رسول الله ﷺ وفرمايل : دوږخ خپل رب ته شکايت وکړ او عرض يې وکړ چي زما ځيني برخي ځيني برخي خوري نو الله تعالی ورته د دوو ساه اخيستو اجازه ورکړه يوه ساه په يخ کي او يوه ساه په گرمي کي هر کله چي تاسو د گرمۍ او يخ سختي ووينئ نو دا هغه دوې ساوي دي . (بخاري او مسلم) د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د گرمي په وخت کي چي تاسو کومه سختي وينئ هغه ددې (دوږخ) د گرمۍ د ساه له کبله ده او په يخ کي چي کومه سختي وينئ هغه ددې د يخي ساه له کبله ده . بخاري او مسلم .

(۵۲۴):وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْعَصْرَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ حَيَّةٌ فَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى الْعَوَالِي فَيَأْتِي الْعَوَالِيَ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ وَ بَعْضُ الْعَوَالِيْ مِنَ الْمَدِيْنَةِ عَلَى اَرْبَعَةِ اَمْيَالٍ اَوْ نَحْوِهِ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د مازديگر لمونځ هغه وخت کاوه چي لمر به لوړ او ځلانده وو ، تلونکي به عوالي (د ښار څخه دباندي ابادي) ته تلل او لمر به ځلانده وو او د عوالي ځيني برخي د مدينې څخه څلور ميله يا ددې شاوخوا وې. بخاري او مسلم.

(۵۲۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ يَجْلِسُ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مازديگر لمونځ چي په آخر وخت کي کوي

يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتَّى إِذَا صَفَرَّتْ وَ كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ قَامَ فَنَقَرَهَا أَرْبَعًا لاَ يَذْكُرُ اللّٰهَ فِيهَا إِلاَّ قَلِيلاً. رواه مسلم

دا د منافق لمونځ دی چي ناست وي انتظار کوي تر دې چي کوم وخت لمر ژړ سي او د شیطان په دواړو ښکرو کي راسي نو ودرېږي او څلور منبکي وهي هغه په دې کي ډیر لږ د الله ذکر کوي . مسلم .

(۵۴۶): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَّذِيْ تَفُوْتُهُ صَلاَةُ الْعَصْرِ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلُهُ وَمَالُهُ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د کوم چا څخه چي د مازدیگر لمونځ قضا سي د هغه حالت داسي دی لکه د هغه اهل او عیال، مال او دولت چي لوټ سو . بخاري او مسلم .

(۵۴۷): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ صَلاَةَ الْعَصْرِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ . رواه البخاري .

د حضرت بریدة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي د مازدیگر لمونځ قضا کړ هغه خپل عمل ضائع کړ . بخاري .

(۵۴۸): وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي الْمَغْرِبَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَنْصَرِفُ أَحَدُنَا وَإِنَّهُ لَيُبْصِرُ مَوَاقِعَ نَبْلِهِ .متفق عليه

د حضرت رافع بن خدیج ﷺ څخه روایت دی چي موږ به د رسول الله ﷺ سره د ماښام لمونځ ادا کوی په موږ کي چي به څوك بیرته ستنبدی نو هغه به د خپل غشي د غورځېدو ځای لیدی . بخاري او مسلم .

(۵۴۹): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانُوْا يُصَلُّوْنَ الْعَتَمَةَ فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ الْأَوَّلِ .( متفق عليه )

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ او صحابه کرامو به د ماخستن لمونځ د شفق د غائب کېدو وروسته تر دریمي برخي د شپې پوري کوی . بخاري او مسلم .

(۵۵۰): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُصَلِّيَ الصُّبْحَ فَتَنْصَرِفُ النِّسَاءُ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوْطِهِنَّ مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د سهار لمونځ په داسي وخت کي کوی چي ( د لمانځه کولو وروسته) به ښځي بیرته ستنبدې نو د تیارې له کبله به هیڅا هغوئ نه پیژندلې . بخاري او مسلم .

(۵۵۱): وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَزَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ تَسَحَّرَا فَلَمَّا فَرَغَا مِنْ سُحُوْرِهِمَا قَامَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الصَّلَاةِ فَصَلَّى . قُلْنَا لِأَنَسٍ كَمْ كَانَ بَيْنَ فَرَاغِهِمَا مِنْ سُحُوْرِهِمَا وَدُخُوْلِهِمَا فِي الصَّلَاةِ ؟ قَالَ قَدْرُ مَا يَقْرَأُ الرَّجُلُ خَمْسِيْنَ آيَةً . رواه البخاري .

حضرت قتاده د حضرت انس ﷺ څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ او زيد بن ثابت دواړو پيشلمی وکړ د پيشلمي څخه د فارغ کېدو وروسته رسول الله ﷺ د سهار د لمانځه لپاره ودرېدی او لمونځ يې وکړ ، موږ د انس ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د پيشلمي کولو او د سهار د لمانځه په منځ کي څومره وخت وو، هغه وويل يو ازي دومره وخت چي يو سړی پکښې پنځوس آياتونه تلاوت کړي . بخاري .

(۵۵۲): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ لِي رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ أَنْتَ إِذَا كَانَتْ عَلَيْكَ أُمَرَاءُ يُمِيْتُوْنَ الصَّلَاةَ أَوْ يُؤَخِّرُوْنَ عَنْ وَقْتِهَا قُلْتُ فَمَا تَأْمُرُنِي قَالَ صَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا فَإِنْ أَدْرَكْتَهَا مَعَهُمْ فَصَلِّ فَإِنَّهَا لَكَ نَافِلَةٌ . رواه مسلم

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دی چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمايل ستا به هغه وخت څه حال وي چي پر تا داسي حاکمان يا سرداران مسلط سي چي لمونځونه مړه کوي او يا يې په زنډ سره کوي، ابوذر وايي ما عرض وکړ نو بيا تاسو د هغه وخت لپاره څه حکم راکوئ رسول الله ﷺ وفرمايل ته لمونځ پر وخت کوه که ته د دوئ سره لمونځ کوې نو دويم ځل يې ورسره وکړه او دا به ستا لپاره نفل وي . مسلم

(۵۵۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الصُّبْحَ وَمَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الْعَصْرَ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوک چي د سهار يو رکعت د لمر ختلو څخه مخکي ونيسي نو هغه لکه د سهار لمونځ چي وکړ او چا چي د مازديگر يو رکعت د لمر لوېدو څخه مخکي ونيوی نو هغه د مازديگر لمونځ تر لاسه کړ . بخاري او مسلم .

(۵۵۴): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَدْرَكَ أَحَدُكُمْ سَجْدَةً مِّنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَلْيُتِمَّ صَلَاتَهُ وَإِذَا

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي چي څوک د مازديگر يو رکعت د لمر لوېدو څخه مخکي ونيسي نو هغه ته

أَدْرَكَ سَجْدَةً مِنْ صَلاَةِ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَلْيُتِمَّ صَلاَتَهُ . رواه البخاري .

پکار دي چي خپل لمونځ پوره کړي او څوك چي د سهار يو رکعت د لمر ختلو څخه مخکي ونيسي نو هغه ته پکار دي چي خپل لمونځ پوره کړي. بخاري

﴿٥٥٥﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ للّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَسِيَ صَلاَةً اَوْ نَامَ عَنْهَا فَكَفَّارَتُهَا اَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا وَفِيْ رِوَايَةٍ لاَ كَفَّارَةَ لَهَا إِلاَّ ذَلِكَ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا څخه چي لمونځ هير سي يا بيده سي نو دهغه بدله داده چي کله هم ور په ياد سي نو سمدستي دي يې وکړي ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي: د دې بدله يوازي داده چي کله ورته ياد سي نو وه دي يې کړي. بخاري او مسلم

﴿٥٥٦﴾: وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ فِي النَّوْمِ تَفْرِيْطٌ إِنَّمَا التَّفْرِيْطُ فِي الْيَقْظَةِ . فَإِذَا نَسِيَ أَحَدُكُمْ صَلاَةً أَوْ نَامَ عَنْهَا فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى قَالَ ( وَأَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِيْ ) . رواه مسلم

د حضرت ابوقتاده ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د خوب په حالت کي د لمانځه څخه ناخبره کېدو سره د خوب له کبله څه قصور نسته البته د ويښې په حالت کي قصور سته هم کله چي په تاسو کي د يو چا څخه لمونځ هير سي يا بيده سي نو کوم وخت چي ور په ياد سي سمدستي دي يې وکړي لکه چي الله تعالى فرمايي : (زما د ياد لپاره لمونځ ادا کړه) . مسلم

## دوهم فصل

﴿٥٥٧﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا عَلِيُّ ثَلاَثٌ لَا تُؤَخِّرْهَا الصَّلاَةُ إِذَا أَتَتْ وَالْجَنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ وَالْأَيِّمُ إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفُوًا . رواه الترمذي.

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې علي ! په درو شياتو کي زنډ کول نه دي پکار ١: يو خو د لمانځه په ادا کولو کي چي کله يې وخت سي ٢: دويم. په جنازه کي چي کله تياره سي ٣: او دريم د بې خاونده ښځي په نکاح کي هر کله چي د هغې سيال خاوند پيدا سي. ترمذي.

﴿٥٥٨﴾: وَعَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَقْتُ الْأَوَّلُ مِنْ الصَّلاَةِ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په اول وخت کي د لمانځه اد

رِضْوَانُ اللّٰهِ وَالْوَقْتُ الْآخِرُ عَفْوُ اللّٰهِ . رواه الترمذي

کول د الله د رضا سبب دی او په آخري وخت کي د الله تعالی د معافی سبب دی. ترمذي.

(۵۵۹): وَعَنْ أُمِّ فَرْوَةَ قَالَتْ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ ؟ قَالَ الصَّلَاةُ لِأَوَّلِ وَقْتِهَا . رواه أحمد والترمذي وأبو داود . وقال الترمذي لا يروى الحديث إلا من حديث عبد الله بن عمر العمري وهو ليس بالقوي عند أهل الحديث .

د حضرت ام فروة څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي کوم عمل تر ټولو غوره دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : په اول وخت کي لمونځ ادا کول ،(احمد ، ترمذي) ترمذي په دې کي دا هم ليکلي دي چي دا حديث پرته د عبدالله بن عمر عمري د حوالې څخه بله لار نه پيدا کيږي چي نه دی قوي په نزد داهل حديث .

(۵۶۰): وَعَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ مَا صَلَّى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلاة لِوَقْتِهَا الْآخِرِ مَرَّتَيْنِ حَتّٰى قَبَضَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى . رواه الترمذي .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ تر آخره وخته پوري هیڅکله لمونځ په آخري وخت کي دوهم ځل نه دی کړی.ترمذي.

(۵۶۱): وَعَنْ أَبِيْ أَيُّوْبَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ أُمَّتِيْ بِخَيْرٍ أَوْ قَالَ عَلَى الْفِطْرَةِ مَا لَمْ يُؤَخِّرُوا الْمَغْرِبَ إِلٰى أَنْ تَشْتَبِكَ النُّجُوْمُ . رواه أبو داود . ورواه الدارمي عن العباس .

د حضرت ابو ایوب ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زما امت به همیشه د خیر په حالت کي وي یا دا الفاظ رسول الله ﷺ وفرمایل زما امت به همیشه پر دین فطرت وي تر څو پوري چي هغوئ د ماښام په لمانځه کي ځنډ نه کوي .یعني دومره ځنډ چي ستوري را ښکاره سي . ابوداؤد او دارمي.

(۵۶۲): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلٰى أُمَّتِيْ لَأَمَرْتُهُمْ أَنْ يُؤَخِّرُوا الْعِشَاءَ إِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ أَوْ نِصْفِهِ . رواه أحمد والترمذي وابن ماجه .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : که ما پر خپل امت مشکل نه ګڼلای نو ما به دا حکم کړی وای چي د ماخستن لمونځ د شپې تر دریمي برخي پوري و ځنډول سي .

(۵۶۳): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روایت دی چي

اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتِمُوْا بِهٰذِهِ الصَّلَاةَ فَإِنَّكُمْ قَدْ فُضِّلْتُمْ بِهَا عَلٰى سَائِرِ الْأُمَمِ وَلَمْ تُصَلِّهَا أُمَّةٌ قَبْلَكُمْ . رواه أبو داود .

رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو د (ماخستن په لمانځه کې) زنډ کوئ ځکه چې تاسي بیشکه بهتر کړل سوي یاست په دې لمانځه سره پر (ټولو) نورو امتونو او نه دي کړي یو امت مخکي تر تاسي دا لمونځ (ماخستن). ابوداؤد.

﴿۵۶۴﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ أَنَا أَعْلَمُ بِوَقْتِ هٰذِهِ الصَّلَاةِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْهَا لِسُقُوْطِ الْقَمَرِ لِثَالِثَةٍ . رواه أبو داود والدارمي .

د حضرت نعمان بن بشیر ؓ څخه روایت دی چې زه د دې لمانځه (یعني ماخستن) وخت ښه پیژنم، رسول الله ﷺ به د شپې د دریمي برخي د سپوږمۍ د ډوبېدو په وخت کي کاوه. ابوداؤد او دارمي.

﴿۵۶۵﴾: وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْفِرُوْا بِالْفَجْرِ فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْأَجْرِ . رواه الترمذي وأبو داود والدارمي وليس عند النسائي فإنه أعظم للأجر .

د حضرت رافع بن خدیج ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د سهار لمونځ په رڼا کي کوئ ځکه چي په رڼا کي ددې کول لوی اجر لري. ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

## دريم فصل

﴿۵۶۶﴾: عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيْجٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي الْعَصْرَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ تُنْحَرُ الْجَزُوْرُ فَتُقْسَمُ عَشَرَ قِسَمٍ ثُمَّ تُطْبَخُ فَنَأْكُلُ لَحْمًا نَضِيْجًا قَبْلَ مَغِيْبِ الشَّمْسِ. متفق عليه

د حضرت رافع بن خدیج ؓ څخه روایت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره د مازدیگر لمونځ ادا کړ بیا به مو اوښ حلال کړ بیا مو لس ځایه وویشئ بیا به غوښه پخه سول بیا مو تر لمر لویدو له مخه وه خوړل. بخاري او مسلم.

﴿۵۶۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ مَكَثْنَا ذَاتَ لَيْلَةٍ نَنْتَظِرُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ فَخَرَجَ إِلَيْنَا حِيْنَ ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ أَوْ بَعْدَهُ فَلَا نَدْرِي أَشَيْءٌ شَغَلَهُ فِي أَهْلِهِ أَوْ غَيْرُ ذٰلِكَ فَقَالَ حِيْنَ خَرَجَ إِنَّكُمْ لَتَنْتَظِرُوْنَ صَلَاةً مَا يَنْتَظِرُهَا

د حضرت عبدالله بن عمر ؓ څخه روایت دی چي یوه شپه موږ د ماخستن دلمانځه لپاره د رسول الله ﷺ انتظار کاوه، رسول الله ﷺ تشریف راوړی کوم وخت چي د شپې دریمه برخه تیره سوې وه بلکه د دې وروسته هم موږ ته څرگنده نه وه چي رسول الله ﷺ په کور کي په یو کار بوخت وو یا

أَهْلُ دِينٍ غَيْرُكُمْ وَلَوْلَا أَنْ يَثْقُلَ عَلَى أُمَّتِي لَصَلَّيْتُ بِهِمْ هٰذِهِ السَّاعَةَ ثُمَّ أَمَرَ الْمُؤَذِّنَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَصَلّٰى. رواه مسلم

ددې پرته بل څه سبب وو ، رسول الله ﷺ چې موږ ته راورسیدی نو وه یې فرمایل : تاسو دلمانځه انتظار کوی بل هیڅ اهل مذهب ستاسو څخه پرته ددې لمانځه انتظار نه کوي که زما په امت کې دا امر مشکل نه وای نو ما به په دغه وخت کې په دوئ لمونځ کولای بیا یې مؤذن ته حکم وکړ بیا اقامت وسو او لمونځ یې وکړ. مسلم.

(۵۶۸): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ نَحْوًا مِنْ صَلَاتِكُمْ وَكَانَ يُؤَخِّرُ الْعَتَمَةَ بَعْدَ صَلَاتِكُمْ شَيْئًا وَكَانَ يُخِفُّ الصَّلَاةَ. رواه مسلم

د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به ستاسو د لمنځو په شان لمونځ کاوه البته د ماخستن په لمانځه کې به یې لږ زنډ کاوه او مختصر لمونځ به یې کوی. مسلم.

(۵۶۹): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ صَلَّيْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْعَتَمَةِ فَلَمْ يَخْرُجْ حَتّٰى مَضٰى نَحْوٌ مِّنْ شَطْرِ اللَّيْلِ فَقَالَ خُذُوا مَقَاعِدَكُمْ فَأَخَذْنَا مَقَاعِدَنَا فَقَالَ إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلُّوا وَأَخَذُوا مَضَاجِعَهُمْ وَإِنَّكُمْ لَنْ تَزَالُوا فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلَاةَ وَلَوْلَا ضَعْفُ الضَّعِيفِ وَسَقَمُ السَّقِيمِ لَأَخَّرْتُ هٰذِهِ الصَّلَاةَ إِلٰى شَطْرِ اللَّيْلِ. رواه أبو داود والنسائي.

د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره د ماخستن لمونځ ادا کړ رسول الله ﷺ د کور څخه هغه وخت تشریف راوړ چې د شپې نیمایي نژدې تیره سوې وه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : پر خپل خپل ځای ناست اوسئ نو موږ پر خپل خپل ځای کښینستلو بیا رسول الله ﷺ وفرمایل بېشکه خلکو لمونځ وکړ او خپلو خپلو بسترو ته ولاړل مګر تاسو دلمانځه انتظار کوئ ستاسو دا ټول وخت په لمانځه کې شمیرل کیږي که ما ته د کمزوري د کمزورۍ د ناروغ د ناروغۍ اندېښنه نه وای نو ما به په دې لمانځه کې د شپې تر نیمایي پوري زنډ کولای . ابوداؤد او نسائي.

(۵۷۰): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ تَعْجِيلًا لِلظُّهْرِ مِنْكُمْ وَأَنْتُمْ أَشَدُّ تَعْجِيلًا لِلْعَصْرِ مِنْهُ. رواه أحمد والترمذي

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د ماپښین په لمانځه کې تر تاسو ډیر تلوار کوی او تاسو د مازدیګر په لمانځه کې تر رسول الله ﷺ زیات تلوار کوئ . احمد او ترمذي

﴿۵۷۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ الْحَرُّ أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ وَإِذَا كَانَ الْبَرْدُ عَجَّلَ . رواه النسائي .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به په ګرمی کي په یخ کي لمونځ کوی (دماپښین) او په یخ کي به یې ژر لمونځ ادا کوی

﴿۵۷۲﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا سَتَكُوْنُ عَلَيْكُمْ بَعْدِيْ أُمَرَاءُ يَشْغَلُهُمْ أَشْيَاءُ عَنِ الصَّلَاةِ لِوَقْتِهَا حَتّٰى يَذْهَبَ وَقْتُهَا فَصَلُّوا الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا . فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أُصَلِّيْ مَعَهُمْ ؟ قَالَ نَعَمْ . رواه أبو داود .

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روایت دی چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل : زما څخه وروسته به ستاسو سرداران داسي وي چي د هغوئ کارونه به هغوئ پر وخت د لمانځه څخه منع کوي تر دې چي د لمانځه مستحب وخت به ولاړ سي په دې زمانه کي به تاسو خپل لمونځ پر خپل وخت کوئ ، یو سړي عرض وکړ اې دالله رسوله ! ایا زه دهغوئ سره لمونځ کوم ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : هو. ابوداؤد.

﴿۵۷۳﴾: وَعَنْ قَبِيْصَةَ بْنِ وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُوْنُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ مِنْ بَعْدِيْ يُؤَخِّرُوْنَ الصَّلَاةَ فَهِيَ لَكُمْ وَهِيَ عَلَيْهِمْ فَصَلُّوْا مَعَهُمْ مَا صَلُّوا الْقِبْلَةَ . رواه أبو داود .

د حضرت قبیصه بن وقاص څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زما څخه وروسته به ستاسو سرداران داسي وي چي لمونځ به په زنډ سره کوي هغه لمونځ ستاسو لپاره ګټور دی او د هغوئ لپاره وبال، تاسو د هغوئ سره لمونځ کوئ تر څو پوري چي هغوئ د قبلې په لور لمونځ کوي . ابوداؤد.

﴿۵۷۴﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ أَنَّهُ دَخَلَ عَلٰى عُثْمَانَ وَهُوَ مَحْصُوْرٌ فَقَالَ إِنَّكَ إِمَامُ عَامَّةٍ وَنَزَلَ بِكَ مَا تَرٰى وَيُصَلِّيْ لَنَا إِمَامُ فِتْنَةٍ وَنَتَحَرَّجُ . فَقَالَ الصَّلَاةُ أَحْسَنُ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ فَإِذَا أَحْسَنَ النَّاسُ فَأَحْسِنْ مَعَهُمْ وَإِذَا أَسَاؤُوْا فَاجْتَنِبْ إِسَاءَتَهُمْ . رواه البخاري .

د حضرت عبیدالله بن عدي بن الخیار څخه روایت دی چي کوم وخت حضرت عثمان ﷺ په محاصره کي وو زه هغه ته ورغلم او ورته وه مي ویل ته د ټولو خلکو امام یې اوس پر تا هغه مصیبت نازل دی چي په هغه کي ته اخته یې او په دې وخت کي د اهل فتنه امام موږ ته لمونځ راکوي موږ دا ګناه ګڼو، حضرت عثمان وفرمایل : لمونځ د انسان په ټولو اعمالو کي غوره دی هر کله چي خلك نیکي کوي نو ته هم د هغوئ سره په نیکي کي ګډون کوه او کله چي بدي کوي نو خپل ځان د هغوئ د بدۍ څخه ساته . بخاري .

## بَابُ فِيْ فَضَائِلِ الصَّلٰوةِ (د لمانځه د فضائلو بیان)

### لومړی فصل

(۵۷۵): عَنْ عُمَارَةَ ابْنِ رُوَيْبَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَنْ يَلِجَ النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ. رواه مسلم

د حضرت عمارة بن رويبة ﷺ څخه روایت دی چي ما درسول الله ﷺ څخه واوریدل : هغه سړي به هیڅکله په اور کي داخل نه سي چي د لمر ختلو او لوېدلو څخه مخکي لمونځ کوي یعني د سهار او مازدیګر لمونځ. مسلم.

(۵۷۶): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ .( متفق عليه )

د حضرت ابوموسی ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي د یخ په وخت کي دوه لمنځونه وکړل هغه به په جنت کي داخلیږي (یعني د سهار او مازدیګر یا سهار او ماخستن لمونځ . بخاري او مسلم .

(۵۷۷): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَاقَبُوْنَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ وَمَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ وَيَجْتَمِعُوْنَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الْعَصْرِ ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِيْنَ بَاتُوا فِيكُمْ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي فَيَقُوْلُوْنَ تَرَكْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ وَأَتَيْنَاهُمْ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ستاسو سره د شپې او د ورځي ملائکي ځي راځي او دا ملائکي د سهار او مازدیګر په لمنځو کي یو ځای کیږي هغه ملائکي چي ستاسو سره وي کله چي بیرته ولاړي سي نو دهغوئ څخه د هغوئ رب پوښتنه کوي حال دا چي (رب) د . هغو څخه زیات پوهېدونکی دی چي تاسو زما بندګان په کوم حال کي پرېښودل هغوئ وايي موږ هغوئ د لمانځه په حالت کي پرېښودل لو کوم وخت چي موږ هغوئ ته ورغلو نو هغه وخت یې هم لمونځ کوی . بخاري او مسلم .

(۵۷۸): وَعَنْ جُنْدُبِ الْقَسْرِيْ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللّٰهِ فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللّٰهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ فَإِنَّهُ مَنْ

د حضرت جندب القسري ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي د سهار لمونځ وکړ هغه د الله په عهد او ذمه داری کي

يَطْلُبُهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ ثُمَّ يَكُبُّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ . رواه مسلم، وفي بعض نسخ المصابيح القشيري بدل القسري .

دی له دې کبله تاسو ته پکار دي چي خپل ځان په داسي حال کي وساتي چي الله ستاسو څخه د خپل عهد او ذمه دارۍ پوښتنه ونه کړي ځکه چي الله تعالی خپل عهد د چا څخه و غواړي نو هغه به بيا هغه پيدا کوي او هغه به پرموخی په اور کي غورزوي . مسلم .

(۵۷۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مَا فِي النِّدَاءِ وَالصَّفِّ الْأَوَّلِ ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلاَّ أَنْ يَسْتَهِمُوا عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوا وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي التَّهْجِيرِ لَاسْتَبَقُوا إِلَيْهِ وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي الْعَتَمَةِ وَالصُّبْحِ لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : که خلکو ته دا څرګنده سي چي په اذان کولو کي څومره ثواب دی او د مسجد په اول صف کي د دريدلو څومره ثواب دی نو هغوئ به د نه تر لاسه کولو په صورت کي په قرعه اندازي (پچه کولو) سره هغه تر لاسه کړي او که دا ورته څرګنده سي چي د ماپښين د لمانځه لپاره د وختي تللو څومره ثواب دی نو هغوئ به په خغاسته ورځي او که د ماخستن او سهار د لمانځه فضيلت ورته څرګند سي نو هغوئ به د دې لمنځو لپاره پر کوناټو ځکېدو سره راځي . بخاري او مسلم .

(۵۸۰): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ صَلوٰةٌ أَثْقَلَ عَلَى الْمُنَافِقِينَ مِنَ الْفَجْرِ وَالْعِشَاءِ وَلَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر منافقانو د سهار او ماخستن څخه زيات هيڅ يو لمونځ دروند نه دی که هغوئ ته د دې فضيلت معلوم سي نو د کوناټو په ځکېدو به ورځي . بخاري او مسلم .

(۵۸۱): وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ. رواه مسلم.

د حضرت عثمان ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوك د ماخستن لمونځ په جماعت سره وکړي هغه لکه د نيمي شپې عبادت چي وکړ او چا چي د سهار لمونځ په جماعت سره وکړ هغه لکه ټوله شپه چي عبادت وکړي . مسلم.

(۵۸۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَغْلِبَنَّكُمْ الْأَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمْ المغرب قال و تقول الاعراب هي الْعِشَاءُ وقال لَا تَغْلِبَنَّكُمْ الْأَعْرَابُ عَلَى اسْمِ صَلَاتِكُمْ الْعِشَاءِ فَإِنَّهَا فِي كِتَابِ اللّٰهِ الْعِشَاءُ وَإِنَّهَا تُعْتِمُ بِحِلَابِ الْإِبِلِ . رواه مسلم

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : صحرائي خلك دي ستاسو د ماښام پر لمانځه غلبه تر لاسه نه کړي د راوي بیان دي چي صحرايي خلکو به د ماښام لمانځه ته د ماخستن لمونځ وایه او نبي کریم ﷺ وفرمایل چي صحرائي خلك چیري ستاسو د ماخستن د لمانځه پر نوم غلبه تر لاسه نه کړي ددې لمانځه نوم د الله په کتاب کي عشاء (ماخستن) دی دې صحرایانو به د اوښانو د شېدو لوښلو په سبب زنډ کوی . مسلم .

(۵۸۳): وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ حبسونا عَنِ الصَّلَاةِ الْوُسْطَى صَلَاةِ الْعَصْرِ مَلَأَ اللّٰهُ بُيُوْتَهُمْ وَقُبُوْرَهُمْ نَارًا . متفق عليه .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د خندق په ورځ وفرمایل : کافرانو موږ د منځني لمونځ یعني د مازدیگر د لمانځه څخه بند کړو الله تعالی دي د دوئ کورونه او قبرونه د اور څخه ډك کړي .بخاري او مسلم

## دوهم فصل

(۵۸۴): عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَسَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الْوُسْطَى صَلَاةُ الْعَصْرِ . رواه الترمذي .

د حضرت ابن مسعود او سمرة (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : درمیانی لمونځ د مازدیگر لمونځ دی . ترمذي .

(۵۸۵): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ قَوْلِه تَعَالٰى ( إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا) قَالَ تَشْهَدُهُ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَمَلَائِكَةُ النَّهَارِ . رواه الترمذي .

حضرت ابوهریرة ﷺ د رسول الله ﷺ څخه د دې آیت په تفسیر کي (ان قران الفجر...) فرمایي چي د سهار په لمانځه کي د شپې ملائکي او د ورځي ملائکي حاضرېږي. ترمذي .

## دريم فصل

| | |
|---|---|
| (۵۸۶): عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ وَعَائِشَةَ قَالاَ اَلصَّلاَةُ الْوُسْطٰى صَلاَةُ الظُّهْرِ .رواه مالك عن زيد والترمذي عنهما تعليقا . | د حضرت زيد بن ثابت او عائشة (رض) څخه روايت دی چي درمياني لمونځ د ماپښين لمونځ دی. مالك او ترمذي . |
| (۵۸۷): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ وَلَمْ يَكُنْ يُصَلِّيْ صَلاَةً أَشَدَّ عَلٰى أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا فَنَزَلَتْ(حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاَةِ الْوُسْطٰى ) وَقَالَ إِنَّ قَبْلَهَا صَلاَتَيْنِ وَبَعْدَهَا صَلاَتَيْنِ . رواه أحمد وأبو داود . | د حضرت زيد بن ثابت ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د ماپښين لمونځ وختي کاوه او په صحابه کرامو کي به په هغه ټولو لمنځو کي د ماپښين تر لمانځه زيات سخت هيڅ لمونځ نه وو نو د ا آيت نازل سو : (حافظوا على الصلوات.....) د ټولو لمنځو او په خاص ډول د درمياني لمانځه ساتنه کوئ، زيد بن ثابت وايي د درمياني لمانځه څخه دوه لمنځونه مخکي دي او دوه وروسته دی. احمد او ابوداؤد. |
| (۵۸۸): وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ عَلِيَّ بْنِ أَبِيْ طَالِبٍ وَعَبْدَ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ كَانَا يَقُوْلاَنِ اَلصَّلاَةُ الْوُسْطٰى صَلاَةُ الصُّبْحِ . رواه في الموطأ . ورواه الترمذي عن ابن عباس وابن عمر تعليقا . | د حضرت مالك ﷺ څخه روايت دی چي هغه ته على بن ابي طالب ا و عبدالله بن عباس (رض) دا بيان کړی دی چي د رمياني لمونځ د سهار لمونځ دی . مؤطا او ترمذي . |
| (۵۸۹): وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ غَدَا إِلٰى صَلاَةِ الصُّبْحِ غَدَا بِرَايَةِ الْإِيْمَانِ وَمَنْ غَدَا إِلَى السُّوْقِ غَدَا بِرَايَةِ إِبْلِيْسَ . رواه ابن ماجه . | د حضرت سلمان ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل يې : کوم سړی چي د سهار لمانځه ته ځي هغه لکه د ايمان بيرغ چي وړي او کوم سړی چي بازار ته ځي هغه لکه د ابليس بيرغ چي وړي . ابن ماجه . |

# بَابُ الْاَذَانِ (د اذان بیان)

## لومړی فصل

(۵۹۰): عَنْ أَنَسٍ قَالَ ذَكَرُوا النَّارَ وَالنَّاقُوسَ فَذَكَرُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى فَأُمِرَ بِلَالٌ أَنْ يَّشْفَعَ الْأَذَانَ وَأَنْ يُّوتِرَ الْإِقَامَةَ . قال إسماعيل فذكرته لأيوب . فقال إلا الإقامة .متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي خلکو (د لمانځه د وخت معلومولو لپاره) د يهود او نصارا د اور او ناقوس يادونه وکړه ، رسول الله ﷺ بلال ته حکم وکړ چي د آذان کلمې دوه دوه ځله ووايي او يو يو ځل تکبير وايي .بخاري او مسلم .

(۵۹۱): وَعَنْ أَبِيْ مَحْذُوْرَةَ قَالَ أَلْقٰى عَلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّأْذِيْنَ هُوَ بِنَفْسِهِ فَقَالَ قُلْ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ . ثُمَّ تَعُوْدُ فَتَقُوْلُ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ . اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ . رواه مسلم .

د حضرت ابو محذوره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په خپله ما ته آذان ښودی رسول الله ﷺ به فرمايل : ووايه : الله ډير لوی دی الله ډير لوی دی، الله ډير لوی ، الله ډير لوی ، زه شاهدي ورکوم چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته، زه شاهدي ورکوم چي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته ، زه شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله رسول دی ، زه شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله رسول دی ، بيا يې وفرمايل هغه جملې بيا دوهم ځل ووايه کومي چي دي مخکې، ويلي وې . اشهد ان لااله الاالله ...... راسئ لمانځه ته، راسئ لمانځه ته، راسي د خلاصون په لور، راسئ د خلاصون په لار، . الله ډير لوی دی الله ډير لوی دی، لااله الاالله ، د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته . مسلم .

## دوهم فصل

(۵۹۲): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ الْأَذَانُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ وَالْإِقَامَةُ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي د آذان دوې دوې

مَرَّةً مَرَّةً غَيْرَ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ . رواه أبو داود والنسائي والدارمي .

کلمې وې او د اقامت یوه یوه مګر په اقامت کې به قدقامت الصلوة دوه ځله ویل کیدی . ابوداؤد، نسائي او دارمي .

(۵۹۳): وَعَنْ أَبِيْ مَحْذُوْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَهُ الْأَذَانَ تِسْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً وَالْإِقَامَةَ سَبْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً . رواه أحمد والترمذي وأبو داود والنسائي والدارمي وابن ماجه .

د حضرت ابومحذوره ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ هغه ته د آذان نولس کلمې او د اقامت اووه لس کلمې وښودلې . احمد، ترمذي، ابوداؤد، نسائي، دارمي او ابن ماجه .

(۵۹۴): وَعَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ عَلِّمْنِيْ سُنَّةَ الْأَذَانِ قَالَ فَمَسَحَ مُقَدَّمَ رَأْسِهِ قَالَ تَقُوْلُ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ تَرْفَعُ بِهَا صَوْتَكَ ثُمَّ تَقُوْلُ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ تَخْفِضُ بِهَا صَوْتَكَ ثُمَّ تَرْفَعُ صَوْتَكَ بِالشَّهَادَةِ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ فَإِنْ كَانَ صَلَاةُ الصُّبْحِ قُلْتَ الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ. رواه أبو داود .

د حضرت ابو محذوره ﷺ څخه روایت دی چې ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! ما ته د آذان طریقه و ښیه ، د راوي بیان دی چې د دې په اورېدو سره رسول الله ﷺ د ابو محذوره پر تندي لاس را تیر کړ او بیا یې وفرمایل په لوړ آواز سره ووایه . الله اکبر الله اکبر الله اکبر الله اکبر بیا ووایه اشهد ان لااله الاالله اشهد ان لااله الاالله اشهد ان محمدا رسول الله اشهد ان محمدا رسول الله ، د مخکې آواز څخه لږ کرار ووایه بیا په لوړ آواز سره دکلمه شهادت تکرار وکړه اشهد ان لااله الاالله اشهد ان لااله الاالله اشهد ان لااله الاالله اشهد ان محمدا رسول الله اشهد ان محمدا رسول الله ، د دې وروسته دا کلمات حی علي الصلوة حي علي الصلوة حي على الفلاح حي على الفلاح ووایه که د سهار لمونځ وي نو د ا الفاظ هم ووایه الصلوة خیر من النوم الصلوة خیر من النوم (لمونځ تر خوب غوره دی) د دې وروسته دوه ځله الله اکبر او یو ځل لااله الاالله ووایه . ابوداؤد ،

(٥٩٥): وَعَنْ بِلَالٍ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُثَوِّبَنَّ فِيْ شَيْءٍ مِّنَ الصَّلَوَاتِ إِلاَّ فِيْ صَلَاةِ الْفَجْرِ . رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي أبو إسرائيل الراوي ليس هو بذاك القوي عند أهل الحديث .

د حضرت بلال ﷺ څخه روایت دی چي ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل : د سهار د لمانځه څخه پرته بل په هیڅ لمانځه کي تثویب (دوهم ځل اګاه کول) مه کوه نو د سهار په آذان کي د حي علي الفلاح وروسته الصلوة خیر من النوم ویل تثوب دي . ترمذي او ابن ماجه .

(٥٩٦): وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِبِلَالٍ إِذَا أَذَّنْتَ فَتَرَسَّلْ وَإِذَا أَقَمْتَ فَاحْدُرْ وَاجْعَلْ بَيْنَ أَذَانِكَ وَإِقَامَتِكَ قَدْرَ مَا يَفْرُغُ الْآكِلُ مِنْ أَكْلِهِ وَالشَّارِبُ مِنْ شُرْبِهِ وَالْمُعْتَصِرُ إِذَا دَخَلَ لِقَضَاءِ حَاجَتِهِ وَلاَ تَقُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوْنِيْ . رواه الترمذي وقال لا نعرفه إلا ن حديث عبد المنعم وهو إسناد مجهول .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ بلال ته وفرمایل : کوم وخت چي ته آذان کوې نو په کراره کراره يې کوه (ډیر په تلوار يې مه کوه) او هر کله چي اقامت کوې نو په تلوار تلوار يې کوه او د آذان او اقامت په منځ کي دومره فاصله ساته چي خوړونکی د خوراك څخه څښونکی د څښاك څخه او قضاء حاجت کونکی د حاجت څخه فارغ سي او تر هغه وخته لمانځه ته مه دریږه تر څو پوري چي ما ونه ویني . ترمذي .

(٥٩٧): وَعَنْ زِيَادِ بْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ قَالَ أَمَرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أُذِّنَ فِيْ صَلَاةِ الْفَجْرِ فَأَذَّنْتُ فَأَرَادَ بِلَالٌ أَنْ يُقِيْمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَخَا صُدَاءٍ قَدْ أَذَّنَ وَمَنْ أَذَّنَ فَهُوَ يُقِيْمُ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه .

د حضرت زیاد بن الحارث الصدائي ﷺ څخه روایت دی چي ما ته رسول الله ﷺ حکم وکړ چي د سهار آذان وکړه ما آذان وکړ بیا بلال ﷺ د اقامت اراده وکړه نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ستا ورور صدایي آذان کړی دی او کوم سړی چي آذان وکړي هغه دي اقامت هم وکړي . ترمذي، ابوداؤد او ابن ماجه .

## دریم فصل

(٥٩٨): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ الْمُسْلِمُوْنَ حِيْنَ قَدِمُوا الْمَدِيْنَةَ يَجْتَمِعُوْنَ فَيَتَحَيَّنُوْنَ الصَّلَوَاتِ وَلَيْسَ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی کوم وخت چي مسلمانانو هجرت وکړ مدیني ته

يُنَادِي بِهَا أَحَدٌ فَتَكَلَّمُوا يَوْمًا فِي ذٰلِكَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ اتَّخِذُوا مِثْلَ نَاقُوسِ النَّصَارَى وَقَالَ بَعْضُهُمْ قَرْنًا مِثْلَ قَرْنِ الْيَهُودِ فَقَالَ عُمَرُ أَوَلَا تَبْعَثُونَ رَجُلًا يُنَادِي بِالصَّلَاةِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بِلَالُ قُمْ فَنَادِ بِالصَّلَاةِ . متفق عليه .

راغلل نو يو ځاى به سول وخت به يې اندازه كوى او يو وخت به يې ټاكى او د هغه لپاره يو څوك اعلان كونكى نه وو، يوه ورځ پر دې مشوره وكړل سوه ځيني وويل چي د نصاراوو په ډول ناقوس واخلئ ، ځيني وويل قرنا واخلئ لكه د يهودو، حضرت عمر ﷺ وويل يو سړى دې و ټاكل سي چي د لمانځه بلنه وركوي، رسول الله ﷺ وفرمايل: بلاله ! ودرېږه او د لمانځه اعلان وكړه . بخاري او مسلم .

(۵۹۹): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ قَالَ لَمَّا أَمَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاقُوسِ يُعْمَلُ لِيُضْرَبَ بِهِ لِلنَّاسِ لِجَمْعِ الصَّلَاةِ طَافَ بِي وَأَنَا نَائِمٌ رَجُلٌ يَحْمِلُ نَاقُوسًا فِي يَدِهِ فَقُلْتُ يَا عَبْدَ اللّٰهِ أَتَبِيعُ النَّاقُوسَ قَالَ وَمَا تَصْنَعُ بِهِ فَقُلْتُ نَدْعُو بِهِ إِلَى الصَّلَاةِ قَالَ أَفَلَا أَدُلُّكَ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْ ذٰلِكَ فَقُلْتُ لَهُ بَلَى قَالَ فَقَالَ تَقُولُ اَللّٰهُ أَكْبَرُ إِلَى آخِرِهِ وَكَذَا الْإِقَامَةَ فَلَمَّا أَصْبَحْتُ أَتَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا رَأَيْتُ فَقَالَ إِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَقُمْ مَعَ بِلَالٍ فَأَلْقِ عَلَيْهِ مَا رَأَيْتَ فَلْيُؤَذِّنْ بِهِ فَإِنَّهُ أَنْدَى صَوْتًا مِنْكَ فَقُمْتُ مَعَ بِلَالٍ فَجَعَلْتُ أُلْقِيهِ عَلَيْهِ وَيُؤَذِّنُ بِهِ قَالَ فَسَمِعَ بِذٰلِكَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَهُوَ فِي بَيْتِهِ فَخَرَجَ يَجُرُّ رِدَاءَهُ وَيَقُولُ يَارَسُولَ اللّٰهِ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَقَدْ رَأَيْتُ مِثْلَ مَا أُرِيَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ . رواه أبو داود والدارمي وابن ماجه إلا

د حضرت عبدالله بن زيد بن عبدربه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د ناقوس وهلو حكم وكړ (يعني اراده يې وكړه) چي د هغه په وهلو سره خلك د لمانځه لپاره يو ځاى كړي ما ته په خوب كي يو سړى ځرګند سو چي د هغه په لاس كي ناقوس وو ما په خوب كي د هغه څخه پوښتنه وكړه اې دالله بنده ! ايا ته دا ناقوس پلورې ؟ هغه وويل ناقوس څه كوې ؟ ما ورته وويل موږ په دې سره خلك لمانځه ته رابولو نو هغه راته وويل ايا زه تا ته داسي شى نه وښيم چي ددې څخه غوره وي ؟ ما ورته وويل هو، نو هغه وويل الله اكبر الله اكبر ... الخ ، او همداسي تكبير (اقامت)، كله چي سهار سو نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم او خپل خوب مي ورته بيان كړ رسول الله ﷺ وفرمايل يقينا كه الله غواړي دا خوب حق دى ته د بلال سره و درېږه او څه چي دې په خوب كي ليدلي دي هغه ورته و ښيه او هغه دې آذان وكړي ځكه چي د هغه آواز ستا تر آواز لوړ دى، نو زه د بلال سره ودريدم او هغه ته مي د آذان كلمې و ښوولې

أنه لَمْ يذكر الإقامة . وقال الترمذي هذا حديث صحيح لكنه لم يصرح قصة الناقوس .

او هغه به آذان کوی ، راوي بيان کوي کوم وخت چي حضرت عمر ﷺ په خپل کور کي د آذان آواز واوريدی نو په څادر کشولو سره د کور څخه د باندي راووتی او رسول الله ﷺ ته يې عرض وکړ په هغه ذات دي مي قسم وي چي تاسو يې په حق سره راليږلی ياست ما هم داسي خوب ليدلی دی لکه څرنگه چي عبدالله ته ښودل سوی دی نو رسول الله ﷺ وفرمايل :الحمدلله (الله تعالی لره ټول تعريفونه دي) . ابوداؤد، دارمي او ابن ماجه .

(٦٠٠): وَعَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ فَكَانَ لاَ يَمُرُّ بِرَجُلٍ إِلاَّ نَادَاهُ بِالصَّلاَةِ أَوْ حَرَّكَهُ بِرِجْلِهِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابوبکرة ﷺ څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره د سهار د لمانځه لپاره ووتم نو کوم سړی چي به په لاره کي يو ځای کيدی رسول الله ﷺ به هغه د لمانځه لپاره رابللی (او که به بيده وونو په خپل پښه سره به يې) د هغه پښه ښورول. ابوداؤد.

(٦٠١): وَعَنْ مَالِك بَلَغَهُ أَنَّ الْمُؤَذِّنَ جَاءَ عُمَرَ يُؤَذِّنُهُ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ فَوَجَدَهُ نَائِمًا فَقَالَ اَلصَّلَاةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ فَأَمَرَهُ عُمَرُ أَنْ يَّجْعَلَهَا فِيْ نِدَاءِ الصُّبْحِ . رواه في الموطأ .

حضرت مالك ﷺ ته دا حديث رسيدلی دی چي مؤذن حضرت عمر ته راغلی چي د سهار د لمانځه خبر ورکړي مؤذن حضرت عمر ﷺ بيده پيدا کړی نو وه يې ويل د خوب څخه لمونځ غوره دی ، حضرت عمر ﷺ حکم وکړ چي دا کلمه د سهار په آذان کي گډه کړه . مؤطا .

(٦٠٢): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ سَعْدٍ مُؤَذِّنِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَدَّثَنِيْ أَبِيْ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِلاَلاً أَنْ يَّجْعَلَ اِصْبَعَيْهِ فِيْ أُذُنَيْهِ قَالَ إِنَّهُ أَرْفَعُ لِصَوْتِكَ . رواه ابن ماجه .

د حضرت عبدالرحمن بن سعد بن عمار بن سعد د رسول الله ﷺ مؤذن روايت کوي چي ما ته زما پلار سعد او هغه د خپل پلار عمار څخه دا حديث روايت کړی دی او عمار د سعد څخه چي رسول الله ﷺ بلال ته حکم وکړ چي د آذان کولو په وخت کي خپلي گوتي په غوږو کي دننه کړي دا به ستا آواز ډير لوړ کړي .

# بَابُ فَضْلِ الاَذَانِ وَ اِجَابَةِ الْمُؤَذِّنِ

## (د اذان فضیلت او د آذان جواب)

## لومړی فصل

(۶۰۳): عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْمُؤَذِّنُوْنَ أَطْوَلُ النَّاسِ أَعْنَاقًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه مسلم

د حضرت ماوية ﷺ څخه روایت دی چي ما درسول الله ﷺ اوریدلي دي چي فرمایل یې : آذان کونکي خلك به د قیامت په ورځ لوړو غاړو والا وي . مسلم .

(۶۰۴): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ لَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لاَ يَسْمَعَ التَّأْذِينَ فَإِذَا قُضِيَ النداء أَقْبَلَ حَتَّى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ حَتَّى إِذَا قُضِيَ التَّثْوِيبُ أَقْبَلَ حَتَّى يَخْطُرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ يَقُولُ لَهُ اذْكُرْ كَذَا وَاذْكُرْ كَذَا لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ حَتَّى يَظَلَّ الرَّجُلُ لاَ يَدْرِي كَمْ صَلَّى. رواه البخاري

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي د لمانځه لپاره آذان کیږي نو شیطان پر شا تښتي او د هغه د گوز آواز خیژي چي د آذان آواز د هغه غوږو ته ونه رسي کوم وخت چي آذان ختم سي نو بیرته راسي بیا چي اقامت کول کیږي نو مخ پر شا تښتي او د اقامت ختمېدو وروسته بیا راسي چي د انسان په زړه کي وسوسه اچوي او هغه ته هغه شیان وریادوي چي په یاد یې نه وي تر دې چي د سړي څخه هیر سي چي څو رکعاته لمونځ یې کړی وو . بخاري .

(۶۰۵): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَسْمَعُ مَدٰى صَوْتِ الْمُؤَذِّنِ جِنٌّ وَّلاَ إِنْسٌ وَلاَ شَيْءٌ إِلاَّ شَهِدَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه البخاري .

د حضرت ابوسعید الخدري ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پیریانان، انسانان او نو ر شیان چي د مؤذن آواز اوري نو د قیامت په ورځ به د دې شاهدي ادا کوي . بخاري .

(۶۰۶): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُوْلُوا مِثْلَ مَا يَقُوْلُ ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ فَإِنَّهُ مَنْ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي تاسو د آذان الفاظ اورئ نو کوم الفاظ چي

صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا ثُمَّ سَلُوا اللّٰهَ لِي الْوَسِيلَةَ فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ وَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ فَمَنْ سَأَلَ لِي الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ لَهُ الشَّفَاعَةُ . رواه مسلم

هغه وايي تاسو هم هغه واياست بيا پر ما درود ووایاست کوم څوك چي پر ما يو وار درود وايي نو ددې په سبب به الله ﷻ پر هغه لس واره رحمت نازلوي ، بيا دالله ﷻ څخه زما لپاره وسيله و غواړئ چي په جنت کي يو ځای دی او دا ځای د الله ﷻ د بندګانو څخه د يوه بنده لپاره دی او زه اميد لرم چي هغه سړی به زه يم نو کوم سړی چي زما لپاره وسيله طلب کړي د هغه لپاره زما شفاعت حلال دی . مسلم .

(٦٠٧): وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ فَقَالَ أَحَدُكُمْ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ قَالَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ قَالَ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ ثُمَّ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مِنْ قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه مسلم

د حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم وخت چي مؤذن الله اکبر الله اکبر وايي نوتاسو هم داسي واياست ، بيا کله چي مؤذن اشهد ان لااله الاالله وايي نو تاسو هم واياست او بيا کله چي هغه اشهدان محمدا رسول الله وايي نو تاسو يې هم واياست بيا چي هغه حی علي الصلوة وايي نو تاسو لاحول ولاقوة الا باالله واياست بيا چي هغه حي علي الفلاح وايي نو تاسو لاحول ولاقوة الا باالله واياست بيا چي هغه الله اکبر الله اکبر وايي نو تاسو هم الله اکبر الله اکبر واياست او بيا کله چي هغه لااله الاالله ووايي نو تاسو هم د زړه په صداقت سره ووایاست لااله الاالله، نو په جنت کي به داخل سئ . مسلم .

(٦٠٨): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه البخاري .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم سړی چي د آذان په اوريدو سره (يعني د اذان وروسته دا دعاء وکړه) اللهم رب ..... الخ ژباړه: اې ددې پوره دعاء پروردګاره او د قائم لمونځ پروردګاره ته محمد ته وسيله او بزرګي ورکړه او مقام محمود ته يې ورسوه چي د هغه تا وعده کړې ده ، نو د هغه لپاره د قيامت په ورځ شفاعت حلال سو. بخاري .

(۶۰۹): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُغِيرُ اِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ وَكَانَ يَسْتَمِعُ الْأَذَانَ فَاِنْ سَمِعَ أَذَانًا أَمْسَكَ وَإِلاَّ أَغَارَ فَسَمِعَ رَجُلاً يَقُولُ اللّٰهُ أَكْبَرُ اللّٰهُ أَكْبَرُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْفِطْرَةِ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجْتَ مِنَ النَّارِ فَنَظَرُوا اِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ رَاعِي مِعْزًى. رواه مسلم

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به (پر كفارو) هغه وخت حمله كول كله چي به څلانده سهار سو او د آذان اوريدو ته به يې غوږ ونيوی د اذان انتظار به يې كوی كه آذان به يې واوريدی نو دحملې څخه به منع سو كه به يې اذان وا نه وريدئ نو حمله به يې كول پر دښمن ، يوه ورځ چي رسو ل الله ﷺ د حملې لپاره تلی نو وايې وريدل چي يو سړی الله اكبر الله اكبر وايي نو رسول الله ﷺ وفرمايل دا سړی پر اسلام دی ، بيا هغه سړي وويل اشهد ان لااله الاالله ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : ته د دوږخ څخه ووتې ، صحابه كرامو چي هغه سړي ته وكتل نو هغه يو شپون وو. مسلم.

(۶۱۰): وَ عَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولاً وَبِالْإِسْلاَمِ دِينًا غُفِرَ لَهُ ذَنْبُهُ . رواه مسلم

د حضرت سعد بنّ ابي وقاص ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم سړی چي د مؤذن پر آواز اشهدان لااله الاالله باندي وحده لاشريك ......دينا ووايي نود هغه ټول كوچني گناهونه وبخښل سوه . مسلم.

(۶۱۱): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلاَةٌ بين كل اذانين صلوة ثُمَّ قال فِي الثَّالِثَة لِمَنْ شَاءَ. متفق عليه

د حضرت عبدالله بن مغفل ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوارو (يعني آذان او اقامت ) په منځ كي لمونځ د ی، رسول الله ﷺ دا جملې دري واره وفرمايلې او په دريم وار يې وفرمايل د هغه چا لپاره چي كول غواړي . بخاري او مسلم .

## دوهم فصل

(۶۱۲): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْإِمَامُ ضَامِنٌ وَالْمُؤَذِّنُ مُؤْتَمَنٌ اَللّٰهُمَّ أَرْشِدِ الْأَئِمَّةَ وَاغْفِرْ لِلْمُؤَذِّنِيْنَ . رواه أحمد وأبو داود والترمذي والشافعي وفي أخرى له بلفظ المصابيح .

رسول الله ﷺ وفرمايل : امام ضامن دی او آذان کونکی امانت دار دی ، اي الله ؛ امامانو ته هدايت وکړې او آذان کونکی و بخښې . احمد، ابوداؤد، ترمذي او شافعي .

(٦١٣): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَذَّنَ سَبْعَ سِنِيْنَ مُحْتَسِبًا كُتِبَ لَهُ بَرَاءَةٌ مِّنَ النَّارِ . رواه الترمذي وأبو داود وابن ماجه .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوك چي يوازي د ثواب په نيت اووه کاله آذان وکړي نو د هغه لپاره د دوزخ څخه خلاصون ليکل کيږي

(٦١٤):وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْجَبُ رَبُّكَ مِنْ رَّاعِيْ غَنَمٍ فِيْ رَأْسِ شَظِيَّةٍ لِّلْجَبَلِ يُؤَذِّنُ بِالصَّلَاةِ وَيُصَلِّيْ فَيَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ انْظُرُوْا إِلَى عَبْدِيْ هٰذَا يُؤَذِّنُ وَيُقِيْمُ الصَّلَاةَ يَخَافُ مِنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِيْ وَأَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ستا رب د پسو څروونکو څخه چي د غره په لمن کي پسونه پيايي راضي کيږي کله چي هغه د لمانځه لپاره آذان کوي او لمونځ کوي، الله تعالى ملائکو ته فرمايي زما دې بنده ته وګورئ ؛ هغه آذان کوي او لمونځ کوي او زما څخه بيريږي ما دا خپل بنده و بخښی او زه به دی په جنت کي داخل کړم. ابوداؤد او نسائي .

(٦١٥): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدٌ أَدَّى حَقَّ اللّٰهِ وَحَقَّ مَوْلَاهُ وَرَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ بِهِ رَاضُوْنَ وَرَجُلٌ يُّنَادِيْ بِالصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ كُلَّ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به دري کسان د مشکو پر غونډۍ وي ١: هغه غلام چي هغه د الله حق ادا کړی او بيا د خپل مالك حق هم ادا کړي ٢: هغه کس چي هغه د قوم امامت وکړی او هغه قوم دده څخه خوښ وي، ٣: او هغه کس چي په ورځ او شپه کي د پنځو لمنځو آذان کوي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی

(٦١٦): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُؤَذِّنُ يُغْفَرُ لَهُ مَدَّ صَوْتِهِ وَيَشْهَدُ لَهُ كُلُّ رَطْبٍ وَّيَابِسٍ وَّشَاهِدُ الصَّلَاةِ يُكْتَبُ لَهُ خَمْسٌ وَّعِشْرُوْنَ صَلٰوةً وَّيُكَفَّرُ عَنْهُ مَا بَيْنَهُمَا . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه وروى النسائي إلى قوله كل رطب ويابس . وقال وله مثل أجر من صلى .

ﷺ وفرمايل : د آذان كونكي د آواز د لوړوالى په اندازه د هغه بخښنه كيږي او د هغه لپاره وچ او لانده ددي شاهدي وركوي ، لمانځه ته د حاضرېدونكي لپاره د پنځه ويشت لمنځو ثواب ليكل كيږي د هغه هغه گناه چي د دوو لمنځو په منځ كي وي ليري كيږي . احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه او نسائي .

(٦١٧): وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اجْعَلْنِيْ إِمَامَ قَوْمِيْ قَالَ أَنْتَ إِمَامُهُمْ وَاقْتَدِ بِأَضْعَفِهِمْ وَاتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلَى أَذَانِهِ أَجْرًا . رواه أحمد وأبو داود والنسائي .

د حضرت عثمان بن ابي العاص ﷺ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وكړ اې دالله رسوله ! ما زما د قوم لپاره امام وټاكه ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته امام و ټاكلې ته په هغوئ كي د كمزوري او ضعيف زيات خيال ساته او ته داسي مؤذن وټاكه چي د آذان كولو مزدوري نه غواړي . احمد ، ابوداؤد او نسائي .

(٦١٨): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ عَلَّمَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنْ أَقُوْلَ عِنْدَ أَذَانِ الْمَغْرِبِ اَللّٰهُمَّ هٰذَا إِقْبَالُ لَيْلِكَ وَإِدْبَارُ نَهَارِكَ وَأَصْوَاتُ دُعَاتِكَ فَاغْفِرْ لِيْ . رواه أبو داود والبيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دی، چي ما ته رسول الله ﷺ و ښودل چي زه د ماښام د آذان وروسته دا دعاء غواړم (اې الله ! دا وخت ستا د شپې د راتلو او ستا د ورځي د تللو او ستا د بلونكي د آوازونو دی نو ما و بخښې .ابوداؤد

(٦١٩): وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَوْ بَعْضِ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ بِلَالًا أَخَذَ فِيْ الْإِقَامَةِ فَلَمَّا أَنْ قَالَ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَامَهَا اللّٰهُ وَأَدَامَهَا وَقَالَ فِيْ سَائِرِ الْإِقَامَةِ كَنَحْوِ حَدِيْثِ عُمَرَ فِي الْأَذَانِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابوامامه او يا ځيني اصحابو څخه روايت دی چي بلال ﷺ اقامت ويل پيل كړل كوم وخت چي هغه قدقامت الصلوة وويل نو رسول الله ﷺ وفرمايل : اقامهاالله و ادامها ، (الله دي لمونځ قائم او هميشه ولري) او په نور اقامت كي يې هغه وفرمايل چي د هغه ذكر د عمر د آذان په حديث كي تير سوی دی . ابوداؤد .

(٦٢٠): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يُرَدُّ الدُّعَاءُ بَيْنَ الأَذَانِ وَالإِقَامَةِ . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د اذان او اقامت په منځ کي دعاء نه رد کيږي. ابوداؤد او ترمذي.

(٦٢١): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثِنْتَانِ لاَ تُرَدَّانِ أَوْ قَلَّمَا تُرَدَّانِ الدُّعَاءُ عِنْدَ النِّدَاءِ وَعِنْدَ الْبَأْسِ حِيْنَ يَلْحَمُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا وَفِيْ رِوَايَةٍ وَتَحْتَ الْمَطَرِ . رواه أبو داود والدارمي إلا أنه لم يذكر وتحت المطر .

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوې دعاوي نه رد کيږي يا ډير کم رد کيږي يو خو د آذان په وخت کي دعاء او دويم د جهاد په وخت کي دعاء چي سخت جنګ وي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي (يعني د جهاد پر ځای) په باران کي دعاء کول. ابوداؤد او دارمي.

(٦٢٢): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ الْمُؤَذِّنِيْنَ يَفْضُلُوْنَنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْ كَمَا يَقُوْلُوْنَ فَإِذَا انْتَهَيْتَ فَسَلْ تُعْطَ . رواه أبو داود .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله آذان کونکي پر موږ فضيلت لري ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : څنګه چي آذان کونکي وايي همداسي ته هم وايه او کوم وخت چي ته د آذان څخه فارغ سې نو د الله ﷻ څخه سوال وکړه درکول به سي. ابوداؤد.

## دريم فصل

(٦٢٣): عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ الشَّيْطَانَ إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ بِالصَّلاَةِ ذَهَبَ حَتّٰى يَكُوْنَ مَكَانَ الرَّوْحَاءِ، قَالَ الرَّاوِيْ وَالرَّوْحَاءُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ عَلَى سِتَّةٍ وَ ثَلٰثِيْنَ مِيْلاً . رواه مسلم .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل يې : شيطان چي د آذان آواز واوري نو تېښتي تر دې چي د روحا ځای ته ورسيږي ، د راوي بيان دی چي روحا د مديني څخه شپږ ديرش ميله ليري دی. مسلم.

(٦٢٤): وَعَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ قَالَ إِنِّيْ لَعِنْدَ

د حضرت علقمة بن وقاص ﷺ څخه روایت دی

مُعَاوِيَةَ إِذْ أَذَّنَ مُؤَذِّنُهُ فَقَالَ مُعَاوِيَةَ كَمَا قَالَ مُؤَذِّنُهُ حَتّٰى إِذَا قَالَ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ فَلَمَّا قَالَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ قَالَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ وَقَالَ بَعْدَ ذٰلِكَ مَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذٰلِكَ . رواه أحمد .

چي زه د حضرت معاويه ﷺ سره ناست وم چي د هغه مؤذن آذان وکړ حضرت معاويه هم هغه الفاظ ويل کوم چي مؤذن ويل، تر دې چي مؤذن حي علي الصلوة وويل نو حضرت معاوية لاحول ولاقوة الا باالله او کله چي مؤذن حی علی الفلاح وويل نو حضرت معاويه لاحول ولاقوة الا باالله العلي العظيم وويل ، بيا وروسته حضرت معاوية هغه جملې وويل کوم چي مؤذن ويلې ، حضرت معاوية ﷺ وويل ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي هغوئ به داسي فرمايل . احمد .

(٦٢٥): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ بِلَالٌ يُنَادِيْ فَلَمَّا سَكَتَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ مِثْلَ هٰذَا يَقِيْنًا دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه النسائي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره ملګري وو ، حضرت بلال ﷺ و دريدی او آذان يې کاوه کوم وخت چي حضرت بلال پټه خوله سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په يقين سره داسي (د اذان په جواب کي ) ووايي نو هغه به په جنت کي داخل سي .نسائي .

(٦٢٦): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعَ الْمُؤَذِّنَ يَتَشَهَّدُ قَالَ وَأَنَا وَأَنَا . رواه أبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د مؤذن شهادتونه واوريدل نو فرمايل به يې او زه هم شهادت ورکوم او زه هم شهادت ورکوم . ابوداؤد .

(٦٢٧): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَذَّنَ ثِنْتَيْ عَشَرَةَ سَنَةً وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ وَكُتِبَ لَهُ بِتَاذِيْنِهِ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ سِتُّوْنَ حَسَنَةً وَلِكُلِّ إِقَامَةٍ ثَلَاثُوْنَ حَسَنَةً . رواه ابن ماجه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوك چي دوولس کاله آذان وکړي د هغه لپاره جنت واجب سي او د هغه د آذان په بدله کي هره ورځ شپيته نيکۍ او د اقامت په بدله کي ديرش نيکۍ ليکل کيږي . ابن ماجه .

(٦٢٨): وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا نُؤْمَرُ بِالدُّعَاءِ عِنْدَ أَذَانِ الْمَغْرِبِ . رواه البيهقي في دعوات الكبير .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي موږ ته د ماښام د آذان کولو په وخت کي د دعاء حکم راکړل سوی دی بيهقي .

# بَابُ فِيْ بَيَانِ بَعْضِ اَحْكَامِ الاَذَانِ

## (د آذان د ځینو احکامو بیان)

### لومړی فصل

(۶۲۹): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ بِلَالاً يُنَادِيْ بِلَيْلٍ فَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يُنَادِيَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ قَالَ وَكَانَ ابْنُ ام مكتوم رَجُلاً أَعْمٰى لَا يُنَادِيْ حَتّٰى يُقَالَ لَهُ أَصْبَحْتَ أَصْبَحْتَ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : بلال د شپې آذان کوي نو تاسو خورئ او چښئ (په روژه کي پیشلمی کوئ) تر دې چي ابن مکتوم آذان وکړي د ابن عمر ﷺ بیان دی چي ابن مکتوم روند سړی وو او هغه به هغه وخت آذان کاوه چي کله به ورته وویل سول چي سهار سو سهار سو. بخاري او مسلم.

(۶۳۰): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَمْنَعَنَّكُمْ مِنْ سُحُوْرِكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ وَلَا الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيْلُ وَلٰكِنَّ الْفَجْرَ الْمُسْتَطِيْرَ فِي الْأُفُقِ .رواه مسلم ولفظه للترمذي .

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د بلال آذان دي تاسو د پیشلمي څخه منع نه کړي او نه صبح کاذب البته کله چي صبح صادق (خپور) څرګند سي نو (پیشلمي کول پریږدئ) مسلم او ترمذي .

(۶۳۱): وَعَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَابْنُ عَمٍّ لِيْ فَقَالَ إِذَا سَافَرْتُمَا فَأَذِّنَا وَأَقِيْمَا وَلْيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا . رواه البخاري .

د حضرت مالك بن الحويرث ﷺ څخه روایت دی چي زه او زما د اکا زوی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو نو رسول الله ﷺ وفرمایل هر کله چي تاسو دواړه په سفر ځئ نو اذان او اقامت کوئ او په تاسو کي چي کوم یو مشر وي هغه دي امامت وکړي . بخاري .

(۶۳۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلُّوْا كَمَا رَأَيْتُمُوْنِيْ أُصَلِّيْ فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ ثُمَّ

د حضرت مالك بن حويرث ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته وفرمایل : تاسو داسي لمونځ کوئ لکه څرنګه چي زموږ لمونځ کول وینئ او کله

وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ .متفق عليه

چي د لمانځه وخت سي نو په تاسو کي دي يو سړی آذان وکړي او کوم يو چي تر ټولو مشر وي هغه دي ستاسو امام سي . بخاري او مسلم .

﴿٦٣٣﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. حِيْنَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ سَارَ لَيْلَةً حَتّٰى إِذَا أَدْرَكَهُ الْكَرَى عَرَّسَ وَقَالَ لِبِلاَلٍ اكْلاً لَنَا اللَّيْلَ فَصَلّٰى بِلاَلٌ مَا قُدِّرَ لَهُ وَنَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ فَلَمَّا تَقَارَبَ الْفَجْرُ اسْتَنَدَ بِلاَلٌ إِلٰى رَاحِلَتِه مُوجِهَ الْفَجْرِ فَغَلَبَتْ بِلاَلاً عَيْنَاهُ وَهُوَ مُسْتَنِدٌ إِلٰى رَاحِلَتِه فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلاَ بِلاَلٌ وَلاَ أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِه حَتّٰى ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ فَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَهُمْ اسْتِيقَاظًا فَفَزِعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيْ بِلاَلُ فَقَالَ بِلاَلٌ أَخَذَ بِنَفْسِي الَّذِي أَخَذَ بِنَفْسِكَ قَالَ اقْتَادُوا فَاقْتَادُوا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئًا ثُمَّ تَوَضَّأَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَمَرَ بِلاَلاً فَأَقَامَ الصَّلاَةَ فَصَلّٰى بِهِمُ الصُّبْحَ فَلَمَّا قَضَى الصَّلاَةَ قَالَ مَنْ نَسِيَ الصَّلاَةَ فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللّٰهَ قَالَ وَأَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ. رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي کله رسول الله ﷺ د خيبر د غزا څخه راوګرزيدی نو دشپې يې سفر وکړ چي پر رسول الله ﷺ پرکالي (د خوب اثر) راغلل نو د آرام کولو لپاره را تا سو او بلال ته يې وفرمايل ته زموږ ساتنه کوه (يعني سهار مو ويښ کړه) بلال د تهجد په لمانځه کي بوخت سو او څومره لمونځ چي ممکن وو هغه يې وکړ او رسول الله ﷺ او صحابه کرام بيده سوه کله چي سهار نژدې سو نو بلال خپل سپرلي ته څنګ وواهه او د لمر خاته لوري ته يې مخ کړ مګر د بلال سترګي د خوب څخه ډکي سوې او هغه هم د اوښ سره تکيه ولګول او بيده سو اوس نو نه د رسول الله ﷺ نه د بلال، او نه د صحابه کرامو سترګي و لغړېدلې تر دې چي د لمر ګرمي سوه او د ټولو څخه وړاندي د رسول الله ﷺ سترګي ولغړېدلې (ويښ سو) رسول الله ﷺ په بيره وويل اې بلاله ! په تا څه وسول ؟ بلال عرض وکړ پر ما هم خوب غالب سو کوم چي پر تاسو غالب سو رسول الله ﷺ وفرمايل راپورته سئ او خپل اوښان بوزئ ، اوښان مو د هغه ځايه لږ ليري بوتلل بيا رسول الله ﷺ اودس وکړ او بلال ته يې د آذان حکم وکړ بيا رسول الله ﷺ د سهار لمونځ ورکړ ، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه يې فرمايل : د چا څخه چي لمونځ هير سي هغه ته پکار ده چي کله هم ور ياد سي هغه وخت يې ادا کړي ځکه چي الله تعالى فرمايلي دي و اقم الصلوة لذکري . مسلم .

﴿۶۳۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَقُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوْنِيْ قَدْ خَرَجْتُ . متفق عليه

د حضرت ابو قتاده ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي د لمانځه لپاره اقامت وسي نو تاسو تر هغه وخته مه ولاړيږئ تر څو چي ما (د کور څخه) راوتونکی ونه وينئ . بخاري او مسلم .

﴿۶۳۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا تَأْتُوْهَا تَسْعَوْنَ وَأْتُوْهَا تَمْشُوْنَ وَعَلَيْكُمُ السَّكِيْنَةَ فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوْا وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوْا. متفق عليه وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا كَانَ يَعْمِدُ إِلَى الصَّلَاةِ فَهُوَ فِيْ الصَّلَاةِ . وهذا الباب خال عن الفصل الثاني.

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي د لمانځه لپاره اقامت وسي نو تاسو په منډه مه راځئ بلکه په کراره راځئ او څومره لمونځ چي ونيسئ نو وه يې کړئ او کوم چي تير سي هغه پوره کړئ . بخاري اومسلم. د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دی هر کله چي په تاسو کي يو څوك د لمانځه اراده کوي نو لکه دی چي د.هغه وخت څخه په لمانځه کي وي. په دې باب کي دويم فصل نسته.

## دريم فصل

﴿۶۳۶﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ عَرَّسَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً بِطَرِيْقِ مَكَّةَ وَوَكَّلَ بِلَالًا أَنْ يُوْقِظَهُمْ لِلصَّلَاةِ فَرَقَدَ بِلَالٌ وَرَقَدُوْا حَتّٰى اسْتَيْقَظُوْا وَقَدْ طَلَعَتْ عَلَيْهِمُ الشَّمْسُ فَاسْتَيْقَظَ الْقَوْمُ فَقَدْ فَزِعُوْا فَأَمَرَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْكَبُوْا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْ ذٰلِكَ الْوَادِيْ وَقَالَ إِنَّ هٰذَا وَادٍ بِهِ شَيْطَانٌ . فَرَكِبُوْا حَتّٰى خَرَجُوْا مِنْ ذٰلِكَ الْوَادِيْ ثُمَّ أَمَرَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْزِلُوْا وَأَنْ يَتَوَضَّئُوْا وَأَمَرَ بِلَالًا أَنْ يُنَادِيَ لِلصَّلَاةِ أَوْ يُقِيْمَ فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت زيد بن اسلم ﷛ څخه روايت دی چي يوه ورځ رسول الله ﷺ د شپې د مکې مکرمې په لار کي قيام (هستوګنه) وکړ او بلال ته يې دا خدمت و سپاری چي هغه يې (د لمانځه لپاره) راويښ کړي، بلال ته هم خوب ورغلی او نور هم بيده سوه او هغه وخت راويښ سوه چي لمر راختلی وو او د سهار د لمانځه نه کولوله کبله ټول په بيره کي سول، رسول الله ﷺ خلکو ته حکم وکړ چي سمدستي سپاره سئ ، نو ټول ددې ځای څخه ووتل او يو شېلي ته ورسيدل رسول الله ﷺ وفرمايل : دا يو داسي ځنګل دی چي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدْ رَأَى مِنْ فَزَعِهِمْ فَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ قَبَضَ أَرْوَاحَنَا وَلَوْ شَاءَ لَرَدَّهَا إِلَيْنَا فِيْ حِيْنٍ غَيْرِ هٰذَا فَإِذَا رَقَدَ أَحَدُكُمْ عَنِ الصَّلَاةِ أَوْ نَسِيَهَا ثُمَّ فَزِعَ إِلَيْهَا فَلْيُصَلِّهَا كَمَا كَانَ يُصَلِّيْهَا فِيْ وَقْتِهَا ثُمَّ الْتَفَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِيْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقِ فَقَالَ إِنَّ الشَّيْطَانَ أَتَى بِلَالاً وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّيْ فَأَضْجَعَهُ ثُمَّ لَمْ يَزَلْ يُهْدِئُهُ كَمَا يُهْدَأُ الصَّبِيُّ حَتّٰى نَامَ ثُمَّ دَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَالاً فَأَخْبَرَ بِلَالٌ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ الَّذِيْ أَخْبَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَا بَكْرٍ فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ . رواه مالك مرسلا .

شيطان پر مسلط دی لړ چي ولاړل نو رسول الله ﷺ حکم وکړ چي دلته کښته سئ او اودس وکړئ بلال ته يې حکم وکړ چي آذان يا اقامت وکړي بيا رسول الله ﷺ خلکو ته لمونځ ورکړ او کله چي د لمانځه څخه فارغ سو او ستښدل نو خلك يې په بيره کي وليدل نو وه يې فرمايل : خلکو ! الله تعالی زموږ روحونه قبض کړي وه که هغه غوښتل نو زموږ روحونه به يې په دويم وخت کي راکړي وای (يعني د هغه وخت څخه مخکي او د لمانځه په وخت کي) هر کله چي په تاسو کي يو څوك بيده سي او د لمانځه څخه غافل سي يا لمونځ ځيني هير سي او د هغه غفلت يا هيري له کبله په بيره کي سي نو هغه ته پکار دي چي هغه لمونځ هماغسي وکړي لکه څرنگه چي يې په خپل وخت کي کوي ، د دې وروسته رسول الله ﷺ ابوبکر صديق ﷺ ته متوجه سو او وه يې فرمايل : بلال ولاړ وو لمونځ يې کوی شيطان ورته راغلی او هغه يې تکيه لگولو ته تيار کړ بيا چي کله هغه بيده سو نو تر ډيره وخته پوري يې د خوب لپاره ښوروی لکه کوچنی چي ښوروي تر دې چي هغه غافل سو او بيده سو ، ددې وروسته رسول الله ﷺ بلال را وغوښتی، بلال ورته هغه صورت بيان کړی کوم چي رسول الله ﷺ ابوبکر صديق ته بيان کړی وو، ابوبکر صديق چي د بلال خبري واورېدی نو وه يې ويل زه شاهدي ورکوم چي تاسو د الله رښتوني رسول ياست . مالك مرسلا .

(۶۳۷): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَصْلَتَانِ مُعَلَّقَتَانِ فِيْ أَعْنَاقِ الْمُؤَذِّنِيْنَ لِلْمُسْلِمِيْنَ صِيَامُهُمْ وَصَلَاتُهُمْ . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د آذان کونکو پر غاړه دوه کاره دي د مسلمانانو لپاره (يعني دوې ذمه داری دي) د هغوئ روژې او د هغوئ لمونځ (يعني د هغوئ په آذان سره د خلکو روژې او لمنځونه) .ابن ماجه

# بَابُ الْمَسَاجِد وَ مَوَاضِعِ الصَّلٰوة

## (د مسجدو او د لمانځه د ځايو بيان)

## لومړی فصل

(۶۳۸): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْتَ دَعَا فِيْ نَوَاحِيْهِ كُلِّهَا وَلَمْ يُصَلِّ حَتّٰى خَرَجَ مِنْهُ فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِيْ قُبُلِ الْكَعْبَةِ وَقَالَ هٰذِهِ الْقِبْلَةُ . رواه البخاري . ورواه مسلم عنه عن أسامة بن زيد .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی کله چي رسول الله ﷺ (د مکې د فتح په ورځ) خانه کعبې ته داخل سو نو د هغه په ټولو کنجانو کي يې دعاء وکړل مګر لمونځ يې نه وکړ او د باندي راووتی بيا يې د کعبې مخته دوه رکعته لمونځ وکړ او وه يې فرمايل دا قبله ده . بخاري او مسلم .

(۶۳۹): وَ عَنْ عبدالله ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْكَعْبَةَ هُوَ وَأُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْحَجَبِيُّ وَبِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ فَأَغْلَقَهَا عَلَيْهِ وَ مَكَثَ فِيهَا فَسَأَلْتُ بِلَالًا حِينَ خَرَجَ مَا صَنَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ جَعَلَ عَمُوْدًا عَنْ يَسَارِهِ وَعَمُوْدَيْنِ عَنْ يَمِينِهِ وَثَلَاثَةَ أَعْمِدَةٍ وَرَاءَهُ وَكَانَ الْبَيْتُ يَوْمَئِذٍ عَلَى سِتَّةِ أَعْمِدَةٍ ثُمَّ صَلّٰى. متفق عليه

د حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ اسامه بن زيد ، عثمان بن طلحه الحجبي او بلال بن رباح خانه کعبې ته دننه سول او بلال يا عثمان د ننه کعبه بنده کړه (چي د خلکو ګڼه ګوڼه نه سي) او هلته يې لږ وخت قيام وکړ ، عبدالله بن عمر وايي کوم وخت چي بلال د کعبې څخه راووتی نو ما پوښتنه وکړه رسول الله ﷺ دننه څه وکړل ؟ هغه وويل يوه ستنه د رسول الله ﷺ چپه طرف ته وه او دوې ستني راسته طرف ته وې او درې ستني يې وروسته وې او په دغه ورځو کي په خانه کعبه کي شپږ ستني وې (نن سبا درې ستني لري) او بيا رسول الله ﷺ د هغو په منځ کي لمونځ ادا کړ . بخاري او مسلم .

(۶۴۰): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةٌ فِيْ مَسْجِدِيْ هٰذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ إِلَّا

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په دغه مسجد (مسجد نبوي) کي لمونځ پرته د مسجد حرام څخه تر نورو مسجدونو تر

الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ. متفق عليه

زرو لمنځو غوره دی. بخاري او مسلم.

﴿٦٤١﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْد الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَشُدُّوا الرِّحَالَ إلاَّ إلٰى ثَلاَثَة مَسَاجِدَ اَمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْمَسْجِد الْأَقْصٰى وَمَسْجِدِي هٰذَا. متفق عليه

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د درو مسجدو څخه پرته بل مسجد ته کجاوې مه ترئ (يعني سفر مه کوئ) مسجد حرام ته، مسجد اقصی ته او زما دغه مسجد ته. بخاري او مسلم.

﴿٦٤٢﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ وَمِنْبَرِي عَلٰى حَوْضِي. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د کور او زما د منبر په منځ کي د جنت د باغو څخه يو باغ دی او زما منبر زما پر حوض دی. بخاري او مسلم.

﴿٦٤٣﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأتِي مَسْجِدَ قُبَاءٍ كُلَّ سَبْتٍ مَاشِيًا وَرَاكِبًا وَيُصَلِّيْ فيه رَكْعَتَيْنِ. متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به مسجد قباء ته هره ورځ د شنبې پر پښو هم او پر سپرلي هم تلی او هلته به يې دوه رکعته لمونځ ادا کاوه. بخاري او مسلم.

﴿٦٤٤﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الْبِلاَدِ إلَى اللّٰه مَسَاجِدُهَا وَأَبْغَضُ الْبِلاَدِ إلَى اللّٰه أَسْوَاقُهَا. رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ په نزد په ټولو ځايو کي غوره ځايونه مسجدونه دي او بدترين ځايونه بازارونه دي. مسلم.

﴿٦٤٥﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَنٰي مَسْجِدًا لله بَنٰي اللّٰهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ. متفق عليه

د حضرت عثمان ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د الله د رضا لپاره مسجد جوړ کړي الله تعالی د هغه لپاره په جنت کي يو کور جوړوي. بخاري او مسلم.

﴿٦٤٦﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَدَا إلَى الْمَسْجِد أَوْ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د ورځي په لومړی

رَاحَ أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ . متفق عليه

برخه يا آخره برخه كي مسجد ته ولاړ سي نو الله تعالى په جنت كي د هغه ميلمستيا كوي كه هغه سهار ولاړ سي كه مابنام .بخاري او مسلم .

(۶۴۷): وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْظَمُ النَّاسِ أَجْرًا فِي الصَّلَاةِ اَبْعَدُهُمْ فَأَبْعَدُهُمْ مَمْشًى وَالَّذِي يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ حَتّٰى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْإِمَامِ أَعْظَمُ أَجْرًا مِنَ الَّذِي يُصَلِّيهَا ثُمَّ يَنَامُ. متفق عليه

د حضرت ابوموسى الاشعري ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د لمانځه تر ټولو زيات ثواب هغه چا ته رسيږي چي د هغه كور تر ټولو ليري وي نو ليري دي وي دوئ له جهته د راتللواو كوم څوك چي د لمانځه انتظار كوي او د امام سره لمونځ وكړي نود هغه ثواب تر هغه چا زيات دى چي يوازي لمونځ وكړي او بيده سي . بخاري او مسلم.

(۶۴۸): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ خَلَتْ الْبِقَاعُ حَوْلَ الْمَسْجِدِ فَأَرَادَ بَنُو سَلِمَةَ أَنْ يَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ فَبَلَغَ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُمْ بَلَغَنِي أَنَّكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ قَالُوا نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ أَرَدْنَا ذٰلِكَ فَقَالَ يَا بَنِي سَلِمَةَ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ . رواه مسلم

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دى چي مسجد ته نږدې څه ځايونه خالي سول نو بنو سلمه د قبيلې خلكو هلته د راتللو اراده وكړ، رسول الله ﷺ ته چي دا حال معلوم سو نو د هغو خلكو څخه يې پوښتنه وكړه چي ما ته خرګنده سوې ده چي تاسو مسجد ته د نږدې راتلو اراده لرئ هغوئ عرض وكړ هو، اې دالله رسوله! موږ داسي اراده كړې ده رسول الله ﷺ وفرمايل اې بنو سلمه ! تاسو په خپلو زړو كورونو كي اوسئ (مسجد ته په راتلو كي) ستاسو قدمونه په حساب كي ليكل كيږي. مسلم

(۶۴۹): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللّٰهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ الْإِمَامُ الْعَادِلُ وَشَابٌّ نَشَأَ بِعِبَادَةِ اللّٰهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ فِي الْمَسَاجِدِ اِذَا خَرَجَ مِنْهُ حَتّٰى يَعُوْدَ اِلَيْهِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللّٰهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ ذَكَرَ اللّٰهَ خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ وَ

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اووه خلك دي چي الله پاك به يې په هغه ورځ په خپل سايه كي ساتي په كومه ورځ چي د الله ﷻ سايې څخه پرته بله سايه نه وي ، يو عادل امام، دويم هغه زلمى چي خپله ځواني د الله ﷻ په عبادت كي تيره كړي دريم هغه سړى چي د هغه زړه (۱) مسجد سره لګېدلى وي كله چي

رَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَاَةٌ ذَاتَ حَسَبٍ وَّ جَمَالٍ فَقَالَ اِنِّيْ اَخَافُ اللّٰهَ وَ رَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَاَخْفَاهَا حَتّٰى لَاتَعْلَمَ شِمَالُهٗ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهٗ . متفق عليه

هغه د مسجد څخه راوځي تر څو پوري چي مسجد ته بيرته نه يې تللى نو بې تابه وي، څلورم هغه دوه خلك چي يوازي د الله ﷻ لپاره په خپل منځ كي مينه ساتي كه يو ځاى كيږي نو دالله د رضا لپاره او كه بيليږي نو دالله د رضا لپاره، پنځم هغه سړى چي په يوازيوالي كي الله ﷻ يادوي او سترگي يې د الله ﷻ د ذكر له كبله بهيږي ، شپږم هغه كس چي هغه يو خانداني او ښكلې ښځه د بدي ارادې سره وغواړي او دى ورته ووايي چي زه د الله ﷻ څخه بيريږم، اووم هغه كس چي داسي په پټه خيرات كوي چي د هغه چپه لاس ته هم څرگنده نه وي چي د هغه راسته لاس څه مصرف كړي دي . بخاري او مسلم .

﴿۶۵۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ عَلٰى صَلَاتِهٖ فِيْ بَيْتِهٖ وَ فِيْ سُوْقِهٖ خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ ضِعْفًا وَذٰلِكَ اَنَّهٗ اِذَا تَوَضَّاَ فَاَحْسَنَ الْوُضُوْءَ ثُمَّ خَرَجَ اِلَى الْمَسْجِدِ لَايُخْرِجُهٗ اِلَّا الصَّلَاةُ لَمْ يَخْطُ خَطْوَةً اِلَّا رُفِعَتْ لَهٗ بِهَا دَرَجَةٌ وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيْئَةٌ فَاِذَا صَلّٰى لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّيْ عَلَيْهِ مَا دَامَ فِيْ مُصَلَّاهُ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ وَلَايَزَالُ اَحَدُكُمْ فِيْ صَلٰوةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلٰوةَ وَ فِيْ رِوَايَةٍ قال اِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهٗ وَ زَادَ فِيْ دُعَاءِ الْمَلَائِكَةِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ اَللّٰهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ مَا لَمْ يُؤْذِ فِيْهِ مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيْهِ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سړي د جماعت لمونځ تر هغه لمونځ چي په كور يا بازار كي يې وكړي پنځه ويشت درجې زيات ثواب لري او دا په دې وجه چي هغه اودس وكړ او په ښه ډول يې اودس وكړ بيا د مسجد په لور يوازي د لمانځه په نيت ولاړى نو كوم قدم چي هغه د مسجد په لور ايږدي د هغه هر قدم په بركت به د هغه درجه لوړيږي او ددې په سبب به د هغه گناه ليري كيږي بيا چي هغه لمونځ كوي نو تر څو پوري چي په لمانځه كي بوخت وي ملائكي د هغه لپاره دا دعاء كوي : اللهم صل عليه اللهم ارحمه : اې الله دا سړى و بخښې اې الله پر ده رحم وكړې، او تر څو پوري چي تاسو د لمانځه انتظار كي ياست تر هغو پوري ستاسو وخت په لمانځه كي شميرل كيږي ، په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي كوم وخت مسجد ته داخل سئ او هلته د لمانځه له كبله انتظار كوئ او د ملائكو په دعاء كي دا الفاظ زيات دي : اللهم اغفرله، اې الله دى و بخښې اې الله دده توبه قبوله كړې ، تر څو چي دى په مسجد كي چا ته تكليف ور نه كړي او تر څو پوري چي اودس يې مات نه سي . بخاري او مسلم .

(۶۵۱): وَعَنْ اَبِيْ اُسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلْ اللّٰهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَإِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلْ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ. رواه مسلم

د حضرت ابواسيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي په تاسو كي يو څوك مسجد ته داخل سي نو هغه ته پكار دي چي دا دعاء وكړي (اې الله د خپل رحمت دروازې را باندي خلاصي كړه) او كله چي د مسجد څخه د باندي وځي نو دا كلمات دي وايي (اې الله زه ستا څخه ستا فضل غواړم). مسلم.

(۶۵۲): وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمْ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ. متفق عليه

د حضرت ابوقتادة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چي په تاسو كي يو څوك مسجد ته داخل سي نو هغه ته پكار ده چي د ناستي څخه وړاندي دوه ركعته لمونځ وكړي. بخاري او مسلم.

(۶۵۳): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلاَّ نَهَارًا فِي الضُّحَى فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ. متفق عليه

د حضرت كعب بن مالك ﷺ څخه روايت دی چي كله به رسول الله ﷺ د سفر څخه راستون سو نو په عام ډول سره د څاښت په وخت كي راتلى او تر ټولو وړاندي به مسجد ته تلى او دوه ركعته لمونځ به يې كوى او بيا به په مسجد كي لږ وخت ناست وو. بخاري او مسلم.

(۶۵۴): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَمِعَ رَجُلاً يَنْشُدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ فَلْيَقُلْ لاَ رَدَّهَا اللّٰهُ عَلَيْكَ فَإِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهٰذَا. رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم څوك چي دا واوري چي يو څوك خپل ورك سوى شى په مسجد كي لټوي نو هغه ته پكار ده چي دا ووايي چي الله دي د هغه شي نه پيداكوي ځكه چي مسجدونه ددې لپاره نه دي جوړ سوي. مسلم.

(۶۵۵): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلاَ يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَإِنَّ الْمَلاَئِكَةَ تَأَذَّى مِمَّا

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم څوك چي د بدبويه شيانو څخه يو شى و خوري (يعني وږه، پياز وغيره) نو هغه دي زموږ مسجد ته نږدې نه راځي ځكه چي ملائكو ته

يَتَأَذَّى مِنْهُ الإِنْسُ . متفق عليه

هم د هغه شي څخه تکليف رسيږي کوم چي انسان ته رسيږي. بخاري او مسلم.

﴿۶۵۶﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا. متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په مسجد کي توکل ګناه ده او ددې کفاره داده چي هغه ښخ کړل سي .بخاري او مسلم

﴿۶۵۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُ أُمَّتِي حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا فَوَجَدْتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الْأَذَى يُمَاطُ عَنِ الطَّرِيقِ وَوَجَدْتُ فِي مَسَاوِي أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَكُونُ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ. رواه مسلم

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت نيك او بد اعمال ما ته وړاندي کړل سول ما د هغوئ په نيکو اعمالو کي د لاري څخه تکليف کونکي شی ليري کول وليدل او په بدو اعمالو کي په مسجد کي توکل چي هغه ښخ کړل سوي نه وه . مسلم .

﴿۶۵۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَا يَبْصُقْ أَمَامَهُ فَإِنَّمَا يُنَاجِي اللّٰهَ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ وَلَا عَنْ يَمِينِهِ فَإِنَّ عَنْ يَمِينِهِ مَلَكًا وَلْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمَيْهِ فَيَدْفِنُهَا . وفي رواية أبي سعيد تحت قدمه اليسرى . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي په تاسو کي يو څوك د لمانځه لپاره ودريږي نو هغه دي خپل مخ ته نه توکي ځکه چي تر څو پوري هغه د لمانځه په حالت کي وي نو هغه خدای ته مخاطب دی ، او نه دي راسته لوري ته توکي ځکه چي دې خوا ته ملائکي وي بلکه چپه لوري ته دي توکي يا د قدمونو لاندي او بيا دي هغه ښخ کړي او د ابوسعيد په روايت کي دا الفاظ دي چي د چپه قدم لاندي دي توکي . بخاري او مسلم .

﴿۶۵۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ لَمْ يَقُمْ مِنْهُ لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى اتَّخَذُوْا قُبُوْرَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ . متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په مرض الموت کي وفرمايل: پر يهودو او نصاراوو دي د الله لعنت وي چي هغوئ د خپل انبياؤ قبرونه د سجدو ځايونه جوړ کړل. بخاري او مسلم.

﴿۶۶۰﴾: وَعَنْ جُنْدُبٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَلاَ وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ أَلاَ فَلاَ تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ إِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذٰلِكَ . رواه مسلم

د حضرت جندب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردار اوسئ ستاسو څخه وړاندي چي کوم خلك وه هغوئ د خپلو پيغمبرانو او بزرگانو قبرونه د سجدو ځايونه جوړ کړل ، خبردار تاسو د قبرو څخه د سجدې ځايونه جوړ نه کړئ زه تاسو ددې څخه منع کوم . مسلم .

﴿۶۶۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ مِنْ صَلاَتِكُمْ وَلاَ تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا. متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په خپلو کورونو کي هم يو څه لمنځونه کوئ او د کورو څخه قبرونه مه جوړئ .بخاري او مسلم.

## دوهم فصل

﴿۶۶۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د ختيځ او لويديځ په منځ کي قبله ده . ترمذي.

﴿۶۶۳﴾:وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ خَرَجْنَا وَفْدًا إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْنَاهُ وَصَلَّيْنَا مَعَهُ وَأَخْبَرْنَاهُ أَنَّ بِأَرْضِنَا بِيْعَةً لَنَا فَاسْتَوْهَبْنَاهُ مِنْ فَضْلِ طَهُوْرِهِ فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ وَتَمَضْمَضَ ثُمَّ صَبَّهُ لَنَا فِيْ إِدَاوَةٍ وَأَمَرَنَا فَقَالَ اخْرُجُوْا فَإِذَا أَتَيْتُمْ أَرْضَكُمْ فَاكْسِرُوْا بِيْعَتَكُمْ وَانْضَحُوْا مَكَانَهَا بِهٰذَا الْمَاءِ وَاتَّخِذُوْهَا مَسْجِدًا قُلْنَا إِنَّ الْبَلَدَ بَعِيْدٌ وَالْحَرُّ شَدِيْدٌ وَالْمَاءُ يُنْشَفُ فَقَالَ مُدُّوْهُ مِنَ الْمَاءِ فَإِنَّهُ لاَ يَزِيْدُهُ إِلاَّ طِيْبًا . رواه النسائي .

د حضرت طلق بن علي ﷺ څخه روايت دی چي موږ د يو جماعت په صورت کي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او درسول الله ﷺ پر لاس مو بيعت وکړ او د رسول الله ﷺ سره.مو لمونځ وکړ بيا موږ د نصاراوو د عبادت خانو په اره د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه (چي هغه ماتي کړو که يا) بيا موږ د رسول الله ﷺ د اودس څخه پاته سوي اوبه و غوښتلې رسول الله ﷺ اوبه را وغوښتلې اودس يې وکړ بيا يې په پاته اوبو سره خوله مبارکه پريولل او د خولې اوبه يې

په اوبو کي واچولې او د هغه اوبو څخه یې زموږ پتك ډك کړل بیا یې حکم راکړ او وه یې فرمایل: اوس تاسو ولاړ سئ او کوم وخت چي تاسو خپل ښار ته ورسیږئ د نصاراوو عبادت خانې ونړوئ او پر هغه ځای دا اوبه و پاشئ او هلته مسجد جوړ کړئ، موږ عرض وکړ زموږ ښار ډیر لیري دي او سخته ګرمي ده اوبه به وچي سي، رسول الله ﷺ وفرمایل په دې کي نوري اوبه واچوئ زیاتي یې کړئ په دې سره به د هغه په پاکۍ او برکت کي زیاتوالی وسي. نسائي

(۶۶۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ فِي الدُّوْرِ وَأَنْ يُنَظَّفَ وَيُطَيَّبَ. رواه أبو داود والترمذي وابن ماجه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت ى چي رسول الله ﷺ موږ ته دا حکم راکړی ى چي موږ په خپلو محلو کي مسجدونه ج کړو، پاك او صاف اوسو او خوشبویي لګوو.

(۶۶۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أُمِرْتُ بِتَشْيِيْدِ الْمَسَاجِدِ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ لَتُزَخْرِفُنَّهَا كَمَا زَخْرَفَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى. رواه أبو داود.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته د مسجدونو د لوړولو او ښکلي کولو حکم نه دی سوی، مګر ابن عباس ویلي دي چي تاسو به د مسجدونو زینت (ښکلا) کوئ لکه څرنګه چي یهود او نصارا د خپلو عبادت خانو زینت کوي. ابوداؤد.

(۶۶۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَّتَبَاهَى النَّاسُ فِي الْمَسَاجِدِ. رواه أبو داود والنسائي والدارمي وابن ماجه.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت د نښو څخه یوه دا هم ده چي په مسجدونو به خلك فخر کوي. ابوداؤد، نسائي، دارمي او ابن ماجه.

(۶۶۷): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُوْرُ أُمَّتِيْ حَتّٰى الْقَذَاةُ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ وَعُرِضَتْ عَلَيَّ ذُنُوْبُ أُمَّتِيْ فَلَمْ أَرَ ذَنْبًا أَعْظَمَ مِنْ سُوْرَةٍ مِّنَ الْقُرْآنِ أَوْ آيَةٍ أُوْتِيَهَا رَجُلٌ ثُمَّ نَسِيَهَا. رواه الترمذي وأبو داود.

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زما د امت ثوابونه زما په مخ کي وړاندي کړل سوه تر دې چي د مسجد څخه خاشو او ګرد لیري کولو ثواب هم، او زما په وړاندي زما د امت ګناهونه وړاندي کړل سول په هغو کي ما ته ددې څخه لویه ګناه په نظر نه راغلل چي د چا د قرآن کریم یو سورت یا یو آیت په یاد وي بیا یې هیر کړي. ترمذي او ابوداؤد.

(۶۶۸): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَشِّرِ الْمَشَّائِيْنَ فِي الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِالنُّوْرِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه الترمذي وأبو داود . ورواه ابن ماجه عن سهل بن سعد وأنس .

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه خلكو ته زيرى ورسوه چي په تياره كي د مسجدو په لوري ځي ، د قيامت په ورځ به هغوئ ته پوره رڼا په برخه وي . (ترمذي، ابوداؤد)

(۶۶۹): وَعَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ فَاشْهَدُوْا لَهُ بِالْإِيْمَانِ فَإِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يَقُوْلُ ( إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّٰهِ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي .

د حضرت ابوسعيدخدري ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو يو څوك د مسجد خبرگيري كونكى وويني نو د هغه د ايمان شاهدي وركړئ څكه چي الله تعالى فرمايلي دي (مسجدونه هغه څوك ابادوي چي پر الله او د قيامت پر ورځ ايمان لري) .ترمذي ، ابن ماجه او دارمي .

(۶۷۰): وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُوْنٍ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ائْذَنْ لَنَا فِي الْاخْتِصَاءِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ مِنَّا مَنْ خَصَى وَلَا اخْتَصَى إِنَّ خِصَاءَ أُمَّتِيْ الصِّيَامُ . فَقَالَ ائْذَنْ لَنَا فِي السِّيَاحَةِ . قَالَ إِنَّ سِيَاحَةَ أُمَّتِيْ الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ . فَقَالَ ائْذَنْ لَنَا فِي التَّرَهُّبِ فَقَالَ إِنَّ تَرَهُّبَ أُمَّتِيْ الْجُلُوْسُ فِي الْمَسَاجِدِ انْتِظَارًا الصَّلَاةَ . رواه في شرح السنة .

د حضرت عثمان بن مظعون ﷺ څخه روايت دى چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وكړ اې د الله رسوله! ما ته د ځان خصي كولو اجازه راكړئ (د زنا دبيري څخه) رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه سړى زموږ د ډلي څخه نه دى چي خپل ځان خصي كړي او يا بل خصي كړي، زما د امت لپاره د شهوت ختمولو طريقه روژه نيول دي ، بيا عثمان بن مظعون عرض وكړ ما ته د سياحت اجازه راكړئ رسول الله ﷺ وفرمايل زما د امت سياحت د الله په لاره كي په جهاد تلل دي، بيا عثمان عرض وكړ ما ته د دنيا پرېښودلو اجازه راكړئ رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د امت لپاره د دنيا پرېښودل دادي چي هغوئ په مسجد كي كښيني او د لمانځه انتظار وكړي .

(۶۷۱): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَائِشٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ رَبِّيْ عَزَّ

د حضرت عبد الرحمن بن عائش څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما خپل پروردگار په

وَجَلَّ فِيْ أَحْسَنِ صُوْرَةٍ قَالَ فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلأُ الْأَعْلَى ؟ قُلْتُ أَنْتَ أَعْلَمُ قَالَ فَوَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ كَتِفَيَّ فَوَجَدْتُ بَرْدَهَا بَيْنَ ثَدْيَيَّ فَعَلِمْتُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَتَلاَ ( وَكَذٰلِكَ نُرِيْ إِبْرَاهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ). رواه الدارمي مرسلا وَلِلتِّرْمِذِيِّ نَحْوَهُ عَنْهُ . وَعَنِ ابْنَ عَبَّاسٍ وَ مُعَاذِ ابْنِ جَبَلٍ وَ زَادَ فِيْهِ قَالَ يَا مُحَمَّدُ هَلْ تَدْرِيْ فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلأُ الْأَعْلٰى قُلْتُ نَعَمْ فِي الْكَفَّارَاتِ وَالْكَفَّارَاتُ الْمَكْثُ فِي الْمَسَاجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ وَالْمَشْيُ عَلَى الْأَقْدَامِ اِلَى الْجَمَاعَاتِ وَاِبْلاَغُ الْوُضُوْءِ فِي الْمَكَارِهِ فَمَنْ فَعَلَ ذَالِكَ عَاشَ بِخَيْرٍ وَّمَاتَ بِخَيْرٍ وَّ كَانَ مِنْ خَطِيْئَتِهٖ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ اُمُّهُ وَ قَالَ يَا مُحَمَّدُ اِذَا صَلَّيْتَ فَقُلْ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَ تَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَ حُبَّ الْمَسَاكِيْنِ فَاِذَا اَرَدْتَ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِيْ اِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُوْنٍ قَالَ وَ الدَّرَجَاتُ اِفْشَاءُ السَّلاَمِ وَ اِطْعَامُ الطَّعَامِ وَالصَّلٰوةُ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ وَ لَفْظُ هٰذَا الْحَدِيْثِ كَمَا فِي الْمَصَابِيْحِ لَمْ اَجِدْهُ عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ اِلاَّ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ .

خوب کي په غوره صورت کي ولیدی الله تعالی زما څخه پوښتنه وکړه مقربینو ملائکو په کومه معامله کي بحث کوی ما عرض وکړ اې الله ! ته ښه پوهیږې ، د دې په اوریدو سره الله تعالی خپل لاس زما د تیاتو په منځ کي کښېښودی چي د هغه یخ والی ما په خپله سینه کي محسوس کړ او ما ته د آسمانو او مځکو د ټولو شیانو علم تر لاسه سو بیا رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ : (همداسي موږ ابراهیم ته د آسمانو او مځکي تصرف و ښودی چي هغه یقین کوونکو خلکو کي شامل سي، (دارمي) او ترمذي هم دا حدیث د عبدالرحمن بن عائش ابن عباس او معاذ بن جبل څخه روایت کړی دی او دا الفاظ يې پکښي زیات کړي دي چي الله تعالی پوښتنه وکړه اې محمده ! تا ته څرګنده ده چي مقربینو ملائکو پر کوم شي بحث کوئ . رسول الله ﷺ وفرمایل هو، ما ته څرګنده ده هغوئ د (ګناهو) پر کفارو بحث کوي او هغه کفارې کومي دي د لمنځو څخه وروسته په مسجدو کي ناسته او د بل وخت د لمانځه انتظار کول او مسجدو ته په پښو تلل او د سختی (یخ یا ناروغی) په حالت کي په اوبو اودس کول چا چي داسي وکړل هغه به پر نیکي ژوندی وي او پر نیکي به مري او د ګناهو څخه به داسي پاك سي لکه نن چي د مور څخه پیداسوی وي بیا الله تعالی وفرمایل : اې محمد ﷺ! هر کله چي ته د لمانځه څخه فارغ سي نو دا دعاء کوه : اللهم اني .... غیر مفتون. (اې الله زه ستا څخه د نیکو اعمالو توفیق غواړم او د خرابو کارونو د پرهېښودلو او د مسکینانو سره د محبت ساتلو او اې الله کله چي ته د خپلو بندګانو په فتنه کي د اچولو اراده وکړې نو زما روح قبض کړې چي ما ته فتنه ونه رسیږي ، ددې وروسته رسول الله ﷺ د امت د تعلیم لپاره وفرمایل : الله تعالی نبي ته د

هدایت لپاره وویل چي درجې لوړونکي دا شیان دي سلام رواج کول یعني هر سړي ته سلام کول، ډوډۍ ورکول، د شپې چي خلك بیده وي نو لمونځ کول، په مصابیح کي چي څرنګه ددې الفاظ دي ما د شرح السنة څخه پرته دا روایت د عبدالرحمن څخه منقول پیدا نه کړ.

﴿۶۷۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ كُلُّهُمْ ضَامِنٌ عَلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ رَجُلٌ خَرَجَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللّٰهِ حَتّٰى يَتَوَفَّاهُ فَيُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ يَرُدَّهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيْمَةٍ وَرَجُلٌ رَاحَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللّٰهِ وَرَجُلٌ دَخَلَ بَيْتَهُ بِسَلَامٍ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللّٰهِ. رواه أبو داود.

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: درې کسان دي چي د هغوئ ذمه داري الله تعالی پر خان اخیستې ده یو غازي چي د الله ﷻ په لار کي د غزا لپاره د کور څخه وتلی وي هغه د الله ﷻ په ذمه داری کي دي تر څو چي هغه شهید سي نو په جنت کي به داخل کړل سي او که ژوندی پاته سي نو ثواب او مال غنیمت سره به بیرته راستون سي، دویم هغه کس چي د مسجد په لور ولاړی هغه هم د الله ﷻ په ساتنه کي دی او دریم هغه سړی چي خپل کور ته په سلام کولو سره داخل سي هغه هم د الله ﷻ په ذمه داری کي دی. ابوداؤد.

﴿۶۷۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ مُتَطَهِّرًا إِلَى صَلَاةٍ مَكْتُوْبَةٍ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْحَاجِّ الْمُحْرِمِ وَمَنْ خَرَجَ إِلَى تَسْبِيْحِ الضُّحٰى لَا يُنْصِبُهُ إِلَّا إِيَّاهُ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْمُعْتَمِرِ وَصَلَاةٌ عَلَى إِثْرِ صَلَاةٍ لَا لَغْوَ بَيْنَهُمَا كِتَابٌ فِيْ عِلِّيِّيْنَ. رواه أحمد وأبو داود.

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم سړی چي اودس وکړي د خپل کور څخه ووزي او د فرض لمانځه ادا کولو لپاره مسجد ته ولاړ سي هغه ته به دومره ثواب ورکول کیږي لکه څومره چي احرام تړونکي حاجي ته ورکول کیږي او کوم سړی چي د څاښت د لمانځه لپاره د کور څخه ووزي او خاص د څاښت د لمانځه کولو په نیت مسجد ته ولاړ سي د هغه ثواب د عمره کونکي د ثواب برابر دی او د یوه لمونځ وروسته دویم لمونځ کول او د دې دوو لمنځو په منځ کي پالتو خبري نه کول داسي عمل دی چي په علیین کي لیکل کیږي. احمد، ابوداؤد

﴿۶۷۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوْا قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَا رِيَاضُ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي تاسو د جنت باغو ته ولاړ سئ نو هلته میوه خورئ، د رسول الله ﷺ څخه

الْجَنَّة ؟ قَالَ الْمَسَاجِدُ . قِيْلَ وَمَا الرَّتْعُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ سبحان الله والحمدلله ولااله الا الله والله اكبر . رواه الترمذي .

پوښتنه وسول اې ۱دالله رسوله ۱ د جنت باغونه كوم دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : مسجدونه، او پوښتنه وسول چي ددې ميوه څه شي ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ . ترمذي .

(۶۷۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَتَى الْمَسْجِدِ لِشَيْءٍ فَهُوَ حَظُّهُ . رواه أبو داود .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي مسجد ته د يو مقصد لپاره راځي (يعني ديني يا دنيوي مقصد) نو هغه د هغه نصيب دی . ابوداؤد.

(۶۷۶): وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْحُسَيْنِ عَنْ جَدَّتِهَا فَاطِمَةَ الْكُبْرٰى قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ وَقَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَإِذَا خَرَجَ صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ وَقَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِي وَافْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ فَضْلِكَ . رواه الترمذي وأحمد وابن ماجه وفي روايتهما قالت إذا دخل المسجد وكذا إذا خرج قال بسم الله والسلام على رسول الله بدل صلى على محمد وسلم . وقال الترمذي ليس إسناده بمتصل وفاطمة بنت الحسين لم تدرك فاطمة الكبرى .

بي بي فاطمه بنت حسين د خپل انا بي بي فاطمې څخه روايت كوي چي كله به رسول الله ﷺ مسجد ته ننوتی نو پر محمد ﷺ باندي به يې درود او سلام وايه يعني دا الفاظ به يې فرمايل : صل علي محمد وسلم، بيا به يې دا دعاء كول : رب اغفرلي .....رحمتك، (اې پروردگاره زما گناهونه و بخښې او زما لپاره د رحمت دروازې خلاصي كړې، او هر كله چي به د مسجد څخه وتی نو دورد به يې وايه پر محمد ﷺ او ويل به يې اې ربه زما گناهونه و بخښې او خلاصي كړې ما ته دروازې د فضل خپلي ( ترمذي، احمد ، ابن ماجه ) د احمد او ابن ماجه په يوه روايت كي دا الفاظ دي كله چي به رسول الله ﷺ مسجد ته ننوتی يا راوتی نو دا الفاظ به يې ويل : بسم الله والسلام على رسول الله .

(۶۷۷): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَنَاشُدِ الْأَشْعَارِ فِي الْمَسْجِدِ وَعَنِ الْبَيْعِ وَالْاِشْتِرَاءِ

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه دده د نيكه څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ په مسجد كي د اشعارو ويلو څخه او پلورلو او رانيولو څخه منع فرمايلې ده او د جمعې په ورځ

فِيهِ وَأَنْ يَتَحَلَّقَ النَّاسُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ فِي الْمَسْجِدِ . رواه أبو داود والترمذي .

د لمانځه څخه مخکي حلقه جوړولو څخه يې منع فرمايلې ده . ابوداؤد او ترمذي .

(۶۷۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ فِي الْمَسْجِدِ فَقُولُوا لَا أَرْبَحَ اللَّهُ تِجَارَتَكَ وَإِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَنْشُدُ فِيهِ ضَالَّةً فَقُولُوا لَا رَدَّ اللَّهُ عَلَيْكَ . رواه الترمذي والدارمي

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو په مسجد كي يو څوك په پلورلو او رانيولو ووينئ نو هغه ته ووایاست چي الله دي ستا په تجارت كي تا ته ګټه نه دركوي، ا و هر كله چي څوك د ورك سوي شي په لټون ووينئ نو ووایاست چي الله دي ستا شی نه در پيدا كوي .ترمذي او دارمي.

(۶۷۹): وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُسْتَقَادَ فِي الْمَسْجِدِ وَأَنْ يُنْشَدَ فِيهِ الْأَشْعَارُ وَأَنْ تُقَامَ فِيهِ الْحُدُودُ . رواه أبو داود في سننه وصاحب جامع الأصول فيه عن حكيم . ون الصحيح من حلر

د حضرت حكيم بن حزام ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په مسجد كي د قصاص اخيستلو څخه منع فرمايلې ده همداسي د اشعارو ويلو او په مسجد كي د حد جاري كولو څخه منع فرمايلې ده . ابوداؤد.

(۶۸۰):وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ يَعْنِي الْبَصَلَ وَالثُّومَ وَقَالَ مَنْ أَكَلَهُمَا فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا وَقَالَ إِنْ كُنْتُمْ لَابُدَّ آكِلِيهِمَا فَأَمِيتُوهُمَا طَبْخًا . رواه أبو داود .

حضرت معاوية بن قرة د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ د دې دوو بوټو (يعني پياز او ووږه) څخه منع فرمايلې ده او فرمايلې يې دي كوم سړی چي دا شيان وخوري هغه دي زموږ مسجدو ته نږدې نه راځي او دا يې فرمايلي دي كه ددې خوراك ضروري وي نو پوخ كړی يې خورئ . ابوداؤد.

(۶۸۱): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدٌ إِلَّا الْمَقْبُرَةَ وَالْحَمَّامَ . رواه أبو داود والترمذي والدارمي .

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ټوله مځكه مسجد دی پرته د هديرې او حمام څخه په دې كي لمونځ كول صحيح نه دي .ابوداؤد، ترمذي او دارمي.

(۶۸۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُصَلَّى فِيْ سَبْعَةِ مَوَاطِنَ فِي الْمَزْبَلَةِ وَالْمَجْزَرَةِ وَالْمَقْبَرَةِ وَقَارِعَةِ الطَّرِيْقِ وَفِي الْحَمَّامِ وَفِيْ مَعَاطِنِ الْإِبِلِ وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللّٰهِ . رواه الترمذي وابن ماجه .

الله ﷺ په اوو ځایو کي د لمانځه څخه منع فرمایلې ده ۱: په امبارو کي ۲: د حیوانانو د حلالولو په ځای کي ۳: په هدیره کي ۴: د لاري په منځ کي ۵ په حمام کي ۶: د اوښانو د تړلو په ځای کي ۷: د خانه کعبې پر بام . ترمذي او ابن ماجه

﴿۶۸۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلُّوْا فِيْ مَرَابِضِ الْغَنَمِ وَلَا تُصَلُّوْا فِيْ أَعْطَانِ الْإِبِلِ . رواه الترمذي .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د پسو د تړلو په ځای کي (که ضرورت وي) لمونځ کوئ مګر داوښانو د تړلو په ځای کي (لمونځ) مه کوئ .ترمذي

﴿۶۸۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ وَالْمُتَّخِذِيْنَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَالسُّرُجَ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د قبرو پر زیارت کونکو ښځو باندي او د قبرو څخه مسجد جوړونکو او پر قبرو څراغ بلوونکو باندي لعنت کړی دی . ابوداؤد، ترمذي او نسائي .

﴿۶۸۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ إِنَّ حِبْرًا مِّنَ الْيَهُوْدِ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْبِقَاعِ خَيْرٌ ؟ فَسَكَتَ عَنْهُ وَقَالَ أَسْكُتُ حَتّٰى يَجِيْءَ جِبْرِيْلُ فَسَكَتَ وَجَاءَ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَسَأَلَ فَقَالَ مَا الْمَسْؤُوْلُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ وَلٰكِنْ أَسْأَلُ رَبِّيْ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى . ثُمَّ قَالَ جِبْرِيْلُ يَا مُحَمَّدُ إِنِّيْ دَنَوْتُ مِنَ اللّٰهِ دُنُوًّا مَا دَنَوْتُ مِنْهُ قَطُّ . قَالَ وَكَيْفَ كَانَ يَاجِبْرِيْلُ ؟ قَالَ كَانَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ سَبْعُوْنَ أَلْفَ حِجَابٍ مِّنْ نُوْرٍ . فَقَالَ شَرُّ الْبِقَاعِ أَسْوَاقُهَا وَخَيْرُ الْبِقَاعِ مَسَاجِدُهَا . رواه ابن حبان في صحيحه عن ابن عمر

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دی چي د یهودو یو دلي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي کوم ځای غوره دی؟ رسول الله ﷺ پته خوله سو، او وه یې ویل چي پته خوله کیږم تر هغو چي جبرائیل علیه السلام راځي، کله چي جبرائیل ﷺ تشریف راوړ نو رسول الله ﷺ دهغه څخه پوښتنه وکړه ، جبرائیل ﷺ ورته وویل په دې اړه زه ستا څخه زیات نه پوهیږم مګر زه به د خپل رب څخه پوښتنه وکړم ، ددې وروسته جبرائیل ﷺ وویل اې محمده ! زه نن الله ﷻ ته دومره نژدې ورسیدم چي ددې مخکي هیڅکله

دومره نژدې سوی نه وم رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې اې جبرائيل ! څنګه او څومره ؟ جبرائيل ؑ وویل : زما او د الله ﷻ په منځ کې یوازې اویا زره پردې د نور پاته وې ، الله ﷻ وفرمایل : بدترین ځایونه بازارونه دي او غوره ځایونه مسجدونه دي. ابن حبان .

## دريم فصل

﴿٦٨٦﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ جَاءَ مَسْجِدِيْ هٰذَا لَمْ يَأْتِ إِلاَّ لِخَيْرٍ يَتَعَلَّمُهُ أَوْ يُعَلِّمُهُ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُجَاهِدِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَمَنْ جَاءَ لِغَيْرِ ذٰلِكَ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الرَّجُلِ يَنْظُرُ إِلَى مَتَاعِ غَيْرِهِ . رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې فرمایل یې : کوم څوك چې زما دا مسجد (مسجد نبوي) ته په دې مقصد راسي چې نیکي زده کړي یا یې بل ته وښیي نو د هغه مرتبه به دومره وي څومره چې د الله تعالی په لار کې د جهاد کونکي مرتبه وي او څوك چې په دې غرض سره را نه سي یعني بل څه مقصد یې وي نو هغه به د هغه سړي په ډول وي چې د بل مال ته په افسوس سره ګوري . ابن ماجه او بیهقي .

﴿٦٨٧﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يَكُوْنُ حَدِيْثُهُمْ فِيْ مَسَاجِدِهِمْ فِيْ أَمْرِ دُنْيَاهُمْ فَلاَ تُجَالِسُوْهُمْ فَلَيْسَ لِلّٰهِ فِيْهِمْ حَاجَةٌ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت حسن ؓ څخه مرسلا روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل : ډېر ژر به داسې وخت راسي چې خلك به په مسجدو کې دنیاوي خبرې کوي ، دغه وخت تاسو د هغو خلکو سره مه کښېنئ الله تعالی ته د داسې خلکو هیڅ ضرورت نه سته . بیهقي .

﴿٦٨٨﴾: وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ كُنْتُ نَائِمًا فِيْ الْمَسْجِدِ فَحَصَبَنِيْ رَجُلٌ فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ اذْهَبْ فَأْتِنِيْ بِهٰذَيْنِ فَجِئْتُهُ بِهِمَا فَقَالَ مِمَّنْ أَنْتُمَا أَوْ مِنْ أَيْنَ أَنْتُمَا قَالاَ مِنْ أَهْلِ الطَّائِفِ . قَالَ لَوْ كُنْتُمَا مِنْ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ لَأَوْجَعْتُكُمَا تَرْفَعَانِ أَصْوَاتَكُمَا فِيْ مَسْجِدِ رَسُوْلِ

د حضرت سائب ؓ څخه روایت دی چې زه په مسجد کې بیده وم چې یو سړي زه په شګه وویشتم ما ولیدی چې هغه عمر بن خطاب دی هغه ما ته وویل ورسه او دغه دوه خلك را وغواړه (چې په مسجد کې په لوړ آواز خبرې کوي ، ما هغوئ را وغوښتل حضرت عمر ؓ پوښتنه ځیني وکړه تاسو څوك یاست؟ یا د کوم ځای اوسیدونکي

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري .

یاست ؟ هغوئ وویل مونږ د طائف اوسیدونکي یو ، حضرت عمر ﷺ ورته وویل که تاسو د مدینې او سیدونکي وای نو ما به سزا درکړې وای تاسو د رسول الله ﷺ په مسجد کي په زوره زوره خبري کوئ . بخاري .

(۶۸۹): وَعَنْ مَالِكٍ قَالَ بَنٰى عُمَرُ رَحَبَةً فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ تُسَمَّى الْبُطَيْحَا وَقَالَ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ أَنْ يَّلْغَطَ أَوْ يُنْشِدَ شِعْرًا أَوْ يَرْفَعَ صَوْتَهُ فَلْيَخْرُجْ إِلَى هٰذِهِ الرَّحَبَةِ . رواه في الموطأ .

د حضرت مالك څخه روایت دی چي حضرت عمر ﷺ د مسجد په یوه کونج کي یوه دوکانچه جوړه کړې وه چي د هغې نوم بطیحا وه او خلکو ته یې ویلي وه کوم چا ته چي د خبرو کولو ضرورت وي یا شعر ویل غواړي یا په لوړ آواز سره خبري کول هغه دي د مسجد څخه د باندي وځي او په دې بطیحا کي دي کښیني. مؤطا .

(۶۹۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِ حَتّٰى رُئِيَ فِيْ وَجْهِهِ فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهِ فَقَالَ إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ فِيْ صَلَاتِهِ فَإِنَّمَا يُنَاجِيْ رَبَّهُ وَ إِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ فَلَا يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهِ وَلٰكِنْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ ثُمَّ أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ فَبَصَقَ فِيْهِ ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلٰى بَعْضٍ فَقَالَ أَوْ يَفْعَلُ هٰكَذَا . رواه البخاري .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د قبلې په لور (گروړبی) ولیدی نو ډیر بد پر ولگېدی تر دې چي پر مخ مبارك یې د ناخوښی اثر څرگند سو ، رسول الله ﷺ ودرېدی او په خپل لاس مبارك سره یې هغه و گرووول بیا یې وفرمایل : هر کله چي تاسو د لمانځه لپاره درېږئ نو د خپل پروردگار سره خبري کوئ او دغه وخت ستاسو پروردگار ستاسو او د قبلې په منځ کي وي په داسي حالت کي دي هیڅوك د قبلې په لور نه توکي بلکه چپه لوري ته یا د پښو لاندي دي تو کړي ، ددې وروسته رسول الله ﷺ د خپل څادر په یو کونج کي تو کړل او هغه یې و موږی او وه یې فرمایل داسي دي کوي . بخاري .

(۶۹۱): وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ خَلَّادٍ وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ انَّ رَجُلًا أَمَّ قَوْمًا فَبَصَقَ فِي الْقِبْلَةِ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقوم حِيْنَ فَرَغَ لَا يُصَلِّيْ لَكُمْ فَأَرَادَ بَعْدَ

د حضرت سائب بن خلاد (چي یو صحابي دی) څخه روایت دی چي یو سړی د مسجد امام جوړ سو دهغه د لمانځه په حالت کي د قبلې په لور د تو کل ، رسول الله ﷺ هغه ولیدی کوم وخت چي هغه لمونځ وکړ نو رسول الله ﷺ خلکو ته وویل دا سړی دي تاسو ته لمونځ نه درکوي ددې وروسته

ذٰلِكَ أَنْ يُصَلِّيَ لَهُمْ فَمَنَعُوْهُ وَأَخْبَرُوْهُ بِقَوْلِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ نَعَمْ وَحَسِبْتَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّكَ آذَيْتَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ . رواه أبو داود .

كله چي هغه سړي د لمانځه ورکولو اراده وکړه نو هغوئ په ده پسي د لمانځه کولو څخه انکار وکړ او هغه يې د رسول الله ﷺ د قول څخه خبر کړ ، هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او ددې پيښي يادونه يې ورته وکړه ، رسول الله ﷺ ددې تصديق وکړ ، د راوي بيان دی چي رسول الله ﷺ دا الفاظ هم ويل تا خدای ﷺ او د هغه رسول ته تکليف ورسوی . ابوداؤد .

(٦٩٢): وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ احْتُبِسَ عَنَّا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ غَدَاةٍ عَنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ حَتّٰى كِدْنَا نَتَرَاءٰى عَيْنَ الشَّمْسِ فَخَرَجَ سَرِيْعًا فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَجَوَّزَ فِي صَلَاتِهِ . فَلَمَّا سَلَّمَ دَعَا بِصَوْتِهِ فَقَالَ لَنَا عَلٰى مَصَافِّكُمْ كَمَا أَنْتُمْ ثُمَّ انْفَتَلَ إِلَيْنَا ثُمَّ قَالَ أَمَا إِنِّي سَأُحَدِّثُكُمْ مَا حَبَسَنِي عَنْكُمُ الْغَدَاةَ أَنِّي قُمْتُ مِنَ اللَّيْلِ فَتَوَضَّأْتُ وَصَلَّيْتُ مَا قُدِّرَ لِي فَنَعَسْتُ فِي صَلَاتِي حتى اسْتَثْقَلْتُ فَإِذَا أَنَا بِرَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي أَحْسَنِ صُوْرَةٍ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَبِّ قَالَ فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلٰى قُلْتُ لَا أَدْرِي قَالَهَا ثَلَاثًا قَالَ فَرَأَيْتُهُ وَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ كَتِفَيَّ حَتّٰى وَجَدْتُ بَرْدَ أَنَامِله بَيْنَ ثَدْيَيَّ فَتَجَلّٰى لِي كُلُّ شَيْءٍ وَعَرَفْتُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَبِّ قَالَ فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلٰى قُلْتُ فِي الْكَفَّارَاتِ قَالَ مَا هُنَّ قُلْتُ مَشْيُ الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ وَالْجُلُوْسُ فِي الْمَسَاجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ وَإِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ حِيْنَ الْكَرِيْهَاتِ

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دی چي يوه ورځ د سهار په لمانځه کي رسول الله ﷺ په تشريف راوړلو کي ځنډ وکړ نژدې وو چي لمر د ختيځ څخه څرګند سي چي رسول الله ﷺ تشريف راوړ اقامت وکړل سو او رسول الله ﷺ لمونځ ورکړ او په قرائت او د لمانځه په ارکانو کي يې تخفيف وکړ او د سلام ګرځولو وروسته يې په لوړ آواز سره وفرمايل : چيري چي ناست ياست هلته ناست اوسئ ، ددې وروسته زموږ په لور متوجه سو او وه يې فرمايل : خبر سئ تاسو چي زه خبروم تاسو سهار زه ولي تاسو ته نه راغلم د شپې (د تهجدلپاره) پورته سوم اودس مي وکړ او څومره لمونځ چي په مقدر کي وو هغه مي ادا کړ په لمانځه کي زه کهاله سوم تر دې چي خوب را باندي غالب سو ناڅاپه ما خپل پروردګار په ډير ښه شکل او صورت کي وليدی ، الله تعالى ما ته وفرمايل : اې محمد ! ما عرض وکړ حاضر يم اې ربه ، الله پاك وفرمايل مقربي ملائکي په کوم شي کي بحث کوي ما عرض وکړ ما ته نه ده معلومه ، درې ځله الله پاك دغه پوښتنه وکړه او ما دغه جواب ورکړ ، بيا ما وليدل چي الله تعالى خپل لاس زما د دواړو

قَالَ ثُمَّ فِيمَ قُلْتُ فِي الدَّرَجٰتِ قَالَ وَمَا هُنَّ قُلْتُ إِطْعَامُ الطَّعَامِ وَلِينُ الْكَلَامِ وَالصَّلَاةُ وَالنَّاسُ نِيَامٌ قَالَ سَلْ قُلْتُ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ وَأَنْ تَغْفِرَ لِي وَتَرْحَمَنِي وَإِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةً فِي قَوْمٍ فَتَوَفَّنِي غَيْرَ مَفْتُونٍ وَأَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُنِي إِلَى حُبِّكَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا حَقٌّ فَادْرُسُوهَا ثُمَّ تَعَلَّمُوهَا. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح وسالت محمد بن اسماعيل عن هذا الحديث فقال هذا حديث صحيح.

اوړو په منځ کي کښېښود چي د هغه يخ والی ما په خپل سينه کي حس کړ او هر شی زما لپاره ځلانده کړل سو او زه د ټولو شيانو څخه خبر کړل سوم بيا الله تعالی وفرمايل : اې محمد ! ما وويل حاضر يم اې زما ربه ! الله تعالی وفرمايل : مقربي ملائکي په کوم شي کي خبري کوي ما عرض وکړ د ګناهونو د کفارې په مسئله کي، الله تعالی پوښتنه وکړه د ګناهونو کفاره څه شي دي ؟ ما عرض وکړ مسجدو ته پر پښو تلل د لمانځه وروسته په مسجد کي پاته کېدل او د نورو لمنځو انتظار کول او پوره اودس کول دي په سخت حالت کي ، ددې وروسته الله تعالی پوښتنه وکړه ملائکي په بله کومه خبره کي بحث کوي ما عرض وکړ د درجاتو په اړه ، الله تعالی پوښتنه وکړه هغه درجات څه شي دي ؟ ما عرض وکړ ډوډۍ ورکول ، اخلاق او په نرمي سره خبري کول او هر کله چي خلك د شپې بيده وي نو لمونځ کول، بيا الله تعالی وفرمايل هره دعاء چي د ځان لپاره غوره ګڼې هغه وغواړه : ما عرض وکړ : اللهم اني اسئلك ... الی حبك، (اې الله زه ستا څخه سوال کوم د ښه کارونو د کولو د خرابو کارونو د پرهېښودلو د مسکينانو دوستي ساتلو او دا چي ته ما و بخښې او پر ما رحم وکړې او هر کله چي ته يو قوم په فتنه کي د اخته کولو اراده وکړې نو په فتنه کي د اخته کېدو څخه مخکي ما وفات کړې غير له فتنې څخه او زه ستا څخه ستا محبت غواړم او د هغه چا محبت چي ته يې خوښوې او د هغه کار محبت چي ما ستا محبت ته نژدې کوي ) ددې وروسته رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل : دا خوب حق دی دا په ياد ولرئ او نورو ته يې ورسوئ (احمد، ترمذي) ترمذي ويلي دا حديث حسن صحيح دی او ما د محمد بن اسماعيل څخه په دې اړه پوښتنه وکړه نو هغه وويل دا حديث صحيح دی .احمداوترمذي

﴿۶۹۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ أَعُوذُ بِاللّٰهِ الْعَظِيمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ وَسُلْطَانِهِ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ مسجد ته ننوتی نو دا دعاء به يې کول : اعوذبالله..... من الشيطان الرجيم، (زه د شيطان رټل سوي څخه

الْقَدِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ قَالَ فَإِذَا قَالَ ذٰلِكَ قَالَ الشَّيْطَانُ حُفِظَ مِنِّيْ سَائِرَ الْيَوْمِ . رواه أبو داود .

د الله په ذريعه د هغه بزرگ او برتر ذات په واسطه او د قديم سلطنت په ذريعه پناه غواړم) ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل کوم مسلمان چي دغه دعاء ويلو سره مسجد ته ننوزي نو شيطان وايي دا سړی توله ورځ زما د شر څخه خلاص سو . ابوداؤد .

﴿۶۹۴﴾: وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ لاَ تَجْعَلْ قَبْرِيْ وَثَنًا يُعْبَدُ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى قَوْمٍ اتَّخَذُوْا قُبُوْرَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ . رواه مالك مرسلا .

د حضرت عطاء بن يسار ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (اي الله ! زما قبر بُت مه جوړوې چي خلک يې عبادت کوي) بيا يې وفرمايل : پر هغه قوم د الله غضب نازل سو کومو چي د خپلو انبياؤ قبرو ته سجدې کولې . مالك

﴿۶۹۵﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَحِبُّ الصَّلَاةَ فِيْ الْحِيْطَانِ قَالَ بَعْضُ رُوَاتِهِ يَعْنِي الْبَسَاتِيْنَ.رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب لا نعرفه إلا من حديث الحسن بن أبي جعفر وقد ضعفه يحي ابن سعيد وغيره .

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په باغو کي لمونځ کول خوښول او ځيني روايتونه وايي چي مراد د حيطان څخه باغونه دي . (احمد او ترمذي) ويلي دي چي دا حديث غريب دی چي حسن بن ابي جعفر څخه پرته مونږ ته معلوم نه سو او حسن بن ابي جعفر يحيی بن سعيد او نورو ضعيف گرځولی دی . ترمذي

﴿۶۹۶﴾: وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الرَّجُلِ فِيْ بَيْتِهِ بِصَلَاةٍ وَصَلَاتُهُ فِيْ مَسْجِدِ الْقَبَائِلِ بِخَمْسٍ وَعِشْرِيْنَ صَلوٰةً وَصَلوٰتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِيْ يُجَمَّعُ فِيْهِ بِخَمْسِ مِئَةِ صَلَاةٍ وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الْأَقْصٰى بِخَمْسِيْنَ أَلْفِ صَلَاةٍ وَصَلَاتُهُ فِيْ مَسْجِدِيْ بِخَمْسِيْنَ أَلْفِ صَلَاةٍ وَصَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ بِمِائَةِ أَلْفِ صَلَاةٍ . رواه ابن ماجه .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سړي لمونځ په خپل کور کي د يوه لمانځه برابر او د محل په مسجد کي د پنځه ويشت لمنځو برابر دی او په هغه مسجد کي په کوم کي چي د جمعې لمونځ کيږي د پنځو سوو لمنځو برابر او په مسجد اقصی کي د پنځوسو زرو لمنځو برابر او. زما په دې مسجد (مسجد نبوي) کي د پنځوسو زرو لمنځو برابر او په مسجد حرام کي د يوه لك لمنځو برابر دی. ابن ماجه

| | |
|---|---|
| ﴿٦٩٧﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيُّ مَسْجِدٍ وُضِعَ فِي الْأَرْضِ أَوَّلُ ؟ قَالَ الْمَسْجِدُ الْحَرَامُ قَالَ قُلْتُ ثُمَّ أَيُّ ؟ قَالَ ثُمَّ الْمَسْجِدُ الْأَقْصٰى . قُلْتُ كَمْ بَيْنَهُمَا ؟ قَالَ أَرْبَعُوْنَ عَامًا ثُمَّ الْأَرْضُ لَكَ مَسْجِدٌ فَحَيْثُ مَا أَدْرَكَتْكَ الصَّلَاةُ فَصَلِّ . متفق عليه | د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! تر ټولو وړاندي پر مځکه کوم مسجد جوړ سوی دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل مسجد حرام ، ما عرض وکړ ددې وروسته ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل مسجد اقصی ، ما بيا پوښتنه وکړه ددې دواړو د جوړېدو په منځ کي څومره فرق وو؟ رسول الله |

ﷺ وفرمايل څلوېښت کاله ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل هو، اوس خو ټوله مځکه ستا لپاره مسجد دی کوم ځای چي دي د لمانځه وخت سي هلته يې وکړه . بخاري او مسلم .

# بَابُ السَّتْرِ (د ستر بيان)

## لومړی فصل

### په يوه جامه کي لمونځ

| | |
|---|---|
| ﴿٦٩٨﴾: عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِيْ سَلَمَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُشْتَمِلاً بِهِ فِي بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ وَاضِعًا طَرَفَيْهِ عَلَى عَاتِقَيْهِ. متفق عليه | د حضرت عمر بن ابي سلمة ﷺ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ يوازي په يوه جامه کي پر لمانځه کولو ليدلی دی يعني رسول الله ﷺ د بي بي ام سلمه په کور کي يوه جامه پر بدن مبارك |

داسي اچولې وه چي د هغې دوه طرفه د رسول الله ﷺ پر مبارکو اوږو وه. بخاري او مسلم .

### د لمانځه جامې

| | |
|---|---|
| ﴿٦٩٩﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّي أَحَدُكُمْ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ لَيْسَ عَلَى عَاتِقَيْهِ مِنْهُ شَيْءٌ. متفق عليه | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي دي يو څوك تر هغوي پوري لمونځ نه کوي په يوه جامه کي تر څو پوري چي د هغه د جامې يوه برخه پر اوږو نه وي |

### په يوه جامه کي لمونځ

| | |
|---|---|
| ﴿٧٠٠﴾: وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ صَلَّى فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي کوم څوك چي په يوه جامه |

فَلْيُخَالِفْ بَيْنَ طَرَفَيْهِ . رواه البخاري .

کي لمونځ کوي هغه ته پکار دي چي د دې جامې دواړه طرفونه (څوکي) واړوي يو تر بل . بخاري .

## پر نقش داره جامه لمونځ

(٧٠١): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خَمِيصَةٍ لَهَا أَعْلَامٌ فَنَظَرَ إِلَى أَعْلَامِهَا نَظْرَةً فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ اذْهَبُوْا بِخَمِيصَتِيْ هٰذِهٖ إِلَى أَبِيْ جَهْمٍ وَأْتُوْنِيْ بِأَنْبِجَانِيَّةِ أَبِيْ جَهْمٍ فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِي آنِفًا عَنْ صَلَاتِيْ .متفق عليه، وفي رواية للبخاري قال كنت أنظر إلى علمها وأنا في الصلاة فأخاف أن يفتنني .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ په يو داسي څادر کي لمونځ وکړ چي هغه پلوونه درلودل کوم وخت چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه يې فرمايل : دا څادر ابي جهم (تجار) ته حواله کړئ او د هغه څخه ما ته انبجانيه څادر راوړئ دې څادر زه د لمانځه وايستم (يعني حضور قلب راته تر لاسه نه سو) بخاري او مسلم .

## عکسو والا پرده

(٧٠٢): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ قِرَامٌ لِعَائِشَةَ سَتَرَتْ بِهٖ جَانِبَ بَيْتِهَا فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمِيْطِيْ عَنَّا قِرَامَكِ هٰذَا فَإِنَّهُ لَا يَزَالُ تَصَاوِيْرُهُ تَعْرِضُ لِيْ فِيْ صَلَاتِيْ . .رواه البخاري .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي عائشي (رض) د خپل سرای په يوه کونج کي پرده اچولې وه نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل ته دا پرده زموږ د مخه څخه ليري کړه ددې عکسونه په لمانځه کي زما مخ ته برابر وي . بخاري

## ريښمينه جامه

(٧٠٣): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ أُهْدِيَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُّوْجُ حَرِيْرٍ فَلَبِسَهُ ثُمَّ صَلَّى فِيْهِ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَزَعَهُ نَزْعًا شَدِيْدًا كَالْكَارِهِ لَهُ ثُمَّ قَالَ لَا يَنْبَغِيْ هٰذَا لِلْمُتَّقِيْنَ. متفق عليه

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ته يوه ريښمينه قبا(چپنه) په تحفه کي ورکړل سوه رسول الله ﷺ هغه واغوستل او لمونځ يې پکښي وکړ ، بيرته راغلی او په ډيره سختي سره يې وکښل لکه رسول الله ﷺ چي د هغه څخه نفرت کوی او بيا يې وفرمايل : د پرهيزګارانو لپاره دا جامه وړ نه ده . بخاري او مسلم .

## دوهم فصل

### په یوه قمیص کي لمونځ

(۷۰۴): عَنْ سَلْمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ رَجُلٌ أَصِيْدُ أَفَأُصَلِّيْ فِي الْقَمِيْصِ الْوَاحِدِ ؟ قَالَ نَعَمْ وَازْرُرْهُ وَلَوْ بِشَوْكَةٍ . رواه أبو داود وروى النسائي نحوه .

د حضرت سلمة بن الاکوع ﷺ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې د الله رسوله ! زه یو ښکاري سړی یم ایا زه په یوه قمیص کي لمونځ کوم؟ رسول الله ﷺ راته وفرمایل :هو، او په هغه کي تڼۍ ولګوه که څه هم د ازغي وي .ابوداؤد او نسائي .

### په زړېدلي پرتوګ سره لمونځ

(۷۰۵): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ يُصَلِّيْ مُسْبِلٌ إِزَارَهُ قَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ فَذَهَبَ وَتَوَضَّأَ ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا لَكَ أَمَرْتَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ ؟ قَالَ إِنَّهُ كَانَ يُصَلِّيْ وَهُوَ مُسْبِلٌ إِزَارَهُ وَإِنَّ اللهَ تَعَالَى لَا يَقْبَلُ صَلَاةَ رَجُلٍ مُسْبِلٍ إِزَارَهُ . رواه أبو داود .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي یو سړي په زړېدلي پرتوګ سره لمونځ کاوه ، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل : ولاړ سه اودس وکړه ، هغه ولاړی اودس یې وکړ بیا حاضر سو ، رسول الله ﷺ ته یو چا عرض وکړ تاسو د څه لپاره هغه ته د اودس کولو حکم ورکړ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : دې سړي په زړېدلي پرتوګ سره لمونځ کوی او کوم څوك چي په زړېدلي پرتوګ سره لمونځ کوي الله تعالی د هغه لمونځ نه قبلوي . ابوداؤد.

### په پوړني سره د ښځي لمونځ

(۷۰۶): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت عائشة (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د بالغي ښځي لمونځ پرته د پوړنی څخه نه کیږي. ابوداؤد او ترمذي

### د ښځي لمونځ

(۷۰۷): وَعَنْ أُمِّ سَلْمَةَ أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُصَلِّيْ الْمَرْأَةُ فِيْ دِرْعٍ وَخِمَارٍ لَيْسَ عَلَيْهَا إِزَارٌ ؟ قَالَ إِذَا كَانَ الدِّرْعُ سَابِغًا يُغَطِّيْ ظُهُوْرَ قَدَمَيْهَا . رواه أبو داود وذكر جماعة وقفوه على أم سلمة .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ښځي یوازي په قمیص او پوړني کي چي پرتوګ یې نه وي لمونځ کولای سي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : که قمیص دومره اوږد وي چي د قدمو شا ته ورسي نو جائز دی . ابوداؤد

**په لمانځه کي مخ پټول او سدل**

(۷۰۸): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ وَأَنْ يُغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د سدل او په لمانځه کي د مخ پټولو څخه منع فرمايلې ده . (سدل :داسي جامه اغوستل چي دواړه طرفه پر اوږو زړيږي). ابوداؤد او ترمذي.

**د موزو او څپليو سره لمونځ**

(۷۰۹): وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالِفُوا الْيَهُوْدَ فَإِنَّهُمْ لاَ يُصَلُّوْنَ فِيْ نِعَالِهِمْ وَلاَ خِفَافِهِمْ . رواه أبو داود .

د حضرت شداد بن اوس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په لمانځه کي د يهودو مخالفت کوئ يعني هغوئ د څپليو او موزو سره لمونځ نه کوي . ابوداؤد .

**په څپليو کي لمونځ**

(۷۱۰): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ بِأَصْحَابِه إِذْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَنْ يَسَارِه فَلَمَّا رَأَى ذٰلِكَ الْقَوْمُ أَلْقَوْا نِعَالَهُمْ فَلَمَّا قَضٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ قَالَ مَا حَمَلَكُمْ عَلٰى إِلْقَائِكُمْ نِعَالَكُمْ ؟ قَالُوْا رَأَيْنَاكَ أَلْقَيْتَ نَعْلَيْكَ فَأَلْقَيْنَا نِعَالَنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ جِبْرِيْلَ أَتَانِيْ فَأَخْبَرَنِيْ أَنَّ فِيْهِمَا قَذَرًا إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلْيَنْظُرْ فَإِنْ رَأَى فِيْ نَعْلَيْهِ قَذَرًا فَلْيَمْسَحْهُ وَلْيُصَلِّ فِيْهِمَا . رواه أبو داود والدارمي .

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د خپلو اصحابو سره لمونځ کوی چي رسول الله ﷺ خپل څپلی و کښلې او چپه لوري ته يې کښېښودلې ، خلکو چي د رسول الله ﷺ دې کار ته وکتل نو هغو هم خپل څپلی وکښلې ،کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه يې فرمايل : تاسو ولي خپل څپلی وکښلې ؟ هغوئ وويل موږ ته وليدی چي څپلی دي وکښې نو موږ هم څپلی وکښلې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : جبرائيل ﷺ ما ته راغلی او زه يې خبردار کړم چي ستا پر څپليو نجاست لګېدلی دی ، اوس چي په تاسو کي څوک مسجد ته ددننه راځي نو خپل څپلی دي ګوري که پر هغو څه نجاست وي نو وچ يې کړئ بيا دي ورسره لمونځ کوي. ابوداؤد او دارمي .

**د څپليو سره لمونځ**

(۷۱۱): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلاَ يَضَعْ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي يو څوک

نَعْلَيْهِ عَنْ يَمِيْنِهِ وَلاَ عَنْ يَسَارِهِ فَتَكُوْنَ عَنْ يَمِيْنِ غَيْرِهِ إِلاَّ أَنْ لاَّ يَكُوْنَ عَنْ يَسَارِهِ أَحَدٌ وَلْيَضَعْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ . وَفِيْ رِوَايَةٍ أَوْ لِيُصَلِّ فِيْهِمَا . رواه أبو داود وروى ابن ماجه معناه .

لمونځ کوي نو خپل څپلی دي راسته او چپه طرف ته نه ايږدي ځکه چي چپه طرف ته اينبودل به د بل سړي راسته طرف وي ، بلکه تاسو خپل څپلی د دواړو پښو په منځ کي ساتئ . او په يوه روايت کي دا دي چي د څپليو سره لمونځ کوئ. ابوداؤد او ابن ماجه .

## دريم فصل

### په څپليو کي لمونځ

﴿۷۱۲﴾: عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَيْتُهُ يُصَلِّيْ عَلَى حَصِيْرٍ يَسْجُدُ عَلَيْهِ قَالَ وَرَأَيْتُهُ يُصَلِّيْ فِيْ ثَوْبٍ وَّاحِدٍ مُتَوَشِّحًا بِهِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نو رسول الله ﷺ مي وليدی چي په څپليو کي يې لمونځ کوی ، رسول الله ﷺ به پر چوټايي سجده کول، د راوي بيان دی چي ما رسول الله ﷺ په يوه جامه کي چي پر بدن يې راگرزولې وه په لمونځ کولو وليدی . مسلم .

### د څپليو سره لمونځ

﴿۷۱۳﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ حَافِيًا وَمُتَنَعِّلاً . رواه أبو داود .

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ په لوڅو پښو او د څپليو سره په دواړو حالاتو کي پر لمانځه کولو ليدلی دی . ابوداؤد.

### په يوه جامه کي لمونځ کول

﴿۷۱۴﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ صَلَّى جَابِرٌ فِيْ إِزَارٍ قَدْ عَقَدَهُ مِنْ قِبَلِ قَفَاهُ وَثِيَابُهُ مَوْضُوْعَةٌ عَلَى الْمِشْجَبِ فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ تُصَلِّيْ فِيْ إِزَارٍ وَّاحِدٍ فَقَالَ إِنَّمَا صَنَعْتُ ذٰلِكَ لِيَرَانِيْ أَحْمَقُ مِثْلُكَ وَأَيُّنَا كَانَ لَهُ ثَوْبَانِ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري .

د حضرت محمد بن المنکدر څخه روايت دی چي حضرت جابر ﷺ زموږ سره په لنگ کي لمونځ وکړ چي هغه د څټ لوري ته تړلی وو او د هغه جامه پر سه پايه پرته وه، يوه سړي ورته وويل ايا ته يوازي په لنگ کي لمونځ کوې؟ جابر ﷺ ورته وويل داسي ما ځکه کړي دي چي ستا په

ډول بې عقل ته وښيم او د رسول الله ﷺ په زمانه كي په موږ كي د هيچا سره دوې جامې نه وې .بخاري .

**په دوو جامو كي لمونځ كول غوره دى**

(٧١٥): وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ اَلصَّلاَةُ فِيْ الثَّوْبِ الْوَاحِد سُنَّةٌ كُنَّا نَفْعَلُهُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلاَ يُعَابُ عَلَيْنَا . فَقَالَ ابْنُ مَسْعُوْد إِنَّمَا كَانَ ذَاكَ إِذَا كَانَ فِي الثِّيَابِ قِلَّةٌ فَأَمَّا إِذَا وَسَّعَ اللهُ فَالصَّلاَةُ فِيْ الثَّوْبَيْنِ أَزْكَى . رواه أحمد .

د حضرت ابي بن كعب ﷺ څخه روايت دى چي په يوه جامه كي لمونځ كول سنت دى لكه څرنگه چي موږ د رسول الله ﷺ سره ادا كوى پر دې به هيچا پر موږ تور نه لگاوه (يعني بد يې نه ويل) ، ابن مسعود وايي دا هغه وخت وو چي جامې ډيري كمي وې مگر هر كله چي الله ﷻ پراخي راوستل نو په دوو جامو كي لمونځ كول غوره دى .احمد

# بَابُ السُّتْرَةِ (د سُترې بيان)

## لومړى فصل

**د سترې په باره كي د رسول الله ﷺ معمول**

(٧١٦): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَغْدُوْ إِلَى الْمُصَلَّى وَالْعَنَزَةُ بَيْنَ يَدَيْهِ تُحْمَلُ وَتُنْصَبُ بِالْمُصَلَّى بَيْنَ يَدَيْهِ فَيُصَلِّيْ إِلَيْهَا . رواه البخاري .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د ورځي په اوله برخه كي عيدگاه ته تشريف وړى د رسول الله ﷺ په وړاندي به يو نيزه وړونكى وو او څه وخت چي به عيدگاه ته ورسيدى نو نيزه به د رسول الله ﷺ مخته و درول سوه او رسول الله ﷺ به د هغې په لور لمونځ كوى . بخاري .

**د الله ﷻ تعريف او د سترې مخته د تېرېدو حكم**

(٧١٧): وَعَنْ أَبِيْ جُحَيْفَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ وَهُوَ بِالْأَبْطَحِ فِي قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ أَدَمٍ وَرَأَيْتُ بِلاَلاً أَخَذَ وَضُوْءَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ رَأَيْتُ النَّاسَ يَبْتَدِرُوْنَ ذَلِكَ الْوَضُوْءَ فَمَنْ أَصَابَ مِنْهُ شَيْئًا تَمَسَّحَ بِهِ وَمَنْ لَمْ يُصِبْ مِنْهُ أَخَذَ مِنْ بَلَلِ يَدِ صَاحِبِهِ ثُمَّ رَأَيْتُ بِلاَلاً

د حضرت ابو جحيمة ﷺ څخه روايت دى چي ما رسول الله ﷺ په مكه معظمه كي وليدى چي د ابطح په ځاى كي په يوې سرې خيمې د څرمني كي وو او حضرت بلال مي وليدى چي هغه د رسول الله ﷺ د اوداسه څخه پاته سوي اوبه راوړلې خلكو ور وځغستل او هغه اوبه يي واخيستلي چا ته چي په لاس ورغلي هغه

أَخْرَجَ عَنَزَةً فَرَكَزَهَا وَخَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مُشَمِّرًا صَلَّى إِلَى الْعَنَزَةِ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ وَرَأَيْتُ النَّاسَ وَالدَّوَابَّ يَمُرُّونَ بَيْنَ يَدَيْ الْعَنَزَةِ. متفق علیه

پر موږ و موږلې او چا چي تر لاسه نه کړې هغو د نورو د لاس د لوندوالي څخه گټه تر لاسه کړه ، بیا ما ولیدل حضرت بلال یو نېزه پر مځکه ښخ کړ او رسول الله ﷺ په سره جامه. کي چي پر هغې باندي کرښي وې تشریف راوړ او د نیزې په لور و دریدی او خلکو ته یې دوه رکعته لمونځ ورکړ او ما ولیدل چي خلك او حیوانان به د نیزې تر شا تیریدل. بخاري او مسلم.

**د کجاوې ستره جوړول**

﴿۷۱۸﴾: وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَعْرِضُ رَاحِلَتَهُ فَيُصَلِّيْ إِلَيْهَا . وزاد البخاري قلت أفرأيت إذا هبت الركاب . قال كان يأخذ الرحل فيعدله فيصلي إلى آخرته .

د حضرت نافع بن عمر ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به خپل اوښه په پلنوالي کښښنول او د هغه لور ته به یې لمونځ کوی . بخاري او مسلم، نافع وايي ما د ابن عمر ﷛ څخه پوښتنه وکړه چي هر کله به اوښان څراند ته ولاړل نو بیا به رسول الله ﷺ څه کول؟ (یعني څه شي به یې ستره کوی) هغه وویل کجاوه به یې مخ ته کښښنودل او د هغه طرف ته به یې لمونځ کوی.

﴿۷۱۹﴾: وَعَنْ طَلْحَةَ ابْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَضَعَ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلَ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ فَلْيُصَلِّ وَلَا يُبَالِ مَنْ مَرَّ وَرَاءَ ذٰلِكَ. رواه مسلم

د حضرت طلحة بن عبید الله ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي په تاسو کي یو څوك خپل مخته د کجاوې د پای د لرگي په ډول یو لوړ لرگي کښیږدي نو هغه لوري ته دي لمونځ وکړي او مخته د تیریدونکو پروا دي نه کوي. مسلم.

**د لمونځ کونکي مخته تیریدل سخته گناه ده**

﴿۷۲۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ جُهَيْمٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيْ الْمُصَلِّيْ مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِيْنَ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ قَالَ أَبُو النَّضْرِ لَا أَدْرِيْ قَالَ أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا أَوْ شَهْرًا أَوْ سَنَةً. متفق علیه

د حضرت ابو جهیم ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : که د لمونځ کونکي مخته تیریدونکی په دې پوه سي چي ددې څومره لویه گناه ده نو هغه به د لمونځ کونکي مخته تر څلویښتو (ورځو یا میاشتو یا کالو) پوري ولاړ وي او نه تیریدل به غوره گڼي ، د ابو نصر راوي بیان دي چي د څلویښتو څخه څه مراد دی ددې په اړه ما ته علم نه سته چي څلویښت ورځي، میاشتي یا کلونه مراد دی . بخاري اومسلم.

## د سترې او لمونځ كونكي په منځ كي تېرېدونكى منع كول

(٧٢١): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ فَأَرَادَ أَحَدٌ أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلْيَدْفَعْهُ فَإِنْ أَبى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ . هذا لفظ البخاري ولمسلم معناه .

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو مخته ستره درولې وي او لمونځ كوى نو په داسي حالت كي كه څوك د سترې پروا ونه كړي او د لمونځ كونكي مخته تيريدل غواړي نو لمونځ كونكي ته پكار ده چي هغه منع كړي او كه هغه نه منع كيږي نو هغه دي قتل كړي ځكه چي هغه شيطان دى . بخاري او مسلم

## ستره د لمانځه ساتنه كوي

(٧٢٢): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ وَالْكَلْبُ وَيَقِي ذٰلِكَ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د لمونځ كونكي مخته د ښځي، خره او سپي تيرېدل لمونځ ماتوي او د كجاوې د لرګي په ډول لرګى دزول هغوئ منع كوئ .(د جمهورو علماؤ او صحابه كرامو په مذهب په دې سره لمونځ نه ماتيږي د دې حديث څخه د سترې ټينګار مقصد دى) . مسلم .

## د لمونځ كونكي مخته د ښځي په تېرېدو سره لمونځ نه باطل كيږي

(٧٢٣): وَعَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ وَأَنَا مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ كَاعْتِرَاضِ الْجَنَازَةِ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د شپې لمونځ كوى او زه به د رسول الله ﷺ او قبلې په منځ كي داسي پرته وم لكه څرنګه چي جنازه ايښودل كيږي . بخاري او مسلم .

## د لمونځ كونكي مخته د خرې وغيره په تېرېدو سره لمونځ نه باطل كيږي

(٧٢٤): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَقْبَلْتُ رَاكِبًا عَلَى أَتَانٍ وَأَنَا يَوْمَئِذٍ قَدْ نَاهَزْتُ الاحْتِلَامَ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ بِمِنًى إِلى غَيْرِ جِدَارٍ فَمَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ فَنَزَلْتُ فَأَرْسَلْتُ الْأَتَانَ تَرْتَعُ وَدَخَلْتُ فِي الصَّفِّ فَلَمْ يُنْكِرْ ذٰلِكَ عَلَيَّ أَحَدٌ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي زه يوه ورځ پر خره سپور راغلم او په دغه ورځو كي زه بالغ كېدو ته نژدې وم او دغه وخت رسول الله ﷺ په منیٰ كي خلكو ته لمونځ وركوى او د رسول الله ﷺ په مخ كي ستره نه وه زه د لمونځ كونكو د ځيني صفو مخته تير سوم او دخره څخه تا سوم هغه مي خر ته پرېښود او بيا مي په صف كي ګډون وكړ او چا څه نه وويل . بخاري او مسلم .

# دوهم فصل

## د عصاء د درولو او ښخولو په اړه د علماؤ اختلاف

| | |
|---|---|
| ﴿۷۲۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ تَلْقَاءَ وَجْهِهِ شَيْئًا فَإِنْ لَّمْ يَجِدْ فَلْيَنْصِبْ عَصَاهُ فَإِنْ لَّمْ يَكُنْ مَّعَهُ عَصًى فَلْيَخْطُطْ خَطًّا ثُمَّ لاَ يَضُرُّهُ مَا مَرَّ أَمَامَهُ . رواه أبو داود وابن ماجه . | د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي په تاسو کي یو څوك لمونځ کوي نو هغه دي خپل مخ ته یو شی کېښېږدي او که هیڅ شی نه وي نو خپله لکړه دي ودروي او که لکړه هم نه وي نو یو خط (کرښه) دي وکاږي بیا به یې مخته د یو چا تیریدل ضرر نه کوي . |

## د سترې نژدې درول

| | |
|---|---|
| ﴿۷۲۶﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِيْ حَثْمَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلٰى سُتْرَةٍ فَلْيَدْنُ مِنْهَا لاَ يَقْطَعُ الشَّيْطَانُ عَلَيْهِ صَلاَتَهُ . رواه أبو داود . | د حضرت سهل بن ابو حثمة ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي په تاسو کي د سترې په لور لمونځ کوي نو ستره دي د ځان خوا ته نژدې و دروي چي شیطان د هغه لمونځ مات نه کړي . ابوداؤد . |

## ستره تندي ته مخامخ درول نه دي پکار

| | |
|---|---|
| ﴿۷۲۷﴾: وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ قَالَ مَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ إِلٰى عُوْدٍ وَلاَ عَمُوْدٍ وَلاَ شَجَرَةٍ إِلاَّ جَعَلَهُ عَلٰى حَاجِبِهِ الْأَيْمَنِ أَوِ الْأَيْسَرِ وَلاَ يَصْمُدُ لَهُ صَمْدًا . رواه أبو داود . | د حضرت مقداد بن الاسود ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د لرګي یا ستني او یا درختي په لور لمونځ نه کوی بلکه د سترې شی به د رسول الله ﷺ راسته یا چپه ورځي ته مخامخ وو او هیڅ کله به یې په منځ کي د اینبودلو قصد نه کاوه . ابوداؤد . |

## د سپي ، خره وغیره مخته تېرېدل

| | |
|---|---|
| ﴿۷۲۸﴾: وَعَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ أَتَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِيْ بَادِيَةٍ لَّنَا وَمَعَهُ عَبَّاسٌ فَصَلَّى فِيْ صَحْرَاءَ لَيْسَ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةٌ وَحِمَارَةٌ لَّنَا وَكَلْبَةٌ تَعْبَثَانِ بَيْنَ يَدَيْهِ فَمَا بَالٰى ذٰلِكَ . رواه أبو داود وللنسائي نحوه . | د حضرت فضل بن عباس ﷛ څخه روایت دی چي موږ رسول الله ﷺ ته تشریف راوړ او موږ دغه وخت په یو ځنګل کي وو ، د رسول الله ﷺ سره عباس هم وو ، رسول الله ﷺ په ځنګل کي لمونځ وکړ او مخته یې ستره وه او زموږ یوه خره او یوه سپۍ وه چي د |

رسول الله ﷺ مخته يې لوبي كولې ، رسول الله ﷺ د هغو پروا ونه كړل. ابوداؤد او نسائي.

**د لمونځ كونكي مخته په تېرېدو سره لمونځ نه باطل كيږي**

(٧٢٩): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ وَادْرَؤُوْا مَا اسْتَطَعْتُمْ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ . رواه أبو داود .

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : لمونځ هيڅ شی نه سي ماتولای كوم چي د لمونځ كونكي مخ ته تير سي تر څو پوري چي ممكن وي يو شی د مخته تيريدو څخه منع كړئ ځكه چي تېرېدونكي شيطان دی ..ابوداؤد .

## دريم فصل

(٧٣٠): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنْتُ أَنَامُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِجْلَايَ فِيْ قِبْلَتِهِ فَإِذَا سَجَدَ غَمَزَنِيْ فَقَبَضْتُ رِجْلَيَّ وَإِذَا قَامَ بَسَطْتُهُمَا قَالَتْ وَالْبُيُوْتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيْهَا مَصَابِيْحُ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي زه به د رسول الله ﷺ مخ ته داسي بيده كېدم چي زما پښې به د رسول الله ﷺ د قبلې لور ته وې (يعني د سجدې پر ځای) كوم وخت چي به رسول الله ﷺ سجده كول نو زما پښې به يې كښېښلې نو ما به پښې راتولي كړې او هر كله چي به رسول الله ﷺ سجده وكړه نو ما به بيا پښې وغزولې ،بي بي عائشه فرمايي چي په دغه ورځو كي په كورو كي ډراغ نه بليدی . بخاري او مسلم .

**د لمونځ كونكي مخته تېرېدل لوی جرم دی**

(٧٣١): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ أَحَدُكُمْ مَا لَهُ فِيْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْ أَخِيْهِ مُعْتَرِضًا فِي الصَّلَاةِ كَانَ لَأَنْ يُقِيْمَ مِائَةَ عَامٍ خَيْرٌ لَهُ مِنَ الْخُطْوَةِ الَّتِيْ خَطَا . رواه ابن ماجه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه په تاسو كي چا ته دا څرګنده سي چي د خپل يو مسلمان وررور مخته تيرېدل (كله چي لمونځ كوي) څومره ګناه ده نو هغه به خپل سل كاله درېدل د لمونځ كونكي تر تېرېدو زيات غوره و ګڼي . ابن ماجه .

(٧٣٢): وَعَنْ كَعْبِ الْأَحْبَارِ قَالَ لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يُخْسَفَ بِهِ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ . وفي رواية أهون عليه . رواه مالك .

د حضرت كعب احبار ﷺ څخه روايت دی چي د لمونځ كونكي مخته تيرېدونكی كه دا معلومه كړي چي ددې څومره ګناه ده نو هغه به په مځكه كي (ژوندی) ښخېدل د لمونځ كونكي تر مخ

تېرېدو څخه زيات خوښ کړي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي هغه ته به په مخکه کي ښخېدل زيات اسان معلوم سي . مالك .

**د لمونځ کونکي مخته په څومره فاصله تېرېدل ښکار دي**

﴿۷۳۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى غَيْرِ السُّتْرَةِ فَإِنَّهُ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْحِمَارُ وَالْخِنْزِيْرُ وَالْيَهُوْدِيُّ وَالْمَجُوْسِيُّ وَالْمَرْأَةُ وَتُجْزِئُ عَنْهُ إِذَا مَرُّوْا بَيْنَ يَدَيْهِ عَلَى قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي چي څوك پرته د سترې څخه لمونځ کوي نو د هغه لمونځ د هغه مخته د خره، خنزير، يهودي، مجوسي او ښځي تیرېدو سره ماتيږي، او که تېرېدونکی د يوې ډبري ويشتلو په اندازه ليري وي نو بيا پروا نه لري . ابوداؤد .

# بَابُ صِفَةِ الصَّلٰوةِ (د لمانځه دترتيب بيان)

## لومړی فصل

**د لمانځه کولو صحيح طريقه**

﴿۷۳۴﴾:عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَجُلًادَخَلَ الْمَسْجِدَ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَرَجَعَ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ فَقَالَ وَعَلَيْكَ السَّلَامُ ثُمَّ قَالَ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَقَالَ فِيْ الثَّالِثِ أَوْ فِي الَّتِيْ بَعْدَهَا عَلِّمْنِي يَارَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوْءَ ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ ثُمَّ ارْكَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَسْتَوِيْ قَائِمًا ثُمَّ اسْجُدْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د مسجد په يو کونج کي تشريف فرما وو چي يو سړی مسجد ته راغلی هغه لمونځ وکړ بيا د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو سلام يې ادا کړ رسول الله ﷺ د سلام جواب ورکړ او ورته وه يې فرمايل ولاړ سه بيا لمونځ وکړه ځکه چي تا لمونځ نه دی کړی هغه بيرته ولاړی لمونځ يې وکړ او همداسي دريم واره وسول په دريم وار يا د هغه څخه وروسته هغه سړي وويل: اې دالله رسوله ! ما ته وښيه (چي څنګه لمونځ وکړم) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هر کله چي ته د لمانځه لپاره تيار سي نو په ښه ډول اودس وکړه بيا مخ پر قبله سه الله اکبر ووايه بيا چي د قرآن

سَاجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا ثم اسجد حتى تطمئن ساجدا ثم ارفع حتى تطمئن جالسا . و في رواية ثم ارفع حتى تستوي قائما ثُمَّ افْعَلْ ذٰلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا . متفق عليه

ښه خومره درته اسان وي هغه ووايه، بيا په اطمينان سره ركوع وكړه بيا سر پورته كړه تر دې چې سيده سې ، بيا په اطمينان سره سجده وكړه بيا سر پورته كړه او په اطمينان سره كښينه بيا په اطمينان سره سجده وكړه او بيا سر پورته كړه او په اطمينان سره كښينه او په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې بيا سر پورته كړه او سيده سه او همداسې لمونځ پوره كړه . بخاري او مسلم .

**د رسول الله ﷺ د لمانځه طريقه**

﴿٧٣٥﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَفْتِحُ الصَّلَاةَ بِالتَّكْبِيْرِ وَالْقِرَاءَةَ بِالْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَكَانَ إِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ رَأْسَهُ وَلَمْ يُصَوِّبْهُ وَلٰكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَائِمًا وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ جَالِسًا وَكَانَ يَقُولُ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّةَ وَكَانَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى وَكَانَ يَنْهٰى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ وَيَنْهٰى أَنْ يَفْتَرِشَ الرَّجُلُ ذِرَاعَيْهِ افْتِرَاشَ السَّبُعِ وَكَانَ يَخْتِمُ الصَّلَاةَ بِالتَّسْلِيْمِ. رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) ښخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به لمونځ د تكبير ښخه پيل كوى او قرائت به يې د الحمدلله ښخه پيل كوى او كله چې به يې ركوع كول نو سر به يې نه زيات لوړ او نه كښته كوى بلكه په درميانه حالت كې به يې ساتى د ركوع ښخه به يې چې سر پورته كړ نو تر هغه وخته به سجدې ته نه تلى تر ښو پورې چې به سيده دريدلى نه وو ، او كله چې به يې د سجدې ښخه سر پورته كوى نو تر هغه وخته پورې به يې دويمه سجده نه كول تر ښو پورې چې به سيده ناست نه وو او په هر دواړو ركعتو كې به يې التحيات ويل او د ناستې په حالت كې به يې ښپله چپه پښه و غوړول او راسته پښه به يې ودرول او د شيطان د پيروى ښخه به يې منع فرمايل او دواړه لاسونه به يې په سجده كې پر مځكه داسې اېښودلو ښخه هم منع فرمايلې ده لكه حيوانان چې يې غزوي او رسول الله ﷺ به لمونځ په سلام سره ختموى. مسلم.

**د تكبير تحريمه پر وخت لاسونه خومره پورته كول**

﴿٧٣٦﴾: وَعَنْ أَبِيْ حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ فِيْ نَفَرٍ مِّنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَحْفَظُكُمْ لِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو حميد الساعدي ﷺ ښخه روايت دى چې د رسول الله ﷺ د صحابه كرامو يو ډلې ته ما وويل : زه د رسول الله ﷺ د لمانځه طريقه ښه

رَأَيْتُهُ إِذَا كَبَّرَ جَعَلَ يَدَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ وَإِذَا رَكَعَ أَمْكَنَ يَدَيْهِ مِنْ رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ هَصَرَ ظَهْرَهُ فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ اسْتَوٰى حَتّٰى يَعُوْدَ كُلُّ فَقَارٍ مَكَانَهُ فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ غَيْرَ مُفْتَرِشٍ وَلَا قَابِضِهِمَا وَاسْتَقْبَلَ بِأَطْرَافِ أَصَابِعِ رِجْلَيْهِ الْقِبْلَةَ فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ جَلَسَ عَلٰى رِجْلِهِ الْيُسْرٰى وَنَصَبَ الْيُمْنٰى فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ قَدَّمَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَنَصَبَ الْأُخْرٰى وَقَعَدَ عَلٰى مَقْعَدَتِهِ . رواه البخاري .

پیژنم ما رسول الله ﷺ لیدلی دی چي کوم وخت به يې تکبير وايه نو خپل دواړه لاسونه به يې تر اوږو پوري پورته کول کله چي به يې رکوع کول نو خپل دواړه زنګنونه به يې ټينګ نيول بيا به يې خپله ملا کښته کړل هر کله چي به يې سر پورته کوی نو سيده به ودريدی چي د ملا د هډوکو بندونه به يې خپل ځای ته راغلل بيا به يې سجده کول نو دواړه لاسونه به يې پر ځمکه داسي ايښودل چي څنګلي به يې نه خو غزولي او نه به يې څنګ ته راټولوې او د پښو ګوتي به يې د قبلې طرف ته وې بيا کله چي به د دوو رکعتو وروسته کښېنستی نو چپه پښه به يې و غزول پر هغې به کښېنستی او راسته پښه به يې ودرول او هر کله چي به په آخري رکعت کي کښېنستی نو چپه پښه به يې مخته و کښل او بله پښه به يې ودرول او پر مقعد به کښېنستی . بخاري

**رفع يدين (لاسونه پورته کول)**

﴿۷۳۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوْعِ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ رَفَعَهُمَا كَذٰلِكَ وَقَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وَكَانَ لَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي السُّجُوْدِ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دی چي د لمانځه پيل کولو پر وخت به رسول الله ﷺ دواړه لاسونه تر اوږو پوري پورته کول کله چي شروع به يې کول د لمانځه او کله چي به يې د رکوع لپاره تکبير کوی او د رکوع څخه به يې سر پورته کوی نو بيا به يې همداسي دواړه لاسونه تر اوږو پوري پورته کول او د رکوع څخه د سر پورته کولو سره به يې ويل : سمع الله لمن حمده ربنالك الحمد، او په سجده کي به يې داسي نه کول . بخاري او مسلم .

﴿۷۳۸﴾: وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ إِذَا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَإِذَا رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَفَعَ يَدَيْهِ وَإِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ وَرَفَعَ ذٰلِكَ ابْنُ عُمَرَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري .

د حضرت نافع ﷛ څخه روايت دی چي هر کله به حضرت ابن عمر ﷛ لمونځ پيل کوی نو دواړه لاسونه به يې پورته کړل تکبير به يې وايه او کله چي به يې رکوع کول نو بيا به يې هم دواړه لاسونه پورته کول او کله چي به يې سمع الله لمن

حمده ویل نو بیا به یې هم لاسونه پورته کول او کله چې به یې دواړه رکعتونه پوره کړل او ولاړېدی به نو هم به یې لاسونه پورته کول دا روایت ابن عمر تر رسول الله ﷺ پورې مرفوع کړی دی . بخاري .

**د رفع یدین په مسئله کې د حنفیه مستدل حدیثونه**

(۷۳۹): وَعَنْ مَالِكِ ابْنِ الْحُوَيْرِثِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا أُذُنَيْهِ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَقَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَعَلَ مِثْلَ ذٰلِكَ . وفي رواية حتى يحاذي بهما فروع اذنيه . متفق عليه

د حضرت مالك بن حويرث ﷺ څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ تکبیر وایه نو دواړه لاسونه به یې تر غوږو پورې پورته کول تر داسې اندازې چې برابر به یې کړل له غوږو خپلو سره او هر کله چې د رکوع څخه به یې سر پورته کوی نو ویل به یې سمع الله لمن حمده، او همداسې به یې لاسونه پورته کول، او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې لاسونه به یې تر غوږو پورې پورته کول . بخاري او مسلم .

**د جلسه استراحت مسئله**

(۷۴۰): وَعَنْهُ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ فَإِذَا كَانَ فِيْ وِتْرٍ مِنْ صَلَاتِهِ لَمْ يَنْهَضْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا . رواه البخاري .

د حضرت مالك بن حويرث ﷺ څخه روایت دی چې ما رسول الله ﷺ پر لمانځه کولو ولیدی چې کله به د طاق رکعت د سجدې څخه سر مبارك پورته کوی نو د درېدو څخه مخکې به کښېنستی او بیا به ولاړ سو .بخاري .

**د تکبیر تحریمه وروسته لاسونه چیرې او څرنګه ابښودل پکار دي**

(۷۴۱): وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ يَدَيْهِ حِيْنَ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ ثُمَّ الْتَحَفَ بِثَوْبِهِ ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ أَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنَ الثَّوْبِ ثُمَّ رَفَعَهُمَا ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ فَلَمَّا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَفَعَ يَدَيْهِ فَلَمَّا سَجَدَ سَجَدَ بَيْنَ كَفَّيْهِ. رواه مسلم

د حضرت وایل بن حجر ﷺ څخه روایت دی چې هغه رسول الله ﷺ د لمانځه پیل کولو په وخت کې د الله اکبر سره پر لاس پورته کولو لیدلی دی بیا رسول الله ﷺ خپل لاسونه په جامه کې پټ کړل او راسته لاس یې پر چپه لاس کښېښود بیا چې یې د رکوع اراده وکړل نو د جامې څخه به یې لاس و کښی هغه به یې پورته کړل او تکبیر یې وویل او رکوع یې وکړل بیا یې سمع الله لمن حمده وویل نو لاسونه یې پورته کړل او کوم وخت چې یې سجده کول نو د دواړو لاسو په منځ کې یې وکړه . مسلم .

﴿۷۴۲﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ كَانَ النَّاسُ يُؤْمَرُوْنَ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ الْيَدَ الْيُمْنٰى عَلٰى ذِرَاعِهِ الْيُسْرٰى فِي الصَّلَاةِ . رواه البخاري .

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روایت دي چي خلکو ته حکم ورکړل سوی دی چي په لمانځه کي دي نارینه راسته لاس پر چپه لاس ایږدي .بخاري

﴿۷۴۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَقُوْمُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُوْلُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ حِيْنَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ ثُمَّ يَقُوْلُ وَهُوَ قَائِمٌ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَهْوِيْ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَسْجُدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي الصَّلَاةِ كُلِّهَا حَتّٰى يَقْضِيَهَا وَيُكَبِّرُ حِيْنَ يَقُوْمُ مِنَ الثِّنْتَيْنِ بَعْدَ الْجُلُوْسِ . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ د لمانځه اراده وکړه نو د دریدو سره به یې تکبیر ووایه بیا به رکوع ته په تلو کي به یې تکبیر وایه بیا د رکوع څخه راپورته کیدو سره به یې سمع الله لمن حمده ویل بیا چي به په ښه ډول ودریدی نو ربنا لك الحمد به یې ویل ، بیا سجدې ته په تلو کي به یې الله اکبر وایه بیا دویمي سجدې ته په تلو سره به یې الله اکبر وایه بیا د سجدې څخه سر پورته کولو سره به یې الله اکبر وایه او همداسي به یې ټول لمونځ کوی تر دې چي لمونځ به یې پوره کړ او هر کله چي به د دوو رکعتو پوره کولو سره دریدی نو الله اکبر به یې ویل . بخاري او مسلم.

**غوره لمونځ کوم یو دی ؟**

﴿۷۴۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصَّلَاةِ طُوْلُ الْقُنُوْتِ . رواه مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : غوره لمونځ هغه دی چي په هغه کي اوږده ولاړه وي . مسلم .

## دوهم فصل

**د رسول الله ﷺ د لمانځه طریقه**

﴿۷۴۵﴾: عَنْ أَبِيْ حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ فِيْ عَشَرَةٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَعْلَمُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو حمید الساعدي ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ د لسو صحابه کرامو ډلي ته وویل چي زه د رسول الله ﷺ د لمانځه په

قَالُوْا فَاعْرِضْ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيْ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ يُكَبِّرُ ثُمَّ يَقْرَأُ ثُمَّ يُكَبِّرُ وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيْ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ يَرْكَعُ وَيَضَعُ رَاحَتَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ يَعْتَدِلُ فَلاَ يُصَبِّيْ رَأْسَهُ وَلاَ يُقْنِعُ ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ فَيَقُوْلُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ثُمَّ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيْ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ مُعْتَدِلاً ثُمَّ يَقُوْلُ اللّٰهُ أَكْبَرُ ثُمَّ يَهْوِيْ إِلَى الْأَرْضِ سَاجِدًا فَيُجَافِيْ يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ وَيَفْتَحُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَثْنِيْ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا ثُمَّ يَعْتَدِلُ حَتّٰى يَرْجِعَ كُلُّ عَظْمٍ إِلَى مَوْضِعِه مُعْتَدِلاً ثُمَّ يَسْجُدُ ثُمَّ يَقُوْلُ اللّٰهُ أَكْبَرُ وَيَرْفَعُ وَيَثْنِيْ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا ثُمَّ يَعْتَدِلُ حَتّٰى يَرْجِعَ كُلُّ عَظْمٍ إِلَى مَوَاضِعِه ثُمَّ يَنْهَضُ ثُمَّ يَصْنَعُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ إِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيْ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ كَمَا كَبَّرَ عِنْدَ افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ ثُمَّ يَصْنَعُ ذٰلِكَ فِيْ بَقِيَّةِ صَلَاتِه حَتّٰى إِذَا كَانَتِ السَّجْدَةُ الَّتِيْ فِيْهَا التَّسْلِيْمُ أَخْرَجَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَقَعَدَ مُتَوَرِّكًا عَلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ ثُمَّ سَلَّمَ، قَالُوْا صَدَقْتَ هٰكَذَا كَانَ يُصَلِّيْ .رواه أبو داود والدارمي وروى الترمذي وابن ماجه معناه وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح . وفي رواية لأبي داود من حديث أبي حميد ثُمَّ رَكَعَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ كَأَنَّهُ قَابِضٌ عَلَيْهِمَا وَوَتَّرَ يَدَيْهِ فَنَحَّاهُمَا عَنْ جَنْبَيْهِ وَقَالَ ثُمَّ سَجَدَ فَأَمْكَنَ أَنْفَهُ وَجَبْهَتَهُ الْأَرْضَ وَنَحّٰى يَدَيْهِ عَنْ

اوړه ستاسو څخه زيات خبر يم، صحابه کرامو وويل : ښه بيان يې کړه : هغه ووېل کله چې به رسول الله ﷺ د لمانځه لپاره درېدی نو دواړه لاسونه به يې تر اوږو پوري پورته کول بيا د الله اکبر ويلو څخه وروسته به يې قرائت وايه بيا الله اکبر ويلو سره به يې دواړه لاسونه تر اوږو پوري پورته کول بيا به رکوع ته تلی او خپل دواړه لاسونه به يې پر خپلو زنګنو ايښودلې او ملا به يې سيده ساتل نه به يې سر پورته کوی او نه ښکته ، بيا به يې سر پورته کړ او سمع الله لمن حمده به يې وايه بيا به يې دواړه لاسونه تر اوږو پوري پورته کړل او سيده به ودريدی بيا به په الله اکبر ويلو سره د مځکي په لور ښکته کېدی او سجده به يې کول په دې حالت کي به يې دواړه لاسونه د خپل بغلو څخه ليري ساتل او د پښو ګوتي به يې مخ پر قبله کړې وې بيا به يې د سجدې څخه سر پورته کړ او چپه پښه به يې وغزول پر هغې به کښېنستی دومره سيده به کښېنستی چي هر هډوکی به خپل ځای ته راغلی بيا به يې سجده کول بيا به په الله اکبر ويلو سره پر چپه پښه سيده کښېنستی چي بند به برابر سو او هر ځای به خپل ځای ته ورغلی بيا به ودريدی، او بيا به ولاړ سو دويم رکعت به يې هم داسي کوی ، بيا دوه رکعته پوره کولو څخه وروسته چي به ولاړېدی نو الله اکبر به يې وايه او دواړه لاسونه به يې تر اوږو پوري پورته کول يعني څرنګه چي د لمانځه په پيل کي يې الله

جَنْبَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ وَفَرَّجَ بَيْنَ فَخِذَيْهِ غَيْرَ حَامِلٍ بَطْنَهُ عَلَى شَيْءٍ مِّنْ فَخِذَيْهِ حَتّٰى فَرَغَ ثُمَّ جَلَسَ فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَأَقْبَلَ بِصَدْرِ الْيُمْنٰى عَلٰى قِبْلَتِه وَوَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُمْنٰى وَكَفَّهُ الْيُسْرٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُسْرٰى وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ يَعْنِي السَّبَّابَةَ . وَفِيْ أُخْرٰى لَهُ وَإِذَا قَعَدَ فِيْ الرَّكْعَتَيْنِ قَعَدَ عَلٰى بَطْنِ قَدَمِهِ الْيُسْرٰى وَنَصَبَ الْيُمْنٰى وَإِذَا كَانَ فِي الرَّابِعَةِ أَفْضٰى بِوَرِكِهِ الْيُسْرٰى إِلَى الْأَرْضِ وَأَخْرَجَ قَدَمَيْهِ مِنْ نَاحِيَةٍ وَّاحِدَةٍ .

اکبر ویلي وو همداسي به یې په نور لمانځه کي هم کول تر دې چي هغه سجده به یې وکړه چي د هغې څخه وروسته سلام گرزول کیږي نو د سجدې څخه د پورته کیدو سره به یې چپه پښه د باندي راوکښل او د چپه طرف پر اړخ به کښېنستی او بیا به یې سلام وگرزوی ، صحابه کرامو ددې په اوریدو سره ورته وویل : تا درست بیان وکړ رسول الله ﷺ همداسي لمونځ کوی، (ابوداؤد، دارمي) ترمذي او ابن ماجه ددې هم معنا حدیث بیان کړی دی او ترمذي ویلي دي چي دا حدیث حسن صحیح دی او د ابوداؤد په یوه حدیث کي چي د ابو حمید څخه نقل دی دا الفاظ دي چي بیا رسول الله ﷺ رکوع وکړه او خپل دواړه لاسونه یې پر خپلو دواړو زنگنو کښېښودل گویا چي رسول الله ﷺ ټینگ نیولی وه او د لیندی په شان د دواړو لاسونو څنگلي او موټي یې د بغلو څخه لیري وساتل ، ددې وروسته د راوي بیان دی چي بیا رسول الله ﷺ سجده وکړه او خپله پزه او تندی یې پر مځکه کښېښودل او دواړه لاسونه یې د بغلو څخه لیري او د اوږو برابر وساتل او دواړه زنگنونه یې خلاص او د نس څخه لیري وساتل تر دې چي د سجدو څخه فارغ سو بیا داسي کښېنستی چي چپه پښه یې وغوړول او د راسته پښې شا یې د قبلې لور ته کړل او راسته لاس یې پر راسته زنگون او چپه لاس یې پر چپه زنگون کښېښودی او د شهادت په گوتي سره یې اشاره وکړل ، او د ابوداؤد په یو بل روایت کي دا الفاظ دي او هر کله چي به پر دوو رکعتو کښېنستی نو د چپه پښې پر تلي به کښېنستی او راسته پښه به یې ودرول او څلور رکعته کي چي به کښېنستی نوچپه اړخ (ورون) به د مځکي خوا ته وکښی او دواړي پښي به یې یوه طرف ته وکښلې.

**د تکبیر تحریمه او لاسو پورته کولو طریقه**

﴿۷۴۶﴾: وَعَنْ وَّائِلِ بْنِ حُجْرٍ أَنَّهُ أَبْصَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى كَانَتَا بِحِيَالِ مَنْكِبَيْهِ وَحَاذٰى بِإِبْهَامَيْهِ أُذُنَيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ . رواه أبو داود . وفي رواية له يرفع إبهاميه إلى شحمة أذنيه .

د حضرت وائل بن حجر ؓ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ولیدی کوم وخت چي هغه دلمانځه لپاره ودرېدی نو خپل دواړه لاسونه یې تر اوږو پوري پورته کړل او د

لاسو بتي گوتي يې د غوږو برابر کښېښودلې بيا يې الله اکبر ووايه ابوداؤد، د ابوداؤد په دويم روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ دواړي بتي گوتي د غوږو تر نرميو پوري پورته کړې.

## د لاسو ايښودلو طريقه

﴿۷۴۷﴾: وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّنَا فَيَأْخُذُ شِمَالَهُ بِيَمِيْنِهِ . رواه الترمذي وابن ماجه .

حضرت قبيصة بن هلب د خپل پلار څخه روايت کوی چي رسول الله ﷺ به موږ ته لمونځ راکوی نو په راسته لاس سره به يې چپه لاس نيوی . ترمذي او ابن ماجه

## د تعديل ارکان تعليم

﴿۷۴۸﴾: وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ فَصَلّٰى فِيْ الْمَسْجِدِ ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعِدْ صَلَاتَكَ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَقَالَ عَلِّمْنِيْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ أُصَلِّيْ ؟ قَالَ إِذَا تَوَجَّهْتَ إِلَى الْقِبْلَةِ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَمَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ تَقْرَأَ فَإِذَا رَكَعْتَ فَاجْعَلْ رَاحَتَيْكَ عَلٰى رُكْبَتَيْكَ وَمَكِّنْ رُكُوْعَكَ وَامْدُدْ ظَهْرَكَ فَإِذَا رَفَعْتَ فَأَقِمْ صُلْبَكَ وَارْفَعْ رَأْسَكَ حَتّٰى تَرْجِعَ الْعِظَامُ إِلٰى مَفَاصِلِهَا فَإِذَا سَجَدْتَ فَمَكِّنْ لِلسُّجُوْدِ فَإِذَا رَفَعْتَ فَاجْلِسْ عَلٰى فَخِذِكَ الْيُسْرٰى ثُمَّ اصْنَعْ ذٰلِكَ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ وَسَجْدَةٍ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ . هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيْحِ . وَرَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ مَعَ تَغْيِيْرٍ يَسِيْرٍ وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ مَعْنَاهُ . وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ قَالَ إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَتَوَضَّأْ كَمَا أَمَرَكَ اللّٰهُ بِهِ ثُمَّ تَشَهَّدْ فَأَقِمْ فَإِنْ كَانَ مَعَكَ قُرْآنٌ فَاقْرَأْ وَإِلَّا فَاحْمَدِ اللّٰهَ وَكَبِّرْهُ وَهَلِّلْهُ ثُمَّ ارْكَعْ .

د حضرت رفاعة بن رافع ﷺ څخه روايت دی چي يو سړی مسجد ته راغلی او لمونځ وکړ بيا د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر او سلام يې ادا کړ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته خپل لمونځ بيا وکړه ځکه چي تا لمونځ نه دی کړی ، هغه سړي عرض وکړ اې دالله رسوله ! ما ته وښيه چي څنگه لمونځ وکړم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د قبلې په لور مخ کړه الله اکبر ووايه بيا سورة فاتحه ووايه او څه چي الله تعالیٰ وغواړي چي ته يې ووايې (يعني د سورة فاتحې څخه پرته د قرآن څخه نور څه ) زيات ووايه بيا کله چي ته رکوع وکړې نو خپل دواړه لاسونه پر خپلو زنگنو کښېږده او په رکوع کي قائم اوسه او ملا سيده لره بيا کوم وخت چي ته سر پورته کړې نو خپل ملا سيده ساته او سر پورته کړه يعني سيده ودرېږه چي د ملا هډوکي خپل ځای ته راسي بيا چي سجده وکړې نو په اطمينان سره سجده وکړه بيا د سجدې څخه چي سر پورته کړې نو پر خپل چپه ورون باندي کښېنه بيا همداسي په هره رکوع او سجده کي وکړه تر دې چي هر رکن په اطمينان سره ادا کړې ، دا الفاظ د مصابيح دي او ابوداؤد په لږ فرق سره روايت کړی دی او د

ترمذي د يوه روايت الفاظ دادی چي هر کله ته د لمانځه لپاره ودريږې نو داسي اودس وکړه څرنګه چي الله تعالی درته حکم کړی دی بيا کلمه شهادت ووايه بيا په تکبير ويلو سره لمانځه ته ودريږه او د قرآن څخه چي څه درته ياد وي هغه ووايه که څه دي په ياد نه وي نو الحمدلله الله اکبر لااله الاالله ووايه او بيا رکوع وکړه.

### د لمانځه وروسته دعاء غوښتل پکار ده

﴿۷۴۹﴾: وَعَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةُ مَثْنَى مَثْنَى تَشَهُّدُ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ وَتَخَشُّعُ وَتَضَرُّعُ وَتَمَسْكَنُ ثُمَّ تُقْنِعُ يَدَيْكَ يَقُولُ تَرْفَعُهُمَا إِلَى رَبِّكَ مُسْتَقْبِلاً بِبُطُونِهِمَا وَجْهَكَ وَتَقُولُ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَهُوَ كَذَا وَكَذَا . و في رواية فهو خِدَاجٌ. رواه الترمذي

د حضرت فضل بن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: لمونځ دوه دوه رکعته دی او په هر رکعت کي التحيات ده او خشوع ده او د عاجزۍ څرګندونه ده بيا ته خپل دواړه لاسونه پورته کړه، د راوي بيان دی چي د لاس پورته کولو دا مطلب دی چي ته خپل دواړه لاسونه د خپل رب په لور داسي پورته کړه چي د لاسو دواړه ورغوي د مخ طرف ته وي او دا ووايه اې زما ربه، اې زما ربه او چا چي داسي ونه کړل يعني دعاء يې ونه کړل يا لمونځ يې په دې طريقه ونه کړ نو هغه داسي او داسي دی، او په يوه روايت کي دا الفاظ دی چي د هغه لمونځ ناقص دی. ترمذي

## دریم فصل

### امام دي تکبيرات په لوړ اواز وايي

﴿۷۵۰﴾: عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الْمُعَلَّى قَالَ صَلَّى لَنَا أَبُوْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيُّ فَجَهَرَ بِالتَّكْبِيرِ حِيْنَ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُوْدِ وَحِيْنَ سَجَدَ وَحِيْنَ رَفَعَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ وَقَالَ هٰكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري

د حضرت سعيد بن حارث بن المعلي څخه روايت دی چي ابوسعيد خدري ﷺ موږ ته لمونځ راکړ او کله چي د سجدې څخه يې سر پورته کړ او سجده يې وکړه او کوم وخت چي د دوو رکعتو وروسته پورته کېدی نو په لوړ آواز سره يې الله اکبر ووايه، او وه يې ويل ما رسول الله ﷺ په داسي کولو ليدلی دی. بخاري

﴿۷۵۱﴾: وَعَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ شَيْخٍ بِمَكَّةَ فَكَبَّرَ ثِنْتَيْنِ وَعِشْرِيْنَ

د حضرت عکرمة ﷺ څخه روايت دی چي ما په مکه معظمه کي په يو شيخ (يعني ابوهريرة) پسي لمونځ وکړ هغه په لمانځه ک

تَكْبِيْرَةً فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّهُ أَحْمَقُ فَقَالَ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ سُنَّةُ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري .

وويل دا سړی احمق (بي عقل) دی (چي دومره تکبيرونه وايي) ابن عباس وويل مور دي د رباندي بوره سي دا طريقه د ابوالقاسم (رسول الله ﷺ) ده . بخاري .

﴿۷۵۲﴾: وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ مُرْسَلاً قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِي الصَّلَاةِ كُلَّمَا خَفَضَ وَرَفَعَ فَلَمْ يَزَلْ تِلْكَ صَلَاتُهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى لَقِيَ اللّٰهَ تَعَالٰى . رواه مالك .

د حضرت علي بن الحسين ؓ څخه په طريقه د ارسال روايت دی چي رسول الله ﷺ به په هر لمانځه کي چي کښته کيدی او ولاړېدی نو تکبير به يې وايه او رسول الله ﷺ به تل داسي لمونځ کوی تر څو چي د الله تعالی سره يې ملاقات وکړ (يعني وفات سو.) . مالك .

**رفع يدين يوازي د تکبير تحريمه په وخت کي ده**

﴿۷۵۳﴾: وَعَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ قَالَ لَنَا ابْنُ مَسْعُوْدٍ أَلَا أُصَلِّيْ بِكُمْ صَلَاةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَصَلّٰى وَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ إِلَّا مَرَّةً وَّاحِدَةً مَعَ تَكْبِيْرِ الْاِفْتِتَاحِ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي . وقال أبو داود ليس هو بصحيح على هذا المعنى .

د حضرت علقمة ؓ څخه روايت دی چي موږ ته ابن مسعود ؓ وويل: ايا زه تاسو ته د رسول الله ﷺ په ډول لمونځ نه درکړم؟ نو هغه لمونځ راکړ او يوازي يو ځل په تکبير تحريمه کي يې لاسونه پورته کړل . (ترمذي، ابوداؤد، نسائي) ابوداؤد ويلي دي دا حديث په دې معنا کي صحيح نه دی

﴿۷۵۴﴾: وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ اللّٰهُ أَكْبَرُ . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابوحميد ساعدي ؓ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ لمانځه ته ودريدی نو د قبلې په لور به يې مخ کړ او دواړه لاسونه به يې پورته کول او الله اکبر به يې وايه . ابن ماجه .

**د رسول الله ﷺ د شا له خوا د شيانو ليدل**

﴿۷۵۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ وَفِيْ مُؤَخَّرِ الصُّفُوْفِ رَجُلٌ فَأَسَاءَ الصَّلَاةَ فَلَمَّا سَلَّمَ نَادَاهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا فُلَانُ أَلَا تَتَّقِي

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته د ماپښين لمونځ راکړ په آخري صف کي يو سړی وو چي په خرابه طريقه سره يې لمونځ کوی کله چي رسول الله ﷺ سلام وګرزوی نو هغه ته

اللهِ ؟ أَلاَ تَرٰى كَيْفَ تُصَلِّيْ ؟ إِنَّكُمْ تُرَوْنَ أَنَّهُ يَخْفٰى عَلَيَّ شَيْءٌ مِمَّا تَصْنَعُوْنَ وَاللهِ إِنِّيْ لَأَرٰى مِنْ خَلْفِيْ كَمَا أَرٰى مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ رواه احمد .

يې ږغ کړ اې فلانه ! ايا ته د الله څخه نه بيرېږې ته نه وينې چې څنګه لمونځ کوې شايد تاسو دا خيال کوئ چې تاسو څه کوئ هغه زما څخه پټ دي ؟ په الله ﷺ دي مي قسم وي څرنګه چې زه مخ ته وينم همداسي شا ته هم وينم . احمد .

# بَابُ مَا يَقْرَءُ بَعْدَ التَّكْبِيْرِ

## (د تکبير تحريمې وروسته دعاء)

## لومړی فصل

**د تکبير تحريمه او قرائت په مينځ کې د رسول الله ﷺ دعاء**

(٧٥٦): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْكُتُ بَيْنَ التَّكْبِيْرِ وَبَيْنَ الْقِرَاءَةِ اسْكَاتَةً فَقُلْتُ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُوْلَ اللهِ اسْكَاتُكَ بَيْنَ التَّكْبِيْرِ وَبَيْنَ الْقِرَاءَةِ مَا تَقُوْلُ قَالَ أَقُوْلُ اللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اللّٰهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ اللّٰهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالثَّلْجِ وَالْمَاءِ وَالْبَرَدِ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د تکبير تحريمې او د قرائت په منځ کې په پوره ډول سره پټه خوله وو ، يوه ورځ ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما مور اوپلار دي پر تاسو قربان وي تاسو چې د تکبير او قرائت په منځ کې پټه خوله ياست نو څه واياست ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : زه دا وايم (اللهم باعد...... والثلج والبرد) ژباړه ( اې الله ! څرنګه چې تا ختيځ د لويديځ څخه ليري کړی دی همداسي ما زما د ګناهو څخه ليري وساته اې الله ! ما د ګناهو څخه داسي پاك کړه لکه څرنګه چې سپينه جامه د خيري څخه پاکيږي، اې الله ! زما ګناهونه په اوبو، واوري، او ږلی سره پريولله .) بخاري او مسلم .

**رسول الله ﷺ به کوم وخت کې کومه دعاء کول**

(٧٥٧): وَعَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ وَفِيْ رِوَايَةٍ كَانَ اذَا افْتَتَحَ الصَّلٰوةَ كَبَّرَ ثُمَّ قَالَ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې کله به رسول الله ﷺ لمانځه ته دريدی او په يوه روايت کې دا الفاظ دي کوم وخت چې به يې لمونځ پيل کوی نو الله اکبر به يې وايه بيا به يې دا ويل (اني وجهت .....واتوب اليك) ژباړه : ( زه هغه ذات ته

وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِنَّ صَلَاتِي
وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا
شَرِيكَ لَهُ وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ اللّٰهُمَّ
أَنْتَ الْمَلِكُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ
ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي
جَمِيعًا إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ وَاهْدِنِي
لِأَحْسَنِ الْأَخْلَاقِ لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلَّا أَنْتَ
وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا لَا يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ
لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ
إِلَيْكَ أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ أَسْتَغْفِرُكَ
وَأَتُوبُ إِلَيْكَ وَإِذَا رَكَعَ قَالَ اللّٰهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَبِكَ
آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ خَشَعَ لَكَ سَمْعِي وَبَصَرِي
وَمُخِّي وَعَظْمِي وَعَصَبِي وَإِذَا رَفَعَ قَالَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا
لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا
بَيْنَهُمَا وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ وَإِذَا سَجَدَ قَالَ
اللّٰهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ
سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَصَوَّرَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ
وَبَصَرَهُ تَبَارَكَ اللّٰهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ثُمَّ يَكُونُ مِنْ
آخِرِ مَا يَقُولُ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالتَّسْلِيمِ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي
مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا
أَسْرَفْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ
الْمُؤَخِّرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ . رواه مسلم، و في رواية
للشافعي والشرليس اليك والمهدي من هديت
انابك واليك لامنجا منك ولا ملجا الا اليك
تبارکت . رواه مسلم

متوجه سوم چې هغه آسمانونه او مځکې
پیدا کړې دي د حق لوري ته متوجه کیدونکی او
د باطل څخه بیزار کیدونکې او زه د هغه خلکو
څخه نه یم چې شرك کوي ، زما لمونځ زما
عبادت، زما ژوند زما مرګ ټول د الله لپاره دی
چې د دوارو جهانو پروردګار دی هیڅوك د هغه
شریك نسته او ددې حکم ما ته راکړل سوی دی
او زه د مسلمانانو څخه یم اې الله ! ته پاچا یې
ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته ته زما رب
یې او زه ستا بنده یم ما پر خپل ځان ظلم کړی
دی او زه د خپلو ګناهو اقرار کوم ته زما ټول
ګناهونه و بخښې ستا څخه پرته ګناهونه
بخښونکی هیڅوك نسته او د غوره اخلاقو په
لور زما راهنمایي وکړې ځکه چې دې لوري ته
بس ته زما رهنمایي کولای سې او د بدترین
اخلاقو څخه ما وساتې او بس ته ما د بدترین
اخلاقو څخه ساتلای سې زه ستا په خدمت کې
حاضر یم او ستا حکم پر ځای راوړلو ته تیار یم
ټولې نیکۍ او بدۍ ستا په لاس کې دي او بدۍ
ستا لوري ته منسوب کیدلای نه سي زه پر تا
تکیه کوم او ستا په قدرت سره قائم یم ته د
برکت خاوند یې او لوړ او برتر یې زه ستا څخه
بخښنه غواړم او تا ته توبه کوم) رسول الله ﷺ چې
په کله رکوع کول نو ویل به یې : اللهم لك
رکعت..... (اې الله ما ستا لپاره رکوع وکړه پر تا
مې ایمان راوړ او ستا د رضا لپاره مې اسلام
قبول کړ او زما غوږونه ، سترګي، مغز، هډوکي

او دماغ ستا لپاره عاجزي وکړه) بیا چي کله به یې د رکوع څخه سر راپورته کړه نو ویل به یې: اللهم ربنالك ..... (اې الله زمونږ ټول حمد او ستاینه دي ستا لپاره وي دومره چي د هغو څخه د مځکي او آسمانو پراخوالی ډك سي او په مځکه او آسمان کي چي کومه لړۍ ستا په منشور کي ده د هغې هم ټول ارخونه ډك سي) بیا به رسول الله ﷺ سجده کول نو ویل به یې (اې الله ما ستا لپاره سجده وکړه پر تا مي ایمان راوړ او ستا د رضا لپاره مي اسلام قبول کړ زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چي هغه یې پیدا کړ هغه لره یې صورت ورکړ او سترګو او غوږونو لره یې خلاص کړل، الله ډیر برکت والا او غوره خالق دی) بیا د التحیات او سلام په منځ کي به یې دا ویل: اللهم اغفرلي ..... (اې الله زما هغه ګناهونه و بخښې چي مامخکي کړي دي او وروسته مي کړي دي په پټه مي کړي دي او په ښکاره مي کړي دي او هغه ګناه راته و بخښې چي په اعمالو وغیره کي مي زیاتي کړي دي او هغه ګناه مي و بخښې چي د هغې زما څخه زیات علم تا ته دی ته خپلو بندګانو لره په عزت کي مخته کوونکی یې او ته عزت او مرتبې وروسته غورځونکی یې او ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته) مسلم، او د شافعي په یوه روایت کي په دې دعاء کي چي د تکبیر تحریمي څخه وروسته رسول الله ﷺ کړې ده (والخیر کله في یدیك) څخه وروسته دا الفاظ دي (والشر لیس ...) او بدي ستا په لور منسوبه نه ده او هدایت یافته هغه څوك دی چا ته چي ته هدایت وکړې زه ستا د توان په ذریعه قائم یم او ستا په لور زه رجوع کوم ستا د ذات څخه پرته خلاصون او پناه نسته ته د برکت خاوند یې. مسلم.

﴿۷۵۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلاً جَاءَ فَدَخَلَ الصَّفَّ وَقَدْ حَفَزَهُ النَّفَسُ فَقَالَ الله اكبر اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيْهِ فَلَمَّا قَضَى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ قَالَ أَيُّكُمْ الْمُتَكَلِّمُ بِالْكَلِمَاتِ فَأَرَمَّ الْقَوْمُ فَقَالَ أَيُّكُمْ الْمُتَكَلِّمُ بالكلمات فارمّ القوم فقال ايكم الْمتكلم بهَا فَإِنَّهُ لَمْ يَقُلْ بَأْسًا فَقَالَ رَجُلٌ جِئْتُ وَقَدْ حَفَزَنِي النَّفَسُ فَقُلْتُهَا فَقَالَ لَقَدْ رَأَيْتُ اثْنَيْ عَشَرَ مَلَكًا يَبْتَدِرُوْنَهَا أَيُّهُمْ يَرْفَعُهَا. رواه مسلم

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي یو سړی راغلی او دلمانځه په صف کي شامل سو ساه یې په ختلو وه او په دې حال کي یې وویل (الله اکبر ....) ژباړه (الله ډیر لوی دی د الله لپاره ډیر پاك او برکت والا تعریف دی) رسول الله ﷺ چي لمونځ وکړ نو وه یې فرمایل په تاسو کي دا کلمات چا وویل؟ خلك پټه خوله سول رسول الله ﷺ بیا وفرمایل په تاسو. کي دا کلمات چا وویل؟ بیاهم خلك پټه خوله وه، په دریم ځل رسول الله ﷺ وفرمایل دا کلمات چي چا ویلي دي هغه څه بده خبره نه ده کړې، د دې په اوریدو سره هغه سړي وویل زه (مسجد) ته راغلم او زما ساه بنده وه

او ما دا کلمات وویل ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : په تحقیق سره ما دوولس ملائکي ولیدې چي په دغه کلماتو وړلو کي یې تلوار کوی چي په هغوئ کي یې کومه ملائکه الله تعالی ته مخکي یوسي. مسلم.

## دوهم فصل

**د تکبیر تحریمه وروسته دعاء**

(۷۵۹): عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ قَالَ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ. رواه الترمذي و ابوداؤد و رواه ابن ماجة عن ابي سعيد و قال الترمذي هذا حديث لا نعرفه الا من حارثة و قد تكلم فيه من قبل حفظه.

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ لمونځ پیل کوی نو ویل به یې (سبحانك اللهم ....) ژباړه (اې الله ! ته پاك یې او موږ ستا په تعریف سره ستا پاکي بیانوو او ستا نوم برکت والا دی او ستا بزرگي لویه ده او ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته )، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه، ترمذي ویلي دي دا حدیث پرته د حارثه څخه موږ نه پیژنو او د هغه په حافظه کي کلام دی.

(۷۶۰): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ صَلَاةً قَالَ اَللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا اَللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا اَللّٰهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَّأَصِيْلًا ثَلَاثًا أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ مِنْ نَفْخِهِ وَنَفْثِهِ وَهَمْزِهِ . رواه أبو داود وابن ماجه إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا . وَذَكَرَ فِيْ آخِرِهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ وَقَالَ عُمَرُ نَفْخُهُ الْكِبْرُ وَنَفْثُهُ الشِّعْرُ وَهَمْزُهُ الْمُوْتَةُ .

د حضرت جبیر بن مطعم ﷺ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ پر لمونځ کولو ولیدی ده مبارك به تکبیر تحریمه ویل (الله اکبر کبیر....) (الله ډیر لوی دی الله ډیر لوی دی او الله لره ډېر تعریفونه دي او الله لره ډېر تعریفونه دي او زه سهار مابښام دالله پاکي بیانوم او زه سهار مابښام دالله پاکي بیانوم او زه سهار مابښام د الله پاکي بیانوم او زه د الله په ذریعه د شیطان د هغه د تکبر څخه او د هغه د وسوسو څخه پناه غواړم ) ، ابوداؤد، مگر ابن ماجه د الحمدلله کثیرا کلمات نه دي روایت کړي خو په آخر کي یې من الشیطان الرجیم وویل، د حضرت عمر په روایت کي داسي دي چي د شیطان نفخ کبر دی دده نفث شعر دی او د همزه څخه یې مراد مرگ دی.

## رسول الله ﷺ به لمانځه کي دوه ځایه سکوت کوی

(۷۶۱): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَنَّهُ حَفِظَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَكْتَتَيْنِ سَكْتَةً إِذَا كَبَّرَ وَسَكْتَةً إِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ (غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّيْنَ) فَصَدَّقَهُ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ. رواه أبو داود وروى الترمذي وابن ماجه والدارمي نحوه.

د حضرت سمره بن جندب ﷺ څخه روایت دی چي هغه د رسول الله ﷺ دوه سکوته (پټه خوله کېدل) یاد ساتلي دي یو سکوت هغه وخت چي تکبیر تحریمه به یې وایه او دویم سکوت هغه وخت چي غیر المغضوب علیهم ولاالضالین به یې وایه ، ابی بن کعب ددې تصدیق وکړ. ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه او دارمي.

(۷۶۲): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ اسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَلَمْ يَسْكُتْ. هٰكَذَا فِيْ صَحِيْحِ مُسْلِمٍ. وَذَكَرَهُ الْحُمَيْدِيُّ فِيْ إِفْرَادِهِ وَكَذَا صَاحِبُ الْجَامِعِ عَنْ مُسْلِمٍ وَحْدَهُ.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی کله چي به رسول الله ﷺ دویم رکعت وکړ او ولاړېدی به نو پیل به یې کوی په الحمدلله رب العالمین .. او پټه خوله به نه پاته کېدی. صحیح مسلم او حمیدي.

# دریم فصل

### د تکبیر تحریمه وروسته دعاء

(۷۶۳): عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلاَةَ كَبَّرَ ثُمَّ قَالَ إِنَّ صَلاَتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ لاَ شَرِيْكَ لَهُ وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ لِأَحْسَنِ الْأَعْمَالِ وَأَحْسَنِ الْأَخْلاَقِ لاَ يَهْدِيْ لِأَحْسَنِهَا إِلاَّ أَنْتَ وَقِنِيْ سَيِّئَ الْأَعْمَالِ وَسَيِّئَ الْأَخْلاَقِ لاَ يَقِيْ سَيِّئَهَا إِلاَّ أَنْتَ. رواه النسائي.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ لمونځ پیل کوی نو الله اکبر به یې وایه او د هغه وروسته به یې دا دعاء کول (ان صلاتي ..) ژباړه (زما لمونځ، زما عبادت، زما ژوند او مرگ ټول الله لره دي چي رب د مخلوقاتو دی پروردگار دی هیڅوك د هغه شریك نشته او ددې ما ته حکم سوی دی او زه په مسلمانانو کي اول یم، اې الله ! ما ته ښه اخلاق او ښه اعمال راکړې د بدو اعمالو او بدو اخلاقو څخه ساتونکی ته یې د ښو اعمالو او اخلاقو یوازي ته هدایت کونکی یې ما د خرابو اعمالو او اخلاقو څخه وساتې .) نسائي.

(۷۶۴): وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مَسْلَمَةَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ يُصَلِّيْ تَطَوُّعًا قَالَ اللهُ أَكْبَرُ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ . وَذَكَرَ الْحَدِيْثَ مِثْلَ حَدِيْثِ جَابِرٍ إِلاَّ أَنَّهُ قَالَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ . ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ ثُمَّ يَقْرَأُ . رواه النسائي .

د حضرت محمد بن مسلمة ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د نفل لمانځه لپاره ودرېدی نو ويل به يې (الله أكبر وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ) د دې وروسته يې د حضرت جابر د روايت په ډول حديث بيان کړ، مګر محمد ﷺ د (انا اول المسلمين) پر ځای (وانا من المسلمين) ويلي دي، ددې وروسته يې وويل : (اللهم انت الملك.....) (اې الله ته پاچا يې ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته ته پاك يې او تالره تعريف دی ) او ددې وروسته به رسول الله ﷺ قرائت وايه . نسائي .

# بَابُ الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلٰوةِ

## (په لمانځه کي د قرائت بيان)

## لومړی فصل

### په لمانځه کي د سورة فاتحې ويلو بيان

(۷۶۵): عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ . وفي رواية لمسلم لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَصَاعِدًا .

د حضرت عبادة بن صامت ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په لمانځه کي الحمدلله و نه وايي نو د هغه لمونځ نه کيږي . بخاري اومسلم، د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي څوك الحمدلله او د الحمدلله وروسته څه نور ونه وايي نو د هغه لمونځ نه کيږي .

### د سورة فاتحه په نه ويلو سره لمونځ ناقص وي

(۷۶۶): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى صَلاَةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ ثَلاَثًا غَيْرُ تَمَامٍ فَقِيلَ لِأَبِي هُرَيْرَةَ إِنَّا نَكُوْنُ وَرَاءَ الْإِمَامِ فَقَالَ اقْرَأْ بِهَا فِي نَفْسِكَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي لمونځ وکړي او په هغه کي الحمدلله و نه وايي نو هغه لمونځ ناقص دی (رسول الله ﷺ دا الفاظ درې واره وويل) ابوهريرة ته وويل سول هر کله چي موږ په امام

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى قَسَمْتُ الصَّلاَةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى حَمِدَنِي عَبْدِي وَإِذَا قَالَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى أَثْنٰى عَلَيَّ عَبْدِي وَإِذَا قَالَ مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ قَالَ مَجَّدَنِي عَبْدِي وَإِذَا قَالَ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ قَالَ هٰذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ فَإِذَا قَالَ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ الَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّيْنَ قَالَ هٰذَا لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ . رواه مسلم

پسي لمونځ کوو نو مونږ الحمدلله وايو؟ هغه ورته وويل هو، په خپل زړه کي يې واياست ځکه چي مارسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي الله وفرمايل : ما لمونځ خپل او د خپل بنده په منځ کي نيم پر نيم ويشلی دی زما بنده چي څه زما څخه غواړي هغه د هغه لپاره دي ، هر کله چي بنده وايي : الحمدلله رب العلمين، نو الله تعالی فرمايي زما بنده زما تعريف وکړ او هر کله چي هغه وايي الرحمن الرحيم نو الله تعالی فرمايي زما بنده زما ثناء وکړه او کوم وخت چي مالك يوم الدين وايي نو الله تعالی فرمايي زما بنده زما عظمت بيان کړ او هر کله چي اياك نعبد واياك نستعين وايي نو الله تعالی فرمايي دا آيت زما او زما د بنده په منځ کي دی او څه چي زما بنده غوښتي دي هغه د هغه لپاره دي او کله چي هغه وايي اهدنا الصراط المستقيم صراط الذين انعمت عليهم غير المغضوب عليهم ولاالضالين نو الله تعالی فرمايي دا زما د بنده لپاره دي او څه چي زما بنده غواړي هغه د هغه لپاره دي . مسلم

## بسم الله په لوړ اواز ويل پکار دي يا په کښته اواز

(۷۶۷): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ رضي الله عنهما كَانُوْا يَفْتَتِحُوْنَ الصَّلاَةَ بِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ) . رواه مسلم .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ، ابوبکر صديق او عمر به لمونځ د سورة فاتحې څخه پيل کوی . مسلم

## د امين ويلو حکم

(۷۶۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَّنَ الْإِمَامُ فَأَمِّنُوْا فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِيْنُهُ تَأْمِيْنَ الْمَلاَئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ إِذَا قَالَ الْإِمَامُ ( غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلاَ الضَّالِّيْنَ) فَقُوْلُوْا آمِيْنَ فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلاَئِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي امام آمين ووايي نو تاسو هم آمين واياست ځکه چي د چا امين د ملائکو د ا مين سره موافق سي نو د هغه تير سوي گناهونه معاف کيږي (بخاري اومسلم)په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي هر کله چي امام غير المغضوب

ذَنْبِه . هذا لفظ البخاري ولمسلم نحوه . وفي أخرى للبخاري قال إذا أمن القارئ فأمنوا فإن الملائكة تؤمن فمن وافق تأمينه تأمين الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه .

عليهم ولاالضالين ووايي نو تاسو آمين وواياست ځکه چي د کوم سړي آمين د ملائکو د آمين سره موافق سي د هغه تير سوي گناهونه معافيږي (بخاري او مسلم) د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي هر کله چي قرائت والا آمين ووايي نو تاسو هم آمين واياست ځکه چي ملائکي هم په داسي وخت کي آمين وايي د چا آمين چي د ملائکو د آمين سره موافق سي د هغه تير سوي گناهونه بخښل کيږي .

**د مقتدي د لمانځه طريقه**

(۷۶۹): وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّيْتُمْ فَأَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَحَدُكُمْ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذْ قَالَ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْنَ فَقُولُوا آمِينَ يُجِبْكُمُ اللّٰهُ فَإِذَا كَبَّرَ وَرَكَعَ فَكَبِّرُوا وَارْكَعُوا فَإِنَّ الْإِمَامَ يَرْكَعُ قَبْلَكُمْ وَيَرْفَعُ قَبْلَكُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتِلْكَ بِتِلْكَ قَالَ وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ يَسْمَعُ اللّٰهُ لَكُمْ . رواه مسلم . و في رواية له عن ابي هريرة و قتادة و اذا قرا فانصتوا .

د حضرت ابوموسى الاشعري ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي تاسو (په جماعت سره) لمونځ کوئ نو خپل صفونه سيده کړئ بيا په تاسو کي يو سړى امام سئ يعني يو نفر دي امام سي کوم وخت چي هغه الله اکبر ووايي نو تاسو هم الله اکبر وواياست او کله چي امام غير المغضوب عليهم ولاالضالين ووايي نو تاسو آمين وواياست نو ستاسو د عاء به الله قبوله کړي بيا چي هغه الله اکبر ووايي رکوع وکړي نو تاسو هم الله اکبر وواياست رکوع وکړئ او امام ستاسو څخه وړاندي رکوع کوي او ستاسو څخه مخکي سر پورته کوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د امام سر پورته کول د لومړی رکوع کولو بدله ده او کله چي امام سمع الله لمن حمده ووايي نو تاسو اللهم ربنا لك الحمد وواياست ، د مسلم په يو بل روايت کي دي چي ابوهريرة او قتادة څخه نقل دا الفاظ دي هر کله چي امام قرائت وايي نو تاسو پټه خوله اوسئ .

**په لمانځه کي د قرائت طريقه**

(۷۷۰): وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ فِي الْأُوْلَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُوْرَتَيْنِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ

د حضرت ابوقتادة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د ماپښين په لومړيو دوو رکعتو کي سورة فاتحه ا و دوه سورتونه ويل يعني په هر

وَيُسْمِعُنَا الْآيَةَ أَحْيَانًا وَيُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى مَا لَا يُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ وَهٰكَذَا فِي الْعَصْرِ وَهٰكَذَا فِي الصُّبْحِ .متفق عليه

ركعت كي الحمدلله او يو سورت او (د فرضو په آخري دوو ركعتو كي ) به يې يوازي الحمدلله ويل او كله يو آيت به يې هم موږ ته اوروى او لومړى ركعت به يې د دويم ركعت څخه زيات اوږد كوى او داسي به يې د مازديگر او سهار لمونځ كوى. بخاري او مسلم .

## په لمانځه كي د رسول الله ﷺ د قيام مقدار

(۷۷۱): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كُنَّا نَحْزِرُ قِيَامَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ قَدْرَ قِرَاءَةِ الم تَنْزِيلُ السَّجْدَةَ وَفِيْ رِوَايَةٍ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ قَدْرَ ثَلَثِيْنَ آيَةً وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ قَدْرَ النِّصْفِ مِنْ ذٰلِكَ وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى قَدْرِ قِيَامِهِ فِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ ذٰلِكَ. رواه مسلم

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دى چي موږ خلكو به د ماپښين او مازديگر په لمانځه كي د رسول الله ﷺ د ولاړي اندازه كول نو موږ اندازه ولگول چي رسول الله ﷺ به د ماپښين په اولو دوو ركعتو كي د سورة الم تنزيل السجده ويلو په اندازه درېدى او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي په هر ركعت كي به د د يرشو آياتو ويلو په اندازه دريدى او موږ اندازه ولگول چي د ماپښين دوه آخري ركعتو كي به يې ددې په نيمه ولاړه كول. مسلم، او موږ د رسول الله ﷺ د مازديگر د دوو ركعتو د ولاړي د ماپښين د آخري دوو ركعتو د ولاړي مطابق پيداكړ او د مازديگر آخري دوه ركعتو كي مو د قيام مقابله وكړه نو هغه د مخكنيو ركعتو د ولاړي په نيمايي وو. مسلم .

## د ماپښين د لمانځه قرائت

(۷۷۲): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ بِاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وَفِي رواية بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَفِي الْعَصْرِ نَحْوَ ذٰلِكَ وَفِي الصُّبْحِ أَطْوَلَ مِنْ ذٰلِكَ . رواه مسلم

د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د ماپښين په لمانځه كي والليل اذا يغشى وايه او په يوه روايت كي دي چي سبح اسم ربك الاعلى به يې وايه او د مازديگر په لمانځه كي هم ددې په شان او د سهار په لمانځه كي يې ددې څخه اوږد قرائت وايه . مسلم

## د ماښام په لمانځه کي قرائت

| | |
|---|---|
| ﴿۷۷۳﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّوْرِ . ( متفق عليه ) | د حضرت جبير بن مطعم ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د ماښام په لمانځه کي به يې سورة طور وايه . بخاري او مسلم |

## په لمنځو کي د قرائت د تعين دليل

| | |
|---|---|
| ﴿۷۷۴﴾: وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِيْ الْمَغْرِبِ بِ ( اَلْمُرْسَلاَتُ عُرْفًا ) متفق عليه | د حضرت بي بي ام افضل بنت حارث څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ د ماښام په لمانځه کي سورة «والمرسلات عرفا» ويل اوريدلي دي . بخاري او مسلم . |

## فرض لمونځ کونکي ته د نفل لمونځ کونکي اقتداء

| | |
|---|---|
| ﴿۷۷۵﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ مُعَاذٌ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَأْتِي فَيَؤُمُّ قَوْمَهُ فَصَلَّى لَيْلَةً مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ ثُمَّ أَتَى قَوْمَهُ فَأَمَّهُمْ فَافْتَتَحَ بِسُوْرَةِ الْبَقَرَةِ فَانْحَرَفَ رَجُلٌ فَسَلَّمَ ثُمَّ صَلَّى وَحْدَهُ وَانْصَرَفَ فَقَالُوا لَهُ أَنَافَقْتَ يَا فُلاَنُ قَالَ لاَ وَاللّٰهِ وَلَآتِيَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلأُخْبِرَنَّهُ فَأَتَى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا أَصْحَابُ نَوَاضِحَ نَعْمَلُ بِالنَّهَارِ وَإِنَّ مُعَاذًا صَلَّى مَعَكَ الْعِشَاءَ ثُمَّ أَتَى قَوْمَهُ فَافْتَتَحَ بِسُوْرَةِ الْبَقَرَةِ فَأَقْبَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مُعَاذٍ فَقَالَ يَا مُعَاذُ أَفَتَّانٌ أَنْتَ اقْرَأْ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا وَالضُّحَى وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى وَسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى . متفق عليه | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي معاذ بن جبل به د رسول الله ﷺ سره لمونځ کوی او بيا به يې د خپل قوم امامت کوی يوه ورځ يې د رسول الله ﷺ سره د ماخستن لمونځ وکړ بيا يې خپل قوم ته لمونځ ورکړ او سورة بقرة يې پيل کړه يوه سړي د جماعت څخه سلام وگرزوي او ووتی يوازي يې لمونځ وکړ او ولاړی، خلکو هغه ته وويل اې فلانه ! ايا ته منافق سوې هغه وويل : نه، په الله دي مي قسم وي زه به د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سم او د ټولي پېښي څخه به يې خبر کړم ، نو هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! موږ اوښانو والا يو ټوله ورځ (په مزدوري) پردي مځکي اوبه کوو او معاذ ستاسو سره د ماخستن لمونځ وکړ بيا خپل قوم ته راغلی او په لمانځه |

کي يې سورة بقرة پيل کړه ، رسول الله ﷺ معاذ ته متوجه سو او وه يې فرمايل : اې معاذ! ايا ته خلک په فتنه کي اچوې د ماخستن په لمانځه کي «والشمس وضحها»، «والضحى والليل اذا يغشى»

«سبح اسم ربك الاعلى» ، دا سورتونه وایه . بخاري او مسلم .

## د ماخستن په لمانځه کي قرائت

| | |
|---|---|
| (۷۷۶): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي الْعِشَاءِ بِالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ وَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا أَحْسَنَ صَوْتًا مِنْهُ. متفق عليه | د حضرت براء ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي د ماخستن په لمانځه کي يې «والتين والزيتون» سورت وايه |

او هيڅوک مي تر رسول الله ﷺ زيات خوش آوازه نه دی ليدلی . بخاري او مسلم .

## د سهار د لمانځه قرائت

| | |
|---|---|
| (۷۷۷): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ بِق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ ونحوها وَكَانَتْ صَلَاتُهُ بَعْدُ تَخْفِيفًا. رواه مسلم | د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د سهار په لمانځه کي «ق والقرآن المجيد» او ددي په ډول سورت وايه او ددې وروسته لمنځو کي به يې ددې څخه کم سورتونه ويل . مسلم |
| (۷۷۸): وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ . رواه مسلم | د حضرت عمرو بن حريث ﷺ څخه روایت دی چي هغه د رسول الله ﷺ څخه د سهار په لمانځه کي «والليل اذا عسعس» ويل اوريدلي دي . مسلم . |
| (۷۷۹): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ صَلَّى لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ بِمَكَّةَ فَاسْتَفْتَحَ سُوْرَةَ الْمُؤْمِنِيْنَ حَتَّى جَاءَ ذِكْرُ مُوْسَى وَهَارُوْنَ أَوْ ذِكْرُ عِيْسَى أَخَذَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْلَةٌ فَرَكَعَ. رواه مسلم | د حضرت عبدالله بن السائب ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ په مکه معظمه کي د سهار لمونځ ورکوی او سورة مؤمنون يې پيل کړ او کوم وخت چي د موسی او هارون ذکر راغلی یا د حضرت عيسي ذکر راغلی نو رسول الله ﷺ ته ټوخی راغلی او رکوع ته ولاړی . مسلم . |

## د جمعې د سهار د لمانځه قرائت

| | |
|---|---|
| (۷۸۰):وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِ ( الم تَنْزِيْلُ ) فِي الرَّكْعَةِ الْأُوْلَى وَفِي الثَّانِيَةِ ( هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ ) . متفق عليه | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ دجمعې په ورځ سهار د لمانځه په اول رکعت کي «الم تنزيل» سورت ووايه او په دويم رکعت کي به يې «سورة هل اتى على الانسان» وايه. بخاري او مسلم . |

## د جمعې د لمانځه قرائت

(٧٨١): وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِيْ رَافِعٍ قَالَ اسْتَخْلَفَ مَرْوَانُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَلَى الْمَدِيْنَةِ وَخَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فَصَلَّى لَنَا أَبُوْ هُرَيْرَةَ الْجُمُعَةَ فَقَرَأَ سُوْرَةَ (الْجُمُعَةِ) فِي السَّجْدَةِ الْأُوْلَى وَفِي الْآخِرَةِ (إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ) فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهِمَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ. رواه مسلم.

د حضرت عبيدالله بن ابو رافع ﷺ ښخه روايت دی چې مروان حضرت ابوهريرة د مدينې حاکم و ټاکی، مروان د مکې په لور ولاړی ابوهريرة ﷺ مونږ ته د جمعې لمونځ راکړ او په لومړي رکعت کې يې سورة جمعه وويل او په دويم رکعت کې يې سورة (اذا جاء المنافقون) ووايه، بيا يې وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ ښخه د جمعې په ورځ دا دواړه سورتونه ويل اوريدلي دي. مسلم.

## د اختر او جمعې د لمنځو قرائت

(٧٨٢): وَعَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْعِيْدَيْنِ وَفِي الْجُمُعَةِ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ قَالَ وَإِذَا اجْتَمَعَ الْعِيْدُ وَالْجُمُعَةُ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ يَقْرَأُ بِهِمَا فِي الصَّلَاتَيْنِ. رواه مسلم

د حضرت نعمان بن بشير ﷺ ښخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د جمعې او اخترو په لمانځه کې (سبح اسم ربك الاعلى) او (هل اتك حديث الغاشية) سورتونه ويل او نعمان وويل هر کله چې به اختر او جمعه سره يو ځای سول نو بيا به هم رسول الله ﷺ دا دواړه سورتونه په دواړو لمنځو کې ويل. مسلم

(٧٨٣): وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ سَأَلَ أَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ مَا كَانَ يَقْرَأُ بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ فَقَالَ كَانَ يَقْرَأُ فِيْهِمَا بِق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَاقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ. رواه مسلم

د حضرت عبيدالله ﷺ ښخه روايت دی چې عمر بن الخطاب ﷺ د ابو واقد ليثي ښخه پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ په کوچني او لوی اختر کې کوم سورتونه ويل، هغه ورته وويل په دواړو اخترو کې به يې (ق والقرآن المجيد) او (اقتربت) سورتونه ويل. مسلم

## د سهار په سنت لمانځه کې قرائت

(٧٨٤): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ وَقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ. رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ ښخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د سهار د لمانځه په دواړو رکعتو کې (قل ياايها الکافرون) او (قل هوالله احد) وايه. مسلم

| | |
|---|---|
| ﴿۷۸۵﴾: وَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قُوْلُوا آمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا وَالَّتِي فِي آلِ عِمْرَانَ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ . رواه مسلم | د حضرت ابن عباس ﷠ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د سهار د لمانځه په دواړو رکعتو (قولوا امنا باالله و ما انزل الینا) او هغه آیت چي په سورة آل عمران کي دی یعني (قل یااهل الکتٰب تعالوا الی کلمة سواء بیننا و بینکم) وایه. مسلم |

## دوهم فصل

### د لمانځه په شروع کي بسم الله ویل

| | |
|---|---|
| ﴿۷۸۶﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ صَلَاتَهُ بِ ( بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ) . رواه الترمذي وقال هذا حديث ليس إسناده بذاك . | د حضرت ابن عباس ﷠ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به خپل لمونځ په بسم الله الرحمن الرحیم سره پیل کوی. ترمذي . |

### امین په لوړ اواز ویل که په کښته

| | |
|---|---|
| ﴿۷۸۷﴾:وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ ( غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْنَ ) فَقَالَ آمِيْنَ مَدَّ بِهَا صَوْتَهُ . رواه الترمذي وأبو داود والدارمي وابن ماجه . | د حضرت وائل بن حجر ﷠ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه د غیر المغضوب علیهم ولا الضالین وروسته په لوړ آواز سره آمین ویل اوریدلي دي . ترمذي، ابوداؤد ، دارمي او ابن ماجه. |

### د امین برکت

| | |
|---|---|
| ﴿۷۸۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ زُهَيْرٍ النُّمَيْرِيْ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَأَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ قَدْ أَلَحَّ فِي الْمَسْأَلَةِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْجَبَ إِنْ خَتَمَ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنَ الْقَوْمِ بِأَيِّ شَيْءٍ يَخْتِمُ ؟ قَالَ بِآمِيْنَ . رواه أبو داود . | د حضرت ابو زهیر النمیري ﷠ څخه روایت دی چي یوه شپه موږ د رسول الله ﷺ سره ووتلو او یو داسي سړي ته ورسیدو چي په سوال کولو کي یې د مبالغې څخه کار اخیستی رسول الله ﷺ وفرمایل واجب یې کړل که مُهر یې کړل ، په حاضرینو کي یو سړي پوښتنه وکړه په څه شي |

سره یې مهر کړل ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : په آمین سره . ابوداوٗد .

رسول الله ﷺ د ماښام په لمانځه کي اوږد قرائت هم وایه

(۷۸۹): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الْمَغْرِبَ بِسُوْرَةِ ( الْأَعْرَافِ ) فَرَّقَهَا فِي الرَّكْعَتَيْنِ . رواه النسائي .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله د ماښام په لمانځه کي سورة اعراف ووایه او په دوارو رکعتو کي یې دا سورت وویشی . نسائي

د معوذتین فضیلت

(۷۹۰): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ كُنْتُ أَقُوْدُ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاقَتَهُ فِي السَّفَرِ فَقَالَ لِيْ يَا عُقْبَةُ أَلاَ أُعَلِّمُكَ خَيْرَ سُوْرَتَيْنِ قُرِئَتَا ؟ فَعَلَّمَنِيْ ( قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَ قُلْ أَعُوْذُبِرَبِّ النَّاسِ) قَالَ فَلَمْ يَرَنِيْ سُرِرْتُ بِهِمَا جِدًّا فَلَمَّا نَزَلَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ صَلَّى بِهِمَا صَلَاةَ الصُّبْحِ لِلنَّاسِ فَلَمَّا فَرَغَ الْتَفَتَ إِلَيَّ فَقَالَ يَا عُقْبَةُ كَيْفَ رَأَيْتَ ؟ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي .

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روایت دی چي په یوه سفر کي مي د اوښ مهار نیولی روان وم، ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل عقبه! ایا زه تاته دوه غوره سورتونه چي ویل کیږي ونه ښیم؟ بیا یې ما ته (قل اعوذبرب الفلق او قل اعوذبرب الناس) وښودل ، عقبه وایي هر کله چي رسول الله ﷺ ددې سورتو له کبله زه خوشحاله و نه لیدم نو د سهار په وخت کي په کښته کېدو سره یې د سهار لمونځ راکړ او په هغه کي یې دغه دواړه سورتونه وویل ، کله چي د لمانځه څخه فارغ سو نو ما ته یې وویل : عقبه ! تا ددې فضیلت ولیدی . احمد ، ابوداؤد او نسائي .

د جمعې په ورځ د ماښام د لمانځه قرائت

(۷۹۱): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِيْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ ( قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ) وَ( قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ) . رواه في شرح السنة . ورواه ابن ماجه عن ابن عمر إلا أنه لم يذكر ليلة الجمعة .

د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د جمعې په شپه د ماښام په لمانځه کي (قل یاایها الکافرون) او (قل هوالله احد) وویل. شرح السنه او ابن ماجه.

(۷۹۲): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ مَا أُحْصِيْ مَا سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ بِ( قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ) وَ( قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ) رواه الترمذي . ورواه ابن ماجه عن أبي

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي زه دا نه سم شمیرلای چي ما څو ځله د رسول الله ﷺ څخه د ماښام د لمانځه وړاندي سنتو کي او د سهار د لمانځه وړاندي دوه رکعاتو سنتو کي قل یاایها الکافرون ویل

هريرة إلا أنه لم يذكر بعد المغرب .

اوريدلي دي . ترمذي او ابن ماجه .

﴿٧٩٣﴾: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ مَاصَلَّيْتَ وَرَاءَ أَحَدٍ أَشْبَهَ صَلاَةً بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فُلاَنٍ قَالَ سُلَيْمَانُ صَلَّيْتُ خَلْفَهُ فَكَانَ يُطِيْلُ الرَّكْعَتَيْنِ الْأُوْلَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَيُخَفِّفُ الْأُخْرَيَيْنِ وَيُخَفِّفُ الْعَصْرَ وَيَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ وَيَقْرَأُ فِيْ الْعِشَاءِ بِوَسَطِ الْمُفَصَّلِ وَيَقْرَأُ فِي الصُّبْحِ بِطِوَالِ الْمُفَصَّلِ . رواه النسائي وروى ابن ماجه إلى ويخفف العصر .

حضرت سليمان بن يسار د ابوهريرة ﷺ څخه روايت کوي چي ابوهريرة وويل ما په هيڅ يو داسي سړي پسي لمونځ نه دی کړی چي د رسول الله ﷺ د لمانځه مشابه وي پرته د فلاني سړي څخه (يعني حضرت علي يا دمدينې حاکم چي د مروان د لوري ټاکل سوی وو) سليمان وايي ما هم په هغه سړي پسي لمونځ وکړ هغه به د ماپښين په اولو دوو رکعتو کي اوږدوالی کوي او په آخري دوو رکعتو کي به يې لنډوالی او د مازديگر په لمانځه کي به يې تخفيف کوی او په ماښام کي به يې کوچني کوچني سورتونه ويل او د ماخستن په لمانځه کي به يې درميانه سورتونه او د سهار په لمانځه کي به يې لوی سورتونه ويل . نسائي او ابن ماجه .

**په امام پسي د سورة فاتحې ويلو بيان**

﴿٧٩٤﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كُنَّا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ صَلاَةِ الْفَجْرِ فَقَرَأَ فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ لَعَلَّكُمْ تَقْرَؤُوْنَ خَلْفَ إِمَامِكُمْ ؟ قُلْنَا نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ لاَ تَفْعَلُوْا إِلاَّ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَإِنَّهُ لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا . رواه أبو داود والترمذي وللنسائي معناه وفي رواية لأبي داود قال وأنا أقول مالي ينازعني القرآن ؟ فلا تقرؤوا بشيء من القرآن إذا جهرت إلا بأم القرآن .

د حضرت عبادة بن الصامت ﷺ څخه روايت دی چي موږ د سهار لمونځ په رسول الله ﷺ پسي وکړ ، قرائت يې پيل کړ نو پر رسول الله ﷺ باندي قرائت ويل بوج سول بيا چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه يې فرمايل : شايد تاسو په خپل امام پسي څه واياست موږ عرض وکړ : هو، اي دالله رسوله! نو رسول الله ﷺ وفرمايل : پرته د الحمدلله څخه نور څه مه واياست ځکه چي څوک الحمدلله و نه وايي نو د هغه لمونځ نه کيږي (ابوداؤد ، ترمذي، نسائي) او د ابوداؤد په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ د صحابه کرامو په جواب اوريدو سره وفرمايل هر کله چي قرائت پر ما دروند سو نو په خپل زړه کي مي ويلی دي چي قرآن ولي پر ما دروند سوی دی هر کله چي جهري لمونځ وي نو پرته د الحمدلله څخه نور څه مه واياست .

(٧٩٥): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنْ صَلَاةٍ جَهَرَ فِيْهَا بِالْقِرَاءَةِ فَقَالَ هَلْ قَرَأَ مَعِيَ أَحَدٌ مِنْكُمْ آنِفًا؟ فَقَالَ رَجُلٌ نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ إِنِّيْ أَقُوْلُ مَا لِيْ أُنَازِعُ الْقُرْآنَ، قَالَ فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَا جَهَرَ فِيْهِ بِالْقِرَاءَةِ مِنَ الصَّلَوَاتِ حِيْنَ سَمِعُوْا ذٰلِكَ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه مالك وأحمد وأبو داود والترمذي والنسائي وروى ابن ماجه نحوه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي هر كله به رسول الله ﷺ د جهري لمونځ څخه فارغ سو نو لمونځ كونكو ته به يې وفرمايل: ايا په تاسو كي يو چا زما سره اوس اوس (په لمانځه كي) قرائت وايه، يو سړي عرض وكړ هو، اې دالله رسوله!، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ما (په زړه كي) وايه څه وجه ده چي ما ته د قرآن په ويلو كي ستونزه پېښيږي، د راوي بيان دي چي بيا خلك د رسول الله ﷺ سره په جهر لمنځو كي د قرآن ويلو څخه منع سول چي دا يې واوريدل د رسول الله ﷺ څخه. مالك، احمد، ابوداوٗد، ترمذي، نسائي او ابن ماجه

(٧٩٦): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَالْبَيَاضِيِّ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُصَلِّيَ يُنَاجِيْ رَبَّهُ فَلْيَنْظُرْ مَا يُنَاجِيْهِ بِهِ وَلَا يَجْهَرْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ بِالْقُرْآنِ. رواه أحمد.

د حضرت ابن عمر او بياضي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: لمونځ كونكی د الله تعالى مناجات كوي نو پكار دي چي كوم مناجات هغه كوي په هغه كي فكر كوي د بل ويونكي د ويلو پر وخت په لوړ آواز سره قرآن نه ووايي. احمد.

## د امام پيروي ضروري ده

(٧٩٧): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوْا وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوْا. رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: امام ددې لپاره ټاكل سوی دی چي تاسو د هغه پيروي وكړئ هر كله چي هغه الله اكبر ووايي نو تاسو هم الله اكبر ووايا ست او كله چي هغه په لمانځه كي قرائت وايي نو تاسو پټه خوله اوسئ. ابوداوٗد، نسائي او ابن ماجه.

## كه څوك پر قرائت قادر نه وي نو څه ووايي؟

(٧٩٨): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِيْ أَوْفٰى قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّيْ

د حضرت عبدالله بن ابي اوفى ﷺ څخه روايت دی چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ چي زما سره د قرآن كريم څخه

لاَ أَسْتَطِيْعُ أَنْ آخُذَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْئًا فَعَلِّمْنِيْ مَا يُجْزِئُنِيْ قَالَ قُلْ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ . قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ هٰذَا لِلّٰهِ فَمَا ذَا لِيْ ؟ قَالَ قُلِ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنِيْ وَعَافِنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِيْ . فَقَالَ هٰكَذَا بِيَدَيْهِ وَقَبَضَهُمَا . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا هٰذَا فَقَدْ مَلَأَ يَدَيْهِ مِنَ الْخَيْرِ . رواه أبو داود وانتهت رواية النسائي عند قوله إلا بالله :

څه يادولو توان نسته نو ما ته يو داسي شی وښيه چي زما لپاره کافي وي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته دا وايه : (سبحان الله ......) (الله پاك دی او ټول تعريفونه الله لره دي د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته الله ډير لوی دی او د الله د مرستي څخه پرته د بدو څخه د راګرځېدو او پر عبادت کولو (د هيڅا) توان نسته ) هغه سړي عرض وکړ اې دالله رسوله ! دا خو د الله لپاره سو زما لپاره څه دي ؟

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د ځان لپاره دا وايه : (اللهم ....) اې الله پر ما رحم وکړې ما سلامت ولرې ما ته هدايت وکړې او ما ته روزي راکړې ) نو هغه سړي په خپلو دواړو لاسو سره داسي اشاره وکړه او بند يې کړل نو رسول الله ﷺ وفرمايل ده خپل لاسونه د خير څخه ډك کړل . ابوداؤد او نسائي .

**پر احکام الهي باندي د عمل کولو يو مثال**

(۷۹۹): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَرَأَ ( سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ) قَالَ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى. رواه أبو داود

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به کله سبح اسم ربك الاعلى وايه نو دا کلمات به يې ارشاد فرمايل : سبحان ربي الاعلى . ابوداؤد .

**په لمانځه کي د کومو اياتو وروسته څه ويل پکار دي؟**

(۸۰۰): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ مِنْكُمْ بِالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ فَانْتَهٰى إِلَى (أَلَيْسَ اللهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِيْنَ )فَلْيَقُلْ بَلٰى وَأَنَا عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ . وَمَنْ قَرَأَ ( لاَ أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ) فَانْتَهٰى إِلَى ( أَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلٰى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتٰى) فَلْيَقُلْ بَلٰى.وَمَنْ قَرَأَ(وَالْمُرْسَلاَتِ) فَبَلَغَ ( فَبِأَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُوْنَ) فَلْيَقُلْ آمَنَّا بِاللهِ . رواه أبو داود والترمذي إلى قوله وأنا على ذلك من الشاهدين .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي چي کوم څوك (والتين والزيتون) ووايي او تر ( اليس الله باحكم الحاكمين) پوري ورسيږي نو دا دي ووايي( بلى وانا على ذالك من الشاهدين) (هو، او زه پر دې دي شاهدي يم) او څوك چي (لا اقسم بيوم القيمة) ووايي او تر (اليس ذلك بقادر على ان يحيى الموتى) پوري ورسيږي نو دا دي ووايي (بلى)يعني هو، پر دې قادر دی، او څوك چي والمرسلات ووايي او (تر فباي حديث بعده

يومنون) پوري ورسيږي نو دا دي ووايي (امنابالله) موږ پر الله ايمان راوړی دی ابوداؤد اوترمذي

(۸۰۱): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَصْحَابِهِ فَقَرَأَ عَلَيْهِمْ سُوْرَةَ الرَّحْمٰنِ مِنْ أَوَّلِهَا إِلَى آخِرِهَا فَسَكَتُوا فَقَالَ لَقَدْ قَرَأْتُهَا عَلَى الْجِنِّ لَيْلَةَ الْجِنِّ فَكَانُوا أَحْسَنَ مَرْدُوْدًا مِنْكُمْ كُنْتُ كُلَّمَا أَتَيْتُ عَلَى قَوْلِهِ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ قَالُوا لَا بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب.

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د صحابه کرامو يو ټولۍ ته تشريف يووړ او دهغوئ په وړاندي يې د سر څخه تر پايه پوري سورة الرحمن ووايه او صحابه کرامو پټه خوله اوريدی کله چي ختم سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل : ما دا سورة د پيريانانو په وړاندي ويلي وو په هغه شپه چي پيريانانو اسلام قبلوی او د قرآن اوريدو لپاره يو ځای سوي وه هغوئ ستاسو څخه زيات ښه جواب ورکونکي وه کله چي به ( فباي الاء ربكما تكذبان) وايه ، نو هغوئ به ويل (لا بشئ .... فلك الحمد) (اې پروردگاره) ستا په نعمتو کي داسي هيڅ نسته چي هغه موږ درواغ کړای سو او تعريف هم تالره دی). ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

## دريم فصل

### په دواړو رکعتو کي يو سورت ويل

(۸۰۲): عَنْ مُعَاذِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ الْجُهَنِيِّ قَالَ إِنَّ رَجُلًا مِّنْ جُهَيْنَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي الصُّبْحِ ( إِذَا زُلْزِلَتْ) فِي الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا فَلَا أَدْرِيْ أَنَسِيَ أَمْ قَرَأَ ذٰلِكَ عَمَدًا . رواه أبو داود

د حضرت معاذ بن عبدالله الجهني ﷛ څخه روايت دی چي د جهينه قبيلې يو سړي ما ته وويل چي ما د سهار په لمانځه کي د رسول الله ﷺ څخه (اذا زلزلت الارض) په دواړو رکعتونو کي ويل اوريدلي دي . زه نه سم ويلای چي رسول الله ﷺ په قصد سره داسي وکړل او که په هيره سره . ابوداؤد

(۸۰۳): وَعَنْ عُرْوَةَ قَالَ إِنَّ أَبَا بَكْرِ الصِّدِّيْقِ رضي الله عنه صَلَّى الصُّبْحَ فَقَرَأَ فِيْهِمَا بِسُوْرَةِ الْبَقَرَةِ فِي الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا . رواه مالك .

د حضرت عروة ﷛ څخه روايت دی چي ابوبکر صديق ﷛ د سهار لمونځ وکړ او په دواړو رکعتو کي يې سورة بقرة وويل . مالك .

## حضرت عثمان ﷺ د سهار په لمانځه کي سورة يوسف زيات وايه

(٨٠٤): وَعَنِ الْفرافصة بْنِ عُمَيْرِ الْحَنَفِيِّ قَالَ مَا أَخَذْتُ سُوْرَةَ يُوْسُفَ إِلاَّ مِنْ قِرَاءَةِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ إِيَّاهَا فِي الصُّبْحِ مِنْ كَثْرَةِ مَا كَانَ يُرَدِّدُهَا . رواه مالك .

د حضرت فرافصه بن عمير الجنفي ﷺ څخه روايت دی چي ما سورة يوسف د حضرت عثمان ﷺ څخه په دا ډول ياد کړی دی چي هغه به اکثر د سهار په لمانځه کي وايه . مالك .

(٨٠٥): وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيْعَةَ قَالَ صَلَّيْنَا وَرَاءَ عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ الصُّبْحَ فَقَرَأَ فِيهِمَا بِسُوْرَةِ يُوْسُفَ وَسُوْرَةِ الْحَجِّ قِرَاءَةً بَطِيْئَةً قِيلَ لَهُ إِذًا لَقَدْ كَانَ يَقُوْمُ حِيْنَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ قَالَ أَجَلْ . رواه مالك .

د حضرت عامر بن ربيعة ﷺ څخه روايت دی چي ما په عمر بن الخطاب ﷺ پسي دسهار لمونځ وکړ هغه په دواړو رکعتو کي سورة يوسف او سورة حج په کراره کراره وويل ، د عامر څخه پوښتنه وسول چي حضرت عمر به د سهار په اول وخت کي د لمانځه لپاره درېدی ؟ هغه جواب ورکړ : هو. مالك .

(٨٠٦): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ مَا مِنَ الْمُفَصَّلِ سُوْرَةٌ صَغِيْرَةٌ وَلاَ كَبِيْرَةٌ إِلاَّ قَدْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ بِهَا النَّاسَ فِي الصَّلاَةِ الْمَكْتُوْبَةِ . رواه مالك .

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي په مفصل سورتو کي هيڅ يو کوچني يا لوی سورت رسول الله ﷺ په فرض لمانځه کي نه دی پرې اېښی چي ما د رسول الله ﷺ څخه نه وي اورېدلی . مالك .

(٨٠٧): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَرَأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلاَةِ الْمَغْرِبِ بِ (حم الدُّخَانِ) . رواه النسائي مرسلا .

د حضرت عبدالله ﷺ څخه روايت دی چي د ماښام په لمانځه کي رسول الله ﷺ سورة حم الدخان ووايه. نسائي.

# بَابُ الرُّكُوْعِ (د ركوع بيان)

## لومړی فصل

### ركوع او سجده په ښه ډول كول پكار دي

(٨٠٨): عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقِيمُوا الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ فَوَاللّٰهِ إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ بَعْدِي . متفق عليه

د حضرت انس ؓ ښخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ركوع او سجده په ښه ډول كوئ په الله دي مي قسم وي زه تاسو د شا د لوري ښخه هم وينم . بخاري او مسلم.

(٨٠٩): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رُكُوْعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ سُجُوْدُهُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَ اِذَا رَفَعَ مِنَ الرُّكُوْعِ مَا خَلَا الْقِيَامَ وَالْقُعُوْدَ قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ . متفق عليه

د حضرت براء ؓ ښخه روايت دی چي د ناستي او ولاړي ښخه پرته د رسول الله ﷺ ركوع ، سجده، د دوو سجدو په منځ كي ناسته او د ركوع ښخه پورته كيدل دا ټلور سره شيان به په يوه اندازه وه. بخاري او مسلم.

### د رسول الله ﷺ قومه او سجده

(٨١٠): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ قَامَ حَتَّى نَقُولَ قَدْ أَوْهَمَ ثُمَّ يَسْجُدُ وَيَقْعُدُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ حَتَّى نَقُولَ قَدْ أَوْهَمَ . رواه مسلم

د حضرت انس ؓ ښخه روايت دی كله چي به رسول الله ﷺ سمع الله لمن حمده ووايه نو دريدى به تر دې چي زموږ به ذا خيال سو چي رسول الله ﷺ شايد هغه ركعت پرېښودى بيا به رسول الله ﷺ سجدې ته تلى او د دواړو سجدو په منځ كي به دومره كښينستى چي زموږ به بيا هم هغه خيال سو .

(٨١١): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يكثر اَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعه وَسُجُوده سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ. متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) ښخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په خپل ركوع او سجده كي زيات وخت دا الفاظ ويل : سبحانك اللهم ربنا و بحمدك اللهم اغفرلي ..... مسلم.

(٨١٢): وَعَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عائشي (رض) ښخه روايت دی چي

وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ . رواه مسلم

رسول الله ﷺ به په سجده او رکوع کي دا الفاظ هم ویل : ډير پاك دی د ملائکو او جبرائيل پروردگار . مسلم

**په رکوع او سجده کي د قران کريم ويلو منع**

﴿٨١٣﴾: وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَقْرَأَ الْقُرْآنَ رَاكِعًا أَوْ سَاجِدًا فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ عَزَّ وَجَلَّ وَأَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ . رواه مسلم

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردارا زه منع کړل سوی يم چي په رکوع او سجده کي قرآن کريم ووايم ، تاسو هم په رکوع کي د الله عظمت بيانوئ او په سجده کي د دعاء غوښتلو هڅه وکړئ ، مناسب داده چي هغه دعاء ستاسو لپاره قبوله سي . مسلم

﴿٨١٤﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ الْإِمَامُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي امام سمع الله لمن حمده ووايي نو تاسو اللهم ربنا لك الحمد واياست ځکه چي د چا قول د ملائکو د قول سره موافق سي نو د هغه تير سوي گناهونه بخښل کيږي . بخاري او مسلم .

**د قومي دعاء**

﴿٨١٥﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ ظَهْرَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ . رواه مسلم

د حضرت عبدالله بن ابي اوفي ﷺ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ د رکوع څخه ملا پورته کړل نو ويل به يې سمع الله لمن حمده ...... ( الله اوري څوك چي د هغه تعريف وکړي ، اي الله زموږ ربه بس يوازي ستا تعريف دی په ټولو آسمانو او مځکو کي او د هغه شيانو برابر چي ته يې غواړي . ) مسلم

﴿٨١٦﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَالَ اللهم رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ

د حضرت ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ د رکوع څخه سر پورته کړی نو دا به يې ويل : اللهم ربنا ..... ( اي الله اي زموږ ربه بس

مِلْءُ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءُ الْأَرْضِ وَمِلْءُ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ اللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. رواه مسلم

يوازي ستا تعريف دی په ټولو آسمانو او مځکو کي او د هغه شي برابر چي ته يې وغواړې اې د تعريف او عظمت وروسته ته د هغه تعريف او تمجيد زيات ور يې کوم چي بنده يې کوي او موږ ټول ستا بندګان يو اې الله ﷺ ستا ورکړه څوك منع کولای نه سي او نه څوك چا ته څه ورکولای سي چي ته يې ورکول نه غواړې او نه شتمن ستا د عذاب څخه شتمني خلاصولای سي.) مسلم

(۸۱۷): وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ كُنَّا نُصَلِّيْ وَرَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ. فَقَالَ رَجُلٌ وَرَاءَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ مَنِ الْمُتَكَلِّمُ آنِفًا؟ قَالَ أَنَا قَالَ رَأَيْتُ بِضْعَةً وَثَلَاثِيْنَ مَلَكًا يَبْتَدِرُوْنَهَا أَيُّهُمْ يَكْتُبُهَا أَوَّلُ. رواه البخاري.

د حضرت رفاعة بن رافع ﷺ څخه روايت دی چي موږ په نبي کريم ﷺ پسي لمونځ کوی کله چي رسول الله ﷺ د رکوع څخه سر را پورته کړی نو وه يې فرمايل: سمع الله لمن حمده، يو سړی چي په رسول الله ﷺ پسي يې لمونځ کوی دا يې وويل: ربنالك الحمد حمدا کثيرا طيبا مبارکا فيه، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه يې فرمايل دا کلمات چا وويل؟ يو سړي وويل هغه زه وم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ما د دیرشو څخه زياتي ملائکي وليدې چي ددې کلماتو په ثواب ليکلو کي يې تلوار کوئ چي څوك يې مخکي وليکي. بخاري

## دوهم فصل

### د تعديل ارکان حکم او د امامانو مذهب

(۸۱۸): عَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُجْزِئُ صَلَاةُ الرَّجُلِ حَتّٰى يُقِيْمَ ظَهْرَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ. رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح.

د حضرت ابو مسعود الانصاري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تر څو پوري چي لمونځ کونکی په رکوع او سجده کي خپله ملا سيده نه کړي نو د هغه لمونځ نه پوره کيږي. ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه او دارمي. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی.

## د ركوع او سجدې تسبيحات

(٨١٩): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ (فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْعَلُوْهَا فِيْ رُكُوْعِكُمْ فَلَمَّا نَزَلَتْ (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى) قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْعَلُوْهَا فِيْ سُجُوْدِكُمْ . رواه أبو داود وابن ماجه والدارمي .

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دی چي كله سبح اسم ربك العظيم ، نازل سو نو رسول الله ﷺ وفرمايل دا په خپل ركوع كي واياست او كوم وخت چي سبح اسم ربك الاعلى نازل سو نو بيا يې وفرمايل : دا په خپل سجده كي واياست . ابوداؤد ، ابن ماجه او دارمي

(٨٢٠): وَعَنْ عَوْنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ فَقَالَ فِيْ رُكُوْعِه سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَدْ تَمَّ رُكُوْعُهُ وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ وَإِذَا سَجَدَ فَقَالَ فِيْ سُجُوْدِهٖ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَدْ تَمَّ سُجُوْدُهُ وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ . رواه الترمذي وأبو داود ابن ماجه . وقال الترمذي ليس إسناده بمتصل لأن عونا لم يلق ابن مسعود .

حضرت عون بن عبدالله د ابن مسعود ﷺ څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي په تاسو كي يو څوك ركوع وكړي نو په ركوع كي دي دري څله سبحان ربي العظيم ووايي او په دې سره دده ركوع پوره سوه او (دا دري څله ويل) كمه اندازه ده ، او هر كله چي سجده وكړي نو په سجده كي دي دري څله سبحان ربي الاعلى ووايي او په دې سره دده سجده پوره سوه او دا ادنا درجه ده .

(٨٢١): وَعَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّهُ صَلّٰى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ رُكُوْعِه سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ وَفِيْ سُجُوْدِهٖ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى وَمَا أَتٰى عَلٰى آيَةِ رَحْمَةٍ إِلَّا وَقَفَ وَسَأَلَ وَمَا أَتٰى عَلٰى آيَةِ عَذَابٍ إِلَّا وَقَفَ وَتَعَوَّذَ. رواه الترمذي وأبو داود والدارمي وروى النسائي وابن ماجه إلى قوله الأعلى . وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دی چي ده د رسول الله ﷺ سره لمونځ وكړ او ده مبارك به په ركوع كي سبحان ربي العظيم وايه او په سجده كي به يې سبحان ربي الاعلى وايه او كله چي به د رحمت يو آيت په قرآئت كي راغلی نو رسول الله ﷺ به ودريدی او دعاء به يې غوښتل او كله چي به د عذاب يو آيت راغلی نو دريدی به او پناه به يې غوښتل .

# دريم فصل

(۸۲۲): عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قُمْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَكَعَ مَكَثَ قَدْرَ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ وَيَقُوْلُ فِيْ رُكُوْعِه سُبْحَانَ ذِيْ الْجَبَرُوْتِ وَالْمَلَكُوْتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظْمَةِ . رواه النسائي .

د حضرت عوف بن مالك ﷺ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ سره لمونځ وکړ ، رسول الله ﷺ رکوع وکړه نو په رکوع کي د سورة بقرة د ويلو په اندازه ودريدى ، رسول الله ﷺ به په رکوع کي سبحان ذي الجبروت...). (دا كيداى سي چي د تهجد يا لمر تندره نيولو لمونځ وي) . نسائي

(۸۲۳): وَعَنِ ابْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُوْلُ مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَحَدٍ بَعْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْبَهَ صَلَاةً بِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ هٰذَا الْفَتَى يَعْنِيْ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ قَالَ فَحَزَرْنَا رُكُوْعَهُ عَشْرَ تَسْبِيْحَاتٍ وَسُجُوْدَهُ عَشْرَ تَسْبِيْحَاتٍ . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت ابن جبير ﷺ څخه روايت دى چي ما د انس بن مالك ﷺ څخه واوريدل چي ويل يې ما د رسول الله ﷺ وروسته په داسي سړي پسي لمونځ نه دى کړى چي د هغه لمونځ د رسول الله ﷺ د لمانځه سره زيات ورته وي پرته ددې زلمي څخه (يعني عمر بن عبد العزيز) ، ابن جبير وايي انس بن مالك وويل موږ ددې زلمي د رکوع لس خله د سبحان الله ويلو اندازه او د سجدې هم دغه اندازه ولګول .

(۸۲۴): وَعَنْ شَقِيْقٍ قَالَ إِنَّ حُذَيْفَةَ رَأَى رَجُلًا لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهُ وَلَا سُجُوْدَهُ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ دَعَاهُ فَقَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ مَا صَلَّيْتَ . قَالَ وَأَحْسَبُهُ قَالَ وَلَوْ مُتَّ مُتَّ عَلَى غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِيْ فَطَرَ اللّٰهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري .

د حضرت شقيق څخه روايت دى چي حذيفه يو سړى وليدى چي رکوع او سجده يې په پوره ډول سره نه کول ، کله چي هغه لمونځ وکړ نو حضرت حذيفة را وغوښتى او ورته وه يې ويل : تا لمونځ نه وکړ، د راوي بيان دى چي زما دا خيال دى چي حذيفه هغه ته دا هم وويل كه ته په دې حالت کي مړ سې چي داسي لمونځ کوې نو د هغه فطرت پر طريقه مړ نه سوې پر کومه چي الله ﷻ محمد ﷺ پيدا کړى دى .بخاري .

(۸۲۵): وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْوَأُ النَّاسِ سَرِقَةً اَلَّذِيْ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ . قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ ؟ قَالَ لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا . رواه أحمد .

د حضرت ابو قتادة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : بدترین غله هغه دي چي په لمانځه کي غلا کوي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! په لمانځه کي غلا څنګه کیږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل چي رکوع او سجده پوره ونه وکړل سي. احمد

(۸۲۶): وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُرَّةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا تَرَوْنَ فِي الشَّارِبِ وَالزَّانِيْ وَالسَّارِقِ ؟ وَذٰلِكَ قَبْلَ أَنْ تُنْزَلَ فِيْهِمُ الْحُدُوْدُ قَالُوْا اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . قَالَ هُنَّ فَوَاحِشُ وَفِيْهِنَّ عُقُوْبَةٌ وَأَسْوَأُ السَّرِقَةِ الَّذِيْ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ قَالُوْا وَكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا . رواه مالك وأحمد وروى الدارمي نحوه .

د حضرت نعمان بن مرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو د شرابي، زناکار، او غله په اړه څه فکر کوئ ؟ (دا د هغه وخت پېښه ده چي حدود نه وه نازل سوي) صحابه کرامو عرض وکړ الله او د هغه رسول ښه پوهیږي. رسول الله ﷺ وفرمایل : دا لوی ګناهونه دي او سزا لري خو بدترینه غلا هغه ده چي انسان يې په خپل لمانځه کي کوي، صحابوو عرض وکړ اې دالله رسوله ! د لمانځه غلا څنګه کیږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل چي رکوع او سجده پوره نه کوي. مالك، احمد او دارمي.

# بَابُ السُّجُوْدِ وَفَضْلِه

## (د سجدې او د هغې دفضیلت بیان)

## لومړی فصل

### د سجدې اندامونه

(۸۲۷): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ أَنْ اَسْجُدَ عَلٰى سَبْعَةِ اَعْظُمٍ عَلَى الْجَبْهَةِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته په اوو هډوکو سره د سجدې کولو حکم راکړل سوی دی، په تندي په دوارو لاسو په زنګنو د پښو په پنجو او دا حکم راکړل سوی دی

وَاَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ وَ لاَ نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَ الشَّعْرَ. متفق عليه

چي په لمانځه كي نه جامې را تولي كړو او نه وربښتان سم كړو . بخاري او مسلم

**په سجده كي د طمانيت حكم**

(۸۲۸): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ وَلاَ يَبْسُطْ اَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو په سجده كي اعتدال كوئ (يعني په اطمينان سره سجده كوئ) او په تاسو كي دي هيڅوك د سجدې په حالت كي د سپي په ډول څنګلي نه غوړوي . بخاري او مسلم .

**په سجده كي د لاسو او څنګلو ايښودو حكم**

(۸۲۹): وَعَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا سَجَدْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ . رواه مسلم

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو سجده كوئ نو پر مځكه ورغوي كښيږدئ او څنګلي پورته لرئ . مسلم

(۸۳۰): وَعَنْ مَيْمُوْنَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا سَجَدَ جَافٰى بَيْنَ يَدَيْهِ حَتّٰى لَوْ اَنَّ بَهْمَةً اَرَادَتْ اَنْ تَمُرَّ تَحْتَ يَدَيْهِ مَرَّتْ . هٰذَا لفظ ابي داود كما صرح في شرح السنة بإسناده . ولمسلم بمعناه قالت كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا سجد لوشاءت بهمة أن تمر بين يديه لمرت ( متفق عليه )

د حضرت ميمونة (رض) څخه روايت دی چي كله به رسول الله ﷺ سجده كول نو خپل لاسونه به يې بيل ساتل تر دې كه مرغومي په منځ كي تيريدل غوښتل نو تيريدای به سو. دا الفاظ دا بوداؤد دي لكه څنګه چي امام بغوي په شرح السنة كي په خپل سند سره بيان كړي دي د مسلم الفاظ دادي كله چي به يې سجده كول نو مرغومي كه غوښتل نو د رسول الله ﷺ د دواړو لاسو په منځ كي تيرېدای سو . بخاري او مسلم .

(۸۳۱): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا سَجَدَ فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتّٰى يَبْدُوَ بَيَاضُ اِبْطَيْهِ . متفق عليه

د حضرت عبدالله بن مالك بجينة څخه روايت دی چي كله به رسول الله ﷺ سجده كول نو دواړه لاسونه به يې خلاص ساتل تردې چي د رسول الله ﷺ د بغلو سپين والی به معلوميدی .

**په سجده كي د رسول الله ﷺ دعاء**

(۸۳۲): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلَ اللّٰهِ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي سُجُودِهِ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ وَجِلَّهُ وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ وَعَلاَنِيَتَهُ وَسِرَّهُ. رواه مسلم

الله ﷺ به په سجده کي دا ویل : (اې الله زما ګناهونه و بخښې تول کوچني او لوی ، لومړي او وروستني څرګند او پټ .) مسلم

(۸۳۳): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فَقَدْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً مِنَ الْفِرَاشِ فَالْتَمَسْتُهُ فَوَقَعَتْ يَدِي عَلَى بَطْنِ قَدَمَيْهِ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ وَهُمَا مَنْصُوبَتَانِ وَهُوَ يَقُولُ اللّٰهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لاَ أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ . رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې یوه شپه ما رسول الله ﷺ په بستره کي ونه لیدی نو ما رسول الله ﷺ و لټوی نو زما لاسونه د رسول الله ﷺ پر قدمو پریوتل دا وخت رسول الله ﷺ په سجده کي وو او دواړي پښني يې ولاړي وې او رسول الله ﷺ په سجده کي دا ویل : (اې الله زه ستا د رضا مندۍ په ذریعه ستا د غضب څخه پناه غواړم او ستا د معافي ورکولو په ذریعه ستا د عذاب څخه او زه پناه غواړم ستا د عذاب څخه د خلاصون دپاره ستا په پناه کي راځم او زه ستا تعریف شمیرلای نه سم ته هم هغسي يې لکه څرنګه چې تا خپل تعریف فرمایلی دی .) مسلم

**سجده الله تعالی ته د نژدې کېدو ذریعه ده**

(۸۳۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ . رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د بنده الله ﷻ ته ډیر نژدې کیدل هغه وخت وي چې هغه په سجده کي وي له دې کبله تاسو په سجده کي زیاته دعاء کوئ .مسلم

**د سجده تلاوت پر وخت د شیطان فریاد**

(۸۳۵): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ فَسَجَدَ اعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِي يَقُولُ يَا وَيْلَتَى أُمِرَ ابْنُ آدَمَ بِالسُّجُودِ فَسَجَدَ فَلَهُ الْجَنَّةُ وَأُمِرْتُ بِالسُّجُودِ فَأَبَيْتُ فَلِيَ النَّارُ . رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې انسان د سجدې آیت وایي او بیا سجده کوي نو شیطان په ژړا تښتي او وایي افسوس دی د آدم زوی ته د سجدې حکم ورکړل سو هغه سجده وکړه نو د هغه لپاره جنت دی او ما ته د سجدې حکم وسو ما انکار وکړ نو زما لپاره د دوږخ اور دی . مسلم

**ډېرې سجدې په جنت کې د رسول الله ﷺ د رفاقت ذريعه ده**

(۸۳۶): وَعَنْ رَبِيعَةَ ابْنِ كَعْبٍ قَالَ كُنْتُ أَبِيتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهُ بِوَضُوئِهِ وَحَاجَتِهِ فَقَالَ لِي سَلْ فَقُلْتُ أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ قَالَ أَوْ غَيْرَ ذَلِكَ قُلْتُ هُوَ ذَاكَ قَالَ فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ . رواه مسلم

د حضرت ربيعه بن کعب ﷺ څخه روايت دی چې زه به د شپې د رسول الله ﷺ په خدمت کې وم او رسول الله ﷺ ته به مې د اوداسه اوبه د کوم شي (مسواک او داسې نور) چې به ضرورت وو هغه به مې ورکول ، يوه ورځ رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل د دين او دنيا کوم خير چې غواړې هغه وغواړه ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! زه خو په جنت کې ستاسو ملګرتيا غواړم، رسول الله ﷺ وفرمايل د دې پرته نور څه هم غواړې ؟ ما عرض وکړ بس هم دغه غواړم، رسول الله ﷺ راته وفرمايل : ته په زياتو سجدو کولو سره د خپل نفس پر خلاف زما مرسته کوه .مسلم

(۸۳۷): وَعَنْ مَعْدَانَ ابْنِ طَلْحَةَ قَالَ لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِي اللّٰهُ بِهِ الْجَنَّةَ فَسَكَتَ ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَسَكَتَ ثُمَّ سَأَلْتُهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ سَأَلْتُ عَنْ ذَلِكَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلّٰهِ فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلّٰهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللّٰهُ بِهَا دَرَجَةً وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً، قَالَ مَعْدَانُ ثُمَّ لَقِيتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ لِي مِثْلَ مَا قَالَ لِي ثَوْبَانُ . رواه مسلم

د حضرت معدان بن طلحه ﷺ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ د آزاد کړل سوي غلام ثوبان ﷺ سره ملاقات وکړ او هغه ته مې وويل ما ته يو داسې عمل وښيه چې زه د هغه په کولو الله ﷻ ما په جنت کې داخل کړي هغه پټه خوله سو ، ما بيا پوښتنه وکړه بيا هم هغه پټه خوله پاته وو، په دريم ځل چې ما پوښتنه وکړه نو هغه وويل ما هم د رسول الله ﷺ څخه دا پوښتنه کړې وه د هغه په جواب کې رسول الله ﷺ راته وفرمايل: ته د الله لپاره زياتې سجدې پر ځان لازمې کړه (يعني زياتې سجدې کوه) ځکه چې ته د الله لپاره کومه سجده کوې الله به د هغې په بدله کې ستا مرتبې پورته کوي او ددې په سبب به ستا ګناهونه ليرې کوي ، معدان وايي د دې وروسته زه د ابودرداء ﷺ سره يو ځای سوم د هغه څخه مې هم دغه پوښتنه وکړه نو هغه هم دغه جواب راکړ کوم چې ثوبان راکړی وو. مسلم

## دوهم فصل

### د سجدې کولو طریقه

(۸۳۸): عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ وَإِذَا نَهَضَ رَفَعَ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي .

د حضرت وائل بن حجر ﷺ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ وليدی کله چي به هغه سجده کول نو د لاسونو څخه وړاندي به يې دواړي گونډې پر مځکه لگولې او کله چي به د سجدې څخه راپورته کيدی نو مځکي به يې لاسونه را پورته کول . نسائي، ابن ماجه، دارمي.

(۸۳۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلاَ يَبْرُكْ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيرُ وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ . رواه أبو داود والنسائي . والدارمي قال أبو سليمان الخطابي حديث وائل بن حجر أثبت من هذا وقيل هذا منسوخ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي يو څوك سجده کوي نو داسي دي نه کښيني لکه څرنگه چي اوښ کښيني بلکه سجدې څخه د تلو په وخت کي دي مځکي خپل لاسونه پر مځکه لگوي . ابوداؤد .

### د سجدو په منځ کي د رسول الله ﷺ دعاء

(۸۴۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ وَاهْدِنِيْ وَعَافِنِيْ وَارْزُقْنِيْ . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د دوو سجدو په منځ کي دا دعاء ويل : (اې الله ! ما و بخښې پر ما رحم وکړې ما ته هدايت وکړې ما په عافيت کي ولرې او ما ته رزق راکړې .) ابوداؤد اوترمذي

(۸۴۱): وَعَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ . رواه النسائي والدارمي .

د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د دوو سجدو په منځ کي (رب اغفرلي) ويل . نسائي او دارمي .

## دریم فصل

### د زر زر سجدې کولو څخه منع

(٨٤٢): عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ شِبْلٍ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نُقْرَةِ الْغُرَابِ وَافْتِرَاشِ السَّبُعِ وَأَنْ يُوطِّنَ الرَّجُلُ الْمَكَانَ فِي الْمَسْجِدِ كَمَا يُوَطِّنُ الْبَعِيْرُ . رواه ابو داود والنسائي والدارمي .

د حضرت عبد الرحمن بن شبل ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د کارګه په ډول د منبوکي وهلو څخه منع فرمایلې ده او د حیوانانو په ډول د لاسو غزولو څخه او ددې څخه چي سړی په مسجد کي د اوښ په ډول ځای و ټاکی . ابوداوٗد .

### د سجدو په منځ کي اقعاء منع ده

(٨٤٣): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَلِيُّ إِنِّيْ أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِيْ وَأَكْرَهُ لَكَ مَا أَكْرَهُ لِنَفْسِيْ لاَ تُقْعِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ . رواه الترمذي .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : اې علي ! زه ستا لپاره هغه شی خوښوم کوم چي د ځان لپاره خوښوم او هغه شی ستا لپاره بد ګڼم کوم چي د ځان لپاره بد ګڼم نو ته د دوو سجدو په منځ کي اقعاء (د سپي په ډول ناسته) مه کوه . ترمذي .

### په رکوع او سجده کي ملا سیده کول

(٨٤٤): وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ الْحَنَفِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَنْظُرُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلٰى صَلاَةِ عَبْدٍ لاَ يُقِيْمُ فِيْهَا صُلْبَهُ بَيْنَ رُكُوْعِهَا وَسُجُوْدِهَا . رواه أحمد .

د حضرت طلق بن علي الحنفي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی د هغه بنده لمانځه ته نه ګوري چي د خپل لمانځه په رکوع او سجده کي خپله ملا نه سیده کوي . احمد

### دواړه لاسونه هم سجده کوي

(٨٤٥): وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُوْلُ مَنْ وَضَعَ جَبْهَتَهُ بِالْأَرْضِ فَلْيَضَعْ كَفَّيْهِ عَلَى الَّذِيْ وَضَعَ عَلَيْهِ جَبْهَتَهُ ثُمَّ إِذَا رَفَعَ فَلْيَرْفَعْهُمَا فَإِنَّ الْيَدَيْنِ تَسْجُدَانِ كَمَا يَسْجُدُ الْوَجْهُ . رواه مالك .

د حضرت نافع ﷺ څخه روایت دی چي ابن عمر ﷺ به ویل څوک چي خپل تندی پر مځکه ولګوي یعني سجده وکړي نو هغه ته پکار ده چي خپل لاسونه پر هغه ځای ولګوي چي پر کوم یې تندی ایښی وي بیا چي د سجدې څخه پورته کیږي نو دواړه لاسونه دي پورته کړي ځکه چي لاسونه هم داسي سجده کوي لکه څرنګه چي مخ سجده کوي ، مالك .

# بَابُ التَّشَهُّد (د التحيات بيان)

## لومړی فصل

### په التحيات کي د لاسو ايښودو حکم

﴿۸۴۶﴾: عَنْ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قال كان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ فِي التَّشَهُّدِ وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُمْنَى وَعَقَدَ ثَلَاثَةً وَخَمْسِينَ وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ و فِي رواية كَانَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَرَفَعَ إِصْبَعَهُ الْيُمْنَى الَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ فَدَعَا بِهَا وَيَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى بَاسِطَهَا عَلَيْهَا . رواه مسلم

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د تشهد لپاره کښېښستی نو چپه لاس به يې پر چپه ورانه او راسته لاس به يې پر راسته ورانه کښېښودی او خپل لاس به يې د (۵۳) عدد په ډول بندوی او د شهادت په ګوتي سره به يې اشاره کول ، په يو بل روايت کي دا الفاظ دي کله چي به رسول الله ﷺ په لمانځه کي کښېښستی نو دواړه لاسونه به يې پر خپلو ورنو ايښودل او د راسته لاس هغه ګوته چي د بټي ګوتي سره ده پورته کول او دعاء به يې غوښتل ، او چپه لاس به يې خلاص پر چپه ورون ايښودی . مسلم

﴿۸۴۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ يَدْعُو ، وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى وَيَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ وَوَضَعَ إِبْهَامَهُ عَلَى إِصْبَعِهِ الْوُسْطَى وَيُلْقِمُ كَفَّهُ الْيُسْرَى رُكْبَتَهُ . رواه مسلم

د حضرت عبدالله بن زبير ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ په لمانځه کي کښېښستی نو راسته لاس به يې پر راسته ورانه کښېښودی او چپه لاس به يې پر چپه ورانه ايښودی او د شهادت په ګوته سره به يې اشاره کول او بټه ګوته به يې د منځنۍ ګوتي سره يو ځای کولو څخه حلقه جوړول او په چپه لاس سره به يې خپل چپه زنګون نيوی . مسلم

﴿۸۴۸﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كُنَّا اذا صَلَّيْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَا السَّلَامُ عَلَى اللهِ قَبْلَ عِبَادِهِ السَّلَامُ عَلَى جِبْرَئِيلَ السَّلَامُ

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي موږ به د نبي کريم ﷺ سره لمونځ کوی نو په تشهد کي به مو دا ويل : پر الله دي سلام وي د

عَلَى مِيكَائِيْلَ اَلسَّلَامُ عَلَى فُلَانٍ فَلَمَّا انْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ قَالَ لَا تَقُولُوْا اَلسَّلَامُ عَلَى اللّٰهِ فَانَّ اللّٰهَ هُوَ السَّلَامُ فَإِذَا جَلَسَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَقُلْ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ فَإِذَا قَالَهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدٍ لِلّٰهِ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ ثُمَّ يَتَخَيَّرُ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُوهُ . متفق عليه

بندگانو څخه وړاندي پر جبرائيل دي سلام وي او پر ميکائيل دي سلام او پر فلان دي سلام وي، يوه ورځ چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو موږ ته متوجه سو او وه يې فرمايل : پر الله سلام مه واياست ځکه چي الله په خپله سلام دی هر کله چي تاسو لمونځ کوئ نو په ناسته کي دا واياست (التحيات لله ......) ځوك چي دا كلمات وو ايي نو د هغه سلام هر نيك بنده ته چي په آسمان او مځکي کي وي رسيږي بيا دا کلمات رسول الله ﷺ پر دې الفاظو ختم کړل (اشهد ان لااله الاالله.....) او ددې وروسته چي کومه دعاء به يې خوښه وه د الله څخه به يې غوښتل . بخاري او مسلم .

(٨٤٩): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ كَمَا يُعَلِّمُنَا سُوْرَةً مِنَ الْقُرآنِ فَكَانَ يَقُولُ التَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ سَلَامٌ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ سَلَامٌ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ . رواه مسلم ، و لم اجد في الصحيحين و لا في الجمع بين الصحيحين سلام عليك و سلام علينا بغير الف ولام ولكن رواه صاحب الجامع عن الترمذي .

د حضرت عبدالله بن عباس ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به موږ ته تشهد داسي را ښودل لکه څرنګه چي به يې د قرآن يو سورت راښودی، رسول الله ﷺ به ويل : التَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ سَلَامٌ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ سَلَامٌ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ ) مسلم. ما سلام عليك او سلام علينا بېله الف او لام څخه نه په صحيحين کي ليدلی دی او نه د بين الصحيحين په جمع کي مګر صاحب د جامع د ترمذي څخه روايت کړی دی .

## دوهم فصل

**د اشارې پر وخت د شهادت ګوته متحرک کول**

(٨٥٠): وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ

د حضرت وائل بن حجر ؓ څخه روايت دی چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثُمَّ جَلَسَ فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُسْرٰى وَمَدَّ مِرْفَقَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُمْنٰى وَقَبَضَ ثِنْتَيْنِ وَحَلَّقَ حَلْقَةً ثُمَّ رَفَعَ إِصْبَعَهُ فَرَأَيْتُهُ يُحَرِّكُهَا يَدْعُوْ بِهَا . رواه أبو داود والدارمي .

رسول الله ﷺ په لمانځه كي كښېنستی چپه پښه يې و غزول او چپه لاس يې پر چپه ورون كښېښودی او د راسته لاس څنګل يې د بغل څخه جلا كړه راسته لاس يې پر راسته ورون كښېښودی او دوې ګوتي يعني كوچنۍ او د هغې سره بله ګوته يې بنده كړه او د منځنۍ ګوتي او بتي ګوتي حلقه يې جوړه كړه او بيا يې د شهادت ګوته پورته كړه ، ما وليدل چي رسول الله ﷺ به دې ګوتي ته حركت وركوی او په دې سره به يې اشاره كول .ابوداؤد او دارمي .

## د اشارې پر وخت د ګوتي نه ښورول

(٨٥١): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُشِيْرُ بِإِصْبَعِهِ إِذَا دَعَا وَلَا يُحَرِّكُهَا . رواه أبو داود والنسائي وزاد أبو داود ولا يجاوز بصره إشارته .

د حضرت عبدالله بن زبير ؓ څخه روايت دی چي كله به رسول الله ﷺ په لمانځه كي كلمه شهادت ويل نو په ګوتي سره به يې اشاره كول مګر دې ته به يې حركت نه وركوی . ابوداؤد او نسائي .

## اشاره يوازې په يوې ګوتي سره كول پكار دي

(٨٥٢): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ إِنَّ رَجُلًا كَانَ يَدْعُوْ بِإِصْبَعَيْهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحِّدْ أَحِّدْ . رواه الترمذي والنسائي والبيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چي يو سړي په لمانځه كي په دوو ګوتو سره اشاره وكړه نو رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل په يوې ګوتي سره، په يوې ګوتي سره (اشاره كوه) .

## په قعده كي د لاسو په مرسته نه كښېنستل

(٨٥٣): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَّجْلِسَ الرَّجُلُ فِي الصَّلٰوةِ وَهُوَ مُعْتَمِدٌ عَلٰى يَدِهِ . رواه أحمد وأبو داود . وفي رواية له نهى أن يعتمد الرجل على يديه إذا نهض في الصلاة

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمايلې ده چي سړی په لمانځه كي په لاسو تكيه كولو سره كښېني، احمد او ابوداؤد. او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ ددې څخه منع فرمايلې ده چي د سجدې څخه د خپلو لاسو په مرسته را پورته سي.

**د قعدو په مقدار کي فرق**

(۸۵۴): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُوْلَيَيْنِ كَأَنَّهُ عَلَى الرَّضْفِ حَتّٰى يَقُوْمَ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي .

د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د اولو دوو رکعتو په ناسته کي دومره کښينستی لکه پر تودې ډبري چي ناست وي تر هغو چي دريدی به . ترمذي، ابوداؤد او نسائي

## دریم فصل

(۸۵۵): عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ أَسْأَلُ اللّٰهَ الْجَنَّةَ وَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ النَّارِ . رواه النسائي .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به مونږ ته تشهد (التحيات) داسي رابنودل لکه د قرآن کريم يو سورت، او هغه تشهد دادی: بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ أَسْأَلُ اللّٰهَ الْجَنَّةَ وَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ النَّارِ . نسائي .

**د شهادت ګوته د شيطان لپاره د تکليف سبب ده**

(۸۵۶): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ وَأَتْبَعَهَا بَصَرَهُ ثُمَّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهِيَ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنَ الْحَدِيْدِ . يَعْنِي السَّبَّابَةَ . رواه أحمد .

د حضرت نافع ﷺ څخه روايت دی چي عبدالله بن عمر ﷺ به په لمانځه کي کښېنستی نو دواړه لاسونه به يې پر زنګنو اېښودل او په ګوتي سره به يې اشاره کول او نظر به يې پر ګوته ساتی بيا يې وويل چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي دا ګوته (پورته کول) پر شيطان باندي تر اوسپني زياته سخته ده . احمد

**التحيات په کرار اواز سره ويل سنت ده**

(۸۵۷): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ كَانَ يَقُوْلُ مِنَ السُّنَّةِ إِخْفَاءُ التَّشَهُّدِ . رواه أبو داود والترمذي وقال هذا

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي هغه به ويل چي تشهد کرار ويل سنت دی ،

حديث حسن غريب .

ابوداؤد او ترمذي ، ترمذي دا هم روايت کړي دي چي دا حديث حسن غريب دی .

# بَابُ الصّلٰوة عَلَى النّبيِّ وَ فَضْلِهَا

## (د درود شَريف د فضيَلت بيان)

## لومړی فصل

### په التحيات کي د درود ويلو طريقه

(۸۵۸): عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِي لَيْلٰى قَالَ لَقِيَنِي كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ فَقَالَ اَلاَ اُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً سَمِعْتُهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ بَلٰى فَاهْدِهَا لِيْ فَقَالَ سَاَلْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ الصَّلٰوةُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ فَاِنَّ اللّٰهَ قَدْ عَلَّمَنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكَ قَالَ قُوْلُوا اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وعلى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ . متفق عليه ، الا ان مسلما لم يذكر على ابراهيم في الموضعين .

د حضرت عبدالرحمن بي ابي ليلى ﷺ څخه روايت دی چي زما سره کعب بن عجره ملاقات وکړ هغه وويل : ايا زه تا ته هغه شی تحفه نه کړم کوم چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي وو، ما ورته وويل ولي نه ، خامخا يې را تحفه کړه، نو هغه وويل موږ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کړې وه اي دالله رسوله ! پرتاسو او اهل بيتو موږ څنګه درود ووايو؟ الله ﷻ خو د سلام ليږلو طريقه موږ ته ښودلې ده ، رسول الله ﷺ وفرمايل : داسي واياست : اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وعلى آلِ اِبْرَاهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ

(۸۵۹): وَعَنْ اَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم قُوْلُوا اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى

د حضرت ابو حميد ساعدي ﷺ څخه روايت دی چي صحابه کرامو د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي اي دالله رسوله ! موږ پر تاسو څنګه درود ووايو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : داسي

آلِ إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ . متفق عليه

ووایاست : اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ . بخاري او مسلم

### د درود فضیلت

﴿۸۶۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ عَشْرًا . رواه مسلم.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي پر ما یو ځل درود ووایي نو الله تعالی به پر هغه لس ځله رحمت نازل کړي . مسلم

## دوهم فصل

﴿۸۶۱﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ وَحُطَّتْ عَنْهُ عَشْرُ خَطِيئَاتٍ وَرُفِعَتْ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ . رواه النسائي .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي پر ما یو ځل درود ووایي الله تعالی به پر هغه لس ځله رحمت نازل کړي د هغه لس گناهونه به معاف کړي او لس لوړي درجې به ورکړي . نسائي

﴿۸۶۲﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلَى النَّاسِ بِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً . رواه الترمذي .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت په ورځ به په خلکو کي تر ټولو ما ته نژدې هغه څوك وي چي پر ما یې زیات درود ویلي وي .

### د امت سلام ملائکي نبي ﷺ ته رسوي

﴿۸۶۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلَّهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ فِي الْأَرْضِ يُبَلِّغُونِي مِنْ أُمَّتِيَ السَّلَامَ . رواه النسائي والدارمي .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله ډیري ملائکي پر مځکه گرځي هغوئ ما ته زما د امت سلام رارسوي . نسائي او دارمي

**رسول الله ﷺ د سلام جواب ورکوي**

(۸۶۴): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَحَدٍ يُسَلِّمُ عَلَيَّ إِلاَّ رَدَّ اللّٰهُ عَلَيَّ رُوْحِيْ حَتّٰى أَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلاَمَ. رواه ابو داود والبيهقي في الدعوات الكبير.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په تاسو کي هيڅوك داسي نسته چي پر ما سلام ووايي مگر الله يې زما روح بیرته را رسوي چي زه د هغه د سلام جواب ورکړم. ابوداؤد، بیهقي

**کورونه قبرونه مه گرځوئ**

(۸۶۵): وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لاَ تَجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قُبُوْرًا وَلاَ تَجْعَلُوْا قَبْرِيْ عِيْدًا وَصَلُّوْا عَلَيَّ فَإِنَّ صَلاَتَكُمْ تَبْلُغُنِيْ حَيْثُ كُنْتُمْ. رواه النسائي.

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی ... ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي خپل کو... د قبرو په ډول مه جوړوئ او زما پر قبر اختر او ... وشحالي مه کوئ البته پر ما درود وایاست ځکه چي ستاسو درود ما ته را رسيږي که څه هم تاسو هر چيري یاست. نسائي

**د درود پر نه ویلو وعید**

(۸۶۶): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَيْهِ رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ أَنْ يُغْفَرَ لَهُ وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ أَدْرَكَ عِنْدَهُ أَبَوَاهُ الْكِبَرَ فَلَمْ يُدْخِلاَهُ الْجَنَّةَ. رواه الترمذي

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه ر...ایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د هغه چا پزه دي په خاورو ولړل سي چي د هغه په وړاندي زما یادونه وسي او هغه پر ما درود و... وايي او د هغه چا پزه دي په خاورو ولړل سي ... يي پر هغه د رمضان (میاشت) راسي او تیره سي مگر هغه بخښنه تر لاسه نه کړي او هغه چا پزه دي په خاورو ولړل سي چي د هغه مور او پلار دواړه یا په هغو کي یو د سپین ږیرتیا حالت ته ورسيږي او هغوئ هغه په جنت کي داخل نه کړئ. ترمذي.

**د درود شریف فضیلت**

(۸۶۷): وَعَنْ أَبِيْ طَلْحَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ ذَاتَ يَوْمٍ وَالْبِشْرُ فِيْ وَجْهِهِ فَقَالَ إِنَّهُ جَاءَنِيْ جِبْرِيْلُ فَقَالَ إِنَّ رَبَّكَ يَقُوْلُ أَمَا يُرْضِيْكَ يَا مُحَمَّدُ أَنْ لاَ يُصَلِّيْ عَلَيْكَ أَحَدٌ مِّنْ أُمَّتِكَ إِلاَّ صَلَّيْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا وَلاَ يُسَلِّمُ عَلَيْكَ أَحَدٌ مِّنْ أُمَّتِكَ

د حضرت ابوطلحه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یوه ورځ تشریف راوړ او پر مخ مبارك يې د خوښۍ اثرات وه، رسول الله ﷺ وفرمایل: جبرائیل ﷺ ما ته راغلی او ویل يې ستا پروردگار وفرمایل: اې محمد! ایا شتا دا خوښه

إِلاَّ سَلَّمْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا ؟ . رواه النسائي والدارمي .

نه ده چي ستا په امت کي يو څوك پر تا درود ووايي او زه پر هغه لس ځله رحمت نازل کړم ، او ستا امت پر تا سلام ووايي او زه لس ځله پر هغه سلام ولیږم. نسائي او دارمي .

## د درود او سلام يو حد ټاکلی نه دی

(٨٦٨): وَعَنْ أُبَيِّ ابْنِ كَعْبٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُكْثِرُ الصَّلاَةَ عَلَيْكَ فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلاَتِي فَقَالَ مَا شِئْتَ قُلْتُ الرُّبُعَ قَالَ مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قُلْتُ النِّصْفَ قَالَ مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قُلْتُ فَالثُّلُثَيْنِ قَالَ مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ قُلْتُ أَجْعَلُ لَكَ صَلاَتِي كُلَّهَا قَالَ إِذًا تُكْفَى هَمَّكَ وَيُغْفَرُ لَكَ ذَنْبُكَ. رواه الترمذي

د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه پر تاسو باندي ډېر درود وايم نو تاسو ما ته ووایاست چي زه د خپل اعمالو څخه د دې لپاره څومره وخت و ټاکم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : څومره چي ته غواړې که زيات کوې نو ستا لپاره غوره دی ، ما عرض وکړ څلورمه حصه وخت ورته و ټاکم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل څومره چي ته غواړې که زيات کوې نو ستا لپاره غوره ده ، ما بيا عرض وکړ نيم وخت ورته و ټاکم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : څومره چي ته غواړې که زيات کوې نو ستا لپاره غوره دی ما بيا عرض وکړ دريمه برخه وخت ورته وټاکم؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : څومره چي ته غواړې که زيات کوې نو ستا لپاره غوره دی . ما عرض وکړ د خپلي دعاء ټول وخت ورته و ټاکم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل دا کافي ده او ستا د دين او دنيا مقصدونه به پوره کړل سي او ستا ګناهونه به ليري کړل سي . ترمذي .

## د درود وروسته دعاء قبلیږي

(٨٦٩): وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ إِذْ دَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى فَقَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَجِلْتَ أَيُّهَا الْمُصَلِّي إِذَا صَلَّيْتَ فَقَعَدْتَ فَاحْمَدِ اللّٰهَ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ وَصَلِّ عَلَيَّ ثُمَّ ادْعُهُ قَالَ ثُمَّ صَلَّى رَجُلٌ آخَرُ بَعْدَ ذٰلِكَ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت فضالة بن عبيد ﷺ څخه روایت دی چي يوه ورځ رسول الله ﷺ تشريف فرما وو چي يو سړی حاضر سو، لمونځ يې وکړ او بيا يې دا دعاء وغوښتل : اې الله ما و بخښې او پر ما رحم وکړې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : اې لمونځ کونکې ! تا تلوار وکړ هر کله چي ته لمونځ وکړې نو په آخر کي کښينه او د الله تعريف داسي وکړه چي د هغه د عظمت وړ وي بيا پر ما درود ووايه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّهَا الْمُصَلِّي ادْعُ تُجَبْ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي نحوه.

بيا چي د الله ښځه غواړي هغه و غواړه ، راوي وايي د دې وروسته يو بل سړی راغلی لمونځ يې وکړ د الله ﷺ تعريف يې وكړ او پر نبي ﷺ يې درود ووايه ، نو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : اې لمونځ كونكې ! د ځان لپاره دعاء وكړه قبوله به سي . ترمذي، ابوداؤد اونسائي .

(٨٧٠): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ مَعَهُ فَلَمَّا جَلَسْتُ بَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَى اللّٰهِ ثُمَّ الصَّلَاةَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ دَعَوْتُ لِنَفْسِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَلْ تُعْطَهْ سَلْ تُعْطَهْ. رواه الترمذي

د حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ ښځه روايت دی چي ما لمونځ كوی او نبي كريم ﷺ حاضر وو او ابوبكر او عمر هم ورسره وه كله چي زه د لمانځه وروسته كښېنستم نو د الله تعريف مي بيان كړ بيا مي پر نبي ﷺ درود ووايه او بيا مي د ځان لپاره دعاء وكړل (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ وفرمايل : غواړه يې در به كړل سي ، غواړه يې دربه كړل سي .ترمذي .

## دريم فصل

### د امتي تحقيق

(٨٧١): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُكْتَالَ بِالْمِكْيَالِ الْأَوْفٰى إِذَا صَلّٰى عَلَيْنَا أَهْلَ الْبَيْتِ فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ وَ أَزْوَاجِهِ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَذُرِّيَّتِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ . رواه ابو داود

د حضرت ابوهريرة ﷺ ښځه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي زمونږ پر اهل بيتو درود وليږي او د هغه دا خوښه وي چي هغه ته پوره ثواب ورسيږي نو هغه ته پكار دي چي داسي درود ووايي : اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ وَ أَزْوَاجِهِ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَذُرِّيَّتِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ . ابوداؤد

### درود نه ويونكی بخيل دی

(٨٧٢):وعن علي رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَخِيْلُ الَّذِيْ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ . رواه الترمذي ورواه احمد عن الحسين بن علي رضي الله عنهما . وقال

د حضرت علي ﷺ ښځه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : بخيل هغه سړی دی چي د هغه په وړاندي زما يادونه و سي او هغه پر ما درود نه وايي . ترمذي او احمد، ترمذي ويلي دي دا

الترمذي هذا حديث حسن صحيح غريب .

حديث حسن صحيح غريب دی.

**درود نبي كريم ﷺ ته رسيږي**

(٨٧٣): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى عَلَيَّ عِنْدَ قَبْرِيْ سَمِعْتُهُ وَمَنْ صَلَّى عَلَيَّ نَائِيًا أُبْلِغْتُهُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

د حضرت ابوهريرة ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي زما د قبر سره پر ما درود ووايي نو زه هغه اورم او څوك چي د ليري څخه پر ما درود ووايي نو هغه ما ته را رسيږي . بيهقي

**د درود شريف فضيلت**

(٨٧٤): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ مَنْ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَمَلَائِكَتُهُ سَبْعِيْنَ صَلَاةً . رواه أحمد .

د حضرت عبدالله بن عمرو ؓ څخه روايت دی چي څوك پر نبي كريم ﷺ يو ځل درود ووايي نو الله او ملائكي پر هغه اويا ځله درود وايي .

(٨٧٥): وَعَنْ رُوَيْفِعٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَقَالَ اللّٰهُمَّ أَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِيْ . رواه أحمد .

د حضرت رويفع ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي پر محمد ﷺ باندي درود ووايي او بيا ووايي (اې الله ده ته هغه ځای وركړې چي د قيامت په ورځ ستا په نزد مقرب دی) نو د هغه شفاعت واجب كيږي . احمد

(٨٧٦): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى دَخَلَ نَخْلًا فَسَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُوْدَ حَتّٰى خَشِيْتُ أَنْ يَكُوْنَ اللهُ تَعَالٰى قَدْ تَوَفَّاهُ . قَالَ فَجِئْتُ أَنْظُرُ فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ مَا لَكَ ؟ فَذَكَرْتُ لَهُ ذٰلِكَ . قَالَ فَقَالَ إِنَّ جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامَ قَالَ لِيْ أَلَا أُبَشِّرُكَ أَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ لَكَ مَنْ صَلَّى عَلَيْكَ صَلَاةً صَلَّيْتُ عَلَيْهِ وَمَنْ سَلَّمَ عَلَيْكَ سَلَّمْتُ عَلَيْهِ . رواه أحمد .

د حضرت عبدالرحمن بن عوف ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (د كور څخه) ووتی او يو باغ ته داخل سو بيا يې اوږده سجده وكړه تر دې چي زما بيره پيدا سوه چي الله تعالی رسول الله ﷺ وفات كړی دی ، ما د رسول الله ﷺ په لور وكتل چي رسول الله ﷺ خپل سر مبارك را پورته كړ او وه يې فرمايل : په ته څه وسول ؟ ما رسول الله ﷺ د پيښي څخه خبر كړی ، رسول الله ﷺ وفرمايل : جبرائيل ؑ ما ته وويل : ايا زه تا ته ددې زيری در نه كړم ؟ چي الله پاك فرمايي څوك چي پر محمد ﷺ يو ځل درود ووايي زه به پر هغه رحمت نازل كړم او څوك چي پر محمد ﷺ سلام ووايي زه به پر هغه سلام وليږم . احمد

**د دعاء قبلېدل پر درود موقوف دي**

﴿۸۷۷﴾:وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ إِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوْفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ لاَ يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْءٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ عَلٰى نَبِيِّكَ . رواه الترمذي .

د حضرت عمر بن الخطاب ﷺ څخه روايت دی چي دعاء تر هغه وخته پوري د آسمان او مځکي په منځ کي زړېدلې وي او د هغه څخه هيڅ شی پورته نه ځي تر څو پوري چي ته پر نبي کريم ﷺ درود ونه لېږې . ترمذي .

# بَابُ الدُّعَاءِ فِي التَّشَهُّدِ (د تشهد د دعاء بيان)

## لومړی فصل

**په تشهد کي د رسول الله ﷺ دعاء**

﴿۸۷۸﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو فِي الصَّلَاةِ يقول اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ مَا أَكْثَرَ مَا تَسْتَعِيذُ مِنَ الْمَغْرَمِ فَقَالَ إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا غَرِمَ حَدَّثَ فَكَذَبَ وَوَعَدَ فَأَخْلَفَ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په لمانځه کي دعاء غوښتل (يعني د لمانځه وروسته) او دا به يې ويل : (اې الله زه ستا پناه غواړم د قبر د عذاب څخه د مسيح دجال د فتنې څخه د ژوند او مرگ د فتنې څخه، اې الله ! زه ستا پناه غواړم د گناه څخه او د پور څخه)، د دې په اورېدو سره يو سړي عرض وکړ اې د الله رسوله ! د تعجب خبره ده تاسو د پور څخه پناه غواړئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل هر کله چي سړی پوروړی سي نو چي خبري کوي درواغ وايي او چي وعده کوي نو د وعدې خلاف ورزي کوي د پور د ادا کولو لپاره چي څه چم کيږئ د هغه لپاره د دروغو عذرونه جوړوي او د پور ادا کولو وعده په عام ډول سره نه پوره کوي . بخاري او مسلم.

**د لمانځه وروسته د کومو شيانو څخه پناه غوښتل بکار دي**

﴿۸۷۹﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَرَغَ أَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الْآخِرِ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْ أَرْبَعٍ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ شَرِّ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي تاسو د آخري تشهد څخه فارغ سئ نود څلورو شيانو څخه د ساتلو لپاره د الله څخه دعاء غواړئ ۱: د دوزخ د عذاب څخه۲: د قبر د عذاب څخه ۳:د ژوند او مرگ د

| | |
|---|---|
| الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ . رواه مسلم | فتنې څخه ۴: د مسيح دجال د شر او فتنې څخه. مسلم |
| (۸۸۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما أَنَّ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هَذَا الدُّعَاءَ كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ يَقُولُ قُولُوا اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ . رواه مسلم | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به ده ته دا دعاء داسي ښودل لکه قرآن کريم چي به يې ښودی ، فرمايل به يې داسي دعاء غواړئ: (اې الله زه ستا پناه غواړم د دوږخ د عذاب څخه د قبر د عذاب څخه د دجال د فتنې څخه او د ژوند او مرگ د فتنې څخه) مسلم. |

**د تشهد او درود وروسته دعاء**

| | |
|---|---|
| (۸۸۱): وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلَاتِي قَالَ قُلْ اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ. متفق عليه | د حضرت ابوبکر صديق ﷺ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي اې دالله رسوله ! ما ته يو دعاء و ښيه چي په لمانځه کي يې کوم (يعني دلمانځه وروسته) رسول الله ﷺ وفرمايل: ووايه: (اې الله ! ما پر خپل ځان ډير ظلم کړی دی او ستا څخه پرته څوك گناهونه نه |

سي بخښلای ته ما په خاص ډول سره و بخښې او پر ما رحم وکړې ته بخښونکی او رحم کونکی يې) .بخاري اومسلم .

**د سلام گرځولو بيان**

| | |
|---|---|
| (۸۸۲): عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنْتُ أَرَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ حَتَّى أَرَى بَيَاضَ خَدِّهِ . رواه مسلم | حضرت عامر بن سعيد د خپل پلار څخه روايت کوي چي ما رسول الله ﷺ راسته او چپه لوري ته په سلام گرځولو سره ليدلی دی تر دې |

چي د رسول الله ﷺ د بغلو سپين والی به ما ليدی (يعني دومره زيات مخ به يې گرزوی) مسلم

**دلمانځه وروسته مقتديانو ته په کتلو سره کښېنستل**

| | |
|---|---|
| (۸۸۳): وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ . رواه البخاري . | د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ لمونځ وکړ نو زموږ په لور به يې مخ کړ . بخاري . |

(۸۸۴): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ کَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِيْنِه. رواه مسلم

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي د لمونځ کولو څخه وروسته به رسول الله ﷺ راسته لوري ته راگرزيدی. مسلم

(۸۸۵): وَعَنْ عَبْدِاللّٰه ابْنِ مَسْعُوْد قَالَ لاَ يَجْعَلُ اَحَدُكُمْ لِلشَّيْطَانِ شَيْئًا مِّنْ صَلٰوتِه يَرٰى اَنَّ حَقًّا عَلَيْه اَنْ لاَ يَنْصَرِفَ اِلاَّ عَنْ يَمِيْنِه لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِيْرًا يَنْصَرِفُ عَنْ يَّسَارِه. متفق عليه

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي په تاسو کي دي هيڅوك په خپل لمانځه کي د شيطان لپاره برخه و نه ټاکي يعني دا امر لازم کول چي (دلمانځه وروسته) راسته لوري ته راوگرزي څکه چي ما زيات وخت رسول الله ﷺ چپه لوري ته راگرزيدونکی ليدلی دی. بخاري اومسلم.

**د لمانځه وروسته دعاء**

(۸۸۶): عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كُنَّا اِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُوْلِ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحْبَبْنَا اَنْ تَكُوْنَ عَنْ يَمِيْنِه يُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِه قَالَ فَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ اَوْ تَجْمَعُ عِبَادَكَ. رواه مسلم

د حضرت براء ﷺ څخه روايت دی چي کله به موږ په رسول الله ﷺ پسي لمونځ کوی نو زموږ زړه به دا غوښتل چي موږ د رسول الله ﷺ راسته لوري ته يو چي دلمانځه څخه وروسته رسول الله ﷺ زموږ لوري ته مخ کړي اوکښيني، براء وايي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي ويل يې (اې زما ربه! ما د خپل عذاب څخه وساتې په هغه ورځ چي ته خپل بندگان را پاڅوې يا يوځای کوې.) مسلم

**د امام څخه مخکي ولاړيدل غير مستحب دي**

(۸۸۷): وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ اِنَّ النِّسَاءَ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ اِذَا سَلَّمْنَ مِنَ الْمَكْتُوْبَةِ قُمْنَ وَثَبَتَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ صَلّٰى مِنَ الرِّجَالِ مَا شَاءَ اللّٰهُ فَاِذَا قَامَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ الرِّجَالُ. رواه البخاري.
وسنذكر حديث جابر بن سمرة في باب الضحك إن شاء الله تعالى.

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي کله چي به ښځو فرض لمونځ وکړ نو سمدستي به ولاړيدې او کور ته به تلې، رسول الله ﷺ او نور ټول لمونځ کونکی به ناست وه تر څه وخته چي به د الله ﷻ رضا وه کله چي به رسول الله ﷺ ولاړ سو نو نور خلك به هم ولاړ سول او تلل به. بخاري.

## دوهم فصل

**دلمانځه وروسته دعاء**

(٨٨٨): عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ أَخَذَ بِيَدِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّيْ لَأُحِبُّكَ يَا مُعَاذُ . فَقُلْتُ وَأَنَا أُحِبُّكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ فَلاَ تَدَعْ أَنْ تَقُوْلَ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلاَةٍ رَبِّ أَعِنِّيْ عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي إلا أن أبا داود لم يذكر قال معاذ وأنا أحبك .

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دی چي (يوه ورځ) رسول الله ﷺ زما لاس په خپل لاس کي کښېښودی او وه يې فرمايل اې معاذ! زما ستا سره مينه ده، ما عرض وکړې اې دالله رسوله! زه هم ستا سره مينه لرم، رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر لمانځه وروسته دا دعاء کوه او هيڅ کله يې مه پرېږده: (اې زما ربه! زما مرسته وکړې چي زه ستا ذکر وکړم او ستا شکر ادا کړم او په ښه ډول ستا عبادت وکړم) احمد، ابوداوٗد او نسائي.

**د سلام ګرزولو طريقه**

(٨٨٩): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهِ اَلسَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ الْأَيْمَنِ وَعَنْ يَسَارِهِ اَلسَّلاَمُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ الْأَيْسَرِ . رواه أبو داود والنسائي والترمذي ولم يذكر الترمذي حتى يرى بياض خده . ورواه ابن ماجه عن عمار بن ياسر .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ سلام ګرزوی نو راسته لوري ته يې السلام عليکم ويل تر دې چي د راسته لوري د بغل سپين والی به يې معلوميدی او چپه لوري ته په سلام ګرزولو سره به يې ويل السلام عليکم تر دې چي د چپه بغل سپين والی به يې معلوميدی. ابوداوٗد، نسائي او ترمذي

**رسول الله ﷺ به اکثر وخت چپه خوا ته په ګرځېدو سره کښېنستی**

(٨٩٠): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ أَكْثَرُ انْصِرَافِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ صَلاَتِهِ إِلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ إِلَى حُجْرَتِهِ . رواه في شرح السنة .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه وروسته زيات وخت چپه لوري ته ګرزيدی يعني د خپلي حجرې په لور. شرح السنة

**د سنت کولو لپاره د ځای بدلول**

(٨٩١): وَعَنْ عَطَاءِ الْخُرَاسَانِيِّ عَنِ الْمُغِيْرَةِ قَالَ

حضرت عطاء خراساني د حضرت مغيرة ﷺ څخه

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّيْ الْإِمَامُ فِيْ الْمَوْضِعِ الَّذِيْ صَلَّى فِيْهِ حَتَّى يَتَحَوَّلَ . رواه أبو داود وقال عطاء الخرساني لم يدرك المغيرة .

روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : امام دي په هغه ځای کي لمونځ نه کوي چي (اوس يې) لمونځ کړی دی بلکه لږ آخوا دېخوا دي سي .

﴿٨٩٢﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَضَّهُمْ عَلَى الصَّلَاةِ وَنَهَاهُمْ أَنْ يَنْصَرِفُوْا قَبْلَ انْصِرَافِه مِنَ الصَّلَاةِ . رواه أبو داود .

دحضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به صحابه کرامو ته د لمانځه ترغيب ورکوی او ددې څخه به يې منع فرمايل چي هغوئ دې د لمانځه څخه وروسته د رسول الله ﷺ د بيرته ستنېدو څخه مخکي وګرزي . ابوداؤد.

## دريم فصل

### د تشهد وروسته د رسول الله ﷺ دعاء

﴿٨٩٣﴾: عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ صَلَاتِه اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِيْ الْأَمْرِ وَالْعَزِيْمَةَ عَلَى الرُّشْدِ وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ وَأَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيْمًا وَلِسَانًا صَادِقًا وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ . رواه النسائي وروى أحمد نحوه .

د حضرت شداد بن اوس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په لمانځه کي دا دعاء کول : ژباړه ( اې الله ! زه ستا څخه په دين کي ثابت قدمي غواړم او قصد کول شکر ته او سوال کوم چي ما ته د خپلو نعمتو د شکر ادا کولو توفيق راکړې او ستا د ښه عبادت توفيق راکړې او ما ته قلب سليم او رېښتونې ژبه راکړې او ما ته هغه خير هم راکړې چي ته يې غواړې زه د هغه بدی څخه چي تا ته معلومه ده پناه غواړم او د هغه ګناهو څخه چي تا ته معلوم دي معافي غواړم ) نسائي او احمد .

﴿٨٩٤﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ صَلَاتِه بَعْدَ التَّشَهُّدِ أَحْسَنَ الْكَلَامِ كَلَامُ اللهِ وَأَحْسَنُ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ . رواه النسائي .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په لمانځه کي د تشهد څخه وروسته دا ويل : ( په کلامو کي غوره کلام د الله کلام دی او غوره هدايت د محمد ﷺ هدايت دی .) نسائي .

### د رسول الله ﷺ د سلام طريقه

﴿٨٩٥﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ تَسْلِيْمَةً تِلْقَاءَ وَجْهِهِ ثُمَّ تَمِيْلُ إِلَى الشِّقِّ الْأَيْمَنِ شَيْئًا. ترمذي

رسول الله ﷺ به په لمانځه کي سلام د مخ لور ته او بيا لږ راسته لوري ته مخ گرزولو سره کوی. ترمذي.

**د سلام په وخت کي د جواب نيت**

(٨٩٦): وَعَنْ سَمُرَةَ قَالَ أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَرُدَّ عَلَى الْإِمَامِ وَنَتَحَابَّ وَأَنْ يُسَلِّمَ بَعْضُنَا عَلَى بَعْضٍ. رواه أبو داود.

د حضرت سمرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به موږ ته حکم راکوی چي په هر سلام گرځولو کي د امام د سلام د جواب نيت وکړو په خپلو کي مينه وساتو او هر يو دي بل ته سلام کوي. ابوداؤد.

# بَابُ الذِّكْرِ بَعْدَ الدُّعَاءِ (د لمانځه وروسته د ذکر بيان)

## لومړی فصل

**د لمانځه په ختمېدو سره الله اکبر ويل**

(٨٩٧): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُنَّا نَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالتَّكْبِيْرِ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ د لمانځه ختمېدل به په تکبير ويلو سره پيژندل کيده (يعني دلمانځه په آخر کي به يې په لوړ آواز سره تکبير وايه). بخاري او مسلم

**د فرض وروسته د رسول الله ﷺ د ناستي مقدار**

(٨٩٨): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ لَمْ يَقْعُدْ إِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُوْلُ اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ. رواه مسلم

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به کله سلام وگرزوی نو ددې دعاء ويلو په اندازه به ناست وو: (اې الله! ته سالم يې، او ستا څخه د بندگانو د ټولو آفتونو څخه سلامتي ده اې د عظمت او بخښني خاونده، ته برکت والا يې) مسلم.

(٨٩٩): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهِ اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا وَقَالَ اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د لمانځه سلام وگرزوی نو درې ځله به يې بخښنه غوښتل بيا به يې دا ويل: اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ

| | |
|---|---|
| تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلاَلِ وَالْإِكْرَامِ . رواه مسلم | وَمِنْكَ السَّلاَمُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلاَلِ وَالْإِكْرَامِ . مسلم |

## د فرض لمانځه وروسته دعاء

| | |
|---|---|
| (۹۰۰): وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلوٰةٍ مَكْتُوْبَةٍ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اَللّٰهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. متفق عليه | د حضرت مغيرة بن شعبة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د هر فرض لمانځه وروسته دا ويل : لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اَللّٰهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ . بخاري اومسلم |
| (۹۰۱): وَعَنْ عَبدِاللّٰهِ ابْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ مِنْ صَلوٰتِه يَقُوْلُ بِصَوْتِهِ الْاَعْلٰى لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَلاَ نَعْبُدُ إِلاَّ إِيَّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُوْنَ . رواه مسلم | د حضرت عبدالله بن الزبير ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ سلام وګرزوی نو په لوړ آواز سره به یې ويل : لااله الاالله ....) (د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته ، هيڅوك د هغه شريك نسته پاچاهي هغه لره ده او ټول تعريف هغه لره دي هغه پر هر شی قادر دی، د ګناهو څخه د منع کيدو او د عبادت کولو توان د الله څخه پرته بل هيڅوك نه سي ورکولای د |

هغه څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او موږ يوازي د هغه عبادت کوو نعمتونه د هغه دي او د هغه لپاره برزګي ده د هغه لپاره غوره تعريف دی او پرته د الله څخه بل د عبادت وړ نسته د هغه لپاره خالص دين اختيارو که څه هم کافر يې بد ګڼي) .مسلم

## د لمانځه وروسته د کومو شيانو څخه پناه غوښتل پکار ردي

| | |
|---|---|
| (۹۰۲): وَعَنْ سَعْدٍ أَنَّهُ كَانَ يُعَلِّمُ بَنِيهِ هٰؤُلاَءِ الْكَلِمَاتِ وَيَقُوْلُ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَعَوَّذُ بِهِنَّ دُبُرَ الصَّلاَةِ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ . رواه البخاري . | حضرت سعد ﷺ وايي چي هغه به خپلو ماشومانو ته دا کلمات ښودل او ويل به يې رسول الله ﷺ به د لمانځه وروسته په دغه الفاظو سره پناه غوښتل : ( اي الله زه بزدلی ، بخل او بېکاره عمر د دنيا د فتنې او د قبر د عذاب څخه د ښاتلو لپاره ستا پناه غواړم). بخاري |

## د لمانځه وروسته تسبیحات او د هغو فضیلت

(۹۰۳): وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا قد ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلَى وَالنَّعِيمِ الْمُقِيمِ فَقَالَ وَمَا ذَاكَ قَالُوا يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ وَيَتَصَدَّقُونَ وَلاَ نَتَصَدَّقُ وَيُعْتِقُونَ وَلاَ نُعْتِقُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفَلاَ أُعَلِّمُكُمْ شَيْئًا تُدْرِكُونَ بِهِ مَنْ سَبَقَكُمْ وَتَسْبِقُونَ بِهِ مَنْ بَعْدَكُمْ وَلاَ يَكُونُ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِنْكُمْ إِلاَّ مَنْ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُمْ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ تُسَبِّحُونَ وَتُكَبِّرُونَ وَتَحْمَدُونَ دُبُرَ كُلِّ صَلاَةٍ ثَلاَثًا وَثَلاَثِينَ مَرَّةً قَالَ أَبُو صَالِحٍ فَرَجَعَ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا سَمِعَ إِخْوَانُنَا أَهْلُ الأَمْوَالِ بِمَا فَعَلْنَا فَفَعَلُوا مِثْلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ . متفق عليه وليس قول ابي صالح الى آخره الا عند مسلم و في رواية للبخاري تسبحون في دبر كل صلوة عشرا و تحمدون عشرا و تكبرون عشرا بدل ثلثا وثلثين .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي فقيران مهاجرين د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او عرض يې وکړ چي شتمنو درجات او د جنتو نعمتونه تر لاسه کړل ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه د دې سبب څه دی ؟ هغوئ عرض وکړ هغوئ لمونځ کوي څنګه چي موږ لمونځ کوو او روژې نيسي څنګه چي موږ روژې نيسو هغوئ خيرات کوي او موږ يې نه سو کولای هغوئ غلامان آزادوي او موږ يې نه سو آزادولای ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا زه تاسو ته داسي شی ونه ښيم چي د هغه له کبله تاسو د هغو خلکو څخه مخکي سئ چي ستاسو څخه وړاندي يې اسلام راوړی دی او د هغه خلکو څخه هم په مرتبه کي زيات سئ چي ستاسو څخه وروسته به پيدا کيږي او هيڅوک به ستاسو څخه غوره او افضل نه وي خو يوازي هغه څوک چي هغه هم عمل کوي کوم چي تاسو يې کوئ ، هغوئ عرض وکړ :هو، اې د الله رسوله ! نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د هر لمانځه وروسته (سبحان الله الحمدلله الله اکبر) درو ديرش (۳۳) ځله واياست ، ابو صالح راوي وايي ددې پښتي وروسته فقيران مهاجرين بيا د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او عرض يې وکړ : زموږ شتمن وروڼه زموږ د دې عمل څخه په خبرېدو سره هغوئ هم په دې عمل پيل کړ ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : دا د الله فضل دی هغه چي چا ته يې غواړي ورکوي يې . بخاري اومسلم، د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي پر ځای د درو ديرش ځله د هر لمانځه وروسته لس ځله سبحان الله ، لس ځله الحمدلله او لس ځله الله اکبر وايي .

﴿۹۰۴﴾: وَعَنْ كَعْبِ ابْنِ عُجْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ أَوْ فَاعِلُهُنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَسْبِيحَةً وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَحْمِيدَةً وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ تَكْبِيرَةً . رواه مسلم

د حضرت کعب بن عجرة ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د لمانځه وروسته د ویلو څو الفاظ دي چې د هر فرض لمانځه وروسته ویونکی د ثواب څخه نه نا امیده کیږي یعني (۳۳) ځله سبحان الله (۳۳) ځله الحمدلله او (۳۴) ځله الله اکبر ویل. مسلم .

﴿۹۰۵﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَبَّحَ اللّٰهَ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلٰوةٍ ثَلٰثًا وَّ ثَلٰثِيْنَ وَ حَمِدَاللّٰهَ ثَلٰثًا وَّ ثَلٰثِيْنَ وَ كَبَّرَ اللّٰهَ ثَلٰثًا وَّ ثَلٰثِيْنَ فَتِلْكَ تِسْعَةٌ وَ تِسْعُوْنَ وَ قَالَ تَمَامُ الْمِائَةِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ وَلَوْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چې د هر لمانځه وروسته (۳۳) ځله سبحان الله (۳۳) ځله الحمدلله او (۳۳) ځله الله اکبر وایي یعني ټول یو کم سل او د سلو تعداد پوره کولو څخه وروسته دا کلمات ووایي : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ . نو د هغه گناهونه بخښل کیږي که څه هم د دریاب د ځګ برابر وي . مسلم .

## دوهم فصل

### د دعاء د قبلېدو وخت

﴿۹۰۶﴾: عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قِيلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَيُّ الدُّعَاءِ أَسْمَعُ ؟ قَالَ جَوْفَ اللَّيْلِ الْآخِرِ وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ . رواه الترمذي .

د حضرت ابو امامه ﷛ څخه روایت دی چې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چې اې د الله رسوله ! دعاء کوم وخت زیاته قبلیږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : د شپې د نیمي آخري درمیانه برخه او د فرض لمنځو وروسته . ترمذي

### د هر لمانځه وروسته د معوذاتو ویلو حکم

﴿۹۰۷﴾: وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ أَمَرَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقْرَأَ بِالْمُعَوِّذَاتِ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي

د حضرت عقبة ﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ما ته حکم راکړی دی چې زه د هر لمانځه وروسته معوذات ووایم (هغه سورتونه چې په پیل کې یې اعوذ وي، او هغه د قرآن کریم آخري دوه سورتونه

والبیهقي في الدعوات الکبیر .

دي، احمد، ابوداؤد، نسائي او بیهقي.

**د لمر ختلو او لوېدو په وخت کي ذکر کول**

(۹۰۸): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنْ أَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ مِنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُعْتِقَ أَرْبَعَةً مِّنْ وُلْدِ إِسْمَاعِيلَ وَلَأَنْ أَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ أُعْتِقَ أَرْبَعَةً . رواه ابو داود

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د هغه خلکو سره زما ناسته چي د سهار د لمانځه وروسته تر لمر راختلو پوري د الله ذکر کوي زما په نزد د حضرت اسماعیل ﷺ د اولاد څخه د څلورو غلامانو آزادولو څخه غوره ده او د مازدیګر د لمانځه څخه وروسته تر لمر لوېدو پوري زما ناسته د هغه خلکو سره چي د الله ذکر کوي زما په نزد د دې څخه غوره ده چي زه څلور غلامان آزاد کړم. ابوداؤد

(۹۰۹): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى الْفَجْرَ فِيْ جَمَاعَةٍ ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللّٰهَ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَّعُمْرَةٍ . قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ . رواه الترمذي .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي د سهار لمونځ په جماعت سره وکړ او تر لمر ختلو پوري د الله په ذکر کولو کي ناست وو او دلمر ختلو وروسته یې دوه رکعته نفل وکړ نو هغه ته د یوه حج او یوې عمرې ثواب رسیږي ، د راوي بیان دی چي د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : د پوره حج او عمرې ثواب د پوره حج او عمرې ثواب د پوره حج او عمرې ثواب. ترمذي.

## دریم فصل

**د دوو لمنځو په منځ کي وقفه کول**

(۹۱۰): عَنِ الْأَزْرَقِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ صَلّٰى بِنَا إِمَامٌ لَّنَا يُكْنٰى أَبَا رِمْثَةَ قَالَ صَلَّيْتُ هٰذِهِ الصَّلَاةَ أَوْ مِثْلَ هٰذِهِ الصَّلَاةِ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَكَانَ أَبُوْبَكْرٍ وَّعُمَرُ يَقُوْمَانِ فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ عَنْ يَّمِيْنِهِ وَكَانَ رَجُلٌ قَدْ

د حضرت ازرق بن قیس ﷺ څخه روایت دی چي زموږ امام چي نوم یې ابو رمثه وو موږ ته لمونځ راکړ او وه یې ویل دا لمونځ یا ددې لمانځه په ډول ما د رسول الله ﷺ سره کړې وو او ابو رمثه دا بیان هم وکړ چي ابوبکر او عمر په اول صف کي د رسول الله ﷺ راسته لوري ته ولاړ وه او یو سړی وو چي د لمانځه لومړی

شَهِدَ التَّكْبِيْرَةَ الْأُوْلَى مِنَ الصَّلَاةِ فَصَلَّى نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ سَلَّمَ عَنْ يَمِيْنِه وَعَنْ يَسَارِه حَتّٰى رَأَيْنَا بَيَاضَ خَدَّيْهِ ثُمَّ انْفَتَلَ كَانْفِتَالِ أَبِيْ رِمْثَةَ يَعْنِيْ نَفْسَهُ فَقَامَ الرَّجُلُ الَّذِيْ أَدْرَكَ مَعَهُ التَّكْبِيْرَةَ الْأُوْلَى مِنَ الصَّلَاةِ يَشْفَعُ فَوَثَبَ عُمَرُ فَأَخَذَ بِمَنْكِبَيْهِ فَهَزَّهُ ثُمَّ قَالَ اجْلِسْ فَإِنَّهُ لَمْ يَهْلِكْ أَهْلُ الْكِتَابِ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بَيْنَ صَلَوَاتِهِمْ فَصْلٌ . فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَصَرَهُ فَقَالَ أَصَابَ اللهُ بِكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ . رواه أبو داود .

تکبیر کي په لمانځه کي حاضر سو ، د لمانځه وروسته رسول الله ﷺ دواړو طرفو یعني راسته او چپه طرف ته سلام وگرزوی تر دې چي موږ د رسول الله ﷺ د بلغو سپین والی ولیدی ، بیا رسول الله ﷺ یوې خوا ته راوگرزیدی د ابورمثه په ډول وگرزیدی ، هغه سړي چي په اول تکبیر کي شامل سوی وو ودریدی او دوه رکعته لمونځ یې پیل کړ ، حضرت عمر ودریدی او د هغه سړي دواړو اوږو ته یې حرکت ورکړ بیا یې ورته وویل کښینه اهل کتاب له دې کبله هلاك سول چي هغوئ به د دوو لمنځو په منځ کي څه فرق نه کوی ، د دې په اوریدو سره رسول الله ﷺ سترگي راپورته کړې او وه یې فرمایل : د خطاب زویه ! الله ته راه حق ته ورسولې . ابوداؤد .

**د لمانځه وروسته تسبیح**

(۹۱۶): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ أُمِرْنَا أَنْ نُسَبِّحَ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ وَنَحْمَدَ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ وَنُكَبِّرَ أَرْبَعًا وَّثَلَاثِيْنَ فَأُتِيَ رَجُلٌ فِي الْمَنَامِ مِنَ الْأَنْصَارِ فَقِيْلَ لَهُ أَمَرَكُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُسَبِّحُوْا فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ كَذَا وَكَذَا قَالَ الْأَنْصَارِيُّ فِيْ مَنَامِه نَعَمْ قَالَ فَاجْعَلُوْهَا خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ وَاجْعَلُوْا فِيْهَا التَّهْلِيْلَ فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَافْعَلُوْا . رواه أحمد والنسائي والدارمي .

د حضرت زید بن ثابت ﷺ څخه روایت دی چي موږ ته حکم راکړل سوی دی چي موږ د هر لمانځه وروسته (۳۳) ځله سبحان الله (۳۳) ځله الحمدلله او (۳۴) ځله الله اکبر ووایو، یوه انصاري په خوب کي یوه ملائکه ولیدل هغې وویل : رسول الله ﷺ تاسو ته دا حکم درکړی دی چي تاسو د هر لمانځه وروسته دومره دومره تسبیح وایاست ، انصاري ملائکي ته په خوب کي وویل هو، ملائکي ورته وویل تاسو د دې درو کلمو تعداد پنځه ویشت پنځه ویشت و تاکی او په دې کي لااله الاالله پنځه ویشت ځله شامل کړئ، کله چي سهار سو نو هغه انصاري د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او خوب یې ورته ووایه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : په دې عمل کوئ . احمد ، نسائي او دارمي .

**د اية الكرسي فضيلت**

(۹۱۲): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَعْوَادِ هٰذَا الْمِنْبَرِ يَقُوْلُ مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُوْلِ الْجَنَّةِ إِلاَّ الْمَوْتَ وَمَنْ قَرَأَهَا حِيْنَ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ آمَنَهُ اللهُ عَلَى دَارِهِ وَدَارِ جَارِهِ وَأَهْلِ دُوَيْرَاتٍ حَوْلَهُ . رواه البيهقي في شعب الإيمان وقال إسناده ضعيف .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه د لرگي پر منبر اوريدلي دي چي څوك د هر لمانځه وروسته آية الكرسي ووايي نو هغه د مرگ څخه پرته هيڅ شى جنت ته د تلو څخه نه سي منع كولاى ، څوك چي د بيده كيدو پر وخت آية الكرسي ووايي نو الله تعالى د هغه د هغه د همسايه او څومره كورونه چي د هغه د كور شاوخوا وي ټول په امن كي لري . بيهقي

**د سهار او ماښام د لمانځه وروسته د ذكر فضيلت**

(۹۱۳): وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ غَنَمٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ قَبْلَ أَنْ يَنْصَرِفَ وَيَثْنِيَ رِجْلَيْهِ مِنْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ وَالصُّبْحِ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ كُتِبَ لَهُ بِكُلِّ وَاحِدٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ وَمُحِيَتْ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ وَرُفِعَ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنْ كُلِّ مَكْرُوْهٍ وَحِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ وَلَمْ يُحِلَّ لِذَنْبٍ أَنْ يُدْرِكَهُ إِلاَّ الشِّرْكُ وَكَانَ مِنْ أَفْضَلِ النَّاسِ عَمَلاً إِلاَّ رَجُلاً يَفْضُلُهُ يَقُوْلُ أَفْضَلَ مِمَّا قَالَ . رواه أحمد . وروى الترمذي نحوه عن أبي ذر إلى قوله إلا الشرك و لم يذكر صلاة المغرب ولا بيده الخير وقال هذا حديث حسن صحيح غريب .

حضرت عبد الرحمن بن غنم ﷺ د رسول الله ﷺ څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د لمانځه د ځاى څخه د پورته كيدو مخكي د ماښام او د سهار تر لمانځه دا كلمات : لَاۤ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ، لس واره ووايي نو د هغه لپاره د هر ځل په بدله كي لس نيكۍ ليكل كيږي لس بدى ليري كيږي او لس درجي يې لوړيږي او دا كلمات د هغه لپاره د هر بد شى څخه او د رټل سوى شيطان څخه آمن جوړيږي او پرته د شرك څخه هيڅ يو گناه هغه د هلاكت په لور نه سي بيولاى ، او هغه كس د عمل په اعتبار غوره انسان دى پرته د هغه چا څخه چي دده څخه زيات عمل كوي هغه به تر ده افضل وي . احمد او ترمذي .

**د سهار د لمانځه وروسته د ذکر فضیلت**

﴿۹۱۴﴾:وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا قِبَلَ نَجْدٍ فَغَنِمُوْا غَنَائِمَ كَثِيْرَةً وَأَسْرَعُوْا الرَّجْعَةَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَّا لَمْ يَخْرُجْ مَا رَأَيْنَا بَعْثًا أَسْرَعَ رَجْعَةً وَلاَ أَفْضَلَ غَنِيْمَةً مِنْ هٰذَا الْبَعْثِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلاَ أَدُلُّكُمْ عَلٰى قَوْمٍ أَفْضَلَ غَنِيْمَةً وَأَفْضَلَ رَجْعَةً ؟ قَوْمًا شَهِدُوْا صَلاَةَ الصُّبْحِ ثُمَّ جَلَسُوْا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ عَلَيْهِمْ فَأُولٰئِكَ أَسْرَعُ رَجْعَةً وَأَفْضَلُ غَنِيْمَةً . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب لا نعرفه إلا من هذا الوجه وحَماد بن أبي حُميد هو الضعيف في الْحديث .

د حضرت عمر ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یو ډله د نجد په لور ولیږل دا ډله د ډیر غنیمت سره ژر راستنه سول ، په موږ کي یو سړی چي ددغه ډلي سره نه وو تللی وویل موږ هیڅ داسي ډله نه ده لیدلې چي دومره ژر راسي او دومره د غنیمت مال یې راوړی وي . (د دې په اوریدو سره ) رسول الله ﷺ وفرمایل : ایا زه تا ته هغه قوم ونه ښیم چي د غنیمت په مال کي زیات او په ستنېدو کي غوره وي ، دا هغه خلك دي چي د سهار په لمانځه کي حاضرېږي او تر لمر ختلو پوري ناست وي د الله ذکر کوي دا هغه خلك دي چي په ستنېدو کي افضل دي او په غنیمت کي زیات دي .ترمذي .

# بَابُ مَا لاَ يَجُوْزُ مِنَ الْعَمَلِ فِي الصَّلٰوةِ وَ مَايُبَاحُ مِنْهُ

## (په لمانځه کي روا او ناروا کارونه)

## لومړی فصل

**په لمانځه کي د ترچي په جواب کي یرحمک الله ویل د لمانځه مفسد دی**

﴿۹۱۵﴾: عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ قَالَ بَيْنَا أَنَا أُصَلِّي مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَقُلْتُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ فَقُلْتُ وَا ثُكْلَ أُمِّيَاهْ مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُوْنَ إِلَيَّ فَجَعَلُوا يَضْرِبُوْنَ بِأَيْدِيهِمْ عَلٰى أَفْخَاذِهِمْ فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُصَمِّتُوْنَنِي لٰكِنِّي سَكَتُّ فَلَمَّا صَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبِأَبِي هُوَ

د حضرت معاویة بن حکم ﷛ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ سره لمونځ کوی ناڅاپه یو سړي و نوږل ما (یرحمکم الله) وویل، (د دې په اوریدو سره) خلکو زما په لور سترګي کړې ما په خپل زړه کي وویل مور دي درباندي بوره سي تاسو ولي ما ته ګورئ . خلکو خپل لاسونه پر خپلو ورنو وهل پیل کړل (چي زه پټه خوله سم) هر کله چي ما ولیدل چي هغوئ زما پټه خوله

وَأُمِّي مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهُ وَلاَ بَعْدَهُ أَحْسَنَ تَعْلِيمًا مِنْهُ فَوَاللَّهِ مَا كَهَرَنِي وَلاَ ضَرَبَنِي وَلاَ شَتَمَنِي قَالَ إِنَّ هَذِهِ الصَّلاَةَ لاَ يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلاَمِ النَّاسِ إِنَّمَا هُوَ التَّسْبِيحُ وَالتَّكْبِيرُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ وَقَدْ جَاءَ اللَّهُ بِالْإِسْلاَمِ وَإِنَّ مِنَّا رِجَالاً يَأْتُونَ الْكُهَّانَ قَالَ فَلاَ تَأْتِهِمْ قَالَ وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُونَ قَالَ ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُونَهُ فِي صُدُورِهِمْ فَلاَ يَصُدَّنَّهُمْ قَالَ قُلْتُ وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ قَالَ كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ . رواه مسلم ، قوله لكني سكت هكذا وجدت في صحيح مسلم وكتاب الحميدي وصحح في جامع الاصول بلفظه كذا فوق لكني .

کول غواړي (نو په غصه سوم) مگر پټه خوله سوم . کله چي رسول الله ﷺ لمونځ وکړ زما مور اوپلار دي تر قربان وي دده مبارك څخه وړاندي او وروسته ما هیڅوك دومره مهربانه استاذ نه دی لیدلی قسم په الله ! رسول الله ﷺ زه نه وترټلم نه یې ووهلم او نه یې راته څه بد ورد وویل بلکه دا یې وفرمایل دا لمونځ دی په دې کي هیڅ داسي یو خبره نه ده پکار کومه چي د خلکو سره کیږي لمونځ خو د تسبیحو تکبیر او قرآن کریم ویلو نوم دی، یا دا ډول نور څه یې وفرمایل ، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما د جاهلیت زمانه نژدې ده (یعني نوی مسلمان سوی یم) او ببله شکه الله موږ ته دین اسلام راکړی دی او په موږ کي ځیني داسي خلك دي چي کوډگرانو ته ځي راځي، رسول الله ﷺ وفرمایل ته هغوئ ته مه ورځه، ما عرض وکړ او په موږ کي ځیني خلك بدفالي کوي، رسول الله ﷺ وفرمایل دا هم یو شی دی چي هغوئ یې په خپلو زړونو کي تر لاسه کوي یعني وهم دی هغوئ د څه کار څخه نه منع کوي ، ما بیا عرض وکړ او په موږ کي ځیني خلك خط کاږي ، رسول الله ﷺ وفرمایل یو نبي وو په چي خط به یې کښی (د لته دخط څخه مراد د علم رمل کرښي دي) د چا خط چي د هغه پیغمبر سره سم سي نو هغه هغه شی تر لاسه کوي . مسلم.

## په لمانځه کي د سلام جواب ورکول حرام دی

(۹۱۶): وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلاَةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَيْكَ فِي الصَّلاَةِ فَتَرُدُّ عَلَيْنَا فَقَالَ إِنَّ فِي

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي موږ رسول الله ﷺ ته د لمانځه کولو په حالت کي سلام ادا کوی او رسول الله ﷺ به جواب راکوی بیا چي کله موږ د نجاشي څخه راستانه سو نو یو ځل رسول الله ﷺ په لمانځه کي بوخت

الصَّلَاةِ شُغْلاً . متفق علیه

وو موږ سلام ادا کړ رسول الله ﷺ زموږ د سلام جواب را نه کړ ، موږ عرض وکړ اي دالله رسوله ! موږ به تاسو ته لمانځه په حالت کي سلام ادا کوی او تاسو به جواب راکوی ، رسول الله ﷺ وفرمایل په لمانځه کي بوختیا ده یعني ذکر الهي یا د قرآن کریم قرائت په داسي حالت کي انساني خبري کول منعه ده . بخاري اومسلم

**په لمانځه کي د مځکي برابرولو مسئله**

﴿۹۱۷﴾: وَعَنْ مُعَيْقِيبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّجُلِ يُسَوِّي التُّرَابَ حَيْثُ يَسْجُدُ قَالَ إِنْ كُنْتَ فَاعِلاً فَوَاحِدَةً . متفق علیه

حضرت معیقیب ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه د هغه سړي په اړه چي په سجده کي به يې خاوره د ځان څخه پاکول روایت کوي چي نبي کریمﷺ وفرمایل که داسي کول ضروري وي نو یوازي یو ځل (یې کوه) بخاري اومسلم

**په لمانځه کي خصر ممنوع دی**

﴿۹۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَصْرِ فِي الصَّلَاةِ . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ په لمانځه کي پر تشي د لاس ایښودلو څخه منع فرمایلې ده . بخاري اومسلم

**په لمانځه کي شاوخوا کتل**

﴿۹۱۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْاِلْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الْعَبْدِ .متفق علیه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي په لمانځه کي آخوا دېخوا کتل څنګه دي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل دا په غافله کولو تښتول دي شیطان د انسان په غافله کولو د هغه لمونځ تښتوي . بخاري او مسلم.

**په لمانځه کي د دعاء پر وخت اسمان ته کتل نه دي پکار**

﴿۹۲۰﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ رَفْعِهِمْ أَبْصَارَهُمْ عِنْدَ الدُّعَاءِ فِي الصَّلَاةِ إِلَى السَّمَاءِ أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارُهُمْ . رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : خلك دي په لمانځه کي د دعاء پر وخت د آسمان لوري ته د کتلو څخه منع سي . مسلم.

**د نبي کریم ﷺ د خپل ملسي په لمانځه کي پر وړو کېښنول**

﴿۹۲۱﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى

د حضرت ابوقتاده ﷺ څخه روایت دی چي ما

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ النَّاسَ وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ عَلَى عَاتِقِهِ فَإِذَا رَكَعَ وَضَعَهَا وَإِذَا رَفَعَ مِنَ السُّجُودِ أَعَادَهَا ، متفق عليه

رسول الله ﷺ وليدى چي خلكو ته يې لمونځ وركوى او د ابوالعاص لور امامه د رسول الله ﷺ پر اوږه وه كوم وخت چي به رسول الله ﷺ ركوع كول نو امامه به يې كښېنته كړل او چي د سجدې څخه به پورته كيدى نو پر خپلو اوږو به يې كښېنول. بخاري اومسلم.

**په لمانځه كي د اوږمى بندول پكار دي**

(٩٢٢): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ . رواه مسلم .وفي رواية البخاري عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ وَلَا يَقُلْ هَا فَإِنَّمَا ذٰلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ يَضْحَكُ مِنْهُ .( متفق عليه )

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كي چي چا ته د لمانځه په وخت كي اوږمى راسي نو تر خپله وسه دي هغه بنده كړي ځكه چي د اوږمى پر وخت شيطان په خوله كي ننوزي. مسلم ، د بخاري په يوه روايت كي دا الفاظ دي هر كله چي چا ته په لمانځه كي اوږمى راسي نو تر څو پوري چي ممكن وي هغه دي بنده كړي او (ها) دي نه كوي ځكه چي دا د شيطان د لوري ده په دې پوري هغه خاندي. بخاري او مسلم .

**د رسول الله ﷺ د پيريانو سره يو واقعه**

(٩٢٣): عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ صَلَاتِي فَأَمْكَنَنِي اللّٰهُ مِنْهُ فَأَخَذْتُهُ فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ عَلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ حَتَّى تَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ أَخِي سُلَيْمَانَ رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي فَرَدَدْتُهُ خَاسِئًا . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په پيريانو كي يو ديو (غټ پيرى) نن شپه ناڅاپه راغلى چي زما لمونځ خراب كړي مگر الله ما ته پر هغه قدرت راكړى ما هغه ونيوى او اراده مي وكړه چي د مسجد په يو ستني پوري يې وتړم چي تاسو ټول خلك يې ووينئ سمدستي ما ته د خپل ورور سليمان ؑ دا دعاء را په ياد سول چي : (اې زما ربه ! ما ته داسي پاچاهي راكړه چي زما څخه وروسته هيچا ته مناسبه نه وي) نو ما هغه خوار كړه سوى و شړى. بخاري او مسلم.

**په لمانځه کي اشاره کول**

﴿۹۲۴﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلَاتِه فَلْيُسَبِّحْ فَإِنَّمَا التَّصْفِيْقُ لِلنِّسَاءِ .وفي رواية قال التسبيح للرجال والتصفيق للنساء .

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: چا ته چي په لمانځه کي یو خبره پېښه سي (یعني څوك رابولي یا یو شی غواړي) نو هغه دي (سبحان الله) ووایي او لاسونه ټکول (چکچکي کول) د ښځو لپاره خاص دي ، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل سبحان الله ویل د نارینوو لپاره دي او لاسونه ټکول د ښځو لپاره دي . بخاري اومسلم

## دوهم فصل

**په لمانځه کي د سلام جواب ورکول نه دي پکار**

﴿۹۲۵﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ قَبْلَ أَنْ نَّأْتِيَ أَرْضَ الْحَبَشَةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ أَرْضِ الْحَبَشَةِ أَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّيْ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ حَتّٰى إِذَا قَضٰى صَلَاتَهُ قَالَ إِنَّ اللهَ يُحْدِثُ مِنْ أَمْرِهِ مَا يَشَاءُ وَإِنَّ مِمَّا أَحْدَثَ أَنْ لَا تَتَكَلَّمُوْا فِي الصَّلَاةِ فَرَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ وَقَالَ إِنَّمَا الصَّلَاةُ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَذِكْرِ اللهِ فَإِذَا كُنْتَ فِيْهَا فَلْيَكُنْ ذٰلِكَ شَأْنُكَ . رواه أبو داود .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ به لمونځ کوی نو موږ به ورته سلام ادا کوی او رسول الله ﷺ به د سلام جواب راکوی، او دا پېښه و حبشې ته د ستنېدو څخه وړاندي وه ، بیا چي موږ د حبشې څخه راستانه سو نو د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر او دا وخت هغه مبارك لمونځ کوی ما سلام ادا کړ مگر رسول الله ﷺ زما د سلام جواب رانه کړ . کله چي د لمانځه څخه فارغ سو نو وه یې فرمایل: الله تعالی چي خپل کوم حکم غواړي هغه څرګندوي او اوس الله دا حکم څرګند کړی دی چي په لمانځه کي خبري اتري مه کوئ ، بیا رسول الله ﷺ زما د سلام جواب راکړ او وه یې فرمایل: لمونځ د قرآن ویلو او د الله د ذکر کولو لپاره دی هر کله چي ته د لمانځه په حالت کي یې نو تا ته یوازي دغه کول پکار دي . ابوداؤد.

**په لمانځه کي په اشاره سره د سلام د جواب ورکولو مسئله**

﴿۹۲۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قُلْتُ لِبِلَالٍ كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ حِيْنَ كَانُوْا يُسَلِّمُوْنَ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي ما بلال ﷺ ته وویل چي رسول الله ﷺ به د لمانځه په حالت کي کله چي به موږ ورته سلام وکړ څنګه جواب راکوی؟

الصَّلاَةِ قَالَ كَانَ يُشِيرُ بِيَدِهِ، رواه الترمذي و في رواية للنسائي نحوه و عوض بلال صهيب .

حضرت بلال ﷺ وويل : رسول الله ﷺ به په خپل لاس سره اشاره کول، ترمذي او صاحب نسائي دا روايت صهيب ته منسوب کړی دی . ترمذي او نسائي .

## په لمانځه کي د ترڅي وروسته حمد ويل

﴿۹۲۷﴾: وَعَنْ رِفَاعَةَ ابْنِ رَافِعٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَطَسْتُ فَقُلْتُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ فَقَالَ مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلاَةِ فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ ثُمَّ قَالَهَا الثَّانِيَةَ فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ ثُمَّ قَالَهَا الثَّالِثَةَ فَقَالَ رِفَاعَةُ أَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدِ ابْتَدَرَهَا بِضْعَةٌ وَثَلاَثُونَ مَلَكًا أَيُّهُمْ يَصْعَدُ بِهَا. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي .

د حضرت رفاعة بن رافع ﷺ څخه روايت دی چي ما په رسول الله ﷺ پسي لمونځ کوی په لمانځه کي ما ته ترڅی راغلی نو ما د لمانځه په حالت کي (الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى) وويل ، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو موږ ته متوجه سو او وه يې فرمايل : په لمانځه کي چا دا کلمات وويل ؟ هيچا جواب نه ورکړ تول پټه خوله سول، رسول الله بيا پوښتنه وکړل تول پټه خوله سول، رسول الله ﷺ په دريم ځل پوښتنه وکړه نو رفاعه وويل : زه وم ، اې دالله رسوله ! رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم دی په هغه ذات وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده د ديرشو څخه زياتو ملائکو د دې کلماتو د وړلو لپاره تلوار کوی چي څوک يې ورانديي يوسي . ترمذي ، ابوداؤد او نسائي .

## اورمی شيطاني اثر دی

﴿۹۲۸﴾:وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّثَاؤُبُ فِي الصَّلاَةِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ. رواه الترمذي و في اخرى له ولابن ماجة فليضع يده على فيه.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په لمانځه کي اوريمی کول د شيطان د لوري وي هر کله چي په تاسو کي چا ته په لمانځه کي اوريمی راسي نو څومره چي ممکن وي هغه دي بنده کړي (ترمذي) او ترمذي په بل ځای کي او د ابن ماجه په يوه روايت کي دا الفاظ هم دي چي هغه دي پر خپل خوله لاس کښيږدي .

## په لمانځه کي تشبيک نه کول

﴿۹۲۹﴾:وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ

د حضرت کعب بن عجرة ﷺ څخه روايت دی چي

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ ثُمَّ خَرَجَ عَامِدًا إِلَى الْمَسْجِدِ فَلاَ يُشَبِّكَنَّ بَيْنَ أَصَابِعِهِ فَإِنَّهُ فِي صَلاَةٍ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي والدارمي .

رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي په تاسو کي يو څوك اودس وکړي او په ښه ډول اودس وکړي بيا دلمانځه په اراده د مسجد په لور روان سي نو يو په بله دي ګوتي نه سره ننباسي ځکه چي دی په لمانځه کي دی .. احمد.ترمذي، ابوداؤد ،نسائي،دارمي.

**په لمانځه کي شاوخوا کتل**

(۹۳۰): وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَزَالُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ مُقْبِلاً عَلَى الْعَبْدِ وَهُوَ فِيْ صَلاَتِهِ مَا لَمْ يَلْتَفِتْ فَإِذَا الْتَفَتَ انْصَرَفَ عَنْهُ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي والدارمي

د حضرت ابوذر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي يو لمونځ کونکی د لمانځه په حالت کي آخوا دېخوا نه ګوري نو الله ﷻ د هغه په لور متوجه وي او څه وخت چي هغه آخوا دېخوا وګوري نو د الله تعالی د کرم نظر د هغه څخه ليري سي . احمد ، ابوداؤد ، نسائي او دارمي .

**د سجدې ځای ته کتل**

(۹۳۱): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَنَسُ اجْعَلْ بَصَرَكَ حَيْثُ تَسْجُدُ . رواه البيهقي في سننه الكبير من طريق الحسن عن أنس يرفعه .

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل : اې انس ! په لمانځه کي خپل نظر هلته لره چيري چي سجده کوې ، بيهقي ، سنن کبير په طريقه حسن د انس څخه مرفوعا روايت کړی دی .

**په لمانځه کي پر شاوخوا کتلو باندي وعيد**

(۹۳۲): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا بُنَيَّ إِيَّاكَ وَالْاِلْتِفَاتَ فِي الصَّلاَةِ فَإِنَّ الْاِلْتِفَاتَ فِي الصَّلاَةِ هَلَكَةٌ فَإِنْ كَانَ لاَبُدَّ فَفِي التَّطَوُّعِ لاَ فِي الْفَرِيْضَةِ . رواه الترمذي .

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل : اې زويه ! په لمانځه کي د آخوا دېخوا کتلو څخه ځان وساته ځکه په لمانځه کي شاوخوا کتل د هلاکت سبب دی که کتل ضروري وي نو په نفل لمانځه کي څه پروا نسته مګر په فرض لمانځه کي هيڅکله داسي کول نه دي پکار. ترمذي.

**په لمانځه کي د سترګو په کونجانو سره شاوخوا کتل**

(۹۳۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دی چي

| | |
|---|---|
| عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْحَظُ فِي الصَّلَاةِ يَمِيْنًا وَّشِمَالاً وَلاَ يَلْوِيْ عُنُقَهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ . رواه الترمذي والنسائي . | رسول الله ﷺ به د سترگو په کونجانو يوې خوا بلې خوا ته کتل مگر غاړه به يې د شا په لور نه گرزوله . ترمذي او نسائي . |

**په لمانځه کې شيطاني اثرات**

| | |
|---|---|
| (۹۳۴): وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ رَفَعَهُ قَالَ الْعُطَاسُ وَالنُّعَاسُ وَالتَّثَاؤُبُ فِي الصَّلَاةِ وَالْحَيْضُ وَالْقَيْءُ وَالرُّعَافُ مِنَ الشَّيْطَانِ، رواه الترمذي. | حضرت عدي بن ثابت د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه مرفوعا روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ترچې کول، ارږمې کول ،حيض جاري کيدل ، قې وهل |

او د پزې څخه وينه راتلل په لمانځه کې دا ټول د شيطان د لورې دي . ترمذي

**په ژړا سره لمونځ نه باطليږي**

| | |
|---|---|
| (۹۳۵): وَعَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيْرِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّيْ وَلِجَوْفِهِ أَزِيْزٌ كَأَزِيْزِ الْمِرْجَلِ يَعْنِيْ يَبْكِيْ . وفي رواية قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ وَفِيْ صَدْرِهِ أَزِيْزٌ كَأَزِيْزِ الرَّحَا مِنَ الْبُكَاءِ . رواه أحمد وروى النسائي الرواية الأولى وأبو داود الثانية . | حضرت مطرف بن عبد الله بن شخير د خپل پلار څخه روايت کوي چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم رسول الله ﷺ دغه وخت لمونځ کوی او د رسول الله ﷺ د سينې څخه داسې آواز راتلی لکه د ديگ د ايشيدو آواز چې وي (يعني ژړل يې) او په يوه بل روايت کې دا الفاظ دي چې ما نبي کريم ﷺ پر لمونځ کولو وليدی او د رسول الله ﷺ د خولې څخه داسې آواز راتلی لکه د ژرندی آواز چې راځي |

او دا د رسول الله ﷺ د ژړا آواز وو. احمد .

**په لمانځه کې شگې ليرې کول**

| | |
|---|---|
| (۹۳۶): وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَا يَمْسَحْ الْحَصَى فَإِنَّ الرَّحْمَةَ تُوَاجِهُهُ. رواه احمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجة. | د حضرت ابو ذر ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چې په تاسو کې يو څوک د لمانځه لپاره ودريږي نو په لاسو سره دې شگې نه ليرې کوي څکه چې د الله رحمت د هغه په وړاندې وي . احمد ،ترمذي، ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه |

**په لمانځه کې خاوره پوکل نه دي پکار**

| | |
|---|---|
| (۹۳۷): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى | د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دی چې |

اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا لَنَا يُقَالُ لَهُ أَفْلَحُ إِذَا سَجَدَ نَفَخَ فَقَالَ يَا أَفْلَحُ تَرِّبْ وَجْهَكَ . رواه الترمذي .

رسول الله ﷺ زمونږ غلام وليدی چي د هغه نوم افلح وو چي هغه به سجدې ته تلی نو پوه به يې کوی (چي خاوري ليري کړي) د دې په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : اې افلح ! خپل مخ په خاورو ولړه . ترمذي .

**پر تشي لاس نيول د دوږخيانو د ارام صورت دی**

(۹۳۸): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْاِخْتِصَارُ فِي الصَّلَاةِ راحة أَهْلِ النَّارِ . رواه في شرح السنة .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په لمانځه کي پر تشي لاس ايښودل د دوږخيانو د راحت صورت دی . شرح السنة.

**په لمانځه کي مار او لړم مړ کول**

(۹۳۹): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُقْتُلُوا الْأَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلَاةِ الْحَيَّةُ وَالْعَقْرَبُ . رواه احمد و ابوداؤد والترمذي و للنسائي معناه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل :دوه تور په لمانځه کي وژنئ يعني مار او لړم . احمد، ابوداؤد.ترمذي مگر نسائي ددې حديث مفهوم بيان کړی دی .

**رسول الله ﷺ د لمانځه په حالت کي دروازه خلاصول**

(۹۴۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي تَطَوُّعًا وَالْبَابُ عَلَيْهِ مُغْلَقٌ فَجِئْتُ فَاسْتَفْتَحْتُ فَمَشَى فَفَتَحَ لِي ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مُصَلَّاهُ وَذَكَرَتْ أَنَّ الْبَابَ كَانَ فِي الْقِبْلَةِ. رواه ابوداؤد والترمذي و روي النسائي نحوه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (په کور کي) نفل لمونځ کوی او دروازه به يې بندول کله چي به زه کور ته راتلم نو رسول الله ﷺ به دروازه خلاصول بيا به مصلا ته ولاړی او په لمانځه کي به بوخت سو ، بي بي عائشة وايي دروازه د قبلې په لور وه .ابوداؤد، ترمذي او نسائي .

**په لمانځه کي اودس ماتېدل**

(۹۴۱): وَعَنْ طَلْقِ ابْنِ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فِي الصَّلٰوةِ فَلْيَنْصَرِفْ وَلْيَتَوَضَّأْ وَلْيُعِدِ الصَّلٰوةَ . رواه ابوداؤد و روي الترمذي مع زيادة ونقصان.

د حضرت طلق بن علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په لمانځه کي د يو چا هواء خارج سي نو هغه ته پکار ده چي ولاړ سي اودس وکړي او دويم ځل لمونځ وکړي،

(۹۴۲): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَحْدَثَ أَحَدُكُمْ فِيْ صَلَاتِه فَلْيَأْخُذْ بِأَنْفِه ثُمَّ لِيَنْصَرِفْ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چې په تاسو کې د يو چا اودس مات سي نو هغه دي خپل پزه ونيسي او اوداسه ته دي ولاړسي . (چې خلك پوه سي چې د اوداسه ضرورت ورته سوی دی) ابوداؤد .

(۹۴۳): وَعَنْ عَبْدِاللّٰه ابْنِ عَمْرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا اَحْدَثَ اَحَدُكُمْ وَقَدْ جَلَسَ فِيْ آخِرِ صَلٰوتِه قَبْلَ اَنْ يُسَلِّمَ فَقَدْ جَازَتْ صَلٰوتُهُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث اسناده ليس بالقوي و قد اضطربوا في اسناده .

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :هر کله چې په تاسو کې د يو چا اودس مات سي او هغه د لمانځه په آخري ناسته کې وي او سلام يې نه وي گرځولی نو د هغه لمونځ پوره سو . ترمذي

## دريم فصل

**د رسول الله ﷺ يو واقعه**

(۹۴۴): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَمَّا كَبَّرَ انْصَرَفَ وَأَوْمَأَ إِلَيْهِمْ أَنْ كَمَا كُنْتُمْ ثُمَّ خَرَجَ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ جَاءَ وَرَأْسُهُ يَقْطُرُ فَصَلَّى بِهِمْ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ إِنِّيْ كُنْتُ جُنُبًا فَنَسِيْتُ أَنْ أَغْتَسِلَ . رواه أحمد . وروى مالك عن عطاء بن يسار نحوه مرسلا .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ لمانځه ته تشريف راوړی کله چې اقامت وسو نو خپلو صحابوو ته يې مخ راوگرځوی او په اشاره سره يې ورويل پر خپل خپل ځای ودريږئ، په دې اشاره کولو سره رسول الله ﷺ د مسجد څخه ووتی غسل يې وکړی او په داسې حال کې راغلی چې د سر مبارك څخه يې د اوبو څاڅکي څڅېدل او صحابه کرامو ته يې لمونځ ورکړ ، د لمانځه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : زه جنب وم ، غسل کول راڅخه هير سوی وو ، احمد او مالك .

**د گرمۍ څخه ځان ساتل**

(۹۴۵): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي الظُّهْرَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَآخُذُ قَبْضَةً مِّنَ الْحَصٰى لِتَبْرُدَ فِيْ كَفِّيْ أَضَعُهَا لِجَبْهَتِيْ اَسْجُدُ عَلَيْهَا لِشِدَّةِ الْحَرِّ . رواه أبو داود وروى النسائي نحوه .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چې ما به د ماپښين لمونځ د رسول الله ﷺ سره کوی او د شگو يو ډك موټ به مې ساتی چې پر هغو سجده وکړم او د گرمي مځکې د گرمۍ څخه ځان وساتم . ابوداؤد ، نسائي .

## په لمانځه کي د رسول الله ﷺ سره د شيطان يو عجيبه معامله

﴿۹۴۶﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ فَسَمِعْنَاهُ يَقُولُ أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْكَ ثُمَّ قَالَ أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللّٰهِ ثَلَاثًا وَبَسَطَ يَدَهُ كَأَنَّهُ يَتَنَاوَلُ شَيْئًا فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الصَّلَاةِ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَدْ سَمِعْنَاكَ تَقُولُ فِي الصَّلَاةِ شَيْئًا لَمْ نَسْمَعْكَ تَقُولُهُ قَبْلَ ذٰلِكَ وَرَأَيْنَاكَ بَسَطْتَ يَدَكَ قَالَ إِنَّ عَدُوَّ اللّٰهِ إِبْلِيسَ جَاءَ بِشِهَابٍ مِنْ نَارٍ لِيَجْعَلَهُ فِي وَجْهِي فَقُلْتُ أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قُلْتُ أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللّٰهِ التَّامَّةِ فَلَمْ يَسْتَأْخِرْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ أَرَدْتُ أَخْذَهُ وَاللّٰهِ لَوْلَا دَعْوَةُ أَخِينَا سُلَيْمَانَ لَأَصْبَحَ مُوثَقًا يَلْعَبُ بِهِ وِلْدَانُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ . رواه مسلم

د حضرت ابو درداء رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ لمونځ کوی چي موږ دا ځيني واوريدل : (زه ستا څخه دخلاصون لپاره د الله پناه غواړم) بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : (پر تا دي د الله لعنت وي) دا الفاظ رسول الله ﷺ دري ځله وويل بيا رسول الله ﷺ مخ په وړاندي سو لکه چي يو شی نيول غواړي، کله چي رسول الله ﷺ دلمانځه څخه فارغ سو نو موږ عرض وکړ اې دالله رسوله ! موږ ستا څخه په لمانځه کي داسي خبري واوريدلې چي وړاندي مو هيڅکله نه وې اوريدلې او موږ ستاسو لاس غزول هم وليدل، رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله دښمن شيطان د اور د سکروټو سره راغلی وو چي هغه زما په مخ کي واچوي نو ما وويل چي زه ستا څخه د الله په ذريعه پناه غواړم دري ځله ما دا الفاظ وويل بيا ما وويل زه پر تا پوره لعنت وايم د خدای لعنت دري ځله، مگر هغه زما د مخه څخه ليري نه سو بيا ما د هغه د نيولو اراده وکړه قسم په خدای که زموږ د ورور سليمان علیه السلام دعاء نه وای نو سهار به شيطان تړل سوی وای او دمديني ماشومانو به ورباندي لوبي کولای . مسلم.

## په لمانځه کي په اشاره سره د جواب ورکولو مسئله

﴿۹۴۷﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ إِنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ مَرَّ عَلٰى رَجُلٍ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَرَدَّ الرَّجُلُ كَلَامًا فَرَجَعَ إِلَيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ فَقَالَ لَهُ إِذَا سُلِّمَ عَلٰى أَحَدِكُمْ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَلَا يَتَكَلَّمْ وَلْيُشِرْ بِيَدِهِ . رواه مالك .

د حضرت نافع رضی الله عنه څخه روايت دی چي عبدالله بن عمر رضی الله عنه د يو سړي په خوا کي تير سو چي هغه لمونځ کوی هغه ته يې سلام وکړ هغه په خوله د سلام جواب ورکړ، عبدالله بن عمر رضی الله عنه بيا هغه ته ورغلی او هغه ته يې وويل هر کله چي تاسو ته د لمانځه په حالت کي سلام وکړل سي نو د هغه په خوله جواب مه ورکوئ بلکه په لاس سره اشاره کوئ .مالك .

# بَابُ السَّهْوِ (د سجده سهو بيان)

## لومړی فصل

### د رکعتو د تعداد هیرېدو په صورت کې سجده سهو

(۹۴۸): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ يُصَلِّي جَاءَهُ الشَّيْطَانُ فَلَبَسَ عَلَيْهِ حَتَّى لاَ يَدْرِيَ كَمْ صَلَّى فَإِذَا وَجَدَ ذٰلِكَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ .متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چې ستاسي د لمانځه لپاره ودرېږي نو شيطان راسي او هغه په شك کې اچوي تر دې چې هغه ته ياد نه سي چې څومره رکعاته يې وکړل چې داسي حالت درته پېښ سي نو کښېنئ دوې سجدې وکړئ يعني سجده سهو. بخاري او مسلم.

(۹۴۹): وَعَنْ عَطَاءِ ابْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلَمْ يَدْرِ كَمْ صَلَّى ثَلَاثًا أَمْ أَرْبَعًا فَلْيَطْرَحْ الشَّكَّ وَلْيَبْنِ عَلَى مَا اسْتَيْقَنَ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ فَإِنْ كَانَ صَلَّى خَمْسًا شَفَعْنَ لَهُ صَلَاتَهُ وَإِنْ كَانَ صَلَّى إِتْمَامًا لِأَرْبَعٍ كَانَتَا تَرْغِيمًا لِلشَّيْطَانِ. رواه مسلم و رواه مالك عن عطاء مرسلا وفي روايته شفعها هاتين السجدتين.

حضرت عطاء بن يسار د ابوسعيد الخدري ﷺ څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چې تاسو ته په لمانځه کې شك پيدا سي چې څومره لمونځ يې کړی دی يعني درې رکعته يا څلور رکعته نو خپل شك دې ليري کړي او د يو خاص شمير يقين دې وکړي او بيا دې د هغه يقين پر بناء لمونځ پوره کړي د سلام گرزولو څخه مخکې دې دوې سجدې وکړي که هغه پنځه رکعته کړي وي نو دا دوې سجدې به هغه شپږ جوړ کړي او که پوره څلور يې کړي وي نو دا سجدې به د شيطان د ذلت باعث سي. مسلم.

(۹۵۰): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا فَقِيلَ لَهُ أَزِيدَ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ وَمَا ذَاكَ قَالُوا صَلَّيْتَ خَمْسًا فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ إِنَّمَا

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يو ماپښين لمونځ پنځه رکعته وکړل ، د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول ايا په لمانځه کې زياتوب سوی دی ، رسول الله ﷺ وفرمايل : څنگه؟ صحابه کرامو عرض وکړ تاسو

أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِي وَإِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ . متفق علیه

پنځه رکعته کړي دي .. رسول الله ﷺ د سلام گرځولو څخه وروسته دوې سجدې وکړې، او په یوه روایت کې د ا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ د صحابه کرامو د اعتراض په اوریدو سره وفرمایل : زه هم ستاسو په ډول یو انسان یم څنګه چې ستاسو څخه هیره کیږي همداسې زما څخه هم هیره کیږي هر کله چې زما څخه هیر سي نو تاسو یې را یادوئ او په تاسو کې چې چا ته په لمانځه کې شك پیداسي نو هغه دي د یوې صحیح رایې قائمولو قصد وکړي او درایې پر بنا دي لمونځ پوره کړي بیا دي سلام وگرځوي دوې سجدې دي وکړي . بخاري او مسلم .

(۹۵۱): وَعَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِحْدَى صَلَاتَيِ الْعَشِيِّ قَالَ ابْنُ سِيرِينَ قد سَمَّاهَا أَبُو هُرَيْرَةَ وَلَكِنْ نَسِيتُ أَنَا قَالَ فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ إِلَى خَشَبَةٍ مَعْرُوضَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَاتَّكَأَ عَلَيْهَا كَأَنَّهُ غَضْبَانُ وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ وَوَضَعَ خَدَّهُ الْأَيْمَنَ عَلَى ظَهْرِ كَفِّهِ الْيُسْرَى وَخَرَجَتْ سَرَعَانُ الْقَوْمِ مِنْ أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ فَقَالُوا قُصِرَتِ الصَّلَاةُ وَفِي الْقَوْمِ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ فَهَابَاهُ أَنْ يُكَلِّمَاهُ وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ فِي يَدَيْهِ طُولٌ يُقَالُ لَهُ ذُو الْيَدَيْنِ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَسِيتَ أَمْ قُصِرَتِ الصَّلَاةُ فَقَالَ لَمْ أَنْسَ وَلَمْ تُقْصَرْ فَقَالَ أَكَمَا يَقُولُ ذُو الْيَدَيْنِ ؟ فَقَالُوا نَعَمْ . فَتَقَدَّمَ فَصَلَّى مَا تَرَكَ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَكَبَّرَ ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَكَبَّرَ فَرُبَّمَا سَأَلُوهُ ثُمَّ سَلَّمَ فَيَقُولُ نُبِّئْتُ أَنَّ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ ثُمَّ

حضرت ابن سیرین د ابوهریرة ﷺ څخه روایت کوي چې د ماپښین یا مازدیگر په لمنځو کې یو لمونځ چې د هغه نوم ابوهریرة ښودلی وو (او زما څخه هیر دی) رسول الله ﷺ موږ ته راکوی او د دوو رکعتو وروسته رسول الله ﷺ سلام وگرځوی او د هغه لرگي په مرسته ودریدی چې په مسجد کې لگېدلی وو ، د رسول الله ﷺ د حالت څخه څرگنده وه چې غضب ناك دی ، رسول الله ﷺ خپل راسته لاس په چپه لاس کې ورکړ او په گوتو کې یې گوتې واچولې او د چپه لاس پر شا یې خپل راسته باړخو کېښېښودی او تلواري خلك چې د لمانځه څخه سمدستي تلل په ولاړېدو سره د مسجد د دروازې څخه د باندي ووتل، صحابه کرامو په خپلو کې وویل ایا په لمانځه کې کمي راغلې په مسجد کې چې کوم خلك وه په هغو کې ابوبکر او عمر هم وه هغوئ دواړو ته د رسول الله ﷺ څخه په پوښتنه کولو کې بیره څرگنده سوه په خلکو کې یو سړی وو چې د هغه لاسونه اوږده وه او هغه ته به یې

سَلَّمَ .متفق علیه، ولفظه للبخاري وفي أخرى لهما فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم بدل لم أنس ولم تقصر کل ذلك لم یکن فقال قد کان بعض ذلك یا رسول الله .

ذوالیدین وایه هغه راوړاندې سو او عرض یې وکړ اې دالله رسوله ! ایا په لمانځه کې کمي سوې ده یا ستاسو څخه هیره سوې ده ، رسول الله ﷺ وفرمایل : نه زما څخه هیره سوې ده او نه په لمانځه کې کمي سوې ده ، د دې وروسته رسول الله ﷺ صحابه مخاطب کړل او وه یې فرمایل : ایا ذوالیدین رښتیا وایي ؟ او ستاسو هم دا خیال دی صحابه کرامو عرض وکړ ، هو، اې دالله رسوله ! ذوالیدین سم وایي ، رسول الله ﷺ مصلا ته ورغلی او پاته لمونځ یې ورکړ بیا یې سلام وگرځوی بیا یې الله ووایه او د لمانځه د سجدې په ډول بلکه د هغې څخه لړ اوږده سجده یې وکړل بیا یې سر پورته کړ او الله اکبر یې ووایه ، راوي ابن سیرین څخه خلکو پوښتنه وکړه ایا ددې وروسته رسول الله ﷺ سلام وگرځوی؟ ابن سیرین به هر ځل جواب کې دا ویل ما ته دا خبر را رسیدلی دی چې عمران بن حصین دا وویل چې بیا رسول الله ﷺ سلام وگرزوي . بخاري اومسلم، د ا الفاظ د بخاري دي د بخاري او مسلم په یو بل روایت کې دا دي چې رسول الله ﷺ د «ولم انس و لم تقص» پر ځای دا الفاظ وفرمایل : په دې کې هیڅ نه وو، ذوالیدین وویل اې د الله رسوله ! څه خوبه وي.

**سجده سهو په سلام گرځولو سره پکار ده که ببله سلامه**

(۹۵۲): وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ بُحَیْنَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰی بِهِمِ الظُّهْرَ فَقَامَ فِي الرَّکْعَتَیْنِ الْاُوْلَیَیْنِ لَمْ یَجْلِسْ فَقَامَ النَّاسُ مَعَهٗ حَتّٰی اِذَا قَضَی صَلَاةَ وَانْتَظَرَالنَّاسُ تَسْلِیْمَهٗ کَبَّرَ وَهُوَ جَالِسٌ فَسَجَدَ سَجْدَتَیْنِ قَبْلَ اَنْ یُّسَلِّمَ ثُمَّ سَلَّمَ . متفق علیه

د حضرت عبدالله بن بجینة ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته د ماپښین لمونځ ورکړ او د دوو رکعتو وروسته په ناسته کې د ناستې پر ځای ولاړ سو ، صحابه کرام هم د رسول الله ﷺ سره ودریدل تر دې چې لمونځ یې وکړ او د سلام گرزولو وخت راغلی نو صحابه کرامو تکبیر ووایه او رسول الله ﷺ دوې سجدې د سلام گرځولو څخه مخکې وکړې بیا یې سلام وگرزوي . بخاري اومسلم .

## دوهم فصل

**درود او سلام د سجده سهو څخه مخکې ویل پکار دي که وروسته؟**

﴿٩٥٣﴾: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِهِمْ فَسَهَا فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ تَشَهَّدَ ثُمَّ سَلَّمَ . رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب .

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته لمونځ ورکړ او هیره څیني وسول بیا یې دوې سجدې وکړې بیا یې تشهد وویل او سلام یې وګرځوی . ترمذي

﴿٩٥٤﴾:وَعَنِ الْمُغِيْرَةَ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ الْإِمَامُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ فَإِنْ ذَكَرَ قَبْلَ أَنْ يَّسْتَوِيَ قَائِمًا فَلْيَجْلِسْ وَإِنِ اسْتَوٰى قَائِمًا فَلَا يَجْلِسْ وَيَسْجُدُ سَجْدَتَي السَّهْوِ . رواه أبو داود وابن ماجه .

د حضرت مغيرة بن شعبة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې امام دوه رکعته وکړي ودرېږي (یعني ناسته ونه کړي) او ددې څخه مخکې چې اوس لا سیده درېدلی نه وي او د هغه په یاد سي نو هغه دي کښیني او که سیده درېدلی وي نو نه دي کښیني او دوې سجدې دسهوي دي وکړي .ابوداؤد او ابن ماجه .

## دریم فصل

﴿٩٥٥﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الْعَصْرَ فَسَلَّمَ فِي ثَلَاثِ رَكْعَاتٍ ثُمَّ دَخَلَ مَنْزِلَهُ فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الْخِرْبَاقُ وَكَانَ فِي يَدَيْهِ طُولٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَذَكَرَ لَهُ صَنِيعَهُ وَخَرَجَ غَضْبَانَ يَجُرُّ رِدَاءَهُ حَتّٰى انْتَهٰى إِلَى النَّاسِ فَقَالَ أَصَدَقَ هٰذَا قَالُوا نَعَمْ فَصَلّٰى رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ . رواه مسلم

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د مازدیګر لمونځ ورکړ او پر درې رکعته یې سلام وګرځوی او خپل کور ته ولاړی یو سړی چې د هغه نوم خرباق وو او د هغه لاسونه اوږده وه هغه ودرېدی او وه یې ویل اې دالله رسوله ! د دې په ویلو سره هغه پېښنه بیان کړه ، رسول الله ﷺ په غضبناك حالت کي څادر په ځان پسي راکشوی او د باندي یې تشریف راوړ صحابه کرامو ته راغلی او پوښتنه یې وکړه ایا دی رښتیا وایي ؟ صحابه کرامو عرض وکړ :هو، نو رسول الله ﷺ یو رکعت ورکړ بیا یې سلام وګرځوی او دوې سجدې یې وکړې بیا یی سلام وګرځوی . مسلم.

په لمانځه کي د شک واقع کېدو په صورت کي

﴿٩٥٦﴾: وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ صَلّٰى صَلَاةً يَشُكُّ فِي النُّقْصَانِ فَلْيُصَلِّ حَتّٰى يَشُكَّ فِي الزِّيَادَةِ . رواه أحمد .

د حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي چا چي لمونځ وکړ او هغه ته شك پیدا سو چي لمونځ یې کم کړی دی نو هغه دي نور وکړي تر دې چي د زیاتوب شك یې پیدا سي . احمد

# بَابُ سُجُوْدِ الْقُرْاٰنِ (د سجده تلاوت بیان)

## لومړی فصل

د سورة النجم سجده

﴿٩٥٧﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّجْمِ وَسَجَدَ مَعَهُ الْمُسْلِمُوْنَ وَالْمُشْرِكُوْنَ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسِ . رواه البخاري .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سورة والنجم سجده وکړه او د رسول الله ﷺ سره مسلمانانو، مشرکانو، پیریانانو او انسانانو هم سجده وکړه .بخاري

د سورة انشقت او سورة علق سجدې

﴿٩٥٨﴾:وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَجَدْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ وَاقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ . رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي موږ د نبي کریم ﷺ سره په (اذاالسماء انشقت او اقراء باسم ربك) کي سجده کړې ده.مسلم

سجده تلاوت واجب ده

﴿٩٥٩﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ ( اَلسَّجْدَةَ ) وَنَحْنُ عِنْدَهُ فَيَسْجُدُ وَنَسْجُدُ مَعَهُ فَنَزْدَحِمُ حَتّٰى مَا يَجِدُ أَحَدُنَا لِجَبْهَتِهِ مَوْضِعًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ .متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د سجدې آیت تلاوت کاوه موږ به ورسره موجود وو رسول الله ﷺ به هم سجده کول او موږ به هم سجده کوله او دومره ګڼه ګوڼه به سول چي په موږ کي به څینوته د سجدې کولو ځای نه پیداکېدی چي خپل تندی پر کښېږدو .بخاري او مسلم .

**د رسول الله ﷺ په سورة نجم كي سجده نه كول**

| | |
|---|---|
| (۹۶۰): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَرَأْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( وَالنَّجْمِ )فَلَمْ يَسْجُدْ فِيْهَا. متفق عليه . | د حضرت زيد بن ثابت ﷺ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ په مخكي سورة والنجم ووايه ، رسول الله ﷺ سجده ونه كړل. بخاري او مسلم . |

**د سورة ص سجده**

| | |
|---|---|
| (۹۶۱):وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ ( سَجْدَةُ ( ص ) لَيْسَ مِنْ عَزَائِمِ السُّجُوْدِ وَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ فِيْهَا، وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ مُجَاهِدٌ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ أَ أَسْجُدُ فِيْ ( ص ) فَقَرَأَ ( وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ دَاوٗدَ وَسُلَيْمَانَ) حَتّٰى أَتٰى ( فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ ) فَقَالَ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ أُمِرَ أَنْ يَّقْتَدِيَ بِهِمْ . رواه البخاري . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي د سورة (ص) سجده د تاكيدي سجدو څخه نه ده او ما رسول الله ﷺ د دې سورت په سجده كولو ليدلى او په يوه روايت كي راغلي چي مجاهد بيان وكړ ما د ابن عباس څخه پوښتنه وكړه اى زه په سورة ص كي سجده وكړم ؟ ابن عباس دا آيت تلاوت وكړ (ومن ذريته ....) بيا يې وويل ستاسو نبي كريم ﷺ د دې خلكو څخه دى چي هغوئ ته حكم وركړل سوى دى چي هغوئ د انبياؤو پيروي وكړي .بخاري |

## دوهم فصل

**په قران كريم كي تولي څو سجدې دي؟**

| | |
|---|---|
| (۹۶۲): عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ أَقْرَأَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسَ عَشْرَةَ سَجْدَةً فِي الْقُرْآنِ مِنْهَا ثَلَاثٌ فِي الْمُفَصَّلِ وَفِيْ سُوْرَةِ الْحَجِّ سَجْدَتَيْنِ . رواه أبو داود وابن ماجه . | د حضرت عمرو بن العاص ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ هغه ته په قرآن كريم كي پنځلس سجدې و ښودلې په هغو كي درې په مفصل (سورتو) كي دي او په سورة حج كي دوې سجدې دي . ابوداؤد او ابن ماجه . |

**د دوو سجدو په وجه د سورة حج فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۹۶۳): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ فُضِّلَتْ سُوْرَةُ الْحَجِّ بِأَنَّ فِيْهَا سَجْدَتَيْنِ ؟ قَالَ نَعَمْ وَمَنْ لَمْ يَسْجُدْهُمَا فَلَا يَقْرَأْهُمَا . رواه أبو داود | د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دى چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وكړ اى دالله رسوله ! سورة حج ته فضيلت وركړل سوى دى له دې كبله چي په دې كي دوې سجدې دي، |

والترمذي وقال هذا حديث ليس إسناده بالقوي . وفي المصابيح فلا يقرأها كما في شرح السنة .

رسول الله ﷺ وفرمايل : هو، او څوك چي دا دواړي سجدې نه كوي هغه دي دا دواړه آياتونه نه وايي . ابودؤد او ترمذي .

**د سورة الم تنزيل السجده سجده**

(٩٦٤): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ فِي صَلَاةِ الظُّهْرِ ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ فَرَأَوْا أَنَّهُ قَرَأَ تَنْزِيْلَ السَّجْدَةِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسوٗل الله ﷺ د ماپښين په لمانځه كي سجده وكړه بيا ودريدی بيا يې ركوع وكړه صحابه كرامو دا خيال سو چي رسول الله ﷺ په لمانځه كي (سورة) الم تنزل السجدة ويلی دی، ابوداؤد.

**سجده پر اوربدونكي او ويونكي دواړو واجب ده**

(٩٦٥): وَعَنْه أَنَّهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَيْنَا الْقُرْآنَ فَإِذَا مَرَّ بِالسَّجْدَةِ كَبَّرَ وَسَجَدَ وَسَجَدْنَا مَعَهُ . رواه أبو داود

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به زموږ په وړاندي قرآن وايه او كله چي به د سجدې آيت راغلی نو رسول الله ﷺ به الله اكبر وايه سجده به يې كول او موږ به هم ورسره سجده كول. ابوداؤد.

(٩٦٦): وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ عَامَ الْفَتْحِ سَجْدَةً فَسَجَدَ النَّاسُ كُلُّهُمْ مِنْهُمُ الرَّاكِبُ وَالسَّاجِدُ عَلَى الْأَرْضِ حَتَّى إِنَّ الرَّاكِبَ لَيَسْجُدُ عَلَى يَدِهِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د مكې د فتح په كال د سجدې يو آيت تلاوت كړ د رسول الله ﷺ سره ټولو سجده وكړه په هغوئ كي ځيني سپاره وه او ځيني پر مځكه سجده وكړه تر دې چي سپرو خلكو پر خپلو لاسو سجده وكړه . ابوداؤد

**په مفصل سورتو كي سجده نه كول**

(٩٦٧): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسْجُدْ فِيْ شَيْءٍ مِّنَ الْمُفَصَّلِ مُنْذُ تَحَوَّلَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ مدينې ته د تشريف راوړلو وروسته د مفصل سورتو څخه په يوه سورت كي هم سجده ونه كړل. ابوداؤد

**د سجده تلاوت تسبيح**

(٩٦٨): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ سُجُوْدِ الْقُرْآنِ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د قرآن كريم د تلاوت په سجدو

بِاللَّيْلِ سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِيْ خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وقال الترمذي هذا حديث حسن صحيح .

كي د شپې دا ويل (زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چي په خپل قدرت سره يې پيدا کړ غوږونه يې ورته جوړ کړل او سترګي يې ورکړې).

﴿۹۶۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ رَأَيْتُنِي اللَّيْلَةَ وَأَنَا نَائِمٌ كَأَنِّي أُصَلِّي خَلْفَ شَجَرَةٍ فَسَجَدْتُ فَسَجَدَتْ الشَّجَرَةُ لِسُجُودِي وَسَمِعْتُهَا وَهِيَ تَقُولُ اللّٰهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَقَرَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجْدَةً ثُمَّ سَجَدَ فَسَمِعْتُهُ وَهُوَ يَقُولُ مِثْلَ مَا أَخْبَرَهُ الرَّجُلُ عَنْ قَوْلِ الشَّجَرَةِ. رواه الترمذي وابن ماجه الا انه لم يذكر و تقبلها مني كما تقبلتها من عبداك داوٗد ، وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! د شپې ما خوب وليدی چي په يوې درختي پسي لمونځ کوم ما د قرآن کريم د تلاوت سجده وکړه او درختي هم زما سره سجده وکړه بيا ما د هغې درختي څخه واوريدل (اې الله! د دې سجدې په سبب زما لپاره ثواب وليکې او دګناه بار راڅخه ليري کړې او د خان سره زما زخيره و ټاکې او زما سجده قبوله کړې څنګه چي تا د خپل بنده داؤد سجده قبوله کړه) ابن عباس وايي رسول الله ﷺ د سجدې يو آيت تلاوت کړ او سجده يې وکړه او ما واوريدل چي رسول الله ﷺ همداسي ويل څنګه چي هغه سړي د درختي پېښه بيان کړې وه يعني رسول الله ﷺ هم دا دعاء وکړل.

## دريم فصل

### د سورة والنجم سجده

﴿۹۷۰﴾: عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ (وَالنَّجْمِ) فَسَجَدَ فِيْهَا وَسَجَدَ مَنْ كَانَ مَعَهُ غَيْرَ أَنَّ شَيْخًا مِّنْ قُرَيْشٍ أَخَذَ كَفًّا مِنْ حَصًى أَوْ تُرَابٍ فَرَفَعَهُ إِلَى جَبْهَتِهِ وَقَالَ يَكْفِيْنِيْ هٰذَا قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدُ قُتِلَ كَافِرًا . وزاد البخاري في رواية وهو أمية بن خلف .

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ سورة نجم تلاوت کړ او په هغه کي يې سجده وکړل اوکوم خلك چي د رسول الله ﷺ سره موجود وه هغوئ هم سجده وکړه مګر د قريشو يو سپين ږيری سړي د شګو يا خاورو څخه لاس ډك کړ او هغه يې پر تندي وموښل او ويل يې زما لپاره دا بس ده ، ابن مسعود وايي

د دې ښېښې وروسته ما وليدل چې هغه سپين ږيرې سړى د كفر په حالت كې مړ سو . بخاري .

**د سورة ص سجده**

(۹۷۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ فِيْ (ص) وَقَالَ سَجَدَهَا دَاوُدَ تَوْبَةً وَنَسْجُدُهَا شُكْرًا . رواه النسائي .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ په سورة ص كې سجده وكړه او وه يې فرمايل : داؤد ﷺ دا سجده د توبې په ډول كړې وه او موږ يې د شكر په ډول كوو.

## بَابُ اَوْقَاتِ النَّهْيِ (د ممنوعه وختو بيان)

### لومړى فصل

**د طلوع او غروب په وخت كې لمونځ نه دى كول پكار**

(۹۷۲): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَايَتَحَرّٰى اَحَدُكُمْ فَيُصَلِّيْ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَلَا عِنْدَ غُرُوْبِهَا وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ اِذَا طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَدَعُوْا الصَّلٰوةَ حَتّٰى تَبْرُزَ وَإِذَا غَابَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَدَعُوْا الصَّلَاةَ حَتّٰى تَغِيبَ وَلَاتَحَيَّنُوْا بِصَلٰوتِكُمْ طُلُوْعَ الشَّمْسِ وَلَا غُرُوْبِهَا فَاِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ . متفق عليه.

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو كې دې هيڅوك د لمر ختلو او لمر لوېدو په وخت كې د لمانځه ا راده نه كوي، او په يوه روايت كې دا الفاظ دي هر كله چې د لمر غاړه څرګنده سي نو لمونځ پرېږدئ تر څو پورې چې هغه ښه څرګند نه سي هر كله چې د لمر غاړه ډوبه سي نو لمونځ پرېږدئ تر څو پورې چې هغه بيخي ډوب نه سي او د لمر د ختلو ،او لوېدلو په وخت كې د لمانځه اراده مه كوئ ځكه چې لمر د شيطان د دوو ښكرو په منځ كې راخيژي . بخاري اومسلم

**هغه درې وختونه په كوم كې چې لمونځ كول منع دي**

(۹۷۳): وَعَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ قَالَ ثَلَاثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَانَا اَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ اَوْ اَنْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتّٰى تَرْتَفِعَ وَحِينَ يَقُومُ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ حَتّٰى تَمِيلَ الشَّمْسُ

د حضرت عقبة بن عامر ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به موږ په درو وختو كې د لمونځ كولو څخه منع كولو او په دې درو وختو كې به يې د مړو د ښخولو (يعني د جنازې دلمانځه ) څخه منع كولو ۱: دلمر ختلو په وخت كې تر هغو چې ښه راوخيژي ۲: هغه وخت چې دغرمې سايه قائمه سي تر هغو چې د

وَحِينَ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوبِ حَتَّى تَغْرُبَ . رواه مسلم.

لمر سایه وگرځي ۳: او هغه وخت چې لمر په لوېدو وي تر څو چې ډوب سي .مسلم

**د سهار او مازدیگر وروسته لمونځ کول نه دي پکار**

(۹۷۴): وَعَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ صَلاَةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ وَلاَ صَلاَةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغِيْبَ الشَّمْسُ . متفق عليه

د حضرت ابوسعید الخدري ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د سهار دلمانځه وروسته تر څو پورې چې لمر را ونه خیژي هیڅ لمونځ نسته او د مازدیگر د لمانځه وروسته تر څو پورې چې لمر ډوب نه سي هیڅ لمونځ نسته ، مسلم او بخاري.

**د لمانځه وختونه**

(۹۷۵): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ فَقَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ فَقُلْتُ أَخْبِرْنِي عَنِ الصَّلاَةِ فَقَالَ صَلِّ صَلاَةَ الصُّبْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلاَةِ حِيْنَ تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَتّٰى تَرْتَفِعَ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ حِيْنَ تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَحِيْنَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَإِنَّ الصَّلاَةَ مَشْهُوْدَةٌ مَحْضُوْرَةٌ حَتّٰى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلاَةِ فَإِنَّ حِيْنَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ فَإِذَا أَقْبَلَ الْفَيْءُ فَصَلِّ فَإِنَّ الصَّلاَةَ مَشْهُوْدَةٌ مَحْضُوْرَةٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلاَةِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَإِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَحِيْنَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ قَالَ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ فَالْوُضُوْءَ حَدِّثْنِي عَنْهُ قَالَ مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وَضُوْءَهُ فَيَتَمَضْمَضُ وَيَسْتَنْشِقُ فَيَنْتَثِرُ إِلاَّ خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ وَفِيْهِ وَخَيَاشِيْمِهِ ثُمَّ إِذَا

د حضرت عمرو بن عبسة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته تشریف راوړ او زه هم مدینې ته راغلم او د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سوم ما عرض وکړ چې ما د لمانځه د وختو څخه خبردار کړئ ، رسول الله ﷺ راته وفرمایل : د سهار لمونځ وکړه بیا د لمانځه څخه منع سه تر څو پورې چې لمر پورته راونه خیژي ځکه چې لمر د شیطان د دوو ښکرو په منځ کې راخیژي او دغه وخت کافر لمر ته سجده کوي بیا د (اشراق) لمونځ وکړه چې ددې وخت لمونځ مشهود دی یعني په دې وخت کې ملائکې حاضرېږي او د لمونځ کونکي د لمانځه شهادت کوي بیا د لمانځه څخه منع سه تر دې چې سایه د نیزې برابر سي او پر مځکه د هغه سایه ونه غورېږي بیا د لمانځه څخه منع سه ځکه چې په دې وخت کې دوږخ گرم کیږي بیا چې سایه کښته سي نو د (ماپښین ) لمونځ وکړه ځکه چې دا

غَسَلَ وَجْهَهُ كَمَا أَمَرَهُ اللّٰهُ إِلاَّ خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ مِنْ أَطْرَافِ لِحْيَتِهِ مَعَ الْمَاءِ ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ إِلاَّ خَرَّتْ خَطَايَا يَدَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ ثُمَّ يَمْسَحُ رَأْسَهُ إِلاَّ خَرَّتْ خَطَايَا رَأْسِهِ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِهِ مَعَ الْمَاءِ ثُمَّ يَغْسِلُ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ إِلاَّ خَرَّتْ خَطَايَا رِجْلَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ فَإِنْ هُوَ قَامَ فَصَلَّى فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَمَجَّدَهُ بِالَّذِي هُوَ لَهُ أَهْلٌ وَفَرَّغَ قَلْبَهُ لِلّٰهِ إِلاَّ انْصَرَفَ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ .رواه مسلم

وخت د ملائکو د حاضرۍ دی تر دې چې ته د مازدیگر لمونځ وکړې بیادلمانځه څخه د لمر تر لوېدو پورې منع سه ځکه چې هغه د شیطان د دوو ښکرو په منځ کې ډوبیږي او په دې وخت کې کفار سجده ورته کوي ، د راوي بیان دی د دې وروسته ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! د اوداسه په اړه مې خبر کړه ، رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کې چې څوك د لاس پریوللو څخه وروسته د اوداسه اوبه راواخلي خوله پریولي بیا په پزه کې اوبه واچوي هغه سونړ کړي نو د هغه د مخ او خولې او پزې گناهونه پریولل سي بیا چې هغه مخ پریولي لکه چې امر کړی دی ده ته الله تعالی ﷻ نو د هغه برخو گناه پریولل سي چې د دواړو طرفو په جانب کې دی (یعني د ږیرې د برخو گناه) بیا چې هغه دواړه لاسونه تر څنگلو پورې پریولي نو د هغه د لاسو گناه تر گوتو پورې پریولل سي بیا چې هغه د سر مسح کوي نو په اوبو سر د سر گناه پریولل سي بیا چې هغه پښې تر بجلکو پورې پریولي نو د پښو گناه ترگوتو پورې پریولل سي بیا چې هغه ودریږي او لمونځ وکړي او دالله تعالی تعریف او صفت بیان کړي او د هغه د برزگۍ اظهار وکړي چې یې اهل دی او د هغه زړه الله ته متوجه وي نو هغه د گناهو څخه داسې پاك سي لکه نن چې د مور څخه زیږیدلی دي.

**د رسول الله ﷺ د مازدیگر وروسته دوه رکعته کول**

(۹۷۶): وَعَنْ كُرَيْبٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ أَزْهَرَ أَرْسَلُوهُ إِلَى عَائِشَةَ فَقَالُوا اقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلاَمَ وَسَلْهَا عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهَا وَبَلَّغْتُهَا مَا أَرْسَلُونِي فَقَالَتْ سَلْ أُمَّ سَلَمَةَ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِمْ فَرَدُّونِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْهُمَا ثُمَّ

د حضرت کریب څخه روایت دی چې ابن عباس مسور ، بن مخرمه او حضرت عبدالرحمن بن ازهر زه د بي بي عائشې په خدمت کې ولیږلم سلام یې ور ورسوم او چې پوښتنه ځینې وکړم چې د مازدیگر وروسته د دوو رکعتو لمانځه په اړه ستاسو څه خیال دی نو زه (کریب) د هغې په خدمت کې حاضر سوم د درو سره صحابه کرامو سلام مې ورته عرض کړ او پوښتنه مې ورته

رَأَيْتُهُ يُصَلِّيهِمَا ثُمَّ دَخَلَ فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ الْجَارِيَةَ فَقُلْتُ قُوْلِيْ لَهُ تَقُولُ أُمُّ سَلَمَةَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أَسْمَعُكَ تَنْهَى عَنْ هَاتَيْنِ الرَّكْعَتَيْنِ وَأَرَاكَ تُصَلِّيهِمَا قَالَ يَا بِنْتَ أَبِي أُمَيَّةَ سَأَلْت عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِنَّهُ أَتَانِي نَاسٌ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ فَشَغَلُونِي عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ فَهُمَا هَاتَانِ . متفق عليه

وراندي كړل ، بي بي عائشې وفرمايل د بي بي ام سلمه څخه پوښتنه وکړه زه بيرته ولاړم داسي مي ورته وويل بيا يې زه بي بي ام سلمه ته وليږلم هغې وفرمايل ما د نبي کريم ﷺ څخه اوريدلي دي چي رسول الله ﷺ به ددې دوو رکعتو څخه منع فرمايل بيا ما وليدل چي رسول الله ﷺ دا (دوه) رکعتونه کول کله چي رسول الله ﷺ دا دوه رکعته وکړل کورته راغلی نو ما د رسول الله ﷺ په خدمت کي مينځه وليږل او ام سلمه وايي چي ما ستاسو څخه ددې رکعتو په اړه منع اوريدلې ده او اوس ما وليدل چي تاسو دا دوه رکعته کوئ ، رسول الله ﷺ وفرمايل : داميه لوري تا د مازديگر وروسته د دوو رکعتو په اړه پوښتنه وکړه نو پېښه داده چي قبيله عبدالقيس ځيني خلك ما ته راغلی وه هغوئ سره په خبرو کي د ماپښين څخه وروسته دوه رکعته زما څخه پاته سول نو دا ما د مازديگر وروسته وکړل . بخاري اومسلم.

## دوهم فصل

### د سهار د سنتو د قضاء مسئله

(۹۷۷): عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ قَيْسِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلاً يُصَلِّيْ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ الرَّجُلُ إِنِّيْ لَمْ أَكُنْ صَلَّيْتُ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا فَصَلَّيْتُهُمَا الْآنَ فَسَكَتَ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .رواه أبو داود وروى الترمذي نحوه وقال إسناد هذا الحديث ليس بمتصل لأن محمد بن إبراهيم يسمع لم يسمع من قيس بن عمرو . وفي شرح السنة ونسخ المصابيح عن قيس بن قهد نحوه .

حضرت محمد بن ابراهيم د قيس بن عمرو څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ يو سړي د سهار د لمانځه وروسته پر دوه رکعته کولو باندي وليدی ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : د سهار لمونځ دوه دوه رکعته دی ، هغه سړي وويل د سهار د فرض لمانځه څخه مخکي دوه رکعته سنت ما نه وه کړي هغه ما په دې وخت کي وکړل ، (د دې په اوريدو سره) رسول الله ﷺ پټه خوله سو ، ترمذي هم دا ډول روايت کړی دی او ويلي يې دي ددې سند متصل نه دی ځکه چي محمد ابن ابراهيم د قيس بن عمر څخه نه دي اوريدلي د شرح السنة او مصابيح په نسخو کي د قيس ابن فهد څخه داسي روايت دی ، د امام شافعي په نزد که د سهار سنت پاته سي نو د لمر ختلو څخه وروسته يې قضا کيږي ، امام اعظم ابو حنيفة او

امام یوسف وایي که سنت پاته سي نو قضاء دي یې وکړي که فرض هم پاته سي نو د زوال څخه مخکي دي فرض او سنت دواړه وکړي .

**د بیت الله شریفي طواف هر وخت کیدای سي**

| | |
|---|---|
| (۹۷۸): وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا بَنِيْ عَبْدِ مُنَافٍ لَا تَمْنَعُوْا أَحَدًا طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ وَصَلَّى أَيَّةَ سَاعَةٍ شَاءَ مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي . | د حضرت جبیر بن مطعم ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي اې د عبدمناف اولاده هیڅوک ددې کور (خانه کعبه) د طواف څخه مه منع کوئ او په شپه او ورځ کي کله چي څوک غواړي لمونځ دي کوي . ترمذي،ابوداؤد اونسائي |

**د جمعي په ورځ د نصف النهار په وخت کي د لمانځه کولو مسئله**

| | |
|---|---|
| (۹۷۹): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الصَّلَاةِ نِصْفَ النَّهَارِ حَتّٰى تَزُوْلَ الشَّمْسُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ . رواه الشافعي . | د حضرت ابوهریرة ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د غرمې په وخت کي تر څو پوري چي لمر کښته نه سي د لمونځ کولو څخه منع فرمایلې ده پرته د جمعې د ورځي .شافعي . |
| (۹۸۰): وَعَنْ أَبِي الْخَلِيْلِ عَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَرِهَ الصَّلَاةَ نِصْفَ النَّهَارِ حَتّٰى تَزُوْلَ الشَّمْسُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَقَالَ إِنَّ جَهَنَّمَ تُسَجَّرُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ . رواه أبو داود وقال أبو الخليل لم يلق أبا قتادة . | حضرت ابوالخلیل د ابو قتادة ﷛ څخه روایت کوي چي نبي کریم ﷺ د غرمې په وخت کي تر څو پوري چي لمر کښته نه سي لمونځ کول مکروه ګڼي پرته د جمعې د ورځي څخه او وه یې فرمایل : دوږخ هره ورځ تودیږي مګر د جمعې په ورځ نه تودیږي . ابوداؤد. |

## دریم فصل

**مکروه وختونه**

| | |
|---|---|
| (۹۸۱): عَنْ عَبْدِ اللهِ الصُّنَابِحِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّمْسَ تَطْلُعُ وَمَعَهَا قَرْنُ الشَّيْطَانِ فَإِذَا ارْتَفَعَتْ فَارَقَهَا ثُمَّ إِذَا اسْتَوَتْ قَارَنَهَا فَإِذَا زَالَتْ فَارَقَهَا فَإِذَا دَنَتْ لِلْغُرُوْبِ قَارَنَهَا | د حضرت عبدالله الصنابحي ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چي لمر راخیژي نو د هغه سره د شیطان ښکر وي بیا چي هغه پورته سي نو بیل سي بیا چي تکنده غرمه سي نو (شیطان) بیا لمر ته راسی او د زوال پر وخت |

فَإِذَا غَرَبَتْ فَارَقَهَا وَنَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلَاةِ فِيْ تِلْكَ السَّاعَاتِ . رواه مالك وأحمد والنسائي .

ځيني ليرې سي او كله چي لمر لوېږي نو بيا (شيطان) ورته نژدې راسي او پر لوېدو باندي ځيني جلا سي او رسول الله ﷺ په دې وختو كي د لمانځه كولو څخه منع فرمايلې ده. مالك، احمد، نسائي .

**د مازديگر وروسته هيڅ لمونځ كول جائز نه دي**

﴿۹۸۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ بَصْرَةَ الْغِفَارِيِّ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُخَمَّصِ صَلَاةَ الْعَصْرَ فَقَالَ إِنَّ هٰذِهِ الصَّلَاةَ عُرِضَتْ عَلٰى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَضَيَّعُوهَا فَمَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَ لَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ وَلَا صَلَاةَ بَعْدَهَا حَتّٰى يَطْلُعَ الشَّاهِدُ وَالشَّاهِدُ النَّجْمُ. رواه مسلم

د حضرت ابوبصرة الغفاري رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ موږ ته د مخمص په ځاى كي د مازديگر لمونځ راكړ او وه يې فرمايل : دا هغه لمونځ دى چي ستاسو څخه مخكي قومو ته وړاندي سوى وو (يعني لازم كړل سوى وو او هغوئ ضائع كړ) اوس چي څوك ددې لمنځو ساتنه كوي هغه ته به دوچنده ثواب وي او د مازديگر وروسته تر څو پوري شاهد طلوع نه سي (را ونه خيژي) هيڅ لمونځ نسته او شاهد يو ستورى دى. مسلم

**د مازديگر وروسته د دوو ركعتو كولو منعه**

﴿۹۸۳﴾:وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ إِنَّكُمْ لَتُصَلُّوْنَ صَلَاةً لَقَدْ صَحِبْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْنَاهُ يُصَلِّيْهِمَا وَلَقَدْ نَهٰى عَنْهُمَا يَعْنِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ . رواه البخاري .

د حضرت معاوية رضي الله عنه څخه روايت دى چي تاسو لمونځ كوئ او موږ د رسول الله ﷺ په صحبت كي پاته سوي يو مگر موږ هيڅكله رسول الله ﷺ پر دې دوو ركعتو كولو نه دى ليدلى بلكه رسول الله ﷺ ددې كولو څخه منع فرمايلې ده يعني د مازديگر د لمانځه وروسته نفلي دوه ركعته يې منع كړي دي. بخاري

﴿۹۸۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ وَقَدْ صَعِدَ عَلٰى دَرَجَةِ الْكَعْبَةِ مَنْ عَرَفَنِيْ فَقَدْ عَرَفَنِيْ وَمَنْ لَّمْ يَعْرِفْنِيْ فَأَنَا جُنْدُبٌ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَلَا بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ إِلَّا بِمَكَّةَ إِلَّا بِمَكَّةَ إِلَّا بِمَكَّةَ . رواه أحمد ورزين .

د حضرت ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دى چي هغه د كعبې پر زينو وختى او وه يې ويل كوم څوك چي ما پيژني نو پيژني به مي او چا چي زه ونه پيژندلم نو هغه ته ښيم چي زه جندب يم ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د سهار په وخت كي تر څو پوري چي لمر راونه خيژي هيڅ

لمونځ نسته او نه د مازديګر څخه وروسته تر څو پورې چې لمر ونه لويږي خو په مكه كې خو په مكه كې خو په مكه كې خو په مكه كې . (د ابوذر نوم جندب وو) . احمد او رزين .

## بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا (د جماعت د فضيلت بيان)

### لومړی فصل

**د جماعت د لمانځه ثواب**

| | |
|---|---|
| ﴿۹۸۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلاَةُ الْجَمَاعَةِ أَفْضَلُ مِنْ صَلاَةِ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِيْنَ دَرَجَةً . متفق عليه | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په ثواب كې د جماعت لمونځ تر يوازې لمانځه اوه ويشت درجې زيات دی . بخاري اومسلم. |

**د جماعت پر پرېښودو وعيد**

| | |
|---|---|
| ﴿۹۸۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْطَبَ ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلاَةِ فَيُؤَذَّنُ لَهَا ثُمَّ آمُرَ رَجُلاً فَيَؤُمَّ النَّاسَ ثُمَّ أُخَالِفُ إِلَى رِجَالٍ . وَفِيْ رِوَايَةٍ لاَ يَشْهَدُوْنَ الصَّلاَةَ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوْتَهُمْ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَوْ يَعْلَمُ أَحَدُهُمْ أَنَّهُ يَجِدُ عَرْقًا سَمِيْنًا أَوْ مِرْمَاتَيْنِ حَسَنَتَيْنِ لَشَهِدَ الْعِشَاءَ . رواه البخاري ولمسلم نحوه . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دې مې قسم وي چې د هغه په واك كې زما روح دی ما اراده وكړل چې زه د اور لګولو حكم وركړم او بيا د لمانځه حكم وركړم بيا د لمانځه آذان وسي بيا يو امام وټاكم چې خلكو ته لمونځ وركړي بيا زه هغه خلكو ته ورسم چې لمانځه (جماعت) ته نه حاضريږي ، په يوه روايت كې دي او د هغوئ كورونه وسوځم ، په هغه ذات دې مې قسم وي |

چې د هغه په واك كې زما روح ده كه په تاسو كې چا ته دا څرګنده سي چې په جماعت كې غوړ او سور هډوكي يا د پسه يا غوا دوه نوكي تر لاسه كړي نو هغوئ به د ماخستن تر لمانځه پورې حاضر وي . بخاري او مسلم.

**د ړانده لپاره هم په جماعت كې د ګډون تاكيد**

| | |
|---|---|
| ﴿۹۸۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ أَعْمَى فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّهُ لَيْسَ لِي | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې يو ړوند سړی (عبدالله بن ام مكتوم) د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر سو او عرض يې وكړ چې اې |

قَائِدٌ يَقُودُنِي إِلَى الْمَسْجِد فَسَأَلَ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فَيُصَلِّيَ فِي بَيْتِه فَرَخَّصَ لَهُ فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ فَقَالَ هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأَجِبْ . رواه مسلم .

دالله رسوله ! جماعت ته د راوستلو زما څوك نسته بيا هغه د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي هغه ته په کور کي د لمانځه کولو اجازت ورکړي، رسول الله ﷺ اجازت ورکړ کله چي هغه روان سو نو رسول الله ﷺ بيا راوغوښتی او ورته وه يې فرمايل : ايا ته د آذان آواز اورې ؟ هغه عرض وکړ :هو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ستا لپاره جماعت ته راتلل ضروري دي . مسلم.

## د سخت يخ او باران په وجه جماعت پرېښودل جائز دي

﴿۹۸۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ أَذَّنَ بِالصَّلَاةِ فِي لَيْلَة ذَاتِ بَرْدٍ وَرِيحٍ ثُمَّ قَالَ أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذَاتُ بَرْدٍ وَمَطَرٍ يَقُولُ أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ .متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي هغه يوه يخه شپه چي هوا چليدل د لمانځه آذان وکړ بيا د آذان وروسته يې وويل : خبردار! په خپلو خپلو کورو کي لمونځ وکړئ ، ددې وروسته يې وويل رسول الله ﷺ به په داسي وخت کي چي سخت يخ او باران به وو مؤذن ته دا حکم ورکوی چي هغه په آذان کي دا هم ووايي چي آگاه سئ په خپلو خپلو کورو کي لمونځ وکړئ . بخاري اومسلم.

## د ډوډۍ څخه د فارغه کېدو وروسته لمونځ کول

﴿۹۸۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَؤُوا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلْ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُوضَعُ لَهُ الطَّعَامُ وَتُقَامُ الصَّلَاةُ فَلَا يَأْتِيهَا حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ وَإِنَّهُ لَيَسْمَعُ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي تاسو ته د شپې ډوډۍ کښېښودل سي او د لمانځه اقامت و سي نو اول ډوډۍ وخورئ او د ډوډۍ په خوړلو کي تلوار مه کوئ او په اطمينان سره د ډوډۍ څخه فارغ سئ ، د ابن عمر ﷺ مخته به د شپې ډوډۍ کښېښودل سول او لمونځ به پيل سو نو تر څو پوري چي ډوډۍ به يې نه وه خوړلې لمانځه ته به نه تلی حال دا چي د امام قرائت به يې اوريدی . بخاري اومسلم.

## د تشو او ډکو بولو پر وخت لمونځ کول نه دي پکار

﴿۹۹۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د

| | |
|---|---|
| الطَّعَامِ وَلاَ هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ . رواه مسلم | دودئ د حاضرېدو پر وخت پوره لمونځ نه |

کيږي او نه هغه وخت چي دوه نجاسته زور وکړي (يعني تشي او ډکي بولي راسي).مسلم

**د فرض لمانځه د اقامت په وخت کي بل لمونځ کول نه دي پکار**

| | |
|---|---|
| (۹۹۱): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُقِيمَتْ الصَّلاَةُ فَلاَ صَلاَةَ إِلاَّ الْمَكْتُوبَةُ . رواه مسلم | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي اقامت وسي نو د فرض لمانځه پرته بل لمونځ نه دی پکار . مسلم . |

**ښځو ته د جماعت تللو اجازه**

| | |
|---|---|
| (۹۹۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنَتِ امْرَأَةُ أَحَدِكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلاَ يَمْنَعْهَا .متفق عليه | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي د يو چا ښځه جماعت ته د تلو اجازه و غواړي نو تاسو يې مه منع کوئ . بخاري اومسلم. |

**ښځو ته د خوشبويي په لګولو سره مسجد ته تلل نه دي پکار**

| | |
|---|---|
| (۹۹۳): وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَتْ قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَهِدَتْ إِحْدَاكُنَّ الْمَسْجِدَ فَلاَ تَمَسَّ طِيبًا . رواه مسلم | د حضرت زينب (رض) څخه روايت دی چي موږ ته رسول الله ﷺ وفرمايل : په تاسو کي چي څوك جماعت ته ځي نو خوشبويي دي نه لګوي . مسلم. |

| | |
|---|---|
| (۹۹۴): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَصَابَتْ بَخُورًا فَلاَ تَشْهَدْ مَعَنَا الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ . رواه مسلم | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کومه ښځه چي بخور (خوشبويي) ولګوي نو هغه دي زموږ سره د ماخستن په لمانځه کي ګډون نه کوي .مسلم |

## دوهم فصل

**د ښځو لپاره کورونه غوره دي**

| | |
|---|---|
| (۹۹۵): عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَمْنَعُوْا نِسَاءَكُمُ الْمَسَاجِدَ وَبُيُوتُهُنَّ خَيْرٌ لَهُنَّ . رواه أبو داود . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو خپلي ښځي جماعت ته د تلو څخه مه منع کوئ مګر بيا هم د هغوئ لپاره د هغوئ کورونه غوره دي . ابوداؤد . |

## ښځو ته چیري لمونځ کول غوره دي

(۹۹۶): وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الْمَرْأَةِ فِيْ بَيْتِهَا أَفْضَلُ مِّنْ صَلَاتِهَا فِيْ حُجْرَتِهَا وَصَلَاتُهَا فِيْ مِخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِّنْ صَلَاتِهَا فِيْ بَيْتِهَا . رواه ابو داود

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د ښځي په کور کي دننه لمونځ د غولي د لمانځه څخه غوره دی او د ښځي په خونه کي لمونځ د سرای څخه غوره دی . ابوداؤد

## د ښځو په خوشبويي لګولو سره مسجد ته په تللو سره لمونځ نه قبليږي

(۹۹۷): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ إِنِّيْ سَمِعْتُ حِبِّيْ أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ امْرَأَةٍ تَطَيَّبَتْ لِلْمَسْجِدِ حَتّٰى تَغْتَسِلَ غُسْلَهَا مِنَ الْجَنَابَةِ . رواه أبو داود وروى أحمد والنسائي نحوه .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روایت دی چي ما د ابوالقاسم ﷺ څخه اوریدلي دي کومه ښځه چي مسجد ته ولاړه سي او خوشبويي ولګوي نو د هغې لمونځ نه قبليږي تر دې چي د خوشبويي لګولو څخه وروسته هغه په ښه ډول غسل وکړي داسي غسل لکه څرنګه چي د ناپاکي لپاره کيږي . ابوداؤد ،احمد او نسائي

## د ښځي خوشبويي لګول

(۹۹۸): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ عَيْنٍ زَانِيَةٌ وَإِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ بِالْمَجْلِسِ فَهِيَ كَذَا وَكَذَا . يَعْنِيْ زَانِيَةٌ . رواه الترمذي ولأبي داود والنسائي نحوه .

د حضرت ابو موسی ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هره سترګه زنا کونکې ده هر کله چي هغه پردۍ ښځي ته د شهوت په نظر وګوري او کومه ښځه چي خوشبويي و لګوي او دنارينوو پر مجلس تيره سي هغه داسي او داسي ده يعني زنا کاره ده . ترمذي ، ابوداؤد او نسائي .

## د سهار او ماخستن د لمنځو فضیلت

(۹۹۹): وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا الصُّبْحَ فَلَمَّا سَلَّمَ قَالَ أَشَاهِدٌ فُلَانٌ ؟ قَالُوْا لَا قَالَ أَشَاهِدٌ فُلَانٌ ؟ قَالُوْا لَا قَالَ إِنَّ هَاتَيْنِ الصَّلَاتَيْنِ أَثْقَلُ الصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ وَلَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا لَأَتَيْتُمُوْهَا وَلَوْ حَبْوًا عَلَى الرُّكَبِ وَإِنَّ الصَّفَّ الْأَوَّلَ عَلٰى مِثْلِ صَفِّ الْمَلَائِكَةِ

د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یوه ورځ مونږ ته د سهار لمونځ راکړی کله چي يې سلام و ګرځوی نو پوښتنه يې وکړه ایا فلان سړی حاضر دی ، اصحابو عرض وکړ :نه، وه يې ویل ایا فلان سړی حاضر دی؟ اصحابو وویل نه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل دا دوه لمنځونه یعني د ماخستن او

وَلَوْ عَلِمْتُمْ مَا فَضِيْلَتُهٗ لَابْتَدَرْتُمُوْهُ وَإِنَّ صَلَاةَ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلِ أَزْكٰى مِنْ صَلَاتِهٖ وَحْدَهٗ وَصَلَاتُهٗ مَعَ الرَّجُلَيْنِ أَزْكٰى مِنْ صَلَاتِهٖ مَعَ الرَّجُلِ وَمَا كَثُرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ . رواه أبو داود والنسائي .

سهار لمنځونه پر منافقانو تر ټولو لمنځو بوج وي که تاسو ته د دې دوارو لمنځو ثواب معلوم سي نو تاسو به په منډه بلکه پر ګونډو راځئ ، د لمانځه لومړی صف د ملائکو د صف په ډول دی که تاسو ته د لومړي صف فضيلت څرګند سي نو تاسو به ورته ژر د رارسيدو هڅه کوئ ، د سړي لمونځ د سړي سره تر يوازي لمانځه غوره دی او د دوو خلکو لمونځ تر يوه غوره دی او څومره چي خلك زيات وي د الله تعالی خوښ وي .ابوداؤد ،نسائي .

**په جماعت سره لمونځ کونکي باندي شيطان نه غالب کيږي**

(١٠٠٠): وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِيْ قَرْيَةٍ وَلَا بَدْوٍ لَا تُقَامُ فِيْهِمُ الصَّلَاةُ إِلَّا قَدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَعَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ فَإِنَّمَا يَأْكُلُ الذِّئْبُ الْقَاصِيَةَ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي .

د حضرت ابودرداء ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په کوم کلي يا ځنګل کي چي درې خلك وي او هغوئ په جماعت سره لمونځ نه کوي نو شيطان پر هغوئ غالب کيږي نو تاسو جماعت ضرور وګڼئ ځکه چي يوازي ميږه د شرمښ خوراك سي . احمد..

**بېله عذره په جماعت کي د نه ګډون کونکي لمونځ نه قبليږي**

(١٠٠١): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِيَ فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنِ اتِّبَاعِهٖ عُذْرٌ قَالُوْا وَمَا الْعُذْرُ ؟ قَالَ خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلَاةُ الَّتِيْ صَلّٰى . رواه أبو داود والدارقطني .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوك چي د مؤذن آذان واوري نوهغه دي د مؤذن د پيروي څخه پرته ديو عذر څخه نه منع کيږي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه چي عذر څه شي دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : بيره او ناروغي، بېله جماعته لمونځ نه قبليږي . ابوداؤد.

**که جماعت ودريږي او د استنجا حالت وي نو اول استنجا کول پکار دي**

(١٠٠٢): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا أُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ وَوَجَدَ أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَاءِ . رواه الترمذي وروى مالك وأبو داود والنسائي نحوه .

د حضرت عبدالله بن ارقم ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل : که اقامت وويل سي د لمانځه لپاره او په تاسو کي يو چا ته د تشو يا ډکو بولو حاجت سي نو .اول دي بولی وکړي . ترمذي .

**د درو شیانو منعه**

(۱۰۰۳): وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاَثٌ لاَ يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يَفْعَلَهُنَّ لاَ يَؤُمَّنَّ رَجُلٌ قَوْمًا فَيَخُصُّ نَفْسَهُ بِالدُّعَاءِ دُوْنَهُمْ فَإِنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ خَانَهُمْ . وَلاَ يَنْظُرْ فِيْ قَعْرِ بَيْتٍ قَبْلَ أَنْ يَسْتَأْذِنَ فَإِنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ خَانَهُمْ وَلاَ يُصَلِّ وَهُوَ حَقِنٌ حَتّٰى يَتَخَفَّفَ . رواه أبو داود وللترمذي نحوه .

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : درې شیان دي چي د هغو کول هیچا ته جائز نه دي ۱: دا چي یو څوك د مسجد امام وي او په دعاء کي هغه خپل ځان خاص کړي او جماعت پرېږدي که هغه داسي وکړل نو د جماعت خیانت یې وکړ ۲: دا چي د اجازې غوښتلو څخه وړاندي د چا کور ته وګوري که هغه داسي وکړل نو خیانت یې وکړ ۳: دا چي په داسي حالت کي دي لمونځ نه کوي چي تشي یا د کي بولي یې بندي کړي وي تر دې چي د هغه څخه فارغ نه سي او سپك سي . ابوداؤد ،ترمذي.

**د خوراک په وجه په لمانځه کي د زنډ منعه**

(۱۰۰۴): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُؤَخِّرُوْا الصَّلاَةَ لِطَعَامٍ وَّلاَ لِغَيْرِهِ . رواه في شرح السنة .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د خوراك یا بل څه کار له کبله په لمانځه کي زنډ مه کوئ . (دا حکم د تنګ وخت لپاره دی) . شرح السنة

## دریم فصل

**په جماعت سره د لمانځه تاکید**

(۱۰۰۵): عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنِ الصَّلاَةِ إِلاَّ مُنَافِقٌ قَدْ عُلِمَ نِفَاقُهُ أَوْ مَرِيضٌ إِنْ كَانَ الْمَرِيضُ لَيَمْشِي بَيْنَ رَجُلَيْنِ حَتّٰى يَأْتِيَ الصَّلاَةَ وَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَنَا سُنَنَ الْهُدٰى وَإِنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰى الصَّلاَةَ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي يُؤَذَّنُ فِيهِ وفي رواية قال من سره ان يلقى الله غدا مسلما فليحافظ على

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روا ت دی چي موږ لیدلي دي چي د منافق څخه پرته هیڅوك چي د هغه نفاق څرګند وي په جماعت سره به د لمانځه څخه نه وروسته کېدی یا ناروغ او هغه ناروغ به هم جماعت ته راتلی چي د دوو خلکو په تکیه به تلی ، ابن مسعود وایي رسول الله ﷺ موږ ته د هدایت لارې وښودلې او په هغو طریقو کي یوه طریقه لمونځ دی چي هغه په

هذه الصلوات الخمس حيث ينادي بهن فإنّ اللّهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُنَنَ الْهُدَى وَإِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى وَلَوْ أَنَّكُمْ صَلَّيْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ كَمَا يُصَلِّي هَذَا الْمُتَخَلِّفُ فِي بَيْتِهِ لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ ثُمَّ يَعْمِدُ إِلَى مَسْجِدٍ مِنْ هَذِهِ الْمَسَاجِدِ إِلاَّ كَتَبَ اللّهُ لَهُ بِكُلِّ خَطْوَةٍ يَخْطُوهَا حَسَنَةً وَيَرْفَعُهُ بِهَا دَرَجَةً وَيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلاَّ مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتَى بِهِ يُهَادَى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتَّى يُقَامَ فِي الصَّفِّ . رواه مسلم

جماعت سره وکړل سي په کوم کي چي آذان کيږي ، په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ابن مسعود وويل د کوم چا چي دا خبره خوښه وي چي هغه دي د يو پوره مسلمان په حيث سبا د الله سره ملاقات وکړي نو هغه ته پکار دي چي ددې پنځو لمنځو پابندي وکړي او هلته يې په جماعت سره ادا کړي په کوم ځای کي چي آذان کيږي او دا چي الله تعالی ستاسو د نبي لپاره د هدايت لاري ټاکلي دي او دا لمنځونه د هغه هدايت د طريقو څخه دي او که تاسو د وروسته پاته کيدونکو په ډول په کورو کي لمونځ کوئ نو تاسو به د خپل نبي د سنت څخه بېگانه او گمراه سئ او کوم څوك چي په تاسو کي پاکي تر لاسه کړي يعني په ښه ډول اودس وکړي بيا دي په مسجدونو کي يوه مسجد ته د تلو اراده وکړي چي په هغه کي به جماعت سره لمونځ کيږي نو هغه لپاره به د هر قدم په بدله کي يوه نيکي ليکل کيږي يوه درجه به لوړيږي او يوه بدي به لير کيږي ، موږ ليدلي دي چي په جماعت سره د لمانځه څخه يوازي هغه سړي وروسته کيږي چ منافق وي او د هغه نفاق ټولو ته څرگند وي او په هغه زمانه کي داسي سړی هم وو چي دوو خلـ به نيولی جماعت ته راوستی او هغه به په صف کي ودرول سو. مسلم.

### د جماعت پرېښودونکی سخت گناه کار دی

(۱۰۰۶): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلاَ مَا فِي الْبُيُوْتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالذُّرِّيَّةِ أَقَمْتُ صَلاَةَ الْعِشَاءِ وَأَمَرْتُ فِتْيَانِيْ يُحَرِّقُوْنَ مَا فِي الْبُيُوْتِ بِالنَّارِ . رواه احمد .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ وفرمايل : که په کورونو کي ښځي او ماشومان نه وای نو مابه د ماخستن لمونځ قائموی او خپلو زلمو ته به مي حکم ورکړی وای چي د هغوئ کورونو ته اور ولگوي . احمد .

### د اذان وروسته د مسجد څخه وتل

(۱۰۰۷): وَعَنْهُ قَالَ أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنْتُمْ فِي الْمَسْجِدِ فَنُوْدِيَ بِالصَّلاَةِ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته حکم راکړی دی چي هر کله تاسو

فَلاَ يَخرُجُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يُصَلِّيْ . رواه أحمد .

په مسجد کي یاست او د لمانځه لپاره آذان وسي نو تاسو تر هغه وخته د مسجد څخه مه وځي تر څو پوري چي لمونځ ونه کړئ . احمد.

(۱۰۰۸): وَعَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ قَالَ خَرَجَ رَجُلٌ مِنَ الْمَسْجِدِ بَعْدَ مَا اُذِّنَ فِيْهِ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَمَّا هٰذَا فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه مسلم

د حضرت ابوالشعشاء څخه روایت دی چي یو سړی د آذان وروسته د مسجد څخه ووتی نو ابوهریرة ﷺ وویل دې سړي د ابوالقاسم ﷺ نافرماني وکړه . مسلم

(۱۰۰۹): وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَدْرَكَهُ الْأَذَانُ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ خَرَجَ لَمْ يَخْرُجْ لِحَاجَةٍ وَهُوَ لاَ يُرِيْدُ الرَّجْعَةَ فَهُوَ مُنَافِقٌ . رواه ابن ماجه .

د حضرت عثمان بن عفان ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د آذان په وخت کي په مسجد کي وي او بیا د یو ضرورت پرته د مسجد څخه ووزي او د بیا راتلو اراده هم نه لري نو هغه منافق دي .ابن ماجه

**په ژبه او عمل سره د اذان جواب نه ورکونکي لمونځ نه قبلیږي**

(۱۰۱۰): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْهُ فَلاَ صَلاَةَ لَهُ إِلاَّ مِنْ عُذْرٍ . رواه الدارقطني .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي آذان واوریدی او د هغه جواب يې ورنه کړ (یعني په جماعت کي حاضر نه سو) نو دهغه لمونځ نسته. (یعني لمونځ یې پوره نه دی) او که د یو عذر له کبله یې داسي وکړل نو بیا پروا نسته. دار قطني .

**ړانده ته هم د جماعت پرېښودل نه دي ښکار**

(۱۰۱۱): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُمِّ مَكْتُوْمٍ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ الْمَدِيْنَةَ كَثِيْرَةُ الْهَوَامِ وَالسِّبَاعِ وَأَنَا ضَرِيْرُ الْبَصَرِ فَهَلْ تَجِدُ لِيْ مِنْ رُخْصَةٍ ؟ قَالَ هَلْ تَسْمَعُ حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ حَيَّ عَلَى الْفَلاَحِ ؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَحَيَّ هَلاً وَلَمْ يُرَخِّصْ . رواه ابو داود والنسائي .

د حضرت عبدالله بن ام مکتوم ﷺ څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اې دالله رسوله ! په مدینه کي ډیر ضررناك حیوانان او درندگان دي او زه ړوند یم ایا تاسو به ما لره د معذور گنلو له کبله په کور کي د لمانځه اجازت راکوئ ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ایا ته د حي على الصلوة حي علي الفلاح آواز اوري ؟ هغه وویل هو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل نو ته حاضرېږه او اجازه یې ورنه کړل . ابودوٗد، نسائي .

| | |
|---|---|
| (۱۰۱۲): وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ أَبُوْ الدَّرْدَاءِ وَهُوَ مُغْضَبٌ فَقُلْتُ مَا أَغْضَبَكَ ؟ قَالَ وَاللهِ مَا أَعْرِفُ مِنْ أَمْرِ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا إِلاَّ أَنَّهُمْ يُصَلُّوْنَ جَمِيْعًا . رواه البخاري . | د حضرت ام درداء (رض) څخه روایت دی چي ابودرداء په غضب ناك حالت کي راغلی ما ورته وویل دا غضب د څه دی ؟ هغه وویل په الله دي مي قسم وي زه د امت محمدیه په هیڅ نظام باندي نه پوهیږم خو یوازي په دي پوهیږم چي هغوئ په جماعت سره لمونځ کوي . بخاري . |

**د سهار د جماعت فضیلت**

| | |
|---|---|
| (۱۰۱۳): وَعَنْ أَبِيْ بَكْرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِيْ حَثْمَةَ رضي الله عنه قال ان عمربن خطاب فقد سليمان بن ابي حثمة فِيْ صَلٰوةِ الصُّبْحِ وَإِنَّ عُمَرَ غَدَا إِلَى السُّوْقِ وَمَسْكَنُ سُلَيْمَانَ بَيْنَ الْمَسْجد وَالسُّوْقِ فَمَرَّ عَلَى الشِّفَاءِ أُمِّ سُلَيْمَانَ فَقَالَ لَهَا لَمْ أَرَ سُلَيْمَانَ فِي الصُّبْحِ فَقَالَتْ إِنَّهُ بَاتَ يُصَلِّيْ فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ فَقَالَ عُمَرُ لأَنْ أَشْهَدَ صَلاَةَ الصُّبْحِ فِيْ الْجَمَاعَةِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقُوْمَ لَيْلَةً . رواه مالك . | د حضرت ابوبکر بن سلیمان څخه روایت دی چي عمر بن خطاب ﷺ د سهار په لمانځه کي سلیمان بن ابي حثمه ونه لیدی او د سلیمان کور د مسجد او بازار په منځ کي وو، حضرت عمر ﷺ د سلیمان د مور بي بي شفاء په طرف تیر سو او هغي ته یې وویل د سهار په لمانځه کي ما سلیمان ونه لیدی هغي وویل : سلیمان ټوله شپه په لمانځه کي مشغول وو د هغه سترګي د خوب څخه ډکي سوې او بیده سو ، حضرت عمر ﷺ |

ورته وویل ما ته د سهار په جماعت کي حاضریدل تر ټوله شپه عبادت غوره دی . مالك .

**د دوو کسانو جماعت کیدای سي**

| | |
|---|---|
| (۱۰۱۴): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اثْنَانِ فَمَا فَوْقَهُمَا جَمَاعَةٌ . رواه ابن ماجه . | د حضرت ابو موسی الاشعري ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دوه او د دوو څخه زیات کسان جماعت دی . ابن ماجه |

**د ښځو مسجد ته تللو مسئله**

| | |
|---|---|
| (۱۰۱۵): وَعَنْ بِلاَلِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَمْنَعُوْا النِّسَاءَ حُظُوْظَهُنَّ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِذَا اسْتَأْذَنَّكُمْ فَقَالَ بِلاَلٌ وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ أَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ | حضرت بلال بن عبدالله بن عمر د خپل پلار څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي ښځي ستاسو څخه اجازه و غواړي نو هغوئ د مسجد څخه مه منع کوئ چي هغوئ هم د جماعت څخه خپله برخه تر لاسه |

اللهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُولُ أَنْتَ لَنَمْنَعُهُنَّ . وَفِيْ رِوَايَةِ سَالِمٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ فَسَبَّهُ سَبًّا مَا سَمِعْتُهُ سَبَّهُ مِثْلَهُ قَطُّ وَقَالَ أُخْبِرُكَ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُوْلُ وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ . رواه مسلم .

کړي ، بلال وويل قسم په الله موږ به يې ضرور منع کړو ، د دې په جواب کې عبدالله وويل زه تا ته وايم چې رسول الله ﷺ ددې اجازه ورکړې او ته وايې چې موږ به هغوئ ته د تلو څخه منع کړو ، او د سالم په روايت کې دا الفاظ دي چې عبدالله د بلال په لور متوجه سو دومره بد اورد يې ورته وويل څومره چې يې هيڅکله ورته نه وه ويلي ، بيا يې ورته وويل زه تا د رسول الله ﷺ د حکم څخه اگاه کوم او ته وايې چې موږ به دوئ منع کړو . مسلم .

﴿۱۰۱۶﴾: وَعَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ يَمْنَعَنَّ رَجُلٌ أَهْلَهُ أَنْ يَّأْتُوْا الْمَسَاجِدَ . فَقَالَ ابْنٌ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ فَإِنَّا نَمْنَعُهُنَّ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ أُحَدِّثُكَ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُوْلُ هٰذَا ؟ قَالَ فَمَا كَلَّمَهُ عَبْدُ اللهِ حَتّٰى مَاتَ . رواه احمد .

حضرت مجاهد د عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوک دې خپل کورنۍ مسجد ته د تلو څخه نه منع کوي ، د عبدالله بن عمر يو زوی بلال وويل موږ خو به يې منع کوو ، عبدالله بن عمر ورته وويل زه ستا په وړاندې د رسول الله ﷺ حديث بيانوم او ته دا وايې ، د مجاهد راوي بيان دی چې عبدالله بن عمر په دې خبره د خپل زوی بلال سره تر آخره عمره پورې خبرې ونه کړې تر څو چې هغه وفات سو . احمد .

## بَابُ تَسْوِيَةِ الصَّفِّ (د صفو برابرولو بيان)

### لومړی فصل

#### د صفو برابرولو حکم

﴿۱۰۱۷﴾: عَنِ النُّعْمَانَ ابْنِ بَشِيْرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّيْ صُفُوْفَنَا حَتّٰى كَأَنَّمَا يُسَوِّيْ بِهَا الْقِدَاحَ حَتّٰى رَأَى أَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا فَقَامَ حَتّٰى كَادَ يُكَبِّرُ فَرَأَى رَجُلاً بَادِيًا

د حضرت نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به زموږ صفونه برابرول تر دې چې لکه رسول الله ﷺ چې به هغه د غشو سره برابرول تر داسې اندازې چې وه به يې ليدل چې موږ پوه سو دده په مطلب ، يوه ورځ رسول

صَدْرُهُ مِنَ الصَّفِّ فَقَالَ عِبَادَ اللّٰهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ .رواه مسلم

الله ﷺ تشريف راوړ او لمونځ دربېدو ته نژدې وو چې تکبير وسي چې رسول الله ﷺ يو سړی وليدی چې د هغه سينه د صف څخه د باندي راوتلې وه رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله بندګانو خپل صفونه برابر کړئ که نه الله به ستاسو په منځ کي اختلاف واچوي .

**ترڅو چي اول صف پوره نه سي بل صف جوړول نه دي پکار**

(١٠١٨):وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَجْهِهِ فَقَالَ أَقِيمُوْا صُفُوفَكُمْ وَتَرَاصُّوْا فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِيْ . رواه البخاري . وفي المتفق عليه قال أتموا الصفوف فإني أراكم من وراء ظهري . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي اقامت وسو دلمانځه لپاره نو رسول الله ﷺ زموږ په لور مخ کړ او وه يې فرمايل : صفونه برابر کړئ او برابر ودرېږئ زه تاسو د شا څخه هم وينم ، بخاري ، او دبخاري او مسلم په روايتونو کي دا الفاظ هم دي چي زه تاسو د شا څخه هم وينم .

**د صف برابرول د لمانځه د تکميل څخه دي**

(١٠١٩): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوُّوْا صُفُوفَكُمْ فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوفِ مِنْ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ . إِلاَّ أَنَّ عِنْدَ مُسْلِمٍ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : خپل صفونه سيده کړئ ځکه چي صفونه برابرول د لمانځه قائمولو جز دی ، په مسلم کي دا الفاظ دي چي د صفونو برابرول د لمانځه پوره والی دی . بخاري او مسلم .

**د صفو نه برابرولو په وجه په زړو اختلاف پيدا کيږي**

(١٠٢٠): وَعَنْ أَبِي مَسْعُوْدِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلَاةِ وَيَقُولُ اسْتَوُوا وَلَا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ قَالَ أَبُو مَسْعُوْدٍ فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ أَشَدُّ اخْتِلَافًا. رواه مسلم

د حضرت ابومسعود انصاري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په لمانځه کي زموږ پر اوږو لاس کښېښودی او فرمايل يې سيده درېږئ او اختلاف مه کوئ په اختلاف سره به ستاسو زړونه هم مختلف سي او په تاسو کي چي څوک بالغ وي ما ته دي نژدې وي او بيا هغه خلك چي هغوئ ته نژدې وي او بيا هغه چي هغوئ ته نژدې وي، ابومسعود وايي نن سبا تاسو د رسول الله ﷺ د دې حکم خلاف ورزي کوئ . مسلم.

## په مسجدو کي شور کول نه دي پکار

(۱۰۲۱): وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَلِيَنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهٰى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثَلٰثًا وَإِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الْأَسْوَاقِ . رواه مسلم

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته نژدې دي هغه خوك وي چي بالغ او عقلمند وي بیا په عقل او بلوغ کي هغوئ ته نژدې او بیا هغوئ ته نژدې او بیا هغوئ ته نژدې درې واره یې دغه وفرمایل، او تاسو خپل ځان په مسجد کي د داسي شور څخه ساتئ لکه څرنگه چي په بازار کي کوئ . مسلم .

(۱۰۲۲): وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قال راى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَصْحَابِهِ تَأَخُّرًا فَقَالَ لَهُمْ تَقَدَّمُوا وَأْتَمُّوا بِي وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ حَتّٰى يُؤَخِّرَهُمُ اللّٰهُ. رواه مسلم

د حضرت ابوسعید خدري ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ خپل اصحاب ولیدل چي وروسته په لمانځه کي درېږي او لومړیو صفو ته نه راځي، رسول الله ﷺ وفرمایل :رامخکي سئ او زما اقتداء کوئ او ستاسو اقتداء دي هغه څوك کوي چي ستاسو څخه وروسته راسي یوه ډله به تل د وروسته کیدو هڅه کوي تر دې چي الله به هغوئ وروسته و غورځوي . مسلم.

## صفونه برابر او پوره کول پکار دي

(۱۰۲۳): وَعَنْ جَابِرِ ابْنِ سَمُرَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَآنَا حَلَقًا فَقَالَ مَالِي أَرَاكُمْ عِزِينَ قَالَ ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا فَقَالَ أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا قَالَ يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْأُوَلَ وَيَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ. رواه مسلم

د حضرت جابر بن سمرة ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زموږ په لور تشریف راوړ او موږ یې په حلقو کي ناست ولیدلو او وه یې فرمایل په تاسو څه وسول چي زه تاسو په بیلو بیلو ډلو کي وینم ، د دې پېښي وروسته رسول الله ﷺ یو ځل بیا تشریف راوړ او وه یې فرمایل : تاسو په لمانځه کي داسي صفونه ولي نه جوړوئ لکه څرنگه چي ملائکي د خپل پروردگار په حضور کي جوړوي موږ عرض وکړ اې د الله رسوله ملائکي د خپل رب په حضور کي څنگه صفونه جوړوي ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : هغوئ لومړي صفونه پوره کوي او په صفو کي جُخت (نژدې نژدې) درېږي .مسلم

### د نارینوو او ښځو غوره صف کوم یو دی؟

(۱۰۲۴): وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا وَشَرُّهَا آخِرُهَا وَخَيْرُ صُفُوفِ النِّسَاءِ آخِرُهَا وَشَرُّهَا أَوَّلُهَا. رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د نارينوو په صف کي تر ټولو غوره صف لومړی صف دی او تر ټولو خراب د پای صف دی او په ښځينوو کي تر ټولو غوره د پای صف دی او بدترين لومړی صف دی. مسلم.

## دویم فصل

### په صفو کي خالي ځای پرېښودل نه دي پکار

(۱۰۲۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رُصُّوا صُفُوفَكُمْ وَقَارِبُوا بَيْنَهَا وَحَاذُوا بِالْأَعْنَاقِ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَرَى الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ كَأَنَّهَا الْحَذَفُ . رواه أبو داود .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: صفونه جخت (پیوست) ساتئ او نژدې نژدې يې ولرئ او غاړې برابري لرئ، قسم دي مي په هغه ذات وي چي د هغه په واك کي زما روح دی زه د صفو په چاکو (درزونو) کي شيطان ننوتونکی وينم لکه هغه (شيطان) چي د توري بزې زوی دی. ابوداؤد.

### صفونه پوره کړئ

(۱۰۲۶): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتِمُّوا الصَّفَّ الْمُقَدَّمَ ثُمَّ الَّذِي يَلِيهِ فَمَا كَانَ مِنْ نَقْصٍ فَلْيَكُنْ فِي الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ . رواه أبو داود .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: لومړی اول صف پوره کړئ بيا د هغه پسې او که يو صف کميږي نو اخيري صف دي کم سي. ابوداؤد

### د اول صف فضيلت

(۱۰۲۷): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الَّذِينَ يَلُونَ الصُّفُوفَ الْأُولَى وَمَا مِنْ خُطْوَةٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ خُطْوَةٍ يَمْشِيهَا يَصِلُ بِهَا صَفًّا . رواه أبو داود .

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به فرمايل: الله ﷻ او د هغه ملائکي پر هغه خلکو رحمتونه نه نازلوي کوم چي لومړي صف ته نژدې وي او هيڅ قدم د الله په نزد دومره غوره نه دی مگر کوم چي د صف پوره کولو يا ډکولو لپاره پورته سي. ابوداؤد.

**په صف کي راسته خوا ته درېدل غوره دي**

| | |
|---|---|
| (۱۰۲۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلٰى مَيَامِنِ الصُّفُوْفِ . رواه أبو داود . | د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله ﷻ او د هغه ملائکي د صفو پر راسته لور خلکو باندي رحمت نازلوي .ابوداؤد. |

**رسول الله ﷺ د صفو برابرولو وروسته لمونځ شروع کوی**

| | |
|---|---|
| (۱۰۲۹): وَعَنِ النُّعْمَانَ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّيْ صُفُوْفَنَا إِذَا قُمْنَا إِلَى الصَّلَاةِ فَإِذَا اسْتَوَيْنَا كَبَّرَ . رواه أبو داود . | د حضرت نعمان بن بشیر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به زموږ صفونه برابرول کله چي به صفونه سیده سول نو رسول الله ﷺ به تکبیر تحریمه وایه . ابوداؤد. |
| (۱۰۳۰): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَنْ يَّمِيْنِه اِعْتَدِلُوْا سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ وَعَنْ يَّسَارِه اِعْتَدِلُوْا سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ . رواه أبو داود . | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د خپل راسته لور خلکو ته فرمایل سیده ودرېږئ او صفونه برابر کړئ او د چپه لور خلکو ته به يې فرمایل : سیده ودرېږئ او صفونه برابر کړئ. ابوداؤد . |

**په لمانځه نرمه ورو والا غوره دی**

| | |
|---|---|
| (۱۰۳۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خِيَارُكُمْ أَلْيَنُكُمْ مَنَاكِبَ فِي الصَّلَاةِ . رواه أبو داود . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي تر ټولو غوره خلك هغه دي چي د هغوئ اوږې په لمانځه کي نرمې وي . ابوداؤد |

## دریم فصل

| | |
|---|---|
| (۱۰۳۲): عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اسْتَوُوْا اسْتَوُوْا اسْتَوُوْا فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِه إِنِّيْ لَأَرَاكُمْ مِنْ خَلْفِيْ كَمَا أَرَاكُمْ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ . رواه أبو داود . | د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به لمانځه ته ودریدی نو فرمایل یې برابر کړئ، برابر کړئ، برابر کړئ برابر کړئ (یعني صفونه)، زما دي په هغه ذات قسم وي چي د هغه په لاس |

کي زما روح دی زه تاسو د خپل شا څخه هم وینم لکه څرنگه چي مو وړاندي وینم . ابوداؤد .

**د اول صف په مقابله کې د دويم صف فضيلت کم دی**

﴿۱۰۳۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ وَعَلَى الثَّانِيْ قَالَ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ وَعَلَى الثَّانِيْ قَالَ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ وَعَلَى الثَّانِيْ قَالَ وَعَلَى الثَّانِيْ وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ وَحَاذُوْا بَيْنَ مَنَاكِبِكُمْ وَلِيْنُوْا فِيْ أَيْدِيْ إِخْوَانِكُمْ وَسُدُّوْا الْخَلَلَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ فِيْمَا بَيْنَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْحَذَفِ يَعْنِيْ أَوْلَادَ الضَّأْنِ الصِّغَارِ . رواه أحمد .

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی او د هغه ملائکې پر لومړي صف باندې رحمت نازلوي ، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله پر دويم صف؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :الله او د هغه ملائکي پر لومړي صف رحمت نازلوي، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله او پر دويم صف ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : الله او د هغه ملائکې پر لومړي صف رحمت نازلوي ، صحابه کرامو عرض اې دالله رسوله او پر دويم صف ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل او پر دويم صف هم، د دې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : خپل صفونه برابر کړئ او اوږې نژدې ساتئ او د خپلو ورونو په منځ کې نرم اوسئ او خالي ځايونه ډک کړئ ځکه چې شيطان د توري بزې د بچي په ډول ستاسو په منځ کې داخليږي . احمد

﴿۱۰۳۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقِيْمُوا الصُّفُوْفَ وَحَاذُوْا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَسُدُّوْا الْخَلَلَ وَلِيْنُوْا بِأَيْدِيْ إِخْوَانِكُمْ وَلَاتَذَرُوْا فُرُجَاتِ الشَّيْطَانِ وَمَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللهُ وَمَنْ قَطَعَهُ قَطَعَهُ اللهُ . رواه أبو داود والنسائي منه قوله ومن وصل صفا . إلى أخره .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : صفونه برابر کړئ اوږې يو ځای کړئ او خالي ځايونه ډک کړئ د خپلو ورونو په لاسونو کې نرم اوسئ شيطان لپاره په خپلو صفونو کې درزونه مه پريږدئ او کوم چا چې صف سم کړی الله به هغه په خپل رحمت او فضل سره يو ځای کړي او چا چې صف مات کړ الله به هغه د خپل رحمت څخه ليرې کړي .

**امام دې په منځ کې وي**

﴿۱۰۳۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَسَّطُوا الْإِمَامَ وَسُدُّوْا الْخَلَلَ . رواه أبو داود .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : امام په منځ کې لرئ او درزونه (خالي ځايونه) ډک کړئ . ابوداؤد.

**په اول صف کي پر ګډون نه کولو وعید**

(۱۰۳۶): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ عَنِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ فِي النَّارِ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تل به یو قوم د لومړي صف څخه وروسته پاته کیږي تر دې چي الله به هغوئ په دوزخ کي و غورزوي . ابوداؤد.

**په یوازي صف کي لمونځ کول**

(۱۰۳۷): عَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ قَالَ رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلاً يُصَلِّيْ خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ فَأَمَرَهُ أَنْ يُعِيْدَ الصَّلَاةَ . رواه أحمد والترمذي وأبو داود وقال الترمذي هذا حديث حسن .

د حضرت وابصة بن معبد ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ یو سړی ولیدی چي په یوازي صف کي یې شاته لمونځ کوی ، رسول الله ﷺ هغه ته د لمانځه بیا کولو حکم ورکړ . احمد ،ترمذي او ابوداؤد .

# بَابُ الْمَوْقِفِ

## ( د امام او مقتدي د دریدو د ځای بیان )

## لومړی فصل

**که د دوو کسانو جماعت وي نو ...**

(۱۰۳۸): عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ فِيْ بَيْتِ خَالَتِي مَيْمُونَةَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَ بِيَدِي مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ فَعَدَلَنِيْ كَذٰلِكَ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ إِلَى الشِّقِّ الْأَيْمَنِ. متفق عليه

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روایت دی چي یوه شپه زه د خپل خاله میمونې سره پاته وم ، رسول الله ﷺ د شپې راپورته سو او لمونځ یې کوی زه هم چپه طرف ته ودریدم رسول الله ﷺ د شا د خوا څخه په خپل لاس سره زما لاس ونیوی او زه یې خپل راسته طرف ته راکش کړم . بخاري اومسلم

**د درو کسانو جماعت**

(۱۰۳۹): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّيَ فَجِئْتُ حَتَّى قُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَ بِيَدِي فَأَدَارَنِي حَتَّى أَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ دلمانځه لپاره ولاړ سو چپه طرف ته یې زه ودریدم رسول الله ﷺ زما لاس ونیوی او زه یې

ثُمَّ جَاءَ جَبَّارُ بْنُ صَخْرٍ فَقَامَ عَنْ يَسَارِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ بِيَدَيْنَا جَمِيعًا فَدَفَعَنَا حَتّٰى أَقَامَنَا خَلْفَهُ. رواه مسلم

راسته طرف ته راوستم بیا جبار بن صخر راغلی او هغه د رسول الله ﷺ چپه طرف ته ودریدی رسول الله ﷺ زموږ د دواړو لاسونه ونیول او شا ته يې کړو تر دې چې رسول الله ﷺ موږ په ځان پسې شا ته ودرولو. مسلم.

**ښځې دې څرنګه ودرېږي؟**

(١٠٤٠): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ صَلَّيْتُ أَنَا وَيَتِيمٌ فِي بَيْتِنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُمُّ سُلَيْمٍ خَلْفَنَا. رواه مسلم.

د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چې ما او یتیم (د انس ورور) په خپل کور کې په رسول الله ﷺ پسې لمونځ وکړ او بي بي ام سلیم په موږ پسې شاته ولاړه وه

(١٠٤١): وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِهِ وَبِأُمِّهِ أَوْ خَالَتِهِ قَالَ فَأَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ وَأَقَامَ الْمَرْأَةَ خَلْفَنَا. رواه مسلم

د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د انس او د هغه د مور بي بي ام سلیم یا خاله سره لمونځ وکړ، انس وایي رسول الله ﷺ زه خپل راسته خوا ته کړم او ښځه یې زموږ وروسته کړه. مسلم

(١٠٤٢): وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّهُ انْتَهٰى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ رَاكِعٌ فَرَكَعَ قَبْلَ أَنْ يَصِلَ إِلَى الصَّفِّ ثُمَّ مَشٰى إِلَى الصَّفِّ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ زَادَكَ اللّٰهُ حِرْصًا وَلَا تَعُدْ. رواه البخاري.

د حضرت ابوبکرة ؓ څخه روایت دی چې زه نبي کریم ﷺ ته هغه وخت ورسیدم چې هغه پر رکوع وو او مخکې ددې څخه چې هغه صف ته ورسي رکوع یې وکړل بیا صف ته ورغلی، وروسته یې ددې یادونه رسول الله ﷺ ته وکړل، رسول الله ﷺ وفرمایل: الله دې ستا حرص زیات کړي مګر بیا داسې مه کوه. بخاري.

## دوهم فصل

**د درو کسانو جماعت ...**

(١٠٤٣): عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنَّا ثَلَاثَةً أَنْ يَتَقَدَّمَنَا أَحَدُنَا. رواه الترمذي.

د حضرت سمرة بن جندب ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ موږ ته حکم راکړ چې کله موږ درې کسه یو نو په موږ کې دې یو امام سي. ترمذي

## امام ته لوړ دریدل نه مکروه دي

(۱۰۴۴): وَعَنْ عَمَّارٍ أَنَّه أَمَّ النَّاسَ بِالْمَدَائِنِ وَقَامَ عَلَى دُكَّانٍ يُصَلِّيْ وَالنَّاسُ أَسْفَلَ مِنْهُ فَتَقَدَّمَ حُذَيْفَةُ فَأَخَذَ عَلَى يَدَيْهِ فَاتَّبَعَهُ عَمَّارٌ حَتَّى أَنْزَلَهُ حُذَيْفَةُ فَلَمَّا فَرَغَ عَمَّارٌ مِنْ صَلَاتِه قَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ أَلَمْ تَسْمَعْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِذَا أَمَّ الرَّجُلُ الْقَوْمَ فَلَا يَقُمْ فِيْ مَقَامٍ أَرْفَعَ مِنْ مَقَامِهِمْ أَوْ نَحْوَ ذٰلِكَ ؟ فَقَالَ عَمَّارٌ لِذٰلِكَ اتَّبَعْتُكَ حِيْنَ أَخَذْتَ عَلَى يَدَيَّ . رواه أبو داود .

د حضرت عمار ﷺ څخه روایت دی چي ما په مدائن کي خلکو ته امامت ورکړ زه پر یو دوکانچه ( لوړ ځای ) ودریدم او خلك کښته ، حضرت حذیفة را مخته سو زما (عمار) لاس یې ونیوی او ورسره را روان سوم تر څو چي لاندي یې را کښته کړم ، بیا چي د لمانځه څخه فارغ سو نو حذیفة عمار ته وویل ایا تا د رسول الله ﷺ څخه دا نه دي اوریدلي چي هر کله یو سړی د مسجد امامت کوي نو تر مقتدیانو دي پر لوړ ځای نه دریږي یا داسي نور الفاظ یې وفرمایل، عمار وویل کله چي تا زما لاس ونیوی او راکښته دي کړم نو له دې کبله ما ستا پیروي وکړه او را کښته سوم . ابوداؤد.

## د تعلیم لپاره امام پر لوړ ځای دریدای سي

(۱۰۴۵): وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّهُ سُئِلَ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ الْمِنْبَرُ ؟ فَقَالَ هُوَ مِنْ أَثْلِ الْغَابَةِ عَمِلَهُ فُلَانٌ مَوْلَى فُلَانَةَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَامَ عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ عُمِلَ وَوُضِعَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَكَبَّرَ وَقَامَ النَّاسُ خَلْفَهُ فَقَرَأَ وَرَكَعَ وَرَكَعَ النَّاسُ خَلْفَهُ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرٰي فَسَجَدَ عَلَى الْأَرْضِ ثُمَّ عَادَ إِلَى الْمِنْبَرِ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرٰي حَتَّى سَجَدَ بِالْأَرْضِ . هٰذَا لفظ البخاري وفي المتفق عليه نحوه وقال في آخره فلما فرغ أقبل على الناس فقال أيها الناس إنما صنعت هذا لتأتموا بي ولتعلموا صلاتي .

د حضرت سهل بن سعدالساعدي ﷺ څخه روایت دی چي د هغه څخه پوښتنه وسول چي د رسول الله ﷺ منبر د څه شي څخه جوړ وو؟ هغه وویل چي د جهاؤ (د غره یو درخته) څخه فلاني سړي چي د فلانۍ ښځي آزاد کړی غلام وو د رسول الله ﷺ لپاره جوړ کړی وو کله چي هغه تیار سو او په مسجد کي کښېښودل سو نو رسول الله ﷺ هغه د قبلې په لور ودروی ، رسول الله ﷺ تکبیر ووایه او خلك په هغه پسي ودریدل ، رسول الله ﷺ قرآن کریم ووایه او رکوع یې وکړل ، د رسول الله ﷺ شا ته خلکو هم رکوع وکړل بیا یې سر پورته کړ بیا رسول الله ﷺ مخکي ته را کښته سو او پر مځکه یې سجده وکړه بیا یې منبر ته تشریف یووړ او قرائت یې ووایه بیا یې رکوع وکړه بیا یې د رکوع څخه سر راپورته کړ بیا مځکي

ته راکښته سو او سجده يې وکړه (دا الفاظ د بخاري دي) بخاري او مسلم په دې ډول يو بل حديث هم بيان کړی دی او په پای کې يې ويلي دي چې کله رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو خلکو ته متوجه سو او وه يې فرمايل: خلکو! دا ما ددې لپاره وکړل چې تاسو زما پيروي وکړئ او زما لمونځ زده کړئ.

**په اعتکاف کې د رسول الله ﷺ امامت**

(١٠۴٦): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حُجْرَتِهِ وَالنَّاسُ يَأْتَمُّوْنَ بِهِ مِنْ وَرَاءِ الْحُجْرَةِ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ په خپلې حجرې (خونه) کې لمونځ وکړ او خلکو د حجرې څخه دباندې د رسول الله ﷺ اقتداء کول. ابوداؤد.

## دريم فصل

**د صف برابرولو طريقه**

(١٠۴٧): عَنْ أَبِيْ مَالِكِ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ أَلاَ أُحَدِّثُكُمْ بِصَلاَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ أَقَامَ الصَّلاَةَ وَصَفَّ الرِّجَالَ وَصَفَّ خَلْفَهُمُ الْغِلْمَانَ ثُمَّ صَلَّى بِهِمْ فَذَكَرَ صَلاَتَهُ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا صَلاَةُ قَالَ عَبْدُ الْأَعْلَى لاَ أَحْسِبُهُ إِلاَّ قَالَ أُمَّتِيْ . رواه أبو داود .

د حضرت ابومالك اشعري ؓ څخه روايت دی چې ما خلکو ته وويل ايا زه تاسو ته د رسول الله ﷺ د لمانځه کيفت بيان نکړم ؟ رسول الله ﷺ لمانځه ته ودريدی او د خلکو صفونه يې جوړ کړل بيا په هغه صف پسي وروسته يې هلکان ودرول او د هغه وروسته يې لمونځ ورکړ همداسي هغه د رسول الله ﷺ د لمانځه يادونه وکړه او وه يې ويل دا وو د رسول الله ﷺ لمونځ، عبدالاعلى وويل زما خيال دی ابومالك وويل چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت لمونځ داسي دی. ابوداؤد.

(١٠۴٨): وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عَبَّادٍ قَالَ بَيْنَا أَنَا فِي الْمَسْجِدِ فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ فَجَبَذَنِيْ رَجُلٌ مِنْ خَلْفِيْ جَبْذَةً فَنَحَّانِيْ وَقَامَ مَقَامِيْ فَوَاللهِ مَا عَقَلْتُ صَلاَتِيْ . فَلَمَّا انْصَرَفَ إِذَا هُوَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ فَقَالَ يَا فَتٰى لاَ يَسُوْءُكَ اللهُ إِنَّ هٰذَا عَهْدٌ مِّنَ النَّبِيِّ صَلَّى

د حضرت قيس بن عباد ؓ څخه روايت دی چې کله زه په مسجد کې دننه په لومړي صف کې وم نو يو سړي د شا د خوا څخه کښولم زه يې يوې خوا ته کړم او زما پر ځای ودريدی ، په الله دې مي قسم وي د غصې له کبله زه په لمانځه پوه نه سوم بيا چې هغه سړی د لمانځه څخه فارغ سو نو

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا أَنْ نَلِيَهُ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَقَالَ هَلَكَ أَهْلُ الْعَقْدِ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ وَاللّٰهِ مَا عَلَيْهِمْ آسٰى وَلٰكِنْ آسٰى عَلٰى مَنْ أَضَلُّوْا . قُلْتُ يَا أَبَا يَعْقُوْبَ مَا تَعْنِيْ بِأَهْلِ الْعَقْدِ ؟ قَالَ الْأُمَرَاءُ . رواه النسائي .

وينم چي هغه سړی ابی بن کعب وو هغه ما ته وويل اې زلميه ! الله تعالى رپ تا زما ددې کار له کبله غمجن نه کړي دا د نبي کريم ﷺ موږ ته وصيت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره نژدې ودريږو ، د دې وروسته هغه مخ پر قبله سو او درې خله يې وويل د کعبې په رب دې مي قسم وي سرداران هلاك سول د دې وروسته يې وويل : قسم په الله زما سره د سردارانو يا امامانو غم نسته مګر زه په هغه خلکو خفه يم څوك چي دوئ ګمراه کوي ، د راوي بيان دي چي ما د ابی بن کعب څخه پوښتنه وکړه چي د اهل عقد څخه ستا سو څوك مراد دی ؟ هغه وويل د قوم اميران . نسائي .

## بَابُ الْاِمَامَةِ (د امامت بيان)

### لومړی فصل

**د لمانځه مستحق څوك دی ؟**

(۱۰۴۹): عَنْ أَبِي مَسْعُوْد رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللّٰهِ فَإِنْ كَانُوا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً فَأَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ فَإِنْ كَانُوا فِي السُّنَّةِ سَوَاءً فَأَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً فَإِنْ كَانُوا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً فَأَقْدَمُهُمْ سِنًّا وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلَ الرَّجُلَ فِي سُلْطَانِهِ وَلَا يَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ عَلَى تَكْرِمَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ. رواه مسلم و في رواية له ولايؤمن الرجل الرجل في اهله.

د حضرت ابومسعود انصاري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مسجد امامت دي هغه څوك کوي چي قرآن کريم په ټولو کي ښه وايي بيا که ټول يې ښه وايي نو د دين په احکامو ښه پوهيدونکی دي امامت کوي بيا که ټول داسي وي نو کوم يو چي مخکي هجرت کړی وي هغه ته امامت کول پکار دي بيا که په هجرت کي ټول يو ډول وه نو د زيات عمر خاوند دي امامت وکړي هيڅوك دي د چا د واك پر ځای امامت نه کوي او نه دي څوك د چا په کور کي د هغه پر مسند کښيني البته هلته که چيري اجازه ورته وکړل سي . مسلم ، او د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ هيڅوك دي د چا په کور کي امامت نه کوي .

(۱۰۵۰): وَعَنْ أَبِي سَعِيد رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانُوا

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي تاسو درې

ثَلاثَةً فَلْيَؤُمَّهُمْ أَحَدُهُمْ وَأَحَقُّهُمْ بِالإِمَامَةِ أَقْرَؤُهُمْ. رواه مسلم وفي ذكر حديث مالك ابن الحويرث في باب بعد باب فضل الاذان.

ياست نو يو امام جوړ کړئ او په دوئ کي د امامت زيات وړ هغه څوك دى چي زيات عالم وي، مسلم، د مالك بن حويرث حديث د آذان د غوره والى د احکامو څخه وروسته بيان سوى دى.

## دوهم فصل

(۱۰۵۱): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُؤَذِّنْ لَكُمْ خِيَارُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ قُرَّاؤُكُمْ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي په تاسو تولو کي غوره وي نو هغه دي آذان وکړي او څوك چي تر ټولو ښه قرآن کريم وايي نو هغه دي امامت وکړي . ابوداؤد.

(۱۰۵۲): وَعَنْ أَبِي عَطِيَّةَ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ كَانَ مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ يَأْتِينَا الى مُصَلاَّنَا يَتَحَدَّثُ فَحَضَرَتِ الصَّلاَةُ يَوْمًا قَالَ اَبُوْ عَطِيَّةَ فَقُلْنَا لَهُ تَقَدَّمْ فَصَلِّهْ قَالَ لَنَا قَدِّمُوْا رَجُلاً مِّنْكُمْ يُصَلِّيْ بِكُمْ وَسَأُحَدِّثُكُمْ لِمَ لاَ أُصَلِّيْ بِكُمْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ زَارَ قَوْمًا فَلاَ يَؤُمَّهُمْ وَلْيَؤُمَّهُمْ رَجُلٌ مِنْهُمْ. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي الا انه اقتصر على لفظ النبي صلى الله عليه وسلم .

د حضرت ابو عطية العقيلي څخه روايت دى چي حضرت مالك بن حويرث زموږ مسجد ته راغلى او زموږ په وړاندي به يې د رسول الله ﷺ حديثونه بيانول ، يوه ورځ په دې خبرو کي د لمانځه وخت راغلى ابوعطيه وايي موږ د حضرت مالك څخه غوښتنه وکړه چي موږ ته دي لمونځ راكړي هغه وويل تاسو په خپلو خلكو كي يو څوك امام کړئ چي لمونځ درکړي او زه تاسو ته ښيم چي ولي لمونځ نه درکوم ددې کبله چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي کوم څوك چي يو قوم ته ورسي نو هغه دي د هغوئ امامت نه کوي بلکه د هغوئ امامت دي د هغوئ څخه يو سړى وکړي . ابوداؤد او ترمذي .

### ړوند امام جوړيداى سي

(۱۰۵۳): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ اسْتَخْلَفَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ يَؤُمُّ النَّاسَ وَهُوَ أَعْمٰى . رواه أبو داود .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ابن مکتوم چي يو ړوند سړى وو د خلكو امام و ټاکى . ابوداؤد.

## د ناخوښه امام لمونځ نه قبلیږي

(۱۰۵۴): وَعَنْ اَبِيْ اَمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاَثَةٌ لاَ تُجَاوِزُ صَلاَتُهُمْ آذَانَهُمْ اَلْعَبْدُ الْآبِقُ حَتّٰى يَرْجِعَ وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ وَإِمَامُ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُوْنَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دري کسان دي چي د هغوئ لمونځ د هغوئ د غوږونو څخه زیات نه پورته کیږي (یعني نه قبلیږي) یو هغه غلام چي د خاوند څخه تښتېدلی وي تر څو پوري چي بیرته رانه سي ، دویم د هغه ښځي چي هغه شپه په داسي حالت کې تیره کړي چي د هغې خاوند د هغې څخه ناراضه وي، دریم هغه امام چي د هغه څخه خلك نفرت کوي . .ترمذي

## د درو کسانو لمونځ نه قبلیږي

(۱۰۵۵): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلاَثَةٌ لاَ تُقْبَلُ مِنْهُمْ صَلاَتُهُمْ مَنْ تَقَدَّمَ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُوْنَ وَرَجُلٌ أَتَى الصَّلاَةَ دِبَارًا وَالدِّبَارُ أَنْ يَّأْتِيَهَا بَعْدَ أَنْ تَفُوتَهُ وَرَجُلٌ اعْتَبَدَ مُحَرَّرَةً . رواه أبو داود وابن ماجه .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دري کسان دي چي د هغوئ لمونځ نه قبلیږي یو هغه څوك چي د یو قوم امامت کوي او قوم ځیني خوشحاله نه وي، دویم هغه څوك چي لمونځ د وخت څخه وروسته (قضاء) وکړي ، او دریم هغه څوك چي آزاد سړي غلام جوړ کړي . ابوداؤد، ابن ماجه.

## د امامت څخه منعه د قیامت علامه ده

(۱۰۵۶): وَعَنْ سَلاَمَةَ بِنْتِ الْحُرِّ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَّتَدَافَعَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ لاَ يَجِدُوْنَ إِمَامًا يُصَلِّيْ بِهِمْ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه .

د حضرت سلامة بنت الحر (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د قیامت د نښو څخه یوه نښه داده چي خلك به د امامت څخه تښتي او هغوئ ته به هیڅوك لمونځ ورکونکی نه پیدا کیږي .احمد

## د فاسق امامت جائز دی

(۱۰۵۷): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْجِهَادُ وَاجِبٌ عَلَيْكُمْ مَعَ كُلِّ أَمِيْرٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ . وَالصَّلاَةُ وَاجِبَةٌ عَلَيْكُمْ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : پر تاسو جهاد واجب دی سره د هر امیر که هغه نیك وي یا بد که څه هم هغه لویه ګناه کوي او پر تاسو لمونځ واجب دی په هر مسلمان پسي که هغه نیك وي یا بد وي که څه هم

أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ . وَالصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ . رواه أبو داود .

هغه لويه گناه كوي اوجنازه كول واجب دي پر تاسو يعني پر هر مسلمان باندي كه نيك وي يا بد كه څه هم هغه لويه گناه كوي . ابوداوُد.

## دريم فصل

### د نابالغ امامت

(١٠٥٨): عَنْ عَمْرِو بْنِ سَلِمَةَ قَالَ كُنَّا بِمَاءٍ مَمَرِّ النَّاسِ يَمُرُّ بِنَا الرُّكْبَانُ نَسْأَلُهُمْ مَا لِلنَّاسِ مَا لِلنَّاسِ ؟ مَا هٰذَا الرَّجُلُ فَيَقُوْلُوْنَ يَزْعُمُ أَنَّ اللّٰهَ أَرْسَلَهُ أَوْحٰى إِلَيْهِ كَذَا . فَكُنْتُ أَحْفَظُ ذٰلِكَ الْكَلَامَ فَكَأَنَّمَا يُغْرٰى فِيْ صَدْرِيْ وَكَانَتِ الْعَرَبُ تَلَوَّمُ بِإِسْلَامِهِمُ الْفَتْحَ فَيَقُوْلُوْنَ اُتْرُكُوْهُ وَقَوْمَهُ فَإِنَّهُ إِنْ ظَهَرَ عَلَيْهِمْ فَهُوَ نَبِيٌّ صَادِقٌ فَلَمَّا كَانَتْ وَقْعَةُ الْفَتْحِ بَادَرَ كُلُّ قَوْمٍ بِإِسْلَامِهِمْ وَبَدَرَ أَبِيْ قَوْمِيْ بِإِسْلَامِهِمْ فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ جِئْتُكُمْ وَاللّٰهِ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ حَقًّا فَقَالَ صَلُّوْا صَلَاةَ كَذَا فِيْ حِيْنَ كَذَا وَصَلُّوْا كَذَا فِيْ حِيْنَ كَذَا فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ أَحَدُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْثَرُكُمْ قُرْآنًا فَنَظَرُوْا فَلَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَكْثَرَ قُرْآنًا مِنِّيْ لِمَا كُنْتُ أَتَلَقّٰى مِنَ الرُّكْبَانِ فَقَدَّمُوْنِيْ بَيْنَ أَيْدِيْهِمْ وَأَنَا ابْنُ سِتٍّ أَوْ سَبْعِ سِنِيْنَ وَكَانَتْ عَلَيَّ بُرْدَةٌ كُنْتُ إِذَا سَجَدْتُ تَقَلَّصَتْ عَنِّيْ فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْحَيِّ أَلَا تُغَطُّوْنَ عَنَّا اسْتَ قَارِئِكُمْ فَاشْتَرَوْا فَقَطَعُوْا لِيْ قَمِيْصًا فَمَا فَرِحْتُ بِشَيْءٍ فَرَحِيْ بِذٰلِكَ الْقَمِيْصِ . رواه البخاري .

د عمرو بن سلمه ﷺ څخه روايت دی چي موږ د اوبو پر يو غاړه اوسيدو چي د خلكو د تيريدو ځاى وو او پر هغه ځاى به قافلې تيريدې موږ به د مسافرو څخه پوښتنه كول چي د هغه سړي (يعني محمدﷺ په اړه د خلكو څه خيال دی ؟ خلكو به موږ ته دا بيان كوی هغه سړی دا خيال لري چي الله هغه رسول جوړ كړی دی او پر هغه وحي راځي چي دا ډول وحي وي (او هغوئ ته به يې قرآن اوروئ ) ما به هغه وحي يادولې او كومي خبري چي به هغوئ د رسول الله ﷺ په اړه كولې هغه به زما په سينه كي ساتل كيدې ، د عربو خلكو په هغه زمانه كي د مكې د فتح انتظار كوی چي مكه فتح سي نو هغوئ به اسلام قبول كړي هر كله چي به هغه د خلكو څخه دا خبري اوريدلې نو ورته ويل به يې هغه او د هغه قوم په خپل منځ كي فيصلې ته پريږدئ كه هغه پر خپل قوم غالب سي نو ريښتونی نبي دی ، بيا چي مكه فتحه سوه نو هر يو قوم په اسلام قبلولو كي تلوار وكړی او زما پلار د اسلام په راوړلو كي د خپل قوم څخه وړاندي سو هغه چي د سفر څخه راستون سو نو بيان يې وكړ چي په الله دي مي قسم وي زه تاسو ته د نبي بر حق څخه

راغلی یم ، رسول الله ﷺ مونږ ته حکم راکړی دی چې په فلاني وخت دومره او داسي لمونځ کوئ او په فلاني وخت داسي ... او هر کله چې د لمانځه وخت سي نو په مونږ کې دي یو سړی آذان وکړي او کوم څوك چې په تاسو کي په قرآن کریم زیات پوهیږي هغه دي ستاسو امامت وکړي خلکو د امام په اړه فکر وکړ مگر زما څخه زیات په قرآن کریم پوهیدونکی څوك نه ووځکه چې ما به د قافلې د خلکو څخه په پوښتنه کولو کولو سره قرآن کریم یادوی نو هغوئ زه خپل امام و ټاکلم هغه وخت زما عمر شپږ یا اووه کاله وو زما سره یوازي یو څادر وو کله چې به ما سجده کول نو هغه څادر به راشوه سو او زما کوناټي به څرگند سول د قوم یوې ښځي قوم ته وویل تاسو د خپل امام شرمگاه ولي نه پټوئ ؛ نو خلکو جامه واخیستل او زما لپاره یې قمیص جوړ کړ او زه په هغه قیمص ډیر زیات خوشحاله سوم . بخاري شریف .

## د ازاد سوي غلام امامت

| | |
|---|---|
| ﴿۱۰۵۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُوْنَ الْأَوَّلُوْنَ الْمَدِيْنَةَ كَانَ يَؤُمُّهُمْ سَالِمٌ مَوْلٰى أَبِيْ حُذَيْفَةَ وَفِيْهِمْ عُمَرُ وَأَبُوْ سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الْأَسَدِ . رواه البخاري . | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی هر کله چې لومړي مهاجرین مدینې ته راغلل نو د هغوئ امامت د ابوحذیفه د یو آزاد سوي غلام سالم کوئ حال دا چې په هغوئ کي حضرت عمر ﷺ |

او ابوسلمه بن عبدالاسد ﷺ هم شتون درلود . بخاري .

## هغه کسان چې د هغو لمونځ نه قبلیږي

| | |
|---|---|
| ﴿۱۰۶۰﴾:وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا تَرْفَعُ لَهُمْ صَلَاتُهُمْ فَوْقَ رُؤُوْسِهِمْ شِبْرًا رَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُوْنَ وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ وَأَخَوَانِ مُتَصَارِمَانِ . رواه ابن ماجه . | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : دري کسان دي چې د هغوئ لمونځ د هغوئ د سرو څخه یوه لویشت هم نه پورته کیږي (یعني نه قبلیږي) یو خو هغه امام چې د هغه څخه خلك ناخوښه وي دویم هغه |

ښځه چې هغه په داسي حال کي شپه تیره کړي چې خپل خاوند څیني ناراضه وي او دریم هغه دوه ورونه چې په خپل منځ کي یې ناخوښي وي . ابن ماجه .

# بَابُ مَا عَلَى الْاِمَامِ (د امامت واجبات)

## لومړی فصل

**لمونځ اوږدول نه دی پکار**

(۱۰۶۱): عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ إِمَامٍ قَطُّ أَخَفَّ صَلاَةً وَلاَ أَتَمَّ صَلاَةً مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ كَانَ لَيَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَيُخَفِّفُ مَخَافَةَ أَنْ تُفْتَنَ أُمُّهُ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي ما هيڅکله په يو داسي امام پسي لمونځ نه دی کړی چي د رسول الله ﷺ د لمانځه په ډول لنډ او پوره وي، (د رسول الله ﷺ دا عادت وو) چي کله به هغوئ په لمانځه کي د کوچنی د ژړا آواز واوريدی نو له دې کبله چي د هغه مور پرېشانه نه سي لمونځ لنډ کوی .بخاري اومسلم.

(۱۰۶۲): وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّيْ لَأَدْخُلُ فِي الصَّلاَةِ وَأَنَا أُرِيْدُ إِطَالَتَهَا فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ فِيْ صَلاَتِيْ مِمَّا أَعْلَمُ مِنْ شِدَّةِ وَجْدِ أُمِّهِ مِنْ بُكَائِهِ . رواه البخاري .

د حضرت ابوقتاده ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه لمونځ پيل کړم نو اراده وکړم چي اوږد لمونځ وکړم مګر کله چي زه د يو کوچنی د ژړا آواز واورم نو په دې خيال چي د هغه مور د هغه د ژړا له کبله په فکر کي نه سي خپل لمونځ مختصر کړم .بخاري

(۱۰۶۳): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِيْهِمُ السَّقِيْمَ وَالضَّعِيْفَ وَالْكَبِيْرَ . وَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِنَفْسِهِ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاءَ .متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي په تاسو کي يو څوک خلکو ته لمونځ ورکوي نو هغه ته پکار دي چي لمونځ مختصر وکړي ځکه چي په دوئ کي ناروغان هم وي کمزوري هم وي، سپين ږيري هم وي خو کله چي څوک د ځان سره لمونځ کوي نو څومره چي وغواړي اوږد لمونځ کولای سي . بخاري اومسلم .

(۱۰۶۴): وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِيْ حَازِمٍ قَالَ أَخْبَرَنِيْ أَبُوْ مَسْعُوْدٍ أَنَّ رَجُلاً قَالَ وَاللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ

د حضرت قيس بن ابو حازم ﷺ څخه روايت دی چي ابو مسعود زه ددې پېښي څخه خبر کړم چي

لَأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ مِنْ أَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيْلُ بِنَا فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْهُ يَوْمَئِذٍ ثُمَّ قَالَ إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِيْنَ فَأَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيَتَجَوَّزْ فَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيْفَ وَالْكَبِيْرَ وَذَا الْحَاجَةِ . متفق عليه

یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ اې دالله رسوله ! د فلاني سړي له کبله چي اوږد لمونځ کوي زما د سهار په لمانځه کي ځنډ کیږي ، د دې پېښې وروسته ما رسول الله ﷺ په هیڅ یو نصیحت کي دومره غضبناك نه وو لیدلی څومره چي په دغه ورځ وو په کومه ورځ چي ما دا پېښه ورته عرض کړه ، نو رسول الله ﷺ خلك مخاطب کړل او ورته وه یې فرمایل : په تاسو کي ځیني خلك د اوږده لمانځه کولو له کبله متنفر کیږي په تاسو کي چي څوك خلکو ته لمونځ ورکوي نو هغه دي تخفیف کوي (یعني لنډ لمونځ دي ورکوي) ځکه چي په لمانځه کي کمزوري، سپین ږیري او حاجتمند هم وي . بخاري او مسلم.

**پر امام باندي د غلط لمانځه ذمه داري خپله ده**

(١٠٦٥): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلُّوْنَ لَكُمْ فَإِنْ أَصَابُوْا فَلَكُمْ وَإِنْ أَخْطَئُوْا فَلَكُمْ وَعَلَيْهِمْ . رواه البخاري . وهذا الباب خال عن الفصل الثاني .

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو ته به امام لمونځ درکوي که هغه سم لمونځ درکوي نو د هغه ګټه ستاسو لپاره ده او که هغوئ غلطي وکړي نو هم ستاسو لپاره ثواب دی او پر هغوئ د هغه ذمه واري ده . بخاري، .په دې باب کي دوهم فصل نسته .

## دریم فصل

**د سپین ږیرو او ناروغو مقتدیانو لحاظ ساتل پکار دي**

(١٠٦٦): عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ قَالَ آخِرُ مَا عَهِدَ إِلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَمْتَ قَوْمًا فَأَخِفَّ بِهِمُ الصَّلَاةَ . رواه مسلم . وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ أُمَّ قَوْمَكَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي أَجِدُ فِي نَفْسِي شَيْئًا قَالَ ادْنُهْ فَأَجْلَسَنِي بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ وَضَعَ كَفَّهُ فِي صَدْرِي بَيْنَ ثَدْيَيَّ ثُمَّ قَالَ تَحَوَّلْ

د حضرت عثمان بن ابوالعاص ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ما ته آخري وصیت دا کړی وو چي هر کله ته د یو قوم امامت کوې نو لنډ لمونځ ورکوه ، مسلم، او د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ چي رسول الله ﷺ عثمان بن ابوالعاص ته وفرمایل ته د خپل قوم امامت کوه ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما په زړه کي بیا یو خبره پیدا کیږي (یعني عاجزي او د امامت د

فَوَضَعَهَا فِيْ ظَهْرِيْ بَيْنَ كَتِفَيَّ ثُمَّ قَالَ أُمَّ قَوْمَكَ فَمَنْ أَمَّ قَوْمًا فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِيهِمُ الْكَبِيْرَ وَإِنَّ فِيهِمُ الْمَرِيْضَ وَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيْفَ وَإِنَّ فِيهِمْ ذَاالْحَاجَةِ فَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ وَحْدَهُ فَلْيُصَلِّ كَيْفَ شَاءَ.

حقوقو بيره ) رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته رانژدې سه ، زه يې د څان سره نژدې كښېنولم بيا يې خپل لاس زما پر سينه كښېښووى او وه يې فرمايل : شا راوګرځوه بيا يې زما پر شا لاس مبارك را تير كړ او د هغه وروسته يې وفرمايل : ته د خپل قوم امامت كوه او كوم څوك چې د يو قوم امامت كوي نو هغه ته پكار ده چې لنډ لمونځ كوي ځكه چې په لمانځه كې سپين ږيري هم وي ناروغان هم وي كمزوري هم وي او حاجتمند هم وي او څوك چې يوازې لمونځ كوي نو د هغه چې ځنګه خوښه وي (يعني كه اوږد لمونځ كوي كه لنډ).

(١٠٦٧): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا بِالتَّخْفِيْفِ وَيَؤُمُّنَا بِ ( الصَّافَّاتِ ). رواه النسائي .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به موږ ته په لمانځه كې د تخفيف (لنډوالي) حكم راكوى او كله چې به رسول الله ﷺ امامت كوي نو سورة صافات به يې وايه . نسائي .

# بَابُ مَا عَلَى الْمَأْمُوْمِ مِنَ الْمُتَابَعَةِ وَحُكْمِ الْمَسْبُوْقِ

## (د مقتدي او د مسبوق د احكامو بيان)

## لومړى فصل

### د امام متابعت

(١٠٦٨): عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنه قَالَ كُنَّا نُصَلِّيْ خَلْفَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِّنَّا ظَهْرَهُ حَتَّى يَضَعَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَبْهَتَهُ عَلَى الْأَرْضِ. متفق عليه

د حضرت براء بن عازب ﷺ څخه روايت دى چې موږ به په رسول الله ﷺ پسې لمونځ كوى كله چې به هغه مبارك سمع الله لمن حمده وويل نو.موږ به تر هغو ملا نه كښته كول تر څو پورې چې به رسول الله ﷺ تندى پر مځكه نه وو ايښى . بخاري اومسلم .

### د امام څخه مخكې هيڅ رکن نه ادا کول

(١٠٦٩): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ يوه ورځ موږ ته لمونځ راكړى او كله

بِوَجْهِهِ فَقَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي إِمَامُكُمْ فَلاَ تَسْبِقُونِي بِالرُّكُوعِ وَلاَ بِالسُّجُودِ وَلاَ بِالْقِيَامِ وَلاَ بِالانْصِرَافِ فَإِنِّي أَرَاكُمْ أَمَامِي وَمِنْ خَلْفِي . رواه مسلم

چي د لمانځه څخه فارغ سو نو زموږ په لور يې مخ کړ او وه يې فرمايل : خلکو زه ستاسو امام يم تاسو په رکوع کي په سجده کي په دريدو کي او ګرځېدو کي زما څخه مه وړاندي کيږئ ځرنګه چي زه مو مخته وينم همداسي د شا څخه هم وينم . مسلم

(۱۰۷۰): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تُبَادِرُوا الإِمَامَ إِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذَا قَالَ وَلاَ الضَّالِّينَ فَقُولُوا آمِينَ وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ. متفق عليه الا ان البخاري لم يذكر و اذا قال ولاالضالين

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د امام څخه وړاندي هيڅ کار مه کوئ کله چي امام تکبير ووايي نو تاسو هم تکبير واياست او کله چي امام ولاالضالين ووايي نو تاسو آمين واياست او کله چي امام رکوع وکړي نو تاسو هم رکوع وکړئ او کله چي امام سمع الله لمن حمده ووايي نو تاسو اللهم ربنا لك الحمد واياست . بخاري او مسلم . مگر امام بخاري صاحب د (و اذا قال ولاالضالين) يادونه نه ده کړې .

**که امام په ناسته لمونځ کوي نو مقتدي .....**

(۱۰۷۱): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكِبَ فَرَسًا فَصُرِعَ عَنْهُ فَجُحِشَ شِقُّهُ الْأَيْمَنُ فَصَلَّى صَلَاةً مِنَ الصَّلَوَاتِ وَهُوَ قَاعِدٌ فَصَلَّيْنَا وَرَاءَهُ قُعُودًا فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا صَلَّى قَائِمًا فَصَلُّوْا قِيَامًا فَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوْا وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوْا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وَ إِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوْا جُلُوْسًا أَجْمَعُوْنَ،قَالَ الْحُمَيْدِيُّ قَوْلُهُ إِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوْا جُلُوْسًا هُوَ فِي مَرَضِهِ الْقَدِيْمِ ثُمَّ صَلَّى بَعْدَ ذٰلِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا وَالنَّاسُ خَلْفَهُ قِيَامٌ لَمْ يَأْمُرْهُمْ بِالْقُعُوْدِ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ پر آس سپورسو او آس را وغورزوی چي د هغه له کبله د رسول الله ﷺ راسته بغل ژوبل سو او رسول الله ﷺ نه سو دريدلای له دې کبله د يوه وخت لمونځ يې په ناسته راکړ او موږ هم په رسول الله ﷺ پسي په ناسته لمونځ وکړ ، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو نو وه يې فرمايل : امام د دې لپاره ټاکل سوی دی چي د هغه اقتداء وکړل سي له دې کبله کله چي امام په ولاړه لمونځ کوي نو تاسو هم په ولاړه لمونځ کوئ او کله چي رکوع کوي نو تاسو هم رکوع کوئ او کله چي د رکوع څخه پورته کيږي نو

وَإِنَّمَا يُؤْخَذُ بِالْآخِرِ فَالْآخِرِ مِنْ فِعْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . هذا لفظ البخاري . واتفق مسلم إلى أجمعون . وزاد في رواية فلا تختلفوا عليه وإذا سجد فاسجدوا .

تاسو هم پورته كيږئ او كله چي سمع الله لمن حمده ووايي نو تاسو ربنا لك الحمد واياست او كله چي امام په ناسته لمونځ كوي نو تاسو هم په ناسته لمونځ ورسره كوئ ټول ، د حميدي بيان دى چي د رسول الله ﷺ دا قول چي تاسو هم په ناسته لمونځ كوئ دا د رسول الله ﷺ د لومړۍ ناروغۍ پېښه ده د دې وروسته په مرض الموت كي رسول الله ﷺ په ناسته لمونځ وكړ او خلكو په ولاړه لمونځ پسي وكړ او هغوئ ته يې په ناسته د لمانځه كولو حكم نه وركړ نو د نبي كريم ﷺ آخري فعل د لومړني فعل منسوخ كونكى دى . بخاري ، د دې تائيد امام مسلم هم كړى دى او يوازي تر (ټول كښينئ او لمونځ وكړئ ) پوري يې حديث بيان كړى دى او امام مسلم په يوه روايت كي داسي نقل كړى دى چي د امام سره اختلاف مه كوئ كله چي هغه سجده وكړي نو تاسو هم سجده وكړئ .

**د حضرت ابوبكر صديق ﷺ امامت**

(١٠٧٢): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا ثَقُلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ فَقَالَ مُرُوا أَبَا بَكْرٍ اَنْ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ فَصَلَّى اَبُوْبَكْرٍ تِلْكَ الْاَيَّامَ ثُمَّ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ فِيْ نَفْسِهِ خِفَّةً فَقَامَ يُهَادٰى بَيْنَ رَجُلَيْنِ وَرِجْلَاهُ تَخُطَّانِ فِي الْأَرْضِ حَتّٰى دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَلَمَّا سَمِعَ أَبُو بَكْرٍ حِسَّهُ ذَهَبَ يَتَاَخَّرُ فَاَوْمَأَ إِلَيْهِ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ لَا يَتَاَخَّرُ فَجَاءَ حَتّٰى جَلَسَ عَنْ يَسَارِ أَبِي بَكْرٍ وَكَانَ اَبُوْبَكْرٍ يُصَلِّي قَائِمًا وَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ قَاعِدًا يَقْتَدِي أَبُو بَكْرٍ بِصَلَاةِ رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ والناس يقتدون بِصَلَاةِ أَبِي بَكْرٍ. متفق عليه و في رواية لهما يسمع ابوبكر الناس التكبير .

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دى كله چي د رسول الله ﷺ ناروغي سخته سول نو حضرت بلال د رسول الله ﷺ په خدمت كي د لمانځه خبرولو لپاره راغلى ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : حضرت ابوبكر صديق ته ووايه چي خلكو ته لمونځ وركړي نو په هغو ورځو كي حضرت ابوبكر صديق ﷺ لمونځ وركوى (اووه لس لمنځونه يې وركړل) بيا د رسول الله ﷺ په ناروغي كي لږ كمي راغلل او ددوو كسانو په تكيه مسجد ته ولاړى د كمزورۍ له كبله د رسول الله ﷺ قدمونه رېږدېدل ، مسجد ته په رسيدو سره ابوبكر صديق (چي لمونځ يې وركوى) د رسول الله ﷺ راتګ محسوس كړى او را شاته سو ، رسول الله ﷺ ابوبكر صديق ته اشاره وكړه چي پر خپل ځاى اوسه او را شاته نه سي نو رسول الله ﷺ ور وړاندي سو او د حضرت ابوبكر صديق ﷺ

چپه طرف ته کښېنستی ، حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ودریدی لمونځ یې ورکوی او وو رسول الله ﷺ لمونځ یې کوی په ناسته، حضرت ابوبکر صدیق د رسول الله ﷺ اقتداء کول او خلکو د ابوبکر صدیق اقتداء کول، بخاري اومسلم ، د بخاري او مسلم په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي حضرت ابوبکر صدیق ﷺ په لوړ آواز سره خلکو ته تکبیر اوروئ.

**د امام څخه مخکي سر پورته کول**

(۱۰۷۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا يَخْشَى الَّذِيْ يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يُحَوِّلَ اللّٰهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم څوك چي د امام څخه وړاندي سر پورته کوي ایا هغه ددې څخه نه بیرېږي چي الله تعالی د هغه سر د خره کړي. بخاري او مسلم.

## دوهم فصل

**د امام د موافقت کولو حکم**

(۱۰۷۴): عَنْ عَلِيٍّ وَّ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ الصَّلَاةَ وَالْإِمَامُ عَلَى حَالٍ فَلْيَصْنَعْ كَمَا يَصْنَعُ الْإِمَامُ . رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب .

د حضرت علي او معاذ بن جبل (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي په تاسو کي یو څوك لمانځه ته راسي او امام پر یو حال وي نو څه چي امام کوي هغه ته هم کول پکار دي ، ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی .

**په رکوع کي د ګډون کونکي رکعت پوره کیږي**

(۱۰۷۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَال قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جِئْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ وَنَحْنُ سُجُوْدٌ فَاسْجُدُوْا وَلَا تَعُدُّوْهُ شَيْئًا وَمَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ . رواه ابو داود .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي تاسو لمانځه ته راسئ او موږ پر سجده یو نو تاسو هم سجده وکړئ او هغه سجده په حساب کي مه راولئ، چا چي د لمانځه یو رکعت (د جماعت سره ونیوی) هغه لکه پوره لمونځ چي په جماعت سره وکړ . ابوداؤد.

**نر خلوښت ورځو پوري په تکبیر اولی سره د لمونځ کونکي زیری**

(۱۰۷۶): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى لِلّٰهِ أَرْبَعِيْنَ يَوْمًا فِي

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چي یوازي د الله لپاره څلوېښت ورځي په جماعت دتکبیر سره لمونځ وکړ (یعني

جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى كُتِبَتْ لَهُ بَرَاءَتَانِ بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ. ترمذي

چي تکبير اولی ورسره ونيسي) نو د هغه لپاره دوه دوله خلاصون ليکل کيږي يو د دوږخ څخه او بل د نفاق څخه خلاصون . ترمذي .

**د جماعت سره نيت سره مسجد ته تلل....**

(۱۰۷۷): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وَضُوْءَهُ ثُمَّ رَاحَ فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا أَعْطَاهُ اللّٰهُ مِثْلَ أَجْرِ مَنْ صَلَّاهَا وَحَضَرَهَا لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْئًا . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي په ښه ډول اودس وکړ بيا د مسجد په لور ولاړی او خلکو لمونځ (جماعت) کړی وو نو الله تعالی به د هغه خلکو په ډول ثواب ورکړي چا چي په جماعت سره لمونځ کړی وي او د هغو خلکو په ثواب کي به هيڅ کمي نه راځي . ابوداؤد .

**د جماعت فضيلت**

(۱۰۷۸): وَ عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ وَقَدْ صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَلَا رَجُلٌ يَتَصَدَّقُ عَلَى هٰذَا فَيُصَلِّيْ مَعَهُ فَقَامَ رَجُلٌ فَصَلَّى مَعَهُ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي يو سړی داسي وخت راغلی چي رسول الله ﷺ لمونځ کړی وو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا دا سي څوك سته ؟ چي دې سړي ته د الله لپاره صدقه ورکړي (يعني دده سره لمونځ وکړي) يو سړی ودريدی او د هغه سره يې لمونځ وکړ. ابوداؤد، ترمذي.

## دريم فصل

**د حضرت ابوبکر صديق ﷺ د امامت واقعه**

(۱۰۷۹): عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ أَلَا تُحَدِّثِيْنِي عَنْ مَرَضِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ بَلَى ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ فَقُلْنَا لَا يا رسول الله وَهُمْ يَنْتَظِرُوْنَكَ فَقَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ قَالَتْ فَفَعَلْنَا فَاغْتَسَلَ فَذَهَبَ لِيَنُوْءَ

د حضرت عبيدالله بن عبدالله ﷺ څخه روايت دی چي زه د بي بي عائشي په خدمت کي حاضر سوم عرض مي وکړ چي تاسو به ما ته د رسول الله ﷺ د ناروغی پېښه بيان کړئ ؟ هغې وفرمايل : بيان به يې کړم ، د ددې وروسته عائشي وويل کله چي د رسول الله ﷺ ناروغي زياته سوه نو پوښتنه يې وکړل ايا خلکو لمونځ وکړ ؟ موږ عرض وکړ :

فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ قُلْنَا لاَ وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ قالت فقعد فَاغْتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ قَالَ أَصَلَّى النَّاسُ قُلْنَا لاَ وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ فَقَعَدَ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ أَصَلَّى النَّاسُ فَقُلْنَا لاَ وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَتْ وَالنَّاسُ عُكُوفٌ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُونَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ فَأَرْسَلَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ بِأَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَأَتَاهُ الرَّسُولُ فَقَالَ إِنَّ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُكَ أَنْ تُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَكَانَ رَجُلاً رَقِيقًا يَا عُمَرُ صَلِّ بِالنَّاسِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ أَنْتَ أَحَقُّ بِذَلِكَ فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ تِلْكَ الْأَيَّامَ ثُمَّ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ مِنْ نَفْسِهِ خِفَّةً وَخَرَجَ بَيْنَ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا الْعَبَّاسُ لِصَلَاةِ الظُّهْرِ وَأَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فَلَمَّا رَآهُ أَبُو بَكْرٍ ذَهَبَ لِيَتَأَخَّرَ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنْ لاَ يَتَأَخَّرَ وَقَالَ أَجْلِسَانِي إِلَى جَنْبِهِ فَأَجْلَسَاهُ إِلَى جَنْبِ أَبِي بَكْرٍ وَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ، قَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ فَدَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ لَهُ أَلاَ أَعْرِضُ عَلَيْكَ مَا حَدَّثَتْنِي بِهِ عَائِشَةُ عَنْ مَرَضِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَاتِ فَعَرَضْتُ عليه حَدِيثَهَا

یا اې د الله رسوله! هغوئ ستاسو انتظار کوي رسول الله ﷺ وفرمايل ، ښه دی زما لپاره لوښی د اوبو څخه ډک کړئ ، بي بي عائشة فرمايي موږ لوښي د اوبو څخه ډک کړ او رسول الله ﷺ غسل وکړ ، کله چي رسول الله ﷺ د دريدلو اراده وکړ نو بې هوښه سو او لږ وروسته په هوښ کي راغلی نو پوښتنه يې وکړه ايا خلکو لمونځ وکړ ؟ موږ ورته وويل : يا ، اې د الله رسوله ! هغوئ ستاسو په انتظار دی ، رسول الله ﷺ وفرمايل : په لوښي کي اوبه واچوه ، بي بي عائشة وايي رسول الله ﷺ کښېنستی او غسل يې وکړ بيا يې د دريدو اراده وکړل او بې هوښه سو او بيا په هوښ کي راغلی او پوښتنه يې وکړه ايا خلکو لمونځ کړی دی موږ عرض وکړ : يا ، هغوئ ستاسو انتظار کوي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : په لوښي کي اوبه واچوه ، بي بي عائشة وايي رسول الله ﷺ کښېنستی او غسل يې وکړ بيا يې د دريدو اراده وکړل او بې هوښه سو او بيا په هوښ کي راغلی او پوښتنه يې وکړه ايا خلکو لمونځ کړی دی موږ عرض وکړ : يا ، هغوئ ستاسو انتظار کوي، او خلک تر هغه وخته پوري په مسجد کي پاته وه او د ماخستن د لمانځه لپاره يې د رسول الله ﷺ انتظار کوی په پای کي رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صديق ؓ ته پيغام وليږی چي خلکو ته لمونځ ورکړي کله چي دا پيغام ابوبکر صديق ته ورسيدی او قاصد ورته وويل چي رسول الله ﷺ تاسو ته د لمانځه کولو

عَلَيْهِ فِيمَا أَنْكَرَ مِنْهُ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَسَمَّتْ لَكَ الرَّجُلَ الَّذِي كَانَ مَعَ الْعَبَّاسِ قُلْتُ لاَ قَالَ هُوَ عَلِيٌّ. متفق عليه

حكم درکړی دی نو ابوبکر صديق چې يو ډير نرم زړه والا سړی وو وويل : اې عمره ! ته خلکو ته لمونځ ورکړه ، حضرت عمر ورته وويل د دې کار لپاره تاسو غوره ياست ، نو په هغو ورځو کې حضرت ابوبکر صديق ﷺ لمونځ ورکوی بيا د نبي کريم ﷺ په ناروغۍ کې لږ اندازه کمي راغلل او رسول الله ﷺ د دوو کسانو په تکيه د کور څخه د باندې راغلی چې په هغوئ کې يو حضرت عباس وو او د ماپښين وخت وو په دغه وخت کې حضرت ابوبکر صديق خلکو ته لمونځ ورکوي ، حضرت ابوبکر صديق چې محسوسه کړه چې رسول الله ﷺ تشريف راوړی دی نو هغه شا ته سو نبي کريم ﷺ په اشاره سره حکم ورکړ چې پر خپل ځای ولاړ اوسه او ما را شاته کيږي بيا يې هغه خلکو ته چې رسول الله ﷺ يې راويستلی وو حکم وکړ چې رسول الله ﷺ د ابوبکر صديق په څنګ کې کښينوي نو هغوئ د ابوبکر په خوا کې کښينوی او رسول الله ﷺ ناست وو ، ددې حديث راوي عبيدالله وايي د بي بي عائشې د دې ښکاره په اوريدو سره زه عبدالله بن عباس ته ورغلم او هغه ته مې وويل ايا زه ستا مخکې هغه حديث بيان نه کړم کوم چې ما ته بي بي عائشې بيان کړی دی يعني د رسول الله ﷺ د ناروغۍ په اړه، ابن عباس وويل ښه دی بيان يې کړه، نو ما ورته دا حديث بيان کړ او هغه ددې بيان د هيڅ برخې څخه انکار ونه کړ البته هغه دا وويل چې بي بي عائشې د هغه سړي نوم څه شي اخيستی وو چې د حضرت عباس سره وو ، ما ورته وويل هغې راته د هغه نوم نه وو ښودلی، ابن عباس وويل هغه حضرت علي ﷺ وو. بخاري او مسلم.

## د سورة فاتحې په نه ويلو سره نيم ثواب

(۱۰۸۰): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ مَنْ أَدْرَكَ الرَّكْعَةَ فَقَدْ أَدْرَكَ السَّجْدَةَ وَمَنْ فَاتَتْهُ قِرَاءَةُ أُمِّ الْقُرْآنِ فَقَدْ فَاتَهُ خَيْرٌ كَثِيْرٌ . رواه مالك .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې کوم سړي رکوع لاندې کړه نو هغه رکعت لاندې کړی او د چا څخه چې الحمدلله تيره سوه هغه لوی ثواب د لاسه ورکړی . مالك.

## د امام څخه پر مخته والي باندې وعيد

(۱۰۸۱): وَعَنْهُ قَالَ الَّذِيْ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَخْفِضُهُ قَبْلَ الْإِمَامِ فَإِنَّمَا نَاصِيَتُهُ بِيَدِ الشَّيْطَانِ . رواه مالك .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی کوم خوک چې د امام څخه وړاندې سر پورته او کښته کوي نو د هغه تندی د شيطان په لاس کې دی . مالك .

# بَابُ مَنْ صَلّٰی صَلٰوةً مَرَّتَيْنِ

## (د دويم ځل لمونځ کولو بيان)

## لومړی فصل

**د حضرت معاذ ﷺ د دوه واره لمونځ کولو حقيقت**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۰۸۲﴾: عَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ كَانَ يُصَلِّي مَعَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ يَأْتِيْ قَوْمَهُ فَيُصَلِّي بِهِمْ . متفق عليه | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي معاذ بن جبل به د رسول الله ﷺ سره لمونځ کوی او بيا به خپل قوم ته ولاړی هغوئ ته به يې لمونځ ورکوی . بخاري اومسلم. |
| ﴿۱۰۸۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ مُعَاذٌ يُصَلِّيْ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلٰى قَوْمِه فَيُصَلِّيْ بِهِمُ الْعِشَاءَ وَهِيَ لَهُ نَافِلَةٌ . رواه البيهقي والبخاري | د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي معاذ به د نبي کريم ﷺ سره د ماخستن لمونځ کوی او بيا به خپل قوم ته راغلی هغوئ ته به يې د ماخستن لمونځ ورکوی دويم لمونځ به د هغه لپاره نفل وو . بيهقي او بخاري . |

## دوهم فصل

**په جماعت سره دوهم وار لمونځ کول**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۰۸۴﴾: عَنْ يَزِيْدَ ابْنِ الْاَسْوَدِ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّتَهُ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي مَسْجِدِ الْخَيْفِ فَلَمَّا قَضٰى صَلَاتَهُ وَانْحَرَفَ إِذَا هُوَ بِرَجُلَيْنِ فِي أُخْرَى الْقَوْمِ لَمْ يُصَلِّيَا مَعَهُ قَالَ عَلَيَّ بِهِمَا فَجِيْءَ بِهِمَا تُرْعَدُ فَرَائِصُهُمَا فَقَالَ مَا مَنَعَكُمَا أَنْ تُصَلِّيَا مَعَنَا فَقَالَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّا كُنَّا قَدْ صَلَّيْنَا فِي رِحَالِنَا قَالَ فَلَا تَفْعَلَا إِذَا صَلَّيْتُمَا فِي رِحَالِكُمَا ثُمَّ أَتَيْتُمَا مَسْجِدَ | د حضرت يزيد بن اسود ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ سره په حج کي ګډون وکړ ما د سهار لمونځ د رسول الله ﷺ سره په مسجد خيف کي وکړ ، کله چي رسول الله ﷺ لمونځ وکړ او راستنبدی نو دوه کسان يې وليدل چي د خلکو په پای کي ناست وه او د رسول الله ﷺ سره يې لمونځ نه وو کړی ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا کسان را وغواړئ نو هغوئ راوستل سول د رسول الله ﷺ د بيري څخه د هغوئ ودې |

جَمَاعَةٍ فَصَلِّيَا مَعَهُمْ فَإِنَّهَا لَكُمَا نَافِلَةٌ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي .

رهبړدېدلې رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه تاسو ولي زموږ سره لمونځ ونه کړ ، هغوئ وويل اې دالله رسوله اموږ په خپل ځای کي لمونځ کړی دی ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل بيا داسي مه کوئ هر کله چي تاسو په خپل کور کي لمونځ وکړئ او هغه مسجد ته راسئ چي په هغه کي جماعت کيږي نو د هغه خلکو سره هم لمونځ وکړئ دا لمونځ به ستاسو لپاره نفل وي ، ترمذي، ابوداؤد، نسائي .

## دريم فصل

(۱۰۸۵): عَنْ بُسْرِ بْنِ مِحْجَنٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّهُ كَانَ فِيْ مَجْلِسٍ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُذِّنَ بِالصَّلَاةِ فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى وَرَجَعَ وَمِحْجَنٌ فِيْ مَجْلِسِه فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مَنَعَكَ أَنْ تُصَلِّيْ مَعَ النَّاسِ أَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ فَقَالَ بَلَى يَا رَسُوْلَ اللهِ وَلٰكِنِّيْ كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِيْ أَهْلِيْ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جِئْتَ الْمَسْجِدَ وَكُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ فَأُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ وَإِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ . رواه مالك والنسائي .

حضرت بسر بن محجن د خپل پلار څخه روايت کوي چي هغه په يو مجلس کي د رسول الله ﷺ سره وو چي د لمانځه لپاره آذان وسو ، رسول الله ﷺ ودريدی او لمونځ يې ادا کړ او بيرته راتلی چي محجن يې هلته پر ځای ناست وليدی ، رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه تا د خلکو سره ولي لمونځ ونه کړ ، ايا ته مسلمان نه يې ؟ هغه عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه مسلمان يم مگر ما د خپل کورنۍ سره لمونځ کړی وو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هر کله چي ته مسجد ته راسې او لمونځ دي کړی وي او په مسجد کي لمونځ تيار وي نو د خلکو سره هم لمونځ وکړه که څه هم تا لمونځ کړی وي . مالك او نسائي.

### دوهم وار لمونځ کول د ثواب باعث دی

(۱۰۸۶): وَعَنْ رَجُلٍ مِّنْ أَسَدِ بْنِ خُزَيْمَةَ أَنَّهُ سَأَلَ أَبَا أَيُّوْبَ الْأَنْصَارِيَّ قَالَ يُصَلِّيْ أَحَدُنَا فِيْ مَنْزِلِه الصَّلَاةَ ثُمَّ يَأْتِي الْمَسْجِدَ وَتُقَامُ الصَّلَاةُ فَأُصَلِّيْ مَعَهُمْ فَأَجِدُ فِيْ نَفْسِيْ شَيْئًا مِّنْ ذٰلِكَ فَقَالَ أَبُوْ أَيُّوْبَ سَأَلْنَا عَنْ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَذٰلِكَ لَهُ سَهْمُ جَمْعٍ . رواه مالك وأبو داود .

د حضرت اسد بن خزيمه د قبيلې د يو سړي څخه روايت دی چي هغه د ابو ايوب انصاري څخه پوښتنه وکړه چي په موږ کي يو سړی په کوز کي لمونځ وکړي بيا هغه مسجد ته راسي او هلته لمونځ کيدونکی وي ايا په داسي حالت کي زه هم د هغوئ سره لمونځ وکړم ، په دې اړه زما په زړه کي شك او شبه ده ،

ابو ایوب انصاري ورته وفرمایل: په دې اړه موږ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کړې ده ، رسول الله ﷺ وفرمایل: چي دا «دویم جماعت کول» دده قسمت دی چي د جماعت ثواب یې هم تر لاسه کړ. مالك او ابوداؤد.

**د دوهم وار لمونځ کولو حکم**

﴿۱۰۸۷﴾: وَعَنْ يَزِيْدَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ جِئْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَجَلَسْتُ وَلَمْ أَدْخُلْ مَعَهُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَآنِيْ جَالِسًا فَقَالَ أَلَمْ تُسْلِمْ يَا يَزِيْدُ قُلْتُ بَلَى يَارَسُوْلَ اللهِ قَدْ أَسْلَمْتُ قَالَ وَمَامَنَعَكَ أَنْ تَدْخُلَ مَعَ النَّاسِ فِيْ صَلَاتِهِمْ ؟ قَالَ إِنِّيْ كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِيْ مَنْزِلِيْ أَحْسِبُ أَنْ قَدْ صَلَّيْتُمْ فَقَالَ إِذَا جِئْتَ الصَّلَاةَ فَوَجَدْتَ النَّاسَ فَصَلِّ مَعَهُمْ وَإِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ تَكُنْ لَكَ نَافِلَةً وَهٰذِهِ مَكْتُوْبَةً . رواه أبو داود .

د حضرت یزید بن عامر ﷺ څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم ، رسول الله ﷺ دا وخت لمونځ کوی زه کښېنستم او د رسول الله ﷺ سره په لمانځه کي شریك نه سوم ، رسول الله ﷺ چي د لمانځه څخه فارغ سو او زه یې ناست ولیدم نو وه یې فرمایل: اې یزیده ! ایا ته مسلمان نه یې ؟ ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه مسلمان یم، رسول الله ﷺ وفرمایل: نو تا د جماعت لمونځ ولي ونه کړ ؟ ما وویل ما په خپل کور کي لمونځ کړی وو او زما خیال وو چي تاسو به هم د لمانځه څخه فارغ سوی یاست ، رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله ته لمانځه ته راسې او خلك پر لمونځ کولو ووینې نو ته هم د هغوئ سره په لمانځه کي ګډون کوه او کوم لمونځ چي تا کړی وي هغه به ستا لپاره نفل سي او دا به په فرض کي وشمیرل سي . ابوداؤد.

﴿۱۰۸۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ رَجُلاً سَأَلَهُ فَقَالَ إِنِّيْ أُصَلِّيْ فِيْ بَيْتِيْ ثُمَّ أُدْرِكُ الصَّلَاةَ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ الْإِمَامِ أَفَأُصَلِّيْ مَعَهُ قَالَ لَهُ نَعَمْ قَالَ الرَّجُلُ أَيَّتَهُمَا أَجْعَلُ صَلَاتِيْ ؟ قَالَ ابن عُمَرَ وَذٰلِكَ إِلَيْكَ إِنَّمَا ذٰلِكَ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ يَجْعَلُ أَيَّتَهُمَا شَاءَ . رواه مالك .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي د هغه څخه یو سړي پوښتنه وکړه چي زه په خپل کور کي لمونځ کوم بیا په مسجد کي لمونځ (جمعه) ولاړ وي نو ایا زه د دې خلکو سره لمونځ وکړم ؟ هغه ورته وویل: هو، هغه سړي پوښتنه وکړه په داسي حالت کي به په دې دواړو لمنځو کي کوم یو لمونځ فرض وګڼم؟ ابن عمر ﷺ ورته وویل دا ستا کار نه دی دا الله ﷻ ته حواله دی چي هغه کوم یو غواړي فرض یې ګرځوي . مالك .

د یوه لمانځه دوه واره کولو حکم

(۱۰۸۹): وَعَنْ سُلَيْمَانَ مَوْلَى مَيْمُوْنَةَ قَالَ أَتَيْنَا ابْنَ عُمَرَ عَلَى الْبَلَاطِ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ فَقُلْتُ أَلاَ تُصَلِّيْ مَعَهُمْ فَقَالَ قَدْ صَلَّيْتُ وَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ يَقُوْلُ لاَ تُصَلُّوْا صَلاَةً فِيْ يَوْمٍ مَرَّتَيْنِ . رواه أحمد وأبو داود والنسائي .

د بي بي میموني د آزاد سوي غلام سلیمان څخه روایت دی چي موږ په بلاط نامي ځای کي ابن عمر ﷺ ته ورغلو نو خلکو هغه وخت لمونځ کوی ، ما ابن عمر ﷺ ته وویل ایا تاسو ددې خلکو سره لمونځ نه کوئ؟ هغه وویل: ما لمونځ کړی دی او ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي یو لمونځ په یوه ورځ کي دوه ځله مه کوئ . احمد ، ابوداؤد او نسائي .

هغه وختونه په کوم کي چي دوهم وار لمونځ کول منع دی

(۱۰۹۰): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنِ عُمَرَ كَانَ يَقُوْلُ مَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ أَوِ الصُّبْحَ ثُمَّ أَدْرَكَهُمَا مَعَ الْإِمَامِ فَلاَ يَعُدْ لَهُمَا . رواه مالك .

د حضرت نافع ﷺ څخه روایت دی چي عبدالله بن عمر ﷺ به ویل : کوم څوک چي د ماښام یا سهار لمونځ وکړي او بیا یې د امام سره تر لاسه کړي نو دویم ځل دي یې نه کوي.

# بَابُ السّنَنِ وَ فَضَائِلِهَا

## (سنت او د هغه د فضائلو بیان)

## لومړی فصل

د سنتو شمیر او فضیلت

(۱۰۹۱): عَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلاَةِ الْفَجْرِ. رواه الترمذي و في رواية مسلم أنها قالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلّٰهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ

د حضرت ام حبیبة (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم څوک چي په شپه او ورځ کي دوولس رکعته وکړي د هغه لپاره په جنت کي کور جوړیږي یعني څلور رکعته د ماپښین څخه مخکي او دوه رکعته د ماپښین څخه وروسته دوه رکعته د ماښام وروسته دوه رکعته د ماخستن څخه وروسته او دوه رکعته د سهار څخه مخکي ، ترمذي، د مسلم په یوه روایت کي دي چي هغې وویل ما د رسول الله ﷺ

فَرِيضَةٍ إِلاَّ بَنَى اللّٰهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ أَوْ إِلاَّ بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ .

ښځه دا اوريدلي دي : هيڅ يو مسلمان بنده داسي نسته چي خالص د الله تعالی لپاره دوولس رکعته نفل پرته د فرضو ښځه وکړي او د هغه لپاره الله تعالی په جنت کي کور جوړ نه کړي ، يا دا الفاظ يې وويل چي د هغه لپاره په جنت کي يو کور جوړېږي .

(۱۰۹۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِيْ بَيْتِهِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ فِيْ بَيْتِهِ قَالَ وَحَدَّثَتْنِيْ حَفْصَةُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ حِيْنَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ ښځه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ سره د ماپښين مخکي دوه رکعته وکړل او دوه رکعته د هغه وروسته او دوه رکعته د ماښام ښځه وروسته د نبي کريم ﷺ په کور کي او دوه رکعته مي د ماخستن ښځه وروسته د رسول الله ﷺ په کور کي وکړل ابن عمر ﷺ وايي ما ته بي بي حفصې وويل : رسول الله ﷺ به دوه مختصر رکعتونه د صبح صادق راختلو ښځه مخکي کول . بخاري او مسلم .

## د جمعې سنتونه

(۱۰۹۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يُصَلِّيْ بَعْدَ الْجُمُعَةِ حَتَّى يَنْصَرِفَ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ فِيْ بَيْتِهِ . متفق عليه

د حضرت ابن عمر ﷺ ښځه روايت دی چي رسول الله ﷺ د جمعې د لمانځه وروسته هيڅ لمونځ نه کوی او کور ته به ولاړی بيا چي کور ته به داخل سو نو دوه رکعته به يې کول . بخاري او مسلم.

## د رسول الله ﷺ د نفلو شمېر

(۱۰۹۴): وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلاَةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَطَوُّعِهِ فَقَالَتْ كَانَ يُصَلِّي فِي بَيْتِي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَكَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَيُصَلِّي بِالنَّاسِ الْعِشَاءَ وَيَدْخُلُ بَيْتِي فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ

د حضرت عبد الله بن شقيق ﷺ ښځه روايت دی چي ما د بي بي عائشې ښځه د رسول الله ﷺ د نفل لمنځو په اړه پوښتنه وکړل، هغې وويل رسول الله ﷺ زما په کور کي د ماپښين ښځه مخکي څلور رکعته کول بيا به مسجد ته تلی او خلکو ته به يې لمونځ ورکوی بيا به کورته راغلی او دوه رکعته به يې کول او د ماښام لمونځ چي به يې دخلکو سره وکړی نو بيا به يې کور ته تشريف راوړ او دوه

وَكَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ فِيهِنَّ الْوِتْرُ وَكَانَ يُصَلِّي لَيْلاً طَوِيلاً قَائِمًا وَلَيْلاً طَوِيلاً قَاعِدًا وَكَانَ إِذَا قَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَائِمٌ وَكَانَ إِذَا قَرَأَ قَاعِدًا رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَاعِدٌ وَكَانَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ . رواه مسلم و زاد اب داؤد ثم يخرج فيصلي بالناس صلوة الفجر.

رکعته به يې کول بيا به يې خلکو ته دماخستن لمونځ ورکوی او زما کور ته به راغلی دوه رکعته به يې کول او د شپې د تهجد لمونځ به يې نهه رکعته کوی په هغو کې به وتر هم شامل وه او د شپې به يې تر ډيره وخته پورې په ولاړه او تر ډيره وخته پورې په ناسته لمونځ کوی او په ولاړه به يې چې لمونځ کوی نو رکوع او سجده به يې کول او که په ناسته به يې کوی نو رکوع او سجده به يې کوله او سهار چې به څلانده سو نو دوه رکعته به يې کول ، مسلم ، ابوداؤد په دې روايت کې دا الفاظ زيات ليکلي دي : د سهار دوه رکعته چې به يې وکړله نو رسول الله ﷺ به مسجد ته تشريف وړی او خلکو ته به يې د سهار لمونځ ورکوی .

## د سهار د سنتو تاکيد

(۱۰۹۵): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَشَدَّ تَعَاهُدًا مِنْهُ عَلَى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ .متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به په نفلو لمنځو کې تر ټولو زيات پاملرنه د سهار د دوو سنتو کول. بخاري او مسلم

## د سهار د سنتو فضيلت

(۱۰۹۶): وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا . رواه مسلم .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د سهار دوه رکعته سنت تر دنيا او ددنيا تر ټولو شيانو غوره دي .مسلم

## د ماښام د لمانځه مخکې دوه رکعته کول

(۱۰۹۷): وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلُّوا قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ لِمَنْ شَاءَ كَرَاهِيَةَ أَنْ يَتَّخِذَهَا النَّاسُ سُنَّةً . متفق عليه

د حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د ماښام د فرضو څخه مخکې دوه رکعته کوئ درې ځله يې دا وفرمايل او دريم ځل يې دا هم وفرمايل چې څوك يې غواړي وه دي يې کړي او که څوك يې نه غواړي نه دي يې کوي، دا يې ځکه وفرمايل چې خلك دا رکعتونه سنت مؤکده ونه ګرځوي .بخاري اومسلم.

## د جمعې وروسته څلور رکعته سنت کول پکار دي

(۱۰۹۸): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَقَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا . رواه مسلم . وَفِيْ أُخْرٰى لَهُ قَالَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا أَرْبَعًا .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کې چې څوك د جمعې د لمانځه څخه وروسته لمونځ کول غواړي نو هغه ته پکار دي چې څلور رکعته وکړي ، مسلم او په دويم روايت کې دا الفاظ دي کوم سړی چې په تاسو کې د جمعې لمونځ کوي نو هغه ته پکار دي چې د جمعې د لمانځه څخه وروسته څلور رکعته وکړي .

## دوهم فصل

### د ماپښين د سنتو فضيلت

(۱۰۹۹): عَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ حافظ عَلٰى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ. رواه احمد والترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجه.

د بي بي حبيبې (رض) څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي کوم څوك چې د ماپښين د لمانځه مخکې او وروسته د څلورو رکعتو پابندي وکړي الله تعالى به پر هغه د دوزخ اور حرام کړي . احمد، ترمذي ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه.

### د ماپښين څخه مخکې څلور رکعته

(۱۱۰۰): وَعَنْ أَبِيْ أَيُّوْبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ لَيْسَ فِيْهِنَّ تَسْلِيْمٌ تُفْتَحُ لَهُنَّ أَبْوَابُ السَّمَاءِ . رواه أبو داود وابن ماجه .

د حضرت ابو ايوب انصاري ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : څلور رکعته د ماپښين مخکې دی د هغه په منځ کې سلام نسته کوم څوك چې دا کوي د هغه لپاره د آسمان دروازې خلاصيږي . ابوداؤد. ابن ماجه

### د في الزوال د لمانځه فضيلت

(۱۱۰۱): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي أَرْبَعًا بَعْدَ أَنْ تَزُوْلَ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ وَقَالَ إِنَّهَا سَاعَةٌ تُفْتَحُ فِيهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ فَأُحِبُّ أَنْ يَصْعَدَ

د حضرت عبدالله بن سائب ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د زوال څخه وروسته او د ماپښين څخه مخکې څلور رکعته کول او فرمايل يې دا هغه وخت دی چې د آسمان

| | |
|---|---|
| لِي فِيهَا عَمَلٌ صَالِحٌ . رواه الترمذي | دروازې خلاصيږي او زه غواړم چي زما صالح عمل آسمان ته ولاړسي . ترمذي |

**د مازديگر ستونه**

| | |
|---|---|
| (۱۱۰۲): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللهُ امْرَءًا صَلَّى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا . رواه أحمد والترمذي . | د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر هغه سړي دي الله رحمت نازل کړي چي دمازديگر څخه مخکي څلور رکعته وکړي. احمد او ترمذي . |

**د مازديگر ستونه ۱**

| | |
|---|---|
| (۱۱۰۳): وَ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُؤْمِنِينَ. رواه الترمذي | د حضرت علي ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د مازديگر دلمانځه څخه مخکي څلور رکعته لمونځ کوی چي د هغه په منځ کي به يې پر مقربو ملائکو ، مؤمنانو او مسلمانانو کوم خلك چي د رسول الله ﷺ تابع دي سلام ليږی يعني التحيات به يې ويل. ترمذي |

| | |
|---|---|
| (۱۱۰۴): وَ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ قَبْلَ الْعَصْرِ رَكْعَتَيْنِ . رواه أبو داود . | د حضرت علي ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د مازديگر څخه مخکي دوه رکعته کول . ابوداؤد . |

**د صلوة اوابين فضيلت**

| | |
|---|---|
| (۱۱۰۵): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ سِتَّ رَكَعَاتٍ لَمْ يَتَكَلَّمْ فِيمَا بَيْنَهُنَّ بِسُوءٍ عُدِلْنَ لَهُ بِعِبَادَةِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً. رواه الترمذي و قال هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث عمر ابن ابي خثعم وسمعت محمد ابن اسماعيل يقول هو منكر الحديث و ضعفه جدا . | د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوك چي د ماښام څخه وروسته شپږ رکعته وکړي او د هغه په منځ کي يو بده خبره د ژبي څخه ونه باسي هغه ته د دولس کالو د عبادت ثواب ورکول کيږي (ترمذي) ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی |

موږ دا حديث د عمر بن ابي خثعم په سند سره پيژنو ما د محمد بن اسماعيل بخاري څخه واوريدل چي عمربن ابي خثعم منكر الحديث دی ، دې حديث ته بخاري ډير ضعيف ويلي دي .

### د صلوة اوابین د رکعتو شمیر

| | |
|---|---|
| ﴿۱۱۰۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ . رواه الترمذي . | د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د ماښام دلمانځه وروسته شل رکعته وکړي نو د هغه لپاره الله تعالی په جنت کي کور جوړوي . ترمذي |

### د ماخستن سنتونه

| | |
|---|---|
| ﴿۱۱۰۷﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ مَا صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ قَطُّ فَدَخَلَ عَلَيَّ إِلاَّ صَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ أَوْ سِتَّ رَكَعَاتٍ . رواه أبو داود . | د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د ماخستن د لمانځه وروسته تل ما ته راتلی او څلور یا شپږ رکعته به یې کول . ابوداؤد. |

### ادبار النجوم او ادبار السجود

| | |
|---|---|
| ﴿۱۱۰۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِدْبَارَ النُّجُوْمِ الرَّكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ وَادْبَارَ السُّجُوْدِ الرَّكْعَتَانِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ . رواه الترمذي . | د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د (ادبار النجوم) څخه د سهار د لمانځه مخکي دوه رکعته مراد دي او د ادبار السجود څخه د ماښام د لمانځه وروسته دوه رکعته مراد دي . ترمذي . |

## دریم فصل

### د ماپښین څخه مخکي څلور رکعته

| | |
|---|---|
| ﴿۱۱۰۹﴾: عَنْ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَرْبَعٌ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ بَعْدَ الزَّوَالِ تُحْسَبُ بِمِثْلِهِنَّ فِي صَلَاةِ السَّحَرِ وَمَا مِنْ شَيْءٍ إِلَّا وَيُسَبِّحُ اللّٰهَ تِلْكَ السَّاعَةَ ثُمَّ قَرَأَ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِيْنِ وَالشَّمَائِلِ سُجَّدًا لِلّٰهِ وَهُمْ دَاخِرُوْنَ . رواه الترمذي والبيهقي في شعب الايمان. | د حضرت عمر ؓ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي د ماپښین څخه مخکي او د زوال څخه وروسته څلور رکعته دي چي د تهجد په حساب کي شمیرل کیږي او هیڅ شی داسي نسته چي په دې وخت کي د الله تعالی تسبیح نه کوي بیا رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ :(د هر شي سایه راسته |

لوري ته او چپه لوري ته د الله ﷻ لپاره سجده کونکي گرځي او هغه ذلیل وي). ترمذي او بیهقي.

## د مازدیگر وروسته دوه رکعته

(۱۱۱۰): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا تَرَكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ عِنْدِيْ قَطُّ، متفق علیه وفي رواية للبخاري قالت والذي ذهب به ما ترکهما حتی لقي الله .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د مازدیگر وروسته دوه رکعته زما په کور کي هیڅ نه دي پرې ایښي . بخاري اومسلم، د بخاري په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي بي بي عائشې وویل په هغه ذات دي مي قسم وي چي د رسول الله ﷺ روح یې قبض کړه رسول الله ﷺ تر وفات پوري دا دوه رکعته نه وه پرې ایښي .

## د لمر لوېدو وروسته او د ماښام د لمانځه مخکي نفل لمونځ

(۱۱۱۱): وَ عَنْ مُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ الْعَصْرِ فَقَالَ كَانَ عُمَرُ يَضْرِبُ الْأَيْدِي عَلَى صَلَاةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ وَكُنَّا نُصَلِّي عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ غُرُوبِ الشَّمْسِ قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْتُ لَهُ أَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْهِمَا قَالَ كَانَ يَرَانَا نُصَلِّيهِمَا فَلَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا. رواه مسلم

د حضرت مختار بن فلفل ﷺ څخه روایت دی چي ما د انس بن مالك څخه د مازدیگر وروسته د نفلو په اړه پوښتنه وکړه ، د هغه بیان دی چي حضرت عمر به د هغه سرې لاسونه وهل چي د مازدیگر څخه وروسته به یې لمونځ کوی (یعني منع کول به یې) حال دا چي موږ د رسول الله ﷺ په زمانه کي د لمر لوېدو پر وخت د ماښام څخه مخکي دوه رکعته نفل کول ، بیا ما د انس څخه پوښتنه وکړه ایا رسول الله ﷺ به د مازدیگر څخه وروسته دوه رکعته نفل کول هغه وویل : موږ به رسول الله ﷺ پردوه رکعته لمونځ کولو لیدی خو نه به رسول الله ﷺ ددې حکم ورکوی او نه به یې منع فرمایل . مسلم.

(۱۱۱۲): وَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كُنَّا بِالْمَدِيْنَةِ فَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ لِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ ابْتَدَرُوا السَّوَارِيَ فَيَرْكَعُوْنَ رَكْعَتَيْنِ حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ الْغَرِيْبَ لَيَدْخُلُ الْمَسْجِدَ فَيَحْسَبُ أَنَّ الصَّلَاةَ قَدْ صُلِّيَتْ مِنْ كَثْرَةِ مَنْ يُصَلِّيْهِمَا رواه مسلم

د حضرت انس بن مالك ﷺ څخه روایت دی چي موږ په مدینه کي وو کله چي به مؤذن د ماښام آذان کوی نو خلك به د سنتو په لور غزېدل او دوه رکعته به یې هلته کول تر دې چي یو پردی سړی به راغلی نو داخیال به یې کوی چي شاید لمونځ دماښام سوی دی څکه چي د دې دوو رکعتو کونکي به ډېر خلك وه.مسلم

(۱۱۱۳): وَعَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ أَتَيْتُ عُقْبَةَ الْجُهَنِيَّ فَقُلْتُ أَلاَ أُعَجِّبُكَ مِنْ أَبِي تَمِيْمٍ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلاَةِ الْمَغْرِبِ فَقَالَ عُقْبَةُ إِنَّا كُنَّا نَفْعَلُهُ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ فَمَا يَمْنَعُكَ الْآنَ ؟ قَالَ الشُّغْلُ . رواه البخاري .

د حضرت مرثد بن عبدالله ﷺ څخه روایت دی چي زه عقبه جهني ته ورغلم او ورته ووه مي ویل ایا ته د ابوتمیم دې کار ته په تعجب نه ګورې چي هغه د ماښام څخه مخکي دوه رکعته کوي ؟ عقبه وویل د رسول الله ﷺ په زمانه کي به موږ همداسي کول ، عقبه وویل بیا تاسو یې ولي نه کوئ، هغه وویل د دنیا د بوختیا له کبله . بخاري

**نفل په کورو کي ادا کول بکار دي**

(۱۱۱۴): وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى مَسْجِدَ بَنِيْ عَبْدِ الْأَشْهَلِ فَصَلَّى فِيْهِ الْمَغْرِبَ فَلَمَّا قَضَوْا صَلاَتَهُمْ رَآهُمْ يُسَبِّحُوْنَ بَعْدَهَا فَقَالَ هٰذِهِ صَلاَةُ الْبُيُوْتِ . رواه أبو داود وفي رواية الترمذي والنسائي قام ناس يتنفلون فقال النبي صلى الله عليه وسلم عليكم بهذه الصلاة في البيوت .

د حضرت کعب بن عجرة ﷺ څخه روایت دی چي (یوځل) رسول الله ﷺ د بنو عبدالاشهل مسجد ته تشریف راوړ او هلته یې د ماښام لمونځ وکړ خلکو چي لمونځ وکړ نو رسول الله ﷺ ولیدل چي هغوئ نفل کوي ، رسول الله ﷺ وفرمایل دا لمونځ (یعني نفل) په کورو کي کوئ (ابوداؤد) د ترمذي او نسائي په یوه روایت کي دا الفاظ چي خلك . ودریدل او نفل یې کول نو نبي کریم ﷺ وفرمایل : پر تاسو لازمه ده چي دا لمونځ په کور کي وکړئ.

**د ماښام په سنتو کي اوږده قرائت**

(۱۱۱۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيْلُ الْقِرَاءَةَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ حَتّٰى يَتَفَرَّقَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د ماښام وروسته په دوو رکعتو (نفل) کي اوږد قرائت وایه تر دې چي د مسجد څخه به خلك ولاړل . ابوداؤد.

**د ماښام وروسته د نفل کولو فضیلت**

(۱۱۱۶): وَعَنْ مَكْحُوْلٍ يَبْلُغُ بِهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ قَبْلَ أَنْ يَتَكَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ وفي رواية أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ رُفِعَتْ صَلاَتُهُ فِيْ عِلِّيِّيْنَ . مرسلا .

حضرت مکحول (تابعي) دا روایت رسول الله ﷺ ته رسوي او وایي چي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي څوك چي د ماښام وروسته دوه رکعته وکړي، په یوه روایت کي څلور رکعته دي او د ماښام لمونځ او ددې رکعتو په منځ کي دنیاوي خبره

ونه کړي نو د هغه دا لمونځ علیین ته رسیږي . رزین.

**عیین څه شي دی ؟**

(۱۱۱۷): وَعَنْ حُذَيْفَةَ نَحْوَهُ وَزَادَ فَكَانَ يَقُولُ عَجِّلُوا الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فَإِنَّهُمَا تُرْفَعَانِ مَعَ الْمَكْتُوبَةِ. رَوَاهُمَا رَزِيْنٌ وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ الزِّيَادَةَ عَنْهُ نَحْوَهَا فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ .

حضرت حذیفه هم دا ډول روایت کوي او د هغه په روایت کي دا الفاظ زیات دي چي رسول الله ﷺ به فرمایل : د ماښام وروسته دوه رکعته ژر کوئ ځکه چي هغه د فرض لمانځه سره پورته کیږي . رزین .

**د فرض او نفلو په منځ کي فرق کول پکار دي**

(۱۱۱۸): وَ عَنْ عُمَرَ بْنُ عَطَاءٍ قَالَ أَنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرٍ أَرْسَلَهُ إِلَى السَّائِبِ يَسْأَلُهُ عَنْ شَيْءٍ رَآهُ مِنْهُ مُعَاوِيَةُ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ نَعَمْ صَلَّيْتُ مَعَهُ الْجُمُعَةَ فِي الْمَقْصُورَةِ فَلَمَّا سَلَّمَ الْإِمَامُ قُمْتُ فِي مَقَامِي فَصَلَّيْتُ فَلَمَّا دَخَلَ أَرْسَلَ إِلَيَّ فَقَالَ لَا تَعُدْ لِمَا فَعَلْتَ إِذَا صَلَّيْتَ الْجُمُعَةَ فَلَا تَصِلْهَا بِصَلَاةٍ حَتَّى تَكَلَّمَ أَوْ تَخْرُجَ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنَا بِذٰلِكَ أَنْ لَا تُوصَلَ صَلَاةٌ بِصَلَاةٍ حَتَّى نَتَكَلَّمَ أَوْ نَخْرُجَ . رواه مسلم

د حضرت عمرو بن عطاء څخه روایت دی چي نافع بن جبیر هغه سائب ته ولیږی چي دا څیني معلومه کړي چي معاویه د هغه د لمانځه په اړه څه لیدلي دي حضرت سائب په جواب کي وویل ما د معاویه سره د جمعې لمونځ په مقصوره کي وکړ کله چي امام سلام وګرځوی نو زه پر خپل ځای ودریدم او لمونځ مي وکړ (یعني دجمعې سنت) ددې وروسته چي معاویه کور ته ورسیدی نو زه یې راوغوښتلم او وه یې ویل کوم کار چي تا نن وکړ هغه بیا مه کوه (یعني د فرضو وروسته سمدستي سنت کول) هر کله چي ته د جمعې لمونځ وکړې نو تر هغه وخته پوري بل لمونځ مه کوه تر څو پوري چي د یوچا سره خبري ونه کړې یا د هغه ځای څخه بل ځای ته ولاړ نه سې ځکه چي رسول الله ﷺ موږ ته دا حکم کړی دی چي موږ یو لمونځ د بل سره یو ځای نه کړو تر څو پوري چي په منځ کي خبره ونه کړو. یا دمسجد څخه ونه وزو. مسلم.

(۱۱۱۹): وَعَنْ عَطَاءٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا صَلَّى الْجُمُعَةَ بِمَكَّةَ تَقَدَّمَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يَتَقَدَّمُ فَيُصَلِّيْ أَرْبَعًا وَإِذَا كَانَ بِالْمَدِيْنَةِ صَلَّى الْجُمُعَةَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى بَيْتِهِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَلَمْ يُصَلِّ فِي الْمَسْجِدِ فَقِيْلَ لَهُ . فَقَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عطاء ؓ څخه روایت دی چي کله حضرت ابن عمر ؓ په مکه کي د جمعې لمونځ وکړ نو د خپل ځای څخه به مخکي سو او دوه رکعته به یې وکړل ددې وروسته به نور هم مخکي سو او څلور رکعته لمونځ به یې وکړ او کله چي په مدینه کي وو نو د جمعې د لمانځه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ . رواه أبو داود وفي رواية الترمذي قال ( رأيت ابن عمر صلى بعد الجمعة ركعتين ثم صلى بعد ذلك أربعا )

وروسته به كور ته تلى او په كور كي به يې دوه ركعته كول او په مسجد كي به يې نه كول د هغه څخه ددې په اړه پوښتنه وسول نو هغه وويل چي رسول الله ﷺ به داسي كول . ابوداؤد، د ترمذي په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي عطاء وويل ما ابن عمر وليدی چي د جمعې وروسته به يې دوه ركعته كول او د هغه وروسته به يې څلور ركعته كول .

## بَابُ صَلٰوةِ اللَّيْلِ (د شپې دلمانځه بيان)

### لومړی فصل

**رسول الله ﷺ به شپه كي د ماخستن او سهار په منځ كي يوولس ركعته ادا كول**

(۱۱۲۰): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى الْفَجْرِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُسَلِّمُ مِنْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ وَيُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ فَيَسْجُدُ السَّجْدَةَ مِنْ ذَالِكَ قَدْرَ مَا يَقْرَأُ أَحَدُكُمْ خَمْسِينَ آيَةً قَبْلَ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَتَبَيَّنَ لَهُ الْفَجْرُ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ لِلْإِقَامَةِ فَيَخْرُجُ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د ماخستن د لمانځه وروسته تر سهار پوري په ميانه وخت كي يوولس ركعته لمونځ كوی او د هر دوو ركعتو وروسته به يې سلام گرځوی او يو ركعت وتر به يې كول او د وترو په لمانځه كي به يې دومره اوږده سجده كول په څومره وخت كي چي پنځوس آياتونه ويل كيدای سي ، بيا چي به مؤذن د سهار د آذان څخه فارغ سو او د سهار رڼا به څيره سول نو رسول الله ﷺ به دريدی او دوه مختصر ركعتونه (د سهار سنت) به يې وكړل بيا به پر خپل راسته بغل پريوتی تر څو چي مؤذن به د رسول الله ﷺ څخه د اقامت كولو اجازه تر لاسه كولو لپاره راغلی او رسول الله ﷺ به لمانځه ته تشريف يووړ . بخاري او مسلم

**د سهار د لمانځه او سنتو په منځ كي خبري كول**

(۱۱۲۱): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَإِنْ كُنْتُ مُسْتَيْقِظَةً حَدَّثَنِي وَإِلَّا اضْطَجَعَ . رواه مسلم

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د سهار دوه ركعته سنت وكړل نو زما په لور به متوجه سو كه زه به ويښه وم نو زما سره به يې خبري كولې او كه زه به بيده وم نو رسول الله ﷺ به هم څنگ ووهی . مسلم

**د سهار د سنتو وروسته استراحت کول**

(۱۱۲۲): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ د سهار دوه رکعته (سنت) وکړل نو پر راسته بغل به پریوتی . بخاري اومسلم

**په شپه کې رسول الله ﷺ څو رکعته کول؟**

(۱۱۲۳): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشَرَةَ رَكْعَةً مِّنْهَا الْوِتْرُ وَرَكْعَتَا الْفَجْرِ . رواه مسلم .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د شپې دیارلس رکعته کول چې په هغو کې به وتر هم وه او د سهار دوه رکعته سنت هم . مسلم.

(۱۱۲۴): وَعَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ فَقَالَتْ سَبْعٌ وَّتِسْعٌ وَإِحْدٰى عَشَرَ رَكْعَةً سِوَى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ . رواه البخاري

د حضرت مسروق ﷺ څخه روایت دی چې ما د بي بي عائشې څخه د رسول الله ﷺ د شپې د لمانځه په اړه پوښتنه وکړه ، هغې وویل کله اوه رکعته کله نهه رکعته او کله یوولس رکعته د سهار د دوو سنتو پرته . بخاري.

**رسول الله ﷺ په تهجد کې اول دوه رکعته لنډ کول**

(۱۱۲۵): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ لِيُصَلِّيَ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ . رواه مسلم .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ د شپې د لمانځه لپاره راپورته کېدی نو اول به يې دوه مختصر رکعتونه کول . مسلم.

(۱۱۲۶): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ فَلْيَفْتَتِحِ الصَّلَاةَ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيْفَتَيْنِ . رواه مسلم .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چې تاسو د شپې د لمانځه لپاره راپورته کیږي نو اول دي دوه مختصر رکعتونه کوي . مسلم .

(۱۱۲۷): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُوْنَةَ لَيْلَةً وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا فَتَحَدَّثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَهْلِه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې یوه شپه زه د خپلې خاله میمونې کره پاته سوم په هغه شپه رسول الله ﷺ هم هلته وو، رسول الله ﷺ

سَاعَةً ثُمَّ رَقَدَ فَلَمَّا كَانَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرِ اَوْ بَعْضُهُ قَعَدَ فَنَظَرَ اِلَى السَّمَاءِ فَقَرَأَ (اِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ حَتّٰى خَتَمَ السُّوْرَةَ ثُمَّ قَامَ اِلَى الْقِرْبَةِ فَأَطْلَقَ شِنَاقَهَا ثُمَّ صَبَّ فِي الْجَفْنَةِ ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوْءًا حَسَنًا بَيْنَ الْوُضُوْئَيْنِ لَمْ يُكْثِرْ وَقَدْ اَبْلَغَ فَقَامَ فَصَلّٰى فَقُمْتُ وَتَوَضَّأْتُ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَ بِأُذُنِيْ فَأَدَارَنِيْ عَنْ يَمِيْنِهِ فَتَتَامَّتْ صَلَاتُهُ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً ثُمَّ اضْطَجَعَ فَنَامَ حَتّٰى نَفَخَ وَكَانَ اِذَا نَامَ نَفَخَ فَاٰذَنَهُ بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ فَصَلّٰى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ وَكَانَ فِيْ دُعَائِهِ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا وَفِيْ سَمْعِيْ نُوْرًا وَعَنْ يَمِيْنِيْ نُوْرًا وَعَنْ يَسَارِيْ نُوْرًا وَفَوْقِيْ نُوْرًا وَتَحْتِيْ نُوْرًا وَأَمَامِيْ نُوْرًا وَخَلْفِيْ نُوْرًا وَاجْعَلْ لِيْ نُوْرًا وَزَادَ بَعْضُهُمْ وَفِيْ لِسَانِيْ نُوْرًا وَذَكَرَ وَعَصَبِيْ وَلَحْمِيْ وَدَمِيْ وَشَعْرِيْ وَبَشَرِيْ. متفق عليه، وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا وَاجْعَلْ فِيْ نَفْسِيْ نُوْرًا وَأَعْظِمْ لِيْ نُوْرًا وَ فِيْ اُخْرٰى لِمُسْلِمٍ اَللّٰهُمَّ اَعْطِنِيْ نُوْرًا.

د لږ وخت لپاره د خپلې بي بي (میمونې) سره خبري وکړې بیا بیده سو ، کله چي د شپې آخري دریمه برخه پاته سوه یا ددې څخه څه کمه نو رسول الله ﷺ راپورته سو د آسمان په لور یې کتل او دا آیت یې تلاوت کوی (ان في خلق السموات.....)، (د آسمانو او مځکو په پیداکولو او د شپې او ورځي په اختلاف کي د عقلمندو لپاره نښي دي ) دا سورت یې تر پایه تلاوت کړ ، بیا د ژي (د اوبو لوښي) په لور ولاړی د هغه خوله یې خلاصه کړل او پیاله یې د اوبو څخه ډکه کړه بیا یې په ښه ډول اودس وکړ اوبه یې ډیري ونه بیولې او پوره اودس یې وکړ بیا ودریدی او لمونځ یې وکړ (ددې په لیدو سره ابن عباس وایي) زه هم راپورته سوم اودس مي وکړ او د رسول الله ﷺ چپه خوا ته ودریدم، رسول الله ﷺ زما غوږ ونیوی او د چپه خوا څخه یې راسته خوا ته کرم، رسول الله ﷺ دیارلس رکعته پوره کړل بیا رسول الله ﷺ بیده سو تر دې چي د رسول الله ﷺ خراری( دخوب آواز) واوریدل سو او د رسول الله ﷺ دا عادت وو چي بیده به سو نو خراری به یې کوی ، ددې وروسته بلال آذان وکړ او رسول الله ﷺ یې د لمانځه تیاری ته خبر کړ، رسول الله ﷺ راپورته سو او د اوداسه کولو پرته یې لمونځ وکړ او د رسول الله ﷺ هغه دعاء چي د سنتو او فرضو په منځ کي به یې کوله داوه : (اللهم اجعل .....)، (اې الله زما په زړه کي نور پیداکړې زما په سترګو کي نور زما په غوږو کي نور زما راسته لوري ته نور زما چپه لوري ته نور زما سربیره نور زما لاندي نور زما مخ ته نور زما شا ته نور او زما دپاره نور پیداکړې ) او په ځیني روایاتو کي دا الفاظ هم لیکل سوي دي چي (زما په ژبه کي نور ) او ځینو دا هم لیکلي دي چي زما په دماغ کي نور زما په غوښه کي نور زما په وینه کي نور زما په وربښتانو کي نور زما په پوست کي نور

پیدا کړي. (بخاري او مسلم) د بخاري او مسلم په یو بل روایت کې دا الفاظ هم دي (زما په نفس کې نور او زما لپاره نور لوی کړي) او د مسلم په یو بل روایت کې دا الفاظ دي: (اې الله ما ته نور راکړي).

د وتر درې رکعته دي

(۱۱۲۸): وَعَنْهُ أَنَّهُ رَقَدَ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَيْقَظَ فَتَسَوَّكَ وَتَوَضَّأَ وَهُوَ يَقُولُ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ حَتّٰى خَتَمَ السُّورَةَ ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَأَطَالَ فِيهِمَا الْقِيَامَ وَالرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَامَ حَتّٰى نَفَخَ ثُمَّ فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ سِتَّ رَكَعَاتٍ كُلَّ ذٰلِكَ يَسْتَاكُ وَيَتَوَضَّأُ وَيَقْرَأُ هٰؤُلَاءِ الْآيَاتِ ثُمَّ أَوْتَرَ بِثَلَاثٍ . رواه مسلم.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې زه یوه شپه د رسول الله ﷺ په کور کې بیده وم، رسول الله ﷺ د شپې ویښ سو مسواك یې وکړ او اودس یې وکړ بیا یې دا آیت تلاوت کړ (ان في خلق السموات....) تر پایه پوري، بیا رسول الله ﷺ ودریدی او دوه رکعته لمونځ یې وکړ چې په هغه کې یې ولاړه، رکوع او سجده ډیره اوږده وکړل بیا وګرځیدی نو رسول الله ﷺ پریوتی او بیده سو او خراری یې پیل کړ، درې ځله رسول الله ﷺ داسې وکړل او شپږ رکعته یې وکړل او هر ځل یې مسواك او اودس کوی او ذکر سوي آیاتونه یې ویل، بیا یې درې رکعته وتر وکړل. مسلم

د رسول الله ﷺ د تهجد د لمانځه کیفیت

(۱۱۲۹): وَعَنْ زَيْدِ ابْنِ خَالِدِ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ قَالَ لَأَرْمُقَنَّ صَلَاةَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّيْلَةَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ أَوْتَرَ فَذٰلِكَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً. رواه مسلم، قوله ثم صلى ركعتين وهما دون اللتين قبلهما اربع مرات هكذا في صحيح مسلم و افراده من كتاب الحميدي وموطاء مالك و سنن ابي داؤد وجامع الاصول .

د حضرت زید بن خالد الجهني ﷺ څخه روایت دی چې هغه یو ځل اراده وکړه چې نن شپه زه د رسول الله ﷺ لمونځ وګورم، نو لومړی خو رسول الله ﷺ دوه مختصر رکعته وکړل بیا یې دوه اوږده رکعته وکړل چې اوږده اوږده وه بیا یې دوه رکعته درمیانه رکعتونه وکړل بیا یې دوه رکعته تر هغو لنډ وکړل بیا یې دوه رکعته تر هغو لنډ وکړل بیا یې دوه رکعته تر هغو لنډ وکړل بیا یې وتر وکړل او دا ټول دیارلس رکعته سول. مسلم.

**رسول الله ﷺ په اخر عمر کي نفل په ناسته کول**

| | |
|---|---|
| (۱۱۳۰): وَعَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ لَمَّا بَدَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَثَقُلَ كَانَ أَكْثَرُ صَلَاتِهِ جَالِسًا .متفق عليه | د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي په آخر عمر کي کله چي د رسول الله ﷺ بدن مبارك دروند سو نو نفل لمونځ به يې اکثر په ناسته کوی . بخاري اومسلم |

**د تهجد د لمانځه سورتونه**

| | |
|---|---|
| (۱۱۳۱): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ لَقَدْ عَرَفْتُ النَّظَائِرَ الَّتِيْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرِنُ بَيْنَهُنَّ فَذَكَرَ عِشْرِيْنَ سُوْرَةً مِّنْ أَوَّلِ الْمُفَصَّلِ عَلَى تَأْلِيْفِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ سُوْرَتَيْنِ فِيْ رَكْعَةٍ آخِرُهُنَّ ( حٰمٓ الدُّخَانِ وَ عَمَّ يَتَسَاءَلُوْنَ . متفق عليه | د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي د قرآن کريم د هغو سورتونو څخه خبر يم چي يو دبل سره مماثل دي او رسول الله ﷺ به دا يوځای کول نو هغه شل سورتونه بيان کړل چي مفصل ورته ويل کيږي ، رسول الله ﷺ به دا سورتونه داسي يو ځای کول چي په يوه رکعت کي به يې دوه سورتونه ويل |

او په دې شلو سورتونو کي آخري دوه سورتونه (حم الدخان او عم يتساءلون) دي . بخاري اومسلم

## دوهم فصل

**د رسول الله ﷺ د تهجد د لمانځه کيفيت**

| | |
|---|---|
| (۱۱۳۲): عَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ وَكَانَ يَقُوْلُ اللهُ أَكْبَرُ ثَلَاثًا ذُو الْمَلَكُوْتِ وَالْجَبَرُوْتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ ثُمَّ اسْتَفْتَحَ فَقَرَأَ الْبَقَرَةَ ثُمَّ رَكَعَ فَكَانَ رُكُوْعُهُ نَحْوًا مِّنْ قِيَامِهِ فَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ رُكُوْعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ فَكَانَ قِيَامُهُ نَحْوًا مِّنْ رُكُوْعِهِ يَقُوْلُ لِرَبِّيَ الْحَمْدُ ثُمَّ سَجَدَ فَكَانَ سُجُوْدُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ فَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ سُجُوْدِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُوْدِ وَكَانَ يَقْعُدُ فِيْمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ نَحْوًا مِّنْ سُجُوْدِهِ | د حضرت حذيفة ﷺ څخه روايت دی چي هغه رسول الله ﷺ د شپې پر لمانځه کولو وليدی ، رسول الله ﷺ به درې ځله الله اکبر وايه بيا به يې ويل : ( د ملك، غلبې ،لوئي او برزګي خاونده) د دې وروسته به يې شروع په کول سبحانك اللهم .... بيا به يې سورة بقرة ويل او ددې وروسته به يې رکوع کول ، د رسول الله ﷺ رکوع به هم د ولاړي په اندازه وه او رسول الله ﷺ به په رکوع کي سبحان ربي العظيم ويل ، بيا رسول الله ﷺ د رکوع څخه سر پورته کړ او د رسول الله ﷺ قومه يعني د رکوع څخه دريدل د رکوع په |

وَكَانَ يَقُوْلُ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ فَصَلَّى أَرْبَعَ رَكْعَات قَرَأَ فِيْهِنَّ الْبَقَرَةَ وَآلَ عِمْرَانَ وَالنِّسَاءَ وَالْمَائِدَةَ أَوِ الْأَنْعَامَ شَكَّ شُعْبَةُ .رواه أبو داود .

اندازه وه ، په قومه کي به رسول الله (لِرَبِّيَ الْحَمْدُ) ويل ، بيا رسول الله ﷺ سجده وکړه او سجده يې هم د قيام په اندازه وه ، او په سجده کي يې ويل : سبحان ربي الاعلى ، بيا رسول الله ﷺ د سجدې څخه سر راپورته کړ او د دوارو سجدو په منځ کي د يوې سجدې په اندازه کښېنستی او دا يې ويل : رب اغفرلي، همدارنګه رسول الله ﷺ څلور رکعته وکړل چي په هغو کي يې سورة بقرة، سورة آل عمران، سورة نساء او سورة مائده يا سورة انعام ووايه، شعبه راوي د سورة مائده او سورة انعام په منځ کي شك کړی دی . ابوداؤد.

**د تهجد په لمانځه کي د ډېري ولاړي فضيلت**

(۱۱۳۳): وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَامَ بِعَشْرِ آيَات لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِيْنَ وَمَنْ قَامَ بِمِائَةِ آيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِيْنَ وَمَنْ قَامَ بِأَلْفِ آيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْمُقَنْطِرِيْنَ . رواه أبو داود .

د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي په لمانځه کي لس آياتونه ووايي د هغه نوم به په غافلانو کي نه وليکل سي او څوك چي سل آياتونه ووايي د هغه نوم په فرمانبردارانو کي ليکل کيږي او څوك چي زر آياتونه ووايي نو هغه په ډېر ثواب تر لاسه کونکو کي ليکل کيږي . ابوداؤد.

**د تهجد په لمانځه کي قرائت**

(۱۱۳۴): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ يَرْفَعُ طَوْرًا وَيَخْفِضُ طَوْرًا . رواه أبو داود .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ د شپې قرائت به ډول ډول وو کله به په لوړ آواز او کله په کښته آواز. ابوداؤد

(۱۱۳۵): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَدْرِ مَا يَسْمَعُهُ مَنْ فِي الْحُجْرَةِ وَهُوَ فِي الْبَيْتِ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په دومره آواز سره قرائت وايه که چيري رسول الله ﷺ به په خونه کي دننه وو نو په غولي کي به اوريدل کيدی . ابوداؤد.

**د ابوبکر او عمر (رض) د تهجد د لمانځه قرائت**

(۱۱۳۶): وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ لَيْلَةً فَإِذَا هُوَ بِأَبِيْ بَكْرٍ

د حضرت ابوقتادة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه شپه د باندي راووتی ، نو د حضرت

يُصَلِّيْ يَخْفِضُ مِنْ صَوْتِهِ وَمَرَّ بِعُمَرَ وَهُوَ يُصَلِّيْ رَافِعًا صَوْتَهُ قَالَ فَلَمَّا اجْتَمَعَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَبَابَكْرٍ مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّيْ تَخْفِضُ صَوْتَكَ قَالَ قَدْ أَسْمَعْتُ مَنْ نَاجَيْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ وَقَالَ لِعُمَرَ مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّيْ رَافِعًا صَوْتَكَ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ أُوْقِظُ الْوَسْنَانَ وَأَطْرُدُ الشَّيْطَانَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا بَكْرٍ ارْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا وَقَالَ لِعُمَرَ اخْفِضْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا . رواه أبو داود وروى الترمذي نحوه .

ابوبکر صدیق سره تیر سو چي په کښته آواز سره یې لمونځ کوی، بیا د حضرت عمرؓ سره نژدې تیر سو چي په لوړ آواز سره یې لمونځ کوی، ابوقتاده وایي کله چي ابوبکر او عمر دواړه د رسول الله ﷺ سره یو ځای سول نو رسول الله ﷺ وفرمایل: اې ابوبکر! زه ستا په خوا کي تیریدم او تا په کرار آواز سره لمونځ کوی، ابوبکر عرض وکړ اې دالله رسوله! ما هغه ته اوروی د چا سره چي مي مناجات کول، بیا رسول الله ﷺ عمر ته وفرمایل: زه ستا په خوا کي تیر سوم نو تا په لوړ آواز سره لمونځ کوی، عمرؓ وویل اې دالله رسوله! ما بیده خلك راویښول او شیطان مي تښتوی، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: اې ابوبکر! ته خپل آواز لږ لوړ کړه او عمره ته خپل آواز لږ کراره کړه. ابوداؤد او ترمذي.

## رسول الله ﷺ د یوه ایت په ویلو سره ټوله شپه درېدی

﴿۱۱۳۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى أَصْبَحَ بِآيَةٍ وَالْآيَةُ: إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ . رواه النسائي وابن ماجه .

د حضرت ابوذرؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د تهجد په لمانځه کي تر سهاره پوري ودرېدی او دا آیت یې وایه: (ان تعذبهم ......) (اې الله! که ته دوئ ته عذاب ورکړې نو دا ستا بندګان دي او که بخښنه ورته وکړې نو ته غالب او دحکمت خاوند یې) (دغه آیت د سورة مائدة په آخر کي دی). نسائي او ابن ماجه.

## د سهار د سنتو وروسته پرېوتل

﴿۱۱۳۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَلْيَضْطَجِعْ عَلَى يَمِيْنِهِ . رواه الترمذي وأبو داود .

د حضرت ابوهریرةؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي په تاسو کي یو څوك د سهار دوه رکعته سنت وکړي نو پر راسته بغل دي لږ وخت پرېوځي. ترمذي او ابوداؤد.

# دريم فصل

## پر عمل دوام

(١١٣٩): عَنْ مَسْرُوْقٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ أَيُّ الْعَمَلِ كَانَ أَحَبُّ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ اَلدَّائِمُ قُلْتُ فَأَيُّ حِيْنٍ كَانَ يَقُوْمُ مِنَ اللَّيْلِ ؟ قَالَتْ كَانَ يَقُوْمُ إِذَا سَمِعَ الصَّارِخَ .متفق عليه

د حضرت مسروق ﷺ څخه روايت دى چي ما د بي بي عائشې څخه پوښتنه وکړه چي کوم عمل د رسول الله ﷺ زيات خوښ وو ؟ هغې وويل هغه عمل چي تل کيږي، ما بيا پوښتنه وکړه رسول الله ﷺ به څه وخت د شپې د تهجد لپاره راپورته کيدى ؟هغې وويل کله چي به چرګ آذان وکړ . بخاري او مسلم .

## د رسول الله ﷺ د شپې معمول

(١١٤٠): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا كُنَّا نَشَاءُ أَنْ نَرٰى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلاَّ رَأَيْنَاهُ وَلاَ نَشَاءُ أَنْ نَرَاهُ نَائِمًا إِلاَّ رَأَيْنَاهُ . رواه النسائي .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي که موږ به دا غوښتل چي رسول الله ﷺ د شپې پر لمانځه کولو ووينو، نو رسول الله ﷺ به مو پر لمونځ کولو وليدى او که موږ به دا غوښتل چي رسول الله ﷺ په خوب کولو ووينو نو موږ به هغه مبارك پر خوب کولو وليدى (يعني تهجد به يې هم کول او خوب هم)نسائي

(١١٤١): وَعَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ إِنَّ رَجُلاً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُلْتُ وَأَنَا فِيْ سَفَرٍ مَّعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللهِ لَأَرْقُبَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلصَّلاَةِ حَتّٰى أَرٰى فِعْلَهُ فَلَمَّا صَلّٰى صَلاَةَ الْعِشَاءِ وَهِيَ الْعَتَمَةُ اضْطَجَعَ هَوِيًّا مِنَ اللَّيْلِ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَنَظَرَ فِي الْأُفُقِ فَقَالَ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلاً حَتّٰى بَلَغَ إِلَى إِنَّكَ لاَ تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ، ثُمَّ أَهْوٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى فِرَاشِهِ فَاسْتَلَّ مِنْهُ سِوَاكًا ثُمَّ أَفْرَغَ فِيْ قَدَحٍ مِّنْ إِدَاوَةٍ عِنْدَهُ مَاءً فَاسْتَنَّ ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى حَتّٰى قُلْتُ قَدْ صَلّٰى قَدْرَ

د حضرت حميد بن عبدالرحمن بن عوف ﷺ څخه روايت دى چي د نبي کريم ﷺ په اصحابو کي يو کس خپلو ملګرو ته يا په خپل زړه کي وويل چي زه د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وم او دا اراده مي کړې وه چي زه به قسم په خداى د رسول الله ﷺ د شپې لمونځ وينم چي دده مبارك فعل په خپلو سترګو سره ووينم او خپله هم داسي وکړم، نو ما وليدل چي رسول الله ﷺ د ماخستن لمونځ وکړ او بيده سو او تر ډيره وخته پوري بيده وو بيا بيدار سو او آسمان ته يې وکتل او دا آيت يې ووايه : (ربنا ماخلقت ....) تر (لاتخلف الميعاد) پوري ، بيا رسول الله ﷺ د بسترې په

مَا نَامَ ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتّٰی قُلْتُ قَدْ نَامَ قَدْرَ مَا صَلّٰی ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَفَعَلَ كَمَا فَعَلَ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَقَالَ مِثْلَ مَا قَالَ فَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَبْلَ الْفَجْرِ . رواه النسائي .

لور متوجه سو او مسواك يې راوکښی د پټك څخه يې اوبه په پياله کي راواخيستې بيا يې مسواك وواهه او اودس يې وکړ او ددې وروسته د لمانځه لپاره ودريدی او لمونځ يې وکړ تر دې چې ما په خپل زړه کي وويل چي رسول الله ﷺ دومره بيده سو څومره وخت چي يې لمونځ وکړ، بيا رسول الله ﷺ بيدار سو او همداسي يې وکړل څنګه چي مخکي يې کړی وه او هغه يې وويل کوم چي په لومړي ځل يې ويلي وه، رسول الله ﷺ د سهار د لمانځه څخه تر مخه درې واره داسي وکړل . نسائي .

(۱۱۴۲): وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مَالِك أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَاته فَقَالَتْ وَمَا لَكُمْ وَصَلَاتَهُ كَانَ يُصَلِّي ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلّٰی ثم يصلي قدر ما نام ثم ينام قدر ما صلى حَتّٰى يُصْبِحَ ثُمَّ نَعَتَتْ قِرَاءَتَهُ فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا. رواه ابوداوٗد والترمذي والنسائي .

د حضرت يعلي بن مالك ﷺ څخه روايت دی چي هغه د رسول الله ﷺ د بي بي ام سلمه څخه د رسول الله ﷺ د قرائت په اړه پوښتنه وکړه ، هغې وفرمايل : د رسول الله ﷺ د قرائت او لمانځه څخه به تا ته څه په لاس درسي (يعني په تا کي دومره توان نسته) رسول الله ﷺ به د شپې لمونځ کوی بيا به بيده سو يعني څومره وخت چي به يې لمونځ کوی هغومره وخت به بيده سو بيا څومره وخت چي به بيده سو هغومره وخت به يې لمونځ کوی بيا به هغومره وخت بيده کيدی څومره وخت چي به يې لمونځ کوی تر دې چي سهار به سو ، د دې وروسته ام سلمه د رسول الله ﷺ د قرائت بيان وکړ تر دې چي يو يو حرف يې د رسو ل الله ﷺ د قرائت بيان کړ. ابوداوٗد ،ترمذي .

# بَابُ مَا يَقُوْلُ اِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ

## (د شپې د لمانځه د اذکارو بیان)

## لومړی فصل

**د تهجد په لمانځه کې د رسول الله ﷺ دعاء**

(۱۱۴۳): عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِن اللَّيْلِ يَتَهَجَّدُ قَالَ اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ اَنْتَ نُورُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ مَلِكُ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ الْحَقُّ وَوَعْدُكَ الْحَقُّ وَلِقَاؤُكَ الْحَقُّ وَقَوْلُكَ حَقٌّ وَالْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ وَمُحَمَّدٌ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ اللّٰهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَنْتَ اَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ. متفق عليه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ د شپې د تهجد لپاره ودریدی نو دا دعاء به يې کوله : (اې الله ! ټول تعریفونه يوازې تا لره دي ته د آسمانو، مځکو او هغو شيانو چې ددې په منځ کې قائم ساتونکی يې او ټول تعريف يوازې تا لره دي ته د آسمانو، مځکې او هغه څه چې ددوئ په منځ کې دي نور يې او ټول تعريف يوازې تا لره دي ته د آسمانو او مځکو او څه چې په دې کې دي پاچا يې او ټول تعريف يوازې تا لره دی ته حق يې ستا وعده حق ده ستا ملاقات حق دی ستا قول حق دی جنت حق دی او دوږخ حق دی انبياء حق دې او محمد حق دی او قيامت حق ، اې الله ! زه ستا فرمانبردار يم او پر تا مې ايمان راوړی دی او ما پر تا باور کړی دی او ستا په لور مې رجوع وکړه زه ستا په مرسته سره د خپل د ښمن سره جګړه کوم او ستا و لوري ته مې فرياد راوړی دی نو هغه زما ګناه و بخښې چې ما مخکې کړې ده يا يې وروسته کوم او کوم چې ما پټ کړې دي او کومه چې مې په څرګنده کړې ده او ته په هغو ګناهو زما څخه زيات خبر يې ته وړاندې کونکی او ته وروسته کونکی يې ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او ستا څخه پرته بل خدای نسته .) بخاري او مسلم .

(۱۱۴۴): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې کله

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ فَقَالَ اللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ . رواه مسلم

به رسول الله ﷺ د شپې د لمانځه لپاره ودریدی نو خپل لمونځ به يې دغه دعاء پيل کوی : (اې د جبرائيل، ميکائيل او اسرافيل پروردگاره! اې د آسمان او مځکي پرودرگاره ، اې د پټ او ښکاره پيژندونکې ته به د قيامت په ورځ د خپلو بندگانو په منځ کي د هر شي پريکړه وکړې چي هغوئ پکښي اختلاف کوی په هغه شی کي زما لارښونه وکړې چي د امر حق څخه پکښي اختلاف کړل سوی دی ، ته چي څوك غواړې نو سيده لاري ته يې لارښونه کوې ) مسلم.

## د خوب وروسته تسبيح او د هغه فضيلت

(۱۱۴۵): وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ ثُمَّ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي أَوْ قَالَ ثُمَّ دَعَا اسْتُجِيبَ لَهُ فَإِنْ تَوَضَّأَ وَصَلَّى قُبِلَتْ صَلَاتُهُ رواه البخاري .

د حضرت عبادة بن صامت ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چي د شپې د خوب څخه راوېښ سي نو دا دعاء دي غواړي : ( د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هغه يوازي دی هغه څوك شريك نه لري پاچاهي د هغه ده او هر ډول تعريف د هغه دي او هغه پر هر شی واكدار دی او الله د هر عيب څخه پاك دی او ټول تعريفونه الله لره دي د هغه څخه پرته بل د عبادت وړ نسته او الله ډير لوی دی د عبادت توان او د گناه څخه د خلاصون توان د الله په مرسته دی) د دې وروسته دي دا ووايي : (اې الله ما و بخښې) ، بيا رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي بيا دي دا دعاء وكړي قبوله به سي او كه اودس وكړي نو لمونځ دي وكړي لمونځ به يې قبول سي . بخاري شريف

# دوهم فصل

## د وېښېدو په وخت کي د رسول الله ﷺ دعاء

(۱۱۴۶): وَعَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَيْقَظَ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د شپې را وېښ سو نو دا کلمات

مِنَ اللَّيْلِ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ اَللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ اسْتَغْفِرُكَ لِذَنْبِيْ وَأَسْأَلُكَ رَحْمَتَكَ اَللّٰهُمَّ زِدْنِيْ عِلْمًا وَلَا تُزِغْ قَلْبِيْ بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنِيْ وَهَبْ لِيْ مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ. رواه أبو داود

به يې ويل: (اې الله! ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته ته پاك يې، اې الله! زه ستا پاكي بيانوم او د خپلو گناهونو بخښنه غواړم او ستا څخه ستا د رحمت غوښتونكى يم، اې الله! زما علم زيات كړې د هدايت راكولو څخه وروسته زما په زړه كي كوږوالى پيدا مه كړې او د خپل لوري څخه زما لپاره رحمت راكړې ته ډير بخښونكى يې) ابوداؤد.

## د شپې راكښېښتو وروسته د الله ﷺ ذكر

(۱۱۴۷): وَعَنْ مُعَاذَ بْنِ جَبَلٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَامِنْ مُسْلِمٍ يَبِيْتُ عَلٰى ذِكْرٍ طَاهِرًا فَيَتَعَارُ مِنَ اللَّيْلِ فَيَسْأَلُ اللّٰهَ خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ اللّٰهُ إِيَّاهُ. رواه أحمد وأبو داود.

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم څوك چي د اوداسه په حالت كي د الله په ذكر كولو كي بيده سي او بيا د شپې راكښېني او د الله څخه د خير دعاء وغواړي نو الله تعالى به د دين او دنيا خير وركړي. احمد. ابوداؤد.

## د تهجد څخه مخكي تسبيح او دعاء

(۱۱۴۸): وَعَنْ شَرِيْقٍ الْهَوْزَنِيِّ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ فَسَأَلْتُهَا بِمَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ إِذَا هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَتْ سَأَلْتَنِيْ عَنْ شَيْءٍ مَا سَأَلَنِيْ عَنْهُ أَحَدٌ قَبْلَكَ كَانَ إِذَا هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ كَبَّرَ عَشْرًا وَحَمِدَ اللّٰهَ عَشْرًا وَقَالَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ عَشْرًا وَقَالَ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ عَشْرًا وَاسْتَغْفَرَ عَشْرًا وَهَلَّلَ عَشْرًا ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ ضِيْقِ الدُّنْيَا وَضِيْقِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ عَشْرًا ثُمَّ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ. رواه أبو داود.

د حضرت شريق الهوزني ﷺ څخه روايت دى چي زه د بي بي عائشې په خدمت كي حاضر سوم او پوښتنه مي وكړه چي رسول الله ﷺ به د شپې راوېښ سو نو د كوم عبادت څخه به يې شروع كول؟ بي بي عائشې ورته وويل: تا زما څخه د هغه شى پوښتنه وكړه چي تر اوسه پوري داسي پوښتنه چا نه وه كړي، رسول الله ﷺ چي به د شپې راكښېښتى نو لس واره به يې الله اكبر وايه، لس واره به يې الحمدلله ويل، لس واره به يې سبحان الله وبحمده ويل، لس واره به يې سبحان الملك القدوس ويل او لس واره به يې استغفار ويل او لس واره به يې لااله الاالله ويل بيا به يې لس واره دا كلمات ويل: (اې الله! زه د دنيا د تنگى او د قيامت د ورځي د تنگى او سختى څخه د ساتني دعاء غواړم) د دې وروسته به يې لمونځ شروع كړ. ابوداؤد.

## دريم فصل

﴿١١٤٩﴾: عَنْ اَبِيْ سَعِيْد قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ كَبَّرَ ثُمَّ يَقُوْلُ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ ثُمَّ يَقُوْلُ اللهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا ثُمَّ يَقُوْلُ أَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي و زاد ابوداؤد بعد قوله غيرك ثم يقول لااله الاالله ثلثا وفي آخر الحديث ثم يقرا.

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د شپې د لمانځه لپاره راکښېنستی نو الله اکبر به يې وايه او بيا به يې دا ويل : (سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ) بيا به يې (اَللهُ اَكْبَرُ كَبِيْرًا) وايه او ددې وروسته به يې دا ويل : (أَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ) . ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابوداؤد د (غيرك) څخه وروسته دا الفاظ زيات کړي دي چي بيا به رسول الله ﷺ درې واره (لااله الاالله) ويل ، او حديث په پای کي دي چي بيا به يې قرائت وايه .

﴿١١٥٠﴾: وَعَنْ رَبِيْعَةَ بْنِ كَعْبِ الْأَسْلَمِيِّ قَالَ كُنْتُ أَبِيْتُ عِنْدَ حُجْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُنْتُ أَسْمَعُهُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَقُوْلُ سُبْحَانَ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ الْهَوِيَّ ثُمَّ يَقُوْلُ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ الْهَوِيَّ . رواه النسائي وللترمذي نحوه وقال هذا حديث حسن صحيح .

د حضرت ربيعة ﷺ څخه روايت دی چي ما به د رسول الله ﷺ د حجرې سره نژدې شپه تيرول ، رسول الله ﷺ چي به د شپې راکښېنستی نو ما به آواز واوريدی چي رسول الله ﷺ به تر ډيره وخته پوري (سُبْحَانَ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ الْهَوِيَّ) وايه، بيا به يې تر ډيره وخته پوري ويل (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ الْهَوِيَّ) نسائي ،ترمذي.

# بَابُ التَّحْرِيْضِ عَلٰى قِيَامِ اللَّيْلِ

## (د شپې د عبادت د ترغیب بیان)

## لومړی فصل

**د شیطان د عبادت څخه د منع کولو چمونه**

﴿۱۱۵۱﴾: عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلٰى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ عَلٰى كُلِّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: هر کله چي په تاسو کي يو څوك بیدیږي نو شیطان د هغه څټ ته دري غوټي ورکوي او د هري غوټي پر وخت دا (وسوسه) وراچوي چي شپه لا ډیره پاته ده بیده سه، که هغه بیده راکښېني او د الله ذکر کوي نو یوه غوټه خلاصه سي بیا چي هغه اودس کوي نو دويمه غوټه هم خلاصه سي بیا چي هغه لمونځ کوي نو دریمه غوټه هم خلاصه سي نو دی سهار ښه خوشحاله او پاك نفس وي او که نه راکښېني د الله ذکر ونه کړي نو هغه په دې حالت کي سهار راکښېني چي سست او ناپاك وي . بخاري او مسلم.

**د رسول الله ﷺ ډېر عبادت ....**

﴿۱۱۵۲﴾: وَعَنِ الْمُغِيْرَةِ قَالَ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ فَقِيلَ لَهُ لِمَ تَصْنَعُ هٰذَا وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ قَالَ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا . متفق علیه

د حضرت مغیرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د شپې دومره اوږده ولاړه وکړه چي پښې مبارکي یې و پړسیدلې، صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! تاسو داسي ولي کوئ ستاسو خو مخکي او وروسته ټول ګناهونه بخښل سوي دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ایا زه شکر ګزار بنده جوړ نه سم. بخاري او مسلم.

**د شپې د عبادت نه کونکي بدوالي**

﴿۱۱۵۳﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ فَقِيلَ لَهُ مَا زَالَ نَائِمًا حَتّٰى أَصْبَحَ مَا قَامَ إِلَى الصَّلٰوةِ قَالَ ذَالِكَ رَجُلٌ بَالَ

د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په وړاندي د یو سړي یادونه وسول چي هغه ټوله شپه بیده پروت وي او تر سهاره نه

الشَّیْطَانُ فِيْ اُذْنِه اَوْ قَالَ فِيْ اُذُنَیْه . متفق علیه

کښینیني او نه لمانځه ته کښیني ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: شیطان د هغه په غوږ کي بولي کوي یا د هغه په دواړو غوږو کي بولي کوي . بخاري او مسلم.

## د ښځو لپاره د تهجد ذکر

﴿۱۱۵۴﴾:وَعَنْ اُمِّ سَلْمَةَ قَالَتْ اسْتَیْقَظَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَیْلَةً فَزِعًا یَّقُوْلُ سُبْحَانَ اللّٰهِ مَاذَا اُنْزِلَ اللَّیْلَةَ مِنَ الْخَزَائِنِ وَمَاذَا اُنْزِلَ مِنَ الْفِتَنِ مَنْ یُّوْقِظُ صَوَاحِبَ الْحُجُرَاتِ یُرِیْدُ اَزْوَاجَهُ لِکَيْ یُصَلِّیْنَ رَبَّ کَاسِیَةٍ فِي الدُّنْیَا عَارِیَةٌ فِي الْآخِرَةِ . رواه البخاري .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دی چي یوه شپه رسول الله ﷺ په بیره د خوب څخه راکښینستی او داسي یې ویل : (الله پاك دی په نن شپه کي څومره خزاني او څومره فتنې نازلي کړل سوې) بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك نسته چي حجرې والا را پورته کړي (یعني خپل بیبیاني) چي هغوئ لمونځ وکړي ځکه ډیري ښځي دي چي په دنیا کي به جامې اغوستونکي وي مگر په آخرت کي به لوڅي وي . بخاري

## د رحمت د نزول او د دعاء د قبلېدو وخت

﴿۱۱۵۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَیْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَی کُلَّ لَیْلَةٍ اِلَی السَّمَاءِ الدُّنْیَا حِیْنَ یَبْقَی ثُلُثُ اللَّیْلِ الْآخِرُ یَقُوْلُ مَنْ یَدْعُوْنِيْ فَاَسْتَجِیْبَ لَهٗ وَمَنْ یَسْاَلُنِيْ فَاُعْطِیَهٗ وَمَنْ یَسْتَغْفِرُنِيْ فَاَغْفِرَ لَهٗ. متفق علیه ، و في روایة لمسلم ثم یبسط یدیه یقول من یقرض غیر عدوم و لاظلوم حتی ینفجر الفجر .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله ﷻ هره شپه د دنیا آسمان ته د شپې په آخري دریمه برخه کي نزول کوي او فرمایي : څوك سته چي زما څخه سوال وکړي چي زه یې سوال قبول کړم، څوك سته چي زما څخه بخښنه و غواړي او زه یې و بخښم، (بخاري اومسلم) د مسلم په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي بیا الله ﷻ د (لطف او رحمت) لاسونه خلاص کړي او وایي څوك دی چي داسي ذات ته پور ورکړئ چي نه خو فقیر او نه ظالم دی نو تر سهار کیدو پوري الله ﷻ داسي فرمایي .

## په هره شپه کي د قبلېدو یو ساعت وي

﴿۱۱۵۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اِنَّ فِي اللَّیْلِ لَسَاعَةً لَا یُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ یَسْاَلُ اللّٰهَ فِیْهَا خَیْرًا مِنْ اَمْرِ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي چي په شپه کي یو ساعت راځي که په هغه کي یو مسلمان د دین او

| | |
|---|---|
| الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ وَذَالِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ. رواه مسلم | دنیا د خیر د عاء وکړي نو الله تعالی یې ورکوي او دا ساعت هره شپه وي . مسلم |

**د حضرت داؤد ﷺ لمونځ او روژه**

| | |
|---|---|
| (۱۱۵۷): وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللهِ صَلَاةُ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامِ وَأَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ صِيَامُ دَاوُدَ كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيَقُومُ ثُلُثَهُ وَيَنَامُ سُدُسَهُ وَكَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا . متفق علیه | د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله تعالی په نزد تر ټولو غوره لمونځ د حضرت داؤد ﷺ او تر ټولو غوره روژه هم د حضرت داؤد ﷺ ده ، حضرت داؤد ﷺ به نیمه شپه خوب کوی او دریمه برخه د شپې به یې عبادت کوی او بیا د شپې شپږمه |

برخه به یې ارام کوی او یوه ورځ به یې روژه نیول او یوه ورځ به یې ماتول . بخاري اومسلم.

**د رسول الله ﷺ د شپې عبادت**

| | |
|---|---|
| (۱۱۵۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ تَعْنِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنَامُ أَوَّلَ اللَّيْلِ وَيُحْيِي آخِرَهُ ثُمَّ إِنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ إِلَى أَهْلِهِ قَضٰى حَاجَتَهُ ثُمَّ يَنَامُ فَإِنْ كَانَ عِنْدَ النِّدَاءِ الْأَوَّلِ جُنُبًا وَثَبَ فَأَفَاضَ عَلَيْهِ الْمَاءَ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ جُنُبًا تَوَضَّأَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ .متفق علیه | د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به په اول د شپې کي ببدېدی او آخري برخه د شپې به ویښ وو ، بیا که به درسول الله ﷺ خپلو ازواجو ته د ورتلو ضرورت وو نو خپل ضرورت به یې پوره کوی او بیا به ببدېدی او د لومړي آذان پر وخت که به رسول الله ﷺ د |

جنابت په حال کي وو نو ولاړېدی به غسل به یې کوی او که به د جنابت په حال کي نه وو نو اودس به یې کوی او بیا به یې دوه رکعته لمونځ کوی . بخاري اومسلم .

## دویم فصل

**د تهجد کولو تاکید او فضیلت**

| | |
|---|---|
| (۱۱۵۹): عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِقِيَامِ اللَّيْلِ فَإِنَّهُ دَأْبُ الصَّالِحِينَ قَبْلَكُمْ وَهُوَ قُرْبَةٌ لَكُمْ إِلَى رَبِّكُمْ | د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : تاسو پر خپل ځان د شپې لمونځ (تهجد) لازم کړئ دا طریقه د هغه نیکانو خلکو ده چي ستاسو څخه وړاندي وه او د شپې عبادت الله |

وَمَكْفَرَةٌ لِلسَّيِّئَاتِ وَمَنْهَاةٌ عَنِ الْإِثْمِ. رواه الترمذي

ته د نژدې والي سبب دی د گناهو کفاره ده او د گناهو څخه منع کونکی دی. ترمذي.

**د تهجد کونکو خوشبختي**

﴿۱۱۶۰﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ يَضْحَكُ اللهُ إِلَيْهِمُ الرَّجُلَةُ إِذَا قَامَ بِاللَّيْلِ يُصَلِّيْ وَالْقَوْمُ إِذَا صَفُّوْا فِي الصَّلَاةِ وَالْقَوْمُ إِذَا صَفُّوْا فِيْ قِتَالِ الْعَدُوِّ . رواه في شرح السنة .

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: درې کسان دي چي د هغو څخه الله تعالى خوشحاله کيږي او راضي وي يو هغه کس چي د شپې لمونځ وکړي دويم هغه خلك چي دلمانځه لپاره صفونه برابر کړي او دريم هغه خلك چي د دښمن په مقابله کي د جنگ لپاره صفونه ترتيب کړي . شرح السنة

**د شپې په اخره کي د ذکر فضيلت**

﴿۱۱۶۱﴾: وَعَنْ عَمْرِو ابْنِ عَبَسَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْرَبُ مَا يَكُوْنُ الرَّبُّ مِنَ الْعَبْدِ فِيْ جَوْفِ اللَّيْلِ الْآخِرِ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَكُوْنَ مِمَّنْ يَذْكُرُ اللهَ فِيْ تِلْكَ السَّاعَةِ فَكُنْ. رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح غريب اسنادا .

د حضرت عمرو بن عبسه ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالى بنده ته په منځ د شپې په آخري برخه کي زيات نژدې وي که ستا په وس وي چي ته په دې ساعت کي د الله ذکر وکړې نو ته داسي وکړه ، ترمذي ويلي دي چي دا حديث د سند په لحاظ حسن صحيح غريب دی .

**خاوند او ښځه دواړه دي په عبادت کي د يو بل مرسته کوي**

﴿۱۱۶۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللهُ رَجُلاً قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَصَلَّتْ فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِيْ وَجْهِهَا الْمَاءَ رَحِمَ اللهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَصَلَّى فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِيْ وَجْهِهِ الْمَاءَ . رواه ابو داود والنسائي .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله ﷻ دي پر هغه چا رحمت نازل کړي چي د شپې را پورته سي او لمونځ وکړي او خپله ښځه راوېښه کړي او هغه هم لمونځ وکړي بيا که ښځه راوېښه نه سي نو دهغې پر مخ د اوبو څاځکي وپاشي او پر هغه ښځي دي الله ﷻ رحمت نازل کړي چي د شپې راکښيني او لمونځ وکړي او خپل خاوند هم راوېښ کړي او هغه هم لمونځ وکړي او که هغه انکار وکړي نو د هغه پر مخ د اوبو څاځکي و پاشي . ابوداؤد او نسائي.

**د دعاء د قبلېدو وخت**

﴿۱۱۶۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ اَمَامَةَ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّ الدُّعَاءِ اَسْمَعُ قَالَ جَوْفَ اللَّيْلِ الْآخِرِ وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ . رواه الترمذي

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي د دعاء د قبلېدو وخت کوم وخت دی ؟ هغه ورته وفرمایل : د شپې د آخري برخي منځ او د فرض لمانځه وروسته. ترمذي .

**د نیکو اعمالو کونکو لپاره زېرې**

﴿۱۱۶۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ مَالِكٍ الْاَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَغُرَفًا يُرَى ظُهُورُهَا مِنْ بُطُونِهَا وَبُطُونُهَا مِنْ ظَاهِرِهَا اَعَدَّهَا اللّٰهُ لِمَنْ اَلَانَ الْكَلَامَ وَاَطْعَمَ الطَّعَامَ وَتَابَعَ الصِّيَامَ وَصَلَّى بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ . رواه البيهقي في شعب الايمان و روي الترمذي عن علي نحوه و في روايته لمن اطاب الكلام .

د حضرت ابو مالك اشعري ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په جنت کي داسي خوني دي چي د هغو دننه د دباندي شیان معلومیږي او د دباندي څخه د ننه شیان نه معلومیږي دا د هغو خلکو لپاره جوړي سوي دي چي په نرمۍ سره خبري کوي خلکو ته ډوډۍ ورکوي او پرله پسې روژې نیسي او د شپې هغه وخت لمونځ کوي چي نور خلك بیده وي، د حضرت علي په یوه روایت کي دا الفاظ هم دي چي د یوچا لپاره ښه خبره کوي . بیهقي

## دریم فصل

**د تهجد پرېښودو منعه**

﴿۱۱۶۵﴾: عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرِو ابْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ لَا تَكُنْ مِثْلَ فُلَانٍ كَانَ يَقُومُ اللَّيْلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ. متفق عليه

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : اې عبدالله ! د فلاني کس په ډول مه کیږه چي د شپې به یې لمونځ کوی بیا یې پرېښودی . بخاري او مسلم .

**د حضرت داؤد ﷺ د شپې عبادت**

﴿۱۱۶۶﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ اَبِي الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت عثمان بن ابوالعاص ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي

| | |
|---|---|
| كَانَ لِدَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةٌ يُوْقِظُ فِيْهَا أَهْلَهُ يَقُوْلُ يَا آلَ دَاوُدَ قُوْمُوْا فَصَلُّوْا فَإِنَّ هٰذِهِ سَاعَةٌ يَسْتَجِيْبُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيْهَا الدُّعَاءَ إِلاَّ لِسَاحِرٍ أَوْ عَشَّارٍ . رواه أحمد . | حضرت داؤد ﷺ د شپې يو وخت ټاکلی وو هغه به په دغه وخت کي د خپل کور خلك راويښول او ورته ويل به يې : اې د داؤد کورنۍ ! پورته سئ او لمونځ وکړئ ځکه چي په دې ساعت کي الله |

تعالى دعاء قبلوي خو د جادوګرانو او په ظلم د محصول اخيستونکو دعاء نه قبليږي. احمد

**د تهجد د لمانځه فضيلت**

| | |
|---|---|
| ﴿١١٦٧﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْمَفْرُوْضَةِ صَلَاةٌ فِيْ جَوْفِ اللَّيْلِ . رواه احمد . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي : د فرض لمانځه وروسته په ټولو لمنځو کي غوره لمونځ د نيمي شپې لمونځ دی . احمد. |

**د تهجد لمونځ د بدئ څخه راګرځول کوي**

| | |
|---|---|
| ﴿١١٦٨﴾: وَعَنْهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ فُلَانًا يُصَلِّيْ بِاللَّيْلِ فَإِذَا أَصْبَحَ سَرَقَ فَقَالَ إِنَّهُ سَتَنْهَاهُ مَا تَقُوْلُ . رواه أحمد والبيهقي في شعب الإيمان . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي يو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ : فلانی سړی د شپې لمونځ کوي او کله چي سهار سي نو غلا کوي، رسول الله ﷺ |

ورته وفرمايل : لمونځ به يې ژر د هغه کار څخه منع کړي د کوم چي تا يادونه کړې ده . احمد او بيهقي په شعب الايمان کي.

**د کورنۍ سره د تهجد کولو فضيلت**

| | |
|---|---|
| ﴿١١٦٩﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالاَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَيْقَظَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّيَا أَوْ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ جَمِيْعًا كُتِبَا فِي الذَّاكِرِيْنَ وَالذَّاكِرَاتِ . رواه أبو داود وابن ماجه . | د حضرت ابوسعيد او ابوهريرة څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي يو څوك د شپې خپله ښځه راويښوي او دواړه لمونځ وکړي يا دواړه دوه رکعته يو ځای وکړي نو دا دواړه په ذاکرين او ذاکرات کي ليکل کيږي . ابوداؤد ، ابن ماجه. |

**د امت د لوړي مرتبې خلك**

| | |
|---|---|
| ﴿١١٧٠﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْرَافُ | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د امت لوړي مرتبې والا هغه خلك دي |

أُمَّتِيْ حَمَلَةُ الْقُرْآنِ وَأَصْحَابُ اللَّيْلِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان .

چي قرآن مجيد پورته كونكى (يعني ساتونكى) او د شپې لمونځ كونكى وي . بيهقي

**د حضرت عمر ﷺ د شپې عبادت**

(۱۱۷۱): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ أَبَاهُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَانَ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ مَا شَاءَ اللهُ حَتّٰى إِذَا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ أَيْقَظَ أَهْلَهُ لِلصَّلاَةِ يَقُوْلُ لَهُمْ الصَّلاَةَ ثُمَّ يَتْلُوْ هٰذِهِ الآيَةَ (وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلاَةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لاَ نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ) رواه مالك .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي د هغه پلار حضرت عمر ﷺ به د شپې لمونځ كوى څومره چي به الله ﷺ ته منظوره وه كله چي به د شپې آخري برخه سوه نو خپل كورنۍ به يې د لمانځه لپاره راوېښول او ويل به يې لمونځ وكړئ ، بيا به يې دا آيت تلاوت كړ : (خپلي كورنۍ ته د لمانځه كولو حكم وركوه او پر دېصبر كوه موږ ستا څخه روزي نه غواړو بلكه موږ تا ته رزق دركووا و آخرت د پرهيزگارو لپاره دى ) مالك .

# بَابُ الْقَصْدِ فِي الْعَمَلِ

## ( په اعمالو كي د ميانه روۍ او استقامت بيان )

### لومړى فصل

(۱۱۷۲): عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْطِرُ مِنَ الشَّهْرِ حَتّٰى نَظُنَّ أَنْ لاَ يَصُوْمَ مِنْهُ وَيَصُوْمُ حَتّٰى نَظُنَّ أَنْ لاَ يُفْطِرَ مِنْهُ شَيْئًا وَكَانَ لاَ تَشَاءُ أَنْ تَرَاهُ مِنَ اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلاَّ رَأَيْتَهُ وَلاَ نَائِمًا إِلاَّ رَأَيْتَهُ . رواه البخاري .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د مياشتي په اكثرو ورځو كي روژه نه نيول تر دې چي زموږ به دا خيال سو چي رسول الله ﷺ به دې مياشت كي روژې نه نيسي ، او رسول الله ﷺ به په اكثرو ورځو كي روژې نيولې تر دې چي زموږ به دا خيال سو چي اوس به رسول الله ﷺ روژې نه پرېږدي ، كه ته غواړې چي د شپې رسول الله ﷺ پر لمانځه كولو ووينې نو پر لمانځه كولو به يې ووينې او كه ته غواړې چي پر خوب كولو يې ووينې نو پر خوب كولو به يې هم ووينې . بخاري .

**د عمل د همېشتوب فضیلت**

﴿١١٧٣﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د الله په نزد غوره اعمال هغه دي چې تل کول کیږي که څه هم لږ وي. بخاري او مسلم.

**تر توان زیات عمل کول نه دي پکار**

﴿١١٧٤﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُذُوْا مِنَ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيْقُوْنَ فَإِنَّ اللهَ لَا يَمَلُّ حَتّٰى تَمَلُّوْا .متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د اعمالو څخه چې څومره کولای سئ هغه غوره کړئ ځکه چې الله تعالی (په ثواب ورکولو کې) نه ستړی کیږي تر څو پورې چې تاسو ستړي نه سئ. بخاري او مسلم

**تر هغه وخته عبادت کول پکار دي تر څو چې یې زړه غواړي**

﴿١١٧٥﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ وَإِذَا فَتَرَ فَلْيَقْعُدْ . متفق عليه .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : تر څو پورې چې تاسو په خوښي او اطمینان سره لمونځ کولای سئ نو وه یې کړئ او کله چې سست سئ نو کښینئ. بخاري او مسلم.

**د ستړیا په حالت کې لمونځ کول نه دي پکار**

﴿١١٧٦﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَلْيَرْقُدْ حَتّٰى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلّٰى وَهُوَ نَاعِسٌ لَا يَدْرِيْ لَعَلَّهُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبُّ نَفْسَهُ . متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چې پر تاسو په لمانځه کې خوب غلبه وکړي نو هغه ته پکار ده چې بیده سي تر څو چې خوب ځیني ولاړ سي ځکه چې د خوب د غلبې په حالت کې هغه په دې نه پوهیږي چې څه وایي ممکن ده چې هغه د مغفرت غوښتونکی وي او د هغه د ژبې څخه بده دعاء ووزي. بخاري او مسلم

**دین اسان دی**

﴿١١٧٧﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الدِّيْنَ يُسْرٌ وَلَنْ يُشَادَّ الدِّيْنَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ فَسَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : دین یو آسانه شی دی او په دین کې چې څوک سختي کوي دین پر هغه غالب کیږي له دې کبله

وَأَبْشِرُوْا وَاسْتَعِيْنُوْا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِّنَ الدُّلْجَةِ . رواه البخاري .

میانه روي غوره کړئ د توان سره سم عمل کوئ خوښ اوسئ او سهار، ماښام او د شپې لږ برخه کي د الله تعالی څخه مرسته غواړئ . بخاري .

**د شپې پاته وظیفه د ورځي پوره کول پکار دي**

﴿۱۱۷۸﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهٖ أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِّنْهُ فَقَرَأَهٗ فِيْمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ كُتِبَ لَهٗ كَأَنَّمَا قَرَأَهٗ مِنَ اللَّيْلِ . رواه مسلم

د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : کوم څوك چي د خپلي وظیفې دپوره والي څخه پرته بیده سي یا څه وظیفه څیني پاته سي او خوب ورسي او بیا هغه د سهار او ماپښین په لمونځ کي وکړي نو هغه به په دې حساب کي شمیرل کیږي لکه هغه چي د شپې ویلي وي . مسلم.

**د معذوری په حالت کي په ناسته او پروته عبادت**

﴿۱۱۷۹﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلِّ قَائِمًا فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَعَلٰى جَنْبٍ . رواه البخاري .

د حضرت عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په ولاړه لمونځ وکړه که د ولاړي توان دي نه وي نو په ناسته یې وکړه او که د ناستي توان دي نه وي نو په پروتي یې وکړه . بخاري

**بېله عذره نفل لمونځ کول په ناسته د نیم ثواب باعث دی**

﴿۱۱۸۰﴾: وَعَنْهُ أَنَّهٗ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ الرَّجُلِ قَاعِدًا قَالَ إِنْ صَلّٰى قَائِمًا فَهُوَ أَفْضَلُ وَمَنْ صَلّٰى قَاعِدًا فَلَهٗ نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ وَمَنْ صَلّٰى نَائِمًا فَلَهٗ نِصْفُ أَجْرِ الْقَاعِدِ . رواه البخاري

د حضرت عمران بن حصین ﷺ څخه روایت دی چي هغه د رسول الله ﷺ څخه د هغه کس په اړه پوښتنه وکړه چي (نفل) لمونځ په ناسته کوي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : که په ولاړه یې وکړي نو غوره ده او په ناسته د نفل کولو ثواب د ولاړي په نیمه دی او څوك چي په پروتي نفل وکړي نو د هغه ثواب د ناستي تر ثواب په نیمه دی . بخاري .

## دوهم فصل

**تر خوب راتلو پوري په اوداسه سره د الله په ذکر کي مشغول کېدل**

﴿۱۱۸۱﴾: عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ أَوٰى إِلٰى فِرَاشِهٖ طَاهِرًا

د حضرت ابوامامه ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي څوك چي په

وَذَكَرَ اللّٰهَ حَتّٰى يُدْرِكَهُ النُّعَاسُ لَمْ يَتَقَلَّبْ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ يَسْأَلُ اللّٰهَ فِيهَا خَيْرًا مِّنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ . ذكره النووي في كتاب الأذكار برواية ابن السني .

اوداسه خپلي بسترې ته ولاړ سي او دالله ذکر کوي تر څو چي خوب ورسي او هر کله چي د شپې اړخ بدلوي نو د الله تعالی څخه د دين او دنيا خير غواړي نو الله تعالی د دين او دنيا خير ورکوي . کتاب الاذکار.

**دوه خوشبخته کسان**

﴿۱۱۸۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَجِبَ رَبُّنَا مِنْ رَّجُلَيْنِ رَجُلٌ ثَارَ عَنْ وِطَائِهِ وَلِحَافِهِ مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ إِلَى صَلَاتِهِ فَيَقُوْلُ اللّٰهُ لِمَلَائِكَتِهِ انْظُرُوْا إِلَى عَبْدِيْ ثَارَ عَنْ فِرَاشِهِ وَوِطَائِهِ مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ إِلَى صَلَاتِهِ رَغْبَةً فِيمَا عِنْدِيْ وَشَفَقًا مِمَّا عِنْدِيْ وَرَجُلٌ غَزَا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَانْهَزَمَ مَعَ أَصْحَابِهِ فَعَلِمَ مَا عَلَيْهِ فِي الْانْهِزَامِ وَمَا لَهُ فِي الرُّجُوْعِ فَرَجَعَ حَتّٰى أُهْرِيْقَ دَمُهُ فَيَقُوْلُ اللّٰهُ لِمَلَائِكَتِهِ انْظُرُوْا إِلَى عَبْدِيْ رَجَعَ رَغْبَةً فِيمَا عِنْدِيْ وَشَفَقًا مِمَّا عِنْدِيْ حَتّٰى أُهْرِيْقَ دَمُهُ . رواه في شرح السنة .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زموږ رب د دوو خلکو ته تعجب کوي (راضي کيږي) هغه کس چي د خپل نرم تلتك او خپل خوښي ښځي څخه د شپې د لمانځه لپاره بيليږي نو الله تعالی د ددې کس په اړه خپلو ملائکو ته وايي زما بنده ته وګورئ چي يوازي د لمانځه لپاره د خپل نرم او ګرم تلتك او خوښي ښځي څخه بيل سو او د هغه شي د غوښتوني لپاره بيل سو کوم چي زما سره دی ( يعني جنت او ثواب) او د هغه شی د خوف څخه چي زما سره دی (يعني دوږخ او عذاب) ، او دويم هغه کس چي يوازي د الله په لار کي وجنګيږي او د خپلو ملګرو سره د دښمن په مقابله کي تېښتي ته تيار سو بيا هغه دا محسوسه کړه چي په تېښته کي څومره لويه ګناه ده او په جنګېدو کي څومره ثواب دی د دې په حس کولو سره بيرته ستون سو تر دې چي شهيد سي نو الله تعالی د هغه په اړه ملائکو ته وايي زما بنده ته وګورئ چي بيرته راغلی خاص ددې شي د غوښتني لپاره چي زما سره دی او د هغه شی د بيري څخه چي زما سره دی ، تر دې چي د هغه وينه وبيول سي.(يعني شهيد سي). شرح السنه .

## دريم فصل

﴿۱۱۸۳﴾: عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ حُدِّثْتُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةُ

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي ما ته دا حديث بيان کړل سو چي رسول الله ﷺ

الرَّجُلِ قَاعِدًا نِصْفُ الصَّلَاةِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي جَالِسًا فَوَضَعْتُ يَدِي عَلَى رَأْسِهِ فَقَالَ مَا لَكَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو قُلْتُ حُدِّثْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ أَنَّكَ قُلْتَ صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا عَلَى نِصْفِ الصَّلَاةِ وَأَنْتَ تُصَلِّي قَاعِدًا قَالَ أَجَلْ وَلَكِنِّي لَسْتُ كَأَحَدٍ مِنْكُمْ. رواه مسلم

ﷺ وفرمایل : د سړي لمونځ (نفل) په ناسته کول نیم لمونځ دی، راوي وایي یوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم نو رسول الله ﷺ مي ولیدی چي په ناسته یې لمونځ کوي نو ما خپل لاس درسول الله ﷺ پر مبارك سر کښېښودی ، رسول الله ﷺ وفرمایل : اې د عمرو زویه ! په تا څه سوي دي ؟ ما عرض وکړ اې دالله رسوله اما ته دا ویل سوي دي چي تاسو فرمایلي دي چي په ناسته لمونځ کول د نیم لمانځه برابر دی او تاسو په خپله په ناسته لمونځ کوئ ، رسول الله ﷺ وفرمایل : هو، تا چي څه وویل صحیح دي مګر زه ستاسو په ډول نه یم . مسلم.

**په لمانځه کي راحت او سکون دی**

﴿۱۱۸۴﴾: وَعَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ قَالَ قَالَ رَجُلٌ مِنْ خُزَاعَةَ لَيْتَنِي صَلَّيْتُ فَاسْتَرَحْتُ فَكَأَنَّهُمْ عَابُوْا ذٰلِكَ عَلَيْهِ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ سَلَّمَ يَقُوْلُ أَقِمِ الصَّلَاةَ يَا بِلَالُ أَرِحْنَا بِهَا . ر ه أبو داود .

د حضرت سالم بن ابو جعد رضی الله عنه څخه روایت دی چي د خزاعة قبیلې یو سړي وویل کاشکي زه لمونځ وکړم نو پر آرام به سم، صحابه کرامو د هغه پر دې خبره غیب ولګوی هغه وویل ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي بلاله ! اقامت وکړه چي موږ راحت تر لاسه کړو . ابوداؤد.

# بَابُ الْوِتْرِ (دوترو بیان)

## لومړی فصل

**د وتر د لمانځه رکعتونه**

﴿۱۱۸۵﴾: عَ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ ا صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى فَإِذَا خَشِيَ حَدُكُمْ حَ صَلَّى رَكْعَةً وَاحِدَةً تُوتِرُ لَهُ مَا قَ صَ عليه

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د شپې لمونځ دوه دوه رکعته دی هر کله چي په تاسو کي د یو چا د سهار کېدو بیره وي نو یو رکعت دي بل وکړي چي هغه لمونځ وتر جوړ سي . بخاري اومسلم

**په یوه تشهد کي پنځه رکعته کول**

﴿۱۱۸۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوِتْرُ رَكْعَةٌ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ . رواه مسلم

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : وتر د شپې د آخري برخي یو رکعت دی . مسلم.

**د رسول الله ﷺ تهجد او وتر**

﴿۱۱۸۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ مِنَ اللَّيْلِ ثَلاَثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْ ذٰلِكَ بِخَمْسٍ لاَ يَجْلِسُ فِيْ شَيْءٍ إِلاَّ فِيْ آخِرِهَا .متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د شپې دیارلس رکعته کول او په هغو کي پنځه رکعته به یې وتر کول او دهغو په منځ کي به یوازي په آخري رکعت کي د تشهد لپاره کښېنستی . بخاري اومسلم.

**د نبي کریم ﷺ وتر لمونځ**

﴿۱۱۸۸﴾: وَعَنْ سَعْدِ ابْنِ هِشَامٍ قَالَ انْطَلَقْتُ الٰى عَائِشَةَ فَقُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَنْبِئِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ أَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ قُلْتُ بَلٰى قَالَتْ فَإِنَّ خُلُقَ نَبِيِّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ الْقُرْآنَ قُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَنْبِئِينِي عَنْ وِتْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كُنَّا نُعِدُّ لَهُ سِوَاكَهُ وَطَهُورَهُ فَيَبْعَثُهُ اللّٰهُ مَا شَاءَ أَنْ يَبْعَثَهُ مِنَ اللَّيْلِ فَيَتَسَوَّكُ وَيَتَوَضَّأُ وَيُصَلِّي تِسْعَ رَكَعَاتٍ لاَ يَجْلِسُ فِيهَا إِلاَّ فِي الثَّامِنَةِ فَيَذْكُرُ اللّٰهَ وَيَحْمَدُهُ وَيَدْعُوهُ ثُمَّ يَنْهَضُ وَلاَ يُسَلِّمُ فَيُصَلِّ التَّاسِعَةَ ثُمَّ يَقْعُدُ فَيَذْكُرُ اللّٰهَ وَيَحْمَدُهُ وَيَدْعُوهُ ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيمًا يُسْمِعُنَا ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ وَهُوَ قَاعِدٌ وَتِلْكَ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يَا بُنَيَّ فَلَمَّا سَنَّ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَخَذَهُ اللَّحْمُ أَوْتَرَ بِسَبْعٍ

د حضرت سعد بن هشام ﷺ څخه روایت دی چي زه د بي بي عائشې په خدمت کي حاضر سوم او عرض مي وکړ اې د مؤمنانو موري! د رسول الله ﷺ د اخلاقو حال راته بیان کړئ، هغې وفرمایل ایا تا قرآن نه دی ویلي ؟ ما عرض وکړ : هو، هغې وفرمایل : د نبي کریم ﷺ اخلاق قرآن وه، ما بیا عرض وکړ اې ام المؤمنین ! د رسول الله ﷺ د وترو حال راته بیان کړه، هغې وفرمایل : موږ به د رسول الله ﷺ لپاره د مسواك او اوبو انتظام کوی الله تعالی به رسول الله ﷺ د شپې بیدار کړی ، کله چي به رسول الله ﷺ وېښ سو نو مسواك به یې وهی بیا به یې اودس کوی او د هغه وروسته به یې نهه رکعته کول چي په هغو کي په اتم رکعت کي به د تشهد لپاره کښېنستی د الله ذکر به یې کوی او د الله تعریف به یې کوی او د دعاء به یې غوښتل تر دې وروسته به ولاړ سو سلام به یې نه ګرزوئ تر هغو چي نهم رکعت باندي به

وَصَنَعَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِثْلَ صَنِيعِهِ الْأَوَّلِ فَتِلْكَ تِسْعٌ يَا بُنَيَّ وَكَانَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً أَحَبَّ أَنْ يُدَاوِمَ عَلَيْهَا وَكَانَ إِذَا غَلَبَهُ نَوْمٌ أَوْ وَجَعٌ عَنْ قِيَامِ اللَّيْلِ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً وَلَا أَعْلَمُ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ الْقُرْآنَ كُلَّهُ فِي لَيْلَةٍ وَلَا صَلَّى لَيْلَةً إِلَى الصُّبْحِ وَلَا صَامَ شَهْرًا كَامِلًا غَيْرَ رَمَضَانَ . رواه مسلم

كنبېنستى نو خداى ﷻ به يې ياد كړئ حمد به يې ووايه د الله ﷺ او دعاء به يې غوښتل، ددې وروسته به يې مونږ ته د اورولو لپاره په لوړ آواز سره سلام وګرځوى بيا د سلام څخه وروسته به كنبينستى دوه ركعته نور به يې كول په ناسته «زويه!» دا يوولس ركعته سول بيا چې د رسول الله ﷺ عمر مبارك زيات سو بدن يې دروند سو نو رسول الله ﷺ به اووه ركعته وتر كول او دوه ركعته به يې وروسته په ناسته كول نو «زويه!» دا نهه ركعته سول ، د نبي كريم ﷺ دا عادت وو چې كوم لمونځ به يې كوى نو هغه به يې هميشه كول خوښول او كله چې به داسي وسول چې د خوب د غلبې له كبله يا د وظيفې له كبله به يې د شپې لمونځ ونه كړ نو د ورځي به يې دوولس ركعته كول او زما دا په ياد نه دي چې رسول الله ﷺ ټول قرآن په يوه شپه يا ټوله شپه كي ويلي وي او يا د ماخستن څخه تر سهاره پوري يې لمونځ كړى يا د رمضان د مياشتي څخه پرته په بله مياشت كي د پوره مياشتي روژې نيولي وي . مسلم .

## وتر د شپې اخري لمونځ دی

《۱۱۸۹》: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اجْعَلُوا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا . رواه مسلم .

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپل شپې په لمانځه كي آخري لمونځ وتر ولرئ .مسلم

## د وتر وخت

《۱۱۹۰》: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَادِرُوا الصُّبْحَ بِالْوِتْرِ . ورواه مسلم .

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د سهار كيدو څخه مخكي پر وتر كولو تلوار كوئ . مسلم

《۱۱۹۱》: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَافَ أَنْ لَا يَقُومَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ أَوَّلَهُ وَمَنْ طَمِعَ أَنْ يَقُومَ آخِرَهُ فَلْيُوتِرْ آخِرَ اللَّيْلِ فَإِنَّ صَلَاةَ آخِرِ اللَّيْلِ مَشْهُودَةٌ وَذَلِكَ أَفْضَلُ . رواه مسلم .

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د چا چې دا بيره وي چې د شپې په آخره كي د وترو لپاره نه سي پورته كيدلاى نو هغه ته پكار دي چې د شپې په اول كي وتر وكړي او د چا چې دا اميد وي

چي د شپې په آخر کي راپورته کيداى سي نو هغه دي وتر د شپې په آخر کي وکړي ځکه چي د شپې دآخري برخي لمونځ مشهود او افضل دى. مسلم.

(۱۱۹۲): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مِنْ كُلِّ اللَّيْلِ أَوْتَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ وَأَوْسَطِهِ وَآخِرِهِ وَانْتَهٰى وِتْرُهُ إِلَى السَّحَرِ. متفق عليه

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د شپې په هره برخه کي وتر کړي دي يعني د شپې په لومړۍ برخه کي هم او د شپې په منځنۍ برخه کي هم او د شپې په آخره برخه کي هم، د رسول الله ﷺ د وترو آخري وخت د شپې آخري شپږمه برخه وه. بخاري او مسلم.

**دري وصيتونه**

(۱۱۹۳): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَوْصَانِي خَلِيْلِي بِثَلَاثٍ صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ وَرَكْعَتَيِ الضُّحٰى وَأَنْ أُوْتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ. متفق عليه

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چي زما دوست (محمد ﷺ) ما ته د درو خبرو وصيت کړى دى په مياشت کي د درو روژو ساتل، دويم د لمر ختلو وروسته دوه رکعته لمونځ کول او دريم دا چي د بيده کيدو څخه وړاندي وتر وکړم. مسلم او بخاري.

## دوهم فصل

**رسول الله ﷺ د شپې په شروع او پای کي وتر کول**

(۱۱۹۴): عَنْ غُضَيْفِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ أَرَأَيْتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ فِيْ أَوَّلِ اللَّيْلِ أَمْ فِيْ آخِرِهِ؟ قَالَتْ رُبَّمَا اغْتَسَلَ فِيْ أَوَّلِ اللَّيْلِ وَرُبَّمَا اغْتَسَلَ فِيْ آخِرِهِ قُلْتُ اللهُ أَكْبَرُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً قُلْتُ كَانَ يُوْتِرُ أَوَّلَ اللَّيْلِ أَمْ فِيْ آخِرِهِ؟ قَالَتْ رُبَّمَا أَوْتَرَ فِيْ أَوَّلِ اللَّيْلِ وَرُبَّمَا أَوْتَرَ فِيْ آخِرِهِ قُلْتُ اللهُ أَكْبَرُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً قُلْتُ كَانَ يَجْهَرُ بِالْقِرَاءَةِ أَمْ يَخْفِتُ؟ قَالَتْ رُبَّمَا جَهَرَ بِهِ وَرُبَّمَا خَفَتَ قُلْتُ اللهُ أَكْبَرُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

د حضرت غضيف بن حارث رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د بي بي عائشي څخه پوښتنه وکړه چي ايا تا رسول الله ﷺ د جنابت پر غسل کولو ليدلى دى؟ ايا رسول الله ﷺ به سمدستي د شپې په اول کي غسل کوى يا د شپې په آخر کي؟ بي بي عائشي ورته وفرمايل: زيات وخت به رسول الله ﷺ د شپې په اول کي غسل کوى او زيات وخت به يې د شپې په آخر کي هم غسل کوى، ما وويل: (الله ډير لوى دى ټول تعريفونه الله لره دي چي د دين په امر کي يې پراخي کړې ده) ما بيا پوښتنه وکړه چي ايا رسول الله ﷺ به وتر د شپې

الَّذِيْ جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً. رواه أبو داود وروى ابن ماجه الفصل الأخير.

په اول کي کول که د شپې په آخر کي؟ بي بي عائشې وفرمايل: کله به يې د شپې په اول کي کول او کله به يې د شپې په آخر کي هم، ما وويل: (الله ډير لوی دی ټول تعريفونه الله لره دي چي د دين په امر کي يې پراخي کړې ده) ما بيا پوښتنه وکړه ايا د تهجد په لمانځه کي به رسول الله ﷺ په لوړ آواز قرائت وايه که کرار؟ بي بي عائشې وفرمايل: کله به يې په لوړ آواز او کله په کښته آواز وايه، ما وويل: (الله ډير لوی دی ټول تعريفونه الله لره دي چي د دين په امر کي يې پراخي کړې ده) ابوداؤد او ابن ماجه اخيري برخه روايت کړې ده.

## د تهجد او وترو د رکعتو شمېر

﴿۱۱۹۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِيْ قَيْسٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ بِكَمْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْتِرُ؟ قَالَتْ كَانَ يُوْتِرُ بِأَرْبَعٍ وَّثَلَاثَ وَستٍّ وَّثَلَاثَ وَثَمَانٍ وَّثَلَاثَ وَعَشْرٍ وَّثَلَاثَ وَلَمْ يَكُنْ يُوْتِرُ بِأَنْقَصَ مِنْ سَبْعٍ وَّلَا بِأَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَ عَشَرَةَ. رواه أبو داود.

د حضرت عبدالله بن ابوقيس ﷛ څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشې څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ به په څو رکعته سره وتر کول؟ هغې وفرمايل: نبي کريم ﷺ به وتر کول د څلورو رکعتو او درو رکعتو (يعني اووه رکعتو) او شپږ او درې رکعتو (يعني نهه رکعتو) او اته او درې رکعتو (يعني يوولس رکعتونه) او لس او درې رکعتو (ديارلس رکعتو) او رسول الله ﷺ هيڅکله د اوو رکعتو څخه کم او د ديارلسو څخه زيات وتر نه دي کړي. ابوداؤد.

## وتر واجب دي

﴿۱۱۹۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ أَيُّوْبَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْوِتْرُ حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُّوْتِرَ بِخَمْسٍ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُّوْتِرَ بِثَلَاثٍ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُّوْتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْيَفْعَلْ. رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه.

د حضرت ابو ايوب ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: وتر پر هر مسلمان حق دي (يعني لازم دي) د چا چي په پنځو رکعتو سره وتر کول خوښ وي نو هغه دي پنځه رکعته وکړي او چا ته چي په درو رکعتو سره کول منظور وي هغه دي درې رکعته وکړي او څوک چي يو رکعت کول غواړي نو هغوئ دي يو رکعت وکړي. ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه.

## د وتر فضيلت

﴿۱۱۹۷﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى

د حضرت علي ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ فَأَوْتِرُوْا يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي .

ﷺ وفرمايل : الله تعالى وتر (طاق) دى او وتر خوښوي نو اې د قرآن منونكو وتر كوئ . ترمذي ، ابوداؤد او نسائي .

﴿١١٩٨﴾: وَعَنْ خَارِجَةَ ابْنِ حُذَافَةَ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ أَمَدَّكُمْ بِصَلَاةٍ هِيَ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ الْوِتْرُ جَعَلَهُ اللّٰهُ لَكُمْ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى أَنْ يَطْلُعَ الْفَجْرُ. رواه الترمذي و ابوداؤد.

د حضرت خارجه بن حذافه ﷺ څخه روايت دى چي يوه ورځ رسول الله ﷺ زموږ په لور تشريف راوړ او وه يې فرمايل : الله تعالى په يوه لمانځه سره ستا سو مرسته كړې ده يعني د پنځو لمنځو څخه يې يو زيات تاسو ته دركړى دى چي ستاسو لپاره د سرو اوښانو څخه غوره دى او هغه لمونځ وتر دى چي د هغه لپاره الله تعالى د ماخستن د لمانځه څخه وروسته تر سهاره پوري وخت ټاكلى دى ، ترمذي او ابوداؤد.

**د وتر د قضا حكم**

﴿١١٩٩﴾:وَعَنْ زَيْدِ ابْنِ أَسْلَمَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَامَ عَنْ وِتْرِهِ فَلْيُصَلِّ إِذَا أَصْبَحَ . رواه الترمذي مرسلا.

د حضرت زيد بن اسلم ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي د وتر لمانځه څخه بيده سي نو هغه ته پكار دي چي د سهار په وخت كي يې ادا كړي . ترمذي

**په وتر كي سورتونه**

﴿١٢٠٠﴾: وَعَنْ عَبْدِالْعَزِيْزِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ سَأَلْنَا عَائِشَةَ بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يُوتِرُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ يَقْرَأُ فِي الْأُولَى بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَفِي الثَّانِيَةِ بِقُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ وَفِي الثَّالِثَةِ بِقُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي عن عبدالرحمن ابن ابزي و رواه احمد عن ابي ابن كعب والدارمي عن ابن عباس و لم يذكر والمعوذتين .

د حضرت عبدالعزيز بن جريج څخه روايت دى چي موږ د بي بي عائشې څخه پوښتنه وكړه چي رسول الله ﷺ به په وترو كي كوم سورت وايه؟ بي بي عائشې وفرمايل : رسول الله ﷺ به په لومړي ركعت كي (سبح اسم ربك الاعلى) وايه ، په دويم ركعت كي (قل ياايها الكافرون) او په دريم ركعت كي (قل هوالله احد ، قل اعوذبرب الفلق، قل اعوذبرب الناس) وايه .(ترمذي، ابوداؤ)

**په وتر كي دعاوي**

﴿١٢٠١﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ ابْنِ عَلِيٍّ قَالَ عَلَّمَنِي

د حضرت حسن بن علي ﷺ څخه روايت دى چي

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَاتٍ أَقُوْلُهُنَّ فِي قنوت الْوِتْرِ اللّٰهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ وَبَارِكْ لِيْ فِيمَا أَعْطَيْتَ وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلَايُقْضٰى عَلَيْكَ وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَّالَيْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجه والدارمي .

رسول الله ﷺ ما ته يو څو كلمات ښوولي دي چي زه يې د وتر په قنوت كي وايم او هغه كلمات دادي : «اې الله ! ما په هغه خلكو كي ګډ كړې چا ته چي تا هدايت كړى دى او د هغو خلكو سره عافيت راكړې چي تا په عافيت كي ساتلي دي او زما كا رد هغو خلكو سره جوړ كړې چي د هغوئ كار تا جوړ كړى دى او ما ته په هغه شي كي بركت راكړې چي تا ما ته راكړى دى او ما د هغه شي د شر څخه و ساتې چي په هغه كي تا شر مقدر كړى دى يقينا ستا حكم پر هر شي چليږي او پر تا د هيچا حكم نه سي چليدلاى ته چي د چا دوست يې هغه څوك ذليل كولاى نه سي ، اې زموږ پروردګاره ته د بركت خاوند او لوړ ذات يې». ترمذي، ابوداؤد، نسائي ، ابن ماجه، دارمي .

## د وتر لمانځه وروسته تسبيح

﴿۱۲۰۲﴾: وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ فِي الْوِتْرِ قَالَ سُبْحَانَكَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ . رواه أبو داود والنسائي وزاد ثلاث مرات يطيل وفي رواية للنسائي عن عبدالرحمن ابن ابزى عن ابيه قال كان يقول اذا سلم سبحان الملك القدوس ثلثا و يرفع صوته بالثالثة .

د حضرت ابى بن كعب ﷛ څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ د وترو سلام وګرځوى نو دا كلمات به يې ويل : «پاك دى پاچاه چي ډير پاك دى». ابوداؤد، نسائي . نسائي ويلي دي چي رسول الله ﷺ به دا الفاظ درې ځله ويل او دنسائي په يوه روايت كي دي چي عبدالرحمن بن ابزى د خپل پلار څخه روايت كوي چي هغه به ويل : چي كله به يې سلام وګرځوى نو سبحان الملك القدوس به يې درې ځله ويل او په دريم ځل به يې په لوړ آواز سره ويل .

## په وتر كي د رسول الله ﷺ دعاء

﴿۱۲۰۳﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ انَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ فِيْ آخِرِ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ لَا اُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى

د حضرت علي ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به د وترو په آخر كي دا دعاء ويل : «اې الله ! زه ستا درضا او خوښي په ذريعه ستا د غصي څخه او ستا د عافيت په ذريعه ستا د عذاب څخه پناه غواړم او ستا د خاص ذات په ذريعه ستا د

نَفْسِكَ. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي وابن ماجه .

غضب څخه پناه غواړم ستا تعریف د شمیر څخه وتلی دی ته هم هغسې یې څنګه چې تا خپل تعریف کړی دی). ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه .

## دریم فصل

### د حضرت معاویه ﷺ یو رکعت وتر کول

(۱۲۰۴): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قِيْلَ لَهُ هَلْ لَكَ فِيْ أَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ مُعَاوِيَةَ مَا أَوْتَرَ إِلاَّ بِوَاحِدَةٍ ؟ قَالَ أَصَابَ إِنَّهُ فَقِيْهٌ . وفي رواية قال ابن أبي مليكة أوتر معاوية بعد العشاء بركعة وعنده مولى لابن عباس فأتى ابن عباس فأخبره فقال دعه فإنه قد صحب النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چې هغه ته وویل سول چې د امیر المؤمنین حضرت امیر معاویة په اړه ستا څه خیال دی چې د وترو لمونځ یوازې یو رکعت کوي، هغه وویل امیر معاویه صحیح دی هغه فقیه دی ، او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې ابن ابی ملیکه بیان کړی دی چې معاویه د ماخستن څخه وروسته یو رکعت وتر وکړل هغه وخت د ابن عباس آزاد سوی غلام هم موجود وو هغه خپل بادار ته ددې خبرې یادونه وکړه نو هغه وویل دا معامله پرېږدئ ځکه چې هغه د رسول الله ﷺ ملګرتیا کړې ده . بخاري .

### د وتر کولو تاکید

(۱۲۰۵): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اَلْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَّمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا اَلْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَّمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا اَلْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَّمْ يُوْتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا. رواه أبو داود

د حضرت بریدة ﷺ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چې وتر حق دی او چا چې ونه کړل هغه زموږ څخه نه دی، وتر حق دی او چا چې ونه کړل هغه زموږ څخه نه دی، وتر حق دی او چا چې ونه کړل هغه زموږ څخه نه دی . ابوداؤد

### د وتر قضائي کول پکار دي

(۱۲۰۶): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَامَ عَنِ الْوِتْرِ أَوْ نَسِيَهُ فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَهُ أَوْ إِذَا اسْتَيْقَظَ . رواه الترمذي أبو داود وابن ماجه .

د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : څوک چې د وترو څخه بیده سي یا وتر کول ځیني هیر سي نو هغه ته پکار دي چې کوم وخت ور په یاد سي هغه وخت یې وکړي یا کوم وخت چې راوېښ سي هغه وخت یې وکړي . ترمذي.ابوداؤد ،ابن ماجه.

### ایا وتر واجب دي که سنت ؟

(۱۲۰۷): وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ عَنِ الْوِتْرِ أَوَاجِبٌ هُوَ ؟ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ قَدْ أَوْتَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُوْنَ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يُرَدِّدُ عَلَيْهِ وَعَبْدُ اللهِ يَقُوْلُ أَوْتَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُوْنَ . رواه في الموطأ .

د حضرت مالك ﷺ څخه روایت دی چي یو سړي د ابن عمر ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ایا وتر واجب دي ؟ حضرت ابن عمر ﷺ ورته وویل : رسول الله ﷺ وتر کړي دي او مسلمانانو هم وتر کړي دي، هغه سړي به څو ځله دا پوښتنه کول او ابن عمر به په جواب کي دا ویل چي رسول الله ﷺ او اصحابو وتر کړي دي . مؤطا .

### په وتر کي قرائت

(۱۲۰۸): وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْتِرُ بِثَلاَثٍ يَقْرَأُ فِيْهِنَّ بِتِسْعِ سُوَرٍ مِّنَ الْمُفَصَّلِ يَقْرَأُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ بِثَلاَثِ سُوَرٍ آخِرُهُنَّ ( قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ) . رواه الترمذي .

د حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به درې رکعته وتر کول چي په هغو کي به یې نهه مفصل سورتونه ویل یعني په هر رکعت کي درې درې سورتونه او آخري سورت به یې قل هو الله احد وو . ترمذي .

### د ابن عمر ﷺ واقعه

(۱۲۰۹): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ بِمَكَّةَ وَالسَّمَاءُ مُغَيِّمَةٌ فَخَشِيَ الصُّبْحَ فَأَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ ثُمَّ انْكَشَفَ فَرَأَى أَنَّ عَلَيْهِ لَيْلاً فَشَفَعَ بِوَاحِدَةٍ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فَلَمَّا خَشِيَ الصُّبْحَ أَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ . رواه مالك .

د حضرت نافع ﷺ څخه روایت دئ چي زه په مکه کي د ابن عمر ﷺ سره ملګرئ وم ، یوه شپه پر آسمان وریځ خپره سول د هغه سره د سهار کېدو اندېښنه سوه نو هغه یو رکعت وتر وکړل بیا وریځ تو له سول نو وه یې لیدل چي شپه پاته ده نو هغه یو رکعت بل ورسره یو ځای کړی بیا یې دوه دوه رکعته لمونځ کوی تر څو چي د سهار کېدو بیره سوه نو یو رکعت یې وکړ . مالك .

### په ناستي د لمانځه کولو یو بله طریقه

(۱۲۱۰): وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْ جَالِسًا فَيَقْرَأُ وَهُوَ جَالِسٌ فَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَدْرَ مَا يَكُوْنُ ثَلاَثِيْنَ أَوْ أَرْبَعِيْنَ آيَةً قَامَ وَقَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ يَفْعَلُ

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي رسو الله ﷺ به په ناسته لمونځ کوی او په ناسته ناسته یې قرائت وایه هر کله چي به په قرائت کي دیرش څلوېښت آیاتونه پاته سول نو ولاړ به سو او د

فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ . رواه مسلم .

آياتونه به يې په ولاړه ووېل، بيا به ركوع ته تلى ا بيا به يې سجده كول او همداسې به يې دويم ركعت كوي . مسلم

**د وتر وروسته دوه ركعته**

﴿۱۲۱۱﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْ بَعْدَ الْوِتْرِ رَكْعَتَيْنِ .رواه الترمذي وزاد ابن ماجه خفيفتين وهو جالس .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به د وترو څخه وروسته دوه ركعته كول . ترمذي، ابن ماجه دا هم ليكلي دي چې دا ركعتونه به مختصر وه او په ناسته به يې كول . ترمذي او ابن ماجه .

﴿۱۲۱۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْتِرُ بِوَاحِدَةٍ ثُمَّ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ يَقْرَأُ فِيْهِمَا وَهُوَ جَالِسٌ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَّرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ . رواه ابن ماجه .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به د وترو يو ركعت كوى او ددې وروسته به يې دوه ركعته نور په ناسته كول چې په هغو كې به يې قرآن كريم وايه كله چې به رسول الله ﷺ د ركوع اراده كول نو ولاړ به سو او ركوع به يې كول . ابن ماجه .

**د وتر وروسته دوه ركعته**

﴿۱۲۱۳﴾:وَعَنْ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ هٰذَا السَّهَرَ جُهْدٌ وَثِقْلٌ فَإِذَا أَوْتَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ فَإِنْ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ وَإِلاَّ كَانَتَا لَهُ . رواه الدارمي .

د حضرت ثوبان ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د شپې پورته كېدل يو ستونزمن او دروند كار دى هر كله چې په تاسو كې يو څوك د شپې په پيل كې وتر وكړي نو دوه ركعته دې وكړي بيا كه راوېښ سي نو غوره ده او كنه نو دا دوه ركعته بس دى . دارمي .

**د وتر وروسته د دوو ركعتو قرائت**

﴿۱۲۱۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْهِمَا بَعْدَ الْوِتْرِ وَهُوَ جَالِسٌ يَقْرَأُ فِيْهِمَا إِذَا زُلْزِلَتْ وَ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ . رواه أحمد .

د حضرت ابو امامه ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ به د وتر څخه وروسته دوه ركعته په ناسته كول او په هغو كې به يې (اذا زلزلت الارض) او (قل يا ايها الكافرون) ويل . احمد .

# بَابُ الْقُنُوْت (د قنوت بیان)

## لومړی فصل

### رسول الله ﷺ ته د ښېرا منع

﴿۱۲۱۵﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَّدْعُوَ عَلَى أَحَدٍ أَوْ يَدْعُوَ لِأَحَدٍ قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ فَرُبَّمَا قَالَ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ اَللّٰهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيْدَ بْنَ الْوَلِيْدِ وَسَلَمَةَ ابْنَ هِشَامٍ وَّعَيَّاشَ بْنَ اَبِيْ رَبِيْعَةَ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ وَاجْعَلْهَا سِنِيْنَ كَسِنِيْ يُوْسُفَ يَجْهَرُ بِذٰلِكَ وَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ بَعْضِ صَلَاتِهِ اَللّٰهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَّفُلَانًا لِأَحْيَاءٍ مِّنَ الْعَرَبِ حَتّٰى أَنْزَلَ اللهُ ( لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ ) . متفق علیه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ یو چا ته د بدي دعاء کولو او یا ښه دعاء کولو اراده کول نو (په وتر کي) به یې د رکوع وروسته قنوت وایي او ځیني وخت به یې کله چي سمع الله لمن حمده ربنالك الحمد وویل نو دا دعاء به یې کول: (اې الله! ولید بن ولید، سلمه بن هشام او عیاش بن ربیعه ته خلاصون ورکړي او اې الله! پر مضر قوم خپل سخت عذاب نازل کړې او دا دعذاب د قحط په شکل پر راولې داسي قحط چي د حضرت یوسف ﷺ د قحط په ډول وي) دا دعاء به یې په لوړ آواز سره کول او که به یې بده دعاء کوله (اې الله ته پر فلاني او فلاني لعنت وکړې) دا به رسول الله ﷺ د عربو د قبائلو لپاره کول تر دې چي الله پاك دا آیت نازل کړ: (ستا لپاره د حکم څخه هیڅ نسته) یعني رسول الله ﷺ د بددعاء (ښېرا) کولو څخه منع کړل سو. بخاري اومسلم.

### د دعاء قنوت ویلو وخت

﴿۱۲۱۶﴾: وَعَنْ عَاصِمِ الْأَحْوَلِ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوْتِ فِي الصَّلَاةِ كَانَ قَبْلَ الرُّكُوْعِ أَوْ بَعْدَهُ ؟ قَالَ قَبْلَهُ إِنَّمَا قَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ شَهْرًا إِنَّهُ كَانَ بَعَثَ أُنَاسًا يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ سَبْعُوْنَ رَجُلًا فَأُصِيْبُوْا فَقَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ شَهْرًا يَدْعُوْ عَلَيْهِمْ .متفق علیه

د حضرت عاصم الاحول څخه روایت دی چي ما د حضرت انس بن مالك ﷺ څخه په لمانځه کي د قنوت پوښتنه وکړه یعني دا چي قنوت د رکوع څخه مخکي یا وروسته ویل کیږي، حضرت انس ﷺ وویل د رکوع څخه وړاندي دي وویل سي خکه چي رسول الله ﷺ د رکوع وروسته یوازي یوه میاشت لوستی دی او ددې سبب دا وو چي

نبي کريم ﷺ يو څو قاريان چي د هغوئ شمير اويا تنه وو دباندي ليږلي وه هغوئ شهيدان سول له دې کبله د قاتلانو لپاره د ښيرا کولو په مقصد رسول الله ﷺ تر يوې مياشتي پوري د رکوع وروسته قنوت وايه چي په هغه کي به رسول الله ﷺ هغه قاتلانو ته ښيرا کول. بخاري او مسلم.

## دوهم فصل

### دعاء قنوت کله وويل سي

(۱۲۱۷): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا مُتَتَابِعًا فِيْ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ وَصَلَاةِ الصُّبْحِ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ الآخِرَةِ يَدْعُوْ عَلَى أَحْيَاءٍ مِّنْ بَنِيْ سُلَيْمٍ عَلَى رِعْلٍ وَّذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ وَيُؤَمِّنُ مَنْ خَلْفَهُ. رواه ابو داود.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ تر يوې مياشتي پوري د پنځو لمنځو (ماپښين، مازديگر، ماښام، ماخستن او دسهار) په آخري رکعت کي، د سمع الله لمن حمده څخه وروسته قنوت وايه په هغو کي به رسول الله ﷺ د قبيله بني سليم (رعل، ذکوان او عصيه) لپاره ښيرا کول او مقتديانو به آمين ويل. ابوداؤد.

(۱۲۱۸): وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا ثُمَّ تَرَكَهُ. رواه أبو داود والنسائي.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ تر يوې مياشتي پوري د رکوع وروسته قنوت وايه او بيا يې پرېښودی. ابوداؤد او نسائي.

(۱۲۱۹): وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي يَا أَبَتِ إِنَّكَ قَدْ صَلَّيْتَ خَلْفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ وَعَلِيٍّ هَا هُنَا بِالْكُوْفَةِ نَحْوًا مِنْ خَمْسِ سِنِيْنَ أَكَانُوْا يَقْنُتُوْنَ قَالَ أَيْ بُنَيَّ مُحْدَثٌ. رواه الترمذي والنسائي وابن ماجه.

د حضرت ابومالك اشجعي ﷺ څخه روايت دی چي ما د خپل پلار څخه پوښتنه وکړه اې پلاره! تاسو په رسول الله ﷺ، ابوبکر، عمر، او عثمان پسي لمونځ کړی دی او په علي ﷺ پسي دي په کوفه کي پنځه کاله لمونځ کړی دی ايا دوئ به قنوت وايه؟ ابومالك وايي د دې په جواب کي زما پلار دا وويل چي قنوت بدعت دی. ترمذي، نسائي، ابن ماجه.

## دریم فصل

**د روژې په اخري نیمائي کې د رکوع وروسته دعاء قنوت ویل**

﴿۱۲۲۰﴾: عَنِ الْحَسَنِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ جَمَعَ النَّاسَ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ فَكَانَ يُصَلِّيْ لَهُمْ عِشْرِيْنَ لَيْلَةً وَلَا يَقْنُتُ بِهِمْ إِلَّا فِي النِّصْفِ الْبَاقِيْ فَإِذَا كَانَتِ الْعَشْرُ الْأَوَاخِرُ يَتَخَلَّفُ فَصَلَّى فِيْ بَيْتِهِ فَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ أَبَقَ أُبَيٌّ . رواه أبو داود . وَسُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوْتِ فَقَالَ قَنَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوْعِ وَفِيْ رِوَايَةٍ قَبْلَ الرُّكُوْعِ وَبَعْدَهُ . رواه ابن ماجه .

د حضرت حسن څخه روایت دی چې عمر بن خطاب ﷺ به د ابی بن کعب په امامت کې خلك یو ځای کول او ابی به تر شلو ورځو پورې (په روژه کې) تراویح ورکولې او قنوت به یې یوازې د رمضان په آخري نیمه برخه کې وایه او کله چې به د رمضان آخري لسیزه سوه نو بیا به یې پرېښودل او په خپل کور کې به یې لمونځ کوی او خلکو به دا ویل چې ابی و تښتېدی. ابوداؤد، د انس بن مالك څخه د قنوت په اړه پوښتنه وسول نو هغه وفرمایل : رسول الله ﷺ د رکوع وروسته قنوت ویلی دی او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې د رکوع مخکې او د رکوع وروسته په دواړو صورتو کې رسول الله ﷺ قنوت ویلی دی. ابن ماجه.

# بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ (د تراویح بیان)

## لومړی فصل

**تراویح په جماع سره کول سنت دي**

﴿۱۲۲۱﴾: عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ حُجْرَةً فِي الْمَسْجِدِ مِنْ حَصِيرٍ فَصَلَّى فِيهَا لَيَالِيَ حَتَّى اجْتَمَعَ عَلَيْهِ نَاسٌ ثُمَّ فَقَدُوْا صَوْتَهُ لَيْلَةً وَظَنُّوْا أَنَّهُ قَدْنَامَ فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَتَنَحْنَحُ لِيَخْرُجَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ مَا زَالَ بِكُمُ الَّذِيْ رَأَيْتُ مِنْ صَنِيعِكُمْ حَتَّى خَشِيْتُ أَنْ يُكْتَبَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ كُتِبَ عَلَيْكُمْ مَا قُمْتُمْ بِهِ فَصَلُّوْا أَيُّهَاالنَّاسُ فِيْ

د حضرت زید بن ثابت ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ په مسجد کې د خرماوو د بناخو څخه یوه حجره جوړه کړه او څو شپې یې په هغه کې نفلونه کول هر کله چې به خلك د لمانځه لپاره یو ځای سول نو رسول الله ﷺ به د حجرې څخه راووتی او د خلکو سره به یې لمونځ کوی ، یو ځل د شپې په وخت کې خلکو په حجره کې د رسول الله ﷺ آواز نه واورېدی نو خیال یې وکړ

بُيُوتِكُمْ فَإِنَّ افضل صَلاَةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِه.إِلاَّ الصَّلاَةَ الْمَكْتُوبَةَ. متفق علیه

چي رسول الله ﷺ بيده سوی دی د دې خيال پر بنا خلك د رسول الله ﷺ د وېښولو لپاره و ټوخېدل او غاړي یې تازه کړې چي رسول الله ﷺ د باندي تشریف راوړي او د مخکي په ډول لمونځ راکړي، رسول الله ﷺ چي دا آوازونه واورېدل نو وه یې فرمایل : الله ﷺ دي وکړي چي په تاسو کي دا جذبه د تراویح کولو همیشه وي کوم چي زه په دې وخت کي وینم ، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : زما سره دا بیره پیدا سول چي تراویح لمونځ پر تاسو فرض نه سي که فرض سي نو تاسو به یې ادا نه کړلای سئ ، نو اې خلکو ! تاسو دا لمونځ د نورو نفلو لمنځو سره په خپلو کورو کي کوئ ځکه چي په نفل کي غوره لمونځ هغه دی چي په کور کي وکړل سي مګر فرض په مسجد کي کول غوره دي . بخاري .

**په رمضان کي د عبادت کولو فضیلت**

﴿۱۲۲۲﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَغِّبُ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَأْمُرَهُمْ فِيه بعَزِيمَةٍ فَيَقُولُ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ ثُمَّ كَانَ الْأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ فِي خِلاَفَةِ أَبِي بَكْرٍ وَصَدْرًا مِنْ خِلاَفَةِ عُمَرَ عَلَى ذَلِكَ. رواه مسلم

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د رمضان په میاشت کي خلکو ته د عبادت شوق ورکوی مګر په ټینګار سره یې حکم نه ورکوی ، رسول الله ﷺ به دا فرمایل څوك چي د رمضان په میاشت کي قیام (تراویح) عبادت په اعتقاد صحیح سره او د ثواب لپاره یې وکړي نو د هغه مخکي ګناه بخښل کیږي ، د راوي بیان دي چي د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته په دې طریقه عمل وسو یعني چا چي غوښتل تراویح به یې یوازي کولې ، د حضرت ابوبکر صدیق په خلافت کي هم پر دې طریقه عمل وو او د حضرت عمر ﷺ د خلافت په لومړي کي هم داسي کیدل .مسلم

**سنت او نفل په کور کي کول**

﴿۱۲۲۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَضَى أَحَدُكُمْ الصَّلاَةَ فِي مَسْجِدِه فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِه نَصِيبًا مِنْ صَلاَتِه فَإِنَّ اللّٰهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِه مِنْ صَلاَتِه خَيْرًا . رواه مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي تاسو په مسجد کي لمونځ وکړئ نو هغه ته پکار دي چي د لمانځه څخه د کور برخه هم وکړي (یعني سنت او نفل دي په کور کي وکړي) ځکه چي الله تعالی په کور کي دلمانځه کولو له کبله خیر او برکت اچوي . مسلم.

## دويم فصل

### د رمضان په اخيري لسيزه كي د رسول الله ﷺ عبادت

(۱۲۲۴): عَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ صُمْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَقُمْ بِنَا شَيْئًا مِنَ الشَّهْرِ حَتّٰى بَقِيَ سَبْعٌ فَقَامَ بِنَا حَتّٰى ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ فَلَمَّا كَانَتِ السَّادِسَةُ لَمْ يَقُمْ بِنَا فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قَامَ بِنَا حَتّٰى ذَهَبَ شَطْرُ اللَّيْلِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْ نَفَّلْتَنَا قِيَامَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ فَقَالَ اِنَّ الرَّجُلَ اِذَا صَلّٰى مَعَ الْاِمَامِ حَتّٰى يَنْصَرِفَ حُسِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ فَلَمَّا كَانَتِ الرَّابِعَةُ لَمْ يَقُمْ بِنَا حَتّٰى بَقِيَ ثُلُثُ اللَّيْلِ فَلَمَّا كَانَتِ الثَّالِثَةُ جَمَعَ اَهْلَهُ وَنِسَاءَهُ وَالنَّاسَ فَقَامَ بِنَا حَتّٰى خَشِيْنَا اَنْ يَفُوْتَنَا الْفَلَاحُ قُلْتُ وَمَا الْفَلَاحُ قَالَ السُّحُوْرُ ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ. رواه ابوداؤد والترمذي والنسائي و روي ابن ماجه نحوه الا ان الترمذي لم يذكر ثم لم يقم بنا بقية الشهر .

د حضرت ابوذر ﷺ څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره روژي نيولي او رسول الله ﷺ زموږ سره د مياشتي په زياتو ورځو كي قيام (تراويح) ونه كړي كله چي اووه شپې پاته سوې نو رسول الله ﷺ زموږ سره تراويح وكړې ودرېدی تر هغه وخته چي د شپې دريمه حصه تيره سول بيا چي شپږ شپې پاته سوې نو رسول الله ﷺ تراويح ونه كړې بيا چي پنځه شپې پاته سوې نو زموږ سره يې تر نيمه شپه پوري تراويح وكړې نو ما عرض وكړ اې د الله رسوله ! كاشكي په دې شپه تاسو زموږ سره زياتي تراويح كړې واى ، رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چي يو څوك د امام سره (فرض ) وكړي او بيا كور ته ولاړ سي نو د هغه لپاره د ټولي شپې عبادت ثواب ليكل كيږي ، بيا چي څلور شپې پاته سوې نو رسول الله ﷺ زموږ سره تراويح ونه كړې تر دې چي دريمه برخه شپه پاته سوه بيا چي درې شپې تيري سوې نو رسول الله ﷺ خپل كورنۍ او نور خلك يوځاى كړل او زموږ سره يې تراويح وكړې د شپې تر دومره وخته پوري چي زموږ سره دا انديښنه سوه چي فلاح راڅخه تير نه سي ، راوي وايي ما پوښتنه وكړه فلاح څه شي دی ؟ ابوذر ووېل د فلاح څخه مراد پېشلمي دی. د دې وروسته ابوذر ووېل بيا د مياشتي په پاته ورځو كي رسول الله ﷺ زموږ سره تراويح ونه كړې . ابوداؤد ، ترمذي، نسائي، ابن ماجه .

### د شعبان د پنځلسمي فضيلت

(۱۲۲۵): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فَقَدْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً فَاِذَا هُوَ بِالْبَقِيْعِ فَقَالَ اَكُنْتِ تَخَافِيْنَ اَنْ يَحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْكِ وَرَسُوْلُهُ قُلْتُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي يوه شپه ما رسول الله ﷺ و نه ليدی ناڅاپه ما وليدل چي رسول الله ﷺ په بقيع (هديره) كي دی كله چي

يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي ظَنَنْتُ أَنَّكَ أَتَيْتَ بَعْضَ نِسَائِكَ فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَنْزِلُ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَغْفِرُ لِأَكْثَرَ مِنْ عَدَدِ شَعْرِ غَنَمِ كَلْبٍ . رواه الترمذي وابن ماجة وزاد رزين ممن استحق النار وقال الترمذي سمعت محمدا يعني البخاري يضعف هذا الحديث .

رسول الله ﷺ تشريف راوړ نو وه يې فرمايل : اې عائشې ته بيرېدې چې الله او رسول به پر تا ظلم وکړي؟ عائشې عرض وکړ اې دالله رسوله ! زما دا خيال وو چې تاسو شايد نورو ازواجو ته تشريف وړی وي، رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى د شعبان پر پنځلسمه شپه د دنيا آسمان ته نزول کوي او د قبيله بنو کلب د پسو د رمې د وړېښتانو څخه زياته بخښنه کوي . ترمذي، ابن ماجه . او رزين په دې حديث کې دا الفاظ زيات کړي دي چې الله تعالى د هغو خلکو گناه بخښي کوم چې د دوزخ مستحق سوي دي ، امام ترمذي وفرمايل چې بخاري د دې حديث تضعيف کړي دي.

**د نفل لمانځه په کور کې کولو فضيلت**

﴿۱۲۲۶﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي مَسْجِدِي هٰذَا إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ . رواه أبو داود والترمذي .

د حضرت زيد بن ثابت ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : پرته د فرضو څخه د سړي لمونځ (نفل) تر مسجد زما په کور کې غوره دی. ابوداؤد ، ترمذي.

## دريم فصل

**د حضرت عمر ﷺ د تراويح لمانځه لپاره د جماعت تاکل**

﴿۱۲۲۷﴾: عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدِ الْقَارِيِّ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ لَيْلَةً إِلَى الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ أَوْزَاعٌ مُتَفَرِّقُوْنَ يُصَلِّي الرَّجُلُ لِنَفْسِهِ وَيُصَلِّي الرَّجُلُ فَيُصَلِّيْ بِصَلَاتِهِ الرَّهْطُ فَقَالَ عُمَرُ إِنِّيْ لَوْ جَمَعْتُ هٰؤُلَاءِ عَلَى قَارِئٍ وَاحِدٍ لَكَانَ أَمْثَلَ ثُمَّ عَزَمَ فَجَمَعَهُمْ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَهُ لَيْلَةً أُخْرَى وَالنَّاسُ يُصَلُّوْنَ بِصَلَاةِ قَارِئِهِمْ . قَالَ عُمَرُ نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ وَالَّتِيْ تَنَامُوْنَ

حضرت عبدالرحمن بن عبدالقاري وايي زه يو وار د شپې د عمر بن خطاب سره د رمضان په مياشت کي مسجد ته ولاړم ما وليدل چې خلکو جلا جلا (تراويح) کولې ، او ځينو د خپلو قبيلو سره کوی، د دې په ليدو سره حضرت عمر ﷺ وفرمايل : که دا ټول خلک زه د يو قاري په امامت کي يو ځای کړم نو غوره به وي ، نو ددې اراده يې وکړل او حضرت ابی بن کعب يې امام جوړ کړی، راوي وايي بيا يو ځل داسي په رمضان

عَنْهَا أَفْضَلُ مِنَ الَّتِيْ تَقُوْمُوْنَ . يُرِيْدُ آخِرَ اللَّيْلِ وَكَانَ النَّاسُ يَقُوْمُوْنَ أَوَّلَهُ . رواه البخاري .

کي زه د حضرت عمر سره ولاړم او وه مي ليدل چي خلك په مسجد کي په خپل امام پسي لمونځ کوي، د دې په ليدو سره حضرت عمر ﷺ وويل دا ډېر ښه بدعت دی او هغه (تراويح) لمونځ چي تاسو يې وکړئ او بيده سئ د هغې څخه غوره دی چي د هغه لپاره تاسو بيدار ياست يعني په آخري شپه کي او داسي تراويح به خلکو په اول وخت کي کولې. بخاري.

## د تراويح د رکعتو شمېر

﴿۱۲۲۸﴾: وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ أَمَرَ عُمَرُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ وَتَمِيْمًا الدَّارِيَّ أَنْ يَّقُوْمَا لِلنَّاسِ فِيْ رَمَضَانَ بِإِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً فَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ بِالْمِئِيْنَ حَتّٰى كُنَّا نَعْتَمِدُ عَلَى الْعَصَا مِنْ طُوْلِ الْقِيَامِ فَمَا كُنَّا نَنْصَرِفُ إِلاَّ فِيْ فُرُوْعِ الْفَجْرِ . رواه مالك .

د حضرت سائب بن يزيد څخه روايت دی چي حضرت عمر ﷺ ابی بن کعب او تميم داري ته حکم ورکړی چي هغوئ په رمضان کي خلکو ته يوولس رکعته ورکړي او په هغه زمانه کي به قاري په لمانځه کي هغه سورتونه ويل چي تر سلو آياتو به زيات وه تر دې چي موږ به د ولاړي د اوږدوالي څخه مجبور سو د لکړي مرسته به مو اخيستل او موږ چي به د هغه لمانځه څخه فارغ سو نو سهار به نژدې وو. مالك.

﴿۱۲۲۹﴾: وَعَنِ الْأَعْرَجِ قَالَ مَا أَدْرَكْنَا النَّاسَ إِلاَّ وَهُمْ يَلْعَنُوْنَ الْكَفَرَةَ فِيْ رَمَضَانَ قَالَ وَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ سُوْرَةَ الْبَقَرَةِ فِيْ ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ وَإِذَا قَامَ بِهَا فِيْ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً رَأَى النَّاسُ أَنَّهُ قَدْ خَفَّفَ . رواه مالك .

د حضرت اعرج څخه روايت دی چي د روژې په مياشت کي به خلکو پر کافرو لعنت وايه او په رمضان کي به قاري سورة بقرة په اته رکعتو کي ويل او هر کله چي به يې په دوولس رکعتو کي سورة بقرة ختم کړل نو خلك به پوه سول چي مختصر لمونځ يې وکړ. مالك.

## د تراويح اخيري وخت

﴿۱۲۳۰﴾:وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَ سَمِعْتُ أُبَيًّا يَقُوْلُ كُنَّا نَنْصَرِفُ فِيْ رَمَضَانَ مِنَ الْقِيَامِ فَنَسْتَعْجِلُ الْخَدَمَ بِالطَّعَامِ مَخَافَةَ فَوْتِ السُّحُوْرِ . وَفِيْ أُخْرٰى مَخَافَةَ الْفَجْرِ . رواه مالك .

د حضرت عبدالله بن ابوبکر ﷺ څخه روايت دی چي ما د أبی څخه اوريدلي دي چي کله به موږ په روژه کي د تراويح څخه فارغ سو نو خادمانو ته به مو ژر د ډوډۍ خوړلو لپاره ويل د دې بيري څخه چي د پښلمي وخت ختم نه سي ، او په دويم روايت کي دا الفاظ دي چي د سهار کېدو د بيري څخه. مالك.

## د شعبان په پنځلسمه د انسانانو پيدائش او مرګ ليکل کيږي

﴿۱۲۳۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَلْ تَدْرِيْنَ مَا فِيْ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ ؟ يَعْنِيْ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ قَالَتْ مَا فِيْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ فَقَالَ فِيْهَا أَنْ يُكْتَبَ كُلُّ مَوْلُوْدٍ مِّنْ بَنِيْ آدَمَ فِيْ هٰذِهِ السَّنَةِ وَفِيْهَا أَنْ يُكْتَبَ كُلُّ هَالِكٍ مِنْ بَنِيْ آدَمَ فِيْ هٰذِهِ السَّنَةِ وَفِيْهَا تُرْفَعُ أَعْمَالُهُمْ وَفِيْهَا تُنْزَلُ أَرْزَاقُهُمْ . فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللهِ مَا مِنْ أَحَدٍ يَّدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلاَّ بِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى ؟ فَقَالَ مَا مِنْ أَحَدٍ يَّدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلاَّ بِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى ثَلاَثًا قُلْتُ وَلاَ أَنْتَ يَارَسُوْلَ اللهِ ؟ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى هَامَتِهِ فَقَالَ وَلاَ أَنَا إِلاَّ أَنْ يَّتَغَمَّدَنِيَ اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَتِهِ . يَقُوْلُهَا ثَلاَثَ مَرَّاتٍ . رواه البيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا تا ته څرګنده ده چې په دې شپه (د شعبان پنځلسمه) کې څه کيږي؟ بي بي عائشې عرض وکړ : يا ، اې د الله رسوله! په دې کې څه کيږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : په دې کې دا کيږي چې په انسانانو کې هر څوک چې په دې کال پيدا کېدونکی وي ليکل کيږي او څوک چې په دې کال مړ کيږي په دې شپه ليکل کيږي او په دې شپه اعمال نامې پورته کيږي او په دې شپه د بندګانو رزق نازليږي ، عائشې عرض وکړ اې دالله رسوله ! هيڅوک داسې نسته چې د الله د رحمت پرته جنت ته داخل سي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : هيڅوک د الله د رحمت څخه پرته جنت ته نه سي داخليدلای درې ځله يې دا الفاظ وفرمايل ، بي بي عائشې عرض وکړ اې دالله رسوله ! ايا تاسو هم نه ؟ رسول الله ﷺ پر خپل سرمبارك لاس کېښېښودی او وه يې فرمايل : زه هم د الله د رحمت څخه پرته په جنت کې نه سم داخليدلای خو دا چې الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د خپل رحمت په سايه کې ما پټ کړي، رسول الله ﷺ دا الفاظ درې ځله وفرمايل . بيهقي .

## د برات په شپه کينه کونکی او مشرک د الله تعالی د رحمت څخه محروم کيږي

﴿۱۲۳۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَيَطَّلِعُ فِيْ لَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ فَيَغْفِرُ لِجَمِيْعِ خَلْقِهِ إِلاَّ لِمُشْرِكٍ أَوْ مُشَاحِنٍ . رواه ابن ماجه ورواه أحمد عن عبد الله بن عمرو بن العاص وفي روايته إلا اثنين مشاحن وقاتل نفس .

د حضرت ابو موسی اشعري ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی د شعبان په پنځلسمه شپه کې د بندګانو په لور متوجه کيږي او خپل ټول مخلوق ته بخښنه کوي خو نه مشرك او کينه ګر ته، ابن ماجه، احمد د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص د روايت څخه داسې نقل کړی دی چې الله تعالی په دې شپه دوه خلك مشرك او قاتل د خپل ځان نه بخښي .

**د شعبان د پنځلسمي روژې او عبادت**

﴿١٢٣٣﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ فَقُوْمُوْا لَيْلَهَا وَصُوْمُوْا يَوْمَهَا فَإِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يَنْزِلُ فِيْهَا لِغُرُوْبِ الشَّمْسِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَقُوْلُ أَلَا مِنْ مُسْتَغْفِرٍ فَأَغْفِرَ لَهُ ؟ أَلَا مُسْتَرْزِقٍ فَأَرْزُقَهُ ؟ أَلَا مُبْتَلًى فَأُعَافِيَهُ ؟ أَلَا كَذَا أَلَا كَذَا حَتّٰى يَطْلُعَ الْفَجْرُ . رواه ابن ماجه .

د حضرت علي ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي د شعبان پنځلسمه شپه سي نو تاسو د شپې عبادت کوئ او د ورځي روژه نیسئ ځکه چي الله تعالی په دې شپه کي د لمر لوېدو وروسته د دینا آسمان ته نزول فرمایي ، او فرمایي څوك بخښنه غوښتونکی سته چي زه یې و بخښم، څوك رزق غوښتونکی سته چي زه رزق ورکړم ، څوك په مصیبت اخته سته چي سلامتي ورکړم او داسي فرمایي تر څو چي د سهار رڼا سي . ابن ماجه .

# بَابُ صَلٰوةِ الضُّحٰى (د څاښت د لمانځه بیان)

## لومړی فصل

**د څاښت د لمانځه اته رکعتونه**

﴿١٢٣۴﴾: عَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ بَيْتَهَا يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ فَاغْتَسَلَ وَصَلّٰى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ فَلَمْ أَرَ صَلَاةً قَطُّ أَخَفَّ مِنْهَا غَيْرَ أَنَّهُ يُتِمُّ الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ . وَقَالَتْ فِيْ رِوَايَةٍ أُخْرٰى وَذٰلِكَ ضُحًى .متفق علیه

د حضرت ام هاني (رض) څخه روایت دی چي د مکې د فتح په ورځ رسول الله ﷺ د هغې کور ته تشریف راوړ غسل یې وکړ او اته رکعته یې وکړل ، ما هیڅ یو لمونځ تر دې لنډ نه دی لیدی مگر رسول الله ﷺ به رکوع او سجده پوره کول ، په یو بل روایت کي یې دا هم ویلي دي چي دا د څاښت لمونځ وو. بخاري او مسلم .

**د څاښت په لمانځه کي د رسول الله ﷺ د رکعتو شمېر**

﴿١٢٣٥﴾: وَعَنْ مُعَاذَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ عَائِشَةَ كَمْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ صَلَاةَ الضُّحٰى قَالَتْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَيَزِيْدُ مَا شَاءَ اللّٰهُ . رواه مسلم

د حضرت معاذة څخه روایت دی چي ما د بي بي عائشي څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ به د څاښت لمونځ څو رکعته کوی ؟ هغې جواب راکړ څلور رکعته او ددې څخه هم زیات څومره چي الله ته منظوره وه . مسلم

### د څاښت د لمانځه فضیلت

**(۱۲۳۶)**: وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَيُجْزِئُ مِنْ ذَلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحَى . رواه مسلم

د حضرت ابوذر ﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د سهار کېدو سره ستاسو پر هر هډوکي صدقه لازمېږي ، ستاسو هر تسبیح صدقه ده او الحمدلله ویل صدقه ده او هر تهلیل صدقه ده او هر تکبیر صدقه ده، د نیک کار حکم کول صدقه ده او بدي خبري څخه منع کول صدقه ده او ددې ټولو په مقابله کي دوه رکعته د څاښت لمونځ بس کیږي .مسلم

### د څاښت د لمانځه غوره وخت

**(۱۲۳۷)**: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّهُ رَأَى قَوْمًا يُصَلُّونَ مِنَ الضُّحَى فَقَالَ لَقَدْ عَلِمُوا أَنَّ الصَّلَاةَ فِي غَيْرِ هَذِهِ السَّاعَةِ أَفْضَلُ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةُ الْأَوَّابِينَ حِينَ تَرْمَضُ الْفِصَالُ . رواه مسلم

د حضرت زید بن ارقم څخه روایت دی چي هغه یو قوم د څاښت پر لمانځه کولو ولیدی نو هغه وویل دا خلك پوهیږي چي ددې وخت څخه پرته په بل وخت کي لمونځ تر دې غوره دی ، رسول الله ﷺ فرمایلي دي د پوره توجه کونکو د لمانځه وخت هغه دی کله چي د اوښانو بچي گرم سي .مسلم.

## دوهم فصل

### د څاښت د لمانځه برکت

**(۱۲۳۸)**: عَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ وَاَبِيْ ذَرٍ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنَّهُ قَالَ يَا ابْنَ آدَمَ ارْكَعْ لِي اربع ركعات مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ أَكْفِكَ آخِرَهُ. رواه الترمذي و ابوداؤد والدارمي عن نعيم بن همار الغطفاني واحمد عنهم.

د حضرت ابودرداء او ابوذر څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله ﷻ فرمائي : اې د آدم زویه ! ته د ورځي په اول کي زما لپاره څلور رکعته وکړه زه به ستا د ورځي تر اخیره کفایت کوم . ترمذي، ابوداؤد، دارمي .

### د اشراق د لمانځه فضیلت

**(۱۲۳۹)**: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ

دحضرت بریدة ﷛ څخه روایت دی چي ما د

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِي الْإِنْسَانِ ثَلاَثُمِائَةٍ وَسِتُّوْنَ مَفْصِلاً فَعَلَيْهِ أَنْ يَتَصَدَّقَ عَنْ كُلِّ مَفْصِلٍ مِنْهُ بِصَدَقَةٍ قَالُوْا وَمَنْ يُطِيْقُ ذٰلِكَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ ؟ قَالَ النُّخَاعَةُ فِي الْمَسْجِدِ تَدْفِنُهَا وَالشَّيْءُ تُنَحِّيْهِ عَنِ الطَّرِيْقِ فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فَرَكْعَتَا الضُّحٰى تُجْزِئُكَ . رواه أبو داود .

رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي د انسان په بدن کي درې سوه شپیته بندونه دي له دې کبله پر انسان لازم ده چي د هر بند په بدله کي صدقه ورکړي، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! څوك ددې توان لري ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: په مسجد کي پرتې ناړي په خاورو کي ښخول صدقه ده او مضر شی دلاري څخه ایسته کول هم صدقه ده او که ته په دې شیانو کي یو شی تر لاسه نه کړې نو د څاښت دوه رکعته ستا لپاره بس دي . ابوداؤد.

﴿۱۲۴۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى الضُّحٰى ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بَنَى اللّٰهُ لَهُ قَصْرًا مِنْ ذَهَبٍ فِي الْجَنَّةِ . رواه الترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث غريب لا نعرفه الا من هذا الوجه .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د څاښت په وخت کي دوولس رکعته وکړي الله تعالی به د هغه لپاره په جنت کي د سروزرو مانۍ جوړه کړي . ترمذي، ابن ماجه .

﴿۱۲۴۱﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَعَدَ فِيْ مُصَلَّاهُ حِيْنَ يَنْصَرِفُ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ حَتّٰى يُسَبِّحَ رَكْعَتَيِ الضُّحٰى لَا يَقُوْلُ إِلاَّ خَيْرًا غُفِرَ لَهُ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ أَكْثَرَ مِنْ زَبَدِ الْبَحْرِ . رواه ابو داود .

د حضرت معاذ بن انس الجهني ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د سهار د لمانځه څخه فارغ سي په مسجد کي پر خپل ځای کښیني تر څو چي لمر راخیژي او د اشراق دوه رکعته وکړي او په منځ کي د خیر د خبرو پرته بل څه ونه وایي نو د هغه گناهونه بخښل کیږي که څه هم د دریاب تر ځگ زیات وي . ابوداؤد.

## دریم فصل

﴿۱۲۴۲﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَافَظَ عَلٰى شُفْعَةِ الضُّحٰى غُفِرَ لَهُ ذُنُوْبُهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د څاښت د دوو رکعتو پابندي وکړي نو دهغه گناه بخښل کیږي که څه

الْبَحْرِ . رواه احمد والترمذي وابن ماجة .

هم هغه د دریاب د ځګ برابر وي . احمد، ترمذي، ابن ماجه.

**حضرت عائشه او د څاښت لمونځ**

﴿۱۲۴۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا كَانَتْ تُصَلِّيْ الضُّحٰى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ ثُمَّ تَقُوْلُ لَوْ نُشِرَ لِيْ اَبَوَايَ مَا تَرَكْتُهَا . رواه مالك .

د حضرت عائشي (رض) څخه روایت دی چي هغې به د څاښت لمونځ اته رکعته کوی او ویل به یې که زما مور او پلار ژوندي سي نو هم زه دا نه پرېږدم. مالك.

**د څاښت د لمانځه په اړه د رسول الله ﷺ معمول**

﴿۱۲۴۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ الضُّحَى حَتّٰى نَقُولَ لَا يَدَعُ وَيَدَعُهَا حَتّٰى نَقُولَ لَا يُصَلِّيْهَا. رواه الترمذي

د حضرت ابوسعید ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د څاښت لمونځ کوی تر دي چي موږ به ویل اوس به یې هیڅکله نه پرېږدي او کله به یې پرېښودل نو موږ به ویل چي اوس به یې بیا نه کوي . ترمذي .

﴿۱۲۴۵﴾: وَعَنْ مُوَرِّقٍ الْعِجْلِيِّ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ تُصَلِّيْ الضُّحٰى ؟ قَالَ لَا قُلْتُ فَعُمَرُ ؟ قَالَ لَا . قُلْتُ فَاَبُوْ بَكْرٍ ؟ قَالَ لَا . قُلْتُ فَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَ لَا اَخَالُهُ . رواه البخاري .

د حضرت مورق العجلي ؓ څخه روایت دی چي ما د ابن عمر ؓ څخه پوښتنه وکړه چي ته د څاښت لمونځ کوې؟ هغه وویل :یا، ما بیا پوښتنه وکړه عمر ؓ به کوی؟ هغه وویل :یا، ما بیا پوښتنه وکړه چي ایا ابوبکر ؓ به کوی ؟ هغه وویل :یا، ما بیا پوښتنه وکړه نبي کریم ﷺ به کوی ؟ هغه وویل زما خیال دی چي هغه به هم نه کوی . بخاري

## بَابُ التَّطَوُّعِ (د نفلي لمنځو بیان)

### لومړی فصل

**د تحیة الوضوء فضیلت**

﴿۱۲۴۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبِلَالٍ عِنْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ يَا بِلَالُ حَدِّثْنِي بِاَرْجٰى عَمَلٍ عَمِلْتَهُ فِي الْاِسْلَامِ فَاِنِّي سَمِعْتُ دَفَّ نَعْلَيْكَ بَيْنَ يَدَيَّ فِي الْجَنَّةِ قَالَ

د حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سهار د لمانځه پر وخت بلال ته وفرمایل : اې بلاله! ته خپل هغه عمل بیان کړه چي تر ټولو زیات امیدلرونکی وي او تا د اسلام

مَا عَمِلْتُ عَمَلاً اَرْجٰی عِنْدِي اَنِّي لَمْ اَتَطَهَّرْ طُهُوْرًا مِن سَاعَةٍ مِنْ لَيْلٍ وَلاَ نَهَارٍ إِلاَّ صَلَّيْتُ بِذٰلِكَ الطُّهُوْرِ مَا كُتِبَ لِي أَنْ أُصَلِّيَ. متفق علیه

په حالت کي په هغه عمل کړی وی څکه چي ما په جنت کي تر خپل ځان مخکي ستا د څپلیو آواز اوریدلی دی، حضرت بلال عرض وکړ ما هیڅ یو امید لرونکی د دې څخه زیات نه دی کړی مګر کله چي زه پاکي تر لاسه کړم (یعني اودس یا غسل وکړم) نو ما په هغه پاکۍ سره لمونځ کړی دی څومره چي الله ته منظوره وي. بخاري او مسلم.

**د استخارې د لمانځه دعاء**

(۱۲۴۷): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا الْاِسْتِخَارَةَ فِي الْأُمُوْرِ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ يَقُوْلُ إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالْأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيْضَةِ ثُمَّ لِيَقُلْ اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلاَ أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوْبِ اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ أَوْقَالَ فِيْ عَاجِلِ أَمْرِيْ وَآجِلِهِ فَاقْدِرْهُ لِيْ وَيَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِكْ لِيْ فِيْهِ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَمَعَاشِيْ وَعَاقِبَةِ أَمْرِيْ أَوْ قَالَ فِيْ عَاجِلِ أَمْرِيْ وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّيْ وَاصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَاقْدِرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِيْ بِهِ. قَالَ وَيُسَمِّيْ حَاجَتَهُ. رواه البخاري

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به په ټولو کارو کي موږ ته د استخارې کول داسي رازده کول لکه د قرآن کریم یو سورت، رسول الله ﷺ به فرمایل هر کله چي تاسو د یو کار اراده وکړئ نو هغه ته پکار دي چي د فرض لمانځه څخه پرته دوه رکعته لمونځ وکړي او بیا دا دعاء وغواړي (اللهم اني استخیرك......) (اې الله ﷻ زه ستا څخه ستا د علم په مرسته خیر غواړم او ستا په قدرت سره د عمل قدرت غواړم او ستا څخه لوی فضل غواړم ته پر هر شی واکدار یې او زه په هیڅ شي واك نه لرم ته په هر شي پوهېدونکی یې او زه په هیڅ شي نه پوهیږم او ته په غیب پوهېدونکی یې ، اې الله ﷻ که ستا په علم کي دا کار چي زه یې کول غواړم زما لپاره د دین معاش او انجام په اعتبار غوره وي (یا دا الفاظ) اې الله ! که ستا په علم کي هغه کاز چي زه یې کول غواړم زما لپاره په دنیا او آخرت کي غوره وي نو هغه زما مقدر جوړ کړې او زما لپاره یې آسان کړې بیا زما لپاره په دې کي برکت راکړې او که ستا په علم کي زما لپاره دا کار زما ددین ،ژوند او انجام د لحاظه خراب وي (یا دا الفاظ) په دې دنیا کي او په آخرت کي نو زما تو جه د دې لورې څخه واړوې او ددې خیال زما د زړه څخه لیرې کړې او زما لپاره غوره انتظام وکړې کوم ځای چي هغه وي او بیا ما پر هغه راضي کړې ، د دې وروسته دې خپل حاجت بیان کړي .بخاري

# دوهم فصل

## د توبې د لمانځه طريقه

﴿١٢٤٨﴾: عَنْ عَلِيٍّ قَالَ حَدَّثَنِيْ اَبُوْبَكْرٍ وَّ صَدَّقَ اَبُوْبَكْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا ثُمَّ يَقُوْمُ فَيَتَطَهَّرُ ثُمَّ يُصَلِّي ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ اِلاَّ غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ ثُمَّ قَرَأَ هٰذِهِ الْآيَةَ وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ. رواه الترمذي و ابن ماجة الا ان ابن ماجة لم يذكر الاية .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي حضرت ابوبکر صديق ﷺ ما ته حديث بيان کړی او رښتيا يې وويل چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي څوك گناه وکړي بيا ودريږي اودس وکړي او د هغه وروسته د الله ﷻ څخه بخښنه و غواړي نو الله تعالی هغه بخښي ، بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : (هغه خلك چي د بې حيايي گناه کوي يا پر خپلو ځانو ظلم کوي بيا الله يادوي او د خپلو گناهو بخښنه غواړي). ترمذي ،ابن ماجه .

## د مصيبت په وخت کي لمونځ

﴿١٢٤٩﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا حَزَبَهُ اَمْرٌ صَلّٰى . رواه أبو داود .

د حضرت حذيفه ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ ته غم يا ستونزه ځرگنده سوه نو لمونځ به يې کوی . ابوداوُد.

## د تحية الوضوء فضيلت

﴿١٢٥٠﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ اَصْبَحَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا بِلاَلاً فَقَالَ بِمَا سَبَقْتَنِيْ اِلَى الْجَنَّةِ مَا دَخَلْتُ الْجَنَّةَ قَطُّ اِلاَّ سَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ اَمَامِي قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا اَذَّنْتُ قَطُّ اِلاَّ صَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ وَمَا اَصَابَنِي حَدَثٌ قَطُّ اِلاَّ تَوَضَّأْتُ عِنْدَه وَرَاَيْتُ اَنَّ لِلّٰهِ عَلَيَّ رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِمَا. رواه الترمذي

د حضرت بريدة ﷺ څخه روايت دی چي د سهار د لمانځه وروسته رسول الله ﷺ حضرت بلال را وغوښتی او ورته وه يې فرمايل : ته کوم شي زما څخه مخکي جنت ته ورسولې ځکه چي زه کله هم په جنت کي داخل سوی يم نو خپل ترمخه مي ستا د څپليو آواز اوريدلی دی، بلال عرض وکړ اې دالله رسوله ! ما د آذان کولو څخه وروسته هميشه دوه رکعته لمونځ کړی او کله چي زما اودس مات سوی دی او بيا مي اودس کړی دی نو دا کار مي پر ځان لازم کړی دی چي د الله ﷻ لپاره پر ما دوه رکعته ضروري دي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د دې دوو شيانو له کبله . ترمذي

**د حاجت لمونځ**

﴿۱۲۵۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ اَبِيْ اَوْفٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ إِلَى اللّٰهِ حَاجَةٌ أَوْ إِلَى أَحَدٍ مِنْ بَنِي آدَمَ فَلْيَتَوَضَّأْ فَلْيُحْسِنِ الْوُضُوءَ ثُمَّ لِيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ لِيُثْنِ عَلَى اللّٰهِ وَلْيُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ لِيَقُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ لَا تَدَعْ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ . رَوَاهُ الترمذي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب .

د حضرت عبدالله بن ابي اوفی ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د الله څخه یو حاجت لري یا د یوچا دیني یا دنیاوي حاجت وي نو هغه ته پکار دي چي اودس وکړي او په ښه ډول اودس وکړي بیا دوه رکعته لمونځ وکړي بیا د الله تعریف وکړي او پر نبي ﷺ درود ولیږي او بیا دا دعاء وکړي (لااله الاالله الحلیم .....)، (د الله څخه پرته بل د عبادت وړ نسته داسي معبود چي بردبار او بخښونکی دی الله پاك دی د عرش عظیم خاوند دی او ټول تعریفونه هغه الله لره دي چي د ټولو کائناتو پروردګار دی ، اې الله ! زه ستا څخه د داسي عمل توفیق غواړم چي د هغه په سبب ستا د رحمت د نزول وړ وګرځم او هغه عمل غواړم چي ستا د بخښني سبب وي او د هري نیکۍ څخه ګټه غواړم او د هري ګناه څخه سلامتي غواړم زما هیڅ یو ګناه بې بخښني پرې نه ږدې او نه یو فکر مګر خلاص یې کړې او نه زما یو مشکل پاته کړې او زما هیڅ حاجت بند نه کړې چي ستا په نزد غوره وي ، اې د ټولو رحم کونکو څخه زیات رحم کونکې) . ابن ماجه ، ترمذي .

# باب صَلٰوةُ التَّسْبِيْحِ

**د تسبیح د لمانځه فضیلت**

﴿۱۲۵۲﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ يَا عَبَّاسُ يَا عَمَّاهُ أَلَا أُعْطِيكَ أَلَا أَمْنَحُكَ أَلَا أُخْبِرُكَ أَلَا أَفْعَلُ بِكَ عَشْرَ خِصَالٍ إِذَا أَنْتَ فَعَلْتَ ذٰلِكَ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ ذَنْبَكَ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ قَدِيمَهُ وَحَدِيثَهُ خَطَأَهُ وَعَمْدَهُ صَغِيرَهُ وَكَبِيرَهُ سِرَّهُ وَعَلَانِيَتَهُ أَنْ تُصَلِّيَ أَرْبَعَ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ حضرت عباس ﷺ ته وویل: اې عباسه! اې اکا! ایا زه تا ته ونه ښیم، ایا زه تا ته یو تحفه درنه کړم ، ایا زه تا خبر نه کړم ، د لس داسي خصلتو څخه که عمل په وکړې نو الله تعالی به ستا ټول مخکني ، وروستني، زاړه ،

رَكَعَاتٍ تَقْرَأُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُوْرَةً . فَإِذَا فَرَغْتَ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِيْ أَوَّلِ رَكْعَةٍ وَأَنْتَ قَائِمٌ قُلْتَ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ خَمْسَ عَشَرَةَ مَرَّةً ثُمَّ تَرْكَعُ فَتَقُوْلُهَا وَأَنْتَ رَاكِعٌ عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ الرُّكُوْعِ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَهْوِيْ سَاجِدًا فَتَقُوْلُهَا وَأَنْتَ سَاجِدٌ عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ السُّجُوْدِ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَسْجُدُ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ فَتَقُوْلُهَا عَشْرًا فَذٰلِكَ خَمْسٌ وَسَبْعُوْنَ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ تَفْعَلُ ذٰلِكَ فِيْ أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ إِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تُصَلِّيَهَا فِيْ كُلِّ يَوْمٍ مَرَّةً فَافْعَلْ فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّةً فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ كُلِّ شَهْرٍ مَرَّةً فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ كُلِّ سَنَةٍ مَرَّةً فَإِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَفِيْ عُمُرِكَ مَرَّةً . رواه أبو داود وابن ماجه والبيهقي في الدعوات الكبير، وروى الترمذي عن أبي رافع نحوه.

نوي ، په قصد سره، په هيره سره، كوچني ، لوى، او ښرگند ټول گناهونه و بخښي . ته ځلور ركعته لمونځ كوه په هر يوه ركعت كي الحمدلله او يو سورت وايه كله چي د قرائت ځخه فارغ سې په اول ركعت كي نو په ولاړه پنځلس واره دا كلمات ووايه : (سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ للهِ وَلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ) بيا ركوع وكړه او په ركوع كي هم لس واره دا كلمات ووايه بيا د ركوع ځخه سر پورته كړه او لس واره دغه كلمات ووايه بيا سجده وكړه او د سبحان ربي الاعلى وروسته لس واره دغه كلمات ووايه بيا د سجدې ځخه سر پورته كړه او لس واره دا كلمات ووايه بيا دويمه سجده وكړه او د سبحان ربي الاعلى وروسته لس واره بيا دا كلمات ووايه بيا د سجدې ځخه سر پورته كړه او لس واره دا كلمات ووايه دا ټول په هر ركعت كي پنځه اويا واره سول ، په ځلورو ركعتو كي داسي وكړه او كه ستا په وسه وي نو هره ورځ يو وار دا لمونځ كوه او كه ممكن نه وي نو بيا د هري جمعې په ورځ دا لمونځ كوه كه دا هم ممكن نه وي نو په مياشت كي يو وار يې كوه او كه دا هم ممكن نه وي نو په كال كي يو وار يې كوه او كه دا هم ممكن نه وي نو په ټول عمر كي دا لمونځ يو وار وكړه . ابوداؤد، ابن ماجه، بيقهي او ترمذي د ابو رافع ځخه هم داسي روايت كړى دى .

**د قيامت په ورځ تر ټولو مخكي د لمانځه پوښتنه**

﴿١٢٥٣﴾:وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاَتُهُ فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ ځخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ ځخه اوريدلي دي چي د قيامت په ورځ په اعمالو كي تر ټولو ترمخه چي د كوم عمل سوال كيږي هغه لمونځ دى كه لمونځ سم ادا سوى وي نو خلاصون به تر لاسه كړي او

فَإِنْ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيْضَتِهِ شَيْءٌ قَالَ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى انْظُرُوْا هَلْ لِعَبْدِيْ مِنْ تَطَوُّعٍ ؟ فَيُكَمَّلُ بِهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الْفَرِيْضَةِ ثُمَّ يَكُوْنُ سَائِرَ عَمَلِهِ عَلٰى ذٰلِكَ . وفي رواية ثُمَّ الزَّكَاةُ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ تُؤْخَذُ الْأَعْمَالُ عَلٰى حَسَبِ ذٰلِكَ . رواه أبو داود، ورواه أحمد عن رجل .

نجات به پيدا كړي او كه سم نه وي لمونځ دده نو نا اميدي ده بيا كه چيري په فرض لمانځه كي څه كمي وي نو الله تعالى ملائكو ته حكم وركړي چي زما د بنده په سنت او نفلو كي وگورئ او په فرضو كي چي څومره كمي ده هغه په پوره كړئ بيا داسي زكوة او نور اعمال حسابيږي . ابوداؤد، امام احمد دا حديث د غير معروف سړی څخه روايت كړی دی .

**د لمانځه او لمونځ كونكي عظمت او فضيلت**

﴿۱۲۵۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَذِنَ اللهُ لِعَبْدٍ فِيْ شَيْءٍ أَفْضَلَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ يُصَلِّيْهِمَا وَإِنَّ الْبِرَّ لَيُذَرُّ عَلٰى رَأْسِ الْعَبْدِ مَا دَامَ فِيْ صَلَاتِهِ وَمَا تَقَرَّبَ الْعِبَادُ إِلَى اللهِ بِمِثْلِ مَا خَرَجَ مِنْهُ يَعْنِي الْقُرْآنَ . رواه أحمد والترمذي .

د حضرت ابوامامة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى د يو بنده پر هيڅ عمل دومره نه مهربانه كيږي څومره چي پر دوو ركعتو چي بنده هغه كوي او يقينا تر څو پوري چي بنده په لمانځه كي بوخت وي د هغه پر سر د نيكى باران كيږي او د الله بنده چي د الله قرب په تر لاسه كولو كي څومره گټه د قرآن كريم څخه پورته كوي د بل شي څخه نه پورته كيږي . احمد او ترمذي .

# بَابُ صَلٰوةِ السَّفَرِ (د سفر د لمانځه بيان)

## لومړی فصل

**د رسول الله ﷺ د قصر لمونځ**

﴿۱۲۵۵﴾: عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ بِالْمَدِيْنَةِ أَرْبَعًا وَصَلَّى الْعَصْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ . متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د ماپښين لمونځ څلور ركعته وكړل او په ذي الحليفه كي يې د مازديگر دوه ركعته وكړل . بخاري او مسلم .

﴿۱۲۵۶﴾: وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ الْخُزَاعِيِّ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ

د حضرت حارثة بن وهب ﷺ څخه روايت دی چي موږ ته رسول الله ﷺ په منى كي دوه ركعته لمونځ

أَكْثَرُ مَا كُنَّا قَطُّ وَآمَنَهُ بِمِنًا رَكْعَتَيْنِ .متفق عليه

راکړ حال دا چي موږ د وراندي څخه زيات وو او د امن په حالت کي وو. بخاري اومسلم.

**د قصر په ايت کي د خوف قيد**

﴿۱۲۵۷﴾: وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ قُلْتُ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ اِنَّمَا قَالَ اللّٰهُ تعالى اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ اِنْ خِفْتُمْ اَنْ يَفْتِنَكُمْ الَّذِينَ كَفَرُوا فَقَدْ أَمِنَ النَّاسُ قَالَ عُمَر عَجِبْتُ مِمَّا عَجِبْتَ مِنْهُ فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ صَدَقَةٌ تَصَدَّقَ اللّٰهُ بِهَا عَلَيْكُمْ فَاقْبَلُوا صَدَقَتَهُ. رواه مسلم

د حضرت يعلي بن امية څخه روايت دی چي ما حضرت عمر بن خطاب ﷺ ته وویل: الله تعالی دا حکم کړی دی چي که تاسو د کافرانو د لوري په بيره کي ياست نو لمونځ کم کړئ مګر اوس چي امن قائم دی او بيره نسته نو په لمانځه کي د کمي څه ضرورت دی ؟ حضرت عمر ﷺ وويل څرنګه چي تا ته دا شك پيداسوی دی همدارنګه ما ته هم پيداسوی وو نو ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ، هغه وفرمايل: دا يو احسان دی چي الله پر تا کړی دی نو ته دا احسان قبول کړه . مسلم.

**د اقامت مدت**

﴿۱۲۵۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِيْنَةِ إِلَى مَكَّةَ فَكَانَ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ حَتَّى رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِيْنَةِ قِيْلَ لَهُ أَقَمْتُمْ بِمَكَّةَ شَيْئًا قَالَ أَقَمْنَا بِهَا عَشْرًا .متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره د مديني څخه مکې ته ولاړو ، رسول الله ﷺ به په سفر کي دوه رکعته لمونځ کوی تر څو چي موږ مديني ته راستانه سو ، د انس څخه پوښتنه وسول چي تاسو په مدينه کي څومره وخت واست؟ هغه وويل موږ په مکه کي لس ورځي وو. بخاري او مسلم.

﴿۱۲۵۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سَافَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَفَرًا فَأَقَامَ تِسْعَةَ عَشَرَ يَوْمًا يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَنَحْنُ نُصَلِّيْ فِيْمَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَكَّةَ تِسْعَةَ عَشَرَ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فَإِذَا أَقَمْنَا أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ صَلَّيْنَا أَرْبَعًا . رواه البخاري .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ يو سفر وکړ او هلته يې نولس ورځي تيري کړې او په دغه وخت کي به يې دوه دوه رکعته کول ، ابن عباس وايي موږ چي به د مکې او مديني په منځ کي تر نولس ورځو پوري پاته سو نو دوه دوه رکعته به مو کول او که تر دې به زيات پاته سو نو څلور رکعته به مو کول . بخاري .

**په سفر کې که نفل ونه کړي نو هیڅ پروا نه سته**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۲۶۰﴾:وَعَنْ حَفْصِ بْنِ عَاصِمٍ قَالَ صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ فِيْ طَرِيْقِ مَكَّةَ فَصَلّٰى لَنَا الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَاءَ رَحْلَهُ وَجَلَسَ فَرَأَى نَاسًا قِيَامًا فَقَالَ مَا يَصْنَعُ هٰؤُلَاءِ ؟ قُلْتُ يُسَبِّحُوْنَ . قَالَ لَوْ كُنْتُ مُسَبِّحًا أَتْمَمْتُ صَلَاتِيْ صَحِبْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ لَا يَزِيْدُ فِي السَّفَرِ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ وَأَبَابَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ كَذٰلِكَ . متفق عليه | د حضرت حفص بن عاصم ؓ څخه روایت دی چې زه د مکې په سفر کې د ابن عمر ؓ ملګری وم هغه د ماپښین لمونځ دوه رکعته وکړ ، ددې وروسته ابن عمر ؓ خپل ځای ته راغلی او کښېنستی خلك يې ولاړ وليدل نو پوښتنه يې وکړل دا خلك څه کوي ؟ ما ورته وويل نفل کوي، ابن عمر وويل که ما نفل کولای نو خپل لمونځ به مې پوره کولای زه د رسول الله ﷺ په |

ملګرتيا کې پاته سوی يم مګر ما رسول الله ﷺ په سفر کې تر دوو رکعتو زيات پر لمانځه کولو نه دی ليدلی او ابوبکر، عمر او عثمان به هم په سفر کې همداسې کول. بخاري او مسلم.

**جمع بين الصلوتين**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۲۶۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ إِذَا كَانَ عَلٰى ظَهْرِ سَيْرٍ وَيَجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ . رواه البخاري . | د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به په سفر کې : ماپښين او مازديګر لمونځ يو ځای کوی اود ماښام او ماخستن لمونځ به يې يو ځای کوي. بخاري. |

**پر سپرلۍ باندې د لمانځه کولو طريقه**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۲۶۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ فِي السَّفَرِ عَلٰى رَاحِلَتِهِ حَيْثُ تَوَجَّهَتْ بِهِ يُوْمِئُ إِيْمَاءً صَلَاةَ اللَّيْلِ إِلَّا الْفَرَائِضَ وَيُوْتِرُ عَلٰى رَاحِلَتِهِ .متفق عليه | د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د شپې پر خپل سپرلۍ لمونځ کوی د سپرلۍ مخ چې به هر لوري ته وود اشارې څخه به يې کار اخيستې مګر فرض لمونځ به يې پر |

سپرلۍ نه کوی البته وتر يې کول . بخاري او مسلم .

## دوهم فصل

**د رسول الله ﷺ قصر نه کول**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۲۶۳﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُلَّ ذٰلِكَ قَدْ فَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَصَرَ الصَّلَاةَ | د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ پوره لمونځ هم کړی دی او قصر |

وَأَتَمَّ . رواه في شرح السنة .

(دوه رکعته) يې هم کړې دی . شرح السنة

**بېله قصده او ارادې د پنځلسو ورځو څخه زيات قيام**

﴿۱۲۶۴﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشَهِدْتُ مَعَهُ الْفَتْحَ فَأَقَامَ بِمَكَّةَ ثَمَانِيَ عَشَرَ لَيْلَةً لاَ يُصَلِّيْ إِلاَّ رَكْعَتَيْنِ يَقُوْلُ يَا أَهْلَ الْبَلَدِ صَلُّوْا أَرْبَعًا فَإِنَّا سَفَرٌ . رواه أبو داود .

د حضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ سره په جهاد کې وم ، رسول الله ﷺ په مکه کې اتلس شپې پاته وو او په دغه وخت کې يې فرض لمنځونه دوه دوه رکعته کول او د ښار خلکو ته يې فرمايل : تاسو څلور رکعته کوئ څکه چې موږ مسافر يو . ابوداؤد.

**قصر يوازې په څلور رکعتيز لمنځو کې جائز دی**

﴿۱۲۶۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ فِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ وَ بَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وفي رواية قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي الْحَضَرِ الظُّهْرَ أَرْبَعًا وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّيْتُ مَعَهُ فِي السَّفَرِ الظُّهْرَ رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ وَالْعَصْرَ رَكْعَتَيْنِ وَلَمْ يُصَلِّ بَعْدَهَا شَيْئًا وَالْمَغْرِبَ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ سَوَاءً ثَلاَثَ رَكَعَاتٍ لاَ يَنْقُصُ فِي حَضَرٍ وَلاَ فِي سَفَرٍ وَّ هِيَ وِتْرُ النَّهَارِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ . رواه الترمذي

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چې ما په سفر کې د رسول الله ﷺ سره د ماپښين دوه رکعته وکړل او د هغه وروسته دوه رکعت سنت، او په يو بل روايت کې دا الفاظ دي چې ما په سفر او حضر کې د رسول الله ﷺ سره لمونځ کړی دی په حضر کې مې د رسول الله ﷺ سره ماپښين څلور رکعته کول او دوه سنت او په سفر کې دماپښين دوه رکعته وکړل او وروسته دوه سنت او په مازديگر کې دوه رکعته او د هغه وروسته مو هيڅ لمونځ نه دی کړی ، او د ماښام لمونځ مو په سفر او حضر دواړو کې درې رکعته کړی دی او دماښام په لمانځه کې مو څه کمي نه ده کړې نه په سفر کې او نه په حضر کې (د حضر څخه مراد ښار دی) لکه د ماښام لمونځ چې د ورځې وتر دي او د ماښام څخه وروسته مو دوه رکعته سنت وکړل . ترمذي.

**جمع بين الصلوتين**

﴿۱۲۶۶﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَّرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَإِنِ ارْتَحَلَ قَبْلَ

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ به د تبوك د غزا په ورځو کې کله چې به زوال وسو نو د سفر کولو څخه تر مخه

أَنْ تَزِيْغَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الظُّهْرَ حَتّٰى يَنْزِلَ لِلْعَصْرِ وَفِي الْمَغْرِبِ مِثْلَ ذٰلِكَ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَّرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ وَإِنِ ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَغِيْبَ الشَّمْسُ آخَرَ الْمَغْرِبَ حَتّٰى يَنْزِلَ لِلْعِشَاءِ ثُمَّ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا . رواه أبو داود والترمذي .

به يې د ماپښين او مازديگر لمونځ يو ځاى كوى او كه به د زوال څخه ترمخه سفر وسو نو په ماپښين كې به يې زنډ كوى او د مازديگر په وخت كې به راكښته سو او د ماپښين او مازديگر دواړه لمنځونه به يې يو ځاى كول، او په ماښام كي به يې هم داسي كول يعني كه د لمر لوېدو څخه وروسته به سفر سو نو د ماښام او ماخستن لمونځ به يې يو ځاى كوى او كه د لمر لوېدو مخكي به سفر سو نو په ماښام كي به يې زنډ كوى او د ماخستن په وخت كي به راكښته سو بيا به يې دواړه لمنځونه يو ځاى كول. ابوداؤد، ترمذي

**پر سپرلۍ لمونځ**

﴿۱۲۶۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَافَرَ وَأَرَادَ أَنْ يَّتَطَوَّعَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ بِنَاقَتِهِ فَكَبَّرَ ثُمَّ صَلّٰى حَيْثُ وَجَّهَهُ رِكَابُهُ . رواه أبو داود .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چي كله به رسول الله ﷺ په سفر كي د نفل لمونځ كولو اراده كول نو اوښه به يې د قبلې په لور كړه تكبير به يې وايه بيا چي به اوښه پر كوم لور تله نو هغه لوري ته به يې لمونځ كوى. ابوداؤد.

﴿۱۲۶۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ بَعَثَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَاجَةٍ فَجِئْتُ وَهُوَ يُصَلِّيْ عَلٰى رَاحِلَتِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَيَجْعَلُ السُّجُوْدُ أَخْفَضَ مِنَ الرُّكُوْعِ . رواه أبو داود .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ زه په يو كار پسي وليږلم كله چي زه راغلم نو وه مي ليدل چي رسول الله ﷺ پر سپرلۍ لمونځ كوى او د سپرلۍ مخ د ختيځ پر لور وو او رسول الله ﷺ تر ركوع سجده زياته كښته كول . ابوداؤد.

## دريم فصل

**د حضرت عمر ﷺ په منى كي قصر نه كول**

﴿۱۲۶۹﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ وَأَبُوْ بَكْرٍ بعده وَعُمَرُ بعد ابي بكر وَعُثْمَانُ صَدْرًا مِنْ خلافته ثُمَّ انَّ عُثْمَانَ صَلّٰى بَعْدُ اَرْبَعًا فَكَانَ ابْنُ

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ په منى كي دوه ركعته لمونځ وكړ د رسول الله ﷺ وروسته ابوبكر، عمر او حضرت عثمان د خپل خلافت په پيل كي دوه ركعته وكړل بيا

عُمَرَ اِذَا صَلّٰى مَعَ الْاِمَامِ صَلّٰى اَرْبَعًا وَ اِذَا صَلَّهَا وَحْدَهُ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ . متفق عليه

حضرت عثمان څلور رکعته کول پيل کړل او ابن عمر چي به د امام سره لمونځ کوی نو څلور رکعته به يې کول او کله چي به يې يوازي کوی نو دوه رکعته يې کول. بخاري او مسلم .

**قصر تر رخصت زيات عزيمت دی**

﴿۱۲۷۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ فُرِضَتْ الصَّلٰوةُ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ هَاجَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفُرِضَتْ اَرْبَعًا وَتُرِكَتْ صَلٰوةُ السَّفَرِ عَلَى الْفَرِيْضَةِ الْاُوْلٰى قَالَ الزُّهْرِيُّ فَقُلْتُ لِعُرْوَةَ مَا بَالُ عَائِشَةَ تُتِمُّ قَالَ تَأَوَّلَتْ كَمَا تَأَوَّلَ عُثْمَانُ. متفق عليه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي په پيل کي دوه رکعته لمونځ فرض سوی وو بيا چي رسول الله ﷺ هجرت وکړ نو څلور رکعته لمونځ فرض سو او د سفر لمونځ هم هغه دوه رکعته وو ، زهري وايي ما عروه ته وويل چي د بي بي عائشې څه حال دی چي هغه په سفر کي هم پوره لمونځ کوي ؟ هغه وويل چي هغه هم د حضرت عثمان په ډول قصر او پوره دواړه جائز گڼي .بخاري او مسلم.

**قصر د الله ﷻ حکم دی**

﴿۱۲۷۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فَرَضَ اللّٰهُ الصَّلَاةَ عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَضَرِ اَرْبَعًا وَفِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ وَفِي الْخَوْفِ رَكْعَةً. رواه مسلم

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي الله ﷻ ستاسو د نبي پر ژبه لمونځ فرض کړی دی په حضر کي څلور رکعته او په سفر کي دوه رکعته او د بيري په حالت کي يو رکعت . مسلم .

**قصر په قران او سنت سره ثابت دی**

﴿۱۲۷۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَا سَنَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا تَمَامٌ غَيْرُ قَصْرٍ وَالْوِتْرُ فِي السَّفَرِ سنة . رواه ابن ماجه .

د حضرت ابن عباس او ابن عمر (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ په سفر کي دوه رکعته ټاکلي دي او دا دوه رکعته (په ثواب کي) پوره دي ناقص نه دی او وتر کول په سفر کي سنت دی . ابن ماجه .

**د قصر د مسافت حد**

﴿۱۲۷۳﴾: وَعَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ كَانَ يَقْصُرُ فِي الصَّلَاةِ فِيْ مِثْلِ مَا يَكُوْنُ بَيْنَ مَكَّةَ وَالطَّائِفِ وَفِيْ مِثْلِ مَا يَكُوْنُ بَيْنَ مَكَّةَ وَعُسْفَانَ

د حضرت مالك ﷺ څخه روایت دی چي هغه ته دا څرگنده سوې ده چي ابن عباس په اندازه د هغه مسافت چي د مکې او طائف په منځ کي دی په

وَفِيْ مِثْلِ مَا بَيْنَ مَكَّةَ وَجَدَّةَ قَالَ مَالِكٌ وَذٰلِكَ أَرْبَعَةُ بُرُدٍ . رواه في الموطأ .

سفر کي قصر کولو او همداسي په اندازه ددې مسافت په سفر کي چي مکه او عسفان او د مکې او جدې په منځ کي دی . مالك وايي دا مسافت (۳۶) کوس برابر دی . مؤطا .

**په سفر کي د لمونځ کولو بيان**

(۱۲۷۴): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ صَحِبْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَفَرًا فَمَا رَأَيْتُهُ تَرَكَ رَكْعَتَيْنِ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ . رواه أبو داود والترمذي وقال هذا حديث غريب .

د حضرت براء ﷺ څخه روايت دی چي زه اتلس ورځي د رسول الله ﷺ سره په سفر کي ملګری وم ما نه دي ليدلي چي د زوال کېدو سره د ماپښين مخکي رسول الله ﷺ دوه رکعته ترك (پرې ايښې) کړې وي . ابوداؤد. ترمذي .ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی .

(۱۲۷۵): وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنِ عُمَرَ كَانَ يَرٰى ابْنَهُ عُبَيْدَ اللهِ يَتَنَفَّلُ فِي السَّفَرِ فَلاَ يُنْكِرُ عَلَيْهِ . رواه مالك .

د حضرت نافع ﷺ څخه روايت دی چي عبد الله بن عمر ﷺ به خپل زوی په سفر کي پر نفلو کولو لېدی او هغه به يې نه منع کوی . مالك .

## بَابُ الْجُمُعَةِ (د جمعې د لمانځه بيان)

## لومړی فصل

**د جمعې د فضيلت څخه د يهود او نصارا اعراض**

(۱۲۷۶): عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ الْآخِرُوْنَ السَّابِقُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بَيْدَ أَنَّهُمْ أُوْتُوْا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِنَا وَأُوْتِيْنَاهُ مِنْ بَعْدِهِمْ ثُمَّ هٰذَا الْيَوْمُ الَّذِيْ فُرِضَ عَلَيْهِمْ يَعْنِي الْجُمُعَةَ فَاخْتَلَفُوْا فِيْهِ فَهَدَانَا اللهُ لَهُ فَالنَّاسُ لَنَا فِيْهِ تَبَعٌ الْيَهُوْدُ غَدًا وَالنَّصَارٰى بَعْدَ غَدٍ، متفق عليه. وَ فِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ نَحْنُ الْآخِرُوْنَ الْأَوَّلُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَ نَحْنُ أَوَّلُ مَنْ يَّدْخُلُ الْجَنَّةَ بَيْدَ أَنَّهُمْ وَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : موږ په دنيا کي آخر راتلونکي يو او موږ به په قيامت کي مخته کيدونکي يو که څه هم اهل کتاب ته زموږ تر مخه کتاب ورکړل سوی دی او موږ ته وروسته راکړل سوی دی بيا دا ورځ (دجمعې ورځ) هغه ورځ وه چي په هغوئ (اهل کتابو) باندي فرض سوې وه هغوئ په دې کي اختلاف وکړ او موږ ته په دې اره الله ﷻ لارښوونه وکړه اوس نور خلك د جمعې په

ذَكَرَهُ نَحْوَهُ اِلَى آخِرِهِ وَ فِيْ اُخْرٰى لَهُ عَنْهُ وَ عَنْ حُذَيْفَةَ قَالاَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ اٰخِرِ الْحَدِيْثِ نَحْنُ الْاٰخِرُوْنَ مِنْ اَهْلِ الدُّنْيَا وَالْاَوَّلُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمَقْضِيُّ لَهُمْ قَبْلَ الْخَلاَئِقِ .

اړه زموږ تابع دي يهودو د جمعې وروسته ورځ (يعني شنبه) غوره کړل او نصاراوو د شنبې وروسته ورځ (يكشنبه) غوره کړل . بخاري او مسلم ، د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي نبي كريم ﷺ وفرمايل : موږ دنيا ته د راتلو په اعتبار آخري يو او په قيامت کي به اول يو او په جنت کي به هم تر ټولو اول موږ داخليږو ، بيا اهل كتاب . ددې وروسته مخکني الفاظ دي، په يوه روايت کي ابوهريرة او حذيفة څخه نقل دي چي هغوئ وويل : رسول الله ﷺ وفرمايل : (د ذكر سوي حديث په پاى کي) موږ د ديناوالاوو په اعتبار اخر کي يو او د قيامت په ورځ به اول يو د ټولو مخلوقاتو څخه لومړى به زموږ لپاره حكم وسي.

## د جمعې د ورځي فضيلت

﴿١٢٧٧﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيْهِ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيْهِ اُخْرِجَ مِنْهَا وَلاَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ اِلاَّ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغه ورځو څخه چي لمر پکښي راخيژي تر ټولو غوره ورځ جمعه ده ، په دې ورځ حضرت آدم ﷺ پيدا سوى دى او په دې ورځ جنت ته داخل سوى دى او په دې ورځ د جنت څخه را ايستل سوى دى او قيامت به هم د جمعې په ورځ وي. مسلم.

## په جمعه کي د قبلېدو ساعت

﴿١٢٧٨﴾:وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لاَ يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ فِيْهَا خَيْرًا اِلاَّ اَعْطَاهُ اِيَّاهُ .متفق عليه وَزَادَ مُسْلِمٌ قال وَهِيَ سَاعَةٌ خَفِيْفَةٌ . وَفِيْ رِوَايَةٍ لَهُمَا قَالَ اِنَّ فِي الْجُمُعَةِ لَسَاعَةً لاَ يُوَافِقُهَا مُسْلِمٌ قَائِمٌ يُصَلِّيْ يَسْأَلُ اللهَ خَيْرًا اِلاَّ اَعْطَاهُ اِيَّاهُ .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جمعې په ورځ کي يو داسي ساعت دى که په هغه کي يو مسلمان د نيکۍ دعاء وغواړي نو الله به هغه ورکړي . بخاري او مسلم، د مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چي هغه ساعت ډير لږ دى ، او د بخاري او مسلم په يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي د جمعې په ورځ کي يو ساعت داسي دى که مسلمان هغه تر لاسه کړي او دلمانځه كولو وړ: سته په هغه کي د الله څخه د خير دعاء وغواړي نو خرو ركول كيږي .

### د جمعې په ورځ د قبولیت ساعت کله وي

﴿۱۲۷۹﴾: وَعَنْ أَبِيْ بُرْدَةَ بْنِ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ سَمِعْتُ أَبِيْ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ شَأْنِ سَاعَةِ الْجُمُعَةِ هِيَ مَا بَيْنَ أَنْ يَجْلِسَ الْإِمَامُ إِلَى أَنْ تُقْضَى الصَّلَاةُ . رواه مسلم .

حضرت ابوبردة بن ابوموسى وايي چي ما د خپل پلار څخه اوريدلي دي چي (هغه وايي) ما د رسول الله ﷺ څخه د جمعې د ساعت په اړه دا اوريدلي دي چي پر منبر د امام د ناستي څخه د لمانځه تر پايه پوري چي کوم وخت دی په هغه کي دا ساعت دی .

## دوهم فصل

### د جمعې فضيلت او د قبلېدو ساعت

﴿۱۲۸۰﴾: عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجْتُ إِلَى الطُّوْرِ فَلَقِيْتُ كَعْبَ الْأَحْبَارِ فَجَلَسْتُ مَعَهُ فَحَدَّثَنِيْ عَنِ التَّوْرَاةِ وَحَدَّثْتُهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ فِيْمَا حَدَّثْتُهُ أَنْ قُلْتُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيْهِ أُهْبِطَ وَفِيْهِ تِيْبَ عَلَيْهِ وَفِيْهِ مَاتَ وَفِيْهِ تَقُوْمُ السَّاعَةُ وَمَا مِنْ دَابَّةٍ إِلاَّ وَهِيَ مُصِيْخَةٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِنْ حِيْنَ تُصْبِحُ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ شَفَقًا مِّنَ السَّاعَةِ إِلاَّ الْجِنُّ وَالْإِنْسُ وَفِيْهَا سَاعَةٌ لاَ يُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّيْ يَسْأَلُ اللهَ شَيْئًا إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ . قَالَ كَعْبٌ ذٰلِكَ فِيْ كُلِّ سَنَةٍ يَوْمٌ . فَقُلْتُ بَلْ فِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ فَقَرَأَ كَعْبُ التَّوْرَاةَ فَقَالَ صَدَقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ لَقِيْتُ عَبْدَاللهِ بْنَ سَلَامٍ فَحَدَّثْتُهُ بِمَجْلِسِيْ مَعَ كَعْبِ الاحبار وَمَا حَدَّثْتُهُ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَقُلْتُ لَهُ قَالَ كَعْبٌ ذٰلِكَ فِيْ كُلِّ سَنَةٍ

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي زه د طور غره ته ولاړم او د کعب احبار سره مي ليدنه وکړه زه د هغه سره کښېنستم هغه زما په وړاندي د تورات لږ بيان وکړی او ما د رسول الله ﷺ حديث هغه ته بيان کړل کوم حديثونه چي ما بيان کړل په هغو کي يو دا هم وو چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي په هغه ورځو کي چي لمر پکښي راخيژي غوره ورځ د جمعې ورځ ده په دې ورځ کي آدم ﵇ پيدا سوی دی په دې ورځ هغه د جنت څخه را ايستل سوی دی په دې ورځ د هغه توبه قبوله سوه په دې ورځ هغه وفات سو او په دې ورځ به قيامت وي او هيڅ يو حيوان داسي نسته چي د جمعې د سهار څخه تر لمر ختلو پوري غوږونه يې منتظر کړي نه وي له جهته د بيري د قيامت څخه مگر انسان او پيريانان د دې څخه غافل کړل سوي دي او د جمعې په ورځ کي يو ساعت دی که يو مسلمان هغه تر لاسه کړي او په هغه کي د لمانځه وروسته دعاء و غواړي نو

يَوْمٌ ؟ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنِ سَلَامٍ كَذَبَ كَعْبٌ فَقُلْتُ لَهُ ثُمَّ قَرَأَ كَعْبٌ التَّوْرَاةَ . فَقَالَ بَلْ هِيَ فِيْ كُلِّ جُمُعَةٍ . فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنِ سَلَامٍ صَدَقَ كَعْبٌ ثُمَّ قَالَ عَبْدُاللهِ بْنِ سَلَامٍ قَدْ عَلِمْتُ أَيَّةَ سَاعَةٍ هِيَ . قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ لَهُ فَأَخْبِرْنِيْ بِهَا وَلَاتَضِنَّ عَلَيَّ فَقَالَ عَبْدُاللهِ بْنِ سَلَامٍ هِيَ آخِرُ سَاعَةٍ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ وَكَيْفَ تَكُوْنُ آخِرُ سَاعَةٍ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَقَدْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَقَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ سَلَامٍ أَلَمْ يَقُلْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ فَهُوَ فِيْ صَلَاةٍ حَتَّى يُصَلِّيْ قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ بَلَى قَالَ فَهُوَ ذَالِكَ . رواه مالك وأبو داود والترمذي والنسائي وروى أحمد إلى قوله صدق كعب .

الله تعالی به يې غوښتنه پوره کړي (د دې په اوریدو سره کعب احبار وویل) دا ورځ په کال کې یوه ورځ ده ما وویل بلکه دا ساعت په هره جمعه کې وي د دې په اوریدو سره کعب تورات ووایه او وه يې فرمایل : رسول الله ﷺ رښتیا فرمایلي دي ، ابوهریرة وايي د دې وروسته ما عبدالله بن سلام سره لیدنه وکړه او کعب احبار سره چې کومې خبرې سوې وې د هغې یادونه کولو سره مې ورته وویل د کعب احبار بیان دی چې دا ورځ په کال کې یوه ورځ راځي عبدالله بن سلام د دې په اوریدو سره وویل چې کعب درواغ وایي بیا ما وویل کعب د دې وروسته تورات ووایه او وه يې ویل چې هغه ساعت په هره جمعه کې دی عبدالله بن سلام وویل کعب رښتیا وویل، ددې وروسته عبدالله بن سلام وویل زه ددې ساعت ښخه خبر یم ، ابوهریرة وویل ما ته يې راوښیه او بخل مه کوه ، عبدالله بن سلام وویل هغه د جمعې د ورځې آخري ساعت دی ، ابوهریرة د دې په اوریدو سره وویل د جمعې په ورځ آخري ساعت څنګه کیدلای سي هر کله چې رسول الله ﷺ دا فرمایلي دي چې کوم مسلمان بنده چې دا ساعت تر لاسه کړي او په هغه کې لمونځ کوي او د هغه وخت چې ته یادونه کوې په هغه کې خو لمونځ نه کیږي، عبدالله بن سلام وویل : ایا رسول الله ﷺ دا نه دي فرمایلي څوك چې د لمانځه په انتظار کې پر خپل ځای ناست وي هغه لکه چې په لمانځه کې دی تر څو چې هغه لمونځ وکړي، ابوهریرة وايي د دې په جواب کې ما وویل :هو، رسول الله ﷺ دا فرمایلي دي ، دلمانځه څخه مراد دادی چې هغه د لمانځه انتظار کوي، مالك، ابوداؤد، ترمذي، نسائي، احمد یوازې د کعب تر قوله پوري بیان کړی دی .

﴿۱۲۸۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلْتَمِسُوا السَّاعَةَ الَّتِي

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه ساعت و لټوئ په کوم کې چې د دعاء

تُرْجَى فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَى غَيْبُوبَةِ الشَّمْسِ . رواه الترمذي

قبلېدو امید دی د جمعې په ورځ د مازدیگر څخه وروسته تر لمر لوېدو پورې . ترمذي .

## د جمعې فضائل

﴿١٢٨٢﴾: وَعَنْ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَفْضَلِ أَيَّامِكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِيْهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيْهِ قُبِضَ وَفِيْهِ النَّفْخَةُ وَفِيْهِ الصَّعْقَةُ فَأَكْثِرُوْا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيْهِ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوْضَةٌ عَلَيَّ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَكَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ أَرِمْتَ ؟ قَالَ يَقُوْلُوْنَ بَلِيْتَ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ . رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه والدارمي والبيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت اوس بن اوس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : ستاسو په ورځو کې غوره ورځ د جمعې ورځ ده د جمعې په ورځ آدم ﷺ پیدا سو د جمعې په ورځ د هغه روح قبض کړل سوه او د جمعې په ورځ به شپېلۍ وهل کېږي او د جمعې په ورځ به صعقه (د مرگ شپېلۍ) وي نو په دې ورځ پر ما ډېر درود وایاست ځکه چې ستاسو درود به ما ته وړاندې کېږي . صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! درود تاسو ته څنگه وړاندې کېږي حال دا چې ستاسو هډوکې به زاړه سوي وي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی پر مځکه د انبیاؤ بدنونه حرام کړي دي . ابو داؤد ، نسائي .

﴿١٢٨٣﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْيَوْمُ الْمَوْعُوْدُ يَوْمُ الْقِيَامَةِ وَالْيَوْمُ الْمَشْهُوْدُ يَوْمُ عَرَفَةَ وَالشَّاهِدُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَمَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَلَا غَرَبَتْ عَلَى يَوْمٍ أَفْضَلَ مِنْهُ فِيهِ سَاعَةٌ لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُؤْمِنٌ يَدْعُو اللّٰهَ بِخَيْرٍ إِلَّا اسْتَجَابَ اللّٰهُ لَهُ وَلَا يَسْتَعِيذُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا أَعَاذَهُ اللّٰهُ مِنْهُ. رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث غريب لايعرف الا من حديث موسى ابن عبيدة وهو يضعف.

د حضرت ابو هریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : (یوم موعود) د قیامت ورځ ده او (یوم مشهود) د عرفات ورځ ده او شاهد د جمعې ورځ ده ، لمر پر هیڅ یو داسې ورځ نه راخېژي او نه لوېږي چې د جمعې تر ورځې دې غوره وي د جمعې په ورځ کې یو ساعت دی چې مؤمن بنده یې تر لاسه کړي او په هغه کې د الله څخه دعاء و غواړي دخیر نو الله تعالی هغه دعاء قبلوي او د کوم شي څخه چې پناه و غواړي الله د هغه څخه پناه ورکوي . احمد او ترمذي ، ترمذي ویلي دا حدیث غریب یوازې د موسی بن عبید څخه پېژندل کېږي .

## دریم فصل

### د جمعې فضیلت

﴿۱۲۸۴﴾: عَنْ أَبِيْ لُبَابَةَ بْنِ عَبْدِ الْمُنْذِرِ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ سَيِّدُ الْأَيَّامِ وَأَعْظَمُهَا عِنْدَ اللهِ مِنْ يَوْمِ الْأَضْحٰى وَيَوْمِ الْفِطْرِ فِيْهِ خَمْسُ خِلَالٍ خَلَقَ اللهُ فِيْهِ آدَمَ وَأَهْبَطَ اللهُ فِيْهِ آدَمَ إِلَى الْأَرْضِ وَفِيْهِ تَوَفَّى اللهُ آدَمَ وَفِيْهِ سَاعَةٌ لَايَسْأَلُ الْعَبْدُ فِيْهَا شَيْئًا إِلاَّ أَعْطَاهُ مَالَمْ يَسْأَلْ حَرَامًا وَفِيْهِ تَقُوْمُ السَّاعَةُ مَا مِنْ مَلَكٍ مُقَرَّبٍ وَلَا سَمَاءٍ وَلَا أَرْضٍ وَلَا رِيَاحٍ وَلَا جِبَالٍ وَلَا بَحْرٍ إِلاَّ وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ . رواه ابن ماجه . وَرَوٰى أَحْمَدُ عَنْ سَعْدِ بْنِ معاذ أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَخْبِرْنَا عَنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مَاذَا فِيْهِ مِنَ الْخَيْرِ ؟ قَالَ فِيْهِ خَمْسُ خِلَالٍ وَسَاقَ اِلٰى آخِرِ الْحَدِيْثِ .

د حضرت ابولبابة بن عبدالمنذر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د جمعې ورځ د الله ﷻ په نزد د ورځو سرداره او یوه ستره ورځ ده او د الله ﷻ په نزد د دې عظمت تر کوچنې اختر او لوی اختر تر ورځو هم زیات دی د جمعې په ورځ پنځه (۵) خبري دي ۱: الله تعالی په دې ورځ آدم ﷺ پیدا کړی دی ۲: په دې ورځ یې مځکې ته رالیږلی دی ۳: او په دې ورځ یې وفات کړی دی ۴: په دې ورځ کي یو داسي ساعت دی که بنده د یو شي د عاء وغواړي الله ﷻ هغه شي ورکوي په شرط د دې چي د یو حرام شي سوال نه وي ۵: او په دې ورځ به قیامت قائم کیږي له دې کبله مقربې ملائکي، آسمان، مځکه، هواء، غر او د ریاب ټوله خائف (په بیره کي) وي ، ابن ماجه، احمد د سعد بن معاذ څخه روایت کوي چي یو انصاري د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ اې دالله رسوله ! موږ د جمعې د ورځي د حال څخه خبر کړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : د جمعې په ورځ کي پنځه خبري دي .(تر پایه حدیث).

### د جمعې د تسمیې وجه

﴿۱۲۸۵﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قِيْلَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَيِّ شَيْءٍ سُمِّيَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ ؟ قَالَ لِأَنَّ فِيْهَا طُبِعَتْ طِيْنَةُ أَبِيْكَ آدَمَ وَفِيْهَا الصَّعْقَةُ وَالْبَعْثَةُ وَفِيْهَا الْبَطْشَةُ وَفِيْ آخِرِ ثَلَاثِ سَاعَاتٍ مِنْهَا سَاعَةٌ مَنْ دَعَا اللهَ فِيْهَا اسْتُجِيْبَ لَهُ . رواه أحمد .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي د جمعې د ورځي نوم ولي جمعه ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل په دې ورځ ستاسو د پلار آدم ﷺ خاوره یو ځای کړل سوې او خمیر کړل سوې ده او په دې ورځ به صعقة وي (یعني شپیلۍ به پوه کړل سي د مرګ)

او په دې ورځ به ټول مخلوق را ژوندي کړل سي او په دې ورځ به قيامت وي او د دې ورځو په آخري درې ساعتونو کي يو داسي ساعت دی چي په هغه کي کومه دعاء وسي هغه قبليږي . احمد

## د جمعې په ورځ زيات درود ويل

﴿۱۲۸۶﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثِرُوا الصَّلاَةَ عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَإِنَّهُ مَشْهُوْدٌ تَشْهَدُهُ الْمَلاَئِكَةُ وَإِنَّ أَحَدًا لَنْ يُصَلِّ عَلَيَّ إِلاَّ عُرِضَتْ عَلَيَّ صَلاَتُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهَا قَالَ قُلْتُ وَبَعْدَ الْمَوْتِ ؟ قَالَ إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَنْ تَأْكُلَ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ فَنَبِيُّ اللهِ حَيٌّ يُرْزَقُ . رواه ابن ماجه

د حضرت ابودرداء ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جمعې په ورځ پر ما ډير درود واياست ځکه چي دا ورځ د حاضرۍ ده او په دې کي ملائکي حاضريږي او په تاسو کي چي څوك پر ما درود وايي تر څو پوري چي هغه د درود څخه فارغ سوی نه وي د هغه درود زما مخته ته وړاندي کيږي ، ما عرض وکړ ايا ستاسو د وفات وروسته به درود وړاندي کيږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: پر مځکه دا خبره حرامه سوې ده چي هغه د انبياؤو بدن وخوري د الله نبيان ژوندي دي او هغوئ ته رزق ورکول کيږي . ابن ماجه

## د جمعې په ورځ د مړ کېدونکي لپاره زيری

﴿۱۲۸۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ إِلاَّ وَقَاهُ اللهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ . رواه أحمد والترمذي وقال هذا حديث غريب وليس إسناده بمتصل .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم مسلمان چي د جمعې په ورځ يا دجمعې په شپه وفات سي نو هغه د قبر د فتنو څخه محفوظ وي . احمد، ترمذي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی د دې اسناد متصل نه دي .

## جمعه د مسلمانانو لپاره د اختر ورځ ده

﴿۱۲۸۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّهُ قَرَأَ (اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ ) الآية وَعِنْدَهُ يَهُوْدِيٌّ فَقَالَ لَوْ نَزَلَتْ هٰذِهِ الآيَةُ عَلَيْنَا لاَتَّخَذْنَاهَا عِيْدًا فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَإِنَّهَا نَزَلَتْ فِيْ يَوْمِ عِيْدَيْنِ فِيْ يَوْمِ جُمُعَةٍ وَيَوْمِ عَرَفَةَ . رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي هغه د يهودي په وړاندي دا آيت تلاوت کړ : ( نن ورځ ما ستاسو لپاره دين پوره کړ) د دې په اوريدو سره يهودي وويل که دا آيت پر موږ نازل سوی وای نو موږ به دا ورځ د اختر گرځولې وای ، ابن عباس ووېل دا آيت د دوو اخترو په ورځ نازل سوی دی يعني د جمعې او عرفات په ورځ . ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی .

د جمعې شپه روښانه او د جمعې ورځ ځلانده ورځ ده

﴿۱۲۸۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ رَجَبٌ قَالَ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ رَجَبٍ وَشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ قَالَ وَكَانَ يَقُوْلُ لَيْلَةُ الْجُمُعَةِ لَيْلَةٌ أَغَرُّ وَيَوْمُ الْجُمُعَةِ يَوْمٌ أَزْهَرُ . رواه البيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي کله به د رجب مياشت راغلل نو رسول الله ﷺ به دا دعاء کول: (اې الله ﷺ ! د رجب او شعبان په مياشتو کي موږ ته برکت راکړې او موږ رمضان ته ورسوې) او انس ﷺ فرمايلي دي چي رسول الله ﷺ دا فرمايلي دي: د جمعې شپه ځلانده شپه ده او د جمعې ورځ ځلانده ورځ ده . بيهقي .

## بَابُ وُجُوْبِهَا (د جمعې د واجب کېدو بيان)

### لومړی فصل

د جمعې د لمانځه پرېښودو وعيد

﴿۱۲۹۰﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّهُمَا قَالَا سَمِعْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَلَى أَعْوَادِ مِنْبَرِهِ لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوْبِهِمْ ثُمَّ لَيَكُوْنُنَّ مِنَ الْغَافِلِيْنَ . رواه مسلم

د حضرت ابن عمر او ابوهريرة څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ څخه د لرګي پر منبر اورېدلي دي: خلک دي د جمعې د پرېښودو څخه منع سي (يعني د جمعې لمونځ دي نه پرېږدي) کنه نو الله به د هغو پر زړو مهر ولګوي او هغوئ به په غافلو خلکو کي حساب سي . مسلم.

### دوهم فصل

﴿۱۲۹۱﴾: عَنْ أَبِي الْجَعْدِ الضَّمْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللهُ عَلَى قَلْبِهِ . رواه أبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي، ورواه مالك عن صفوان بن سليم .

د حضرت ابو الجعد الضميري ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم څوک چي د سستۍ له کبله درې جمعې لمونځ پرېږدي الله به د هغه پر زړه مهر ولګوي . ابوداؤد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي .

**د جمعې نه کولو صدقه**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۲۹۲﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَلْيَتَصَدَّقْ بِدِيْنَارٍ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَبِنِصْفِ دِيْنَارٍ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه . | د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي د يو عذر پرته د جمعې لمونځ پرېښودی نو هغه ته پکار ده چي يو دينار صدقه کړي که ممکن نه وي نو نيم دينار دي صدقه کړي . احمد ابوداؤد، ابن ماجه . |

**د جمعې د اذان پر اورېدونکو د جمعې لمونځ واجب کېږي**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۲۹۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ . رواه أبو داود . | حضرت عبدالله بن عمرو د نبي کريم ﷺ څخه روايت کوي چي : د جمعې لمونځ پر هغه چا فرض او واجب دی چي د جمعې آذان واوري . ابوداؤد. |
| ﴿۱۲۹۴﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْجُمُعَةُ عَلَى مَنْ آوَاهُ اللَّيْلُ إِلَى أَهْلِهِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث إسناده ضعيف . | د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جمعې لمونځ پر هغه چا واجب دی چي د جمعې لمونځ وکړي او د شپې خپل اهل وعيال ته ورسيږي . ترمذي ويلي دي ددې حديث اسناد ضعيف دي . |

**هغه کسان چي پر هغو د جمعې لمونځ واجب نه دی**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۲۹۵﴾: وَعَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِيْ جَمَاعَةٍ إِلاَّ عَلَى أَرْبَعَةٍ عَبْدٍ مَمْلُوْكٍ أَوِ امْرَأَةٍ أَوْ صَبِيٍّ أَوْ مَرِيْضٍ . رواه أبو داود وفي شرح السنة بلفظ المصابيح عن رجل من بني وائل . | د حضرت طارق بن شهاب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : جمعه پر هر مسلمان باندي په جماعت سره واجب ده مگر نه پر څلورو کسانو ۱: غلام باندي، ۲: ښځه باندي ۳: کوچنی باندي .۴: ناروغ باندي . ابوداؤد، شرح السنة د مصابيح په ډول د بني وائل د يو سړي څخه روايت کړی دی . |

## دريم فصل

**د تارک جمعه لپاره وعيد**

| | |
|---|---|
| ﴿۱۲۹۶﴾:عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ | د حضرت ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي |

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِقَوْمٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الْجُمُعَةِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ رَجُلاً يُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ أُحَرِّقَ عَلَى رِجَالٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الْجُمُعَةِ بُيُوتَهُمْ . رواه مسلم

رسول الله ﷺ د هغه خلكو په اړه چي د جمعې د لمانځه څخه شاته پاته كيږي وفرمايل ما دا اراده كړې ده چي زه يو سړي ته د لمانځه كولو حكم وكړم او بيا د هغه خلكو كورونه و وسوځم چي د جمعې لمانځه ته نه راځي. مسلم.

﴿۱۲۹۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ كُتِبَ مُنَافِقًا فِيْ كِتَابٍ لاَّ يُمْحٰى وَلاَ يُبَدَّلُ . وفي بعض الروايات ثلاثا . رواه الشافعي .

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي ببله عذره د جمعې لمونځ پريږدي نو هغه په هغه كتاب كي منافق ليكل كيږي د كوم چي ليكنه نه خرابېداى سي او نه بدلېداى سي . او په ځيني رواياتو كي دا الفاظ دي چي درې ځله (يعني درې جمعې) . شافعي .

## د جمعې پرېښودونكي خپل تاوان كوي

﴿۱۲۹۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَعَلَيْهِ الْجُمُعَةُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلاَّ مَرِيْضٌ أَوْ مُسَافِرٌ أَوْ صَبِيٌّ أَوْ مَمْلُوْكٌ فَمَنِ اسْتَغْنٰى بِلَهْوٍ أَوْ تِجَارَةٍ اسْتَغْنَى اللهُ عَنْهُ وَاللهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ . رواه الدار قطني .

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي پر الله ﷻ او د قيامت پر ورځ ايمان لري پر هغه د جمعې لمونځ واجب دى، مگر ناروغ، مسافر، ښځه، كوچنى او غلام د دې څخه وتلي دي پر دوئ د جمعې لمونځ فرض نه دى كوم څوك چي د جمعې د لمانځه څخه بې پروايي غوره كړي يا په لهو ولعب او تجارت كي بوخت سي نو الله تعالى د هغه څخه بې پروا دى او الله تعالى بې پروا او تعريف كړل سوى دى . دار قطني .

# بَابُ التَّنْظِيْف وَالتَّكْبِيْر

## (پاكي تر لاسه كول او لمانځه ته پر وخت تلل)

## لومړی فصل

### د جمعې د لمانځه ادبونه

(۱۲۹۹): عَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَغْتَسِلُ رَجُلٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَيَتَطَهَّرُ مَا اسْتَطَاعَ مِنْ طُهْرٍ وَيَدَّهِنُ مِنْ دُهْنِه أَوْ يَمَسُّ مِنْ طِيْبِ بَيْتِه ثُمَّ يَخْرُجُ فَلاَ يُفَرِّقُ بَيْنَ اثْنَيْنِ ثُمَّ يُصَلِّيْ مَا كُتِبَ لَهُ ثُمَّ يُنْصِتُ إِذَا تَكَلَّمَ الْإِمَامُ إِلاَّ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى . رواه البخاري .

د حضرت سلمان ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي د جمعې په ورځ غسل وكړي او څومره چي ممكن وي پاكي تر لاسه كړي او عطر يا خوشبويي چي په كور كي موجود وي و لګوي بيا د كور څخه د لمانځه لپاره راسي او د دوو خلكو په منځ كي ورننوتلو سره نه كښيني څومره لمونځ چي الله ﷻ پر فرض كړی دی هغه وكړي بيا چي امام خطبه وايي پټه خوله كښيني نو د هغه ټول ګناهونه چي د يوې جمعې څخه تر بلي جمعې پوري يې كړي دي معاف كيږي . بخاري .

(۱۳۰۰): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اغْتَسَلَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلَّى مَا قُدِّرَ لَهُ ثُمَّ أَنْصَتَ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِه ثُمَّ يُصَلِّيْ مَعَهُ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى وَفَضْلُ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ . رواه مسلم

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي د جمعې په ورځ غسل وكړي بيا د جمعې د لمانځه كولو لپاره مسجد ته راسي او څومره لمونځ چي يې په عقدر كي وو هغه وكړي او بيا پټه خوله كښيني تر څو چي امام د خطبې څخه فارغ سي بيا هغه د امام سره لمونځ وكړي نو د هغه ټول هغه ګناهونه بخښل كيږي چي د يوې جمعې څخه تر بلي جمعې پوري يې كړي وي بلكه د نورو درو ورځو زيات ګناهونه يې بخښل كيږي . مسلم.

(۱۳۰۱): وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ

د حضرت ابوهريرة ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم څوك چي په ښه ډول اودس وكړي بيا د جمعې لمانځه ته د مسجد په لور

الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى فَقَدْ لَغَا . رواه مسلم

ولاړې خطبه یې واوریدل پټه خوله کښېنستې نو د هغه ګناه بخښل کیږي کومه چې یې د یوې جمعې څخه تر بلې جمعې پورې کړې وي بلکه د نورو درو ورځو زیاته ګناه چې هغه کړې وي بخښل کیږي خو چا چې د خطبې پر وخت یا په لمانځه کې په شګو یا بل شي سره ځان بوخت کړو نو هغه عبث کار وکړ. مسلم.

**جمعې ته په اول وخت کې د حاضرېدو فضیلت**

﴿۱۳۰۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَقَفَتِ الْمَلَائِكَةُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ يَكْتُبُوْنَ الْأَوَّلَ فَالْأَوَّلَ وَمَثَلُ الْمُهَجِّرِ كَمَثَلِ الَّذِيْ يُهْدِيْ بَدَنَةً ثُمَّ كَالَّذِيْ يُهْدِيْ بَقَرَةً ثُمَّ كَبْشًا ثُمَّ دَجَاجَةً ثُمَّ بَيْضَةً فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ طَوَوْا صُحُفَهُمْ وَيَسْتَمِعُوْنَ الذِّكْرَ .متفق عليه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : د جمعې په ورځ ملائکې د مسجد په دروازه کې درېږي او مسجد ته د راتلونکو حاضري لیکي یعني کوم چې اول راځي هغوئ اول لیکي او کوم چې وروسته راځي هغوئ وروسته لیکي، او د اول مثال داسې دی لکه (مهجر) چې په سخته ګرمۍ کې دلمانځه لپاره راسي او تر هغه وروسته چې راسي د هغه مثال د هغه چا په ډول دی چې مکې ته د قربانۍ لپاره غوا ولیږي او کوم سړی چې وروسته راسي هغه د هغه چا په ډول دی چې پسه ولیږي بیا ددې څخه وروسته چې څوک راسي هغه مثال د هغه چا په ډول دی چې چرګه ولیږي او څوک چې د دې وروسته راسي هغه داسې دی لکه هګۍ چې ولیږي بیا چې امام د خطبې لپاره ولاړیږي نو ملائکې خپل کاغذونه ټول کړي او خطبه اوري. بخاري او مسلم.

**د خطبې په وخت کې امربالمعروف او نهي عن المنکر هم منع دي**

﴿۱۳۰۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَنْصِتْ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ. متفق عليه

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چې اما م خطبه وایي نو هغه وخت ملګري ته دومره ویل چې پټه خوله سه هم عبث کا ردي وکړ. بخاري او مسلم.

**په مسجد کې څوک د خپل ځای څخه نه ولاړول**

﴿۱۳۰۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُقِيْمَنَّ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ثُمَّ لِيُخَالِفْ إِلَى مَقْعَدِهِ فَيَقْعُدَ فِيْهِ وَلَكِنْ يَقُوْلُ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کې دې هیڅوک خپل مسلمان ورور د جمعې په ورځ د هغه د ځای څخه

افسَحُوا . رواه مسلم

نه ولاړوي او بیا د هغه پر ځای خپله دناستي اراده دي نه کوي مګر هغو ته دا پکار ده چي د پراختیا غوښتنه وکړي.مسلم

## دوهم فصل

### د جمعې په ورځ ښه جامې اغوستل پکار دي

﴿۱۳۰۵﴾: عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهٖ وَمَسَّ مِنْ طِيْبٍ إِنْ كَانَ عِنْدَهٗ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَلَمْ يَتَخَطَّ أَعْنَاقَ النَّاسِ ثُمَّ صَلّٰى مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ ثُمَّ أَنْصَتَ إِذَا خَرَجَ إِمَامُهٗ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهٖ كَانَتْ كَفَّارَةً لِّمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الَّتِيْ قَبْلَهَا رواه أبو داود .

د حضرت ابوسعید او ابوهریرة (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چي د جمعې په ورځ غسل وکړي او د خپلو جامو څخه ښه جامه واغوندي که خوشبويي ورسره وي هغه ولګوي بیا د جمعې لمانځه ته ولاړ سي مګر د خلکو تر غاړو اوښتو سره مسجد ته نه ننوزي بیا څومره چي الله د هغه په مقدر کي لیکلي وي (یعني سنت) وکړي ځکه چي امام د خطبې لپاره ودریږي پټه خوله کښیني تر دې چي دلمانځه څخه فارغ سي نو دا د هغه د ګناهو کفاره ده چي هغه د یوې جمعې څخه تر بلې جمعې پوري کړي وي . ابوداؤد.

### مسجد ته پر پښو تلل غوره دي

﴿۱۳۰۶﴾:وَعَنْ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَسَّلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاغْتَسَلَ وَبَكَّرَ وَابْتَكَرَ وَ مَشٰي وَ لَمْ يَرْكَبْ وَدَنَا مِنَ الْاِمَامِ وَاسْتَمَعَ وَلَمْ يَلْغَ كَانَ لَهٗ بِكُلِّ خُطْوَةٍ عَمَلُ سَنَةٍ صِيَامُهَا وَقِيَامُهَا. رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجه .

د حضرت اوس بن اوس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوك چي د جمعې په ورځ غسل وکړي او خپل ښځه هم په غسل کولو باعثه کړي او لمانځه ته پر وخت پر پښو ولاړ سي او مسجد ته اول ورسیږي امام ته نژدې کښیني او خطبه واوري او یو پالتو بې ځایه خبره ونه کړي نو هغه ته د هر قدم په بدله کي د یو کال د روژو او د شپې د عباداتو ثواب ورکول کیږي . ابوداؤد،نسائي، ابن ماجه .

### د جمعې لپاره ښه جامې اغوستل

﴿۱۳۰۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عَلٰى أَحَدِكُمْ إِنْ وَجَدَ أَنْ

د حضرت عبدالله بن سلام ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په تاسو کي چي څوك د کاروبار یا د مزدورۍ د جامو څخه

يَتَّخِذَ ثَوْبَيْنِ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ سِوٰى ثَوْبَيْ مِهْنَتِهِ . رواه ابن ماجه و رواه مالك عن يحيى ابن سعيد.

پرته د جمعې د لمانځه لپاره دوې جامې نورې جوړې کړي نو هيڅ پروا نسته . ابن ماجه، مالك.

## امام ته نژدې کښېنستل

﴿١٣٠٨﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْضُرُوْا الذِّكْرَ وَادْنُوْا مِنَ الْإِمَامِ فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ يَتَبَاعَدُ حَتّٰى يُؤَخَّرَ فِي الْجَنَّةِ وَإِنْ دَخَلَهَا . رواه أبو داود .

د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د خطبې پر وخت حاضر او امام ته نژدې اوسئ ځکه چې سړی ځومره د نيکيو څخه ليرې وي هغومره به په جنت کې وروسته وي که څيري جنت ته ولاړ سي ، ابوداؤد.

## تر خلکو اوښتلو وعيد

﴿١٣٠٩﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَخَطّٰى رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اتَّخَذَ جِسْرًا إِلَى جَهَنَّمَ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب .

حضرت سهل بن معاذ بن انس الجهني د خپل پلار څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوك چې د جمعې په ورځ د خلکو پر غاړو اوړي هغه د جهنم په لور پول جوړ کړي ځان ته . ترمذي، ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

## د خطبې په وخت کې د ناستې يو منع طريقه

﴿١٣١٠﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْحَبْوَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ . رواه الترمذي وأبو داود .

د حضرت معاذ ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ چې کله امام خطبه وايي د (حبوة) څخه منع فرمايلې ده يعني چې دواړه زنګنونه جګ ودروي او ورنونه د نس سره وموښلوي او کناتي پر مخکه ولګوي . ترمذي، ابوداؤد.

## د اوږمې راتلو په وخت کې د ځای بدلول

﴿١٣١١﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَلْيَتَحَوَّلْ مِنْ مَجْلِسِهِ ذٰلِكَ. رواه الترمذي

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم چا ته چې د جمعې په ورځ اوږمې راسي نو هغه ته پکار ده چې خپل ځای بدل کړي . ترمذي.

## دريم فصل

### څوک د ځايه مه ولاړوئ

﴿۱۳۱۲﴾: عَنْ نَافِعٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ يَقُوْلُ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُّقِيْمَ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَقْعَدِهٖ وَيَجْلِسُ فِيْهِ قِيْلَ لِنَافِعٍ فِي الْجُمُعَةِ قَالَ فِي الْجُمُعَةِ وَغَيْرِهَا .متفق عليه

حضرت نافع وايي ما د ابن عمر ﷺ څخه اوريدلي دي چي رسول الله ﷺ د دې څخه منع فرمايلې ده چي يو څوک يو سړي ولاړوي او خپله د هغه پر ځای کښيني ، د نافع څخه پوښتنه وسول ايا دا منع يوازي د جمعې په ورځ ده ؟ هغه وويل د جمعې په ورځ هم او په نورو ورځو کي هم ، بخاري او مسلم.

### د جمعې د ادبونو لحاظ ساتونکي ته زيري

﴿۱۳۱۳﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْضُرُ الْجُمُعَةَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ فَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِلَغْوٍ فَذٰلِكَ حَظُّهٗ مِنْهَا وَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِدُعَاءٍ فَهُوَ رَجُلٌ دَعَا اللّٰهَ إِنْ شَاءَ أَعْطَاهُ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهٗ وَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِإِنْصَاتٍ وَسُكُوْتٍ وَلَمْ يَتَخَطَّ رَقَبَةَ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُؤْذِ أَحَدًا فَهِيَ كَفَّارَةٌ إِلَى الْجُمُعَةِ الَّتِيْ تَلِيْهَا وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ وَذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ يَقُوْلُ ( مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ). رواه ابوداود.

د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جمعې په ورځ درې ډوله خلك مسجد ته ننوزي ۱: يو هغه چي د پالتو کار لپاره حاضريږي (يعني د خطبې پر وخت) بيکاره حرکت او لغو کار وي او د هغه د حاضريدو دغه حصه ده ۲: دويم هغه سړی چي د دعاء لپاره حاضريږي هغه دعاء کوي که الله يې قبوله کړي او که نه ، ۳: دريم هغه سړی چي په پټه خوله خطبه اوريدو لپاره حاضر سوی وي نه د چا تر غاړه اوښتی وي او نه يې چا ته تکليف رسولی وي نو د هغه دا کار کفاره دی د دې جمعې څخه تر هغه جمعې پوري چي ددې پسې راتلونکې ده بلکه د درو ورځو زياتو د ګناه کفاره او دا له دې کبله چي الله تعالی فرمايي : کوم سړی چي يوه نيکي وکړي هغه ته لس چنده ثواب ورکول کيږي . ابو داؤد.

### د خطبې پر وخت خبري کولو باندي وعيد

﴿۱۳۱۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَكَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَهُوَ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا وَالَّذِيْ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي د خطبې پر وخت خبري وکړي نو هغه د هغه خره په ډول دی

يَقُوْلُ لَهُ أَنْصِتْ لَيْسَ لَهُ الْجُمُعَةُ . رواه أحمد .

چي پر هغه کتابونه بار وي او کوم څوک چي يو چا ته ووايي چي پټه خوله سه نو د هغه هم جمعه نسته . احمد .

**د مسلمانانو لپاره جمعه اختر دی**

﴿۱۳۱۵﴾: وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ السَّبَّاقِ مُرْسَلاً قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ جُمُعَةٍ مِّنَ الْجُمَعِ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ إِنَّ هٰذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللهُ عِيْدًا فَاغْتَسِلُوْا وَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ طِيْبٌ فَلاَ يَضُرُّهُ أَنْ يَّمَسَّ مِنْهُ وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ . رواه مالك ورواه ابن ماجه عنه وهو عن ابن عباس متصلا.

د حضرت عبيد بن السباق ﷺ څخه مرسلا روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ په جمعه کي د جمعو وفرمايل : اې د مسلمانانو ټولی! الله تعالیٰ د جمعې دا ورځ اختر ګرځولې ده نو تاسو په جمعه کي غسل کوئ که خوشبويي درسره وي هغه ولګوئ او مسواك خامخا ووهئ . (مالك)

**د جمعې په ورځ غسل کول او خوشبوئي لګول**

﴿۱۳۱۶﴾: وَعَنِ الْبَرَّاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَقًّا عَلَى الْمُسْلِمِيْنَ أَنْ يَّغْتَسِلُوْا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلْيَمَسَّ أَحَدُهُمْ مِنْ طِيْبِ أَهْلِهِ فَإِنْ لَّمْ يَجِدْ فَالْمَاءُ لَهُ طِيْبٌ . رواه أحمد والترمذي وقال هذا حديث حسن .

د حضرت براء ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر مسلمانانو واجب ده چي د جمعې په ورځ غسل وکړي که په کور کي خوشبويي وي هغه دي ولګوي که خوشبويي نه وي نو اوبه يې خوشبويي ده (يعني چي غسل په وکړي ځان پاك کړي) . احمد ، ترمذي .

## بَابُ الْخُطْبَةِ وَالصَّلٰوةِ (د خطبې او لمانځه بيان)

### لومړی فصل

**د جمعې د لمانځه وخت**

﴿۱۳۱۷﴾: عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْ الْجُمُعَةَ حِيْنَ تَمِيْلُ الشَّمْسُ . رواه البخاري

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د جمعې لمونځ هغه وخت کوی چي کله به زوال و سو . بخاري .

﴿۱۳۱۸﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ مَا كُنَّا نَقِيْلُ وَلاَ نَتَغَدّٰى إِلاَّ بَعْدَ الْجُمُعَةِ . متفق عليه

د حضرت سهل بن سعد ﷺ څخه روايت دی چي د جمعې د لمانځه دمخه به مونږ نه قيلوله (د غرمې خوب) کول او نه به مو ډوډۍ خوړل مګر د جمعې تر لمونځ کولو وروسته به مو کول . بخاري او مسلم .

(۱۳۱۹): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَدَّ الْبَرْدُ بَكَّرَ بِالصَّلَاةِ وَإِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ يَعْنِي الْجُمُعَةَ . رواه البخاري

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د سخت یخ په ورځو کي د جمعې لمونځ وختي کوی او د سختي گرمۍ په ورځو کي به یې لږ وروسته کوی. بخاري

## د رسول الله ﷺ په زمانه کي د جمعې اول اذان نه کېدی

(۱۳۲۰): وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ كَانَ النِّدَاءُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوَّلُهُ إِذَا جَلَسَ الْإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبِيْ بَكْرٍ وَّعُمَرَ فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ وَكَثُرَ النَّاسُ زَادَ النِّدَاءَ الثَّالِثَ عَلَى الزَّوْرَاءِ . رواه البخاري .

د حضرت سائب بن یزید ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي به د جمعې لومړی آذان هغه وو چي د امام پر منبر د ناستي وروسته به کېدی ، د حضرت ابوبکر او حضرت عمر په زمانه کي هم په دې عمل کېدی بیا چي د حضرت عثمان د خلافت زمانه سول او خلك زیات سول نو دریم آذان زیات کړل سو . بخاري.

## دوې خطبې

(۱۳۲۱): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَتَانِ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيُذَكِّرُ النَّاسَ فَكَانَتْ صَلَاتُهُ قَصْدًا وَخُطْبَتُهُ قَصْدًا . رواه مسلم

د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به دوې خطبې ویلې او د هغو په منځ کي به کښېنستی او په دواړو خطبو کي یې قرآن کریم وایه او نصیحت به یې کوی او دده مبارك لمونځ به اوسط وو (نه ډیر اوږد نه ډیر لنډ) او خطبه به یې هم د اوسطي درجې وه . مسلم

## لنډه او بااثره خطبه د خطیب د پوهي نښه ده

(۱۳۲۲): وَعَنْ عَمَّارٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ طُوْلَ صَلَاةِ الرَّجُلِ وَقِصَرَ خُطْبَتِهِ مَئِنَّةٌ مِنْ فِقْهِهِ فَأَطِيْلُوا الصَّلَاةَ وَاقْصُرُوا الْخُطْبَةَ وَإِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا . رواه مسلم

د حضرت عمار ﷺ څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي لمونځ اوږد کول او خطبه لنډه ویل د هوښیارتوب نښه ده نو تاسو خپل لمونځ اوږد کوئ او خطبه لنډه وایاست او ځیني بیان سحر وي. مسلم

## د خطبې ویلو پر وخت د رسول الله ﷺ کیفیت

(۱۳۲۳): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ احْمَرَّتْ عَيْنَاهُ وَعَلَا

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ خطبه ویل نو سترگي به یې سرې

صَوْتُهُ وَاشْتَدَّ غَضَبُهُ حَتّٰى كَأَنَّهُ مُنْذِرُ جَيْشٍ يَقُولُ صَبَّحَكُمْ وَمَسَّاكُمْ وَيَقُولُ بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ وَيَقْرُنُ بَيْنَ إِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى. رواه مسلم

سوې آواز به یې لوړ سو او سخت غضب ناك به سو لکه چې رسول الله ﷺ بیرونکی دی د خلکو د لښکر څخه په دې الفاظو چې د دښمن لښکر به سبا یا ماښام تاسو لوټ کړي او فرمایل به یې زه او قیامت داسې رالیږل سوي یو د دې په فرمایلو سره به یې منځنۍ ګوته او د شهادت ګوته په خپلو کې سره یو ځای کړې .مسلم.

**په خطبه کې رسول الله ﷺ د قران ایاتونه ویل**

(۱۳۲۴): وَعَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ ( وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ). متفق عليه

د حضرت یعلي بن امیه ﷺ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه پر منبر دا آیت اوریدلی دی: ( وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ) . بخاري او مسلم.

(۱۳۲۵): وَعَنْ أُمِّ هِشَامٍ بِنْتِ حَارِثَةَ بْنِ نُعْمَانَ قَالَتْ مَا أَخَذْتُ ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ إِلاَّ عَنْ لِسَانِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَؤُهَا كُلَّ يَوْمِ جُمُعَةٍ عَلَى الْمِنْبَرِ إِذَا خَطَبَ النَّاسَ . رواه مسلم

د حضرت ام هشام بنت حارثه بن نعمان څخه روایت دی چې ما سورة ق والقرآن المجید د رسول الله ﷺ د خولې مبارکې څخه زده کړی دی چې هره جمعه به یې په خطبه کې پر منبر خلکو ته وایه . مسلم .

**په لنګوټه تړلو سره خطبه ویل**

(۱۳۲۶): وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ قَدْ أَرْخَى طَرَفَيْهَا بَيْنَ كَتِفَيْهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ.رواه مسلم

د حضرت عمرو بن حریث ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د جمعې په ورځ په داسې حال کې خطبه ویل چې توره لنګوټه به یې پر سر کړې وه او دلنګوټې دواړې شملې به یې د اوږو په منځ کې پرتې وې . مسلم.

**د خطبې پر وخت د تحية المسجد کولو مسئله**

(۱۳۲۷): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ وَلْيَتَجَوَّزْ فِيهِمَا . رواه مسلم

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ په خطبه کې فرمایلي دي هر کله چې په تاسو کې یو څوك د جمعې په ورځ مسجد ته ولاړ سي او امام خطبه وایي نو هغه ته پکار دي چې دوه لنډ رکعتونه وکړي.مسلم.

**چاچي د امام سره يو رکعت ونيوى هغه ټول لمونځ ونيوى**

﴿۱۳۲۸﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ مَعَ الْإِمَامِ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي د امام سره يو رکعت ونيوى نو هغه پوره لمونځ ونيوى .

## دوهم فصل

**د رسول الله ﷺ د خطبې ويلو طريقه**

﴿۱۳۲۹﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ كَانَ يَجْلِسُ إِذَا صَعِدَ الْمِنْبَرَ حَتّٰى يَفْرُغَ أُرَاهُ الْمُؤَذِّنُ ثُمَّ يَقُوْمُ فَيَخْطُبُ ثُمَّ يَجْلِسُ وَلَا يَتَكَلَّمُ ثُمَّ يَقُوْمُ فَيَخْطُبُ . رواه أبو داود .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به دوې خطبې ويلې پر منبر به کښينستی بيا چي کله مؤذن به د آذان څخه فارغ سو نو رسول الله ﷺ به ودريدی او خطبه به يې ويل بيا د يوې خطبې وروسته به کښينستی او هيڅ خبره به يې نه کول بيا به ودريدی او دويمه خطبه به يې ويل . ابوداؤد.

**د خطبې پر وخت خطيب ته متوجه کښېنستل**

﴿۱۳۳۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَوٰى عَلَى الْمِنْبَرِ اسْتَقْبَلْنَاهُ بِوُجُوْهِنَا . رواه الترمذي وقال هذا حديث لا نعرفه إلا من حديث محمد بن الفضل وهو ضعيف ذاهب الحديث .

د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ پر منبر کښينستی نو مخامخ به سوو موږ ده ته په مخونو خپلو سره ، ترمذي ويلي دي دا موږ ته يوازي د محمد بن فضل څخه څرګنده ده چي ضعيف دی او د هغه حافظه خرابه وه .

## دريم فصل

**رسول الله ﷺ په ولاړه خطبه فرمايل**

﴿۱۳۳۱﴾: عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَجْلِسُ ثُمَّ

د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په ولاړه خطبه ويل بيا به

يَقُومُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا فَمَنْ نَبَّأَكَ أَنَّهُ كَانَ يَخْطُبُ جَالِسًا فَقَدْ كَذَبَ فَقَدْ وَاللهِ صَلَّيْتُ مَعَهُ أَكْثَرَ مِنْ أَلْفَيْ صَلَاةٍ . رواه مسلم

كښېنستی بیا به ودرېدی او خطبه به یې ویل، کوم چا چي تا ته دا خبر درکړی دی چي رسول الله ﷺ به په ناسته خطبه ویل هغه دروغجن دی ما د رسول الله ﷺ سره تر دوو زرو زیات لمنځونه کړي دي. مسلم.

﴿١٣٣٢﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ أَنَّهُ دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ ابْنُ أُمِّ الْحَكَمِ يَخْطُبُ قَاعِدًا فَقَالَ انْظُرُوا إِلَى هَذَا الْخَبِيثِ يَخْطُبُ قَاعِدًا وَقَالَ اللهُ تَعَالَى وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا . رواه مسلم

د حضرت کعب بن عجرة ﷺ څخه روایت دی چي هغه مسجد ته ننوتی او عبدالرحمن بن ام الحکم په ناسته خطبه ویل هغه وویل دا خبیث ته ګوره چي په ناسته خطبه وایي حال دا چي الله تعالی فرمایلي دي (کوم وخت چي سوداګري یا لوبي ووینې نو د هغه په لور ور وځغلي او تا په ولاړه) (خطبه ویلو) پرېږدي. مسلم.

## د خطبې پر وخت لاسونه پورته کول نه دي پکار

﴿١٣٣٣﴾: وَعَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُؤَيْبَةَ قَالَ رَأَى بِشْرَ بْنَ مَرْوَانَ عَلَى الْمِنْبَرِ رَافِعًا يَدَيْهِ فَقَالَ قَبَّحَ اللهُ هَاتَيْنِ الْيَدَيْنِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَزِيدُ عَلَى أَنْ يَقُولَ بِيَدِهِ هَكَذَا وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ الْمُسَبِّحَةِ. رواه مسلم

د حضرت عمارة بن رویبة ﷺ څخه روایت دی چي هغه بشر بن مروان پر منبر په لاسو غورزولو سره ولیدی، هغه وویل الله تعالی دي دا لاسونه خراب کړي ما رسول الله ﷺ لیدلی دی چي تر دې زیاته اشاره یې نه کول د دې په ویلو سره یې د شهادت په ګوتي سره اشاره وکړل. مسلم.

## د رسول الله ﷺ د خطبې په وخت کي د حضرت ابن مسعود ﷺ را بلل

﴿١٣٣۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا اسْتَوٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ قَالَ اجْلِسُوْا فَسَمِعَ ذٰلِكَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ فَجَلَسَ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ فَرَآهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ تَعَالَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ. رواه أبو داود .

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي یو ځل رسول الله ﷺ په اطمینان سره پر منبر کښېنستی او وه یې فرمایل: کښېنه، ابن مسعود دا الفاظ واورېدل نو د مسجد په دروازه کي کښېنستی چي هغه وخت هلته ولاړ وو کله چي رسول الله ﷺ هغه ولیدی نو وه یې فرمایل: عبدالله بن مسعوده! دننه راسه. ابوداوْد.

**د جمعې نه کولو په صورت کې د ماپښين د لمانځه کولو مسئله**

(۱۳۳۵): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَدْرَكَ مِنَ الْجُمُعَةِ رَكْعَةً فَلْيَصِلْ إِلَيْهَا أُخْرٰى وَمَنْ فَاتَتْهُ الرَّكْعَتَانِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا أَوْ قَالَ الظُّهْرَ . رواه الدارقطني .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوك چې د جمعې يو رکعت ونيسي نو هغه ته پکار ده چې د هغه سره دويم رکعت يو ځای کړي او د کوم چا څخه چې دواړه رکعتونه تير سي نو هغه ته پکار ده چې څلور رکعته وکړي يا د ماپښين لمونځ وکړي. دار قطني.

# بَابُ صَلٰوةِ الْخَوْفِ (د ويرې دلمانځه بيان)

## لومړی فصل

**د دښمن سره د مقابلې په وخت کې د رسول الله ﷺ لمونځ او جماعت**

(۱۳۳۶): عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجْدٍ فَوَازَيْنَا الْعَدُوَّ فَصَافَفْنَا لَهُمْ فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ لَنَا فَقَامَتْ طَائِفَةٌ مَّعَهُ وَأَقْبَلَتْ طَائِفَةٌ عَلَى الْعَدُوِّ وَرَكَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْ مَعَهُ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفُوْا مَكَانَ الطَّائِفَةِ الَّتِيْ لَمْ تُصَلِّ فَجَاؤُوْا فَرَكَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِمْ رَكْعَةً وَّسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمْ فَرَكَعَ لِنَفْسِهِ رَكْعَةً وَّ سَجْدَتَيْنِ وَرَوٰى نَافِعٌ نَحْوَهُ وَزَادَ فَإِنْ كَانَ خَوْفٌ هُوَ أَشَدُّ مِنْ ذٰلِكَ صَلُّوْا رِجَالاً قِيَامًا عَلٰى أَقْدَامِهِمْ أَوْ رُكْبَانًا مُسْتَقْبِلِي الْقِبْلَةِ أَوْ غَيْرَ مُسْتَقْبِلِيْهَا قَالَ نَافِعٌ لاَ أُرٰى ابْنَ عُمَرَ ذَكَرَ ذٰلِكَ إِلاَّ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه البخاري .

د حضرت سالم بن عبدالله بن عمر د خپل پلار څخه روايت دی کوي چې زه د رسول الله ﷺ سره د نجد په لور په جهاد ولاړم او د دښمن سره مو مقابله وکړه موږ د دښمن په وړاندي صف بندي وکړه او رسول الله ﷺ موږ ته دلمانځه کولو لپاره ودريدی يوه ډله د رسول الله ﷺ سره لمانځه ته ودريدل او بله ډله د دښمن مقابلې ته ودريدل رسول الله ﷺ د هغه خلکو سره چې په رسول الله ﷺ پسې لمانځه ته ولاړ وه رکوع وکړل بيا يې دوې سجدې وکړې بيا کومې ډلې چې لمونځ کوی د هغه ډلې پر ځای ودريدل کوم چې لمنځونه نه وه کړې او د دښمن سره جنګېدل هغه ډله راغلل او د رسول الله ﷺ سره يې يو رکعت وکړ او دوې سجدې يې وکړې ، بيا رسول الله ﷺ سلام وګرځوی او هر سړي په ولاړه بيل بيل خپل يو رکعت وکړی او دوې سجدې يې وکړې ، رافع

هم دا ډول روايت بيان كړى دى د هغه په روايت كې دا الفاظ زيات دي كه بيره د دې څخه هم زياته وي نو خلك دي پر پښو په ولاړه او سپاره دي پر خپل سپرلۍ د قبلې په لور يا بل لوري ته مخ كړي او لمونځ دي وكړي ، نافع وايي ابن عمر په دا روايت خامخا د رسول الله ﷺ څخه نقل كړى وي .بخاري.

**د بيري د لمانځه يو بله طريقه**

﴿١٣٣٧﴾: وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ عَمَّنْ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ ذَاتِ الرِّقَاعِ صَلَاةَ الْخَوْفِ أَنَّ طَائِفَةً صَفَّتْ مَعَهُ وَطَائِفَةٌ وِجَاهَ الْعَدُوِّ فَصَلَّى بِالَّتِي مَعَهُ رَكْعَةً ثُمَّ ثَبَتَ قَائِمًا وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ ثُمَّ انْصَرَفُوا فَصَفُّوا وِجَاهَ الْعَدُوِّ وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى فَصَلَّى بِهِمُ الرَّكْعَةَ الَّتِي بَقِيَتْ مِنْ صَلَاتِهِ ثُمَّ ثَبَتَ جَالِسًا وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ ثُمَّ سَلَّمَ بِهِمْ . متفق عليه واخرج البخاري بطريق آخر عن القاسم عن صالح بن خوات عن سهل بن ابي حثمة عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

حضرت يزيد بن رومان د صالح بن خوات څخه او هغه د هغه سړي څخه چي د رسول الله ﷺ سره يې د ذات الرقاع په غزا كي د خوف (بيري) لمونځ كړى وو نقل كوي چي يوې ډلي د رسول الله ﷺ سره صف وتړى او بله ډله د دښمن مقابلې ته ودريدل ، رسول الله ﷺ دې صف ته يو ركعت لمونځ وركړ بيا په دويم ركعت كي رسول الله ﷺ ودريدى هغه ډلي خپل لمونځ پوره كړى بيا يوازي د دښمن مقابلې ته ورغلل او بله ډله راغلل ، رسول الله ﷺ دې ډلي ته هم يو ركعت لمونځ وركړ هغه ركعت چي پاته وو د لمانځه ده ﷺ څخه بيا پاته سوو ناستو خلكو خپل لمونځ د خپل خان سره پوره كړ بيا حضرت ﷺ سلام وگرزوى دوئ هم سلام ورسره وگرزوى. بخاري او مسلم، امام بخاري دا حديث د يو بل سند څخه بيان كړى دى د دې سند داسي دى چي قاسم د صالح بن خوات څخه او هغه د سهل بن حشمه څخه او هغه د رسول الله ﷺ څخه روايت كړى دى .

**د رسول الله ﷺ حلم**

﴿١٣٣٨﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَقْبَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِذَاتِ الرِّقَاعِ قَالَ كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا عَلَى شَجَرَةٍ ظَلِيلَةٍ تَرَكْنَاهَا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ وَسَيْفُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَلَّقٌ بِشَجَرَةٍ فَأَخَذَ سَيْفَ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي موږ د رسول الله ﷺ سره جهاد ته روان سو، كله چي ذات الرقاع ته ورسيدو نو موږ د رسول الله ﷺ لپاره يوه سايه داره درخته پرېښودل چي د هغې لاندي آرام وكړي ، جابر رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ تر درختي لاندي آرام كوى او توره يې پر درختي

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَرَطَهُ فَقَالَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَخَافُنِي قَالَ لَا قَالَ فَمَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي قَالَ اللّٰهُ يَمْنَعُنِي مِنْكَ قَالَ فَتَهَدَّدَهُ أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَغْمَدَ السَّيْفَ وَعَلَّقَهُ قَالَ فَنُودِيَ بِالصَّلَاةِ فَصَلَّى بِطَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ تَأَخَّرُوا وَصَلَّى بِالطَّائِفَةِ الْأُخْرَى رَكْعَتَيْنِ قَالَ فَكَانَتْ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعُ رَكَعَاتٍ وَلِلْقَوْمِ رَكْعَتَانِ . متفق عليه

زړېدل چي په مشركينو كي يو سړى راغلى او د رسول الله ﷺ توره يې د تيكي څخه راوكښل او وه يې ويل ايا ته زما څخه بيرېږې ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :نه، هغه ورته وويل زما څخه به دي اوس څوك خلاصوي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ستا د لاسه به ما الله خلاصوي ، بيا صحابه كرامو هغه وليدى او هغه يې ونيوى او توره يې په تيكي كي واچول او پردرخته يې وزړول ، جابر وايي د دې وروسته آذان وسو د لمانځه، رسول الله ﷺ يوې ډلي ته دوه ركعته وركړل بيا دا ډله شا ته سول او بله ډله د هغه پر ځاى راغلل رسول الله ﷺ هغوئ ته هم دوه ركعته وركړل ، يعني رسول الله ﷺ څلور ركعته وكړل او خلكو دوه دوه ركعته وكړل. بخاري او مسلم .

## د بيري د لمانځه يو بله طريقه

(١٣٣٩): وَعَنْهُ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ فَصَفَفْنَا خَلْفَهُ صَفَّيْنِ وَالْعَدُوُّ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ فَكَبَّرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَبَّرْنَا جَمِيعًا ثُمَّ رَكَعَ وَرَكَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَرَفَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِي نَحْرِ الْعَدُوِّ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّجُودَ وَقَامَ الصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُودِ ثُمَّ قَامُوا ثُمَّ تَقَدَّمَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ وَتَأَخَّرَ الْمُقَدَّمُ ثُمَّ رَكَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَرَفَعْنَا جَمِيعًا ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ الَّذِي كَانَ مُؤَخَّرًا فِي الرَّكْعَةِ

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ به موږ ته د خوف لمونځ راكوى موږ په رسول الله ﷺ پسي دوه صفونه جوړ كړل او د ښمن زموږ او د قبلې په منځ كي وو، رسول الله ﷺ تكبير ووايه بيا موږ ټولو تكبير ووايه بيا حضرت ﷺ ركوع وكړل نو موږ هم ټولو ركوع وكړل بيا رسول الله ﷺ د ركوع څخه سر راپورته كړ او موږ هم ټولو سر راپورته كړ بيا د سجدې لپاره كښته سو او د رسول الله ﷺ سره هغه صف هم كښته سو كوم چي رسول الله ﷺ ته نژدې وو يعني لومړى صف او دويم صف د دښمن مقابلې ته ولاړى بيا رسول الله ﷺ سجده وكړه او هغه صف ودريدى (كوم چي سجده كړې وه) بيا دويم صف د لومړي صف پر ځاى او لومړى صف د دويم صف پر ځاى

الْأُولَى وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِي نَحْرِ الْعَدُوِّ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ السُّجُودَ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُودِ فَسَجَدُوا ثُمَّ سَلَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَلَّمْنَا جَمِيعًا . رواه مسلم

ودريدل (د قرائت وروسته) رسول الله ﷺ ركوع وكړه او مونږ تولو هم ركوع وكړه بيا يې د ركوع څخه سر پورته كړ او مونږ هم سر پورته كړ بيا د رسول الله ﷺ سره نژدې صف د رسول الله ﷺ سره سجده وكړه چي وړاندي ولاړ وو او دويم صف د دښمن مقابلې ته ولاړې كوم چي مخكي يې سجده كړې وه بيا چي رسول الله ﷺ او نژدې صف د سجدې څخه فارغ سول نو دويم صف سجده وكړه او بيا نبي كريم ﷺ او مونږ تولو سلام وگرزوى . مسلم.

## دوهم فصل

**د رسول الله ﷺ د بيرې د لمانځه مختص طريقه**

﴿١٣٤٠﴾: عَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيْ بِالنَّاسِ صَلَاةَ الظُّهْرِ فِي الْخَوْفِ بِبَطْنِ نَخْلٍ فَصَلَّى بِطَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ جَاءَ طَائِفَةٌ أُخْرٰى فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ . رواه في شرح السنة .

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ په بطن نخل (د يو ځاى نوم) كي خلكو ته د جگړې په حالت كي دماپښين لمونځ وركړ نو يوې ډلې ته رسول الله ﷺ دوه ركعته وركړل او سلام يې وگرزوى او بيا بله ډله راغلل او هغوئ ته يې هم دوه ركعته وركړل او سلام يې وگرځوى . شرح السنة .

## دريم فصل

**د بيرې د لمانځه يو بله طريقه**

﴿١٣٤١﴾:عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ بَيْنَ ضَجْنَانَ وَعُسْفَانَ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لِهٰؤُلَاءِ صَلَاةٌ هِيَ أَحَبُّ إِلَيْهِمْ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَبْنَائِهِمْ هِيَ الْعَصْرُ فَأَجْمِعُوا أَمْرَكُمْ فَمِيلُوا عَلَيْهِمْ مَيْلَةً وَاحِدَةً وَأَنَّ جِبْرِيلَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهُ أَنْ يَقْسِمَ أَصْحَابَهُ شَطْرَيْنِ فَيُصَلِّيَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د ضجنان او عسفان په منځ كي قيام وكړ ، مشركانو په خپل منځ كي وويل د دې خلكو يو لمونځ دى چي دوئ ته تر پلار او زامنو هم زيات خوښ دى او هغه د مازديگر لمونځ دى خپله اراده پخه كړئ او په يو وار د لمانځه په حالت كي بريد پر وكړئ ، نو

بِهِمْ وَتَقُومُ طَائِفَةٌ أُخْرَى وَرَاءَهُمْ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ فَتَكُونُ لَهُمْ رَكْعَةٌ وَلِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَانِ . رواه الترمذي والنسائي .

سمدستي جبرائيل ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ چي خپل اصحاب په دوو برخو وويشه يوې ډلي ته لمونځ ورکړه او دويمه ډله دي د دښمن مقابلې ته ودريږي او د ځان سره دي د خپل ساتني ټول سامان او اسلحه واخلي نود هغوئ د هري ډلي يو يو رکعت سو او د رسول الله ﷺ دوه رکعته سول . ترمذي،نسائي

## بَابُ صَلٰوةِ الْعِيْدَيْنِ (د اخترو د لمانځه بيان)

### لومړی فصل

**د اخترو لمونځ**

(۱۳۴۲): عَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَالْأَضْحٰى إِلَى الْمُصَلّٰى فَأَوَّلُ شَيْءٍ يَبْدَأُ بِهِ الصَّلَاةُ ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَيَقُوْمُ مُقَابِلَ النَّاسِ وَالنَّاسُ جُلُوْسٌ عَلٰى صُفُوْفِهِمْ فَيَعِظُهُمْ وَيُوْصِيْهِمْ وَيَأْمُرُهُمْ وَإِنْ كَانَ يُرِيْدُ أَنْ يَقْطَعَ بَعْثًا قَطَعَهُ أَوْ يَأْمُرَ بِشَيْءٍ أَمَرَ بِهِ ثُمَّ يَنْصَرِفُ .متفق عليه

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د کوچني او لوی اختر په ورځ د کور څخه عيدگاه ته تلی نو تر ټولو وړاندي به يې دا کار کوي چي لمونځ به يې شروع کوی د لمانځه څخه دفارغ کېدو وروسته به خلکو ته مخامخ ودريدی او خلك به په خپلو صفو کي ناست وه او رسول الله ﷺ به هغوئ ته نصيحت کوی (يعني خطبه يې ويل) وصيت به يې کوی او ضروري احکام به يې ور ښودل او که يو لښکر به يې ليږی نو د هغه د روانېدو حکم به يې کوی او که يو خاص حکم به يې نافذ کوی نو هغه به يې نافذ کوی بيا به بيرته راوگرځيدی . بخاري او مسلم .

(۱۳۴۳): وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِيدَيْنِ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلَا مَرَّتَيْنِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ . رواه مسلم

د حضرت جابر بن سمرة ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ سره د دواړو اخترو لمنځونه کړي دي يو وار او دوه واره نه بلکه ډېر لمنځونه کي چي نه به آذان وو او نه اقامت . مسلم.

**د اخترو خطبه د لمانځه وروسته ويل پکار ده**

| | |
|---|---|
| (۱۳۴۴): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ يُصَلُّوْنَ الْعِيْدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ .متفق عليه | د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ، ابوبكر ، او عمر به د دواړو اخترو لمونځ د خطبې تر مخه کوی. بخاري و مسلم. |

**د اخترو د لمانځه لپاره اذان او اقامت نسته**

| | |
|---|---|
| (۱۳۴۵): وَسُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ أَشَهِدْتَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِيْدَ قَالَ نَعَمْ خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى ثُمَّ خَطَبَ وَلَمْ يَذْكُرْ أَذَانًا وَّلاَ إِقَامَةً ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ فَرَأَيْتُهُنَّ يُهْوِيْنَ إِلَى آذَانِهِنَّ وَحُلُوْقِهِنَّ يَدْفَعْنَ إِلَى بِلاَلٍ ثُمَّ ارْتَفَعَ هُوَ وَبِلاَلٌ إِلَى بَيْتِهِ ( متفق عليه) | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه پوښتنه وسول چي ايا تا د اختر په لمانځه کي د رسول الله ﷺ سره ګډون کړی دی ؟ هغه وويل :هو، رسول الله ﷺ به د کور څخه راووتی او عيدګاه ته د رسيدو سره به يې د اختر لمونځ وکړ او بيا به يې خطبه ويل ، ابن عباس په خپل بيان کي د آذان او اقامت يادونه ونه کړل ، بيا به رسول الله ﷺ ښځو ته متوجه سو هغوئ ته به يې نصيحت کوی ددين احکام به يې ور يادول |

او د صدقه (خيرات) کولو حکم يې ورکوی ، ابن عباس وايي ما وليدل چي درسول الله ﷺ د دې الفاظو په اوريدو سره ښځو خپل لاسونه غوږو او غاړو ته اوړده کړل زيورات يې را کښل او بلال ته يې ورکول پيل کړل د دې وروسته رسول الله ﷺ او بلال کور ته ولاړل . بخاري او مسلم .

**د اخترو د لمانځه مخکي يا وروسته د نفل کولو مسئله**

| | |
|---|---|
| (۱۳۴۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى يَوْمَ الْفِطْرِ رَكْعَتَيْنِ لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهُمَا وَلاَ بَعْدَهُمَا . متفق عليه | د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د کوچني اختر په ورځ دوه رکعته لمونځ وکړ د هغه وړاندي او وروسته يې هيڅ يو بل لمونځ نه وکړ. بخاري اومسلم. |

**عيدګاه ته د ښځو دتللو مسئله**

| | |
|---|---|
| (۱۳۴۷):وَعَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ قَالَتْ أُمِرْنَا أَنْ نُخْرِجَ الْحُيَّضَ يَوْمَ الْعِيْدَيْنِ وَذَوَاتِ الْخُدُوْرِ فَيَشْهَدْنَ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِيْنَ وَدَعْوَتَهُمْ وَ تَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ عَنْ مُصَلاَّهُنَّ قَالَتِ امْرَأَةٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِحْدَانَا لَيْسَ لَهَا جِلْبَابٌ قَالَ لِتُلْبِسْهَا صَاحِبَتُهَا مِنْ جِلْبَابِهَا . متفق عليه | د حضرت ام عطيه څخه روايت دى چي موږ ته دا حکم راکړل سو چي موږ ټولي ښځي حيض والا يا پردې والا ټولي د دواړو اخترو په لمنځو کي ګډون وکړو او دمسلمانانو په ډله کي ګډون وکړو او دهغوئ په دعاء کي |

ګډون وکړو او حیض والا ښځې دې د خپلې مصلا څخه بیلې وي ، یوې ښځې د دې په اوریدو سره عرض وکړې اې د الله رسوله ! په موږ کې د ځینو ښځو سره څادر نه وي، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هغه دې د خپلې ملګرې څادر استعمال کړي . بخاري او مسلم.

## د غزلو او سرود مسئله

(۱۳۴۸): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِنَّ اَبَابَكْرٍ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا جَارِيَتَانِ فِيْ اَيَّامِ مِنًى تُدَفِّفَانِ وَتَضْرِبَانِ وَفِيْ رِوَايَةٍ تُغَنِّيَانِ بِمَا تَقَاوَلَتِ الْاَنْصَارُ يَوْمَ بُعَاثَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَغَشٍّ بِثَوْبِهِ فَانْتَهَرَهُمَا اَبُوْ بَكْرٍ فَكَشَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَجْهِهِ فَقَالَ دَعْهُمَا يَا اَبَا بَكْرٍ فَاِنَّهَا اَيَّامُ عِيْدٍ وَفِيْ رِوَايَةٍ يَا اَبَا بَكْرٍ اِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيْدًا وَهٰذَا عِيْدُنَا .متفق علیه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چې د منی په ورځو کې (په کومو ورځو کې چې حاجیان په منا کې قیام کوي) حضرت ابوبکر هغې ته راغلی او په دغه وخت کې د انصاراوو دوې انجوني ناستې وې دریا یې وهل ، او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې هغو انجونو هغه شعرونه ویل کوم چې انصارو د بعاث د جګړې په ورځ ویلي وه، رسول الله ﷺ دغه وخت په جامه کې ځان پیچلی وو ، ابوبکر صدیق رضي الله عنه هغه انجوني وترټلې (بد او رد یې ورته وویل) رسول الله ﷺ د مخ څخه جامه لیرې کړه او وه یې فرمایل : اې ابوبکر ! دوئ پریږده دا د اختر ورځ ده ، او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې د هر قوم یو اختر وي او دا زموږ اختر دی . بخاري او مسلم.

## رسول الله ﷺ عیدګاه ته د تللو څخه مخکې خرماوې خوړلې

(۱۳۴۹): وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَغْدُوْ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتّٰى يَاْكُلَ تَمَرَاتٍ وَيَاْكُلُهُنَّ وِتْرًا . رواه البخاري .

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې ترڅو پورې به رسول الله ﷺ یو څو خرماوې نه وای خوړلې نو د کوچني اختر لمانځه ته به نه راتلی او رسول الله ﷺ به طاق خرماوې خوړلې .بخاري

## پر یوه لار تلل او پر بله لار راتلل

(۱۳۵۰): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَانَ يَوْمُ عِيْدٍ خَالَفَ الطَّرِيْقَ . رواه البخاري .

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې د اختر په ورځ به رسول الله ﷺ پر دوو مختلفو لارو تګ راتګ کوی . بخاري .

## د قربانۍ وخت

(۱۳۵۱): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ خَطَبَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ فَقَالَ اِنَّ اَوَّلَ مَا نَبْدَاُ بِهِ فِيْ

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روایت دی چې د قربانۍ په ورځ به رسول الله ﷺ زموږ په وړاندې خطبه

يَوْمِنَا هَذَا نُصَلِّي ثُمَّ نَرْجِعُ فَنَنْحَرُ فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ فَقَدْ أَصَابَ سُنَّتَنَا وَمَنْ ذَبَحَ قَبْلَ اَنْ نُصَلِّيْ فَإِنَّمَا هُوَ شَاةُ لَحْمٍ عَجَّلَهُ لِأَهْلِهِ لَيْسَ مِنَ النُّسُكِ فِي شَيْءٍ. متفق عليه

ويل ، رسول الله ﷺ به فرمايل : تر ټولو لومړی کار چي نن موږ کوو هغه دادی چي موږ لمونځ وکړو او بيا کورو ته ولاړ سو او قرباني وکړو، کوم څوك چي په دې طريقه عمل وکړي نو هغه زموږ سنت تر لاسه کړل او چا چي دلمانځه وړاندې قرباني وکړه نو هغه قرباني نه ده بلکه د غوښو پسه دی چي د خپل کورنی لپاره يې ژر حلال کړی دی د قرباني سره ددې هيڅ اړه نسته. بخاري او مسلم.

(۱۳۵۲): وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللهِ الْبَجَلِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا اُخْرٰى وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ حَتّٰى صَلَّيْنَا فَلْيَذْبَحْ عَلَى اسْمِ اللهِ . متفق عليه

د حضرت جندب بن عبدالله البجلي ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم څوك چي دلمانځه مخکي اختری وکړي نو هغه ته پکار ده چي د هغه پر ځای بل اختری وکړي او څوك چي دلمانځه وروسته اختری وکړي نو هغه ته پکار ده چي د الله په نوم اخيستلو سره اختری وکړي. بخاري اومسلم.

(۱۳۵۳): وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ الصَّلَاةِ فَإِنَّمَا يَذْبَحُ لِنَفْسِه وَمَنْ ذَبَحَ بَعْدَ الصَّلَاةِ فَقَدْ تَمَّ نُسُكُهُ وَأَصَابَ سُنَّةَ الْمُسْلِمِيْنَ. متفق عليه

د حضرت براء ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چي دلمانځه مخکي اختری حلال کړي نو هغه د خپل ځان لپاره وکړی او چا چي د لمانځه وروسته حلال کړي نو د هغه ارکان پوره سول او دمسلمانانو سنت يې تر لاسه کړل. بخاري او مسلم.

## رسول الله ﷺ به عيدگاه کي قرباني څه کول

(۱۳۵۴):وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْبَحُ وَيَنْحَرُ بِالْمُصَلّٰى . رواه البخاري .

د حضرت ابن عمر ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په عيدگاه کي حلالول او نحر به يې کوی (يعني د اوښ حلالول) کول. بخاري.

## دوهم فصل

**د مسلمانانو لپاره د خوشحالۍ دوې ورځې**

(١٣٥٥): عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُوْنَ فِيْهِمَا فَقَالَ مَا هٰذَانِ الْيَوْمَانِ ؟ قَالُوْا كُنَّا نَلْعَبُ فِيْهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَبْدَلَكُمُ اللّٰهُ بِهِمَا خَيْرًا مِّنْهُمَا يَوْمَ الْأَضْحٰى وَيَوْمَ الْفِطْرِ . رواه أبو داود .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چې کله رسول الله ﷺ مدینې ته تشریف راوړ نو په هغه وخت کې د مدینې د خلکو دوې ورځې وې چې په هغو کې یې خوشحالي او لوبې کولې ، رسول الله ﷺ د خلکو څخه پوښتنه وکړه چې دا دوې ورځې څنګه دي ؟ صحابه کرامو عرض وکړ په دې ورځو کې به موږ د جاهلیت په زمانه کې خوشحالي او لوبې کولې ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : الله تعالی تاسو ته دا ورځې په دوو غوره ورځو بدلې کړې یعني د لوی اختر ورځ او د کوچني اختر ورځ . ابوداؤد.

**په کوچني اختر کې د لمانځه څخه مخکې او په لوی اختر کې د لمانځه وروسته خوراک**

(١٣٥٦): وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ حَتّٰى يَطْعَمَ وَلَا يَطْعَمُ يَوْمَ الْأَضْحٰى حَتّٰى يُصَلِّيْ . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي .

د حضرت بریدة ﷺ څخه روایت دی چې د کوچني اختر په ورځ تر څو پورې چې رسول الله ﷺ به یو شی خوړلی نه وو نو دباندې به نه راوتی او د لوی اختر په ورځ به یې تر هغه وخته پورې څه نه خوړل تر څو چې لمونځ به یې نه وو کړی . ترمذي، ابن ماجه، دارمي.

**د اخترو تکبیرونه**

(١٣٥٧): وَعَنْ كَثِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبَّرَ فِي الْعِيْدَيْنِ فِي الْأُوْلٰى سَبْعًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ وَفِي الْآخِرَةِ خَمْسًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ . رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي .

حضرت کثیر بن عبدالله د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روایت کوي چې د دواړو اخترو په لمنځو کې به رسول الله ﷺ په لومړي رکعت کې د قرائت څخه وړاندې اووه تکبیرونه ویل او په دویم رکعت کې د قرائت څخه وړاندې پنځه تکبیرونه ویل. ترمذي.

(١٣٥٨): وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ مُرْسَلًا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَّعُمَرَ كَبَّرُوْا فِي

د حضرت جعفر بن محمد څخه مرسلا روایت دی چې رسول الله ﷺ، ابوبکر صدیق او حضرت عمر

الْعِيْدَيْنِ وَالْاِسْتِسْقَاءِ سَبْعًا وَّخَمْسًا وَصَلَّوْا قَبْلَ الْخُطْبَةِ وَجَهَرُوْا بِالْقِرَاءَةِ. رواه الشافعي.

به په دوارو اخترو کي او د استسقاء په لمانځه کي اووه تکبیرونه په لومړي رکعت کي او پنځه تکبیرونه په دویم رکعت کي ویل او د خطبې مخکي به یې لمونځ کوی او په لوړ آواز سره به یې قرائت وایه. شافعي.

(۱۳۵۹): وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا مُوْسٰى وَحُذَيْفَةَ كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِي الْأَضْحٰى وَالْفِطْرِ؟ فَقَالَ أَبُوْ مُوْسٰى كَانَ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا تَكْبِيْرَهُ عَلَى الْجَنَائِزِ فَقَالَ حُذَيْفَةُ صَدَقَ. رواه أبو داود.

د حضرت سعید بن عاص ﷺ څخه روایت دی چي ما د ابوموسی او حذیفه څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ به په کوچني او لوی اختر کي څنګه تکبیرونه ویل؟ ابو موسی وویل: رسول الله ﷺ به څلور تکبیر ویل لکه څرنګه چي د جنازې په لمانځه کي ویل کیږي او ابوحذیفه ددې تصدیق وکړ. ابوداؤد.

**امام دي د خطبې ویلو پر وخت پر لکړي وغیره تکیه کوي**

(۱۳۶۰): وَعَنِ الْبَرَاءِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُوْوِلَ يَوْمَ الْعِيْدِ قَوْسًا فَخَطَبَ عَلَيْهِ. رواه ابو داود

د حضرت براء ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ته د اختر په ورځ یو لیندۍ ورکړل سول او رسول الله ﷺ به پر هغه خطبه ویل. ابوداؤد.

(۱۳۶۱): وَعَنْ عَطَاءٍ مُرْسَلًا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَطَبَ يَعْتَمِدُ عَلٰى عَنَزَتِهِ اعْتِمَادًا. رواه الشافعي.

د حضرت عطاء څخه مرسلا روایت دی چي رسول الله ﷺ به کله خطبه ویل نو دخپلي نیزې پر تکیه لګولو سره به ودریدی. شافعي.

(۱۳۶۲): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ شَهِدْتُ الصَّلَاةَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ يَوْمِ عِيْدٍ فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ قَامَ مُتَّكِئًا عَلٰى بِلَالٍ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ وَوَعَظَ النَّاسَ وَذَكَّرَهُمْ وَحَثَّهُمْ عَلٰى طَاعَتِهِ ثُمَّ قَالَ وَمَضٰى إِلَى النِّسَاءِ وَمَعَهُ بِلَالٌ فَأَمَرَهُنَّ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ. رواه النسائي.

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دی چي د اختر په ورځ زه د رسول الله ﷺ د لمانځه لپاره حاضر سوم، رسول الله ﷺ دخطبې څخه مخکي لمونځ وکړ او آذان او اقامت یې نه وکړ، کله چي رسول الله ﷺ لمونځ وکړ نو د بلال په مرسته ودریدی (یعني تکیه یې کړې وه پر بلال باندي) د الله تعریف یې وکړ او ثناء یې وویل پر ده او خلکو ته یې

نصیحت وکړ او د عذاب او ثواب یادونه یې وکړه او دالله تعالی پر فرمانبرداری یې زور واچوی ، بیا د بلال سره رسول الله ﷺ د ښځو په لور تشریف یوور او هغوئ ته یې د الله د بیري هدایت او نصیحت وکړ او د ثواب او عذاب یادونه یې وکړه . نسائي .

**عیدگاه ته د تللو طریقه**

| | |
|---|---|
| (۱۳۶۳): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ يَوْمَ الْعِيْدِ فِيْ طَرِيْقٍ رَّجَعَ فِيْ غَيْرِهِ . رواه الترمذي والدارمي . | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ د اختر لمانځه ته پر یوه لار تشریف راوړ نو پر هغه لار به نه ستنېدی بلکه پر بله لار به تلی . ترمذي، دارمي. |

**د عذر په وجه د اختر لمانځه د ښار په مسجد کي کول**

| | |
|---|---|
| (۱۳۶۴):وَعَنْهُ أَنَّهُ أَصَابَهُمْ مَطَرٌ فِيْ يَوْمِ عِيْدٍ فَصَلّٰى بِهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْعِيْدِ فِي الْمَسْجِدِ . رواه أبو داود وابن ماجه . | د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي کله به د اختر په ورځ باران وو نو نبي کریم ﷺ به خلکو ته د اختر لمونځ په مسجد کي ورکوی . ابوداؤد ، ابن ماجه . |

**د کوچني اختر لمونځ په زنډ سره او د لوی اختر لمونځ په تلوار سره کول**

| | |
|---|---|
| (۱۳۶۵): وَعَنْ أَبِي الْحُوَيْرِثِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلٰى عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ وَهُوَ بِنَجْرَانَ عَجِّلِ الْأَضْحٰى وَأَخِّرِ الْفِطْرَ وَذَكِّرِ النَّاسَ . رواه الشافعي . | د حضرت ابوالحویرث ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ عمرو بن حزم ته چي په نجران کي وو ولیکل چي د لوی اختر لمونځ ژر کوه او د کوچني اختر لمونځ په زنډ سره کوه او خلکو ته نصیحت کوه. شافعي. |

**که د میاشتي لیدو شاهدي د زوال وروسته راسي نو به دوهمه ورځ لمونځ کول**

| | |
|---|---|
| (۱۳۶۶):وَعَنْ أَبِيْ عُمَيْرِ بْنِ أَنَسٍ عَنْ عُمُوْمَةٍ لَهُ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَكْبًا جَاءُوْا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْهَدُوْنَ أَنَّهُمْ رَأَوُا الْهِلَالَ بِالْأَمْسِ فَأَمَرَهُمْ أَنْ يُّفْطِرُوْا وَإِذَا أَصْبَحُوْا أَنْ يَّغْدُوْا إِلٰى مُصَلَّاهُمْ . رواه أبو داود والنسائي . | حضرت ابو عمر بن انس د خپل اکاگانو څخه چي د رسول الله ﷺ اصحاب وه روایت کوي چي د خلکو یو ډله سپره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او ددې خبري شاهدي یې ورکړه چي هغوئ پرون ماښام د اختر میاشت لیدلې ده د هغوئ په شاهدي سره. رسول الله ﷺ خلکو ته |

د روژي ماتولو حکم ورکړ او وه یې فرمایل : چي سبا عیدگاه ته ولاړ سئ . ابوداؤد ، نسائي

## دریم فصل

### د اخترو په لمانځه کي اذان او اقامت نه سته

(۱۳۶۷): عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالاَ لَمْ يَكُنْ يُؤَذَّنُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَلاَ يَوْمَ الأَضْحَى ثُمَّ سَأَلْتُهُ يعني عطاء بَعْدَ حِينٍ عَنْ ذَلِكَ فَأَخْبَرَنِي قَالَ أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ أَنْ لاَ أَذَانَ لِلصَّلاَةِ يَوْمَ الْفِطْرِ حِينَ يَخْرُجُ الإِمَامُ وَلاَ بَعْدَ مَا يَخْرُجُ وَلاَ إِقَامَةَ وَلاَ نِدَاءَ وَلاَ شَيْءَ لاَ نِدَاءَ يَوْمَئِذٍ وَلاَ إِقَامَةَ. رواه مسلم

حضرت ابن جریج وايي چي عطاء د ابن عباس او جابر بن عبدالله څخه روایت کوي چي هغه ویلي دي د کوچني اختر او لوی اختر په ورځ به آذان نه کېدی، څو ورځي وروسته ما بیا د عطاء څخه د دې خبري پوښتنه وکړه نو هغه وویل چي ما ته جابر بن عبدالله ښودلي دي چي د کوچني او لوی اختر په ورځ د اختر د لمانځه آذان نسته نه خو د امام د باندي د وتلو په وخت او نه د امام د راتلو او نه اقامت ،اعلان او نه بل یو شی او په هغه زمانه کي نه اقامت وو نه آذان . مسلم.

### په اخترو کي خطبه د لمانځه وروسته ویل پکار ده

(۱۳۶۸): وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَخْرُجُ يَوْمَ الأَضْحَى وَيَوْمَ الْفِطْرِ فَيَبْدَأُ بِالصَّلاَةِ فَإِذَا صَلَّى صَلاَتَهُ قَامَ فَأَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ وَهُمْ جُلُوسٌ فِي مُصَلاَّهُمْ فَإِنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ بِبَعْثٍ ذَكَرَهُ لِلنَّاسِ أَوْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ بِغَيْرِ ذَلِكَ أَمَرَهُمْ بِهَا وَكَانَ يَقُولُ تَصَدَّقُوا تَصَدَّقُوا تَصَدَّقُوا وَكَانَ أَكْثَرَ مَنْ يَتَصَدَّقُ النِّسَاءُ ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَلَمْ يَزَلْ كَذَلِكَ حَتَّى كَانَ مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَمِ فَخَرَجْتُ مُخَاصِرًا مَرْوَانَ حَتَّى أَتَيْنَا الْمُصَلَّى فَإِذَا كَثِيرُ بْنُ الصَّلْتِ قَدْ بَنَى مِنْبَرًا مِنْ طِينٍ وَلَبِنٍ فَإِذَا مَرْوَانُ يُنَازِعُنِي يَدَهُ كَأَنَّهُ يَجُرُّنِي نَحْوَ الْمِنْبَرِ وَأَنَا أَجُرُّهُ نَحْوَ الصَّلاَةِ فَلَمَّا رَأَيْتُ ذَلِكَ مِنْهُ قُلْتُ أَيْنَ الاِبْتِدَاءُ بِالصَّلاَةِ فَقَالَ لاَ يَا أَبَا

د حضرت ابوسعید خدري ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د کوچني او لوی اختر په ورځ د کور څخه د باندي راوتی اوشروع به يې وکړه په لمانځه بیا چي به د لمانځه څخه فارغ سو نو ( دخطبې لپاره) به ودریدی او خلکو ته چي د خپل لمانځه پر ځای به ناست وه توجه فرمایل او که چیري به د یو لښکر د لیږلو ضرورت سو نو د خلکو په وړاندي به يې د هغه یادونه کول یا که بل څه ضرورت وو نو د هغه حکم به يې ورکوی او خطبه کي به يې دا هم فرمایل چي صدقه ورکړئ صدقه ورکړئ صدقه ورکړئ او صدقه او خیرات ورکونکي به زیاتي ښځي وې، ددې وروسته به رسول الله ﷺ تشریف راوړ ، د مروان بن حکم تر زماني پوري په دې طریقه عمل وو د اختر په ورځ ما د مروان په لاس

سَعِيدٍ قَدْ تُرِكَ مَا تَعْلَمُ قُلْتُ كَلاَّ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لاَ تَأْتُونَ بِخَيْرٍ مِمَّا أَعْلَمُ ثَلاَثَ مِرَارٍ ثُمَّ انْصَرَفَ . رواه مسلم

كي لاس اچولی روان وم تر څو چي موږ عيدگاه ته ورسيدو نو کثير بن صامت د اومو خښتو او خاورو څخه منبر جوړ کړی وو بيا چي عيدگاه ته ننوتلو نو مروان په خپل لاس سره زما لاس راکښ کړ لکه هغه چي ما د منبر په لور کشوي چي خطبه د لمانځه څخه وړاندي ورکړه او ما به هغه د لمانځه په لور راکشوی هر کله چي ما د هغه دا حالت وليدی چي هغه دلمانځه مخکي خطبه ورکول غواړي نو ورته وه مي ويل د اختر د لمانځه مخکي د کولو هغه فعل څه سو چي پر هغه تر اوسه عمل کېدي، مروان وويل: اې ابوسعيد! جګړه مه کوه په کومه خبره چي ته پوهيږې هغه پرېښودل سول ، ما وويل: قسم دي په هغه ذات وي چي د هغه په واك کي زما روح ده ددې څخه غوره چي په هغه زه پوهيږم ته نه سې راوړلای ما درې څله دا الفاظ وويل ، ددې وروسته ابو سعيد بيرته راغلی . مسلم.

## بَابُ فِي الْأُضْحِيَّةِ (د اختري بيان)

### لومړی فصل

**د قرباني حيوان په خپل لاس حلال پکار دي**

﴿١٣٦٩﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ ضَحَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمَّى وَكَبَّرَ قَالَ رَأَيْتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا وَيَقُوْلُ بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ .متفق عليه

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د دوو ابلکو ښکرورو مړو اختری وکړ او په خپلو لاسو يې هغه حلال کړل ، بسم الله او تکبير يې ووايه ، انس ﷺ وايي ما رسول الله ﷺ وليدی چي د مړو پر بغلو پښه ايښې وه او رسول الله ﷺ د حلالولو پر وخت دا فرمايل: بسم الله والله اکبر . بخاري او مسلم .

**د اختري د پسه صفات**

﴿١٣٧٠﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِكَبْشٍ أَقْرَنَ يَطَأُ فِي سَوَادٍ وَيَبْرُكُ فِي سَوَادٍ وَيَنْظُرُ فِي سَوَادٍ فَأُتِيَ بِهِ لِيُضَحِّيَ بِهِ قَالَ يَا عَائِشَةُ هَلُمِّي الْمُدْيَةَ ثُمَّ قَالَ اشْحَذِيهَا بِحَجَرٍ فَفَعَلَتْ ثُمَّ أَخَذَهَا وَأَخَذَ الْكَبْشَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د يو داسي مړ راوستلو حکم وکړ چي د هغه په سر کي ښکر وي او هغه په توروالي کي ګرځي يعني د هغه پښې توري وي او په توروالي کي کښيني يعني د هغه نس او سينه توره وي او په توروالي کيويني يعني د هغه د

فَأَضْجَعَهُ ثُمَّ ذَبَحَهُ ثُمَّ قَالَ بِاسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ تَقَبَّلْ مِنْ مُحَمَّدٍ وَآلِ مُحَمَّدٍ وَمِنْ اُمَّةِ مُحَمَّدٍ ثُمَّ ضَحّٰى بِهٖ . رواه مسلم

سترګو حلقه توره وي نو داسي مړ رسول الله ﷺ ته د اختري لپاره راوستل سو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : اي عائشي ! چاړه راوړه او پر ډبره يې تېره کړه نو دا کار مي وکړ، ددې وروسته رسول الله ﷺ چاړه واخيستل او مړ يې پرې ايستی او بيا يې په (بسم الله ... امة محمد) ويلو سره هغه حلال کړ .مسلم

### د کوم حيوان اختری کول پکار دي

(۱۳۷۱): وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَذْبَحُوا اِلَّا مُسِنَّةً اِلَّا اَنْ يَعْسُرَ عَلَيْكُمْ فَتَذْبَحُوا جَذَعَةً مِنَ الضَّأْنِ. رواه مسلم

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو مه حلالوئ مګر مسنه (يعني هغه اوښه چي په شپږم کال کي وي) او که مسنه مو پيدا نه کړل نو وری يا وری جزعه (چي تر يو کال پوري وي) حلال کړئ . مسلم.

### د مرغومي اختری

(۱۳۷۲): وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْطَاهُ غَنَمًا يَقْسِمُهَا عَلٰى صَحَابَتِهٖ ضَحَايَا فَبَقِيَ عَتُوْدٌ فَذَكَرَهُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ضَحِّ بِهٖ اَنْتَ وَفِيْ رِوَايَةٍ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَصَابَنِيْ جَذَعٌ قَالَ ضَحِّ بِهٖ .متفق عليه

د حضرت عقبة بن عامر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ هغه ته د پسو د يوې رمې د حواله کولو حکم وکړ چي پر صحابه کرامو يې د اختري لپاره وويشي ، د ويش وروسته يو وری پاته سو رسول الله ﷺ ته د هغه يادونه وسول نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل دا ته قرباني کړه ، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ اي دالله رسوله ! زما په برخه يو وری راغلی دی ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ته يې قرباني کړه . بخاري او مسلم .

### په عيدګاه کي قرباني کول غوره دي

(۱۳۷۳): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْبَحُ وَيَنْحَرُ بِالْمُصَلّٰى . رواه البخاري

د حضرت ابن عمر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به په عيدګاه کي ذبح او نحر کول. بخاري

### د قرباني برخي

(۱۳۷۴): وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَقَرَةُ عَنْ سَبْعَةٍ وَالْجَزُوْرُ عَنْ سَبْعَةٍ . رواه مسلم وأبو داود واللفظ له .

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د غوا (غوايي) او اوښ قرباني د اوو کسانو لپاره بس ده . مسلم ، ابوداؤد.

### د قرباني کونکي لپاره یو څو لارښوونې

(۱۳۷۵): وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ وَأَرَادَ بَعْضُكُمْ أَنْ يُضَحِّيَ فَلاَ يَمَسَّ مِنْ شَعْرِهِ وَبَشَرِهِ شَيْئًا وَفِيْ رِوَايَةٍ فَلاَ يَأْخُذَنَّ شَعْرًا وَلاَ يَقْلِمَنَّ ظُفْرًا وَفِيْ رِوَايَةٍ مَنْ رَأَى هِلاَلَ ذِيْ الْحِجَّةِ وَأَرَادَ أَنْ يُضَحِّيَ فَلاَ يَأْخُذْ مِنْ شَعْرِهِ وَلاَ مِنْ أَظْفَارِهِ . رواه مسلم .

د حضرت ام سلمة (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هر کله چي د لوی اختر لومړی لسیزه راسي او په تاسو کي یو څوك د اختري اراده وکړي نو مه خو خپل ورېښتان خریي او مه یې غچي کوئ او مه نوکان پرې کوئ ، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي مه ورېښتان خریي او مه نوکان پرې کوئ ، او په یو بل روایت کي دا الفاظ دي چي کوم څوك د ذي الحجې میاشت وویني او د اختري کولو اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چي نه خو ورېښتان وخریي او نه یې غچي کړي او نه نوکان پرې کړي . مسلم

### د ذي الحجې د نیکو اعمالو فضیلت

(۱۳۷۶): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهِنَّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ هٰذِهِ الْأَيَّامِ الْعَشْرَةِ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ وَلاَ الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ؟ قَالَ وَلاَ الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ إِلاَّ رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذٰلِكَ بِشَيْءٍ . رواه البخاري .

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هیڅ ورځ چي په هغه کي نیك عمل چي د الله په نزد تر تولو زیات خوښ وي تر دغه لسو ورځو پرته بله نه ده ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! ایا د الله په لار کي جهاد هم نه ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل : او دالله په لار کي جهاد هم نه ، مګر هغه سړی د الله په نزد د دې ورځو تر . نیك عمل هم زیات خوښ دی چي په خپل مال او ځان سره د الله په لار کي جنګ ته ووزي او بیا را نه سي . (یعني شهید سي) بخاري

## دوهم فصل

### د قرباني کولو په وخت کي دعاء

(۱۳۷۷): عَنْ جَابِرٍ قَالَ ذَبَحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الذَّبْحِ كَبْشَيْنِ أَقْرَنَيْنِ أَمْلَحَيْنِ مَوْجُوْئَيْنِ فَلَمَّا وَجَّهَهُمَا قَالَ إِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ عَلَى مِلَّةِ إِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا وَمَا أَنَا مِنَ

د حضرت جابر ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د لوی اختر په ورځ دوه پسونه حلال کړل چي ښکرور، ابلك او خصي وه، رسول الله ﷺ چي هغه د قبلې په لور کړل نو دا کلمات یې وویل : (زه خپل ځان هغه لور ته متوجه کوم

الْمُشْرِكِيْنِ إِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ لاَ شَرِيْكَ لَهُ وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ اَللّٰهُمَّ مِنْكَ وَلَكَ عَنْ مُحَمَّدٍ وَّأُمَّتِهِ بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ ثُمَّ ذَبَحَ . رواه أحمد وأبو داود وابن ماجه والدارمي وفي رواية لأحمد وأبي داود والترمذي ذَبَحَ بِيَدِهِ وَقَالَ بِسْمِ اللهِ وَاللهُ أَكْبَرُ اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَنِّيْ وَعَمَّنْ لَّمْ يُضَحِّ مِنْ أُمَّتِيْ .

چي آسمان او مځکه يې پيدا کړل په داسي حال کي چي زه د ابراهيمﷺ پر دين يم او د هغه پر دين چي د توحيد منونکي وو او زه د مشرکانو څخه نه يم زما لمونځ، عبادت زما او ټول عبادتونه بلکه زما ژوند او مرگ يوازي الله تعالی لره دی چي د دواړو جهانو پروردگار دی هيڅوك د هغه شريك نسته ما ته ددې حکم سوی دی او زه د مسلمانانو څخه يم ، اې الله ! دا قرباني ستا راکړه ده او ستا د رضا لپاره ده ته دا د محمد او د هغه د امت د لوري قبوله کړې د الله په نامه سره او الله ډير لوی دی) د دې وروسته يې هغه حلال کړل . احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه، دارمي ، د احمد ، ابوداؤد او ترمذي په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د دعاء کولو وروسته رسول الله ﷺ په خپل لاس سره خپل پسونه حلال کړل او ويل يې (بسم الله ...) اې الله دا قرباني قبوله کړې زما د لوري او زما د امت د هغه چا د لوري چي قرباني يې نه وي کړې.

### د مړي له طرفه قرباني کول جائز ده

﴿١٣٧٨﴾: وَعَنْ حَنَشٍ قَالَ رَأَيْتُ عَلِيًّا يُضَحِّيْ بِكَبْشَيْنِ فَقُلْتُ لَهُ مَا هٰذَا ؟ فَقَالَ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْصَانِيْ أَنْ أُضَحِّيَ عَنْهُ فَأَنَا أُضَحِّيْ عَنْهُ . رواه أبو داود وروى الترمذي نحوه .

د حضرت حنش ﷺ څخه روايت دی چي ما حضرت علي ﷺ پر دوو پسو حلالولو وليدی او ما پوښتنه وکړه چي دا څه دي ؟ هغه وويل : رسول الله ﷺ ما ته وصيت کړی دی چي زه د هغه د لوري هم قرباني وکړم نو ځکه زه دا قرباني کوم . ابوداؤد ، ترمذي.

### د عيب لرونکي حيوان قرباني کول نه ده پکار

﴿١٣٧٩﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ أَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَشْرِفَ الْعَيْنَ وَالْأُذُنَ وَأَنْ لاَ نُضَحِّيَ بِمُقَابَلَةٍ وَلاَ مُدَابَرَةٍ وَلاَ شَرْقَاءَ وَلاَ خَرْقَاءَ . رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي والدارمي و ابن ماجة وانتهت روايته الى قوله والاذن .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي موږ ته رسول الله ﷺ دا حکم کړی دی چي کوم حيوانان موږ اختری کوو د هغه سترگي او غوږونه دي په ښه ډول وگورو چي په هغو کي څه کمي نه وي او دا حکم يې راکړی دی چي د کوم حيوان د وړاندي څخه يا د شا څخه پرې سوی وی نو موږ هغه اختری نه کړو او نه هغه چي غوږ يې پرې سوی وي او نه پکن. ترمذي ، ابوداؤد. دارمي .

(۱۳۸۰): وَعَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُضَحِّيَ بِأَعْضَبِ الْقَرْنِ وَالْأُذُنِ . رواه ابن ماجه .

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د هغه حيوان قرباني منع فرمايلې ده چي د هغه ښکر مات وي او غوږونه يې پرې سوي وي . ابن ماجه.

(۱۳۸۱): وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ مَا ذَا يُتَّقَى مِنَ الضُّحَايَا فَأَشَارَ بِيَدِه فَقَالَ أَرْبَعًا الْعَرْجَاءُ الْبَيِّنُ ظَلْعُهَا وَ الْعَوْرَاءُ الْبَيِّنُ عَوْرُهَا وَالْمَرِيْضَةُ الْبَيِّنُ مَرَضُهَا وَ الْعَجْفَاءُ الَّتِي لَا تُنْقِي. رواه مالك واحمد والترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجه والدارمي .

د حضرت براء ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول چي کوم حيوان د اختري وړ نه دی ؟ رسول الله ﷺ په څلورو گوتو اشاره وکړه يعني څلور ډوله ۱: گوډ چي د هغه گوډوالی ښکارند وي او تلای نه سي ۲: ړوند چي ړوندوالی يې ښکاره وي ۳: ناروغ چي ناروغي يې ښکارنده وي ۴: او څلورم خوار چي په هډوکو کي يې توان نه وي . مالك، احمد ،ترمذي، نسائي،ابوداؤد ، ابن ماجه، دارمي .

**د چاغ حيوان قرباني غوره ده**

(۱۳۸۲): وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُضَحِّيْ بِكَبْشٍ أَقْرَنَ فَحِيلٍ يَنْظُرُ فِي سَوَادٍ يَأْكُلُ فِي سَوَادٍ وَيَمْشِي فِي سَوَادٍ . رواه الترمذي و ابوداؤد والنسائي وابن ماجه .

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د ښکرور پسه اختری کوی چي په توروالي کي به يې ليدل کول (يعني د سترگو حلقه به يې توره وه) او په توروالي کي به يې خوراك كوی (يعني مخ به يې تور وو) او په توروالي کي به تلی (يعني پښې به يې هم توري وې) .ترمذي، ابوداؤد ، نسائي، ابن ماجه.

**د جذع د قرباني حکم**

(۱۳۸۳): وَعَنْ مُجَاشِعٍ مِنْ بَنِيْ سُلَيْمٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ إِنَّ الْجَذَعَ يُوَفِّيْ مِمَّا يُوَفِّيْ مِنْهُ الثَّنِيُّ . رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه

د بني سليم يو کس مجاشع وايي چي رسول الله ﷺ به فرمايل : جذع (د شپږو مياشتو څخه زيات) بس دی د ثنی (تر کال زيات ) څخه يعني د شپږو مياشتو پسه هم د قربانۍ لپاره داسي بس دی لکه څرنگه چي د کال څخه زيات بس دی . ابوداؤد ،نسائي، ابن ماجه.

(۱۳۸۴): وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي ما د

اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ نِعْمَتِ الْأُضْحِيَّةُ الْجَذَعُ مِنَ الضَّأْنِ . رواه الترمذي

رسول الله ﷺ څخه اوريدلي چي د اختري لپاره د مږ جذع (شپږ مياشتنی) غوره دی . ترمذي.

## په قرباني کي ګډون

(١٣٨٥): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَحَضَرَ الْأَضْحَى فَاشْتَرَكْنَا فِي الْبَقَرَةِ سَبْعَةً وَفِي الْبَعِيرِ عَشَرَةً . رواه الترمذي والنسائي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث حسن غريب .

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو چي لوی اختر راغلی نو موږ په يوه غوا کي اووه کسان او په اوښ کي لس کسان ګډ سوو . ترمذي، نسائي، ابن ماجه. ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی (د علماؤ په نزد دا په هغه حديث سره منسوخ دی چي په اوښ کي هم د اوو کسانو د ګډون حکم راغلی دی).

## د قرباني فضيلت

(١٣٨٦): وَعَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا عَمِلَ ابن آدم مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ وانه ليؤتى يوم الْقِيَامَةِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلَافِهَا وَأَنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الْأَرْضِ فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا. رواه الترمذي وابن ماجه.

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله ﷻ ته د لوی اختر په ورځ د انسان هيڅ يو عمل پرته د اختري کولو څخه غوره نه دی او د قيامت په ورځ به هغه حلال سوی حيوان د خپلو ښکرو، وريښتانو او نوکانو سره راسي او د قرباني وينه تر دې وړاندي چي پر مځکه توی سي د الله تعالى په نزد قبليږي نو تاسو اختری په ښه (خوشحاله) زړه سره کوئ .ترمذي، ابن ماجه.

## د ذي الحجې د لسو ورځو د عبادت فضيلت

(١٣٨٧): وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَيَّامٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ أَنْ يُتَعَبَّدَ لَهُ فِيهَا مِنْ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ يَعْدِلُ صِيَامُ كُلِّ يَوْمٍ مِنْهَا بِصِيَامِ سَنَةٍ وَقِيَامُ كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْهَا بِقِيَامِ لَيْلَةِ الْقَدْرِ. رواه الترمذي وابن ماجة و قال الترمذي اسناده ضعيف.

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالى په نزد هيڅ يوه ورځ چي په هغه کي عبادت وسي د ذوالحجې د لسيزي څخه غوره نه ده په دې ورځو کي د يوې ورځي د روژې ثواب د ټول کال د روژو د ثواب سره برابر دی او د يوې شپې عبادت د شب قدر د عبادت سره سم دی . ترمذي، ابن ماجه .

## دريم فصل

**د اختر د لمانځه مخکي قرباني صحيح نه ده**

(۱۳۸۸): عَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِاللهِ قَالَ شَهِدْتُ الْأَضْحَى يَوْمَ النَّحْرِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَعْدُ أَنْ صَلَّى وَفَرَغَ مِنْ صَلَاتِهِ سَلَّمَ فَإِذَا هُوَ يَرَى لَحْمَ أَضَاحِيَّ قَدْ ذُبِحَتْ قَبْلَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاتِهِ فَقَالَ مَنْ كَانَ ذَبَحَ أُضْحِيَّتَهُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ فَلْيَذْبَحْ مَكَانَهَا أُخْرَى وفي رواية قَالَ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ ثُمَّ خَطَبَ ثُمَّ ذَبَحَ وَقَالَ مَنْ كَانَ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ أَوْ نُصَلِّيَ فَلْيَذْبَحْ أُخْرٰى مَكَانَهَا وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ بِاسْمِ اللهِ . متفق عليه

د حضرت جندب بن عبدالله ﷺ څخه روايت دی چي د لوی اختر په ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم او رسول الله ﷺ په پوره توګه د لمانځه څخه نه وو فارغ سوی کله چي دلمانځه څخه فارغ سو سلام يې وګرزوی چي د قربانۍ غوښه يې وليده چي د لمانځه څخه وړاندي حلال سوی وو ، د دې په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : کوم چا چي د لمانځه څخه وړاندي اختری وکړی نو هغه ته پکار ده چي د هغه پر ځای بل اختری وکړي ، او په بل روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ د لوی اختر په ورځ لمونځ وکړ بيا يې خطبه وويل بيا يې اختری وکړ او. وه يې فرمايل : چا چي د لمانځه وړاندي اختری کړی دی نو هغه ته پکار ه چي د هغه پر ځای بل اختری وکړي او څوك چي دلمانځه وروسته اختری وکړی نو هغه دي د الله په نوم اخيستلو سره اختری وکړي . مسلم او بخاري .

**د قربانۍ ورځي**

(۱۳۸۹): وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ اَلْأَضْحٰى يَوْمَانِ بَعْدَ يَوْمِ الْأَضْحٰى . رواه مالك . وقال وبلغني عن علي بن أبي طالب مثله .

د حضرت نافع ﷺ څخه روايت دی چي ابن عمر ﷺ وفرمايل : اختری د يوم نحر وروسته دوې ورځي کيدلای سي . مالك.

**رسول الله ﷺ همېشه قرباني کول**

(۱۳۹۰): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ أَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرَ سِنِيْنَ يُضَحِّيْ . رواه الترمذي .

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ تر لسو کلو پوري په مدينه کي وو او هر کال به يې اختری کوی .ترمذي.

**قرباني د حضرت ابراهيم ﷺ سنت دی**

(۱۳۹۱): وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ

د حضرت زيد بن ارقم څخه روايت دی چي د رسول

أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَارَسُوْلَ اللهِ مَا هٰذِهِ الْأَضَاحِيُّ ؟ قَالَ سُنَّةُ أَبِيْكُمْ إِبْرَاهِيْمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالُوْا فَمَا لَنَا فِيْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةٌ . قَالُوْا فَالصُّوْفُ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ مِّنَ الصُّوْفِ حَسَنَةٌ رواه أحمد وابن ماجه .

الله ﷺ اصحابو عرض وکړ اې د الله رسوله ! دا قرباني څه شي ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : دا ستاسو د پلار حضرت ابراهيم ﷺ طريقه ده ، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! موږ ته څه ثواب رسيږي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د هر وربښته په بدله کي يوه نيکي ده، هغوئ بيا عرض وکړ او وړى (پشم) اې د خداى ﷻ رسوله، رسول الله ﷺ وفرمايل هو، يعني د وړى څخه د هر وېښته په مقابل کي يوه نيکي ده.. احمد، ابن ماجه.

## بَابُ الْعَتِيْرَةِ (د بُتانو پر نامه حلالول کول)

### لومړى فصل

#### د فرع او عتيره ممانعت

(۱۳۹۲): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا فَرَعَ وَلَا عَتِيْرَةَ قَالَ وَالْفَرَعُ أَوَّلُ نِتَاجٍ كَانَ يُنْتَجُ لَهُمْ كَانُوْا يَذْبَحُوْنَهُ لِطَوَاغِيْتِهِمْ وَالْعَتِيْرَةُ فِيْ رَجَبٍ . متفق عليه

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په اسلام کي نه فرع سته او نه عتيرة، ابوهريرة وايي فرع د حيوانانو لومړي بچي ته وايي چي کفارو به د خپلو بتانو پر نامه حلالول او عتيره هغه حيوان چي کفارو به د رجب په لومړۍ لسيزه کي د بتانو پر نامه حلالول. بخاري اومسلم.

### دوهم فصل

(۱۳۹۳): عَنْ مِخْنَفِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ كُنَّا وُقُوْفًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَفَاتٍ فَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ان عَلَى كُلِّ أَهْلِ بَيْتٍ فِيْ كُلِّ عَامٍ أُضْحِيَّةٌ وَعَتِيْرَةٌ هَلْ تَدْرُوْنَ

د حضرت مخنف بن سليم ﷺ څخه روايت دى چي موږ په عرفات کي د رسول الله ﷺ سره ولاړ وو نو ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل يې : اې خلکو ! پر هره کورنۍ باندي په کال کي اخترى او عتيره کول واجب دى تاسو ته څرګنده ده چي

مَا الْعَتِيرَةُ هِيَ الَّتِي تُسَمُّونَهَا الرَّجَبِيَّةَ. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي وابن ماجة وقال الترمذي هذا حديث غريب ضعيف الاسناد و قال ابوداؤد والعتيرة منسوخة .

عتيره څه شي ده ؟ عتيره هغه شی دی چي هغه ته تاسو رجبيه واياست . ترمذي، ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه. او ترمذي ويلي دي دا حديث ضعيف الاسناد دی ، ابوداؤد ويلي دي چي عتيره منسوخه ده .

## دریم فصل

### پر مسکین باندي قرباني واجب نه ده

(۱۳۹۴): عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ بِيَوْمِ الْأَضْحٰى عِيْدًا جَعَلَهُ اللهُ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ قَالَ لَهُ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللهِ أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ أَجِدْ إِلَّا مَنِيْحَةً أُنْثٰى أَفَأُضَحِّيْ بِهَا ؟ قَالَ لَا وَلٰكِنْ خُذْ مِنْ شَعْرِكَ وَأَظْفَارِكَ وَتَقُصُّ شَارِبَكَ وَتَحْلِقُ عَانَتَكَ فَذٰلِكَ تَمَامُ أُضْحِيَّتِكَ عِنْدَ اللهِ . رواه أبو داود والنسائي .

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ته حکم سوی دی چي د قرباني ورځ زه اختر و ګڼم دا ورځ الله تعالی د دې امت لپاره اختر ګرځولې ده ، يو سړي عرض وکړ اې دالله رسوله ! که د چا سره د منيحه (منيحه هغه اوښه چي د شېدو لپاره يو چا ته ورکول سوې وي) پرته نور هيڅ نه وي نو ايا هغه ددې اخترنی وکړي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل نه، مګر ته خپل وربښتان وخريه او يا يې کوچني کړه او نوکان پرې کړه او سنت واخله او دنامه لاندي وربښتان وخريه دا د الله په نزد ستا پوره قرباني ده . ابوداؤد ،نسائي.

# بَابُ صَلٰوةِ الْخُسُوْفِ

## (د خسوف د لمانځه بیان)

## لومړی فصل

**د لمر تندري نیولو په وخت کي د رسول الله ﷺ لمونځ**

﴿۱۳۹۵﴾: عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ اِنَّ الشَّمْسَ خَسَفَتْ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ مُنَادِيًا اَلصَّلَاةَ جَامِعَةً فَتَقَدَّمَ فَصَلّٰى اَرْبَعَ رَكْعَاتٍ فِيْ رَكْعَتَيْنِ وَاَرْبَعَ سَجْدَاتٍ قَالَتْ عَائِشَةُ مَا رَكَعْتُ رُكُوْعًا قَطُّ وَلَا سَجَدْتُ سُجُوْدًا قَطُّ كَانَ اَطْوَلَ مِنْهُ . متفق علیه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي لمر تندري ونیوی نو یو اعلان کونکی یې ولیږی چي دا اعلان یې کوی (لمونځ تیار دی) کله چي خلك را ټول سول نو رسول الله ﷺ وړاندي سو او دوه رکعته یې وکړل چي په هغه کي یې څلور رکوعي وکړې او څلور سجدې یې وکړې، بي بي عائشة وایي چي ما هیڅکله یو رکوع او سجده دومره اوږده نه وه کړې څومره چي په دې لمانځه کي مي وکړه . بخاري او مسلم .

**د خسوف د لمانځه قرائت**

﴿۱۳۹۶﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ جَهَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ صَلَاةِ الْخُسُوْفِ بِقِرَاءَتِهِ .متفق علیه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سپوږمۍ تندري نیولو په لمانځه کي په لوړ آواز سره قرائت وواېه. بخاري او مسلم

**د لمر تندري نیولو حقیقت**

﴿۱۳۹۷﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ انْخَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ مَعَهُ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيْلًا نَحْوَ من قراءة سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيْلًا وَهُوَ دُوْنَ الْقِيَامِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوْعًا طَوِيْلًا وَهُوَ دُوْنَ الرُّكُوْعِ الْاَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ ثُمَّ سَجَدَ

د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي لمر تندري ونیوی ، نو رسول الله ﷺ او خلکو په لمانځه کي اوږده ولاړه وکړه یعني دومره وخت په څومره وخت کي چي سورة بقرة ویل کیږي ، بیا یې اوږده رکوع وکړل بیا یې د رکوع څخه سر پورته کړ او تر ډیره وخته پوري ولاړ وو چي د قرائت تر ولاړي کم وو بیا یې اوږده رکوع وکړه او دا

ثُمَّ قَامَ قِيَامًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدْ انْجَلَتْ الشَّمْسُ فَقَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللّٰهِ لاَ يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذٰلِكَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ رَأَيْنَاكَ تَنَاوَلْتَ شَيْئًا فِي مَقَامِكَ هٰذَا ثُمَّ رَأَيْنَاكَ تَكَعْكَعْتَ فَقَالَ إِنِّي رَأَيْتُ الْجَنَّةَ فَتَنَاوَلْتُ مِنْهَا عُنْقُودًا وَلَوْ أَخَذْتُهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ مَا بَقِيَتْ الدُّنْيَا وَرَأَيْتُ النَّارَ فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ مَنْظَرًا قَطُّ أَفْظَعَ وَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ قَالُوا بِمَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ بِكُفْرِهِنَّ قِيلَ أَيَكْفُرْنَ بِاللّٰهِ قَالَ بِكُفْرِ الْعَشِيرِ وَبِكُفْرِ الْإِحْسَانِ لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ. متفق عليه

رکوع تر لومړۍ رکوع کمه وه بيا يې سر پورته کړ بيا يې سجده وکړه بيا ودريدی او تر ډيره وخته پوري ولاړ وو مګر دا دريدل تر لومړي دريدو کم وو بيا يې اوږده رکوع وکړه او دا رکوع تر لومړۍ رکوع کمه وه بيا يې د رکوع څخه سر پورته کړ او تر ډيره وخته پوري ولاړ وو او دا ولاړه تر لومړۍ ولاړي کمه وه بيا يې اوږده رکوع وکړه او دا رکوع تر لومړۍ رکوع کمه وه بيا يې د رکوع څخه سر پورته کړ بيا يې سجده وکړه بيا يې لمونځ ختم کړې ، په دې دوران کي لمر هم خلانده سوی وو ، ددې وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل چي لمر او سپوږمۍ د الله تعالی د نښو څخه دوې نښې دي نه خو دا د يو چا پر مرګ او نه د يو چا پر پيداکېدو تندره نيسي هر وخت چي تاسو تندره نيول ووينئ نو الله تعالی يادوئ ، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله ! موږ تاسو په دې حالت کي وليداست چي تاسو پر خپل ځای ولاړ د يو شی نيولو اراده مو کول بيا موږ دا وليدل چي تاسو لږ وروسته سواست، رسول الله ﷺ وفرمايل ما جنت وليدی او د هغه د درختي څخه مي د انګورو وانښکی شکولو اراده کړې وه که ما هغه وانښکی راشکولي وای نو تر څو پوري چي دنيا آباده وای تر هغو به مو خوړل ، بيا ما دوږخ وليدی او هيڅ داسي يو خوفناك منظر زما تر نظر نه دی تير سوی څنګه چي ما نن وليدی، په دې کي ما زياتي ښځي وليدې، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې دالله رسوله ! ددې سبب څه دی ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغوئ دنعمت ناشکري له کبله ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه ايا ښځي د الله څخه انکار کوي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د خپل خاوند نافرماني کوي او د احسان ناشکري کوي که ته ورسره ټول عمر احسان کوې خو که هغه ستا د لوري، د خپل مرضۍ خلاف يو خبره ووينې نو وايي ما هيڅ چيري ستاسو څخه خير ليدلی نه دی . بخاري او مسلم .

(۱۳۹۸): وَعَنْ عَائِشَةَ نَحْوَ حَدِيْثِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَقَالَتْ ثُمَّ سَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُوْدَ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدِ انْجَلَتِ الشَّمْسُ فَخَطَبَ النَّاسَ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ لاَ يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذٰلِكَ فَادْعُوْا اللهَ وَكَبِّرُوْا وَصَلُّوْا وَتَصَدَّقُوْا ثُمَّ قَالَ يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ وَاللهِ مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرَ مِنَ اللهِ أَنْ يَّزْنِيَ عَبْدُهٗ أَوْ تَزْنِيَ أَمَتُهٗ يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ وَّاللهِ لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيْلاً وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيْرًا . متفق عليه

بي بي عائشي (رض) هم د ابن عباس ﷺ په ډول حديث بيان كړى دى بيا يې دا بيان هم كړى دى چې رسول الله ﷺ سجده وكړه او اوږده سجده يې وكړه بيا يې لمونځ ختم كړو او لمر خلانده سو ، بيا رسول الله ﷺ خلكو ته خطبه وويل لومړى يې د الله تعالى حمد او ثناء وكړه بيا يې وفرمايل : لمر او سپوږمى د الله تعالى دوې نښې دي نه د چا پر مرگ او نه د چا پر پېداكېدو دا تندره نيسي هر كله چې تاسو تندره نيول ووينئ نو د الله څخه (دخير) دعاء غواړئ، تكبير وواياست لمونځ كوئ او خيرات كوئ ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل اې د محمد امته ! په الله دي مې قسم وي د الله څخه زيات غيرتمند هيڅوك نسته چې زنا به كوي بنده دده يا زنا به كوي مينځه دده ، اې د امحمد ﷺ امته ! په الله دي مې قسم وي كه تاسو ته هغه شي څرگند سي كوم چې زما په علم كې دى نو خندا به ډېره كمه او ژړا به ډېره زياته كوئ. بخاري او مسلم

## د تندري په وخت کې د رسول الله ﷺ کیفیت

(۱۳۹۹): وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ خَسَفَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَزِعًا يَخْشٰى أَنْ تَكُوْنَ السَّاعَةُ حَتّٰى أَتَى الْمَسْجِدَ فَصَلّٰى بِأَطْوَلِ قِيَامٍ وَرُكُوْعٍ وَسُجُوْدٍ مَا رَأَيْتُهٗ يَفْعَلُهٗ قَطُّ وَ قَالَ هٰذِهِ الْآيَاتُ الَّتِيْ يُرْسِلُ اللّٰهُ لاَ تَكُوْنُ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهٖ وَلٰكِنْ يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهَا عِبَادَهٗ فَإِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِنْ ذَالِكَ فَافْزَعُوا إِلٰى ذِكْرِهٖ وَدُعَائِهٖ وَاسْتِغْفَارِهٖ . متفق عليه

د حضرت ابوموسى ﷺ څخه روايت دى چې لمر تندري ونيوى نو رسول الله ﷺ په بيره کې ولاړ سو او د قيامت بيره ورباندي خپره سول بيا رسول الله ﷺ مسجد ته تشريف راوړ او لمونځ يې وکړ چې ولاړ، رکوع او سجده يې دومره اوږده وکړه چې وراندي ما هيڅکله نه وه ليدلي ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : دا نښې الله تعالى رالېږي دا نه د چا د مرگ له کبله دى او نه د چا د زيږېدني له کبله، مگر الله تعالى خپل بندگان له دې کبله بيروي چې تاسو دا ډول نښې ووينئ نو دالله څخه بيره وکړئ د هغه ذکر کوئ دعاء کوئ او د هغه څخه بخښنه غواړئ. بخاري او مسلم .

## د کسوف په لمانځه کي د رسول الله ﷺ د رکوع او سجدو شمېر

﴿۱۴۰۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ مَاتَ ابْرَاهِيْمُ بْنُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ سِتَّ رَكَعَاتٍ بِأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ. رواه مسلم

د حضرت جابر ﷛ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي کومه ورځ چي درسول الله ﷺ زوی ابراهیم ﷛ وفات سوی وو نو لمر هم تندري ونیوی ، رسول الله ﷺ خلکو ته لمونځ ورکړ چي په هغه کي یې شپږ رکوعي او څلور سجدې وکړې. مسلم.

﴿۱۴۰۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ ثَمَانَ رَكَعَاتٍ فِيْ أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ . وعن علي مثل ذلك . رواه مسلم .

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روایت دی چي د لمر تندري نیولو پر وخت رسول الله ﷺ د اته رکوعو او څلورو سجدو لمونځ ورکړ یعني دوه رکعته چي په هغه کي یې څلور رکوعي او دوې دوې سجدې وکړې .حضرت علي ﷛ هم داسي روایت کړی دی . مسلم.

## د لمر تندري نیولو پر وخت د رسول الله ﷺ طریقه

﴿۱۴۰۲﴾: وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كُنْتُ أَرْتَمِي بِأَسْهُمٍ لِي بِالْمَدِيْنَةِ فِي حَيَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ كَسَفَتِ الشَّمْسُ فَنَبَذْتُهَا فَقُلْتُ وَاللهِ لَأَنْظُرَنَّ إِلَى مَا حَدَثَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كُسُوْفِ الشَّمْسِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ قَائِمٌ فِي الصَّلَاةِ رَافِعٌ يَدَيْهِ فَجَعَلَ يُسَبِّحُ وَيُهَلِّلُ وَيُكَبِّرُ وَيَحْمَدُ وَيَدْعُو حَتَّى حُسِرَ عَنْهَا قَالَ فَلَمَّا حُسِرَ عَنْهَا قَرَأَ سُوْرَتَيْنِ وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ . رواه مسلم في صحيحه عن عبدالرحمن بن سمرة وكذا في شرح السنة و في نسخ المصابيح عن جابر بن سمرة .

د حضرت عبدالرحمن بن سمرة ﷛ څخه روایت دی چي ما په مدینه د رسول الله ﷺ په زمانه کي په غشو سره وېشتل کول چي لمر تندري ونیوی نو ما خپل غشي وغورزوی او په زړه کي مي وویل په الله دي مي قسم وي چي زه به د تندري نیولو پر وخت د رسول الله ﷺ حالت وینم (یعني چي نبي کریم ﷺ په دغه وخت کي څه کوي) ویلي دي راوي نو زه رسول الله ﷺ ته راغلم او وه مي لیدل چي رسول الله ﷺ پر لمانځه ولاړ وو د تکبیر لپاره یې لاسونه پورته کړي وه نو رسول الله ﷺ تسبیح، حمد، تهلیل ، تکبیر او دعاء ویل پیل کړل تر څو چي لمر خلانده سو نو رسول الله ﷺ دوه رکعته وکړه چي په هغو کي یې دوه سورتونه وویل . مسلم، شرح السنة .

**د تندرې په وخت کې د غلام ازادول**

| | |
|---|---|
| (۱۴۰۳): وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَتْ لَقَدْ أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعَتَاقَةِ فِيْ كُسُوْفِ الشَّمْسِ . رواه البخاري . | د حضرت اسماء بنت ابوبکر څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته د لمر تندرې نيولو پر وخت د غلام آزادولو حکم راکړ . بخاري. |

## دوهم فصل

**د کسوف په لمانځه کې قرائت په لوړ اواز وي که په کښته ؟**

| | |
|---|---|
| (۱۴۰۴): عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ كُسُوْفٍ لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي وابن ماجه . | د حضرت سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته د لمر تندرې نيولو لمونځ راکړ موږ دده مبارك آواز نه سو اوريدلای . ابوداؤد ،ترمذي،نسائي،ابن ماجه |

**د ناوړه پيښې پر وخت سجده**

| | |
|---|---|
| (۱۴۰۵): وَعَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ قِيْلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ مَاتَتْ فُلَانَةُ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَّ سَاجِدًا فَقِيْلَ لَهُ تَسْجُدُ فِيْ هٰذِهِ السَّاعَةَ فَقَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمْ آيَةً فَاسْجُدُوْا فَأَيُّ آيَةٍ أَعْظَمُ مِنْ ذَهَابِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه ابوداؤد والترمذي | د حضرت عکرمة ﷺ څخه روايت دی چي ابن عباس ﷺ ته وويل سول چي د رسول الله ﷺ فلانۍ بي بي وفات سوې ده (يعني بي بي صفيه) نو ابن عباس ﷺ پر سجده پرېوتی ، د هغه څخه پوښتنه وسول ايا ته په داسي حالت کي هم سجده کوې ؟ هغه ووېل رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي کله تاسو د الله ﷻ يو نښه ووينئ نو سجده کوئ او تر دې لويه نښه به بله څه وي |

چي درسول الله ﷺ بي بي وفات سوه . ابوداؤد ، ترمذي .

## دریم فصل

**د کسوف د لمانځه رکوع ، سجده او قرائت**

(۱۴۰۶): عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِهِمْ فَقَرَأَ سُوْرَةً مِنَ الطُّوَلِ ثُمَّ رَكَعَ خَمْسَ رَكَعَاتٍ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ قَامَ الثَّانِيَةَ فَقَرَأَ بِسُوْرَةٍ مِنَ الطُّوَلِ ثُمَّ رَكَعَ خَمْسَ رَكَعَاتٍ وَ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ قام الثانية فقرا سورة من الطوال ثم ركع خمس ركعات وسجد سجدتين ثم جَلَسَ كَمَا هُوَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ يَدْعُوْ حَتَّىٰ انْجَلَى كُسُوْفُهَا . رواه أبو داود .

د حضرت ابی بن کعب ﷛ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي لمر تندري ونیوی ، نو رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته لمونځ ورکړ او په اوږدو سورتو کي یې یو سورت ووایه او پنځه رکوعي او دوې سجدې یې په لومړي رکعت کي وکړې بیا د دویم رکعت لپاره ولاړ سو او یو اوږد سورت یې ووایه بیا یې پنځه رکوعي او دوې سجدې وکړې ، ورروسته مخ پر قبله کښېنستی او دعاء یې کول تر څو چي لمر خلانده سو . ابوداؤد.

**د حنفیه مستدل حدیث**

(۱۴۰۷):وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ وَيَسْأَلُ عَنْهَا حَتَّى انْجَلَتِ الشَّمْسُ . رواه أبو داود . وفي رواية النسائي أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى حِيْنَ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ مِثْلَ صَلَاتِنَا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ، وَلَهُ فِيْ أُخْرٰى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمًا مُسْتَعْجِلاً إِلَى الْمَسْجِدِ وَقَدِ انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فَصَلَّى حَتَّى انْجَلَتْ ثُمَّ قَالَ إِنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوْا يَقُوْلُوْنَ إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْخَسِفَانِ إِلَّا لِمَوْتِ عَظِيْمٍ مِنْ عُظَمَاءِ أَهْلِ الْأَرْضِ وَإِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا

د حضرت نعمان بن بشیر ﷛ څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي لمر تندري ونیوی نو مبارك ﷺ دوه دوه رکعته لمونځ پیل کړ او دخلکو څخه به یې پوښتنه کول ایا لمر خلانده سو؟ تر څو چي لمر خلانده سو . ابوداؤد. د نسائي په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي د لمر تندري نیولو په وخت کي رسول الله ﷺ داسي لمونځ کوی لکه څرنګه چي موږ یې کوو، یعني رکوع او سجده به یې هم کول، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي لمر تندري ونیوی نو رسول الله ﷺ په تلوار د کور څخه راووتی او مسجد ته ولاړی لمونځ یې پیل کړ او تر هغه وخته پوري یې لمونځ کوی، تر څو چي لمر خلانده سوی نه وو، رسول الله ﷺ وفرمایل : د جاهلیت په وخت

| | |
|---|---|
| لِحَيَاتِه وَلٰكِنَّهُمَا خَلِيْقَتَانِ مِنْ خَلْقِه يُحْدِثُ اللّٰهُ فِيْ خَلْقِه مَا شَاءَ فَأَيُّهُمَا انْخَسَفَ فَصَلُّوْا حَتّٰى يَنْجَلِيَ أَوْ يُحْدِثَ اللّٰهُ أَمْرًا .رواه النسائي . | کي به خلکو دا وويل چي لمر او سپوږمۍ هغه وخت تندره نيسي چي د دنيا د سردارانو څخه يو څوك مړ سي (زه تاسو ته ښيم چي) لمر او |

سپوږمۍ نه د يو چا پر مرگ او نه د يو چا پر زيږېدني تندره نيسي او دا دواړه هم د الله تعالی مخلوقات دي په خپل مخلوق کي چي الله څنګه غواړي هم هغسي بدلون کوي هر کله چي په دوئ کي يو تندره ونيسي نو تاسو تر هغو لمونځ کوئ تر څو پوري چي څلانده نه سي او يا الله تعالی يو حکم څرګند کړي . نسائي .

# بَابُ فِيْ سُجُوْدِ الشُّكْرِ

## (د شکر د سجدې بيان)

(په نوموړي باب کي لومړی او دریم فصل نسته)

## دوهم فصل

### د خوشحالۍ په وخت کي د رسول الله ﷺ سجده شکر

| | |
|---|---|
| (۱۴۰۸): عَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَهُ أَمْرٌ سُرُوْرًا أَوْ يُسَرُّ بِه خَرَّ سَاجِدًا شَاكِرًا لِلّٰهِ تَعَالٰى . رواه أبو داود والترمذي وقال هذا حديث حسن غريب . | د حضرت ابوبکرة ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ ته د خوشحالي يو پېښه وراندي سول يا په يو خبره به خوشحاله سو نو د الله د شکر ادا کولو لپاره به پر سجده پرېوتی . ابوداؤد، ترمذي . |

### د خدای ﷻ شکر ادا کول پکار دي

| | |
|---|---|
| (۱۴۰۹): وَعَنْ أَبِيْ جَعْفَرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأٰى رَجُلًا مِنَ النُّغَاشِيِّيْنَ فَخَرَّ سَاجِدًا . رواه الدارقطني مرسلا وفي شرح السنة لفظ المصابيح . | د حضرت ابوجعفر ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يو نغاشي (لنډ کتی، ضعيف، ناقص خلقتي) سړی وليدی نو پر سجده پرېوتی . دار قطني . |

### د امت په حق کي د رسول الله ﷺ شفقت

| | |
|---|---|
| (۱۴۱۰): وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ مَكَّةَ نُرِيْدُ الْمَدِيْنَةَ فَلَمَّا كُنَّا قَرِيْبًا مِنْ عَزْوَزَاءَ نَزَلَ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ | د حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دی چي موږ د مديني په اراده د رسول الله ﷺ سره د مکې څخه روان سوو کله چي موږ د مکې او |

فَدَعَا اللّٰهَ سَاعَةً ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا فَمَكَثَ طَوِيْلاً ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ سَاعَةً ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا فَمَكَثَ طَوِيْلاً ثُمَّ قَامَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ سَاعَةً ثُمَّ خَرَّ سَاجِدًا قَالَ إِنِّيْ سَأَلْتُ رَبِّي وَشَفَعْتُ لِأُمَّتِيْ فَأَعْطَانِيْ ثُلُثَ أُمَّتِيْ فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّيْ شُكْرًا ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِيْ فَسَأَلْتُ رَبِّيْ لِأُمَّتِيْ فَأَعْطَانِيْ ثُلُثَ أُمَّتِيْ فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّيْ شُكْرًا ثُمَّ رَفَعْتُ رَأْسِيْ فَسَأَلْتُ رَبِّيْ لِأُمَّتِيْ فَأَعْطَانِيْ الثُّلُثَ الْآخِرَ فَخَرَرْتُ سَاجِدًا لِرَبِّيْ شُكْرًا . رواه أحمد وأبو داود .

مديني درمياني ځاى (عزوزا) ته ورسيدو نو رسول الله ﷺ د اوښي څخه را تا سو بيا يې دواړه لاسونه پورته کړل د يو څه وخت لپاره يې د الله تعالى څخه وغوښتل او بيا پر سجده پريوتى او تر ډيره وخته پوري پر سجده پروت وو، بيا ودريدى دواړه لاسونه يې پورته کړل او دعاء يې وکړل يو څه وخت او بيا پر سجده پريوتى او تر ډيره وخته پوري پر سجده پروت وو بيا ودريدى لاسونه يې پورته کړل يو څه وخت بيا پر سجده پريوتى بيا يې سر پورته کړى او وه يې فرمايل:

ما د خپل رب څخه د خپل امت لپاره د شفاعت دعاء وغوښتل، يعني د هغوئ د گناهو د بخښني، ما ته دريمه برخه امت راکړل سو، زه پر سجده پريوتم او د الله شکر مي ادا کړ بيا ما د سجدې څخه سر راپورته کړ د خپل رب څخه مي دعاء وغوښتل او د امت د بخښني غوښتونکى سوم نو الله تعالى ما ته دريمه برخه امت راکړ (يعني د دريمي برخي د امت بخښنه يې راته وکړه) زه بيا د الله د شکر ادا کولو لپاره د خپل امت د بخښني غوښتونکى سوم نو الله تعالى پاته دريمه برخه امت هم ما ته راکړ او زه د شکر ادا کولو لپاره بيا پر سجده پريوتم. احمد، ابوداؤد.

# بَابُ صَلٰوۃ الْاسْتِسْقَاء

## (د استسقاء دلمانځه بیان)

## لومړی فصل

**د رسول الله ﷺ د استسقاء لمونځ**

﴿۱۴۱۱﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ إِلَى الْمُصَلّٰى يَسْتَسْقِيْ فَصَلّٰى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ جَهَرَ فِيْهِمَا بِالْقِرَاءَةِ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ يَدْعُوْ وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ حِيْنَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ. متفق علیه .

د حضرت عبدالله بن زيد ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د خلکو سره د استسقاء (د باران غوښتني) لپاره عیدگاه ته تشریف یوړ ، رسول الله ﷺ خلکو ته دوه رکعته لمونځ ورکړ چي په هغه کي یې په لوړ آواز سره قرائت ووایه او بیا مخ پر قبله سو او دعاء یې وکړه او دواړه لاسونه یې د دعاء لپاره پورته کړل بیا یې مخ پر قبله څادر واړوی . بخاري او مسلم.

**رسول الله ﷺ د استسقاء په لمانځه کي لاسونه ډېر پورته کول**

﴿۱۴۱۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِيْ شَيْءٍ مِّنْ دُعَائِهِ إِلَّا فِي الْاسْتِسْقَاءِ فَإِنَّهُ يَرْفَعُ حَتّٰى يُرٰى بَيَاضَ إِبْطَيْهِ .متفق علیه

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به د استسقاء د دعاء پرته په هیڅ یو دعاء کي لاسونه نه پورته کول (یعني ډېر زیات به یې نه پورته کول) ، په دې دعاء کي به رسول الله ﷺ لاسونه دومره پورته کړل چي د بغلو سپین والی به یې ښکاره سو. بخاري او مسلم.

**د دعاء پر وخت د لاسو هیئت**

﴿۱۴۱۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَسْقٰى فَأَشَارَ بِظَهْرِ كَفَّيْهِ إِلَى السَّمَاءِ . رواه مسلم .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د باران لپاره دعاء وکړه او په دعاء کي یې د لاسو د ورغوي شا یې د آسمان په لور کړل . مسلم .

**د باران په وخت کي د رسول الله ﷺ دعاء**

﴿۱۴۱۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَأَى الْمَطَرَ قَالَ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ باران ولیدی نو فرمایل یې : (اَللّٰهُمَّ صَيِّبًا

اَللّٰهُمَّ صَيِّبًا نَافِعًا . رواه البخاري .

نافعًا) اې الله ! و اورووه باران نفع رسونكى . بخاري

**د باران په وخت كې د رسول الله ﷺ عمل**

(۱۴۱۵): وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أَصَابَنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَطَرٌ قَالَ فَحَسَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبَهُ حَتَّى أَصَابَهُ مِنَ الْمَطَرِ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ لِمَ صَنَعْتَ هٰذَا قَالَ لِأَنَّهُ حَدِيثُ عَهْدٍ بِرَبِّهِ . رواه مسلم

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې مونږ د رسول الله ﷺ سره وو چې باران پيل سو، د انس ﷺ بيان دى چې رسول الله ﷺ د خپل بدن مبارك څخه جامه ايسته كړل او په باران كې لوند سو ، مونږ عرض وكړ اې دالله رسوله ! داسې مو ولې وكړل ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د باران اوبه اوس اوس د خپل پروردګار څخه راغلى دي . مسلم .

## دوهم فصل

**د څادر اړولو طريقه**

(۱۴۱۶): عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمُصَلّٰى فَاسْتَسْقٰى وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ حِينَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَجَعَلَ عِطَافَهُ الْأَيْمَنَ عَلَى عَاتِقِهِ الْأَيْسَرِ وَجَعَلَ عِطَافَهُ الْأَيْسَرَ عَلَى عَاتِقِهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ دَعَا اللّٰهَ . رواه أبو داود .

د حضرت عبدالله بن زيد ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ عيدګاه ته تشريف راوړ او د باران دعاء يې وغوښتل بيا مخ پر قبله كېدو سره يې څادر واړوى (يعني د څادر راسته خوا يې د چپې اوږې خوا ته يوړل او چپه خوا يې د راسته اوږې خواته) بيا يې دالله څخه دعاء وغوښتل . ابوداؤد.

(۱۴۱۷): وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ اسْتَسْقٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ خَمِيصَةٌ لَهُ سَوْدَاءُ فَأَرَادَ أَنْ يَأْخُذَ أَسْفَلَهَا فَيَجْعَلَهُ أَعْلَاهَا فَلَمَّا ثَقُلَتْ قَلَبَهَا عَلَى عَاتِقَيْهِ . رواه أحمد وأبو داود .

د حضرت عبدالله بن زيد ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ د باران لپاره دعاء وغوښتل نو څادر يې پر سر كړى وو ، رسول الله ﷺ اراده وكړل چې د څادر زړېدلي څوكې پورته كړي مګر رسول الله ﷺ ته تكليف سو نو پر اوږو يې څادر واړوى . احمد ، ابوداؤد.

(۱۴۱۸): وَعَنْ عُمَيْرٍ مَوْلٰى آبِي اللَّحْمِ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَسْقِي عِنْدَ أَحْجَارِ

د حضرت عمير چې د ابي اللحم آزاد كړى غلام وو څخه روايت، دى چې ده ليدلي وو نبي كريم ﷺ

الزَّيْتِ قَرِيبًا مِنَ الزَّوْرَاءِ قَائِمًا يَدْعُو يَسْتَسْقِي رَافِعًا يَدَيْهِ قِبَلَ وَجْهِهِ لاَ يُجَاوِزُ بِهِمَا رَأْسَهُ . رواه ابو داود وروى الترمذي والنسائي نحوه .

چي باران يې غوښتی په مقام احجار الزيت سره نژدې زوراء ته چي ولاړ وو دعاء يې کول د باران غوښتونکی وو لاسونه يې پورته کړي د لاسو ورغوي يې د مخ طرف ته وه او لاسونه يې تر سر نه وه لوړ کړي . ابوداؤد، ترمذي او نسائي هم دا ډول روايت کړی دی .

**د استسقاء پر وخت خشوع او خضوع**

﴿۱۴۱۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِيْ فِي الْاِسْتِسْقَاءِ مُتَبَذِّلاً مُتَوَاضِعًا مُتَخَشِّعًا مُتَضَرِّعًا . رواه الترمذي وأبو داود والنسائي وابن ماجه .

د حضرت ابن عباس ؓ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د باران د غوښتني لپاره ووتی په داسي حال کي چي زينت يې پرې ايښی وو ډيره عاجزي او زاري کونکی وو. ابوداؤد.

**د باران لپاره دعاء**

﴿۱۴۲۰﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَسْقَى قَالَ اللَّهُمَّ اَسْقِ عِبَادَكَ وَبَهِيْمَتَكَ وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ . رواه مالك وأبو داود .

حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ به کله د باران لپاره دعاء کول نو ويل به يې (اې الله ! خپل بندگان او خپل حيوانان اوبه کړې او خپل رحمت خپور کړې او خپل مړه ښارونه آباد کړې .) مالك ، ابوداؤد.

﴿۱۴۲۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوَاكِئُ فَقَالَ اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيْثًا مَرِيْئًا مُرِيْعًا نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ عَاجِلاً غَيْرَ آجِلٍ قَالَ فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءَ . رواه ابو داود .

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ وليدی چي لاسونه يې پورته کړل او دا د عاء يې غوښتل (اې الله! د باران په اوبو موږ اوبه کړې ، زموږ فرياد واورې او زموږ انجام ښه کړې ارزاني کړې چي دا باران گټور وي تاوان رسونکی نه وي ژر راتلونکی وي وروسته راتلونکی نه وي) جابر ؓ وايي ددې دعاء وروسته پر هغوئ وريځ راغلل . ابوداؤد.

## دریم فصل

(۱۴۲۲): عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ شَكَا النَّاسُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُحُوْطَ الْمَطَرِ فَأَمَرَ بِمِنْبَرٍ فَوُضِعَ لَهُ فِي الْمُصَلَّى وَوَعَدَ النَّاسَ يَوْمًا يَخْرُجُوْنَ فِيْهِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ بَدَا حَاجِبُ الشَّمْسِ فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَكَبَّرَ وَحَمِدَ اللهَ ثُمَّ قَالَ إِنَّكُمْ شَكَوْتُمْ جَدْبَ دِيَارِكُمْ وَاسْتِيْخَارَ الْمَطَرِ عَنْ إِبَّانِ زَمَانِهِ عَنْكُمْ وَقَدْ أَمَرَكُمُ اللهُ أَنْ تَدْعُوْهُ وَوَعَدَكُمْ أَنْ يَّسْتَجِيْبَ لَكُمْ ثُمَّ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ الغني لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْغَنِيُّ وَنَحْنُ الْفُقَرَاءُ أَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ وَاجْعَلْ مَا أَنْزَلْتَ لَنَا قُوَّةً وَّبَلَاغًا إِلَى حِيْنٍ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَلَمْ يَتْرُكِ الرَّفْعَ حَتّٰى بَدَا بَيَاضُ إِبْطَيْهِ ثُمَّ حَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ وَقَلَبَ أَوْ حَوَّلَ رِدَاءَهُ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ وَنَزَلَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَأَنْشَأَ اللهُ سَحَابَةً فَرَعَدَتْ وَبَرَقَتْ ثُمَّ أَمْطَرَتْ بِإِذْنِ اللهِ فَلَمْ يَأْتِ مَسْجِدَهُ حَتّٰى سَالَتِ السُّيُوْلُ فَلَمَّا رَاٰى سُرْعَتَهُمْ إِلَى الْكِنِّ ضَحِكَ حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ وَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّ اللهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَّأَنِّيْ عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ . رواه أبو داود .

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي خلکو رسول الله ﷺ ته د باران نه کېدو شکایت وکړ، رسول الله ﷺ حکم وکړ چي په عیدګاه کي دي منبر کېښېښودل سي ، په عیدګاه کي منبر کېښېښودل سو او دخلکو څخه یې وعده واخیستل چي هغوئ یوه ورځ عیدګاه ته ولاړ سي ، بي بي عائشة وایي رسول الله ﷺ یوه ورځ د لمر ښکاره کېدو سره عیدګاه ته تشریف یووړ، او پر منبر باندي کېښېنستی الله اکبر یې ووایه بیا یې د الله حمد او ثناء وکړه بیا یې وفرمایل: تاسو په خپلو ښارو کي د باران نه کېدو شکایت کړی دی ، الله تاسو ته حکم درکړی چي تاسو د هغه څخه دعاء وغواړئ او هغه وعده کړې ده چي ستاسو دعاء قبلوي ، بیا رسول الله ﷺ دا دعاء وکړه: (ټول تعریفونه الله لره دي چي د دواړو جهانو پروردګار دی بخښونکی او مهربان دی مالك د ورځي د قیامت دی د هغه څخه پرته بل د عبادت وړ نسته هغه چي څه غواړي کوي ، اې الله ! ته معبود یې ستا څخه پرته بل د عبادت وړ نسته ته غني یې او موږ فقیران یو پر موږ باران و اوروې او کوم شي چي ته نازل کړې هغه تر یو زماني پوري زموږ لپاره د خوراك او ګټي سبب جوړ کړې) ددې وروسته رسول الله ﷺ دواړه لاسونه پورته کړل او تر ډېره وخته پوري یې لوړ کړي وه تر دې چي د رسول الله ﷺ د بغلو سپین والی څرګند سو بیا رسول الله ﷺ خلکو ته خپله شا کړل او څادر یې واړوی د رسول الله ﷺ

لاسونه هم پورته وو بیا دخلکو په لور متوجه سو د منبر څخه راکښته سو او دوه رکعته لمونځ یې وکړ ، الله تعالی هغه وخت وریځ څرګنده کړه بیا اوازونه یې وکړل بریښنا وسول او ددې وروسته د الله تعالی په حکم سره باران پیل سو ، رسول الله ﷺ لا مسجد ته نه وو تللی چې نالی وبهېدلې ، هر کله چې رسول الله ﷺ ولیدل چې خلك د دیوالو او سرایو پناه لټولو کې تلوار کوي نو رسول الله ﷺ په خندا سو او د مخ غاښونه یې څرګند سول بیا یې وفرمایل : «زه شاهدي ورکوم چې الله پر هر شي توان لري او زه د الله بنده او رسول یم .» ابوداؤد.

## په وسیله سره د باران لپاره دعاء

﴿۱۴۲۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَانَ إِذَا قُحِطُوْا اسْتَسْقٰى بِالْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ اِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِيْنَا وَاِنَّا نَتَوَسَّلُ اِلَيْكَ بِعَمِّ نَبِيِّنَا فَاسْقِنَا قَالَ فَيُسْقَوْنَ . رواه البخاري .

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چې کله به وچ کالي راغلل نو عمر بن خطاب ﷺ به د حضرت عباس بن عبدالمطلب په ذریعه د باران لپاره دعاء کول او ویل به یې «اې الله : موږ به مخکې خپل نبي ستا په لور وسیله کوی نو موږ به اوبه سو او اوس هم د خپل نبي ﷺ اکا تا ته وسیله کوو نو موږ په اوبو اوبه کړې » انس وایي د دې دعاء په کولو سره به باران وسو . بخاري

## د استسقاء په اړه د یو نبي واقعه

﴿۱۴۲۴﴾:وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ خَرَجَ نَبِيٌّ مِّنَ الْاَنْبِيَاءِ بِالنَّاسِ يَسْتَسْقِيْ فَإِذَا هُوَ بِنَمْلَةٍ رَّافِعَةٍ بَعْضَ قَوَائِمِهَا إِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ ارْجِعُوْا فَقَدِ اسْتُجِيْبَ لَكُمْ مِنْ أَجْلِ هٰذِهِ النَّمْلَةِ . رواه الدارقطني .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چې په انبیاوو کې یو نبي د خلکو سره د باران د دعاء لپاره ووتی هغه نبي یو میږی ولیدی چې د خپلو پښو څخه یې ځیني د آسمان لور. ته پورته کړي وې «د دې په لیدو سره» هغه نبي خلکو ته وویل راځئ بیرته ولاړسئ ستاسو دعاء د دې میږي په ذریعه قبوله سول. دارقطني .

# بَابُ فِي الرِّيَاحِ

## (د بادو بیان)

## لومړی فصل

### هواء رحمت هم ده او عذاب هم

(۱۴۲۵): عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُصِرْتُ بِالصَّبَا وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُوْرِ . متفق علیه

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته د جنوب د لوري د هواء سره مرسته راکړل سوې ده او د عادیانو قوم په باد سره هلاك کړل سو. بخاري او مسلم.

### د رسول الله ﷺ د هواء په لېدو سره کیفیت

(۱۴۲۶): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَاحِكًا حَتَّى أَرٰى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ فَكَانَ إِذَا رَأَى غَيْمًا أَوْ رِيْحًا عُرِفَ فِي وَجْهِهِ .متفق علیه

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي ما رسول الله ﷺ هیڅکله په زوره خندا کولو سره نه دی لیدلی ، کله چي ده مبارك خندل نو یوازي تبسم به یې کوی او کله چي به یې وریځ یا تیزه هواء ولیدل نو مخ مبارك به یې متغیر سو . بخاري او مسلم .

### د تیز باد پر وخت د رسول الله ﷺ دعاء

(۱۴۲۷): وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا عَصَفَتِ الرِّيحُ قَالَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا فِيهَا وَخَيْرَ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُرْسِلَتْ بِهِ وَإِذَا تَخَيَّلَتِ السَّمَاءُ تَغَيَّرَ لَوْنُهُ وَخَرَجَ وَدَخَلَ وَأَقْبَلَ وَأَدْبَرَ فَإِذَا مَطَرَتْ سُرِّيَ عَنْهُ فَعَرَفَتْ ذٰلِكَ عَائِشَةُ فَسَأَلَتْهُ فَقَالَ لَعَلَّهُ يَا عَائِشَةُ كَمَا قَالَ قَوْمُ عَادٍ فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا مُسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي کله به سخت باد چلېدی نو رسول الله ﷺ به فرمایل : (اې الله ! زه ستا څخه ددې خیر غواړم او د هغه شي خیر چي په دې کي دی او خیر د هغه شي چي د هغه لپاره تا رالیږلې ده او ستا په ذریعه ددې د شر څخه پناه غواړم او د هغ شي د شر څخه چي په دې کي دی او د هغه شي د شر څخه چي د هغې لپاره رالیږل سوې ده ) او کله چي به پر آسمان وریځ وه نو در سول الله ﷺ د مخ رنګ به

هَذَا عَارِضٌ مُمْطِرُنَا . و في رواية و يقول اذا راى المطر رحمة . متفق عليه

بدل سو او د خفگان په حالت کي به کله کور ته ننوتی او کله به راوتی کله به دې خوا تلی او کله به آخوا تلی بیا چي به باران پیل سو نو درسول الله ﷺ پرېشاني به لېري سول ، یو ځل بي بي عائشې د رسول الله ﷺ دا بدلون محسوس کړ او ددې په اړه يې پوښتنه وکړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : اې عائشې ! کیدای سي دا وریځ داسي وي چي د هغې په نسبت قوم عاد ویلي وه ، یعني کله چي پر هغوئ وریځ راغلل نو هغوئ به ویل دا وریځ ده پر موږ به و اورېږي، او په یوه روایت کي دا الفاظ دي چي کله به رسول الله ﷺ باران ولیدی نو دا به يې فرمایل : (اې دالله! دا د رحمت باعث جوړ کړې) بخاري او مسلم .

## د د غيبو پنځه خزانې

﴿۱۴۲۸﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَفَاتِيحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ ثُمَّ قَرَأَ ( إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ) الاية . رواه البخاري

د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د غیبو پنځه کلیاني دي بیا رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ : (یعني د قیامت علم د الله سره دی او هغه باران اوري.....) بخاري .

## وچ کالي څه ته وايي ؟

﴿۱۴۲۹﴾:وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَتِ السَّنَةُ بِأَنْ لاَّ تُمْطَرُوْا وَلَكِنِ السَّنَةُ أَنْ تُمْطَرُوْا وَتُمْطَرُوْا وَلاَ تُنْبِتُ الْأَرْضُ شَيْئًا . رواه مسلم .

د حضرت ابوهریرة ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل : سخته وچ کالي دا نه ده چي پر تاسو باران نه کیږي بلکه وچ کالي دا ده چي پر تاسو باران وسي او ښه باران وسي مگر مځکه هیڅ شي شین نه کړي.مسلم

## دوهم فصل

### هواء ته د بد ويلو څخه منع

(۱۴۳۰): عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الرِّيْحُ مِنْ رَوْحِ اللهِ تَأْتِيْ بِالرَّحْمَةِ وَبِالْعَذَابِ فَلاَ تَسُبُّوْهَا وَسَلُوْا اللهَ مِنْ خَيْرِهَا وَعُوْذُوْا بِهِ مِنْ شَرِّهَا . رواه الشافعي وابو داود وابن ماجه والبيهقي في الدعوات الكبير .

د حضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي : هواء د الله رحمت دی چي رحمت او عذاب دواړه راولي نو تاسو دي ته بد مه واياست او د الله څخه ددي خير غواړئ او ددې د ضرر او شر څخه پناه غواړئ . ابوداؤد ، ابن ماجه، بيقهي

(۱۴۳۱): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَجُلاً لَعَنَ الرِّيْحَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لاَ تَلْعَنُوْا الرِّيْحَ فَإِنَّهَا مَأْمُوْرَةٌ وَإِنَّهُ مَنْ لَعَنَ شَيْئًا لَيْسَ لَهُ بِأَهْلٍ رَجَعَتِ اللَّعْنَةُ عَلَيْهِ . رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي يو سړي د رسول الله ﷺ په وړاندي هوا ته بد او رد وويل، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : پر هواء لعنت مه وايه هغه د الله د لوري امر سوې ده او څوك چي پر يو شي لعنت وايي او هغه د لعنت مستحق نه وي نو هغه لعنت بيرته راستنيږي پر ده باندي . ترمذي .

(۱۴۳۲): وَعَنْ أُبَيِّ ابْنِ كَعْب قال قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَسُبُّوا الرِّيْحَ فَإِذَا رَأَيْتُمْ مَا تَكْرَهُوْنَ فَقُوْلُوا اللّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هَذِهِ الرِّيْحِ وَخَيْرِ مَا فِيهَا وَخَيْرِ مَا أُمِرَتْ بِهِ وَنَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ هَذِهِ الرِّيْحِ وَشَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا أُمِرَتْ بِهِ . رواه الترمذي

د حضرت ابی بن کعب ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هواء ته بد او رد مه واياست هر کله چي تاسو وينئ چي هواء ستاسو د خوښي خلاف ده نو دا کلمات واياست (اي الله ا موږ ددې هواء خير غواړو او هغه خير چي په دې کي دی او د کوم کار لپاره چي دا مامورہ سوې ده د هغه خير غواړو او ستا په ذريعه موږ ددې د شر او څه چي په دې کي دي د هغې د شر څخه او په کوم کار چي دا مامورہ سوې ده د هغه د شر څخه پناه غواړو) . ترمذي.

### د تيز باد پر وخت د رسول الله ﷺ دعاء

(۱۴۳۳): وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا هَبَّتْ رِيْحٌ قَطُّ

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي کله

إِلاَّ جَثَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَقَالَ اللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رَحْمَةً وَلاَ تَجْعَلْهَا عَذَابًا اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رِيَاحًا وَلاَ تَجْعَلْهَا رِيْحًا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِي كِتَابِ اللهِ تَعَالَى ( إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا) وَ( أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ) ( وَأَرْسَلْنَا الرِّيَاحَ لَوَاقِحَ ) وَ( أَنْ يُرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرَاتٍ ) . رواه الشافعي والبيهقي في الدعوات الكبير .

به تیزه هواء چلیدل نو رسول الله ﷺ به پر زنګنو کښېنستی او فرمایل به یې ( اې الله ! دا هواء رحمت وګرځوې او عذاب یې مه جوړوې اې الله! دا هواء ریاح یعني رحمت جوړ کړې ریح یعني زحمت یې مه جوړوې) ابن عباس ﷺ وایي په قرآن مجید کې راغلي دي چې : (موږ پر هغوئ تیزه هواء راولیږله او داسې هواء مو پر زاولیږله چې درختې به یې د ښېخه کښېلې ، او لیږلي دي موږ بادونه میوه پیدا کونکې او الله زیږي لیږونکې هواوې لیږي (یعني د باران هوا). شافعي، بیهقي.

## د وریځې لیدلو دعاء

(١٤٣٤): وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَبْصَرْنَا شَيْئًا مِنَ السَّمَاءِ تَعْنِي السَّحَابَ تَرَكَ عَمَلَهُ وَاسْتَقْبَلَهُ وَقَالَ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيْهِ فَإِنْ كَشَفَهُ حَمِدَ اللهَ وَإِنْ مُطِرَتْ قَالَ اللّٰهُمَّ سُقْيًا نَافِعًا . رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه والشافعي واللفظ له .

د حضرت عائشې ﷺ څخه روایت دی چې کله به رسول الله ﷺ پر آسمان وریځ ولیدل نو کار به یې پرېښودی او وریځې ته به متوجه سو او ویل به یې ( اې الله ! زه ستا په ذریعه د هغې د شر څخه پناه غواړم چې په دې کې دننه ده) که الله به هغه وریځ صافه کړه نو د الله حمد او ثناء به یې کول او که باران به پیل سو نو فرمایل به یې ( اې الله ! ګټه رسونکې اوبه و اوروې) . ابوداؤد، ابن ماجه، نسائي، شافعي

## د برېښنا پر وخت دعاء

(١٤٣٥): وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا سَمِعَ صَوْتَ الرَّعْدِ وَالصَّوَاعِقِ قَالَ اللّٰهُمَّ لاَ تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ وَلاَ تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذٰلِكَ . رواه أحمد والترمذي وقال هذا حديث غريب .

دحضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د برېښنا آواز واوریدی او برېښنا به یې ولیدل نو فرمایل به یې : ( اې الله ! موږ په خپل غیظ او غضب سره مه وژنې او په خپل عذاب سره مو مه هلاکوې او ددې مخکې موږ په امن ولرې) .احمد ،ترمذي

## دریم فصل

(۱۴۳۶): عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَمِعَ الرَّعْدَ تَرَكَ الْحَدِيْثَ وَقَالَ سُبْحَانَ الَّذِيْ يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالْمَلَائِكَةُ مِنْ خِيْفَتِهِ . رواه مالك .

د حضرت عبدالله بن زبير ﷺ څخه روايت دی چي کله به هغه د برېښنا آواز واوريدی نو خبري کول به يې پرېښودلې او ويل به يې: (هغه ذات پاك دی چي ثناء د هغه په تعريف سره او ملائکي د هغه د بيري د هغه تسبيح کوي) . مالك .